اتم جلد

د قرآن پلوشې

حکمتیار

د کتاب پېژندنه:

نوم: د قرآن پلوشې اتم جلد

لیکوال: حکمتیار

دوهمه طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ۱۷۲ افغانۍ

د چاپ ټول حقوق محفوظ دي



د قرآن پلوشې

اتم جلد

حکمتیار

دحزب اسلامي افغانستان امیر

فهرست

عنوان	صفحه
المعارج	٤
نوح	۲۳
الجن	۳۸
آيا الله تعالى د امورو په سمبالولو کې شريك لري؟	۵۷
علم غيب	٦٤
المزمل	٦٤
المدثر	۸۰
القيامة	۱۰۰
الدهر	۱۱٦
المرسلات	۱۳۳
النبأ	۱٤۸
النازعات	۱٦۹
قسم په قرآن کې:	۱۷٦
عبس	۱۹۰
الف: مستكبرين:	۱۹۱
ب- مستضعفين:	۱۹۲
التكوير	۲۱۰
قضاء	۲۲۹
قدر:	۲۳۰

اراده: ---------- ۲۳۰
الانفطار ---------- ۲٤۱
المطففين ---------- ۲۵۱
الانشقاق ---------- ۲٦۵
البروج ---------- ۲۷۵
الطارق ---------- ۲۹۱
الاعلى ---------- ۳۰۲
الغاشية ---------- ۳۱۲
الفجر ---------- ۳۱۸
البلد ---------- ۳۳۵
الشمس ---------- ۳٤٦
الليل ---------- ۳۵٤
الضحى ---------- ۳٦۳
الشرح ---------- ۳۷۲
التين ---------- ۳۸۰
العلق ---------- ۳۸٦
القدر ---------- ۳۹۹
البينة ---------- ٤۰٦
الزلزال ---------- ٤۱۲
العاديات ---------- ٤۲۱
القارعة ---------- ٤۲۵
التكاثر ---------- ٤۲۸
العصر ---------- ٤۳۵
الهمزة ---------- ٤۳۹

الفيل ---------- ٤٤٥
قريش ---------- ٤٦٢
الماعون ---------- ٤٦٦
الكوثر ---------- ٤٧١
الكافرون ---------- ٤٨٣
النصر ---------- ٤٩٥
اللهب ---------- ٥٠٢
الاخلاص ---------- ٥٠٦
الفلق ---------- ٥١٣
د سحر حقيقت او پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اغېز ---------- ٥٢٥
الناس ---------- ٥٣١

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

المعارج

د سورې معرفي

د دې سورې نوم المعارج (د عروج وختونه) دئ، چې له درېيم آيت اخيستل شوی،٤٤ آيتونه لري، لومړي درې آيتونه ئې د واقع، دافع او معارج په صيغو پای ته رسېدلي، که څلورم او پنځم آيت يو وګڼلی شي نو له شپږم او اوم آيت سره به د ټولو فواصل ورته او د جميلا، بعيدا، قريبا هموزنه صيغې وي، د اتم او نهم آيتونو فواصل ئې مُهل او عِهن دي؛ او د لسم ئې حميما چې شپږم او اوم ته ورته دئ، د يولسم، دولسم، دیارلسم او څوارلسم ئې د بنيه، اخيه، تئويه او ينجيه هموزنه صيغې دي، له پنځلسم تر اتلسم پورې لظی، شوی، تولی او اوعی او بيا تر يويشتم پورې هلوعا، جزوعا او منوعا دي، له دې وروسته د سورې تر پايه درې وزنه ګورو چې د لومړيو دريو آيتونو د فواصلو په څېر مصلين، دائمون او محروم ته ورته دي، محروم او معلوم د وزن او غږ له مخې دائمون ته ورته دي، چې په دې ترتيب له دوه ويشتم آيت تر پايه همدا دوه وزنه مراعات شوي، ډېر ئې دائمون ته او لږ ئې مصلين ته ورته دي.

دا سوره هم په مکي دور کې او هغه وخت نازله شوې چې په مکې باندې د قيامت او بيا ژوندون په اړه د شديدي مناقشې او جدل سيوری غوړېدلی وو، د سورې له متنه معلومېږي چې په دې وخت کې قريشو له قيامت د انکار په ارتباط ويل: که قيامت حقيقت لري او د الهي عذاب د راتلو خبره رښتيا وي، نو ولې تر اوسه رانه غی؟ د دومره ځنډ وجه څه ده؟ ولې هغه خلك په الهي عذاب نه اخته کېږي چې ته ئې د عذاب مستحق ګڼې؟ په دې سوره کې دغو پوښتنو ته ځواب ويل شوی.

د سورې د بيان له اسلوب او لهجې معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل دعوت علني کړی او مخالفين په هر محفل او هري غونډې کې د ده شا و خوا راغونډېږي او د پوښتنو تر هجوم لاندي ئې نيسي، خو لا خبره تصادم او قهرجن چلن ته نه ده رسېدلې. سوره په دې آيت پيل شوې چې وايي: يو سؤال کوونکی د هغه عذاب غوښتونکی دئ چې خامخا واقع کېدونکی دئ او هيڅوك ئې له کافرانو نه شي دفع کولی، دا عذاب خو د هغه الله له لوري دئ چې د معراجونو خاوند دئ، د هغه حضور ته د هر

پورته تلو لپاره خاص خاص وخت ټاکل شوی، ملائکې او سالار ئې جبرئیل علیه السلام هم د حضور لپاره د پورته تلو خپل خپل ځانګړی وخت لري، د پنځوسو زرو کلونو منصوبه ورته سپارل کېږي، د خپل مأموریت په پای کې د الله جل شأنه په لوري پورته درومي، د دې لپاره چې د تېر مأموریت رپوټ وړاندي کړي او نوي مأموریتونه په غاړه واخلي. هر کار په خپل معین او ثابت وخت کې تر سره کېږي، د آخرت منکرین هسې عجله کوي، د قیامت او الهي عذاب د فوري راتلو غوښتنه کوي؛ او په دې کې ځنډ د دوی د انکار او تردید لامل کېږي!! د دوی د مخالفتونو په وړاندي صبر وکړه، په پوره ثبات او صبر خپل دعوت او مبارزې ته ادامه ورکړه، د دوی انکار او مخالفت دي تا مأیوس او متردد نه کړي؛ او ستا ثبات او استقامت دي متزلزل نه کړي، دوی د الهي عذاب راتګ محال او ډېر لري ګڼي، دا ځکه چې لید واټن ئې لنډ او تنګ دئ، لنډه فاصله ورته اوږده برېښي، عجول دي، ورځ او اونۍ د وخت لپاره معیار ګڼي، د دوی د معیارونو له مخې قیامت ډېر لري برېښي، په داسې حال کې چې د دوی پنځوس زره کاله د الله تعالی په نزد د یوې ورځې په څېر دي، قیامت به په خپل وخت راځي، نه ئې د دوی انکار او نه ئې د دوی عجله او تلوار په راتلو کې څه اغېز کولی شي، په هر صورت کې به راځي، په هغه ورځ به آسمان د ویلي شوي فلز په څېر وموميږ او غرونه به د وربشلو (حلاجي شوو) وړیو په څېر، د دوی په معیارونو کې خو آسمان تر دې ډېر ستر او لوړ برېښي چې ټوټې ټوټې او متلاشي شي؛ او غرونه تر دې ډېر درانه چې له خپل ځای وخوځولی شي، نو دوی پرېږده چې په خپلو ماشومانه خیالاتو کې لګیا وي، کله د وخت او زمان په اړه د ماشومانو په څېر قضاوت وکړي او کله د زمکې او آسمان په اړه، کله ئې مال او دولت مغرور کړي او کله ئې وجاهت او د پلویانو ګڼه ګوڼه، په خپلو ماشومانه انګېرنو سره واقعیتونه معکوس ګوري او باطل ورته حقیقت برېښي، چې کله هغه ورځ راشي، وبه ګوري چې نه ئې په لاس کې مال دولت شته او نه ئې په خوا کې پلویان او حامیان، ټولې پرونۍ اړیکې شلېدلې، هر څوک د ځان په غم کې او له خپلو ټولو دوستانو او خپلوانو بې خبره، که څه هم یو به بل ته ګوري، خو نه به ئې پوښتنه کولی شي او نه مرسته، دومره به هم نه شي کولی چې ترې وپوښتي ولې په دې برخلیك اخته شوی؟ مجرم انسان چې جرم ئې د آخرت تکذیب وو او یا خپل جرم او ګناه له آخرته انکار ته هڅولی وو، د دې تمنی به کوي چې کاش د دې ورځې له عذابه په دې وژغورل شي چې خپل زامن، مېرمن؛ او وروڼه په فدیه کې ورکړي، خپله هغه قبیله او ټبر په عوض کې ترې ومنلی شي چې په ښه او بد او روا او ناروا کې به ئې د ده پلوي کوله، کاش د ټولې زمکې اوسېدونکي د ده په ځای په عذاب اخته او دی ترې وژغورل شي!! خو د دوزخ

اور داسي نه دئ چي وچ لانده سوزوي؛ او د مستحق او غير مستحق تر منځ توپير نه کوي، بلکي په کامله پوهه او هوښياری عمل کوي، د سوزولو وړ خلك او هغه پېژني چي بايد په خپلي غېږي کي ئې ونيسي او وريت ئې کړي، له نورو به ئې رابېلوي، د ځان په لوري به ئې رابلي؛ او په اوچت غږ به وايي: چا چي په دنيا کي حقيقت ته شا کړه، له حرامو لارو ئې مال او دولت غونډ کړ، نن دي زما خوا ته راشي، د اوسېدو مناسب ځای ئې زما غېږ ده.

انسان؛ هلوع او عجول دئ، قضاوتونه ئې تل د احساساتو تر اغېز لاندي راځي، د درد او رنځ په وخت کي جزع و فزع کوي؛ او له هر چا او هر څه شکوه او شکايت کوي، خو د (خير) تر لاسه کولو په وخت کي ټول هېر کړي او له بل سره له مرستي او احسان ډډه کوي؛ او هيڅوك د دې مستحق نه ګڼي چي په (خير) کي ئې له ځان سره شريك کړي، د چا قضاوتونه چي دومره عجولانه وي او دومره د شخصي اغراضو او احساساتو تر اغېز لاندي ځي، آيا صحيح ده چي د قيامت او الهي عذاب په اړه د ده انګېرنو، خيالاتو او قضاوتونو ته او په دې اړه ئې تلوار او عجلې ته اهميت ورکړو او جدي ئې وګڼو؟!!

د بې ځايه تلوار او عجلې، حرص، جزع، فزع او بخل له بدو خصلتونو هغه څوك ژغورل کېږي چي دا مواصفات ولري:

الف: تل له الله تعالی سره خپلي اړيکي پالي او خپل لمانځه ته تل پام او اهتمام کوي.

ب: په خپل (مال) کي د سائل او محروم لپاره يوه برخه ټاکي او دا برخه مسکين او بې وزلي ته په دې نامه نه ورکوي چي پر ده ئې کوم احسان کړی او يا دا د ده له لوري صدقه يا پېرزوينه ده، نه؛ بلکي دا د ده مسلم حق ګڼي او مسکينانو ته ئې ورکړه خپله وجيبه بولي.

ج: په آخرت، مکافات او د عملونو په بدلې او سزا باور لري.

د: د خپل رب له عذابه وېرېږي، هغه عذاب چي امان ترې نشته.

هـ: پاك لمنی دئ، خپل عورت ساتي، د هوس بنده نه دئ، خپل جنسي روابط قانونمن کوي؛ او په هغه څه اکتفاء کوي چي ورته حلال او جائز دي.

و: امين دئ او په امانتونو کي له خيانته ځان ساتي.

ز: له نورو سره په خپلو ژمنو او تعهداتو وفا کوي او رعايت ئې په ځان لازم ګڼي.

ح: د حق په پلوی شهادت ورکوي او له حقيقت دفاع کوي او په دې شهادت او دفاع کي تل مضبوط او ټينګ ولاړ وي.

ی: د خپلو لمونځونو ساتنه او پالنه کوي، لمونځ ئې هسي بې روح حرکات نه وي، د يوه

دود او عادت په توګه ئې په غفلت او بې خبرۍ کې نه تر سره کوي، بلکې په پوره اعتناء او خاص التفات سره لمونځ کوي.

دوی به جنت ته درومي او په بشپړ اکرام او اعزاز سره به په کې د تل لپاره ژوند کوي.

خو له آخرت منکر کافران چې کله د آخرت او مکافات او مجازات په اړه د پیغمبر علیه السلام خبرې اوري داسې ئې محاصره کړي او ډله ډله ترې راتاو شي او مخالفت ئې کوي چې ته به وایې هر یو ئې له خپل مخالفت او دښمنۍ د الله د راضي کېدو او جنت ته د رسېدو طمع لري او ګواکې په هر مخالفت سره به جنت ته د ننوتو سند تر لاسه کوي، که څه هم دوی خو په آخرت، جنت او دوزخ باور نه لري خو له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ئې مخالفت داسې برېښي او دومره شدید دئ چې ګواکې له دې کار جنت ته د رسېدو طمع لري!!

ولې دا ډله له بیا ژوندون انکار کوي او د قیامت په اړه د پیغمبر علیه السلام وینا داسې د نه منلو وړ ګڼي؟! مګر په دې نه پوهېږي چې الله تعالی له څه پیدا کړي؟ له دغې خاورې چې د مور او پلار په وجود کې ئې په نطفې بدله شوې. آیا له دغې خاورې خپل مجدد خلقت محال ګڼي؟ مګر هغه رب چې دا پراخ عالم اداره کوي، لمر له ځانګړي ختیځه راپورته کوي او په خاص لوېدیځ کې ئې کوزوي، د انسان له مجدد پیدایښت عاجز ګڼي؟ په داسې حال کې چې د مشارق او مغارب رب ته نه یوازې بیا پیدایښت آسان دئ، بلکې کولی شي تر دې ئې په غوره بڼه کې پیدا کړي، هیڅ څه او هیڅ کار ئې نه شي ناتوانه کولی.

دا ډله په خپلو ماشومانه مشغولتیاوو کې تر هغې ورځې پرېږده چې وعده ئې درکول کېږي، تر هغې ورځې چې له خپلو خپلو قبرونو به په تلوار راپاڅي، په ځغاسته به وي، داسې لکه چې د نصب شوو نښو په لور ځغلي، سترګې ئې خړې، وېرې او خوف اخیستي، د ذلت آثار ئې په څېرو کې راڅرګند، ورته وبه ویل شي: دا دئ هغه څه چې وعده ئې درکول کېده!!

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَأَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ۝١ لِّلْكَٰفِرِينَ لَيْسَ لَهُۥ دَافِعٌ ۝٢ مِّنَ ٱللَّهِ ذِى ٱلْمَعَارِجِ ۝٣ تَعْرُجُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥ خَمْسِينَ أَلْفَ

سَنَةٍ ﴿٤﴾

١- وغوښت يوه غوښتونکي يو عذاب واقع کېدونکی! ٢- چې کافرانو ته ئې نشته؛ هيڅ دفع کوونکی. ٣- له لوري د الله؛ څښتن د معراجونو. ٤- فرشتې او روح تر ده ورپورته کېږي؛ په داسې يوې ورځ کې چې مقدار ئې دئ پنځوس زره کالونه.

١: په دې اړه د مفسرينو تر منځ څو توجيهات گورو چې (د عذاب له غوښتونکي) مراد څوك دئ، چا عذاب غوښتی او د ده د خبرې معنی څه ده؟:

الف: مراد له عذاب غوښتونکي د آخرت منکرين دي؛ او له عذاب د قيامت عذاب دئ؛ او مقصد ئې دا چې که د قيامت خبره او ادعاء رښتيا وی نو تر اوسه به قيامت راغلی وو.

ب: ځيني وايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم دا عذاب د کافرانو لپاره غوښتی.

ج: ځيني نور وايي چې له دې يو معين شخص مراد دئ، چې يا (مغان بن حارث) نومېږي يا (نضربن حارث). دوی وايي چې کله په غدير خم کې علي رضي الله عنه په خلافت منصوب شو او دا خبره خوره شوه نو نومورې شخص سخت غصه شو، پيغمبر عليه السلام ته راغی او ورته وئې ويل: آيا دا کار تا له خپلې خوا کړی که الله تعالی درته ويلي؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته وويل چې دا د الله تعالی له لوري ويل شوي!! هغه لا زيات غصه شو او وئې ويل: خدايه! که دا حق وي او ستا له لوري وي نو پر موږ له آسمانه تيږي ووروه، په همدې وخت کې يوه ډبره له آسمانه د ده په سر راپرېوته او وئې واژو...!!

په ډېر لږ دقت سره پوهېدی شو چې دوهمه توجيه ډېره کمزورې او درېيمه ډېره ډېره بې بنسټه او غلطه، د سورې له محتوی سره بې ربطه ده او له ټولو وروستيو آيتونو سره تصادم کوي، په دې دلائلو:

الف: له دې آيت د سورې تر پای چې په دې آيت ختمېږي (ذلك اليوم الذی كانوا يوعدون)، د قيامت په اړه بحث کېږي، آيتونه داسې سره تړلي دي او په همدې يوې موضوع ترکيز لري چې د سورې په هيڅ ځای کې انقطاع نه گورو، بېلول ئې امکان نه لري او بل مطلب تري اخيستل ممکن نه دئ. په هيڅ استدلال سره نه شو کولی د لومړي آيت مطلب د قيامت له عذاب پرته بل څه وگڼو.

ب: پنځم آيت او پيغمبر عليه السلام ته د صبر سپارښتنه په ډېر وضاحت سره ښيي چې دا عذاب به په خپل ثابت او ټاکلي وخت راځي، د دوی لجاجتونه دي تا بې صبره نه کړي.

ج: شپږم آیت د هر ډول شك او تردید مجال له منځه وړي او صریحاً ښیي چې له سائل مراد یو شخص نه؛ بلکې یوه ډله ده، ګورئ چې د (هم: دوی) لفظ چې د جمع غائب مذکر صیغه ده، د (هو) په ځای راغلی، همدا راز دا آیت ښیي چې دوی د دې ورځې راتګ بعید او له امکان لرې ګانړو، حال دا چې په الهي معیارونو کې نژدې ده او ژر به رارسي.

د: وروستي آیتونه په لا زیات تفصیل سره دا عذاب او هغه ورځ توضیح کوي چې په کې نازلېږي؛ او فرمایي: په دې ورځ به آسمان د ویلي شوي فلز په څېر شي او غرونه به د وربشل شوو وړیو په څېر.

د ډېر تعجب او حیرت ځای دئ چې څنګه دا ټول وضاحتونه او صراحتونه له پامه غورځوي، له نورو آیتونو سره ئې ارتباط ته توجه نه کوي او پرته له دې چې وګوري د سورې د بحث موضوع څه ده او دا آیت له نورو سره په ګډه کوم مطلب افاده کوي، داسي کوږ تأویل او بې بنسټه تعبیر ته به ملا تړي چې له څرګند تحریف پرته بل نوم نه شو ورکولی! ګمان کوو چې دا بیماري په اصل کې له ړوند مذهبي تعصب او له دې راولاړېږي چې ځیني خلك خپل خاص مذهب ته مربوط هر روایت، که څه هم له قرآن سره هیڅ اړخ نه لګوي او سل په سلو کې له قرآن سره په ټکر کې وي، سل په سلو کې ئې مني، هغه روایات معیار ګڼي چې د خپلې مذهبي فرقې له کوم کس ئې اورېدلي وي، که روایت له آیت سره تصادم وکړ؛ دې ته ترجیح ورکوي چې روایت معیار وګڼي او آیت ئې په ګټه تأویل کړي او په تکلف سره داسي څه ترې جوړ کړي چې له روایت سره سمون وخوري، هیڅکله دې ته تیار نه دي چې له قرآن سره متصادم روایات په دېوال ووهي او لرې ئې وغورځوي او له منلو ئې ډډه وکړي، که څه هم دا روایات څو سوه کاله له رسول الله صلی الله علیه و سلم وروسته راغونډ شوي وي او دا ثابتول ډېر ډېر ګران وي چې آیا روایت موثق دئ او راوي ئې د اعتماد وړ دئ که نه؛ په داسي حال کې چې د الله تعالی په مقدس کتاب د ایمان تقاضی دا ده چې د هري خبرې لپاره ئې وروستی معیار وګڼو او په هغه صورت کې ئې ومنو چې له قرآن سره متصادمه نه وي.

هـ: دا سوره نژدې شل کاله له حجة الوداع مخکې نازله شوې، هیڅ داسي روایت او د سورې په متن کې هیڅ داسي نښه نه ګورو چې وښیي د دې سورې کومه برخه له نورو بېله، په مدینه کې او مخصوصاً په هغه وخت کې نازله شوې وي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له حجة الوداع وروسته مدینې ته راستنېدو، د سورې آیتونه داسي سره تړلي دي چې په دوو برخو ئې وېشل ممکن نه دي، یوازي هغه څوك به دا بې باکي او جسارت

کوي چې په لومړي آیت کې ذکر شوی (واقع کېدونکی عذاب) له قیامت پرته په بله معنی ونیسي چې د سورې له ټولو آیتونو سترګې پټې کړي.

و: کوم عقل او ایمان به دا خبره ومني چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به علي رضي الله عنه د ځای ناستي په توګه ټاکلی وي او صحابه رضي الله عنهم به د خپل محبوب پیغمبر د توصیې خلاف ابوبکر رضي الله عنه، بیا عمر رضي الله عنه او بیا عثمان رضي الله عنه د خلیفه په توګه غوره کوي!!! په غدیر خم کې یوازي دومره خبره شوې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اطلاع ورسېده چې د علي رضي الله عنه له هغو ملګرو چې د ده په شمول یمن ته لېږل شوي ول، ځینې ئې د ده له اجراءاتو ناراضه دي او د ده په اړه منفي تبلیغات کوي، رسول الله صلی الله علیه و سلم له ده دفاع وکړه او وئې فرمایل: د چا چې زه دوست یم علي به ئې هم دوست وي.

۲-۳: د دې دواړو آیتونو تر منځ د ارتباط د څرنګوالي په اړه دوه توجیه مومو:

الف: دا عذاب د کافرانو لپاره مختص شوی، د ذوالمعارج الله له لوري، هیڅوک نه شي کولی هغه له کافرانو دفع کړي.

ب: دا عذاب د کافرانو لپاره دئ، د الله تعالی له لوري هیڅ دفع کوونکی ورته نه دئ ټاکل شوی.

د ذو المعارج لپاره هم څو د پام وړ تعبیرونه لرو:

الف: ځینو معارج د معرج جمع او د لوړ تلو د مکان او وسیلې په معنی اخیستی او وایي چې مراد ترې آسمانونه او هغه لوړ لوړ ځایونه دي چې فرشتې ئې د الله تر حضور د رسېدو په بهیر کې پلي کوي.

ب: ځینې ئې معنوي مدارج، د فضیلت مراتب او اخلاقي فضائل ګڼي.

ج: غوره تعبیر دا دئ چې معارج د معرج جمع او د عروج او لوړ تلو د وخت او زمان په معنی دئ او مراد ئې دا دئ چې د الله تعالی حضور ته د لوړ تلو لپاره خاص خاص وختونه ټاکل شوي.

له وروستي آیت چې وایي د فرشتو او د دوی د سالار لپاره پنځوس زره کلن معرج ټاکل شوی، په وضاحت سره معلومېږي چې له معارج مراد هغه وختونه دي چې د الله تعالی حضور ته د لوړ تلو لپاره ټاکل شوي. یعني د الله تعالی په وړاندي هر حاضرېدا او لوړ تګ ثابت موعد او وخت لري.

٤- فرشتې او د دوی سالار او سردار جبرئیل علیه السلام چې د روح او ژوند متعلق چاري ورسپارل شوې، د لوړ تلو لپاره ځانګړی او خاص معرج لري، پنځوس زره کلنه منصوبه

ورسپارل کېږي، د خپل مأموريت په پای کې لوړ دورمي او د الله تعالی په حضور مشرف کېږي، چې د مخکينيو مأموريتونو معلومات وړاندې او نوې دندې په غاړه واخلي، يعني دلته هر کار د دقيقې او اوږدمهالي منصوبې له مخې په خپل خپل وخت تر سره کېږي، د قيامت منکران هسې تلوار او عجله کوي او د الهي عذاب د فوري راتلو غوښتنه کوي.

دا مطلب چې د قيامت منکرينو له پيغمبر عليه السلام د عذاب د راوستو غوښتنه کړې او د قيامت په راتګ کې ئې ځنډ د دې دليل ښودلی چې قيامت نشته، د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې په بېلو بېلو الفاظو راغلی، لکه چې د حج د سورې په ٤٧ کې لولو:

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ يُخْلِفَ اللهُ وَعْدَهُ وَإِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾

او له تا په تلوار سره د عذاب غوښتنه کوي حال دا چې الله هيڅکله له خپلې وعدې ترشا کېږي نه؛ او يقيناً چې ستا د رب په نزد کې يوه ورځ د داسې زرو کلونو په اندازه ده چې تاسو ئې ګڼئ.

فَٱصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُۥ بَعِيدًا ﴿٦﴾ وَنَرَىٰهُ قَرِيبًا ﴿٧﴾ يَوْمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلْمُهْلِ ﴿٨﴾ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ﴿٩﴾ وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ﴿١٠﴾ يُبَصَّرُونَهُمْ ۚ يَوَدُّ ٱلْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِى مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍۭ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِى تُـْٔوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ ﴿١٤﴾

٥- نو صبر وکړه، ښکلی صبر. ٦- بې شکه چې دوی ئې لرې بولي. ٧- او موږ ئې نژدې ګورو. ٨- هغه ورځ چې دا آسمان به وي په څېر د ويلي شوي فلز. ٩- او دا غرونه به وي د وربشلو وړيو په څېر. ١٠- او هيڅ دوست به د هيڅ دوست پوښتنه نه کړي. ١١- که څه هم هغوی ئې تر نظر شي، مجرم به خوښوي چې کاش خپل زامن د دې ورځې د عذاب فديه کړي، ١٢- او خپله ښځه او خپل ورور، ١٣- او ټبر ئې چې پناه ورکوي، ١٤- او ټول هغه چې په زمکه کې دي، چې وئې ژغوري.

٥- په دې مبارك آيت کې رسول الله صلى الله عليه و سلم په ښکلي صبر او استقامت ګمارل شوی، داسې صبر چې نه په کې شکوه او شکايت شته او نه يأس او ناهيلي، نه د ثبات او استقامت د پرېښودو لاملونو ته موقع ورکوي او نه د مبارزې د قطع کولو او په نيمايي کې

د پرېښودو اجازه ورکوي، بايد د دښمنانو د لجاجتونو او د آخرت د منکرينو د مخالفتونو په وړاندي تر پايه صابر او ثابت قدم وي. رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د صبر له دې سپارښتني معلومېږي چې د مقابل لوري مخالفتونه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اذيت او ځورولو تر کچې زيات شوي او کار هغه ځای ته رسېدلی چې ده ته وايي: که ته په رښتيا د خدای پيغمبر يې او د عملونو د مکافات او مجازات په اړه ستا ادعاء حقيقت لري، نو ولې زمونږ له دغو مخالفتونو سره سره دا موعود عذاب نه راځي او مونږ نه پرې اخته کېږو؟ دا ستا د رب عذاب چېرې دئ؟ دا ستا قيامت به کله راځي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته توصيه کېږي چې د دوی د لجاجت په وړاندي صابر وي او په الهي عذاب کې ځنډ ئې مشوش نه کړي.

٦-٧: په ٦ آيت کې د (انهم) لفظ ښيي چې د (عذاب سائل) يو کس نه بلکې يوه ډله ده او له (يرونهم بعيدا) ئې معلومېږي چې له واقع کېدونکي عذاب د دوی منظور او هدف د آخرت د ورځې عذاب وو، د دې آيت مراد دا دئ چې د قيامت منکرين بې ځايه قيامت لري ګڼي، دا ځکه چې دوی خپلې لنډې ورځې او اونۍ معيار نيولې او د خپلو دغو وړو او محدودو معيارونو له مخې قيامت ورته ډېر لري برېښي، په داسې حال کې چې الله تعالى ته او په الهي معيارونو کې ډېر نژدې دئ، که دوی خپل واړه واړه معيارونه پرېږدي، له خپل تنګ چاپېريال راووځي او د قيامت موضوع ته د داسې معيارونو له مخې وګوري چې د دې عالم له ستروالي او عظمت سره سايي نو حتماً به متوجه شي چې په خپلو تنګ نظره قضاوتونو کې ئې اشتباه کړې او د يوه عجول انسان په څېر ئې چلن کړی، د دوی په معيارونو کې قيامت لري برېښي خو په الهي معيارونو کې، هلته چې يوه ورځ د پنځوس زره کلونو په اندازه ده، نژدې دئ. قرآن همدغه حقيقت ته په خو نورو مواردو کې هم اشاره کړې، چې د ټولو مقصد دا دئ: زمانه نسبي امر دئ، له يوه تر بل او له يوه حالت تر بل ئې وضع بدلېږي، ويښ او ويده، مړ او ژوندی، لټ او تېز ته يو شان نه وي، هغه زمانه چې يوه ته په يوه حالت کې بې انتهاء برېښي بل ته د خو ثانيو او دقيقو وي، کومه فاصله چې مېږي ته بې انتهاء برېښي د يوې مرغۍ لپاره د خو ثانيو وي، که په يوه اطاق کې له يوه ويده او ويښ چې ټوله شپه ئې په خوب او ويښه تېره کړې، پوښتنه وکړئ، ويښ به درته وايي: ډېره اوږده شپه وه، لټ په لټ اوښتم، سخته رابانديې تېره شوه؛ او ويده به درته وايي زه نه يم پوهېدلی چې شپه څنګه تېره شوه او څومره خوب مي کړی!! دا تاسو يئ چې کلونه او پېړۍ درته اوږده زمانه برېښي او په واړه ذهن مو د دې سيوری پروت دئ چې په مړو باندې د اوږدې مودې له تېرېدو وروسته به څنګه بيا راژوندي

کېږي! خو الله تعالی ته دغه ستاسو په نظر اوږده زمانه د څو شېبو په اندازه ده. د نسبیت په اړه د قرآن دغه خبره دولس پېړۍ وروسته، د المان یوه ساینس پوه انشټین، د ساینس په ژبه وکړه او په دې سره ئې د فزیك د پلار نوم وګاټو. د دې وینا په اهمیت هغه وخت ښه پوهېدی شو چې وګورو د شلمې پېړۍ ساینس پوهان، د ستور لیکو تر منځ د واټن او فاصلې ټاکلو لپاره دې ته اړ شول چې د ورځې؛ اونۍ، میاشت، کال او پېړۍ معیار پرېږدي او په ځای ئې هغه واټن معیار وګڼي چې نور (رڼا) ئې په یوه کال کې پلی کوي؛ او دې ته ئې د نوري کال نوم ورکړ؛ او وئې ویل: دا ستور لیکی (کهکشان) له هغه بله څو سوه ملیونه نوري کاله فاصله لري. وئې لیدل چې د سپوږمۍ او مریخ ورځې د زمکې له ورځې توپیر لري، هر ستوری خاصه ورځ، میاشت او کال لري؛ او دا د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم څنګه په دې پوه شو چې هر مقام او مکان ځانګړی زماني معیار لري، کوم معیارونه چې موږ ئې د زمکې په سر کاروو دا په بل ځای کې نه شي تطبیقېدی؟

۸-۹: د دغو کم ظرفو او لنډ لیدو منکرینو په نظر آسمان تر دې ډېر ستر او مضبوط برېښي چې متلاشي او نسکور شي؛ او غرونه تر دې ډېر درانه چې څوك ئې له خپل ځای وخوځوي، پرېږده چې دوی په خپلو ماشومانه تصوراتو او خیالاتو کې مشغول وي، کله زمانه په خپلو وړو وړو معیارونو کې او د ورځې او اونۍ په حساب وشمېري او نژدې واټن ډېر لري وګڼي او کله د زمکې د غرونو او د آسمان د ستورو په اړه ماشومانه انګېرنې ولري، کومه ورځ چې وګوري آسمان د ویلي شوي فلز په څېر شي او راوځځېږي؛ او غرونه د وریښل شوو وړیو په څېر خواره واره شي، هله به په خپلې خطأ او اشتباه پوه شي.

۱۰-۱٤: اجتماعي روابط او ځانګړي شرائط ئې کله کله انسان داسي تر اغېز لاندي راولي او د ده ذهن داسي په خپل ګورت کې ونیسي او د ده په افکارو، مشاعرو او عواطفو خپل وزر داسي وغوړوي او انسان داسي راګیر کړي چې د وتلو او ځان ایستلو ټولې لاري پرې وتړي او په هغو حقائقو پوهېدا ورته ګرانه کړي چې له دې تنګ محیط او چاپېریال بهر دي، انسان د دغه اغېز تر سیوري لاندي خپل قومي دود دستور، افکار او اخلاق مقدس ګڼي، یو د بل لپاره پرې منګولې خښې کړي، له هر هغه څه سره مینه او محبت کوي چې په خپل ځانګړي تنګ چاپېریال کې ئې مومي او هغه څه ته په بده سترګه ګوري چې له دې دائرې بهر وي، حقیقت د دې لپاره نه منې چې د ده په اړوند ډلې او قبیلې کې څوك پرې باور نه لري او له باطل په دې خاطر دفاع کوي چې له پلار نیکه ورته په میراث پاته دئ. تل (قوم پالنه) او تعصب د (خدای پالنې) او اسلام په وړاندې خنډ شوی او تل هغه مخور

قومي مشران او واکمنان د پیغمبرانو علیهم السلام مقابلې ته راوړاندي شوي او د مخالفت لپاره ئې ملا تړلې چې خپل نفوذ او د پلویانو ډېرښت مغرور کړي وو، د قیامت په ورځ به دغه په جاهلانه تعصباتو ولاړي اړیکي غوڅي شي، هغه خلك به یو بل سره هېر کړي چې دغو اړیکو سره نژدې کړي وو، یو د بل مرسته به نه شي کولی، یو به د بل خوا ته تېرېږي، خپل دوستان به په عذابونو اخته ګوري، خو نه به اعتناء او التفات ورته کولی شي او نه به ئې مرسته کولی شي، نه یوازي دا چې د خپل ګران دوست په اړه به بې اعتناء وي بلکې دا تمنی به کوي چې کاش خپل زامن، مېرمن، وروڼه، هغه ټبر چې په دنیا کې د ده حامي وو؛ او د زمکې ټول اوسېدونکي، له الهي عذابه د نجات لپاره په فدیه کې ورکړی شي، چې دی له عذابه وژغورل شي، داسي دئ د دغو قومي تعصباتو ماهیت او د دغو اړیکو پای.

كَلَّآ ۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ تَدْعُوا۟ مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰٓ ﴿١٨﴾

١٥- نه؛ داسي نه ده؛ دا خو یوه لمبه ده، ١٦- ښه ایستونکې د وریتولو لپاره. ١٧- وربولي به هغه چې شا ئې اړولې او ډډه ئې کړې. ١٨- او راغونډول ئې، بیا ئې ساتل.

١٥-١٨: کوم عذاب چې دا دوزخیان ترې تښتي د اور سره لمبه ده چې خصوصیات ئې دا دي:

الف: هغه دوزخیان ښه پېژني چې د وریتولو او سوزولو وړ وي، یو یو به د خلکو له منځه رابېل او د وریتولو لپاره به ئې په خپلې غېږ کې ونیسي.

ب: چا چې په دنیا کې حقیقت ته شا کړې وه، حق ته له تسلیمېدو ئې ډډه کوله او له حرامو لارو ئې مال دولت راغونډولو، دا لمبه به ئې ځان ته رابولي.

یعني د دوزخ دا لمبه د دنیا د اور په څېر نه ده چې وچ له لندو نه شي بېلولی او دواړه سوزوي، بلکې درك او تشخیص لري، هغه کسان پېژني چې د سوزولو وړ او مستحق وي، هم به ئې له څېرو پېژني او هم په نوم، ځینې به په خپله رانیسي؛ او ځینې به په نامه یادوي او ځان ته به ئې وربلي.

ځینو درنو مفسرینو (نزاعة للشوی) داسي ترجمه کړې: د لاس او پښو ایستونکې؛ او ځینو داسي: د سر او مخ د پوستکي ایستونکې، چې دا دواړه ترجمي غیر دقیقي او ناسمي دي، دوی (شوی) د (شواة) جمع ګڼي؛ او په (للشوی) کې (لام) زائد شمېري، په داسي حال کې چې (شوی) اسم مصدر او د وریتولو په معنی ده؛ او د آیت دقیقه او بې تکلفه ترجمه

دا ده: د وريتولو لپاره ښه او ماهر راايستونکې، يعني دا لمبه د مجرمينو په پېژندو او د نورو له منځه ئې په راايستو کې ښه مهارت او استعداد لري، دوی به د وريتولو لپاره د نورو له منځه راوباسي. وروستی آيت هم دغه معنی تأييدوي او د مخکيني مطلب په دوام کې وايي: دا لمبه به دوزخيان له ځېرې او نامه پېژني او هر هغه څوك به ځان ته رابلي چې له حقيقت ئې مخ اړولی وو؛ او له حرامو لارو ئې مال او دولت غونډولو.

کله چې زه د دې آيت تفسير ته راورسېدم، له عجيب حالت سره مخامخ شوم، د دې آيت د دقيق تفسير معلومولو لپاره مي ټولو هغو مراجعو ته رجوع وکړه او ټول هغه تفسيرونه او ترجمې او د لغت کتابونه مي ولټول چې راته مقدور وو، خو اشکال مي رفع نه شو او د خپلو پوښتنو ځواب مي تر لاسه نه کړی شو، چا (شویٰ) په غير اصلي معنی اخيستی وو او چا لام زائد ګڼلی وو؛ او ما ته دا دواړه خبرې صحيح نه برېښي، ما ليدل چې د دې آيت لفظ په لفظ او دقيقه ترجمه دا ده: ښه ايستونکې د وريتولو لپاره. په دغو تفسيرونو او تراجمو کې مي داسي تعبيرونه مخي ته راتلل چې د آيت له دقيقي ترجمې سره ئې سمون نه خوړ، څو ورځې راباندي داسي تېرې شوې چې په تفسيرونو او ترجمو کې مي لټوني وکړې، په وار وار مي دا سوره په لمونځونو کې او له لمانځه بهر تلاوت کړه، له ويدېدو مخکې او چې کله به هم له خوبه راوېښ شوم دا سوره به مي تلاوت کوله او په دې آيت کې به مي غور کاوو، چې په دقيقه معنی ئې پوه شم، يوه شپه ناڅاپي له خوبه راوېښ شوم؛ او په هماغه نيم وېښ نيم ويده حالت کې دا رأيه راته القاء شوه چې: د دوزخ اور په پوهه او هوښياری عمل کوي، دوزخيان له خپلو ځېرو پېژني، د وريتولو لپاره ئې د نورو له منځه راباسي؛ او هغه چې حقيقت ته ئې شا کړې او له حرامو لارو ئې شتمنۍ راغونډې کړې، ځان ته به ئې وربلي، د آيت دقيقه معنی همدا ده. غوښتل مي دا رحماني القاء وليکم چې هېره ئې نه کړم، ساعت ته مي وکتل چې دوو ته څو دقيقې پاته وې... په سبا ئې د مطالعې په ترڅ کې څو داسي روايات مخي ته راغلل چې همدا تعبير ئې تأييدولو، په يوه کې راغلي چې جهنم به دوزخيان داسي د خلکو له منځه راباسي لکه مرغان چې له زمکي دانه راټولوي؛ او په بل کې راغلي: جهنم به ځانګړې منګولي لري، چې ځينې به پرې کلك کلك نيسي او ځان ته به ئې راکښوي، ځينې به پرې وګرځي؛ او ژوبل به ئې کړي؛ او ځينې به ئې روغ رمټ تر خوا تېر شي.

قال ابن عباس: تدعو (النار) الكافرين والمنافقين بأسمائهم بلسان فصيح: إلى يا كافر، إلى يا منافق; ثم تلتقطهم كما يلتقط الطير الحب.

عبدالله بن عباس رضي الله عنه وويل: (د جهنم اور به) کافران او منافقين په فصيح ژبه

په خپلو نومونو ځان ته وربلي؛ زما خوا ته راشه اې کافره! زما خوا ته راشه اې منافقه! بيا به ئې داسې رانيسي لکه مرغان چې دانه ټولوي.

إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا ٱلْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱلَّذِينَ فِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴿٢٥﴾ وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٢٦﴾ وَٱلَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴿٢٧﴾ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ ﴿٢٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَٰفِظُونَ ﴿٢٩﴾ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْعَادُونَ ﴿٣١﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِأَمَٰنَٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَٰعُونَ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمْ قَآئِمُونَ ﴿٣٣﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٣٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ فِى جَنَّٰتٍ مُّكْرَمُونَ ﴿٣٥﴾

١٩- يقيناً چې انسان ډئ پيدا شوی ډېر کم ظرفه او بې صبره. ٢٠- چې شر ور ورسېږي، زګېروی کوونکی شي. ٢١- او چې خير ئې شي په برخه سخت مانع (د خير د کار) شي. ٢٢- غير له لمونځ کوونکو، ٢٣- هغه چې په خپل لمانځه پايښت کوي. ٢٤- او هغه چې په مالونو کې ئې ځانګړی معلوم حق وي. ٢٥- لپاره د سؤالګرو او بې وزلو. ٢٦- او هغه چې د بدلې ورځ رښتينې ګڼي. ٢٧- او هغه چې د خپل رب له عذابه وېرېدونکي دي. ٢٨- بې شکه چې د رب عذاب ئې بې امانه ډئ. ٢٩- او هغه چې د خپل عورت ساتونکي دي. ٣٠- مګر په خپلو جوړه وو (مېرمنو) او يا وينځو، چې بيا نو ملامت نه دي. ٣١- او چا چې له دې پرته څه لټولي دوی تېری کوونکي دي. ٣٢- او هغه چې د خپلو امانتونو او ژمنو رعايت کوونکي دي. ٣٣- او هغه چې په خپلو شهادتونو په نېغه درېدونکي دي. ٣٤- او هغه چې پر خپلو لمونځونو مواظبت کوي. ٣٥- دوی به په جنتونو کې وي، معزز او مکرم.

١٩-٢١: په دې آيتونو کې هغه څوک په دقيقه توګه انځور شوی چې په آخرت ايمان نه لري او خصلتونه ئې دا دي:

الف: حريص او بې صبره ډئ، حرص ئې نه پای لري او نه په څه قناعت کوي.

ب: له ستونزي او کړاو سره د مخامخ کېدو په وخت کې جزع و فزع کوي، له هر چا سرټکوي او شکوه او شکایت کوي.

ج: که ئې (خیر)، مال او دولت په برخه شي؛ نو خپل دوست او ملګری ترې هېر شي، له نورو سره له احسان او سخاوت ډډه کوي، خپل ډېر نژدې دوست هم په دې خیر کې د راګډولو وړ او مستحق نه ګڼي.

انسان تل په خپلو قضاوتونو کې د خپلو احساساتو، عواطفو او اغراضو تر اغېز لاندې راځي، د دې په ځای چې حقیقت ته په درنه سترګه وګوري، اهمیت ورکړي، د خپلو قضاوتونو مبنا او اساس ئې وګرځوي، خپل شخصي مصلحت مبنا او اساس ګڼي، هر څه په دې تلې او معیار تلې، که ده ته کوم درد، رنځ او کړاو ورورسېږي دا حق ځان ته ورکوي چې جزع و فزع وکړي، په شکوه او شکایت خوله پرانیزي؛ او له هر چا دا وغواړي چې ده ته پام وکړي او د مرستې لاس وراوږد کړي، خو که دی په خپله هوسا او سوکاله وو، خیر ئې په برخه شوی وو، بیا نو د دې پروا نه لري چې بل په څه حالت کې دئ، نه د بل (جزع) و (فزع) ته اعتناء کوي، نه ئې کوکاري او زګېروي پرې اغېز لري؛ او نه ئې د دې وړ ګڼي چې لاس وراوږد کړي او مرسته ئې وکړي. آیا دا سمه ده چې د قیامت په اړه د دغه عجول، کم ظرفه او حریص انسان قضاوتونو ته د اهمیت په سترګه وګورو او د الهي عذاب په اړه د ده پوښتنو او په تلوار او عجله غوښتنې ته اهمیت ورکړو؟! او که دی په فوري توګه د قیامت او الهي عذاب د راتلو غوښتنه کوي؛ نو غوښتنې ته ئې مثبت ځواب ورکړی شي؟!!

د ستونزو او کړاوونو په وخت کې بې صبري، سرټکول، بده ورځ جوړول او شکوه او شکایت کول او د شتمن کېدو په صورت کې بخل کول، د خیر په لار کې د خپل مال له خرڅولو ډډه او له خپلې شتمنۍ د سخاوت د هر کار د مخنیوی په لار کې کار اخیستل، د انسان هغه دوه ناوړه او بد خویونه دي چې د ده اکثر اجتماعي مشکلات له همدې راولاړېږي، له دې یوازي (مصلین) یعني لمونځ کوونکي خوندي پاته کېږي.

۲۲-۳۵: په دې آیتونو کې د انساني شخصیت بله بېلګه انځور شوې؛ او څو اساسي خصلتونه ئې ښودل شوي:

الف: د مخکینۍ ډلې له کرکجنو، شنیع او قبیح خصلتونو د لمانځه په سبب خوندي دي، دا لمونځ دئ چې انسان له حرص، جزع و فزع او بخل ژغوري او نه پرېږدي چې لمونځ کوونکی انسان ئې تر اغېز لاندې راشي.

ب: کوم لمونځ چې دا کرکجن خصلتونه مهار نه کړی شي؛ هغه لمونځ یا اصلاً لمونځ نه

دئ او يا په دوامداره توګه نه دئ اداء شوی. په لمانځه کې تداوم د دې سبب کېږي چې په انسان کې د دغو خصلتونو د راولاړېدو لپاره هیڅ مجال پاته نه شي، چا چې له خپل رب سره خپلې اړیکې ټینګې وساتلې او خپل لمانځه ته ئې اهتمام وکړ، دا میکروبونه نه شي کولی د ده په زړه او دماغ کې وده وکړي.

هغه به څوک وي چې په دې نه پوهېږي چې په انسان کې داسې محرکات او غریزې شته چې ګناه ته ئې هڅوي، تل هغه وسوسه کوي چې خپل نفس څورب کړه، ټولو غوښتنو ته ئې ځواب ووایه، په خپل جائز او روا حق قناعت پرېږده، په حلال رزق اکتفاء ته شا کړه، ځان په دې مه مقید کوه چې د خپلو غرائزو د اشباع لپاره به یوازې مشروع او روا لاري لټوې؛ او خپل تمایلات به مهاروې، پرېږده نور خلك ستا د نفس د خوشحالۍ په لار کې قرباني شي، په کار دا ده چې ټول نفیس، قیمتي، ګټور، غوره، خوندور او ښایسته شیان ستا وي، که خوراك وي، که پوښاك وي، که کور، ښځه، موټر، منصب او مقام وي، پروا نه کوي چې له کومې لارې ئې تر لاسه کوې!! دا حریص محرك، دا د ګناه مشوق او د نورو په حق تېرې ته هڅوونکی حرص، یوازې په الله تعالی او آخرت باندې ایمان او باور، له الله تعالی سره دائمي تعلق او په لمانځه سره مهار کېدی شي.

ج: کوم اخلاقي ارزښتونه چې په دې آیتونو کې د دغې ډلې ځانګړتیاوې ګڼل شوې، پیل ئې په لمانځه مداومت او پای ئې د لمانځه حفاظت او ساتنه ښودل شوې؛ او د دې معنی دا ده چې لمونځ د ټولو ښېګڼو پیل او بنسټ دئ، په ټولو ئې احاطه کړې ده، هم ئې د پیل لامل دئ او هم ئې د کمال او دوام موجب.

د: که له قیامت منکره ډله حریصه او بخیله ده او سره له دې چې مال دولت ئې په واك کې دئ او کولی شي بې وزلی او محتاج انسان له کړاوه وژغوري خو نه یوازې د بخل په سبب د هغه له مرستې ډډه کوي، بلکې خپله شتمني او امکانات د ښېګڼو په مخنیوي او د بدیو او بدکاریو په خورولو کې کاروي، خو لمونځ کوونکې ډله له محروم او محتاج انسان سره مرسته خپله وجیبه ګڼي، د مظلوم او بې وزلي انسان په اړه دا احساس ورسره وي چې دا مي همنوع دئ، په دې مال کې راسره شریك دئ، یوه برخه ئې د ده حق دئ، کومه مرسته چې زه ورسره کوم دا بسپنه او صدقه نه بلکې د ده مسلم حق دئ، په ورکړې سره ئې په ده کوم احسان او منت نه دئ کړی بلکې خپل حق ئې ورکړی.

هـ: قیامت او د عملونو مکافات او مجازات رښتینی ګڼي او په هغه ئې کلك باور دئ.

و: له قیامت منکر انسان د دې لپاره چې عجول دئ، الهي عذاب په عجله او تلوار غواړي، دروغ ئې ګڼي او بې پروا دئ، خو په قیامت باور لرونکی له الهي عذاب وېرېږي او

بې امانه ئې ګڼي او د ګناهونو له ارتکابه ئې راګرځوي.

ز: د هوس بنده نه دئ، خپلو جنسي اړيکو ته قانوني او پاکيزه بڼه ورکوي او په هغه څه اکتفاء کوي چې حلال، قانوني او د ده د فطري غوښتنو مطابق دي، په دې توانېږي چې خپل هوس مهار کړي او خپل عورت وساتي.

ح: امين وي او په امانتونو کې خيانت د خپل ايمان منافي عمل ګڼي.

ط: په خپلې ژمنې او عهد وفا کوي، د ژمنو رعايت خپله وجيبه ګڼي، له الله تعالى او د ده له بنده سره عهد خلافي او بې وفايي ګناه او حرام شمېري.

ى: له حق دفاع کوي، د حق په ګټه شهادت ورکوي او په شهادتونو او له حق او حقيقت د دفاع په لار کې تل ثابت قدم او استوار وي.

ك: پر خپل لمونځ مواظبت کوي، لمونځ ئې هسې د خو بې روح او بې مقصده حرکاتو مجموعه او يو عادت، دود او عنعنه نه وي او په غفلت او بې خبرۍ سره ئې نه اداء کوي، بلکې په پوره اعتناء او خاص التفات او د ټولو حقوقو له مراعات سره ئې اداء کوي.

دوی به جنت ته درومي او په اعزاز او اکرام سره به په کې ژوند کوي.

فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهۡطِعِينَ ٣٦ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ٣٧ أَيَطۡمَعُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٖ ٣٨ كَلَّآۖ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّمَّا يَعۡلَمُونَ ٣٩ فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ وَٱلۡمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ٤٠ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ٤١

٣٦- نو په دې کافرانو څه شوي چې په تلوار ستا لوري ته راځغلي. ٣٧- له ښي او له کيڼ لوري ډله ډله. ٣٨- مګر هر يو ئې دا طمع کوي چې داخل کړی شي له نعمتونو ډک جنت ته؟! ٣٩- نه؛ داسي نه ده؛ دا موږ يو چې له داسي څه مو پيدا کړل چې په خپله پرې پوهېږي. ٤٠- نو نه؛ د ختيځو او لوېديځو په رب مي قسم چې موږ قادر يو، ٤١- په دې چې تر دوی په غوره ئې بدل کړو؛ او موږ مغلوبېدونکي نه يو.

٣٦-٣٨: په دې کافرانو څه شوي چې په قيامت د باور لرونکو او بې باورو تر منځ له اخلاقي او عملي اړخه د دې ژورو توپيرونو له ليدو سره سره له دې انکار کوي چې قيامت يو حقيقت دئ او د انکار پايلې ئې خرابي؟ مګر نه ګوري چې د قيامت منکران څنګه پليت او ناولي شخصيتونه لري او په آخرت باور لرونکي څومره غوره او ښکلی شخصيت؟ مګر د

دوی تر منځ دا ژور توپیر، یو ئې له هغو لوړو لوړو ښایسته اخلاقو سره او بل ئې له دې ناولي او پرېوتو خصلتونو سره دا نه ثابتوي چې په آخرت ایمان د انسان د شخصیت په جوړولو کې ژور او اساسي اغېز لري؟! د انسان اخلاقي وضع په دې پورې غوټه شوې، په قیامت نه باور انسان د حرص، تلوار، کم ظرفۍ، جزع و فزع، مال غونډولو او له حق مخ اړولو ته بیایي او په قیامت ایمان ئې له دغو ناولو او ناوړو اخلاقو ژغوري. د دې توپیر له مشاهدې سره سره څنګه او په کوم دلیل له قیامت انکار کوي او په دې اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم بلني ته د رد ځواب ورکوي او حساسیت ښیي؟!! له هري خوا پرې رابرګ کېږي او د مخالفت غږونه اوچتوي؟ او مخالفت ئې هم داسي سخت او جدي چې ګواکې په دې سره به الله تعالی ترې راضي کېږي او د جنت مستحق به ګڼل کېږي!! هر یو ئې دا مخالفت له (خپل حق دین او مذهب) دفاع ګڼي او داسي برېښي لکه چې له دې تر ټولو غوره او له نعمتونو ډک جنت ته د رسېدو طمع کوي!!!

۳۹: دا دومره شدید مخالفت د څه لپاره؛ او دا دومره حساسیت ولې؟! مګر نه پوهېږي چې موږ له څه پیدا کړي؟ مګر نه پوهېږي چې موږ ئې نطفه له خاورو پیدا کړه؟ ولې خپل مجدد پیدایښت او بیا ژوندون محال او ګران ګڼي؟! مګر هغه ذات چې دوی ئې له خاورو او بیا له یوې وړې نطفې پیدا کړل، له خاورو د دوی په بیا پیدایښت قادر نه دئ؟!!

٤٠-٤١: یو ځلي شرق او غرب ته پام وکړئ، د لمر راختو او لوېدو ته ځیر شئ، چې هره ورځ له ځانګړي ختیځه طلوع کوي او په ځانګړي لوېدیځ کې پرېوځي، په خپله لار درومي او خپله دنده تر سره کوي، مګر هغه ذات چې دا پراخ عالم، له دغو بې شمېره ستورو سره اداره کوي، هره ورځ لمر په خپل وخت او له خپل خاص ځای راپورته کوي او په خپل وخت ئې په خپل خاص ځای کې پرېباسي، پرته له کوم تغییر او تأخیر، آیا د انسان په مجدد پیدایښت قادر نه دئ؟!

په دې ذات مي قسم چې دی نه یوازي په داسي کار ښه قادر دئ بلکې کولی شي تاسو تر اوسني حالت په ډېره غوره بڼه کې پیدا کړي. دی نه یوازي د داسي کار له کولو عاجز نه دئ بلکې د هیڅ کار په وړاندي مغلوبېدونکی نه دئ.

په ٤٠ او ٤١ آیتونو کې څو ظریف ټکي د پام وړ دي:

الف: دلته په (مشارق) او (مغارب) لوړه شوې او ورپسې ویل شوي: موږ په دې قادر یو چې دوی تر اوسني حالت په ښه بڼه واړوو او تر دې په غوره کیفیت کې ئې بیا راپیدا کړو او موږ وروسته پاته کېدونکي نه یو.

فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ وَٱلۡمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴿٤٠﴾ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ﴿٤١﴾

نو نه؛ د ختيځو او لوېديځو په رب مي قسم چې موږ قادر يو، په دې چې دوی تر اوسني حالت په ښه بڼه واړوو (تر دې ئې په غوره کيفيت کې بيا پيدا کړو) او موږ وروسته پاته کېدونکي نه يو.

دلته هم د قرآن د عمومي قاعدې مطابق په يوه څرګند حقيقت لوړه شوې او د دې ادعاء لپاره د شاهد په توګه وړاندي شوې چې الله تعالی د انسان په بيا راژوندي کولو قادر دئ او هيڅ څه ئې په هيڅ کار کې نه شي ناتوانه کولی. د مشارق او مغارب په پالونکي، په هغه ذات چې د ده په اراده دا ستوري او لمر سپوږمۍ، راخېژي او لوېږي، لوړه شوې، راشئ وګورو چې مشارق او مغارب څنګه په دې خبري شهادت ورکوي چې الله تعالی د انسان په بيا راژوندي کولو قادر دئ؟

يو ځل مشرق او مغرب ته توجه وکړئ، د لمر او ستورو ختو او لوېدو ته لږ په غور سره پام وکړئ، په دې غور وکړئ چې دا لمر څنګه هره ورځ له خاص ځای طلوع کوي او په خاص ځای کې پرېوځي، هر ستوری همداسي ځانته معين ختيځ او لوېديځ لري، ځای او وخت ئې ټاکل شوی، په خپل خاص وخت او په خپل خاص ځای کې ئې ختل او پرېوتل دي، مګر هغه ذات چې دا پراخ او ستر عالم له خپلو ټولو سماوي اجرامو سره اداره کوي، هره ورځ لمر او ستوري له خپل خاص ځای، له هيڅ تغيير او تأخير پرته، راپورته کوي او پرې باسي، آيا دا ستر او ځواکمن ذات له دې عاجز ګڼې چې انسان له مرګ وروسته بيا راژوندی کړي؟!! زما دي په دې ذات قسم وي چې هغه نه يوازي په دې کار قادر دئ بلکې کولی شي تاسو په داسي نوې بڼې کې پيدا کړي چې تر اوسني حالت مو ډېر ډېر غوره وي، هغه نه يوازي له دې کار عاجز نه دئ بلکې د هيڅ کار په وړاندي بې وسه او مغلوبېدونکی نه دئ.

همدا راز د لمر طلوع او غروب د ژوندون له اساسي عواملو دي، که دا د لمر راختل او پرېوتل نه وی نو د زمکې په سر به يو ژوندی موجود هم نه وو پيدا شوی، ټول ژوندي موجودات د خپل پيدايښت او د خپل ژوند د دوام لپاره هغې تودوخې او رڼا ته اړ دي چې لمر ئې زمکې ته ورکوي، دا د کال په اوږدو کې هره ورځ د لمر بېل بېل او متفاوت ختيځ او لويديځ د دې باعث شوي چې زمکه څلور مختلف فصلونه ولري، که دا نه وی او په دې سره د زمکې هوا داسي معتدله نه ساتل کېده چې ژوندون ورته ضرورت لري، نو د زمکې پر

سر به هيڅ ژوی نه وو پيدا شوی. که دا مطلب په پام کې ولرو نو په دې خبرې پوهېدل آسان دي چې په مشارق او مغارب باندې د بيا ژوندون لپاره ولې استناد شوی.

ب: دا مطلب هم د پام وړ دئ چې په دې آيتونو کې د (مشارق) او (مغارب) صيغې کارول شوې چې د مشرق او مغرب زياتوالی افاده کوي؛ او له دې معلومېږي چې قرآن کريم د خپلو مطالبو په بيان کې څومره دقيق دئ او د څومره دقيقو او ظريفو نقاطو خيال ساتي. په دې پوهېږو چې د لمر طلوع او غروب هره ورځ له بلې فرق کوي، نن له يوه ځای او سبا له بل ځای، د کال د ورځو په شمېر مشارق او مغارب لري، د همدې لپاره قرآن کريم د مشارق او مغارب صيغې کارولې، همدا راز لمر په يوه کال کې دوه مشرقه او دوه مغربه په دوبي او ژمي کې لري، يو د دوبي تر ټولو اوږدې ورځ کې او بل ئې د ژمي تر ټولو لنډې ورځ کې، د همدې لپاره قرآن په بل ځای کې د مشرقين او مغربين الفاظ کارولي چې دوه مشرق او دوه مغرب افاده کوي.

فَذَرْهُمْ يَخُوضُواْ وَيَلْعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾ يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾ خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلَّذِى كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

۴۲- نو دوی پرېږده چې خوشي ګډ وي او لوبې کوي، تر هغه چې له خپلې هغې ورځې سره مخامخ شي چې وعده ئې ورکول کېږي. ۴۳- هغه ورځ چې له قبرو به په تلوار سره راوځي داسې لکه چې د نښو په لور ځغلي. ۴۴- سترګې ئې خړې، په ذلت اخته، دا ده هماغه ورځ چې وعده ئې ورکول کېده.

۴۲-۴۴: که د قيامت منکران په دې دلائلو نه قانع کېږي، له خپلو خوشو خبرو لاس نه اخلي، په خپلو طفلانه او ماشومانه افکارو او لوبو کې مشغول دي، حقائقو ته له اهتمام او سترو سترو واقعيتونو ته له التفات او اعتناء عاجز دي، دوی په همدې خوشې مشغولتيا او لوبو کې پرېږده، تر هغه چې هغه ورځ په خپلو سترګو وګوري چې نن ترې انکار کوي. په هغه ورځ به له خپلو قبرونو په عجله راوځي، داسې به ځغلي لکه چې نصب شوو نښو ته په تلوار د ځان رسولو هڅه کوي، هماغسې لکه نن چې پر تا رابرګ شي، په مندې ستا خوا ته رادرومي، له ښې او کيڼ لوري ډله ډله؛ او د مخالفت غږ اوچتوي!! پرون ئې په بې شرمۍ مخالفت کاوو نن به شرمنده وي له شرمه ئې سترګې ټيټې؛ د وېرې او خوف آثار ئې په څېرې کې راخرګند.

پرون ئې په مستۍ، تکبر او غرور مخالفت کاوو، نو ځکه به نن ذلیل او سپك وي؛ او د ذلت او سپکاوي آثار به ئې په څېرو کې راښکاره؛ او ورته وبه ویل شي: دا ده هغه ورځ چې وعده ئې درکول کېده او تاسو ترې انکار کاوو.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

نوح

د سورې معرفي:

(نوح) د دې سورې هم نوم دئ او هم ئې د مضامینو لپاره عنوان، ۲۸ آیتونه لري، د لومړي او دوهم آیتونو فواصل ئې د الیم او مبین هموزنه صیغې دي، د درېیم او څلورم ئې د اطیعون او تعلمون هموزنه صیغې، بیا له پنځمه د سورې تر پایه (نهاراً) ته ورته صیغې، ډېر ښکلی وزن او سجع لري. دا هم مکي سوره ده، د سورې له متنه معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې سورې د نزول په وخت کې له داسي شرائطو سره مخامخ وو چې دا سوره ئې د نوح علیه السلام د قصې په ترڅ کې مور ته بیانوي، د دې قصې د ځینو پراوونو په لوړو ژور کې مور ته د دغې مرحلې حالات داسي انځور شوي:

۱- نوح علیه السلام له دې رسالت سره د خپل قوم په لوري ولاړ چې دوی ته د کفر او شرك له خطرناکو پایلو خبرداری ورکړي.

۲- خپل قوم ته د ده د پیغام خلاصه دا وه: د الله تعالی عبادت وکړئ، ترې ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. په دې عبادت، تقوی او اطاعت سره به ستاسو ځینې هغه ګناهونه درته وبخښي چې د بخښلو وړ دي؛ او هغه دردناك عذاب به وځنډول شي چې په لاره دئ؛ او تر یوې ټاکلې بلې نېټې به تاسو ته مهلت درکړي، په دې پوه شئ چې الهي پرېکړي پرېکنده دي او موعد ئې نه بدلېدونکی.

۳- نوح علیه السلام خپل امت په پرله پسې او ستړیا نه منونکې توګه، شپه او ورځ او له هره فرصته په استفادې سره، حق ته راوبلل، خو د ده مفسد او ظالم قوم د دې په ځای چې له فسق او فساده لاس واخلي او د ده دعوت ومني، له ده لري شول، د ده وینا ته ئې په کرکه وکتل، له اورېدو ئې ډډه وکړه، په خپل جهل او کفر ئې ټینګار وکړ؛ او په غرور او تکبر سره ئې د ده د مخالفت لپاره ملا وتړله، نوح علیه السلام کله په پټه او کله ښکاره او په جګ غږ ورته ویل: له شرك، فساد او ظلم لاس واخلئ، الله تعالی ته مخه کړئ او د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړئ، چې بخښنه درته وکړي او د ګناه له هغو بدو پایلو مو

وژغوري چې ستاسو ژوند ګواښي؛ او ستاسو په ټولني کې ئې د فتنو اورونه بل کړي، فقر او لوږه ئې رامنځته کړي، آسمان ته امر وکړي چې د برکت ټرلې دروازې دي پرانيزه، د باران له ورولو ډډه مه کوه، زمکې ته لارښوونه وکړي چې د دانې او مېوې له راټوکولو ډډه مه کوه، له خپل زړه باغونه راوټوکوه او په خپلې سينې د نهرونو بهېدو ته اجازه ورکړه؛ او په دې سره الله تعالى ستاسو مالونه درته زيات کړي او په اولاد کې مو برکت واچوي، ولې مو د هغه عزت او وقار د لاس ته راوړو هيله او طمع ختمه شوې چې څښتن ئې الله تعالى دئ او وروستۍ پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي؟ آيا دا سمه ده چې له هغه مهربان رب مأيوس او ناهيلي وئ چې تل ئې د خپل عنايت او رعايت تر سيوري لاندې پاللي يئ، ستاسو پيدايښت له يوې وړې نطفې پيلوي، ورو ورو او مسلسل وده ورکوي، د کمال او رشد پړاو ته ئې رسوي؟! مګر نه ګورئ چې اُوه آسمانونه ئې ستاسو د کور چت ګرځولى، سپوږمۍ ئې ځلانده قنديل او لمر ئې رونې او تود څراغ؛ اوبه دا د ژوندون ستر لامل له آسمانه راوروي، ستاسو سړې او تياره زمکې ته رڼا او تودوخه له لمره ورکوي، مګر نه پوهېږئ چې الله تعالى تاسو د بوټې په څېر له زمکې راوټوکولئ؛ او د ده په امر بېرته زمکې ته درومئ او بيا به له دغې زمکې ژوندي راپاڅئ؟!! مګر دې ته پام نه کوئ چې الله تعالى زمکه داسې پيدا کړې چې ستاسو لپاره فرش وي، په ډاډ او اطمئنان سره ئې پر سينه ژوند وکړئ او پر اوږو ئې وخوځېږئ؟!!

٤- مفسد قوم د خپل زړه سواند مرشد او مهربان لارښود ويناوو ته اعتناء ونه کړه، د ده د ملګرتيا په ځاى ئې هغه چا ته سر ټيټ کړ چې د زر او زور خاوندان ول، هغه قومي مشران ئې ځان ته لارښود ونيول چې خپل زر او ځواك ئې په باطله لار او د ځان او نورو د تاوان په لار کې کارول، هغه ټګمار او مکار مشران چې د خپل اقتدار او واکمنۍ دوام او بقاء په دې کې لټوي چې خلك په جهل او شرك کې غرق وي، دوى د هر الهي دعوت مقابله په دې سره کوي چې په دروغجنو او جعلي معبودانو تأکيد وکړي او له شرك او بت لمانځني دفاع وکړي او هغه د پلار نيکه مقدس ميراث او سپېڅلى مذهب وګڼي؛ او دا د پيغمبرانو عليهم السلام او د هر ناجي لارښود او مصلح دعوتګر په ضد د مفسدينو تر ټولو خطرناك کيد او مکر دئ، مفسد او ټګمار مشران تل د خپل زر او زور؛ او د خپلې سلطې او اقتدار د دفاع لپاره د پيغمبرانو عليهم السلام او مصلحينو مقابلې ته ملا تړي خو له مذهب د دفاع تر نامه لاندې، چې قرآن دا تر ټولو ستر مکر او خطرناك کيد ګڼي.

٥- نوح عليه السلام له اوږدې مبارزې وروسته او پس له هغه چې متوجه شو په پر له پسې او ستړيا نه منونکو هڅو ئې ډېره لږه نتيجه مرتبه شوې او لږو کسانو پرې ايمان

راوړ، دې نتيجې ته ورسېدو چې په دې خلکو کې د هدايت استعداد ځپل شوی، د هدايت امکان ئې له منځه تللی، د دې بې لاري ټولنې په زړه کې د کفر، جهل، فساد، شرك او ظلم جړې دومره ژوري اوپه ګنده ډنډ کې ئې داسې غرق شوي چې رااېستل ئې محال دي، دا نسل نه د اصلاح وړ دئ او نه د ژوند، نه په خپله سمې لاري ته راګرځي او نه راتلونکو نسلونو ته د دې مجال ورکوي چې ځان د دې مفسدې او ناولې ټولنې له قيد او بند وژغوري او د دې ګنده فضاء له اغېزه خوندي پاته شي، الله تعالى ته د دعاء لاسونه اوچتوي او سره له دې چې پراخه حوصله او لوی زړه لري، د ثبات او استقامت خاوند دئ، د اوږدې زر کلنې مبارزې ټولې ستونزې ئې په سړه سينه ګاللې، په خپل ولس ئې زړه سوی درلود، خو له دې پرته ئې بله چاره نه ليده چې الله تعالى ته شکايت وکړي او ووايي: خدايه! دا قوم اصلاح کېدونکی نه دئ، د زمکې پر سر د ژوند وړ نه دئ، له کافر او فاجر پرته بل ترې نه زېږي، د دې وړ دئ چې ټغر ئې ټول شي، کورونه ئې رانسکور او تر خاورو لاندې شي.

٦- او وروستۍ دعاء ئې دا: خدايه! ما وبخښه، زما مور، پلار، د کورنۍ هر هغه غړی مې چې له ايمان سره زما کورنۍ کې داخل شوی او ټول باايمان نارينه او ښځې وبخښې او د ظالمانو په حق کې له تباهۍ پرته بل څه زيات نه کړې!

په دې عبرتناکې قصې کې قريشو ته ويل شوي چې ستاسو په ټولنې کې هم نژدې ده هغه د نوح عليه السلام او له ده سره د جاهل او مشرك قوم د مخالفت او د دې مخالفت د پايلو قصه تکرار شي، محمد عليه السلام د خپل دروند جد نوح عليه السلام په څېر په پر له پسې او ستړيا نه منونکې توګه، په جهر او خفيه، سري او علني توګه، شپه او ورځ تاسو د الله تعالى په لوري راوبللئ، په زړه سوي، استدلال، منطق او حکمت سره ئې توحيد او عدالت ته بلنه درکړه، د شرك، کفر او ظلم له بدو پايلو ئې خبرداری درکړ، ټول هغه څه ئې درته وويل چې نوح عليه السلام خپل قوم ته ويلي وو، خو تاسو د ده دعوت ونه مانو، ده په تاسو زړه سوی درلود او تاسو په خپلو زړونو کې ورته کرکه او دښمني، د ده حکيمانه لارښوونو او استدلال ته مو د اعتناء په ځای په خپل جهل او شرك ټينګار وکړ، د هغو ټګمارو او مکارو مشرانو په وړاندې مو سر ټيټ کړ چې زر او زور ئې د فساد او له حق سره د مقابلې په لار کې کارول، هغه مفسد مشران چې له پلرنې مذهب د دفاع خبره ستاسو د غولولو لپاره کوي، په بتانو تأکيد، له شرك دفاع؛ او په غلط مذهب باندې ټينګار ئې د دې لپاره نه دئ چې ګواکې دوی ته حق برېښي او باور پرې لري، بلکې دا ئې دام دئ، تاسو پرې غولوي، د خپل اقتدار د بقاء او د ناپوه خلکو د غولولو ښه وسيله ئې

ګڼي، خبردار چې د نوح علیه السلام د مشرك قوم برخلیك درته منتظر دئ، کار هغه ځای ته رسېدلی چې نژدې ده رسول الله صلی الله علیه و سلم له تاسو مأیوس شي او الله تعالی ته د نوح علیه السلام په څېر شکایت وکړي، چې په هغه صورت کې به د عذاب متروکه ستاسو په سر راپرېوځي، ټغر به مو ټول او د نوح علیه السلام د قوم په څېر به غرق شئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرۡ قَوۡمَكَ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٢ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ٣ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرۡكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُۚ لَوۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤

١- موږ خو نوح د ده قوم ته ورولېږو، چې خپل قوم ته دي خبرداری ورکړه، له دې مخکې چې په دردناك عذاب اخته شي. ٢- وئې ویل: اې زما قومه! بې شکه چې زه درته څرګند نذیر یم. ٣- چې د الله عبادت وکړئ، پروا ئې وکړئ او زما اطاعت وکړئ. ٤- چې مو ځینې ګناهونه دروبخښي او تر ټاکلې نېټې مو وځنډوي، بې شکه کله چې الهي نېټه راورسېږي نه شي ځنډول کېدی، کاش که تاسو پوهېدی!!

١: په دې آیت کې څو مهم ټکي د غور وړ دي:

الف: لکه څنګه چې محمد علیه السلام ستاسو په لوري د الله تعالی استازی دئ، تر ده وړاندي نوح علیه السلام د خپل قوم په لوري لېږل شوی وو، قریشو ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم خبرداری داسي وګڼئ لکه د نوح علیه السلام خبرداری خپل قوم ته، د مخالفت پایله ئې هم سره ورته.

ب: د (انذار) په لفظ تأکید او رسول الله صلی الله علیه و سلم د نذیر په نامه یادول ښیي چې له پیغمبرانو علیهم السلام سره د خپلو قومونو مخالفت د دوی د دغه صفت په سبب وي، که پیغمبران علیهم السلام یوازي بشارت ورکوونکي وی او د ټولني په فساد، د واکمنانو په خیانت، ظلم؛ او د عوامو په جهل او شرك ئې اعتراض او نیوکې نه کولی او ولس ئې د دې حالت له پایلو نه وېرولی، هیڅوك به ئې نه مزاحم کېدو او د دوی د مخالفت لپاره به ئې ملا نه تړله. هغه دعوتګران چې په دعوت او پیغام کې ئې انذار او خبرداری ورکول نشته، له واکمنانو او حاکم نظام سره له تصادم ځان ساتي، د ظالم او مفسدو

واکمنانو په کړنو د انتقاد ګوته نه ږدي، په ناوړه دود دستور اعتراض نه کوي او خلك دې ته نه رابلي چې خپله وضع بدله کړي، خپل افکار او اطوار اصلاح کړي، د ټولنې په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي مناسباتو کې تغییر راولي، نېکانو ته د جنت زېرى ورکولى شي خو بدانو ته نه د دنیا د عذاب خبرداری ورکولى شي او نه د دوزخ د دردناك عذاب، داسي دعوتګران له مخالفت سره نه مخامخ کېږي، خو هر څوك چې داسي وي، مخالف ونلري او له مخالفتونو سره لاس او ګرېوان نه وي، د پیغمبرانو علیهم السلام په لاره نه دئ روان؛ او هغه دعوتګر نه دئ چې د پیغمبر او د پیغمبر د پیغام وارث وي.

ج: د دې آیت له الفاظو په وضاحت سره معلومېږي چې له الیم عذاب منظور د دنیا هغه موعود عذاب دئ چې ظالم او باغي ولسونه پرې اخته کېږي، څلورم آیت دا مطلب لا زیات توضیح کوي او ښیي چې د الله تعالى د عبادت، تقوى او د ده د پیغمبر د اطاعت په نتیجه کې دا عذاب ځنډېږي.

۲-۳: په دې مبارکو آیتونو کې لاندې ټکي زمونږ توجه جلبوي:

الف: نوح علیه السلام خپل قوم ته وایي: زه درته څرګند ګواښونکى یم، په بشپړ صراحت تاسو د دې وضعي له پایلو وېروم، ستاسو دا تګلاره او فکري او اخلاقي وضعیت مو بدي پایلي لري. ګورئ چې د ده په دعوت کې نه سکوت شته، نه سترګي پټول، نه سازش، مجامله او مداهنت، بلکې څرګند او صریح خبرداری.

ب: د نوح علیه السلام دعوت په دریو اساسي ټکیو کې خلاصه شوى:

یوازې د الله تعالى عبادت او د بل هر څه له منځني او عبادت نه ډډه کول.

ځان ساتنه، له هر هغه څه چې الله تعالى ناراضه کوي او د الهي عذاب باعث کېږي.

د ده اطاعت هم د الله تعالى د عبادت په څرنګوالي کې او هم له الله تعالى نه د وېرې او تقوى په څرنګوالي کې، که غواړئ دعاء او عبادت مو یوازې د الله تعالى لپاره وي او وېره مو یوازې له الله تعالى، نو د ده په پیغمبر پسې اقتداء وکړئ، له ده ئې زده کړئ او دى خپل لارښود او مطاع ونیسئ، پیغمبران علیهم السلام هم تاسو ته د عبادت او دعاء حقیقت او څرنګوالى درښیي او هم له الله تعالى د طمعې او وېرې حقیقت او څرنګوالى.

٤- په تفسیرونو کې د دې آیت د لومړۍ فقرې په اړه دوه تعبیرونه مومو:

الف: ځینې وایي: دلته یا (من) زائد دئ او د تأکید لپاره راغلى او یا د (عن) په معنى دئ؛ او دا فقره داسي ترجمه کوي: ګناهونه مو دروبخښي او تر یوې ټاکلې مودې مو وځنډوي، دوى وایي چې ایمان د ټولو هغو ګناهونو د بخښل کېدو سبب دئ چې له ایمان مخکې شوي.

ب: او ځینې نور په دې باور دي چې د الفاظو دقیقه ترجمه دا ده: ستاسو ځینې

گناهونه دروبخښي او تر ټاکلې نېټې مو وځنډوي، د قرآن په ترجمې کې احتياط دا تقاضی کوي چې نه (من) زائد وګڼو او نه ئې په غير اصلي معنی واخلو، دلته خو (من) د (عن) په معنی اخيستل اصلاً صحيح نه ده ځکه چې (عن) د (يغفر) لپاره صله کېدی نه شي او داسي نه شو ويلی چې (يغفر عن ذنوبكم). دلته د ځينو ګناهونو له بخښلو مراد هغه ګناهونه دي چې د الهي عذاب د راتلو سبب دي او د بخښلو په صورت کې د الهي عذاب راتګ ځنډېږي. پر دې دليل سربېره بايد ووايو چې ځيني ګناهونه داسي دي چې د ايمان له راوړو سره سره نه بخښل کېږي، که څوك د کفر په حالت کې د کوم مسلمان زمکه او مال غصب کړي، له ايمان راوړو وروسته نه شو کولی دا ګناه بخښل شوې او د مال او زمکې استرداد منتفي وګڼو!!

دوهم تعبير دقيق دئ، له ټول آيت سره سمون خوري او ښيي چې د نوح عليه السلام د قوم ذنوب او ګناهونه هومره ستر ستر او د مؤاخذې وړ وو چې الهي عذاب ئې د دوی پر سر ودرولی وو، که ئې ايمان نه راوړو، د خپل زړه سواند لارښود دعوت ئې نه مانو او ګواښونو ته ئې اعتناء نه کوله نو له ځنډه پرته پر دوی راپرېوتو، يوازې د الله تعالی د عبادت، تقوی او د خپل پيغمبر د اطاعت په صورت کې ترې ژغورل کېدل او راتګ ئې ځنډېدو.

په الهي نېټې او اجل کې د عدم تأخير معنی دا ده چې هيڅوك او هيڅ څه نه شي کولی په دې مهلت او موعد کې تغيير راولي، د الله تعالی له لوري ټاکل شوي مواعيد ثابت او تغيير نه منونکي دي.

متأسفانه ځيني داسي ګمان کوي چې د آيت د لومړۍ او وروستۍ برخي تر منځ څه تباين شته، لومړۍ برخه وايي چې په عذاب کې ځنډ راتلی شي او دوهمه برخه ئې وايي چې الهي نېټه او اجل نه بدلېږي، د دې دواړو تر منځ د تلفيق لپاره ئې داسي توجيهات کړي چې خبره ئې د عام فهم کولو په ځای مزيد پېچلې کړې؛ او دا نظريه ئې وړاندې کړې چې اجل دوه ډوله دئ: معلق اجل او مطلق اجل، يو ئې بدلېدی شي او بل ئې نه!! دوی دې ته پام نه دئ کړی چې په دې عالم کې هيڅ څه، هيڅ حادثه او هيڅ کار داسي نه دئ چې الله تعالی په خاصو عواملو او اسبابو پوري منوط او معلق کړی نه وي، له هرې پېښې مخکې د هغې لاملونه او عوامل رامنځته کېږي، همدغه عوامل دي چې اړوند پېښه ورپسې راځي، هيڅ داسي دليل نشته چې ځيني مواعيد معلق وګڼو او ځيني ئې ثابت او مطلق. دا آيت ښيي چې د الله تعالی له لوري ټاکل شوی اجل او نېټه ثابت او تغيير نه منونکې ده، خو په اسباب اوعواملو پوري مربوطه ده، ګنهګارانو ته تر ثابت او تغيير نه

منونکي موعد او تعيين شوې نېټې مهلت ورکول کېږي، که ئې د دې مهلت تر پايه خپلې ګناه ته ادامه ورکړه، الهي عذاب په خپل ثابت موعد رارسي، خو که د عذاب له راتلو د مخه ئې له ګناه لاس واخيست او د مهلت له پاى ته رسېدو مخکې ئې توبه وکړه، عذاب ئې ځنډېږي.

دا آيت مورِ ته لارښوونه کوي چې په عذاب کې ځنډ په دې معنى مه نيسئ چې اجل تغيير مومي، اجل مطلق دئ او هيڅکله تغيير په کې نه راځي، په يوه آيت کې د دې دواړو خبرو څنګ په څنګ او يو په بل پسې يادول د همدې لپاره دي چې څوک دا غلطي ونه کړي او اجل مطلق او معلق ونه ګڼي او ګمان ونه کړي چې اجل تغيير مومي او نېټې بدلېږي. خو نه پوهېږو چې ولې او کوم آفت د دې باعث شوى چې ځيني خلك د قرآن له صريح او واضح آيتونو معکوسه انتباه اخلي؟ او ځيني بيا د خپلو کمزورو او بې بنسټه آراءو لپاره د قرآن آيتونه معکوس توجيه کوي، په قرآن د ايمان مقتضى دا ده؛ او د دې اعتقاد چې قرآن د عليم او حکيم الله تعالى کلام دئ، غوښتنه دا ده چې مورِ د قرآن د قضاوتونو په وړاندې تل لاسونه اوچت کړو، خپل نظريات لرې وغورځوو او خپل شخصي آراء د قرآن د آيتونو په پښو کې ذبح کړو، دا سمه نه ده چې قرآن اجل مطلق ګڼي او مورِ ئې معلق وګڼو او د اجل معلق په نامه يوه اصطلاح له خپله ځانه جوړه کړو!!

په معلق اجل اعتقاد په دې معنى دئ چې ګواکې د الله تعالى علم معلق دئ!! حال دا چې د الله تعالى علم مطلق دئ، نه کمېږي او نه زياتېږي، په عواملو پورې مربوط او منوط نه دئ، حاضر او غائب، نژدې او لرې، ماضي او مستقبل ورته يو شانته دي، پوهېږي چې د يوې پېښې اسباب او مقدمات برابرېږي که نه؛ هغه عذاب چې په خاصو عواملو پورې ئې منوط کړى، د راتلو شرائط ئې رامنځته کېږي که نه؛ د دغه جامع او شامل علم له مخې ئې اجل ټاکلى، کوم موعد او اجل چې عالم الغيب و الشهاده رب تعيين کړى هيڅکله تغيير نه کوي او ځنډ په کې نه راځي، د هغه چا مواعيد تغيير کوي چې علم ئې محدود وي او په پېښو او عواملو ئې بشپړه احاطه ونه لري.

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ﴿٥﴾ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا ﴿٦﴾
وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ
وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ﴿٧﴾ ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ﴿٨﴾ ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنتُ
لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ﴿٩﴾ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾

يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا ١١ وَيُمۡدِدۡكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ جَنَّٰتٖ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ أَنۡهَٰرٗا ١٢ مَّا لَكُمۡ لَا تَرۡجُونَ لِلَّهِ وَقَارٗا ١٣ وَقَدۡ خَلَقَكُمۡ أَطۡوَارًا ١٤

۵- وئې ویل: اې زما ربه! قوم مي شپه او ورځ دعوت کړ. ٦- خو بلنې مي له ټېښتي پرته بل څه په کې زیات نه کړل. ۷- او چې کله مي بلنه ورکړه چې وئې بخښې، نو خپلې ګوتې ئې په غوږونو کې کړې، په خپلو جامو کې پټ شول، لجاجت ئې وکړ او په عجیب تکبر سره ئې لویې غوښتنه وکړه. ۸- بیا مي په جګ غږ دعوت کړل. ۹- بیا مي (دعوت) ورته علني کړ، بیا مي په ښه پټوالي ورته سري کړ. ۱۰- نو ومي ویل: له خپل رب بخښنه وغواړئ، چې بې شکه هغه ډېر بخښونکی دئ. ۱۱- چې له آسمانه پرله پسې ورښت درباندې راولېږي. ۱۲- او په مالونو او زامنو مو مرسته وکړي او باغونه درته جوړ کړي او ویالې درته جوړې کړي. ۱۳- ولې د هغه عزت هیله نه کوئ چې (اساسا) د الله دئ. ١٤- حال دا چې تاسو ئې په ډول ډول پیدا کړئ.

۵-۹: دا آیتونه چې د نوح علیه السلام شکایات له خپل عاصي او لجوج قومه توضیح کوي؛ څو مهمو ټکیو ته اشاره کوي:

۱- هغه خپل رب ته شکایت کوي فرمایي: قوم مي شپه او ورځ دعوت کړ خو زما پرله پسې دعوت په دوی هیڅ اغېز ونه کړ، ترمخکې ئې له حق ټېښته لا زیاته شوه.

۲- ما دې ته راوښلل چې له فساد او ګناه لاس واخلي، ستا لوري ته راوګرځي، بخښنه وغواړي، خو دوی د دغو خبرو اورېدو ته تیار نه ول او اعتناء ئې ورته نه کوله.

۳- کله مي په جګ غږ او په غوندو کې او په علني او څرګنده توګه دوی ته بلنه ورکړه او کله مي په خصوصي، انفرادي او سري توګه دعوت کړل، خو هیڅ یوه ئې پرې اغېز ونه کړ، ټول توان او ځواک مي وکاراوو، ټولې لارې مي وآزمویلې، زما د ټولو هڅو نتیجه دا وه چې د دوی کرکه او ټېښته له ما او زما له دعوت لا هم زیاته شي.

۱۰-۱۲: دوی ته مي وویل: له خپل رب بخښنه وغواړئ چې هغه بخښونکی دئ، نه یوازې ګناهونه بخښي بلکې په نادم ګنهګار او د مغفرت طلبګار بنده باندې خپل عنایات پېرزو کوي، هغه آسمان ته چې په عاصي او باغي انسانانو ئې د پېرزوینو دروازې تړلې دي، امر کوي چې خپلې تړلې دروازې پرانیزه او خپل بارانونه له سره پیل کړه، اموال ئې نه یوازې ورته زیاتوي بلکې د دوی خدمت ته ئې چمتو کوي، نن دوی د خپلو مالونو په خدمت کې

دي، د زر او ثروت بنده، هغه ثروت چې د دوی د بغاوت او عصیان او د دوی په ټولني کې د فتنو او فساد سبب شوی، له دې حالته راووځي، د دوی خادم او ممد شي، زامن ئې مرستندوی شي، نن اړیکي شلېدلې، مور پلار له زویه بې زاره؛ او زوی د مور پلار د ځوروالو وسیله، ګناهونو ژوند ورته ګران کړی او ټولنه ئې د اور کنده ګرځولې، د دوی د نسل دوام او بقاء ئې له ګواښ سره مخامخ کړی، که له ګناه لاس واخلي او خپل رب ته رجوع وکړي؛ له استئصال او تباهۍ به وژغورل شي، الله تعالی به زمکي ته امر وکړي چې د رزق او روزي خزانې پرانیزي، له خپل زړه دانه او مېوه راوټوکوي او په خپلې سینې د نهرونو بهېدو ته لار ورکړي، چې ستاسو باغونه او فصلونه خړوبه کړي.

۱۳: د دې آیت په اړه په تفسیرونو کې څو تعبیرونه مومو:

۱- ځینو (لاترجون) د (لاتخافون) په معنی اخیستی او آیت ئې داسي ترجمه کړی: ولي د الله تعالی له عظمت نه وېرېږئ؟

۲- ځینو نورو (ترجون) د (تعتقدون) په معنی اخیستی چې د دوی له نظره د آیت معنی دا ده: ولې د الله تعالی په عظمت باور نه لرئ؟

۳- او ځینو نورو (لله) د (من الله) په معنی اخیستی او آیت ئې داسي ترجمه کړی: ولي له الله تعالی د عزت هیله نه کوئ. خو په دغو ژباړو کې څو جدي اشکالات شته:

- (رجاء) او (خوف) دوه متضاد مفاهیم دي، په هیڅ توجیه سره نه شو کولی (رجاء) د (خوف) په مفهوم واخلو، دا سمه نه ده چې (لاترجون) د (لاتخافون) په معنی ونیسو.
- (رجاء) د اعتقاد او باور په معنی نه شو اخیستی، د (تعتقدون) او (تؤمنون) صیغې چې کومې صلې ته ضرورت لري په دې آیت کې ئې نه مومو، د (لاترجون لله وقاراً) ترکیب او د (تؤمنون بوقارالله) یا (تعتقدون بوقار الله) ترکیب تر منځ ډېر توپیر شته!
- همدا راز د آیت ترکیب داسي نه دئ، (لاترجون من الله وقاراً)، دا صحیح نه ده چې د دغه ترکیب ترجمه د نوموړي آیت ترجمه وګڼو.

په لږ دقت سره مومو چې (وقاراً) د (لاترجون) مفعول دئ؛ او د آیت ترکیب په اصل کې داسي دئ: مالکم لاترجون وقاراً لله)، خو (وقاراً) د دې لپاره د آیت پای ته وړل شوی چې د آیتونو فواصل سره یو شانته شي، دا ځکه چې مخکینی آیت په (انهاراً) او وروستی آیت په (اطوراً) پای ته رسېدلي. که وغواړو د آیت الفاظ په ډېر دقت او احتیاط ترجمه کړو او له څه کمولو او زیاتولو ډډه وکړو او الفاظ په خپل اصلي معنی ونیسو نو د آیت ترجمه داسي کېږي: تاسو ته څه دي چې د هغه وقار هیله نه کوئ چې د الله تعالی دئ، یعني ولې په هیله منۍ سره د هغه عزت په لټه کې نه یئ چې یوازې ئې د الله تعالی په

خوا کې موندلی شئ، اصلي خاوند ئې الله تعالی دئ، په بل ځای کې ئې نه شئ موندلی. د دې آیت دا تفسیر په خپله په قرآن کې مومو، هلته چې فرمایي:

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ ... ﴿١٠﴾ فاطر

څوك چې عزت غواړي نو (پوه دي شي چې) عزت ټول له الله سره دئ.

تاسو عزت ته د رسېدو لپاره داسې لاري غوره کړې چې هیڅکله په عزت نه منتهي کېږي، څه چې تاسو له الله تعالی لري کوي له عزت او سرلوړۍ مو هم محروموي، د الله تعالی په لوري تلو سره په حقیقت کې د عزت او شرف په لوري درومئ. یعني له الله تعالی د بخښنې په غوښتو او د الله په لوري رجوع سره به نه یوازې د آسمان او زمکې د برکتونو دروازې ستاسو په مخ پرانیستی شي، الله تعالی به ستاسو اموال او اولاد درزیات کړي او ستاسو ممد به ئې وګرځوي، بلکې عزت او سر لوړۍ ته به ورسېږئ. نو تاسو ولې د هغه عزت او وقار هیله نه کوئ چې اصلي مالك ئې الله تعالی دئ او پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي؟!! ولې له غیر الهي لارو عزت ته د رسېدو هیله کوئ؟!

۱٤- آیا دا صحیح ده چې له هغه مهربان الله مأیوس او ناهیلي شئ چې تل ئې خپل عنایات درباندې پېرزو کړي؟ هغه رب چې ستاسو پیدایښت له یوې نطفې پیل کوي، په پر له پسې توګه وده درکوي، رشد او کمال ته مو رسوي، د ماشومتوب له طفلانه او بېهوده لوبو او مشغولتیاوو مو د ځوانۍ او زړښت وقار او دروندوالي ته رسوي او ستاسو مشغولتیاوي هدفمني او ارزښتمني کوي؟ څومره ناپوه او کمعقله دئ هغه کس چې د عزت او وقار په لټه کې له الله تعالی پرته د بل ور ټکوي!!

أَلَمۡ تَرَوۡاْ كَيۡفَ خَلَقَ ٱللَّهُ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗا ﴿١٥﴾ وَجَعَلَ ٱلۡقَمَرَ فِيهِنَّ نُورٗا وَجَعَلَ ٱلشَّمۡسَ سِرَاجٗا ﴿١٦﴾ وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ نَبَاتٗا ﴿١٧﴾ ثُمَّ يُعِيدُكُمۡ فِيهَا وَيُخۡرِجُكُمۡ إِخۡرَاجٗا ﴿١٨﴾ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ بِسَاطٗا ﴿١٩﴾ لِّتَسۡلُكُواْ مِنۡهَا سُبُلٗا فِجَاجٗا ﴿٢٠﴾

۱۵- آیا نه ګورئ چې الله څنګه اُوه آسمانونه پورې پورې پیدا کړل؟ ۱٦- او سپوږمۍ ئې په کې یوه رڼا او لمر ئې یو خراغ وګرځاوو؟ ۱۷- او الله له زمکې په ځانګړي راټوکولو سره راوټوکولئ. ۱۸- بیا مو ښېرته ورګرځوي او په بل راایستو سره مو راباسي. ۱۹- او الله زمکه درته خور فرش وګرځوله. ۲۰- چې په پراخو لارو ئې لاړ شئ.

۱۵-۱٦: مګر نه ګورئ چې ستاسو رب اُوه ګوڼې آسمانونه ستاسو د کور چت ګرځولی، سپوږمۍ ئې د دې کور رونړ قندیل؛ او لمر ئې ځلانده څراغ؟ د آسمان دا اُوه طبقې چې یو د بل د پاسه او د دوی تر منځ مطابقت او تنسیق دئ، نه یوازې اوبه؛ دا د ژوندون اساسي تومنه او ستر ضرورت، ترې راوړېږي او ستاسو د تنفس لپاره ضروري هوا ئې په خپلې غېږ کې درته ساتلې، بلکې ستاسو زمکې ته رڼا او تودوخه ورکوي. په دې تعبیر سره دا آیت د لسم آیت ادامه ده. خو د دې آیت یو بل تعبیر هم زموږ مخې ته راځي چې دا آیت له مخکینیو آیتونو سره تړې په دې شرح: کوم طبیعي مدارج چې تاسو د آسمانونو په بڼه کې ګورئ، هغه ذات چې دا مدارج ئې پیدا کړي باید د معنوي ارتقاء او د عزت او وقار لوړو پوړو ته رسېدا هم د ده خوا کې ولټوئ.

دا آیتونه د قرآن یو بل علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي؛ او ښیي چې قرآن په خپلو بحثونو او څېړنو کې څومره دقیق دئ او د انسان تر علمي لاسته راوړنو څومره مخکې!! په دې آیت کې د سپوږمۍ لپاره د نور او د لمر لپاره د څراغ لفظ راغلی او ښیي چې لمر د څراغ په څېر له ځانه نور او رڼا تولیدوي او سپوږمۍ د بل په نور رڼا کېږي؛ او د هنداري په څېر د نور وړانګې منعکس کوي؛ او دا هغه حقیقت دئ چې انسان اوس او له ډېرو څېړنو او تحقیقاتو وروسته پرې پوه شوی.

۱۷-۱۸: دا آیتونه څو ډېر ظریف او اساسي ټکي توضیح کوي:

۱- د انسان پیدایښت د زمکې پر سر او د زمکې له زړه تر سره شوی.

۲- الله تعالی د انسان نطفه له زمکې راپیدا کړې او دا پیدا کول ئې داسي وو لکه د یوه بوټي راپیدا کول.

۳- هغه رب چې انسان ئې له زمکې د نبات په څېر راپیدا کړی، بېرته به ئې همغې زمکې ته ورګرځوي چې ترې پیدا شوی او بیا به ئې د یوه نبات په څېر بېرته ترې راڅوندی کوي.

٤- دې آیت د زمکې پر سر د انسان د پیدایښت څرنګوالی په دومره صراحت او وضاحت سره بیان کړی چې هیڅ شك او شبهې ته مجال نه پرېږدي او د هر ډول تأویل او تعبیر مخه نیسي، څوك چې په قرآن ایمان لري او معتقد دئ چې د قرآن حرف حرف او هره کلمه د الله تعالی له لوري ده او د الفاظو په انتخاب او ترکیب کې ئې بشپړ او کامل دقت مراعات شوی، هغه باید د قرآن هره وینا او د حقائقو په اړه د قرآن هره توضیح او شرح، په بشپړه توګه او له هر راز زیاتولو او کمولو پرته ومني، خپله رأیه او د ځان په څېر د کوم بل انسان رأیه پر قرآن تحمیل نه کړي او د قرآن د آیتونو دقیق الفاظ د خپلې خاصې رأیې او نظریې لپاره په تکلف سره تأویل او تعبیر نه کړي، که د عظیم الشأن قرآن په

صریح او تأویل نه منونکو آیتونو کې لولو چې انسان مو د نبات په څېر له زمکې راوټوکاوو، همدا باید زمونږ عقیده وي، آمنا و سلمنا ووایو، د دې خلاف له هر څه ویلو باید ډډه وکړو او هغه رأیه لري وغورځوو چې له دې صریح بیان سره تصادم کوي، باید د انسان د پیدایښت د څرنګوالي په اړه زمونږ رأیه هماغه وي چې قرآن ویلي، د انسان د پیدایښت د څرنګوالي په اړه د آل عمران او النساء په سورتونو کې مفصل بحث شوی هیله ده هلته مراجعه وکړئ.

۵- له هغه الله تعالی بخښنه وغواړئ چې ستاسو لومړی پیدایښت د ده له لوري دئ، د مرګ او ژوند پربکړه دی کوي، معاد او رجوع مو د ده په لوري ده، مخکې له دې چې په نه زړه وروګرځول شئ په خپله رجوع وکړئ، عزت او سرلوړی ته د رسېدو طمع مو باید له ده وي.

۱۹-۲۰: په دې آیتونو کې د زمکې دوو مهمو خصوصیاتو ته اشاره شوې:

- الله تعالی ستاسو لپاره غوړولې، د فرش په څېر، سینه ئې آواره ستاسو د اوسېدو لپاره تیاره.
- داسې ئې جوړه کړې چې تګ راتګ او له یوې سیمې بلې ته ئې تلل درته آسان، پراخې لارې ئې په کې راپیدا کړې، نه شګمنه ده، نه نرمه خاوره او نه ټمبولی او د خټو د ډنډ په څېر چې تګ په کې ګران؛ او نه ئې لوړې او غرونه داسې چې له یوې سیمې بلې ته تېرېدل ترې محال، په غرونو کې ئې درې راایستلې او په دښتو کې ئې لارې.

ولې له هغه بخښونکي رب بخښنه نه غواړئ او عزت ته د رسېدو طمع ترې نه کوئ چې زمکه ئې درته فرش کړه چې په ډاډ او اطمئنان ئې په سینې ژوند کوئ او پر اوږو ئې ګرځئ.

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَٱتَّبَعُواْ مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُۥ وَوَلَدُهُۥٓ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُواْ مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾ وَقَالُواْ لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ أَضَلُّواْ كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا ضَلَٰلًا ﴿٢٤﴾ مِّمَّا خَطِيٓـَٰٔتِهِمْ أُغْرِقُواْ فَأُدْخِلُواْ نَارًا فَلَمْ يَجِدُواْ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾

۲۱- نوح وویل: زما ربه! دوی خو له ما سرغړاوی وکړ او د هغه چا متابعت ئې وکړ

چې مال او اولاد له تاوانه پرته بل څه ورزیات نه کړل. ۲۲- او مکر ئې وکړ، ستر مکر. ۲۳- او وئې ویل: خپل معبودان مه پرېږدئ، مه له کوم (ود) لاس اخلئ او مه له کوم (سواع) او مه له کوم (یغوث) او (یعوق) او (نسر). ٢٤- سره له دې چې یقیناً ډېر ئې بې لارې کړل او ظالمانو ته له ضلالت پرته بل څه مه زیاتوه. ۲۵- د خپلو ګناهونو له کبله غرق شول او په اور کې داخل کړی شول، نو له الله پرته ئې ځان ته هیڅ مرستندویان ونه موندل.

۲۱: دا آیت له خپل شرک ځپلې قوم د نوح علیه السلام یوه ستر شکایت ته ګوته نیسي، داسې شکایت چې ټول دعوتګران ئې د زمانې په هر پړاو کې له جاهل مخاطب او ذلت ته تسلیم شوو ولسونو لري، شکایت له دې چې مخاطبین ئې د دې په ځای چې د الله تعالی لوري ته د دوی حکیمانه دعوت ومني، عزت او آزادۍ ته د رسېدو لار غوره کړي او هغو بې لارې مشرانو ته د رد ځواب ورکړي چې دوي ئې په ذلت او اسارت کې ساتلي، د شر او فساد باعث دي او په ټولنې کې فتنې راولاړوي، برعکس پیغمبرانو علیهم السلام او زړه سواندو دعوتګرانو ته د رد ځواب ورکوي، د دوی له ملګرتیا ډډه کوي او د هغو بې لارې مشرانو د غلامۍ کړۍ په غاړه کې اچوي چې زر او زور لري، واکمن او شتمن دي، سره له دې چې ګوري د دغو مفسدو مشرانو زر او زور تل د دوی په تاوان او د ولس په ضد کارول شوي، په ټولنې کې د فساد او تباهکارۍ سبب شوي، ناپوه مخاطبینو ئې زر او زور معیار ګڼلی، د زر او زور بنده شوي، دا خبره ئې نه شوی درک کولی چې د الله تعالی بندګي ئې باید له بلې هرې بندګۍ وژغوري، له مصلح او ناجي دعوتګرانو سره د ملګرتیا په ځای د زر او زور د خاوندانو پښو ته لوېدلې، د الله تعالی لوري ته د بلونکو په څنګ کې له ودرېدو ئې له دې کبله ډډه کړې چې (شتمن) او (واکمن) نه ول؛ او دوی ئې د مفسدو شتمنو او ظالمو واکمنو مقابلې ته رابلل، د دغو دواړو جبهو تر منځ د مبارزې په دوران کې ئې ځکه د الهي دعوتګرانو د جبهې په ځای د شتمنو او واکمنانو جبهه غوره کړې چې یوه ئې ځواکمنه بربښي او بله ئې د ځواکمنو په ضد مقابله کوي!!

۲۲-٢٤: دا آیتونه څو ډېر مهم مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

- د دې عاصي او باغي قوم هغو مفسدو او بې لارې مشرانو چې د قدرت او شتمنیو خاوندان ول او پر ټولنې ئې حکومت کاوو، د نوح علیه السلام مقابلې ته ملا وټرله او د دې لپاره چې د ټولنې روانه وضع بدله نه شي، د دوی اقتدار له ګواښ سره مخامخ نه شي، خلك وغولوي او له نوح علیه السلام سره ئې ملګرتیا ته پرې نږدي، خطرناکو توطئو ته لاس کړ.

• د دوی تر ټولو ستر شیطاني تدبیر او مکر دا وو چې خپل سیاسي مخالفت ته ئې مذهبي رنګ ورکړ، د مذهب مقابله ئې د مذهب تر پردې لاندې پیل کړه، له زوړ باطل مذهب ئې داسې توره جوړه کړه چې د نوي حق مذهب مړۍ پرې غوڅه کړي، له خپل ظالمانه او ناروا اقتدار د دفاع په لار کې ئې له مذهب وسله او وسیله جوړه کړه، د توحید په ځای شرك، د خدای پالني په ځای د قبر، بت او شخصیتونو پالنه او لمانځنه، د حق دین په ځای د قومي دود دستور او خرافاتو لمنه کلکه نیول، دا هغه څه دي چې تل مکارو او ټګمارو سیاسي مشرانو ئې سپارښتنه کړې؛ او دا د پیغمبرانو علیهم السلام، مصلحینو او موحدو دعوتګرانو په ضد د مستکبرینو او مفسدو واکمنانو تر ټولو خطرناکه توطئه او د عوامو د غولولو تر ټولو خطرناك دام دئ. همدا د مذهب مقابله په مذهب سره.

د نوح علیه السلام د قوم ټګمارو سیاسي، مذهبي او قومي مشرانو ولس ته وویل: په خپل پلرني دین ټینګ پاته شئ، نوح علیه السلام او د یوه خدای په لوري د ده بلني او د ده نوي مذهب ته د رد ځواب ورکړئ، خپل زوړ دین مه پرېږدئ، د خپلو معبودانو له لمانځني لاس مه اخلئ، هر بت چې د (ود)، (سواع) او (نسر) په نامه لرئ او خپل (یغوث) او (یعوق) مه پرېږدئ، دا الله ته ستاسو د تقرب وسیله او ستاسو د دعاءګانو د منل کېدو سبب دي، دا الله تعالی ته د مقربو شخصیتونو او اولیاء الله وو مجسمې او له پلار نیکه راپاته مقدس میراث دئ!! دا بتان چې د نوح علیه السلام د قوم د بېلابېلو قبیلو د معروفو شخصیتونو مجسمې وې، په سر کې د دوی د درنښت او رایادولو لپاره جوړې شوې، د وخت په تېرېدو سره بتان او معبودان ترې جوړ شول، د خپلو حاجتونو د پوره کېدو او د خپلو مشکلاتو د حل کېدو لپاره د هغوی پښو کې پرېوتل او د هغوی عبادت ئې پیل کړ، ویل به ئې چې لوی الله د دغو بتانو په مخ او د دوی له لارې زمونږ دعاءګاني قبلوي، هر یوه ته ئې د زمکې د یوې برخې واك او د چارو د یوې برخې تر سره کول سپارل شوي. د بتانو عبادت په اصل کې د شخصیتونو د لمانځني او ستایني پر مختللی حالت دئ، د شخصیتونو افراطي لمانځنه د بتانو د جوړولو او لمانځلو سبب شي او همدا دواړه د ټګمارو باغي واکمنانو په لاس کې د عوامو د غولولو او پردوی د حکومت کولو وسله او دام شي.

• نوح علیه السلام فرمایي: دغه ټګمار مشران وتوانېدل چې ډېر خلك په خپل خطرناك دام کې واچوي، په پلرني دین، مذهب، دود او دستور او په خپلو بتانو او زړو قومي معبودانو باندې د ټینګار په نامه ئې وغولوي، د ځان تابع ئې وساتي او د خپل ناولي ظالمانه اقتدار عمر اوږد کړي، خدایه! د دوی د اقتدار عمر نه؛ بلکې دا ورته زیات کړه چې هیڅ غشی ئې په نښه ونه لګېږي، ټولې هڅې ئې هدر شي او هیڅ هدف ته ونه رسېږي.

۲۵- ټول د خپلو ګناهونو له کبله غرق شول، ټول مشر، کشر، حاکم او محکوم، هم غرق شول او هم د دوزخ د اور وړ، هیڅا ئې مرسته ونه کړی شوه، نه د دوی ټګمار مشران خپل مکر وژغورل او نه ئې جاهل عوام د بتانو عبادت، د دواړو برخلیك یو وو، په ستر طوفان کې غرقېدا او په دوزخ کې لوېدا، نه مشر د کشر او نه ووړ د لوی مرسته وکړی شوه.

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَّبِّ ٱغْفِرْ لِى وَلِوَٰلِدَىَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِىَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۖ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾

۲۶- او نوح وویل: اې زما ربه! پر زمکي هیڅ کافر اوسېدونکی مه پرېږده! ۲۷- که ئې پرېږدې ستا بندګان بې لاري کوي او له کافر او فاجر پرته بل څه نه زېږوي. ۲۸- اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه؛ او زما مور پلار ته؛ او هر هغه چا ته چې د مؤمن په توګه زما کور ته راننوځي او باایمانو نارینه وو او ښځو ته؛ او ظالمانو ته له تباهۍ پرته بل څه مه زیاتوه!

۲۶- ۲۸: نوح علیه السلام له اوږدې مبارزې او مسلسل دعوت وروسته؛ او پس له هغه چې وئې لیدل له لږ شمېر کسانو پرته چا پرې ایمان رانه وړ، د ده بلنه ئې ونه منله، د الله په لوري په دې ملکوتي سفر کې ورسره ملګري نه شول او له کفر او شرك ئې لاس وانه خیست؛ او د نه سوه پنځوس کلن دعوت نتیجه ئې یوازي دومره وه چې د ګوتو په شمېر کسانو پرې ایمان راوړ او دې نتیجې ته ورسېدو چې نور نو اتمام حجت شوی، د دې سرکښ او عاصي قوم د اصلاح امکان له منځه تللی، نه به ئې په مزید دعوت څه نتیجه مرتبه شي او نه دوی ته مهلت ورکول څه ګټه لري، دا خلك دومره په ګناهونو کې غرق او د فساد په ګند لړلي، انساني مشاعر او عواطف ئې داسي ځپل شوي چې اصلاح او په سمه لار برابرول ئې امکان نه لري، له دې پرته بله چاره نشته چې د دې ګنده او زهرجن بوټي جړې وایستی شي، د دې نسل فطرت ګنده شوی، له کفر او فجور پرته د بل څه انتظار ترې نه شي کېدی، که د پېړیو پېړیو لپاره نور هم د زمکي پر سر د ژوند مجال ورکړی شي، د دې په ځای چې اصلاح شي خپل ګنده افکار او اخلاق به نورو نسلونو ته انتقالوي، باید چې ټغر ئې ټول او جړې ئې قطع شي، باید د زمکي سر له دې خبیث او ګنده بوټي پاك کړی شي او د نوي نسل لپاره داسي ماحول جوړ کړی شي چې د دغه مفسد قوم له اغېزه خوندي او فطرت ئې سالم او روغ وي، د دې لپاره ئې خپل رب ته داسي دعاء وکړه چې:

- اې زما ربه! د زمکې په سر هیڅ کافر اوسېدونکی مه پرېږده!
- دوی ته مهلت ورکول ګټه نه لري، هر څومره فرصت او مهلت چې ورکړی شي اصلاح به نه شي او صالح نسل به ترې پاته نه شي، تل به راتلونکو نسلونو ته کفر او فجور په میراث پرېږدي.
- زما له قصور راتېر شه، اشتباهات مي راوبخښه، که نه یم توانېدلی چې خپل مأموریت په سمه توګه تر سره کړم، که مي په هلو ځلو کې کمی او قصور وي ما ته ئې راوبخښه، مور پلار، باایمانه کورنۍ مي، باایمانه نارینه او ښځې وبخښې!
- مه پرېږده چې د ظالمانو هیلي تر سره شي، شرارتونو ته دوام ورکړي، عمر ئې اوږد شي او په ټولنې کې لا زیات فساد خور کړي، له تباهۍ پرته ئې بل څه مه ورزیاتوه.

دا عبرتناکه قصه د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخاطبینو ته خبرداری ورکوي چې ستاسو برخلیك د نوح علیه السلام د قوم برخلیك ته ورته دئ، تاسو له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره همغه څه کوئ چې د نوح علیه السلام باغي او عاصي قوم له خپل زړه سواند لارښود سره کول، تاسو هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ملګرتیا په ځای د مفسدو او ظالمو مشرانو غلامي غوره وګڼله، تاسو هم د ټګمارو مشرانو په لومو کې ونښتئ، ستاسو سیاسي او مذهبي مشرانو هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم په خلاف خپلې ناروا او ظالمانه مقابلې ته مذهبي رنګ ورکړ، کار هغه ځای ته رسېدلی چې نژدې ده رسول الله صلی الله علیه و سلم له تاسو مأیوس شي، الله تعالی ته شکایت وکړي او تاسو اصلاح نه منونکې ډله وګڼي، د نوح علیه السلام د قوم په څېر غرق شئ او د الهي عذاب متروکه ستاسو په سر راپرېوځي.

الجن

د سورې معرفي:

د دې مبارکې سورې نوم الجن (پېرۍ) دئ، ۲۸ آیتونه لري، د ټولو آیتونو فواصل ئې (عجبا) او (احدا) ته ورته دي او ډېر ډېر خوندور او ښکلی وزن لري، له مکي سورتونو ده، د بحث اصلي موضوع ئې دا ده چې له غیب نه رسول الله صلی الله علیه و سلم خبر دئ، نه بل انسان او نه پېریان، د کاهنانو او ټګمارو غیب ویونکو دا خبره او ادعاء بې بنسټه ده چې پېریان ئې له غیب خبروي!! د سورې په سر کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې خلکو ته ووایه: ما ته وحي شوې چې یوې ډلې پېریانو دا قرآن واورېدو، د

هغه عظمت ته ګوته په غاښ او حیران شول، وئې ویل: عجیب قرآن مو واوریدو، د رشد او کمال په لوري بلنه ورکوي، د دې لارښود کتاب د آیتونو په رڼا کې مو خپل رب وپېژاندو، الله تعالی تر دې ډېر لوړ دئ چې شریك ولري، هیڅکله به څوك له الله تعالی سره شریك نه کړو، دی تر دې ډېر لوړ دئ چې مېرمن ولري یا زوی، دا خوشې او بېهوده خبري دي چې زموږ بې عقلو او ناپوهانو کولې، موږ مخکې داسې ګمان کاوو چې ښایي هیڅ انسان یا جن به هیڅکله د الله تعالی په اړه دروغ نه وایي؛ او له ځانه به دروغجني خبري الله تعالی ته نه منسوبوي، خو اوس او د قرآن له اورېدو وروسته پوه شوو چې موږ اشتباه کړې وه، د الله تعالی په اړه ډېري دروغجني خبري شوې، هم انسانانو کړې او هم پېریانو؛ اوس پوه شوو چې مخکې ځینو انسانانو پېریانو ته پناه وړې او په دې سره یو د بل د طغیان او بغاوت باعث شوي؛ اوس پوه شوو چې په انسانانو کې هم ځینې داسې ول چې د پېریانو په څېر ئې دا ګمان کاوو چې الله تعالی به هیڅوك ببرته راژوندی نه کړي؛ او د بیا ژوندون خبره ئې نه منله؛ اوس پوه شوو چې زموږ له ډلې ځینو پېریانو د آسمان په لوري د ختو او په اسرارو ئې د پوهېدو هڅه کړې خو هغه ئې له شهاب ثاقب او مضبوطو ساتونکو او محافظانو ډك موندلې؛ اوس په دې پوهېږو چې که څوك د پورته تلو هڅه وکړي نو شهاب ثاقب به په کمین کې وموميي، نو ځکه موږ نه پوهېږو چې د زمکې د اوسېدونکو لپاره د شر اراده شوې او که الله تعالی ورته د هدایت او لارښوونې اراده کړې؛ او دا چې زموږ ځینې صالح او ځینې ناصالح ول، په حقیقت کې موږ په بېلو بېلو لارو روان وو، مخکې د دې توپیر له درك عاجز وو، ټول مو ورته او یوه ډله ګڼل، د شه او بد تفکیك مو نه شو کولې؛ اوس پوه شوو چې نه په زمکې کې د الله تعالی د نیونې او مؤاخذې مخنیوی کولی شو او نه په تېښتې سره الله تعالی له خپلې نیونې ناتوانه کولی شو، موږ د دې لارښود کتاب په اورېدو سره ایمان پرې راوړ؛ او څوك چې پر خپل رب ایمان راوړي نه دي له کوم تاوان او زیان وېره کوي او نه د ظلم او حق تلفي؛ او دا چې له موږ به ځینې الله تعالی ته منقاد او تسلیم وي او ځینې سرکښ، چا چې الله تعالی ته سر ټیټ کړ او تسلیم شو د کمال او رشد لار ئې غوره کړې، خو سرکښان به د دوزخ د اور خس او خاشاك شي، څوك چې په سمه لار نېغ لاړ شي الله تعالی به ئې په پرېمانه اوبو خړوبه کړي، چې په دې نعمت کې ئې وآزمویي؛ او څوك چې د الله تعالی له ذکر ډډه وکړي نو په زیاتېدونکي عذاب به ئې اخته کړي. او دا چې عبادت به مو یوازي د الله تعالی لپاره وي او هیڅوك به په دعاء او عبادت کې له الله تعالی سره نه شریکوو؛ او دا چې د زمانې په اوږدو کې کله هم د الله تعالی کوم مخلص او صالح بنده د الله تعالی عبادت ته ملا ټرلې د حق دښمنان پرې رابرګ

شوي، هغه ئې ګواښلی او محاصره کړی!!

دا د قرآن د څو آیتونو له اوږدو د پېریانو د هغې ډلې انتباهات ول چې خپل قوم ته وروګرځېدل او له حقیقت ئې خبر کړل. په لږ دقت سره مومو چې په دغو موجز او مختصرو کلماتو کې د قرآن ټول اساسي مطالب بیان شوي، خپل قوم ته د دغې ډلې له وینا معلومېږي چې دوی یا د قرآن ډېره برخه اوږدلې یا داسې کومه سوره چې دا ټول اساسي مطالب په کې راغلي؛ او بیا دوی نورو ته په دغو الفاظو بیان کړي.

کوم مطالب چې د سورې په لومړۍ برخي کې له لومړي آیت تر ۱۹ پورې او د هغې ډلې د وینا په بڼه کې راغلي، همدا مطالب په دوهمي برخي کې له۲۰ آیت د سورې تر پایه او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د لارښوونو په ضمن کې راغلي او په دې سره قریشو ته ویل شوي چې ستاسو چلن له قرآن او د قرآن له حامل سره د ډېرې حیرانتیا وړ دئ، مګر عجیبه نه ده چې په دې الهي کتاب پېریان هم ایمان راوړي او تاسو ترې انکار کوئ؟! د پېریانو یوه ډله، تر انسان ډېره ټیټه ډله، هغه چې د ابلیس په څېر تر ټولو شریر مخلوق په دوی کې راپیدا شوی، د قرآن د څو آیتونو په اوږدو سره ایمان راوړي، هغه د هدایت او کمال لوړو مدارجو ته د رسېدو عامل او لارښود ګڼي، د هغه په رڼا کې د توحید او خدای پالنې په حقیقت پوهېږي، له شرك او کفر خپله بې زاري او برائت اعلانوي، صالح اوطالح سره ببلوي، مسلم او ظالم پېژني، د هغو دروغجنو ویناوو په حقیقت پوهېږي چې انسان یا پېري د الله تعالی او آخرت په اړه کړې، دې ته متوجه کېږي چې یوازي الله تعالی د عبادت وړ دئ، هر عبادت باید یوازي د ده لپاره وي، نه به بل ته د بندګۍ سر ټېټوي او نه به د الله تر څنګ بل د عبادت او استعانت وړ ګڼي، ډېره عجیبه او د حیرانتیا وړ ده چې تاسو په داسې حال کې ایمان نه راوړئ چې دا رسول الله صلی الله علیه و سلم ستاسو له منځه غوره شوی او دغه قرآن چې ستاسو په ژبه نازل شوی ستاسو مخې ته ږدي؛ او دا دئ کلونه کلونه کېږي چې تاسو دې قرآن ته رابلي، خو تاسو نه یوازي د دغو پېریانو په څېر هم نه شوئ بلکې مخالفت ته ئې ملا تړئ!!

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کېږي چې د خپل دعوت مخاطبینو ته ووایه:

۱- زه د خپل رب عبادت کوم او په عبادت کې ئې هیڅوك شریك نه نیسم.

۲- زه نه درته د ضرر او زیان خښتن یم او نه د رشد او هدایت، د دې پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، زه یوازي دا دنده په غاړه لرم چې د الله له لوري پیغام او هغه رسالتونه درورسوم چې ما ته راسپارل شوي.

٣- نه يوازي د ځټي او تاوان واکمن نه يم، بلکي له الله تعالى پرته نه بل د پناه ځای لرم او نه څوك توانېدی شي چي د ده له عذابه پناه راکړي.
٤- څوك چي له الله تعالى او د ده له پيغمبر سرغړاوی وکړي ځای ئې دوزخ دئ چي په هغه کي به تلپاته وي.
٥- کله چي دا موعود عذاب وګوري نو پوه به شي چي د چا مرستندوی کمزوری او شمېر ئې لږ وو.
٦- زه نه پوهېږم چي دا موعوده ورځ به ژر راشي او که به زما رب د هغې تر راسېدو کوم وخت او موده وټاکي.
٧- زما رب عالم الغيب دئ او په خپلو غيبي اسرارو هيڅوك نه خبروي.
٨- مګر هغه پيغام وړونکي (فرشتې) چي د خپل پيغام د انتقال لپاره ئې غوره کوي؛ او تر مخي او شا ئې څارن او مراقب ټاکي، چي وګوري د خپل رب پيغامونه ئې رسولي؟ په داسي حال کي چي د دوی په هر څه ئې احاطه کړې او هر څه ئې دقيق او په شمار شمېرلي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسۡتَمَعَ نَفَرٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡءَانًا عَجَبٗا ۝١ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا ۝٢ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةٗ وَلَا وَلَدٗا ۝٣ وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطٗا ۝٤ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ۝٥ وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَزَادُوهُمۡ رَهَقٗا ۝٦ وَأَنَّهُمۡ ظَنُّواْ كَمَا ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ أَحَدٗا ۝٧

١- ووايه: راته وحي شوې چي د پېريانو يوه ډله ورته غوږ شول او وئې ويل: بې شکه چي مور عجيب قرآن واورېدو. ٢- د رشد او کمال په لوري لارښوونه کوي، ايمان مو پرې راوړ؛ او هيڅکله به څوك له خپل رب سره شريك نه کړو. ٣- او دا چي زمور د رب شأن ډېر لوړ دئ، نه ئې کومه مېرمن نيولې او نه کوم زوی. ٤- او دا چي زمور ناپوهانو به د الله په اړه پوچي چټي خبري کولې. ٥- او دا چي مور ګمان کاوو چي انس او جن به هيڅکله د الله په اړه دروغ ونه وايي. ٦- او دا چي د انسانانو ځينو

کسانو به د پېريانو ځينو وګړو ته پناه وړه او د دوی سرکښي به ئې ورزياتوله. ۷- او دا چې دوی هم داسې ګمان کاوو لکه تاسو چې ګمان کاوو چې الله به هيڅکله څوک بيا نه راپاڅوي.

۱-۲: په دې مبارکو آيتونو کې څو ظريف ټکي زمونږ توجه جلبوي:

- د وحي له لارې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې د پېريانو يوې ډلې د قرآن تلاوت ته غوږ ايښی او دومره ئې تر اغېز لاندې راغلې چې نورو ته ئې ويلي: عجيب قرآن مو واورېدو، د کمال لوري ته لارښود، ايمان مو پرې راوړ او دا پرېکړه مو وکړه چې له دې وروسته به هيڅکله د شرک مرتکب نه شو؛ او د الله تعالى په څنګ کې به د بل چا او بل څه عبادت ونه کړو، رسول الله صلى الله عليه و سلم دا ډله نه ده ليدلې او د دې سورې تر نازلېدو له دې نه وو خبر چې دوی قرآن اورېدلی او غبرګون ئې دا وو او خپل قوم ته ئې دا وينا کړې. له ټول جريان د دې سورې په رڼا کې پوه شو. دا آيتونه هم په دغې خبرې شهادت ورکوي او د احقاف د سورې دا آيت هم چې فرمايي:

وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْ ۖ فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْاْ إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ الاحقاف

او هغه وخت چې د پېريانو يوه ډله مو ستا لوري ته راوګرځوله چې قرآن ته غوږ شي چې کله ورته حاضر شول وئې ويل: خاموش شئ، نو کله چې پای ته ورسېدو، خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، خبرداری ورکوونکي.

دا دواړه آيتونه په ډېر صراحت سره وايي چې پيغمبر عليه السلام په تلاوت لګيا وو چې دا ډله راغلې، قرآن ئې اورېدلی، پرته له دې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې پوه شي.

خو په دې اړه څو روايتونه زمونږ مخې ته راځي: يو ئې عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته منسوب دئ او دوه ئې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته، د دغو دواړو جليل القدره صحابه وو د رواياتو تر منځ تعارض دئ، يو ئې د نه ليدو او بل ئې د ليدو خبره کوي؛ او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب روايتونه هم په خپلو کې تعارض لري، په يوه کې داسې راغلي چې مونږ يوه شپه رسول الله صلى الله عليه و سلم ونه موند، ډېر پرېشانه شوو، دا وېره راسره پيدا شوه چې څه نه وي پرې شوي، سهار هغه رامعلوم شو او پوښتنه مو ترې وکړه چې چېرې تللی وې، هغه وفرمايل چې د پېريانو يوې ډلې ته مي قرآن اوراوو، په بل کې راغلي چې زه ئې په يوه ځای کې ودروم او راته وئې ويل چې له

دې ځایه مه خوځېږه او هغه لارې او د پېریانو یوې ډلې ته ئې قرآن واوراوو. که څه هم ځینو د دې تعارض په ډه څه توجیهات کړې، خو په ډېر تکلف سره؛ او دا هڅه ئې هم کړی چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنه دا قول ضعیف وښیي چې وایي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَا قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْجِنِّ وَمَا رَآهُمْ رواه مسلم و الترمذی

له عبدالله بن عباس رضی الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم نه پېریانو ته د قرآن قرائت کړی او نه ئې دوی لیدلي.

ځینو دا دوه ډلي ډلي پېښې ګڼلې، په یوې کې د پېریانو د لیدو او په بلې کې د نه لیدو، خو په قرآن کې نه یوازې په دې دواړو آیتونو کې بلکې په بل ځای کې هم ویل شوي چې تاسو پېریان نه شئ لیدی، لکه چې فرمایي:

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۗ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٧ الاعراف

اې د آدم اولاده! پام چې شیطان تاسو ونه غولوي، همغسي لکه چې ستاسو مور پلار ئې له جنته وایستل، جامه ئې ترې ایسته چې بدن ئې وروښيي (بدن ئې ورته ښکاره او لوڅ کړي)، دی او قبیله ئې تاسو په داسي توګه وینې چې تاسو ئې نشئ لیدلی، مونږ شیطانان د هغو دوستان ګرځولي چې ایمان نه راوړي.

په قرآن کې صریحاً یا تلویحاً داسي څه نه ګورو چې وښیي رسول الله صلی الله علیه و سلم پېریان په خپلو سترګو لیدلي، یا ئې بل څوک لیدی شي، اما دا چې سلیمان علیه السلام ته پېریان مسخر وو؛ او په یو شمېر روایاتو کې راغلي چې په متغیره بڼه او شکل کې لیدل شوي، د دې تفصیل د سبإ سورې د ۱۲-۱۴آیتونو په تفسیر کې وګورئ.

څوک چې وایي پېریان کولی شي خپله بڼه او شکل بدل کړي ادعاء ئې بې بنسټه او بې دلیله ده، هیڅ مخلوق نشي کولی خپل شکل او خلقت بدل کړي، الله تعالی دا توان هیڅ مخلوق ته نه دئ ورکړی. د قرآن دا آیت په قاطع او پرېکنده توګه فرمایي چې د مخلوق فطرت او خلقت نشي بدلېدی:

فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗاۚ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٠ الروم

نو خپل مخ دي په بشپړه توګه د دين لوري ته سم برابر کړه، همغه الهي فطرت ته چې خلك ئې پرې پيدا کړي، د الله په خلقت کې تبديلي نشي راتلی، همدا قيم دين دئ خو ډېرى خلك نه پوهيږي.

که انسان نشي کولی له ځانه پېرى او فرشته جوړ کړي، په داسي حال کې چې هغه اشرف المخلوقات دئ نو پېريان به څنګه دا کار وکړى شي، پېريان له اوره پيدا شوي، په داسي مخلوق نشي بدلېدی چې هغه له خاوري پيدا شوى. هغه فرشتې چې د انسان په بڼه کې ځينو پيغمبرانو عليهم السلام ته لېږل شوې، يا مريمې عليها السلام ته د انسان په بڼه کې متمثل شوې، دا د دوى ذاتي کار نه وو، هره فرشته دا کار نشي کولی، همدغه خاصې فرشتې د الله تعالى په حکم او د دې لپاره د انسان په بڼه کې لېږل شوې چې انسان يوازي د انسان په وينا او خبرې پوهېدی شي.

څوك چې وايي آدم عليه السلام ته شيطان په داسي بڼې کې ورغلی چې ليدل کېدو؛ ادعاء ئې بې بنسټه او غلطه ده، آدم عليه السلام ته شيطان په داسي کيفيت کې ورغلی چې نن ئې اولاد ته ورځي، که هغه شيطان په خپلو سترګو ليدلی وی نو نن به موږ هم ليدلو، هغه زموږ جد دئ، هر څه ئې داسي وو لکه زموږ، شيطان چې څنګه د ده اولاد غولوي، ګناه ته ئې هڅوي، ګناه ورته ښايسته کوي، له ده سره ئې دې ته ورته معامله کړې، نه ئې د شيطان څېره ليدلې او نه ئې د هغه غږ اورېدلی، هغه ئې وسوسه کړى: فوسوس لهم الشيطان، همغسي ئې وسوسه کړى چې نن د ده اولاد وسوسه کوي!!

دا هم ډېره عجيبه ده چې څوك د قرآن صريح وينا او د هغه مؤيد صحيح روايات نه مني او په اوهامو او افسانو پسې درومي او وايي: ډېرو خلکو پېريان په خپلو سترګو ليدلي، که ورته ووايې له دغو کسانو يو زموږ مخي ته ودروه چې پوښتنه ترې وکړو: پېرى دي کله او چېرې وليدو؟ په کومې بڼې کې؟ څوك درسره وو؟ داسي څوك نشي راوستی، که احياناً څوك په خپله په دې اړه څه وايي نو وبه ګورئ چې هر يوه ئې يوازي يوازي او د بل له ملګرتيا پرته، په شپه کې، په يوه تياره ځای کې، هلته چې سترګې سم ليدل نشي کولی، د ونو تر سيوري لاندي، په يوې کنډوالې کې او د ډېران خوا ته، يا د توري پښې په بڼه کې يا د تور سپي په شکل کې پېريان ليدلي!!! نه کوم شاهد لري او نه کوم عاقل او بالغ انسان ته قناعت ورکولی شي!! هيڅ يوه ئې دې پوښتني ته ځواب نه دئ ويلی چې: څنګه پوه شوې چې دا تور سپی، توره پښې او جګ سيوری پېرى وو که ستا واهمه؟ ځيني بيا وايي: دا د عقل خبرې نه دي، دلته به د عقل نيلې نه ځغلوو، د خلکو رواياتو ته به اعتبار ورکوو!! هغوى ته وايو: که موږ د پېريانو په اړه د خپل عقل له مخي قضاوت کولی نو

هغه قصې به مو هرو مرو منلې وې چې په هر کور کې د ووړ او زور په خوله تکرارېږي، انا خپل ملسیان پرې وېروي او د شپې له لوري، په تیاره کې له کوره بهر وتلو ته ئې نه پرېږدي او ورته وایي چې پام کوه په ایرو پل کښېنږدې چې پېریان به دي ونیسي!! هر ناآشنا درب د پېریانو د پښو ترپا ګڼي!! خو مور د قرآن او سنت تابع یو او همغه خبره کوو چې د صریح نص له مخې ثابته وي. په دې اړه تفصیلي بحث د متضاد روایات او مذهبي اختلافات کتاب کې ولولئ.

- قریشو ته د دې قصې اورول د دې لپاره وو چې له یوې خوا د جن او پېریانو په اړه د دوی بې بنسټه او له خرافاتو ډکه عقیده تصحیح کړي او له بلې خوا ورته ووایي چې راشئ له قرآن سره ستاسو چلن د هغه چا له چلن سره مقایسه کړئ چې پېریان دي، نه پیغمبر علیه السلام د دوی له ډلې او نه قرآن د دوی په ژبه؛ او تر ټولو شریر مخلوق ابلیس په دوی کې راولاړ شوی. خو د قرآن د یوې برخې په اورېدو سره ئې له ځنډه پرته پرې ایمان راوړ، د هغه عظمت ته ګوته په غاښ شول او خپل لارښود ئې ومانو، خو تاسو اې قریشو! په داسې حال کې له ایمان راوړو ډډه کوئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ستاسو له منځه غوره شوی، قرآن ستاسو په ژبه نازل شوی، په فصیح عربي او تاسو ته قابل فهم!!
- د شرک آفت او بیماري په پېریانو کې هم خوره وه، دوی هم د الله تعالی د ښه پېژندو او د توحید په لوري د هدایت لپاره د وحي لارښوونو ته ضرورت درلود، د قرآن په اورېدو سره ئې خپل رب پېژندلی او د توحید او شرک په حقیقت پوه شوي. په دوی کې هم د آخرت، حساب او کتاب، مکافات او مجازات او نورو بنیادي مسائلو په اړه همغه انحرافات شته چې په انسانانو کې ئې ګورو.
- له دې آیتونو معلومېږي چې پېریان هم د قرآن په ژبه پوهېدل او هم د تورات او انجیل په ژبه.

۳-۵: په دې مبارکو آیتونو کې څو اساسي مطالب د پېریانو د دغې ډلې د هغو اظهاراتو په اړه راغلي چې د قرآن له اورېدو وروسته ئې کړي:

۱- اوس او د قرآن د آیتونو له اورېدو وروسته په دې پوه شوو چې الله تعالی نه مېرمن لري او نه زوی، نه د نصرانیانو اعتقاد سم دئ چې په درې خدایانو باور لري، پلار، مور او زوی، خدای، مریم او عیسی علیه السلام؛ او نه د یهودو عقیده چې ځان د خدای خاصه کورنۍ، خپلوان او زامن ګڼي؛ او نه د نورو پېریانو او انسانانو دا غلطي انګېرنې او باورونه چې ادعاء کوي له الله تعالی سره ئې خاصه او ځانګړې نسبي رابطه ده، ګواکې دوی خدای ته منسوب دي او خدای مختص د دوی دئ، الله تعالی تر نورو غوره پیدا کړي، ځانګړې

اعتناء او التفات ورته لري، دوی د الله تعالی د کورنۍ غړي او پر نورو ورته فضیلت او شرف ورکړی شوی!! اوس پوه شوو چې دا خبري حقیقت نه لري، الله تعالی د ټولو رب دئ، تر دې ډېر ډېر لوړ دئ چې مېرمن ولري یا زوی، نه ئې څوك سیال دئ او نه ئې وارث او ځای ناستی.

۲- چا چې دا پوچې، چټې او بې بنسټه خبري کړې سفیه او بې عقله دي او چا چې له ټګمارو مشرانو دا خبري منلې تر دوی هم ډېر سفیه او بې عقله. دا آیت ښیي چې د پېریانو په منځ کې هم ځینې داسې وو چې له دین ئې ځان ته دکان جوړ کړی، د نورو د غولولو لپاره ئې ادعاء کړې چې له الله تعالی سره ئې خاصه او ځانګړې رابطه ده، ځان ئې د الله د خاصې کورنۍ غړی او په زمکې کې د ده وارث او ځای ناستی ګڼلی؛ او نورو ته ئې ویلي: یوازې زموږ له لارې خدای ته رسېدی شئ، د خدای رضاء زموږ په رضاء کې ولټوئ او څه چې خدای ته ورکوئ موږ ته ئې راکړئ، دعاءګاني مو زموږ له لارې خدای ته رسېدی شي، موږ ستاسو او د خدای تر منځ واسطه او وسیله یو، سپارښتنه کوو او ستاسو دعاءګاني پرې منو.

۳- موږ ګمان نه کاوو چې څوك به د الله تعالی نوم د نورو د غولولو لپاره کاروي، خپلې دروغجني خبري به الله تعالی ته منسوبوي، له دین به دام جوړوي، کمعقله خلك به پرې غولوي، نه مو د انسانانو په اړه دا ګمان کاوو او نه د پېریانو په اړه، خو اوس پوه شوو چې اشتباه مو کړې وه، د الله تعالی په اړه ډېرې دروغجني خبرې شوې دي، د قرآن په هنداره کې مو دا دروغجن ټګماران وپېژندل او د دوی د دروغجنو خبرو په حقیقت پوه شوو.

٦- د دې آیت لپاره څو توجیه مومو:

- اوس پوه شوو چې ځینو انسانانو به ځینو پېریانو ته پناه وړه؛ او دا کار به د دې سبب شو چې د دغو پېریانو طغیان لا زیات شي. په دې توجیه کې په هغه روایت استناد شوی چې وایي: د جاهلیت په زمانې کې به چې کله کومه قافله د شپې له لورې کومې درې ته ننوتله یا به ئې په کومې شاړې زمکې او ورانې سیمې کې اړول، نو یوه به ئې په جګ غږ وویل: د دې سیمې سردار او سالار ته د ده د قوم له کمعقلو پناه وروړو. د دوی عقیده دا وه چې هره ورانه ویجاړه سیمه د پېریانو په یوې طائفې او قبیلې پورې تړلې ده او سردار ئې پرې حکومت کوي، د دوی سردار ته د پناه وړلو په سبب به د دې قبیلې له شره ژغورل کېږو!!
- ځینو انسانانو به ځینو پېریانو ته پناه وړه او دا خرافي عقیده به دوی مزید بې لارې

کړل او په جهالت او فکري انحطاط کې به ئې لا زیات غرق کړل.

- ځینې انسانان د دې په ځای چې له شیطانانو الله تعالی ته پناه یوسي، برعکس ئې شیطانانو ته پناه وړې او د هغوی اطاعت او متابعت ئې کړی او په دې سره ئې بې لاریتوب او طغیان لاهم زیات شوی.

دې ته په پام سره چې دلته په ډېرو اساسي مسائلو بحث کېږي، په مخکیني آیتونو کې د توحید په اړه او له دې آیت وروسته د معاد او آخرت په اړه، نو دلته به هم د دې دواړو اساسي مسائلو په څېر دا اساسي مسئله په نظر کې وي چې د شیطان متابعت او شیطان ته پناه وړل د دوی د طغیان سبب شوی، دا توجیه تر نورو غوره ده او له مخکینیو او وروستنیو آیتونو سره زیات سمون خوري.

۷- له دې هم خبر شوو چې په انسانانو کې هم ځینو زمونږ په څېر داسي ګمان کاوو چې آخرت نشته او الله تعالی به هیڅکله څوک بیا نه راپاڅوي. له دې پاڅولو ځینو مفسرینو دا انتباه اخیستې چې مراد ئې د کوم پیغمبر بعثت دئ، خو نورو ویلي چې مراد ترې د قیامت د ورځې پاڅون او بیا راژوندي کول دي. په څو دلائلو دا دوهمه توجیه دقیقه ده:

- د (بعث) اصطلاح اکثراً د بیا ژوندون لپاره کارول شوې، مګر دا چې تر څنګ ئې د رسول لفظ هم راغلی وي، چې په دې صورت کې د پیغمبر یا فرشتې د لېږلو معنی افاده کوي.
- د پېریانو د دې ډلې په دې وینا کې بل داسي مورد نه مومو چې قیامت او بیا ژوندون ته په کې اشاره شوې وي، لابد باید په دې آیت کې قیامت ته اشاره شوې وي، چې د قرآن د معرفې په اړه د دوی وینا ناقص پاته نه شي.
- د رسالت په اړه د دوی په وینا کې د ۱۹ آیت په ترڅ کې په دې صیغه اشاره شوې: کله چې د الله یو بنده پاڅېدلی او د الله په عبادت لګیا شوی، پرې رابرګ او راغونډ شوي او هغه ئې محاصره کړی.

وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٰٔنَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾ وَأَنَّا لَا نَدْرِىٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾ وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَ ۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿١١﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن نُّعْجِزَ ٱللَّهَ

فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَن نُّعۡجِزَهُۥ هَرَبًا ﴿١٢﴾ وَأَنَّا لَمَّا سَمِعۡنَا ٱلۡهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦۖ فَمَن يُؤۡمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخۡسٗا وَلَا رَهَقٗا ﴿١٣﴾ وَأَنَّا مِنَّا ٱلۡمُسۡلِمُونَ وَمِنَّا ٱلۡقَٰسِطُونَۖ فَمَنۡ أَسۡلَمَ فَأُوْلَٰٓئِكَ تَحَرَّوۡاْ رَشَدٗا ﴿١٤﴾ وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ فَكَانُواْ لِجَهَنَّمَ حَطَبٗا ﴿١٥﴾ وَأَلَّوِ ٱسۡتَقَٰمُواْ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسۡقَيۡنَٰهُم مَّآءً غَدَقٗا ﴿١٦﴾ لِّنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَمَن يُعۡرِضۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِۦ يَسۡلُكۡهُ عَذَابٗا صَعَدٗا ﴿١٧﴾ وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا ﴿١٨﴾ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيۡهِ لِبَدٗا ﴿١٩﴾

۸- او دا چې موږ آسمان لمس کړی او هغه مو له ساتونکو او لمبو ډك موندلی. ۹- او دا چې موږ به د هغه په ځینو تم ځایونو کې د اورېدو لپاره کښېناستو، نو څوك چې اوس غوږ ونیسي ځان ته به په کمین کې ناسته لمبه ومومي. ۱۰- او دا چې موږ نه پوهېږو هغه چا ته چې په زمکې کې اوسېږي د شر اراده شوې او که به ئې رب ورته د رشد اراده کړې وي؟ ۱۱- او دا چې ځینې مو صالح دي او ځینې مو غیر له دې؛ او موږ د بېلو بېلو تګلارو خاوندان وو. ۱۲- او دا چې موږ ګمان وکړ چې نه خو الله په زمکې کې ناتوانه کولی شو او نه ئې هیڅکله په تېښتې سره ناتوانه کولی شو. ۱۳- او دا چې کله موږ دا لارښود (کتاب) واورېدو ایمان مو پرې راوړ؛ او څوك چې په خپل رب ایمان راوړي نو نه دي له کمښت او تاوانه وېره لري او نه له ظلمه. ۱٤- او دا چې ځینې مو مسلمانان دي او ځینې مو په کږو لارو تلونکي، نو چا چې اسلام راوړی دوی د رشد په لټه کې شوي. ۱۵- خو په کږو لارو تلونکي به د دوزخ خاشاك وي. ۱٦- او دا چې که په دې لار نېغ پاته شي په پرېمانه اوبو به ئې خړوبه کړو. ۱۷- چې په دې کې ئې وآزمویو؛ او څوك چې د خپل رب له یاده ډډه وکړي په زیاتېدونکي عذاب کې به ئې ننباسي. ۱۸- او دا چې ټول مساجد د الله دي، نو له الله سره بل هیڅوك مه رابلئ. ۱۹- او دا چې کله د الله بنده پاڅېدو، (الله) ئې رابلو، نژدې ول پرې راپېښ (او رابرګ) شي.

۸-۱۰: په دې مبارکو آیتونو کې څو نور اساسي مطالب چې د پېریانو دغې ډلې د قرآن په اورېدو سره زده کړي؛ او خپل قوم ته ئې ویلي، داسي توضیح شوي:

• له موږ پېريانو ځيني د آسمان په لوري لوړ تلل؛ او په خپلو سترګو ئې ليدلې چې آسمان ته د رسېدو امکان نشته، لار ئې له څارونکو او ساتونکو ډکه او سرې لمبې په لار کې خندې.

• مخکې به زموږ ځيني د دې لپاره د آسمان کنارو ته د رسېدو او په يوې بلې ګوښې کې د کښېناستو هڅه کوله چې پوه شي په آسمان کې څه تېرېږي، څه واوري؛ او په څه اسرارو خبر شي، خو اوس پوه شوو چې دا کار ممکن نه دئ، هر څوک چې دا هڅه وکړي د دې په ځای چې اسرار په لاس ورشي سره لمبه به ځان ته منتظره او په کمين کې ناسته ومومي.

• موږ نه پوهېږو چې په آسمانونو کې څه تېرېږي، الله تعالی د زمکې د اوسېدونکو په اړه څه اراده کړې، د زيان او تاوان اراده که د رشد او کمال په لوري د دوی د هدايت او لارښوونې اراده؟! هغه خبرې چې ځيني ئې کوي او وايي: موږ له غيبه خبرېږو دروغجني او بې بنسټه دي، نه جن په غيب پوهېږي او نه انس، هغه چې غيب ويل ئې ځان ته حرفه ګرځولې، له دې لارې خلك شکوي، د خلکو د غولولو لپاره وايي: موږ له پېريانو سره ارتباط لرو، دا پېريان لوړ آسمان ته درومي، د آسمان کنارو ته رسي، په يوې بلې ګوښې کې مترصد کښېني، د فرشتو تر منځ خبرو آترو ته غوږ نيسي، له اسرارو خبرېږي، زمکې ته راګرځي، موږ خبروي، په همدې خاطر موږ کولی شو تاسو ته ووايو چې له کومو پېښو سره به په راتلونکي کې مخامخ شئ، څه حالت او کوم برخليك درته انتظار کوي، شکرانه راکړئ چې په اسرارو مو خبر کړو، له محتملو راتلونکو پېښو مو خبر کړو،... دا ټول ټګمار او دروغجن دي، هدف ئې د خلکو غولول او د خپلو کڅوړو ډکول دي.

۱۱- اوس پوه شوو چې موږ د تګلارو له پلوه متفاوتې ډلې وو، ټول يو شانته نه وو، دا زموږ غلطي وه چې ټول مو برابر ګڼل، په حقيقت کې زموږ تګلاري د محتوی او پايلو له مخې ورته او مشابه نه وې، ځيني ئې صالح او ځيني ئې ناصالح ګرځولې وو، مخکې به موږ ګمان کاوو چې ښه او بد نشته، هر څه کولی او هره لار غوره کولی شو، څه پروا نه کوي چې په کومه لار درومو او په خپل ژوند کې کومه تګلاره غوره کوو، دا تګلاري نه د محتوی او پايلو له لحاظه څه تفاوت او توپير لري او نه د دغو بېلابېلو تګلارو په غوره کولو سره چا ته ښه او چا ته بد ويلی شو، خو د قرآن د لارښوونو په رڼا کې پوه شوو چې ځيني تګلاري او عملونه ښه دي او نتائج ئې غوره او ځيني ئې بد دي او نتائج ئې خراب او خطرناك.

۱۲- اوس په دې باور شوو چې د الله تعالی د مطلقې واکمنۍ تر سيوري لاندې يو، که د عصيان او سرکښۍ لار غوره کړو، حتماً به له الهي عذاب سره مخامخ کېږو، په هيڅ تدبير

سره نه شو کولی له دې محتوم عذاب ځان وژغورو، نه په زمکه کې کوم پناه ځی موندلی شو او نه په تېښتې سره د الله له نیونې او عذاب ځان ژغورلی شو.

۱۳- کله چې مونږ د دې لارښود کتاب لارښوونې واورېدې ایمان مو پرې راوړ، دې کتاب مونږ په الله تعالی باندې ایمان ته هدایت کړو، څوک چې په خپل رب ایمان راوړي نو په داسې مضبوطي کړې ئې منګولې لګولې چې نه ئې غوځېدا شته، نه به له دې وېره لري چې عملونه به ئې هدر او بې نتیجې پاته شي او تېری او ظلم به پرې وشي، په دې به ئې کلك باور وي چې مهربان رب به ئې هیڅکله په ده ظلم ونه کړي او د صالح عملونو بدله او اجر به ئې ضائع نه کړي.

۱۴-۱۵: اوس او په قرآن له ایمان او په الله تعالی له باور وروسته مونږ په دوو ډلو وېشل شوي یو: الله تعالی ته مطیع او تسلیم ډله او له الله تعالی باغي او سرکښه ډله. هغه څوك به رشد او کمال ته رسي او معنوي ارتقاء به ئې په برخه کېږي چې د الله تعالی په وړاندې د انقیاد او اطاعت لار غوره کړي؛ او څوك چې په کږو لارو سر شي؛ هغه ظالم دئ او د دوزخ د اور وړ، هغه له خپل فطري مقامه راپرېوتی، د خس او خاشاك په څېر منحط او په جهنم کې د سوزېدو مستحق دئ.

۱۶-۱۷: ځینو درنو مفسرینو دا آیتونه له دې امله د پېریانو د هغې مؤمنې ډلې د وینا ادامه نه ده ګڼلې چې وایي: نه شو کولی دا الفاظ (لأسقیناهم: دوی به خړوبه کړو) د دغې ډلې قول وګڼو، خو په څو مقنع دلائلو دا د دوی د قول ادامه ده:

۱- دا آیت د نورو په څېر د (و أن) په لفظ پیل شوی.

۲- د پېریانو دې ډلې دا ټولې خبرې له قرآن د نقل قول په توګه او د قرآن د تشریح په مقام کې کړې دي، د دوی خپلې خبرې نه دي، دلته ئې مراد دا دئ چې دوی ویلي: د قرآن یوه لارښوونه دا ده چې که د اسلام په مستقیمه لار نېغ لاړ شي په پرېمانه اوبو به ئې خړوبه کړو، چې مراد ئې یا پرېمانه رزق دئ، هماغسې لکه چې د نوح په سوره کې راغلي: يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَاراً * چې له آسمانه پرله پسې ورښت دربانديې راولېږي. او یا ئې مراد دا دئ چې د پېریانو لپاره اوبه د ژوندي پاته کېدو اساسي وسیله او بنیادي رزق او روزي ده.

۳- که له ۱۶ تر ۱۹پورې آیتونه د مخکیني کلام ادامه ونه ګڼو نو کوم معلومات چې د پېریانو دغه ډله ئې د قرآن په اړه ورکوي ناقص پاته کېږي او څو اساسي مطالب نه احتواء کوي، یوازې د دغو خبرو په علاوه کولو سره د قرآن د مضامینو په اړه یو جامع او بشپړ تصور وړاندې کېږي او ټول اساسي ټکي په کې نیول کېږي.

٤- له لومړي آیت تر نولسم پورې ټول آیتونه چې په یوه (قل) پیل او په بل (قل) پای ته

رسېدلي او لحن ئې ورته او يوه ټرلې او په خپلو کې مربوطه مجموعه ده، په دې کې انقطاع منل د کلام ښايست او نظم ته تاوان رسوي او د آيتونو تر منځ تنسيق او يووالی له منځه وړي.

په دې آيتونو کې څو اساسي مطالب توجه جلبوي:

- پېريانو خپل قوم ته ويلي: قرآن دا الهي وعده ورکوي چې: که جن او انس د الله تعالی په وړاندي د اسلام او انقياد لاره غوره کړه؛ او په دې کې ئې ثبات او استقامت وکړ، الله تعالی به پراخ او پرېمانه نعمتونه ورپه برخه کړي، په پرېمانه اوبو به ئې چې د ټولو حياتي نعمتونو سرچينه ده، خړوبه کړي؛ او دا يو له هغو اساسي مطالبو دئ چې د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې راغلی، لکه چې فرمايي:

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾ الاعراف

او که کليوالو ايمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو خامخا به مو د آسمانونو او د زمکې د برکتونو دروازې پرې پرانيستې وی، خو دوی (دا حقيقت) تکذيب کړ نو موږ هم د خپلو کړنو په سبب ونيول.

- خو دا نعمات د دوی د استقامت بشپړه بدله مه ګڼئ بلکې د ابتلاء او آزمېښت وسيله ئې وشمېرئ، د دغو نعمتونو په ورکړي سره دوی آزمويو چې وليدی شي په دوی کې د مزيد ارتقاء او مخکې تګ اهليت شته که نه؟!

- او چا چې د نعمتونو له لاس ته راوړو وروسته الله تعالی هېر کړ او مقطعي او موقتي بریاوو داسي وغولاوو چې د الله تعالی له ذکره ډډه وکړي او د الله تعالی په لوري له مزيد مخکې تلو بېرته پاته شي، نو په زياتېدونکي الهي عذاب به اخته شي.

يعني په نېغه لار استقامت او ثبات سره د نعمتونو دروازې درته پرانيستل کېږي؛ او په دې کې د استمرار او دوام په نتيجه کې دا نعمتونه زياتېږي، خو د الله تعالی له يادې غفلت او اعراض او په دې لار کې عدم ثبات او عدم استقامت د نعماتو د زوال باعث او د الهي عذاب د نازلېدو سبب کېږي. لکه چې قرآن په بل ځای کې هم فرمايي:

وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ طه

او چا چې زما له ذکر اعراض وکړ، نو د تنګسې او اضطراب ژوند به ئې په برخه وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند راپاڅوو.

۱۸: او د قرآن بل پيغام دا دئ چې مساجد ټول الله لره دي، د سجدې ټول وختونه بايد

الله تعالى ته مختص کړی شي، د عبادت او سجدې هره شېبه بايد مختص الله تعالى ته وي، يعني هيڅوك دا حق نه لري چې د عبادت کومه شېبه له الله تعالى پرته د بل لپاره وټاکي، بايد د ماسوى الله لپاره د عبادت ځای جوړ نه شي، د بل په نامه به معبد او مسجد نه جوړوئ، د بل په درشل کې به د عبادت سر نه ټيټوئ او د دعاء لاسونه نه اوږدوئ، د بل په پښو کې به نه لوېږئ او لمن به ئې نه نيسئ، نه په مستقله توګه او نه د الله په څنګ کې او د ده د شريك په توګه، پام چې بل څوك د عبادت او دعاء په اړه د الله تعالى شريك او سيال ونه نيسئ؛ او د الله تعالى په څنګ کې له هغه هم مرسته وغواړئ، (فلا تدعوا مع الله احدا) په زمکه او آسمان کې هيڅوك د الله تعالى په څنګ کې مرستي ته مه دربلئ، نه مړ، نه ژوندی، نه کوم انسان او نه کومه فرشته، که چا وويل چې الله او د ده اولياء دي زموږ مرسته وکړي او زموږ مشکل دي حل کړي، ده په حقيقت کې دا اولياء د الله تعالى سيالان گرځولي، حال دا چې الله تعالى سيال نه لري؛ او دا هغه خبره ده چې قرآن ترې منع کړي يو، بايد ووايې: خدايه! د دعاءګانو اورېدونکی ته يې يوازي ته، د مشکلاتو حل کوونکی ته يې يوازي ته، له تا پرته نه د دعاءګانو اورېدونکی شته او نه د مشکلاتو حل کوونکی، له تا پرته بله ملجأ او مرجع نه مومو، له تا پرته بل درشل ته پناه نه وړو، له تا پرته هيڅوك د خپلو مشکلاتو حل کوونکی او د خپلو حاجتونو تر سره کوونکی نه نيسو، ستا اولياء زموږ په څېر تا ته اړ او محتاج دي او تر نورو زيات ستا عنايت او رعايت ته طمع کوي او ځان اړ او محتاج ګڼي، تا له دې کبله دوی خپل اولياء نيولي چې تر نورو ډېر ستا عبادت کوي او تر نورو زيات تا ته د دعاء او احتياج لاسونه اوږدوي، دوی ستا محبوب بندګان دي، نه ستا او ستا د بندګانو تر منځ واسطه او وسيله؛ او نه ستا د درشل داسي ساتونکي چې د دوی له اجازې پرته څوك تر تا رسېدی نه شي، ته د زمکې د سر واکمنانو په څېر نه يې چې فريادونه د واسطو له لاري اوري؛ او سؤالونه په سپارښتونو قبلوي، که واسطه په منځ کې نه وي نو د خپل رعيت چيغې نه شي اورېدی؛ او که د مقربينو سپارښتنې نه وي نو عرائضو ته اعتناء نه کوي او نه ئې قبلوي، تا خو خپلو بندګانو ته ويلي: د غاړې تر رګ درنېږدې يم، چې هر ځای وئ درسره يم، ستاسو او زما تر منځ نه حائل شته نه مانع، نه حجاب او نه حاجب، فريادونه مو اورم او دعاءګاني مو قبلوم. څومره کودن او بې عقله دئ هغه چې له الله تعالى پرته د بل درشل ته لاس اوږدوي؛ او د دې په ځای چې خپل عرائض او خپلې غوښتنې مخامخ او له واسطې او وسيلې پرته، له کوم ځنډ او تأخير پرته سميع او عليم، مجيب الدعوات خدای ته وړاندي کړي، موهومي او له خپله ځانه جوړ کړو واسطو او وسيلو ته ئې سپاري!! څومره ناپوه دئ هغه انسان

چې له دغو صریح، څرګند او تأویل نه منونکو آیتونو پند نه اخلي، هغه چې پېریانو په یو ځل اورېدو سره پرېکړه وکړه چې نور به له الله تعالی پرته د بل چا عبادت ونه کړو او بل ته به لاس اوږد نه کړو.

د مساجد د معنی په اړه په تفسیرونو کې څو رأیي مومو:

- ځینو د جوماتونو او د سجدې د محل او مکان په معنی اخیستی؛ او ویلي ئې دي چې مساجد او جوماتونه د الله دي.
- ځینو د سجدې د اُوه ګونو غړو په معنی اخیستی او ویلي ئې دي چې دا الله تعالی درکړي، له ده پرته بل ته باید په سجده نه شې.
- غوره توجیه دا ده چې دلته مساجد د مسجد جمع او مسجد د مغرب په څېر د سجدې د وخت او زمان په معنی دئ، یعني د سجدې ټول وختونه باید الله تعالی ته مختص کړی شي او د عبادت او سجدې یوه شېبه هم له الله تعالی پرته بل چا ته مختص نه شي، یعني هیڅوک دا حق نه لري چې د عبادت کومه شېبه له الله تعالی پرته د بل لپاره وټاکي.

۱۹- په دې آیت کې څو مهم ټکي د پام وړ دي:

- د دې آیت لحن او لهجه په صراحت سره ښیي چې دا هم د پېریانو د هغي مؤمني ډلې د وینا ادامه ده.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د عبادت په حالت کې لیدلی د همدې لپاره ئې د عبد الله نوم ورته غوره کړی.
- خپل قوم ته ئې ویلي چې د خلکو غبرګون د الله تعالی د دغه بنده د الهي دعوت په وړاندي ډېر افسوسناك او د حیرت وړ وو، نژدې وو چې پرې راپنډ او رابرګ شي او تر هجوم لاندي ئې ونیسي!! او دا هماغه مطلب دئ چې د معارج د سورې په ۳۶- ۳۸ آیتونو کې راغلی.

هغه رأیه چې دا آیت د مخکیني قول ادامه نه ګڼي او د الله تعالی مستقل کلام ئې شمېري څو اشکاله لري:

- باید رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د مخاطب په صیغه یاد کړی وی نه د غائب په صیغه.
- د (نفر) له لفظه معلومېږي چې د پېریانو د دې ډلې شمېر تر لسو لږ وو، د هجوم او ازدحام اصطلاح دوی ته نه شو راجع کولی او دا آیت د دوی د حالت په شرح کې نه شو نیولی.

قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٠﴾ قُلْ إِنِّي لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ قُلْ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦ ۚ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴿٢٣﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْاْ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾

۲۰- ووایه! یوازي خپل رب ته مي دعاء کوم، هیڅوك ورسره نه شریکوم. ۲۱- ووایه! یقیناً چي زه تاسو ته نه د کوم تاوان څښتن یم او نه د کوم هدایت او رشد. ۲۲- ووایه! (په دې باور یم چي) ما ته خو له الله هیڅوك پناه نه شي راکولی او له ده پرته هیڅ پناه ځای نه شم موندلی. ۲۳- مګر دا چي د الله له لوري د یوه ابلاغ او د ده د پیغامونو (مالك یم)؛ او څوك چي له الله او د ده له پیغمبره سرغړاوی وکړي، نو ده ته د دوزخ اور دئ چي تل تر تله به په کې اوسي. ۲٤- د دې لپاره چي هغه څه وویني چي وعده ئې ورسره کېږي، نو پوه به شي چي د چا مرستندوی ضعیف او شمېر ئې لږ دئ.

۲۰: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کېږي چي خلکو ته ووایي: یوازي خپل رب ته مي دعاء کوم، هیڅوك ورسره نه شریکوم. له الله تعالی پرته هیڅا ته د دعاء لاس نه اوږدوم، په دعاء او عبادت کې بل څوك ورسره نه شریکوم. او دا همغه مطلب دئ چي د پېریانو مبلغینو له قرآن زده کړی او خپل قوم ته ئې بیان کړی. یعني د قرآن لومړنی پیغام د بل هر معبود له عبادت او بندګۍ د آزادۍ پیغام دئ، بل چا ته د لاس له اوږدولو او د بل د لمني له نیولو د استغناء او بې نیازۍ پیغام، له الله تعالی پرته بلي ملجأ او مرجع ته له پناه وړلو د اعراض پیغام، د پېریانو هغي ډلي له قرآن همدا انتباه اخیستې او زه هم همدا کار کوم.

۲۱-۲۳: د دې آیتونو ترکیب داسي دئ: ۲۳ آیت د۲۱ آیت تتمه ده؛ او ۲۲ آیت د دې مطلب شرح ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم نه یوازي تاسو ته د ګټې او تاوان څښتن نه دئ بلکې دی په خپله داسي دئ چي که د خپل رب له لارښوونو مخالفت وکړي، هیڅوك نه شي کولی د الله تعالی په وړاندي پناه ورکړي؛ او له الله تعالی پرته به هیڅ پناه ځی ونشي موندلی، څه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې په خپل واك کې لري هغه

الهي پيغامونه دي چې بايد خلکو ته ئې ورسوي او هغه رسالتونه دي چې بايد تر سره ئې کړي.

او دا آيتونه څو اساسي مطالب افاده کوي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم مکلف شوى چې دا مطلب په خپله ژبه او په پوره صراحت او بشپړ وضاحت او په زيات تأکيد سره خلکو ته بيان کړي چې زه د خلکو لپاره د ګټې او تاوان واکدار نه يم، د ګټې او تاوان پربکړه د الله تعالى له لوري کېږي نه زما له لوري.
- د هدايت او لارښوونې توفيق د الله تعالى له لوري وي، زه چې په دې اړه څه کولى شم هغه يوازې دا دئ چې الهي پيغامونه تاسو ته درورسوم، نه بل څه.
- نه يوازې د ګټې او تاوان واکدار نه يم، بلکې په دې باور يم چې له الله تعالى پرته بل پناه ځى نه مومم. او تاسو پوهېږئ چې داسي باور د شرك او له ماسوى الله د استعانت جړې باسي، که رسول الله صلى الله عليه و سلم له خپل هغه لوړ معنوي عظمت او د الله تعالى په نزد کې له هغه تقرب سره سره د ګټې او تاوان واك او اختيار له ځانه نفي کوي؛ او په دې اړه ځان کاملاً بې وس او بې اختيار ګڼي او وايي چې له الله تعالى پرته بل پناه ځى نه مومي، نو نور څه کاره دي چې دوى په خپله يا مريدان ئې ادعاء وکړي چې د اختيار خاوندان دي، ملجأ او منجأ دي، مشکلات حلولى او حاجتونه پوره کولى شي؟!!! آيا د هغو خلکو په عقل ژړا نه ده په کار چې په داسي دروغجنو خبرو باور کوي او د دغو ټګمارانو او د دوى د دروغجنو ادعاءګانو له پېژندو عاجز دي؟
- څوك چې له الله تعالى او د ده له رسول سرغړاوى وکړي، عمل ئې د يوه عاصي او سرکښ انسان عمل وي او اعتقاد ئې هغه اعتقاد نه وي چې پيامبر صلىالله عليه وسلم ورته بلنه ورکوي، د دوزخ مستحق او په هغه کې د تل پاته کېدو وړ دئ.

۲٤- دا ډله به تر هغه په خپلې غلطي تګلاري ټينګار کوي او تر هغه به په خپل عدد او عدة، زور، ځواك او شمېر مغرور وي چې موعود عذاب او د قيامت ورځ په خپلو سترګو وګوري، هلته به پوه شي چې اتکاء او اتکال ئې پر خپل زور، ځواك او شمېر څومره بې بنسټه وو، مرستندويان ئې څومره ضعيف او شمير ئې څومره بې ارزښته؟!!

قُلْ إِنْ أَدْرِيٓ أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّيٓ أَمَدًا ﴿٢٥﴾ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ

يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا ٢٧ لِّيَعۡلَمَ أَن قَدۡ أَبۡلَغُواْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمۡ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيۡهِمۡ وَأَحۡصَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ عَدَدَۢا ٢٨

٢٥- ووايه: نه پوهېږم چې آيا هغه څه رانږدې دي چې وعده ئې درکول کېږي او که رب به مي د هغې تر رارسېدو کوم وخت او موده وټاکي. ٢٦- عالم الغيب رب چې په خپلو غيبي اسرارو هيڅوك نه خبروي. ٢٧- مګر هغه پيغام وړونکي (فرشتې) چې د (خپل پيغام د انتقال لپاره ئې) غوره کوي، نو دی ئې تر مخي او شا څارن او مراقب ټاکي. ٢٨- چې وګوري د خپل رب پيغامونه ئې رسولي، په داسي حال کې چې د دوی په هر څه ئې احاطه کړې او هر څه ئې دقيق او په شمار شمېرلي.

٢٥- ٢٨: دا آيتونه څو اساسي ټکي په ګوته کوي:

١- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې خلکو ته ووايي: له غيبي اسرارو خبر نه يم، نه پوهېږم چې الهي عذاب به کله رارسي، قيامت به کله وي، ژر به راشي او که له څه ځنډه وروسته.

٢- زما رب عالم الغيب دئ، هيڅوك په خپلو غيبي اسرارو نه خبروي.

ج: که د وحي له لاري پيغمبرانو عليهم السلام ته د غيبي امورو په اړه څه معلومات ورکول کېږي دا اطلاع د دوی ذاتي کار نه دئ، په خپله نه دي پرې پوه شوي، بلکې د وحي په ذريعه او د هغو فرشتو په واسطه پرې پوه شوي چې د وحي د انتقال دنده ورسپارل شوې.

٣- دا (وحي) د هغې فرشتې په لاس رسول الله صلى الله عليه و سلم ته رسي چې الله تعالى ئې غوره کوي او د هغې تر مخ او شا داسي څارونکي او ساتونکي لېږي چې وکولی شي په پوره امانت او صيانت سره د دې وحي رسېدل تضمين کړي، نه په کې لاسوهنه ممکن وي او نه څه کمی زياتی.

٤- دا انتظامات د دې لپاره دي چې (الهي وحي) په مصونه توګه د ده پيغمبر ته ورسېږي، سره له دې چې الله تعالى په هر څه احاطه لري، نه هيڅ څه ترې پټ پاته کېږي او نه هيڅ څه د هغه د قدرت، سلطې او سيطرې له دائرې وتلی شي.

٥- الله تعالى عالم الغيب دئ، د هر څه دقيقه احصائيه له ځان سره لري، د هغه پيغام حرف حرف ئې ثبت کړی چې د فرشتو په لاس ئې خپل رسول ته لېږي، په هغه کې هيڅ تغيير او تبديلي ممکنه نه ده.

٦- د غيبي اسرارو په اړه چې کوم علم او پوهه خپلو پيغمبرانو عليهم السلام ته ورکوي،

هماغه علم او پوهه ده چې په نازل شوو کتابونو کې درج شوې، الله تعالی دغه مقدار غیبي علم خپلو پیغمبرانو علیهم السلام او د دوی له لاري خپلو نورو بندګانو ته د درک او فهم وړ ګرځولی.

په دې رکوع کې د توحید په اړه دوه اساسي موضوعات تر بحث لاندې نیول شوي:

۱: الله تعالی د دې عالم د اداري او د چارو په سمبالولو کې ځې هیڅ شریك نه لري، د ده ډېر مقرب بندګان هم د ګټې یا تاوان واك نه لري او هیڅا ته په فوق العاده توګه ګټه او تاوان نه شي رسولی.

۲: الله تعالی عالم الغیب دئ، هیڅا ته ځې علم غیب نه دئ ورکړی.

د دې دواړو اساسي موضوعاتو د توضیح لپاره لږ مفصل بحث مفید ګڼو.

آیا الله تعالی د امورو په سمبالولو کې شریك لري؟

له قرآنکریم د بېلتون او غفلت په سبب د مسلمانانو په منځ کې ګڼ شمېر داسي عقائد خواره شوي چې د اسلام له اساساتو سره ټکر کوي او قرآن ځې د توحید منافي او د شرك عامل شمېري او د هغه د نفي لپاره ځې مفصل بحثونه کړي.

له دغو عقیدوي انحرافاتو یو هم په ربوبیت کې شرك دئ، په دې معنی چې څوك د کائناتو په اداره او د امورو په سمبالولو کې ځې له الله تعالی سره بل څوك شریك وګڼي او دا عقیده ولري چې الله تعالی د کائناتو اداره او د امورو تدبیر ځې په یوازي توګه نه کوي بلکې کارونه ځې له نورو ذواتو سره وېشلي، ځینې په خپله کوي او ځینې نور ځې هغوی ته سپارلي او هغوی ته ځې دا واك ورکړی چې د خپلې خوښې مطابق په کې تصرف وکړي. دا ډله خلك یا دا ګمان کوي چې: الله تعالی د دنیا او عالم له پیدایښت او په هغه کې د ضوابطو له وضع کولو وروسته دا مخلوقات په خپل حال پرېښي، امور او کارونه په خپله د الهي مقدراتو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي، ټول کارونه همداسي په خپل سر د الهي سننو مطابق روان دي، الله تعالی نه هیڅ مداخله په کې کوي او نه دې ډول مداخلې ته څه ضرورت لیدل کېږي!! او یا دا ګمان کوي چې: الله تعالی هم لکه د دنیوي واکمنانو په شان د خپلې پاچایۍ د چارو د اداري او سمبالولو په خاطر هره برخه یوه چا ته سپارلې ده او په همدې برخه کې ځې همدا کس خپل نائب او د چارو (قیم) او (متصرف) منلی دئ!! اوس که څوك په دې برخه کې له کوم مشکل سره مخامخ کېږي نو باید د همدې برخې قیم، وصي او متصرف ته مراجعه وکړي، له هغه مرسته وغواړي او له دې لاري خپل مشکل حل کړي، په دې معنی چې د الله تعالی دربار ته له رجوع مخکې باید دغو متصرف او قیم ذواتو ته مراجعه وشي، له دوی د خپلو مشکلاتو د حل غوښتنه وشي او یا له

همدې لاري، د مراتبو د تسلسل مراعات سره پورې په پورې پورته ولاړ شي او خپل سؤال د الله تعالى در بارته وړاندي کړي، دوی وايي: که د الله تعالى د پاچايۍ دا واکمن مأمورين، هغه چې ته ئې د امورو په تدبير او د چارو په اداره کې د الله جل شأنه نائب او وکيل ګڼې؛ که دا متصرفين ستا د مشکلاتو د حل وس او توان لري، ستا فرياد اورېدی شي او ستا دعاءګاني اجابت کولی شي، نو بيا څه ضرورت دئ چې د مراتبو د تسلسل له مراعات پرته او مستقيماً د الله دربار ته د مراجعې بې باکي کوې؟!! خپل حيثيت دي وپېژنه، هغه ځای ته د تلو بې ځايه هڅه مه کوه چې نه ئې اهليت لري او نه توان، دا خبره ومنه چې د الله تعالى دربار داسي دروازې لري چې د هر چا په وړاندي نه پرانيستل کېږي او داسي ساتونکي لري چې هرچا ته د نژدې کېدو اجازه نه ورکوي!! دې دربار ته د رسېدو لپاره وسيلې، واسطې او سپارښت کوونکي ته اړتيا شته، دا واسطې او سپارښت کوونکي وپېژنه، د هغوی لاس او لمن ونيسه، چې د الله دربار ته لار پيدا کړې او دروازه ئې در ته پرانيستل شي، دا د الله جل شأنه په اړه د مشرکينو ګمان وو، راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه وايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ إِذْنِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ۝٣ يونس

بې شکه چې ستاسو رب هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، بيا ئې په عرش استوا وکړه، چاری سمبالوي، هيڅ داسي شفاعت کوونکی نشته چې د ده له اذن او اجازې پرته شفاعت وکړی شي، دا ستاسي رب دئ، نو د ده عبادت وکړئ، آياعبرت نه اخلئ؟

دا مبارك آيت لاندي مهم مطالب بيانوي:

- الله تعالى زمکه او آسمانونه په شپږو ورځو (تکويني مراحلو) کې پيدا کړل.
- آسمانونه او زمکه ئې له پيدايښت وروسته مهمل او خپلې مخې ته نه دي پرېښي، بلکې هغه اداره کوي او چاري ئې سمبالوي،
- هيڅوك د الله له اذن او اجازې پرته د هغه په وړاندي د شفاعت او سفارش توان او صلاحيت نه لري، هغه د دنيا د پاچايانو په شان نه دئ چې د نورو سفارش او شفاعت ته اړ وي، داسي نده چې بايد بل څوك يو مظلوم ور معرفي کړي، بل څوك د چا د لياقت او اهليت په اړه معلومات ورکړي او د ده او بنده تر منځ واسطه شي.

• هغه رب او پالونکی چې باید یوازې د هغه عبادت وکړې او یوازې له هغه مرسته وغواړې، صفات ئې دا دي: د ټولې هستي خالق، ستا او د ټولو مخلوقاتو رب او پالونکي دئ، په عرش ئې استوا کړې، د هر څه مالك او واکدار دئ، د هستي د ټولو امورو د تدبیر اختیار ورسره دئ، ستا او هغه تر منځ د رابطې لپاره هیڅ وسیلې، واسطې، سفارش او شفاعت کوونکي ته ضرورت او اړتیا نشته. دا درس باید درته پند وي او د هغه په رښا کې نېغه لاره له کبرې ببله کړې او د الله تعالی له دربار پرته بل دربار ته له رجوع او پناه وړلو ځان وساتې.

په دې اړه د مزید معلومات لپاره د الانعام د سورې ۱۸ آیت او د الاعراف د سورې ۵۴ آیت شرحي ته مراجعه وکړئ.

قرآنکریم په بل آیت کې په دې اړه فرمایي:

قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَـٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ یونس

(ورته) ووایه! له آسمان او زمکي څوك تاسو ته رزق او روزي درکوي؟ او د دغو غوږونو او سترګو مالك څوك دئ؟ او څوك دئ چې ژوندی له مړي او مړی له ژوندي راپیدا کوي؟ او د کارونو تدبیر څوك کوي؟ حتماً به ووایي: الله، نو ووایه: آیا (له کفر او شرك) ځان ساتنه نه کوئ؟

په دې مبارك آیت کې دا اساسي مطالب زمونږ مخي ته اېښودل شوي:

• دا خو یوازې الله تعالی دئ چې د رزق او روزي انتظام ئې په واك کې دئ، که له آسمان باران راوړېږي، که د لمر وړانګې پرزمکه لګېږي او له زمکې مېوې او دانې راوتوکېږي او که زمکه ستاسي لپاره په خپله غېږ کې د څښلو اوبه ساتي او په دې ترتیب سره ستاسي د روزي اسباب او وسائل برابروي، ووائئ داسي کوم څوك شته چې په دې کارونو کې له الله تعالی سره شریك وي؟

• ستاسي د غوږونو او سترګو اصلي او حقیقي مالك څوك دئ؟ دا نعمتونه چا درکړي او دا د چا په ارادې ستاسي په خدمت کې دي او تاسي ته لار ښیي؟ که خدای اراده وکړي چې دا سترګي او غوږونه درنه واخلي، آیا داسي څوك شته چې بېرته ئې درکړی شي؟

• آیا له الله تعالی پرته په دې ټولو موجوداتو کې داسي څوك شته چې له مړي ژوندی او له ژوندي مړی راوباسي؟ د مرګ او ژوند فیصله څوك کوي؟ د چا په حکم سره مړه خاوره

په دانو او مېوو بدلېږي او بيا د انسان او حيوان په بدن کې ژوندۍ نطفه ترې جوړېږي؟ په دې پراخ کائنات کې چې په هره برخه کې ئې حرکت، خوځښت او د کمال په لور هاند او تحرک دئ، هري خوا ته ئې نظم او نسق، ښکلا او ښايست دئ، هرڅيز له نست هست کېږي، بيا وده مومي، د کمال په لور درومي او کله چې د کمال او ودي يوه ثابت حد ته ورسېږي نو د زوال مرحله ئې پيل شي او په مرګ محکوم شي، فناء شي او ځای ئې بل ته تش شي. څوك دئ چې دا ټول امور اداره او تنظيموي؟ آيا له دې پرته چې ووايو او اعتراف وکړو چې د دې هستي د ټولو امورو تدبير د الله تعالی په لاس کې دئ، آيا له دې اعتراف پرته بله چاره لرو؟ قرآنکريم څه ښه فرمايي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ سُبْحَـٰنَهُۥ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾ الروم

الله هغه ذات دئ چې تاسي ئې پيدا کړئ، بيا ئې تاسي ته روزي درکړه، بيا تاسي مړه کوي، بيا مو بېرته راژوندي کوي، آيا ستاسي له شريکانو داسي څوك شته چې له دې کارونو کوم يو وکړی شي؟! پاکي ده الله ته او هغه لوړ دئ له هغه څه چې دوی ئې ورسره شريك گرځوي.

يعني ستاسي په پيدايښت کې، ستاسي په رزق او روزي کې او ستاسو په مرګ او ژوند کې هيڅوك له خدای سره شريك نه دئ، الله تعالی له دې عيب پاك او له دې لوړ دئ چې په دې کارونو کې څوك د ځان شريك ونيسي. قرآنکريم په يوه بل آيت کې لکه څرنګه چې خلقت په الله تعالی پوري مختصوی او د ماسوی الله اشتراك په کې له بنياده نفي کوي همدا راز د امورو تدبير او انتظام هم په الله پوري مختص شمېري او په دې کار کې هم د بل چا شراکت نفي کوي، فرمايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾ الاعراف

بې شکه چې ستاسي رب هغه الله دئ چې زمکه او آسمانونه ئې په شپږو ورځو (شپږو تکويني مراحلو) کې پيدا کړي، بيا ئې په عرش استوی وکړه، د شپې پرده په ورځې غوړوي، (يوه بله) په تلوار لټوي، لمر، سپوږمۍ او ستوري د هغه حکم ته تابع دي، پوه شه چې پيدايښت او امر ده لره مختص دئ، د عالمونو رب او پالونکی بابرکته دئ.

قرآنکريم په خلقت او امر کې د ماسوی الله يعني له الله پرته د بل هرچا هر راز ونډه

نفي کوي او فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٞ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ٧٣ مَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٞ ٧٤ الحج

اې خلکو! يو مثال راوړل کېږی، ورته غوږ شئ: بې شکه څوک چې تاسي له الله پرته خپلې مرستې ته دربلئ، يو مچ هم نه شي پيدا کولی او که دا مچ څه ترې وتښتوي نه ئې شي ترې ژغورلی، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، د الله تعالی قدر ئې لکه څنګه چې له ده سره ښايي نه دئ پېژندلی، بې شکه چې الله ځواکمن عزتمن دئ.

يعني له الله تعالی پرته چې تاسي له بل هر څه او هرکس مرسته وغواړئ، که دا په آسمان کې وي او که په زمکه کې، انسان وي که فرشته، ژوندی وي که مړ، يو هم نه شي کولی يوه وړه او حقيره حشره پيدا کړي او که دا حشره څه ترې وتښتوي نو د هغه د ژغورنې توان هم نه لري، نه څه شی پيدا کولی شي او نه ئې ژغورلی شي، په دې معامله کې طالب او مطلوب دواړه کمزوري او بې وسه دي، مطلوب کمزوری او بې وسه دئ ځکه چې نه د کوم څيز د خلقت او پيدا کولو توان لري او نه پر نورو د حکمرانۍ او واکمنۍ قدرت ورسره شته او طالب ځکه کمزوری او ضعيف دئ چې په داسي يوې بې وسه او کمزورې متکاء ئې تکيه وکړه او مرسته يې ترې وغوښته چې د هيڅ څه واک او توان نه لري.

د قرآنکريم لومړنی درس، د دې الهي کتاب په لومړنۍ آيت کې په دې ټکې ټينګار کوي چې: الحمدلله رب العالمين: ټولې ستاينې هغه الله ته دي چې د عالميانو رب او پالونکی دئ.

يعني دا کائنات داسي رب او پالونکی لري چې د هر څه پالنه کوي، د هستۍ د هرې برخې ساتنه او د چارو سمبالول ئې په واک کې دي او په ټولو امورو کې د رب په توګه تصرف کوي. د خدای د ربوبيت نفي يا تعطيل او دا اعتقاد چې الله تعالی د مخلوقاتو له پيدا کولو وروسته د امورو اداره او د چارو سمبالول ئې په کائناتو حاکمو ضوابطو او سننو ته پرېښی، همدا راز په ربوبيت کې شرک يعني دا باور چې د کائناتو د امورو په اداره کې خدای شريک لري، دا دواړه (د ربوبيت نفي او په ربوبيت کې شرک) د قرآنکريم له بنيادي او اساسي مفاهيمو سره ټکر او تناقض لري. نه پوهېږو هغه کسان چې د دې ډول شرک مرتکب کېږي، د قرآن هغه په سلګونو آيتونه څنګه توجيه کوي چې په پوره صراحت او قاطعيت سره په دې خبرې ټينګار کوي چې يوازي الله تعالی د ټولو امورو متصرف او

پالونکدئ؟! دا ډله د دې آیتونو په اړه څه وایي:

... وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿٤١﴾ الحج

... د ټولو امورو پایله الله ته ده.

وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٢١٠﴾ البقرة

ټول کارونه د الله په لوري ګرځول کېږي

أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلْأُمُورُ ﴿٥٣﴾ الشورى

پام چې ټول کارونه د خدای لور ته ورګرځي

... قُلْ إِنَّ ٱلْأَمْرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ... ﴿١٥٤﴾ آل عمران

ووایه چې بې شکه کارونه ټول د الله دي

پداسې حال کې چې قرآن؛ رسول الله علیه السلام ته فرمایي چې ته د هیڅ شي واك او اختیار نه لرې، دا په الله تعالی پورې اړه لري چې د چا توبه قبلوي او چا ته عذاب ورکوي، دا یوازې د خدای جل شأنه کار دئ، نه په تا پورې اړه لري او نه بل چا پورې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه چې حکم دا وي نو د نورو عادي خلکو په اړه به حکم څه وي؟

الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته فرمایي:

لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾ آل عمران

د چارو هیڅ څه په تا پورې اړه نه لري، یا به ئې توبه قبلوي او یا به ئې د دې لپاره تعذیبوي چې ظالمان دي.

قرآنکریم په ربوبیت کې د شرك د نفي او تردید لپاره په دې قاطع دلیل او حجت استدلال کوي چې که په زمکه او آسمان کې له یوه خدای پرته نور خدایان وی نو حتماً به د زمکې او آسمان ټولې چارې مختل او هر څه به تباه شوي وو، دا ځکه چې په هغه صورت کې به هر خدای له خپلې خوښې سره سم د دې عالم اداره غوښتله، د آراءو اختلاف، په اجراءاتو او تصرفاتو کې د ارادو تعدد به حتماً په ټکر او تصادم منتج کېدو او دا به په کائناتو کې د لویې تباهۍ سبب جوړېدو. په هستې او کائناتو کې دا حاکم نظم او نسق په دې دلالت کوي چې د مخلوقاتو د امورو د تدبیر واك او اختیار له یوه ذات سره دئ.

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾

الانبياء

که په آسمان او زمکي کې له الله پرته نور خدایان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل، نو د دوی له ستایلو د عرش پالونکي الله ته پاکي ده.

د قرآن تر ټولو ستر او مبارك آیت (آیت الکرسي) په دې رابطه فرمایي چې الله تعالی د ټولو موجوداتو د امورو مدبر او قیوم دئ، د هر څه قوام له ده دئ، یوه لحظه هم د کائناتو له اداري نه غافل کېږي، د زمکي او آسمان د هر څه مالك دئ، هیڅوك ئې په وړاندي له اجازې پرته د شفاعت توان نه لري، په پټو او څرګندو شیانو عالم دئ، د نورو علم هم د ده ورکړه ده، د ده په حکم او اذن سره له څه خبرېدی او په څه پوهېدی شي، د هغه د اقتدار کرسۍ پر آسمانونو او زمکي احتواء کړې ده، ټول شیان تري لاندي دي، د دې ارت عالم ساتنه او تنظیم د هغه د ستړیا سبب نه کېږي. فرمایي:

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥ البقرة

الله هغه ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی قیوم ذات، نه ئې پرکالي نیسي او نه خوب، هغه هر څه د ده دي چې په آسمانونو کې دي او چې په زمکي کې دي، دا به څوك وي چې د ده له اجازې پرته د ده په وړاندي سپارښتنه او شفاعت وکړی شي، په داسي حال کې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخي ته دي یا ئې شا ته دي او دوی د ده له علم یوازي په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي، (د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکي حاوي ده او د دوی دواړو (زمکي او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ ذات دئ.

قرآن د ربوبیت د جزئي او کُلي تعطیل د نفي او د دې مفهوم د اثبات لپاره چې خدای په دائمي او دوامداره توګه له یوې شېبې غفلت پرته د عالم امور اداره او سمبالوي او همدا راز د دې مطلب د اثبات لپاره چې ټول مخلوقات د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره الله ته رجوع کوي او هغه ئې اړتیاوي پوره کوي، فرمایي:

يَسۡـَٔلُهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ ٢٩ الرحمن

څه چې په آسمانونو او زمکه کې دي ټول ده ته سؤال کوي، دی هره شېبه په یوه کار کې

دئ.

دا او په لسګونو نور آيتونه د دې لپاره کافي دي چې ووايو: هر څوك چې د هستۍ د چارو په اداره او تدبير کې له خدای سره شريك ونيسي، هغه په حقيقت کې قرآنکريم تکذيب کړی، د شرك مرتکب شوی او د توحيد له دائرې او د موحدينو له ډلې وتلی دئ.

علم غيب

د جن د سورې د بحث محوري او اساسي موضوع دا ده چې په غيب له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي، نه رسول الله صلی الله عليه و سلم پوهېږي، نه فرشتې او نه جن. د سورې پيل په دې شوی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم حتی له دې هم خبر نه شو چې د پېريانو يوې ډلې د ده تلاوت اورېدلی او ايمان ئې راوړی؛ او د سورې په پای کې ويل شوي:

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ٢٦ الجن

په غيب پوه رب چې هيڅوك په خپلو غيبي اسرارو نه خبروي.

دا مطلب په دې سوره کې هم مکرر راغلی او د قرآن په ډېرو نورو آيتونو کې هم په تکرار او تأکيد سره راغلی چې په زمکه او آسمان کې له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي. په دې اړه تفصيلي بحث د آل عمران د سورې د ۱۷۹ آيت په شرح کې راغلی هيله ده هلته رجوع وکړئ.

د قرآن دغه قاطع او صريح آيتونه کافي دي چې د هغو رواياتو په منلو کې ډېر تأني، دقت او احتياط وکړئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم يا بل چا ته علم غيب ثابتوي؛ او هغه مذهب او مسلك لري وغورځوئ چې له الله تعالی پرته بل څوك عالم الغيب او متصرف الامور ګڼي.

المزمل

د سورې معرفي:

د دې سورې نوم المزمل (ځان په جامه کې نغښتونکی) دئ، شل آيتونه لري، لومړی آيت ئې د مزمل په صيغه ختم شوی، له دوهم تر نولسم پورې د آيتونو فواصل قليلاً ته ورته وزن لري؛ او شلم آيت ئې که څه هم تر نورو آيتونو ډېر اوږد دئ خو له څو لنډو فقرو

جوړ شوی او د رحیم په لفظ پای ته رسېدلی، ښکلی غږ او خوندور مد و جذر لري. د سورې له متنه معلومېږي چې لومړۍ برخه ئې (له لومړي تر نولسم آیت پورې) په مکه کې او هغه وخت نازله شوې چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دعوت ملنه پراخه شوې، د ده ورځني مصروفیتونه ئې زیات کړي، دښمن د خطر احساس کړی، د ده او د ده د یارانو په ځورولو ئې لاس پورې کړی، له یوې خوا درنو مصروفیتونو او له بلې خوا د دښمن ورځ په ورځ زیاتېدونکو مخالفتونو له ده تقاضی کوله چې لا زیات صبر وکړي، خپلې اړیکې له خپل مهربان رب سره لا زیاتې مضبوطې کړي، په قیام الیل، د شپې په زړه کې د قرآن تلاوت؛ او د الله تعالی په مسلسل ذکر سره خپل زړه لا زیات مضبوط کړي، خپل عزم ټینګ، خپله اراده پخه؛ او خپل عزم او همت لا زیات لوړ کړي.

د سورې دوهمه برخه چې وروستی اوږد آیت احتواء کوي، په مدینه منوره کې او په هغه وخت کې نازله شوې چې د مسلحانه جهاد مرحله پیل شوې وه.

لومړۍ برخه په دغو اساسي ټکیو ترکیز کوي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کوي چې د ورځنیو داعیانه مصروفیتونو د زیاتېدو په تناسب باید خپلو معنوي چارو، تلاوت او د شپې لمونځونو ته تر مخکې زیات توجه وکړي، د شپې یوه برخه په لمانځه او تلاوت تېره کړي او خپل خوب راکم کړي.
- د شپې په خاموش او آرامه فضاء کې د قرآن تلاوت او لمونځ تا د رسالت د ګران بار د حمل لپاره چمتو کوي او په درنو، لوړو او عظیم الشأن الهي پیغامونو د لا ښه پوهېدو توفیق درکوي، د شپې په زړه کې راویښېدا او په هغې کې د الله تعالی عبادت په انسان کې دا استعداد تقویه کوي چې په درونده قول ښه پوه شي او خپل ما في الضمیر په ښه او واضح توګه بیان کړي.
- ورځني مصروفیتونه، ازدحام، شور او ځوږ ئې د انسان زړه، دماغ، سترګې، غوږونه او ټول حواس مشغول ساتي، په مهمو قضایاوو او په ژورو خبرو د غور او تفکر مجال او امکان ترې سلبوي.
- نه یوازې دا چې د شپو په خلوت کې په لمانځه او تلاوت سره باید په ورځنیو مشغولتیاوو کې خپل مصروفیت جبران کړي، بلکې باید هغه رب د ځان لپاره د کفیل او وکیل په توګه کافي وګڼي چې له ده پرته بل اله نشته، شپه ورځ د ده په اراده راځي، لمر دی له مشرق راپورته کوي او دی ئې په مغرب کې پرېباسي، له ده پرته په بل څه زړه مه تړه.
- د دښمن د تبلیغاتو، آزار، اذیت او ځورونو په وړاندې صابر او ثابت قدم اوسه، په

غوره او نېکه توګه تري ېبل شه او خپلې اړيکې ورسره غوڅې کړه.

- هغه چې تا نه مني، ستا د مخالفت او ستا د دعوت د تکذيب لپاره ئې ملا تړلې، خپل ثروت او قدرت ستا په خلاف استعمالوي، د دوی کار الله تعالی ته مفوض کړه، لږ مهلت ورکړه، مطمئن اوسه چې حسيب خدای به حتماً دوی ته مناسبه سزا ورکوي.
- د دغو شتمنو مکذبينو لپاره د الله تعالی په نزد کې عبرتناك عذابونه، د دوزخ لمبې، په ستوني کې نښتونکی خوراك او درناك عذابونه دي.
- دا رنګ رنګ عذابونه به په هغه ورځ د دوی په برخه کېږي چې غرونه او زمکه به په کې وخوځي او غرونه به د شګو ډېرې ته ورته شي.
- ستا د مخالفينو پايله به همغسي وي لکه د فرعون، دوی دي خپل برخليك او د خپل عصيان او بغاوت پايله د فرعون د بغاوت په عبرتناك داستان کې ولولي، هغه ته هم الله تعالی يو پيغمبر ورولېږو، چې د هغه دښمني ته ئې ملا وتړله؛ او الله تعالی په شديد عذاب مجازات کړ، د الهي عذاب متروکې ئې پرله پسې پر سر سر راپرېوتې. تاسو ته مو هم شاهد استازی درولېږو، پام چې چلن او پايله مو د فرعون د چلن او پايلې په څېر نه شي.
- که د کفر او بغاوت لار مو غوره کړه، نو څنګه به د قيامت د هيبتناکې او سترې ورځې له شديد عذاب خوندي پاته شئ، هغه ورځ چې رعب او هيبت ئې ماشوم بوډا کوي، هغه ورځ چې له هيبته به ئې آسمان ټوټې ټوټې شي!! دا ورځ يقيني ده، خامخا به راځي.
- د هغې ورځې له رارسېدو مخکې الله ته رجوع وکړئ، الله تعالی ته د رسېدو لار غوره کړئ، هغه لار چې الله تعالی ته مو ورنږدې کوي.

د سورې په دوهمې برخې کې چې له لومړۍ برخې څو کاله وروسته نازله شوې لاندې اساسي مطالب لولو:

رسول الله صلی الله عليه و سلم به د مخکينۍ الهي لارښوونې په حکم کله د شپې دوه برخې، کله نيمايي او کله درېيمه برخه په قيام الليل او د قرآن په تلاوت تېروله.

د ده ډېرو يارانو به هم په دې سنت عمل کاوو او د شپې يوه برخه به ئې قيام ليل او تلاوت ته ېبلوله.

اوس او د دغه آيت د نزول په وخت کې مسلمانان په داسي وضعيت کې ول چې په قيام الليل کې د تخفيف اجازه ورکړی شوه، دا تخفيف يا د دې لپاره وو چې د دعوت او مبارزې په کار کې د مسلمانانو مصروفيتونه پراخ او زيات شول؛ او يا د دې لپاره چې اوس ئې کافي روزنه شوې، په خپله هم پوخوالي ته رسېدلي او ټولنه ئې هم، داسي چې د خير لاملونه په کې فعال او نشيط دي، محيط نظيف او فضاء ئې شفافه ده؛ او د شر او فساد

عوامل په کې ځپل شوي، په داسې سالم محیط کې که د قیام اللیل په سنت کې تخفیف راشي او د ځان جوړولو او معنوي ارتقاء لپاره تر مخکې لږ وخت وټاکلی شي، جدي ستونزه نه راولاړوي، په مخکیني کثیف محیط او شرک ځپلې ټولنې کې چې په هر لوري کې ئې د شر او فساد عوامل فعال وو او هر څه انسان ګناه ته رابلو او عصیان او فساد ته ئې هڅاوو، هلته دې ته ضرورت وو چې د افرادو معنوي روزنې او ځان جوړونې ته زیات اهتمام وشي او زیات وخت ورته مختص کړی شي.

اوس کولی شي په دې منصوبې کې تعدیل راولي، د قیام اللیل موده او وخت رالنډ کړي؛ او په هغه کې د قرآن تلاوت هم دومره مختصر کړي چې دوی ته میسور او مقدور وي.

ډېرو مسلمانانو به په دې سنت عمل کاوو، څوك به چې بیمار شو، یا به په سفر ووتو او تجارت به ئې کاوو او یا به د جهاد په سنګرونو کې مصروف شو، په دې سنت التزام به ورته ګران شو، د دې آیت له نزوله وروسته د دوی پېټی سپك کړی شو او د قرآن د ممکن او میسر مقدار په تلاوت اکتفاء وشوه.

د دې مختصر او آسان قیام اللیل په څنګ کې باید د خپلو نورو لمونځونو اقامې ته جدي اهتمام او پاملرنه وکړئ، د خپل مال زکات ورکړئ، د الله تعالی په لار کې خپلې شتمنۍ انفاق کړئ او ډاډه اوسئ چې هر څه د الله تعالی لپاره قربانۍ ته وړاندي کړئ، الله تعالی به ئې په خپلې ذمې د پور او قرض په توګه نیسي، حتماً به ئې د ده په خوا کې بیامومئ، همدا ستاسو لپاره غوره دي او د ستر اجر د لاس ته راوړو وسیله.

تل باید له خپل رب بخښنه وغواړئ، د شپو قیامونه، د قرآن تلاوتونه، لمونځونه، زکاتونه؛ او د الله تعالی په لار کې قربانۍ باید تاسو له استغفار او د بخښني له غوښتو مستغني نه کړي، په هر حالت کې باید داسې احساس درسره وي چې د خپل رب د بندګۍ حق مو نه دئ اداء کړی، لکه څنګه چې ښایي هغسې مو د ده عبادت نه دئ کړی، کمی او قصور درنه شوی، لا ډېر وروسته پاته یئ او د الله تعالی بخښني ته محتاج یئ.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢﴾ نِّصْفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلْقِى عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيْلِ هِىَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا ﴿٦﴾ إِنَّ لَكَ فِى ٱلنَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ﴿٧﴾

وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ تَبۡتِيلًا ۝٨ رَّبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذۡهُ وَكِيلًا ۝٩

١- آی اې په جامو کې نغښتيه!! ٢- د شپې پاڅه پرته له لږ. ٣- نيمايي ئې يا ترې راکم کړه لږ. ٤- يا پرې زيات کړه او قرآن لوله په صفا لوستلو. ٥- بې شکه چې ژر به نازل کړو پر تا درنه وينا. ٦- بې شکه چې تر پښو لاندې کولو (د يوه عميق قول معنى او مفهوم ته رسېدو) کې د شپې پاڅېدونکى مضبوط وي او په وينا (د خپل ما في الضمير په بيان) کې تکړه وي. ٧- يقيناً چې تا ته د ورځې اوږده مشغولتيا وي. ٨- او د خپل رب نوم يادوه؛ او د ده په لوري په ښه بېلېدو بېل شه. ٩- د ختيځ او لوېديځ رب، چې له ده پرته بل اله نشته، نو ځان ته ئې وکيل نيسه.

١-٤: په دې آيتونو کې رسول الله صلى الله عليه و سلم د مزمل (په جامه کې نغښتى) په نوم ياد شوى، د (مزمل) لفظ هغه حالت افاده کوي چې انسان د ويده کېدو لپاره څادر په ځان راخوروي، که څه هم دلته خطاب پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ خو د دې لپاره چې د مزمل په لفظ سره خطاب عام شوى نو ځکه ويلى شو چې دا خطاب د قرآن هر مخاطب ته هم راجع دئ، د پيغمبر عليه السلام صحابه وو له دې آيت همدا مطلب اخيستى، د همدې لپاره ئې په قيام الليل کې د خپل لارښود ملګرتيا کوله، د دې سورې په شلم آيت کې د دې رأيې په تأييد کې څه نښې هم گورو: هلته لولو چې نه يوازې رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې دوه برخې، نيمايي او دريمه برخه په قيام الليل او د قرآن په تلاوت تېروله بلکې د ده يارانو هم په دې سنت عمل کاوو؛ او په هماغه آيت کې لولو چې اوس ئې درته عفو وکړه او دا اجازه ئې درکړه چې په دې کې تخفيف وکړئ او هومره تلاوت وکړئ چې درته آسانه وي، که په لومړني آيت کې خطاب عام نه وى او ټول مخاطبين ئې نه احتواء کولى نو بايد په شلم آيت کې د جمعې د صيغې (فتاب عليكم) په ځاى د مفرد صيغه (فتاب عليك) او (فاقرءوا) په ځاى (فاقرأ) راغلې وى.

څلور لومړني آيتونه د قيام الليل په اړه لاندې مطالب هم زموږ مخې ته ږدي:

د شپې پاڅه، له لږ برخې پرته ئې په ويښه، لمونځ او د قرآن په تلاوت تېره کړه، داسې نه چې ټوله شپه دې څادر پر ځان غوړولى او په خوب ئې تېره کړې، د اوږدو اوږدو خوبونو دور تېر شوى، نور نو له ځان جوړوني د غفلت؛ او د ټولنې د جرياناتو په اړه د بې اعتنائې مرحله پاى ته رسېدلې، له خوبه پاڅه، ملا وتړه.

د شپې نيمايي دي د قيام الليل لپاره وټاکه، کولى شې چې کله څه پرې زيات کړې او

کله څه ترې کم.

قرآن په پوره فصاحت، وضاحت او په بشپړ تأمل او دقت تلاوت کوه، ستا د قیام اللیل تر ټولو مهمه برخه په تأمل او دقت سره د قرآن تلاوت دئ.

۵: په دې آیت کې مور ته ویل شوي چې د (قیام اللیل) ګټه څه ده، ولې تاسو ته د دې سپارښتنه شوې چې د شپې یوه برخه د لمانځه او تلاوت لپاره مختص کړئ؛ وایي: د دې سپارښتني موخه دا ده چې په دې سره ته په قول ثقیل (درنه وینا) د پوهېدو جوګه کېږې، کوم دراك استعداد او حساس ذهن چې د ثقیل قول، درنې وینا او ژور کلام په پېچلو، پراخو او ظریفو ابعادو د ښه او دقیق پوهېدا لپاره ضروري دئ، هغه د همدې قیام اللیل په ترڅ کې په انسان کې وده کوي. له (قول ثقیل) مراد قرآن مجید دئ چې د آیتونو محتوی او مفهوم ئې لوړ او ژور، وعدې ئې ګراني، انسان ته چې کوم مسئولیتونه سپاري هغه ډېر ستر ستر او درانه، عمل پرې ګران او د لوړ همت او عزم غوښتونکی، د قرآن له القاء مراد یا دا دئ چې خطاب متوجه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دئ او هغه ته ویل شوي چې په قیام اللیل او د قرآن تلاوت سره به د قرآن د نورو درنو درنو برخو تر لاسه کولو ته لا زیات چمتو شې، دا درنې برخې به ډېر ژر پر تا نازلې کړو؛ او یا ئې مراد دا دئ چې د شپې په زړه کې د قرآن په تلاوت سره به ته د قرآن د آیتونو په ژورو او پراخو معانیو او مفاهیمو لا ښه پوه شې، د قرآن د اسرارو دروازې به ستا پر مخ پرانیستی شي.

٦- د (ناشئة) لپاره دوه ترجمې او د همدغو ترجمو له مخې د دې آیت لپاره دوه تفسیرونه مومو:

- ځینو (ناشئة) په مصدري معنی اخیستې او آیت ئې داسې ترجمه کړی: دا د شپې پاڅېدا سخته ده (د نفس) ترپښو لاندې کولو په سبب؛ او ښه محکمه ده د وینا کولو لپاره. یعني د شپې له خوبه راپاڅېدا ګران کار دئ، په نفس پښه اېښودل او د مشقت منلو ته ئې د تیارولو مترادف ده؛ او د قرآن د ویلو لپاره مناسب وخت دئ.
- خو نورو (ناشئة) په خپلې اصلي معنی، (اسم فاعل) نیولې؛ او د دوی له نظره د آیت ترجمه او تفسیر داسې دئ: بې شکه چې تر پښو لاندې کولو کې د شپې پاڅېدونکی مضبوط وي او په وینا کې تکړه. یعني د شپې پاڅېدونکی د خبرو مغز ته د رسېدو او په ټولو اړخونو ئې د ښه پوهېدو لپاره جوګه وي او د خپل ما في الضمیر په بیانولو کې ښه تکړه وي.

دا دوهم تعبیر په دوه دلیله دقیق او غوره دئ:

د (ناشئة) اصلي معنی په کې مراعات شوې. دا سمه نه ده چې هسې او له کوم دلیل او مجبوریت پرته د لفظ اصلي معنی پرېږدو او محتمل غیر اصلي معنی ئې اختیار کړو.

د دې لفظ مصدري معنی د دې آیت واضح او روښانه مفهوم نه شي افاده کولی، چا چې دا معنی غوره کړې د آیت د واضح مطلب په بیانولو کې له اشکال سره مخامخ شوي او په تکلف سره توانېدلې چې د فهم وړ تعبیر وړاندي کړی شي، خو دوهمه توجیه هم واضح ده او هم دا آیت له مخکینیو مطالبو سره همغږی کوي.

د (اشد وَطْـأً) په ارتباط هم د مخکیني اختلاف رأی له کبله څو تفسیرونه مومو:

- قیام اللیل ګران کار دئ، د انسان په نفس ګران تمامېږي، د انسان نفس مهاروي او انسان ته د دې مجال ورکوي چې خپل هوس تر پښو لاندي کړي. دا خبرې په خپل خپل ځای کې سمې دي خو د دې آیت الفاظ دا مفاهیم نه افاده کوي، مګر په ډېر تکلف سره او د الفاظو د اصلي معنی په ځای د غیر اصلي معانیو راوړلو سره.
- د شپې پاڅېدونکی انسان کولی شي د خبرو مغز ته ورسېږي او په ټولو اړخونو ئې ښه وپوهېږي، ذهن ئې حساس شي، ځیرکتیا ئې په برخه شي؛ او په ژورو خبرو د پوهېدو جوګه شي او د خپل ما في الضمیر په بیانولو کې ښه تکړه شي. یعني که څوک غواړي د قرآن په دې باعظمته کتاب پوه شي، د شپې له پلوه دي د هغه تلاوت ته ملا وتړي؛ او که څوک غواړي د خپل ذهن او فکر خبرې په اغېزمنه بڼه کې نورو ته انتقال کړي نو د شپې له پلوه دي هغه ترتیب کړي.

که دا آیت له مخکې او وروسته آیتونو سره په ګډه وڅېړو نو په واضح توګه پوهېدی شو چې دوهم تعبیر دقیق دئ، دا ځکه چې په مخکیني آیت کې د (ثقیل قول) د القاء خبره شوې او دا آیت وایي چې ولې شپه د قرآن د تلاوت لپاره وړ او مناسب ده، څه مزیت لري او څنګه په دې اړه ستا مرسته کولی شي چې په درنو خبرو پوه شې؟ او د ورځې په نسبت څه امتیاز لري؟ په شپه کې کولی شې په ثقیل قول ښه پوه شې، په ټولو ابعادو ئې احاطه وکړې او ژورو برخو ته ئې ورسېږې؛ او بیا د خپلو انتباهاتو د بیان لپاره مناسب، جامع او ښکلي الفاظ پیدا کړې. که په قیام اللیل او د شپې له لورې د قرآن په تلاوت عادت شوې نو د قرآن په اسرارو او رموزو د پوهېدو دروازې به دي په مخکې پرانیستل شي، له قرآن خپل دقیق انتباهات به په مضبوطه توګه خپل ذهن ته سپارې او د دغو ژورو انتباهاتو ښه او تکړه ویاند به شې.

قیام اللیل څو امتیازات لري:

الف: فضاء ئې آرامه او خاموشه، ټول په خوب ویده، سکوت هري خوا ته سیوری غوړولی، نه مزاحم غږ چې ستا حواس مصروف کړي، نه جالبي صحنې ځان درښیي چې سترګي دي جلب او ذهن دي مشغول کړي، حواس دي فارغ او د ذهني تمرکز مناسب

فرصت درته میسر، دماغي ستړیا دي رفع او د تفکر لپاره مستعد او چمتو، د ورځې په دوران کې د انسان دماغ سخت مصروف وي، هغه بې شمېره غږونه چې په فضاء کې خواره دي په مسلسل توګه او حتی پرته له دې چې انسان ورته متوجه وي؛ اوري، تجزیه کوي ئې، خطرناك له ناخطرناکه بېلوي، ډول ډول صحنې او مناظر د سترګو له لارې وینې، دقیق انځور ئې، له لوړو ژورو او رنګونو سره په خپلې حافظې کې ساتي، د غذا په هضمولو او د وجود سلول سلول ته د ضروري توکو د رسولو په کار کې مصروف وي، ټول حواس ئې فعال وي او دماغ ئې مشغول کړی وي، خو په شپه کې ستا دماغ له ډېرو دغو مصروفیتونو فارغ او دې ته چمتو وي چې په ژور غور کولو کې ستا مرسته وکړي.

ب: ستا قیام اللیل ستا د اخلاص او جدیت نښه ده او ښیي چې ته په خپل کار کې جدي یې، د مسئولیت احساس راویښ کړی یې، خپل مأموریت ته په درنه سترګه ګورې، د الله تعالی د راضي کولو په موخه دي د یوه مقدس؛ اوږد او شاق سفر اراده کړې، د الله تعالی مرستې ته ځان اړ ګڼې، د شپې په خلوت کې له هغه سره راز او نیاز کوې، د نیازمندۍ لاسونه اوچتوې، له خپل مهربان رب غواړې چې ستا لارښوونه وکړي، خپل توفیق او عنایت ستا په برخه کړي، ستا اضطراب، پرېشاني، تشویشونه او اندېښنې ختمې کړي، د سمې لارې د پېژندو او په هغې د تلو توفیق درکړي، د همدې لپاره دي د قرآن په وړاندې زنګون په زمکه اېښی او په اسرارو کې ئې د غور لپاره دي د شپې زړه انتخاب کړی، چې نه په کې د ریاء او ځان ښودنې شائبه شته او نه دي تلاوت عادي تلاوت، بلکې تلاوت دي داسې په اهتمام سره چې د شپې زړه دي ورته غوره کړی او له خوبه ورته راپاڅېدلی یې، نرم او ګرم بستر دي ورته پرېښی، تر ټولو حساس او مناسب وخت دي ورته غوره کړی. سمیع او علیم خدای هم تا ته رانږدې شوی او د دنیا له نژدې آسمانه درته فرمایي: آیا څوك شته چې بخښنه وغواړي چې بخښنه ورته وکړم؟ آیا کوم توبه کوونکی شته چې توبه ئې قبوله کړم؟ آیا کوم دعاء کوونکی شته چې دعا ئې اجابت کړم؟

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ فَيَقُولُ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ وَمَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ * رواه مسلم

له ابوهریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی د هري شپې په وروستۍ درېیمه برخه کې د دنیا آسمان ته نزول کوي او فرمایي: څوك راته دعاء کوي چې قبوله ئې کړم؟ او څوك له ما څه غواړي چې ورئې کړم؟ او څوك

له ما مغفرت غواړي چې بخښنه ورته وکړم؟

۷- دا آیت دوه مطالب افاده کوي:

- د دې سورې د نزول په وخت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېرې مصروفې ورځې درلودې، د دعوت لمن خوره شوې وه او هغه ته ئې زیات مصروفیتونه راپیدا کړي وو.
- ورځ داسې وي چې هر انسان په کې په یوه او بل ډول مصروف وي، یا ئې لاس پښې، یا ئې زړه او دماغ؛ او یا ئې سترګې او غوږونه مصروف وي، دا مصروفیتونه ئې نه پرېږدي چې په ذهني تمرکز او پوره غور سره قضایا وڅېړي او تفکر وکړي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم چې څه ته بلنه ورکوي هغه ژور تفکر ته ضرورت لري، د دې لاري لاروی باید خپل لوری په بصیرت، فراست، غور او دقت سره غوره کړي، هر ګام باید په احتیاط او هوښیارۍ سره اوچت کړي، عمل ئې باید شعوري او هدفمن وي، څوک چې غواړي د رسول الله صلی الله علیه و سلم ملګرتیا وکړي او د ده په لار روان شي باید په خپل ژوند کې د تعمق، تفکر او غور شېبې ولري، قیام اللیل د دغه غور او تفکر فرصت درته برابروي.

هغه قرآن چې د الله تعالی په لوري ستا د سفر توښه؛ او د دې لاري په لوړو ژورو کې ستا لارښود او ځلانده مشعل دئ، تعمق ته ضرورت لري، څوک چې غواړي د دې ځلانده مشعل حامل او د هغه په رڼا کې د الله تعالی په لوري حرکت وکړي باید تر ټولو مناسب فرصت (د شپې زړه) د هغه د دقیق او ژور تلاوت لپاره انتخاب کړي. ورځني مصروفیتونه انسان نه پرېږدي چې په ثقیل قول سم او دقیقاً پوه شي.

۸- خو دا ورځني مصروفیتونه باید د دې باعث نه شي چې خدای هېر کړې، که د ورځې له پلوه په پوره تعمق او تدبر سره د قرآن د تلاوت مناسب فرصت نه مومې او د شپې فارغې شېبې دي د دې لپاره غوره کړې، د ورځې په اړدو کې د مصروفیتونو تر څنګ الله تعالی یادوه او هیڅ شېبه مه ترې غافله کېږه.

له تبتل (انقطاع او پرېکون) یا مراد دا دئ چې د شپې په زړه کې خپلې اړیکې له هر څه او هر چا سره غوڅې کړه او په پوره انهماك او دقت د الله تعالی په ذکر او د قرآن په تلاوت لګیا شه. او یا ئې مراد دا دئ چې له بل هر چا طمع او توقع غوڅه کړه، د الله تعالی له درشل پرته هیچا ته طمع او هیله مه ساته، اتکاء او اتکال دي باید یوازي او یوازي په الله تعالی وي او انتظار او هیله دي یوازي ده ته.

۹- ستا تبتل باید د هغه رب په لوري وي چې هم ستا رب دئ او هم د مشرق او مغرب رب، هغه چې لمر د ده په اراده د ورځې راخېژي او د شپې پرېوځي، شپه او ورځ د ده په

اراده راغي، په عالم کې هر تحول او بدلون د ده له لوري دئ، له ده پرته بل معبود نشته، باید دی خپل وکیل ونیسې او اتکاء او اتکال دي یوازي په ده وي.

وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرٗا جَمِيلٗا ۝١٠ وَذَرۡنِي وَٱلۡمُكَذِّبِينَ أُوْلِي ٱلنَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيلًا ۝١١ إِنَّ لَدَيۡنَآ أَنكَالٗا وَجَحِيمٗا ۝١٢ وَطَعَامٗا ذَا غُصَّةٖ وَعَذَابًا أَلِيمٗا ۝١٣ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ كَثِيبٗا مَّهِيلًا ۝١٤ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ رَسُولٗا شَٰهِدًا عَلَيۡكُمۡ كَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ رَسُولٗا ۝١٥ فَعَصَىٰ فِرۡعَوۡنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذۡنَٰهُ أَخۡذٗا وَبِيلٗا ۝١٦ فَكَيۡفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرۡتُمۡ يَوۡمٗا يَجۡعَلُ ٱلۡوِلۡدَٰنَ شِيبًا ۝١٧ ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرُۢ بِهِۦۚ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَفۡعُولًا ۝١٨ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ۝١٩

۱۰- او په هغه څه صبر وکړه چې دوی ئې وایي؛ او په غوره او نېکه توګه تري بېل شه. ۱۱: او ما او هغه مکذبین سره پرېږده چې د نعمت خاوندان دي؛ او مهلت ورکړه لږ. ۱۲: یقیناً چې له موږ سره عبرتناك عذابونه او دوزخ دئ. ۱۳: او په ستوني کې نښتونکی خوراك او دردناك عذابونه دي. ١٤: هغه ورځ چې غرونه او زمکه به وخوځي او غرونه به د شګو ډېرې ته ورته شي. ۱۵: یقیناً چې موږ ستاسو په لوري یو داسي پیغمبر ولېږلو چې پر تاسو به شاهد وي، همغسي لکه چې د فرعون په لوري مو یو پیغمبر ولېږلو. ١٦: او فرعون له دغه پیغمبر عصیان وکړ، نو موږ په سختي نیوني سره ونیوو. ۱۷: نو که کافر شئ له هغي ورځي به ځان څنګه ساتئ چې واړه زاړه کوي. ۱۸: دا آسمان پرې دړي وړي کېږي، وعده ئې تر سره کېدونکې ده. ۱۹: یقیناً چې دا یو تذکر دئ، نو چا چې غوښتي وي د الله په لوري دي (د رسېدو) لار غوره کړي.

۱۰: د شپې عابد او د ورځې مجاهد شه، نیمایي شپه په لمانځه، دعاء او تلاوت کې تېروه، په خلوت کې او له خلکو بېل؛ او ورځې په مبارزه کې، د الله تعالی لوري ته د خلکو په رابللو کې، په صبر سره؛ او د دښمن تبلیغاتو او مخالفتونو ته په پوره بې اعتنائي سره، کله چې د خلکو په دعوت او بلنې لګیا یې په صبر سره عمل کوه او کله چې له دوی بېلېږې

په غوره توګه ترې ښلېږه، د دوی لوري ته د بیا بیا راګرځېدو او د مجدد دعوت په نیت ترې ښلېږه، د هغه چا په څېر مه کېږه چې له خلکو ښلېدل ئې مرور ته ورته وي، حوصله ئې ختمه شوې او له خلکو مأیوس شوی وي، له خپل مخاطب سره داسې مقاطعه کوي چې نه ئې د بیا دعوت او رابللو عزم او اراده لري او نه ترې د توافق او ملګرتیا طمع، نه؛ بلکې حکیم او صابر، ستړیا نه منونکی او هیله من دعوتګر شه.

۱۱- په دې آیت کې څو حساس او ظریف ټکي زمونږ توجه جلبوي:

الف: ته باید دا اندېښنه کاملاً پرېږدې او هیڅکله دا ټمنی ونه کړې چې ستا او ستا د دعوت مخالفین دي تباه شي، ټغر دې ټول او له منځه دي ولاړ شي؛ او په الهي عذاب دي اخته شي، دا کار ستا له لوړ شأن سره نه ښایي، ستا کار د خلکو دعوت او اصلاح ده، تل باید د دوی د اصلاح په فکر کې وې، که ئې یو ځل مخ واړاوو، که ئې دوه ځلي او که لس ځلي، ستا مأموریت او مسئولیت دا دئ چې خلك به د الله تعالی لوري ته رابلې، په پرله پسې توګه او په صبر او استقامت سره، د هغو کسانو مجازات خپل رب ته حواله کړه چې ستا له دعوت سره مخالفت ته ملا ټرې، پرېږده ستا رب په خپله او څنګه چې غواړي دوی مجازات کړي او مناسبه معامله ورسره وکړي.

ب: په ټولنې کې د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت مکذبین او مخالفین تل هغه خلك وي چې شتمن دي، له حرامو لارو شتمن شوي، مرفه دي، د ټولنې موجود وضعیت او حاکم اقتصادي نظام د دوی د رفاه او سوکالۍ او د نورو د فقر، لوږې او محرومیت شرائط برابرکړي، هغه چې په ټولنې کې هر تحول او بدلون ځان او خپلو ناروا ګټو ته ګواښ ګڼي، که له دعوت سره مخالفت کوي، که له زاړه او منحط مذهب دفاع کوي او د ټولنې د موجود وضعیت سرسخت حامي او مدافع وي، دا ټول د دې لپاره وي چې دا مذهب د دوی په خدمت کې وي، د عوامو د غولولو او د مترفینو او مستکبرینو د رفاه او تنعم وسیله وي، دا مذهب د ټولنې د مترفینو او مستکبرینو په پښو کې د مستضعفینو قرباني کېدا توجیه کوي، دې وضعي دوی ته شتمني او ثروت ورکړی، نو دا ډله به خود هڅه کوي چې نه دا مذهب بدل شي او نه د اوضعیت.

ج: د دغه ظالم او ستمګر ټولګي دوران پای ته رسېدلی، ډېر ژر به ئې ټغر ټول شي، لږ صبر وکړه، پرېږده چې دوی له خپل شوم او محتوم برخلیك سره مخامخ شي.

۱۲-۱۳: د دنیا عبرتناك عذابونه او د آخرت د دوزخ کنده زمونږ په واك کې ده، د دنیا او آخرت د عذاب پرېکړه مونږ صادروو، مطمئن اوسه چې په دنیا کې به ئې داسې تعذیب کړو چې د نورو لپاره د عبرت باعث شي؛ او په آخرت کې به ئې د اور په کنده کې واچوو، په

دنيا کې ئې له حرامو لارو ځان ته غوړ، خوندور او خوږه خوراکونه برابرول؛ اوس به ئې خوراك تریخ، اغزن، ګنده، بدبوی او په ستوني کې نښتونکی وي او عذاب به ئې سخت دردناك.

١٤- د دې دردناك اخروي عذاب لړې به په هغه ورځ پیل شي چې زمکه او غرونه به ئې خوځي او داسي به ټوټې ټوټې شي لکه د شګو ډېرې.

١٥-١٦: دوی دي د خپل عبرتناك دنیوي عذاب څرنګوالی د فرعون د عبرتناك برخلیك په هنداره کې وګوري، هغه ته هم دغسي پیغمبر ولېږلی شو، له دې پیغمبر سره ستاسو مخالفت همغسي دئ لکه له موسی علیه السلام سره د فرعون مخالفت، ستاسو د مخالفت پایله به هرو مرو همغسي وي چې فرعون ورسره مخامخ شو؛ د الله تعالی سخته نیونه.

دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم د شاهد په نامه یاد شوی او معنی ئې دا ده چې اې قریشو! د ځان او د خپلو کړنو په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم قضاوت وروستی قضاوت وګڼئ، داسي لکه په یوې محکمې کې د شاهد شهادت، چې قاضي ئې وروستۍ او پرېکنده وینا ګڼي؛ او د هغه له مخي د مجرم په اړه پرېکړه کوي. د ده انذار او خبرداری جدي وګڼئ، ستاسو د موجوده وضعي او ستاسو د کړو وړو، افکارو، عقائدو او اخلاقو په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم قضاوتونه او څرګندوني داسي وګڼئ لکه په الهي محکمې کې د شاهد څرګندوني، که ستاسو وینا د ده له وینا سره او ستاسو کړه وړه د ده له کړنو سره مغایرت درلود، نو په الهي محکمې کې به ستاسو د محکومیت او مجازات پرېکړه کېږي.

١٧-١٨: که مو د کفر او انکار لاره غوره کړه او ګمان مو وکړ چې له بد برخلیك سره به مخامخ نه شئ او احیاناً ستاسو ځیني له دنیوي عذاب سره له مخامخ کېدو وړاندي له دنیا ولاړل، د آخرت له عذاب به ئې څوك ژغوري؟! د هغې ورځې له عذاب چې حتماً راځي او هومره هیبتناکه ده چې واړه په کې زاړه کېږي او آسمانونه په کې دړي وړي کېږي. څنګه به د دغه محتوم الهي وعید مخنیوی کوئ؟

دا آیت ښیي چې مشقت او ستونزي د انسان د ژر او له وخته مخکې زړښت باعث کېږي او وېښتان ئې سپینوي.

هغه ورځ دومره هیبتناکه ده چې آسمان له دې ټول سترواليِ او عظمت سره سره د هغه په وړاندي د مقاومت تاب او توان نه لري، ټوټې ټوټې به شي، نو ته اې انسانه!! ووایه چې په دې ورځ به ستا حالت څنګه وي؟

١٩- باید وګورو چې دلته په (هذه) سره د دې سورې ټولو مضامینو ته اشاره شوې، یا ټول

قرآن ته او يا په قريشو کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم بعثت او د فرعون په لوري د موسى عليه السلام له لېږلو سره د هغه تشبيه ته، چې په مخکينيو آيتونو کې ورته ګوته نيول شوې؟! د دې لپاره چې په کار ده ضمير تر ټولو نژدې مرجع ته راجع کړو، دلته بايد (هذه) دغې قضيې ته راجع کړو، يعني دا تاسو ته يوه يادونه ده، د الله تعالى له پيغمبر د سرغړاوي او عصيان يوه تاريخي بېلګه ستاسو مخې ته ږدي، چې په دې هنداره کې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د خپل مخالفت پايله وګورئ، تاسو په خپل انتخاب کې آزاد يئ، له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملګرتيا کوئ او الله تعالى ته د رسېدو لار غوره کوئ که د فرعون لار غوره کوئ او د ده په برخليك اخته کېږئ.

إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيْلِ وَنِصْفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ ۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ ۚ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ وَءَاخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِى ٱلْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۚ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقْرِضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ۚ وَٱسْتَغْفِرُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٠﴾

٢٠- بې شکه چې ستا رب پوهېږي چې ته هم نژدې دوه برخي د شپې؛ او نيمايي او درېيمه ئې پاڅېږي او ستا د ملګرو يوه ډله هم؛ او الله شپه او ورځ اندازه کوي، پوه شوی چې هيڅکله ئې نه شئ احاطه کولی، نو تاسو ته ئې بخښنه وکړه، نو اوس د قرآن هومره مقدار تلاوت کړئ چې درته آسانه وي، پوه شوی چې ستاسو ځينې به ناروغه وي؛ او نور به په زمکه د الله د فضل په لټه کې په سفر وځي؛ او نور به د الله په لار کې جنګېږي، نو ځکه هومره قرائت وکړئ چې درته آسانه وي؛ او لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ؛ او الله ته ښه پور په پور ورکړئ؛ او د ځان لپاره چې د ښېګڼې هر څه مخکې لېږئ او د الله په خوا کې ئې بيامومئ، دا غوره دئ او د اجر له پلوه ستر؛ او له الله بخښنه وغواړئ، بې شکه چې الله دئ مهربان بخښونکی.

۲۰- دا آیت چې د دې سورې وروستی او تر ټولو اوږد آیت دئ څو اساسي مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

۱- معلومېږي چې دا ېېله برخه ده او له لومړۍ برخې ډېره وروسته نازله شوې، په لومړۍ برخي کې د قیام اللیل سپارښتنه شوې وه او دلته ویل شوي چې هو؛ تاسو په دې لارښوونې عمل وکړ، کله مو نژدې دوه برخي د شپې، کله نیمایي او کله درېیمه برخه په ویښه او قیام اللیل تېروله، له دې پلوه هم معلومېږي چې دا آیت تر مخکینۍ برخي ډېر وروسته نازل شوی چې اوږدوالی ئې مدني سورتونو ته ورته دئ، د لومړۍ برخي آیتونه لنډ لنډ او د مکي سورتونو په څېر دي او دا آیت اوږد او مدني سورتونو ته ورته دئ.

۲- د رسول الله صلی الله علیه و سلم یارانو د سورې په لومړیو آیتونو کې د قیام اللیل په اړه امر ځان ته هم متوجه ګڼلی، د همدې لپاره دوی هم په قیام اللیل کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم ملګرتیا کوله؛ او په دې سنت ئې عمل کاوو.

۳- له دې وینا (فتاب علیکم: نو تاسو ئې وبخښلئ) معلومېږي چې په ابتداء کې د قیام اللیل لارښوونه لزومي او وجوبي او د قرآن هر بااېمانه مخاطب ته راجع وه، خو اوس او د دې آیت له راتلو وروسته تخفیف په کې راغی.

٤- د دې تخفیف لپاره څو دلائل بیان شوي:

- د دعوت لمن پراخه شوې، په لیکو کې ځوان، زور، روغ او بیمار شته، د ضعفاوو او بیمارانو شته والی د دې تقاضی کوي چې په مخکیني حکم کې د مقدار او مورد له اړخه تخفیف راشي، ځیني ترې مستثنی شي او ځینو ته راکم او مختصر.
- په مدینه منوره کې ستاسو وضع د مکې په څېر نه ده چې نه مو آزادانه سفر کولی شو او نه تجارت؛ او نه د حلال رزق په لټه کې له یوې سیمې بلې ته تګ راتګ؛ اوس به ځیني سفرونه کوي، په دې تخفیف کې د دوی مشکلات هم په پام کې نیول شوي.
- اوس به له جنګونو سره مخامخ کېږئ، ځیني به د الله په لار کې جهاد ته وځي او په سنګرونو کې به پاته کېږي، دوی ته به په قیام اللیل عمل کول ګران وي، د دوی لپاره دا تخفیف راغلی.

۵- د قتال او جنګیالیو ذکر صریحاً شیي چې د سورې دا برخه په مدینه منوره کې نازله شوې، د (قتال في سبیل الله) په اړه بحث د مدني سورتونو ځانګړتیا او خصوصیت دئ، د کلام له فحوی معلومېږي چې دا آیت د قتال د إذن له راتلو وروسته او په عملي توګه د قتال له پیل کېدو د مخه نازل شوی.

٦- دغو معاذیرو ته په پام سره، ستاسو د قیام اللیل مقدار ستاسو شرائطو او ظروفو ته او

ستاسو خپل انتخاب ته پرېښودل شوی، څومره چې درته مقدور او میسور وي او درباندې ګران نه تمامېږي؛ د قرآن تلاوت وکړئ. که څه هم د قیام اللیل په ارتباط د لمانځه یادونه نه ده شوې؛ او د هغه په ځای د قرآن تلاوت یاد شوی، خو له قیام مراد د تهجد لمونځ دئ، چې دلته د قرائت په نوم یاد شوی؛ او دا یا له دې کبله چې د لمانځه یوه ډېره مهمه او اساسي برخه د قرآن تلاوت دئ؛ او یا له دې کبله چې قیام اللیل اصلاً د قرآن د تلاوت لپاره دئ خو د لمانځه په حالت کې د هغه تلاوت لا زیات اغېزمن او د ثواب تر لاسه کولو ذریعه ده.

۷- د شپې له لوري د قرآن د تلاوت تر څنګ باید خپل پنځه وخته لمونځونه په سمه توګه اداء کړئ، د خپل مال زکات ورکړئ، له فرض زکات علاوه هم د خپلو شتمنیو څه برخه د الله تعالی په لار کې انفاق کړئ، دا انفاق که مخلصانه وي، له ریاء او غرض پاك او منزه او مخصوصاً د جهاد په چارو کې وي، نو الله تعالی ئې په خپلې ذمې د قرض او پور په څېر نیسي او هغه حتماً خپل پور اداء کوي او څو برابره به ئې بېرته درګرځوي. دا هر څه به د الله تعالی په خوا کې بیامومئ.

۸- څه چې مو د الله تعالی لوري ته لېږلي او هغه ته مو د حسنه پور په توګه ورکړي او د ده په لار کې انفاق سره مو د ده په خوا کې ساتلي، همدا ستاسو تر ټولو غوره مال؛ او د ستر اجر تر لاسه کولو وسیله ده. دا مطلب د یوه روایت په ضمن کې داسې بیان شوی:

قال عَبْدُ الله: قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: «أَيُّكُمْ مالُهُ أَحَبُّ إليهِ مِنْ مَالِ وارِثِهِ»؟ قالوا: يا رَسُولَ الله، ما مِنَّا أَحَدٌ إلَّا مالُهُ أَحَبُّ إليهِ مِنْ مالِ وارِثِهِ. قالَ: «اعْلَمُوا ما تَقُولونَ»، قالوا: ما نَعْلَمُ إلَّا ذاكَ يا رَسُولَ الله، قالَ: «ما مِنْكُمْ رَجُلٌ إلَّا مالُ وارِثِهِ أَحَبُّ إليهِ مِنْ مالِهِ». قالوا: كَيْفَ يا رَسُولَ الله؟ قالَ: «إنَّما مالُ أَحَدِكُمْ ما قَدَّمَ، ومالُ وارِثِهِ ما أَخَّرَ». رواه ابن حبان

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په تاسو کې څوك خپل مال د خپل وارث تر مال غوره ګڼي؟ صحابه وو وویل: یا رسول الله! په موږ کې هیڅوك داسې نشته چې خپل مال د خپل وارث تر مال پرې ګران نه وي، وئې فرمایل: ځیر شئ چې څه وایئ، وئې ویل: یا رسول الله! له دې پرته په بل څه نه پوهېږو، وئې فرمایل: ستاسو هیڅوك داسې نه دئ چې د وارث مال دې تر خپل مال پرې ګران نه وي، وئې ویل: دا څنګه یا رَسُولَ الله! وئې فرمایل: ستاسو د هر یوه خپل مال یوازې همغه مال دئ چې مخکې ئې لېږلی او د وارث مال ئې هغه دئ چې راتم کړی ئې دئ.

۹- تل له خپل رب بخښنه وغواړئ، په هيڅ حالت کې دا ګمان مه کوئ چې کمال مطلوب او لوړ معنوي مقام ته رسېدلي يئ، پام چې داسي غلطه انګېرنه مو له مخکې تلو راتم نه کړي، په خپل اوسني ځای مو په ټپه ونه دروي، خوځښت مو متوقف نه کړي، د الله تعالی په لوري تګ او لوړو لوړو معنوي پوړو ته د رسېدو تکل او هڅه مو ټکنۍ نه کړي، په هر حالت او هر مقام کې، که هر څومره لوړ وي، بايد د قصور او وروسته پاته کېدو احساس وکړئ، هره شېبه چې پر تا تېرېږي، که څه هم دا دي د الله تعالی په عبادت کې او حتی په جهاد في سبيل الله کې تېره کړې، بايد احساس دي دا وي چې په دې شېبو کې دي تر دې زيات څه کولی شوی، د الله تعالی په لوري دي تر دې زياته فاصله پلي کولی شوی، تر دې مزيد لوړ تلی شوی، دا احساس به تاسو د مغفرت غوښتني ته هڅوي، ستا استغفار په حقيقت کې د دې نښه ده چې په تا کې د مزيد معنوي ارتقاء، مزيد ځان روزنې، روحي او اخلاقي تربيت عزم ژوندی او ځواکمن دئ. بخښنه وغواړئ چې ستاسو رب مهربان بخښونکی دئ، نه يوازې دا چې ګناهونه بخښي، بلکې خپل رحمت او پېرزوينه د هغه ګنهګار بنده په برخه کوي چې بخښنه غواړي. د توبه کوونکي بنده په توبې دومره خوښيږي لکه تاسو چې د داسي يو څه په بيا موندلو خوښېږئ چې ژوند موورپوري تړلی دئ.

عن أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم: «للّهُ أَشَدُّ فَرَحاً بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ، حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ، مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضٍ فَلاَةٍ. فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ. وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ. فَأَيِسَ مِنْهَا. فَأَتَى شَجَرَةً. فَاضْطَجَعَ فِي ظِلِّهَا. قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ. فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذَ هُوَ بِهَا، قَائِمَةً عِنْدَهُ. فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا. ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ: اللهمَّ أَنْتَ عَبْدِى وَأَنَا رَبُّكَ. أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ». رواه مسلم

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً چې الله تعالی د خپل بنده په توبه، هغه وخت چې ده ته توبه کوي، ستاسو تر هغه چا هم زيات خوشحاله کېږي چې په يوې بېدیا کې په خپلې سورلۍ سور وو، خو ترې ورکه شوه، خوراك او څښاك ئې هم پرې بار وو، نو مأيوس او ناهيلی شو، يوې وني ته راغی، په سيوري کې ئې ډډه ولګوله، له خپلې سورلۍ په قطعي توګه ناهيله شوی، دی په همدې حالت کې وو چې سترګې ئې وغړولې، سورلۍ ئې خوا ته ولاړه، تر واګې ئې ونيوله، بيا ئې له ډېرې خوشحالۍ وويل: بارئ ربه! ته مي بنده او زه دي رب يم!! له ډېرې خوشحالۍ ئې خبره غلطه کړه.

المدثر

د سورې معرفي:

د دې سورې نوم المدثر (د خوب څادر پر ځان غوړوونکی) دئ، چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۵۹ آیتونه لري، د لومړیو اوو آیتونو فواصل ئې مُدَّثِّر ته ورته وزن لري، د اتم ناقور او د نهم او لسم ئې د عسیر او یسیر هموزنه صیغې، له یولسمه تر اولسم پورې وحیدا ته ورته وزن، له اتلسمه تر اُوه دېرشمه پورې قَدَّر ته ورته اوزان، که اته دېرشم له نه دېرشم سره او دوه څلوېښتم له دري څلوېښتم سره یو ځای ولوستی شي نو له اته دېرشمه تر نه څلوېښتمه پورې به د ټولو آیتونو فواصل یمین او یقین ته ورته هموزنه صیغې شي، د پاته اُوه آیتونو فواصل د مستنفره په څېر وزن لري. له ۳۱ آیت پرته ټوله سوره په مکه مکرمه کې او په دوو مرحلو کې نازله شوې؛ اوه لومړي آیتونه ئې د بعثت په لومړیو کې او نور ئې په هغې مرحلې کې نازل شوي چې د قریشو سردارانو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په خلاف شدید تبلیغات پیل کړي، هغه ته ساحر وایي او قرآن د ده خپله وینا ګڼي.

د سورې په سر کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د (مدثر) په نامه خطاب شوی او ورته ویل شوي:

- **د خوب وخت تېر شوی، پاڅه او خلکو ته د روان وضعیت له بدو پایلو خبرداری ورکړه.**
- **خپل رب ستر ګڼه، د ستر رب په لوري بلنه ورکړه، په جګ غږ اعلان کړه چې خدای تر هر ستر ستر دئ؛ او یوازي دی ستر دئ، پام چې په خپل مأموریت او دندي (قیام او انذار) کې د ضعف او ناتوانۍ احساس ونه کړې، د مأموریت دروندوالی او سترواليا یا د دښمن کبر او لویي او غولوونکی ظاهر ئې په تا کې وېره راولاړه نه کړي، د الله تعالی په سترواليا ستا باور باید تا ډاډه او مطمئن کړي، نه د ضعف احساس وکړې او نه د وېرې او خوف، په خپل ستر رب اتکاء او اتکال سره خپل قیام او انذار ته ادامه ورکړه.**
- **جامه دي پاکه ساته، مه پرېږده چې په پاکه ځمنه دي د ګناه داغ کښېني، سپینه جامه دي داغجنه شي، څوك چې د نورو د اصلاح لپاره ملا تړي، د ټولنې د اصلاح لپاره (قیام) کوي او د ګناه له بدو او خطرناکو پایلو خلکو ته خبرداری ورکوي، باید له ګناهونو په**

لريوالي کې د ټولو لپاره قدوه او اسوه وي، د پاك ملنې بېلگه، لمن ئې له داغونو پاکه.

- رجز، تذبذب او زړه نازړه کېدا پرېږده، راسخ عزم سره مبارزې ته دوام ورکړه، متين او مصمم، استوار او ثابت قدم اوسه.
- پام چې د مبارزې اوږدوالی او طولاني کېدا دي مأيوس او ستومانه نه کړي، داسې نه چې د الله تعالی په لوري د خلکو مسلسل بلنه او د دوی منفي ځواب د دې باعث شي چې ووايې: نور نو بس ده، ډېري هلي ځلي مي وکړې نتيجه ئې ورنه کړه، نور نو له دې خلکو د خير طمع نه شي کېدی، د اصلاح انتظار ئې عبث دئ، په کار ده خپل دعوت متوقف کړم او د مبارزې دا لړۍ قطع کړم!! نه؛ هيڅکله داسې مه کوه، دعوت او مبارزه دي مه قطع کوه، مه خپل کار ډېر ګڼه او مه ئې په نيمايي لاري کې د پرېښودو پرېکړه کوه.
- د خپل رب لپاره صابر او ثابت قدم اوسه، ستا صبر بايد په الله تعالی ستا له ايمانه خړوبه شي او په دې باور او اعتقاد ولاړ وي چې (مبارزه) دي يو الهي مأموريت دئ، په دې پوري هيڅ اړه نه لري چې د خلکو عکس العمل څه دئ، مثبت که منفي، نه ئې د مخاطب منفي ځواب منتفي کولی شي او نه ئې مثبت ځواب پای ته رسولی شي.

د سورې په دوهمي برخي کې بحث د قيامت له سختي او هيبتناکي ورځي پېل کېږي او وايي چې په دې ورځ به په شپېلۍ کې پو شي، هيبتناکه ورځ به وي، د کافرانو لپاره ډېره سخته، په دې پسې متصل د هغه چا حالت د حيرانتيا وړ ګڼي چې الله تعالی په خپله، يوازي او د بل له ګدون پرته پيدا کړ، نه يوازي دا چې د بل له اشتراك پرته ئې پيدا کړی، بلکې پرېمانه مال ئې ورکړی، مطيع او د ده خدمت ته چمتو زامن ئې ورکړي، په زړه پوري شرائط او امکانات ئې ورته برابر کړي، خو دی پرې اکتفاء نه کوي، مزيد او مزيد غواړي، دا په داسې حال کې چې د الهي آيتونو په وړاندې له سختي دښمنۍ ډك چلن کوي، نو خود به الله تعالی ده ته خپل نعمتونه نه بلکې عذاب به ئې زياتوي، په زياتېدونکي نقمت او مشقت به ئې اخته کوي، دی همغه دئ چې د حق په مقابله کې ئې تدبيرونه سنجول، هري خوا ته به ئې سترګي رغړولې چې تر ټولو خطرناکه او اغېزمنه وسيله په لاس ورشي، د حق مخه پرې ونيولی شي، خلك پرې وغولولی شي، هغه چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم مخالفت ته ئې ملا تړلې وه؛ او د قرآن په اړه به ئې ويل: دا له جادو پرته بل څه نه دئ، له مخکينيو نقل شوی، هغه چې د الله تعالی دې باعظمت کتاب ته ئې په داسې سپکه سترګه وکتل، جادو ئې وګاڼو، د انسان کلام ئې وشمېرو، ژر به ئې د سقر کندې کې وغورځوو، هغه کنده چې نه څه پرېږدي او نه ئې خوشې کوي، څېرې تکې توري کوي، د

عذاب د ملائکو نولس ډلې پرې ګمارل شوې، چې هره ډله به ئې په ځانګړې توګه دوزخیان تعذیبوي؛ او دا بیان د دې لپاره دئ چې اهل کتاب یقین وکړي او د مؤمنانو ایمان لاهم مضبوط شي، اهل کتاب او مؤمنان باید په دې کې شك ونه کړي؛ او دا د دې لپاره هم دئ چې منافقان او د بیمارو زړونو خاوندان او کافران ووایي: په دې مثالونو سره خدای څه ویل غواړي؟ هو؛ د الله تعالی سنت همداسي دئ چې د هر حقیقت په وړاندې خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، ځینې پرې ایمان راوړي او مني ئې او ځینې ترې انکار کوي، د چا د لارښوونې سبب شي او د چا د مزید ضلالت موجب، د بیمارو زړونو خاوندان وایي: خدای د عذاب د فرشتو د شمېر په بیانولو سره څه ویل غواړي؟ دوی نه پوهېږي چې د الله تعالی د لښکرو شمېر له حد او حصر بهر دئ، له الله تعالی پرته هیڅوك پرې نه پوهېږي، د زمکې او آسمانونو هر څه د الله تعالی لښکري دي، دا خو یوه یادونه ده، ستاسو لپاره یو پند، ولې د دغې ورځې له رارسېدو انکار کوئ؟ ولې هغه محال ګڼئ؟ مګر ستاسو د اقناع لپاره دا سپوږمۍ او بدلېدا رابدلېدا ئې کافي نه ده؟ دغه چې د شپې په راتلو سره راڅرګنده شي او په تلو سره ئې له سترګو پټه، مګر نه ګورئ چې شپه پای مومي او ورځ ئې ځای نیسي، دغسي به د دې دنیا دوران هم د شپې په څېر پای ته رسي، دغسي به قیامت هم د ورځې په څېر راڅرګند شي؛ او هغه ستره پېښه به رامنځته شي، هغه ورځ چې هر څوك به د خپلو کړنو په ګرو کې وي، ښه عمل به ئې غوره مقام ته رسوي او بد عمل به ئې بد مکان ته، اصحاب الیمین به جنت ته درومي، له مجرمینو به پوښتي: څه شي دوزخ ته ورسولئ؟ په ځواب کې به ئې وایي: موږ خو لمونځ کوونکي نه وو، مسکینانو ته مو یوه ګوله مړۍ هم نه ورکوله، د بې هدفو او چټې خلکو په څنګ کې په خوشو لوبو مشغول وو او تر هغه مو له یوم الدین انکار کاوو چې مرګ مو راورسېدو!! نو ځکه به په دغه ورځ د هیڅ شفاعت کوونکي شفاعت ګټه ورونه رسوي، د ټېکې ځای به ئې د چا د شفاعت او سپارښتنې له مخې نه؛ بلکې د دوی د عملونو له مخې ټاکل کېږي. دا ولې دوی له دې تذکر او نصیحت ډډه کوي، تښتي، عجیبه تېښته؛ له زمري د صحرائي خره تېښتي ته ورته! دوی ته دا تذکر او نصیحت کافي نه دئ، غبرګون ئې دې ته ورته دئ لکه چې هر یو ئې غواړي د الله تعالی له لوري ېبل کتاب پرې نازل شي، په اصل کې دوی نه په آخرت باور لري او نه وېره ترې لري او دا قرآن هم د دې لپاره نه دئ راغلی چې دوی خامخا ایمان ته اړ کړي، دا خو یوازې تذکر او نصیحت دئ، انتخاب د دوی په لاس کې دئ، خوښه ئې چې د ایمان او هدایت لار غوره کوي او که د کفر او نفاق لار، الله تعالی همداسي غوښتي چې انسان په خپل انتخاب کې آزاد پرېږدي، الهي سنن ثابت او تغییر نه منونکي دي، څوك چې د دغو

الهي سننو له مخي شقي او بد بخت وي په هيڅ پند او نصيحت سره ئې څوك نه شي هدايت كولى. د سورې په پاى كې ويل شوي: يوازي الله تعالى د دې وړ دئ چې ترې وېره ولرئ او بخښنه ترې وغواړئ.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ ۝١ قُمْ فَأَنذِرْ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۝٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ۝٤ وَٱلرُّجْزَ فَٱهْجُرْ ۝٥ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ فَٱصْبِرْ ۝٧

۱- اې د خوب څادر پر ځان راكښونكيه. ۲- پاڅه او خبردارى وركړه. ۳- او خپل رب ستر گڼه. ٤- او جامه دي پاكه ساته. ٥- او تزلزل پرېږده. ٦- او مه (ئې) غوڅوه زيات (ئې) گڼونكى. ۷- او خپل رب ته صبر كوه.

۱: په دې مبارك آيت كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د مدثر (د خوب څادر په ځان راكښونكى) په نامه خطاب شوى، په دې خطاب سره هغه ته ويل شوي چې نور نو د خوبونو وخت تېر شوى، د ويښېدو، پاڅېدو او قيام وخت رارسېدلى، له دې وروسته به د ټولني د روان حالت په اړه بې اعتنائې نه كوې، په ناخوالو به سترگې نه پټوې، داسي نه چې د مسئوليت احساس ونه كړې، انزوا غوره وگڼې او بې تفاوته پاته شې!!

۲: د قيام او پاڅون وخت دئ، مه پرېږده چې دا وضع دوام وكړي؛ او ټولنه له تباهۍ سره مخامخ كړي، مخي ته ئې ودرېږه، د ټولني په دردناك حالت اعتراض وكړه؛ او د بدلون لپاره ئې ملا وتړه، خلكو ته د كفر او شرك له بدو او خطرناكو پايلو او د ټولني د موجوده حالت له وخيمو عواقبو خبردارى وركړه. د پيغمبرانو عليهم السلام د دندو كومه برخه چې ډېره درنه ده، له ډېرو مخالفتونو سره ئې مخامخ كوي، د ډېر صبر او لوى عزم او همت غوښتنه كوي همدا انذار او خبردارى وركول دي، خلكو ته ويل چې دا نظام ظالمانه دئ، بايد رانسكور شي، ستاسو فردي او اجتماعي حالت بدي پايلي لري بايد بدل شي، دا وضعيت به تاسو له بد او خطرناك عاقبت سره مخامخ كړي بايد ټغر ئې ټول كړئ، ستاسو سياسي مشران ظالمان دي، ستاسو مذهبي مشران ټگماران دي، ستاسو عقيده خرابه، ستاسو اخلاق بد، ستاسو مذهب له خرافاتو ډك دئ، په ظلم اعتراض، د فساد مقابله، په خرافاتو نيوكې او له پايلو ئې خلكو ته خبردارى وركول؛ پيغمبران عليهم السلام له مخالفتونو سره مخامخ كړي. څوك چې دا كار نه كوي، يوازي خلكو ته زېرې وركوي، فضائل ورته ښيي، د آرام اوسېدو، له سياست ځان لرې ساتلو خبرې ورته كوي؛ طبيعي ده

چې له مخالفتونو سره به نه مخامخ کېږي، خو دا دعوتګران د پيغمبرانو عليهم السلام په لاره روان نه دي او د انذار دندي ته ئې شا کړې.

۳: د خپل رب په عظمت او سترواليِ دي باور ټينګ وساته، تل ئې په عظمت اعتراف کوه، خپل ستر رب ځان ته کافي ګڼه، پام کوه چې د دښمن غولوونکی او ډاروونکی ظاهر په تا کې رعب، وېره او واهمه راولاړه نه کړي، د زر او زور خاوندانو په وړاندي د ضعف احساس مه کوه!! په ستر رب ستا ايمان او باور کافي دئ چې ته د حق هر دښمن، که هر څومره ځواکمن وي او په وسلو سمبال، حقير، ضعيف او کمزوری وګڼې؛ او هر ستر کار آسان وګڼې.

٤: د دې آيت دوه ترجمې شوې:

- جامه دي پاکه کړه.
- جامه دي پاکه ساته.

لومړۍ ترجمه اشکال لري، د دې معنی دا راوځي چې داغجنه لمنه دي پاکه کړه، د رسول الله صلی الله عليه و سلم په شأن کې دا خبره نامناسبه او ناسمه ده. دوهمه ترجمه دقيقه ده او معنی ئې دا چې مه پرېږده د ګناه ناولي داغونه دي سپينه لمن داغجنه کړي، مه پرېږده چې کوم تور داغ دي په سپينه لمن کښېني، تا خو په ټولنې کې د خور فساد په خلاف ملا تړلې او خلك د ظلم، فساد او ګناه له بدو پايلو وېروې، بايد خپل لوړ او پاکيزه شخصيت تل صاف او شفاف وساتې او له ګناهونو لري.

۵: د دې آيت هم دوه ژباړي شوې:

ځينو رجز د رجس يعني ناپاکي په معنی اخيستی او ويلي ئې دي: له ناپاکۍ ډډه وکړه او ځان تر ې لري ساته.

خو نورو رجز په خپلي اصلي معنی اخيستی، اصلي معنی ئې تذبذب او تزلزل دئ او آيت ئې داسي ترجمه کړی: تذبذب او اضطراب پرېږده، هيڅکله شيطان ته دا موقع مه ورکوه چې تا زړه نا زړه کړي، له راسخ عزم او کلك هوډ سره ميدان ته راووځه، ثابت قدم اوسه، په ډاډه زړه مبارزې ته دوام ورکړه، هيڅ حالت بايد په تا کې واهمه، تزلزل؛ او تشويش راولاړ نه کړي.

دوهمه ژباړه دقيقه ده او لومړۍ ناسمه.

٦: د دې آيت په اړه په تفسيرونو کې ګڼ شمېر تعبيرونه ګورو چې دوه ئې د يادولو وړ دي:

- له چا سره داسي احسان مه کوه چې تر هغه د زيات څه تر لاسه کولو طمع کوې.

• دعوت دي مه غوځوه او نيمګړی ئې مه پرېږده، له دې احساس سره چې ډېر ئې ګڼې؛ او وايې: نور نو بس دئ، ډېري هلي ځلي مي وکړې؛ نتيجه ئې ورنه کړه، نور نو له دې خلکو د خير طمع نه شي کېدی، د اصلاح انتظار ئې عبث دئ، په کار ده خپل دعوت متوقف کړم او د مبارزې دا لړۍ قطع کړم!! پام چې د مبارزې اوږدوالی او طولاني کېدا دي مأيوس او ستومانه نه کړي، داسي نه چې د الله تعالی په لوري د خلکو مسلسل بلنه او د دوی منفي ځواب تا مأيوس کړي، هيڅکله داسي مه کوه، دعوت او مبارزه دي مه قطع کوه، مه خپل کار ډېر ګڼه او مه ئې په نيمايي لاري کې د پرېښودو پرېکړه کوه. خپل کار زيات ګڼل، نتيجه ئې ناڅيزه شمېرل؛ او له همدې کبله خپله مبارزه ناتمامه او نيمګړې پرېښودل يوه اشتباه ده، پام کوه چې د دې اشتباه مرتکب نه شې.

۷: ستا دعوت او مبارزه يو الهي مأموريت دئ، د دې الهي مأموريت په تر سره کولو کې صابر او ثابت قدم اوسه، ستا صبر او استقامت دي د الله تعالی لپاره وي، د خلکو له غبرګون سره ئې مه تړه، داسي نه چې که دوی ستا دعوت ته مثبت ځواب وايو خپل کار جاري وساتې او که ئې نه مانو نو لاس ترې واخلې او مأيوس شې او صبر له لاسه ورکړې.

د دغو آيتونو د ترجمې او تفسير په اړه د څو ټکيو يادول مفيد ګڼم:

لومړی لارښوونه په لومړي آيت کې د خوبونو د پرېښودو او د پاڅون او انذار غوښتنه کوي او وروستۍ ئې په اوم آيت کې د صبر او استقامت سپارښتنه. په دې جامع لارښوونو کې دا لومړۍ او وروستۍ لارښوونې شيي چې نور ئې هم له قيام او انذار سره تړاو لري او د دغه ستر جهادي مأموريت ښېلي ښېلي برخي توضيح کوي. ټول آيتونه بايد د دغي اساسي موضوع په ارتباط او د هغې په رڼا کې تفسير شي، نه د مستقلو آيتونو په توګه او له اصلي موضوع سره له ارتباط پرته.

چا چې په پنځم آيت کې د (رجز) لفظ د رجس (پليتي او ناپاکي) په معنی اخيستی څو اشتباهات ئې کړي: لومړۍ دا چې د رجز اصلي معنی ئې له پامه غورځولې، اصلي معنی ئې ناپاکي نه بلکې تزلزل او اضطراب ده. دوهمه دا چې که رجز د ناپاکۍ په معنی ونيول شي نو پنځم آيت د څلورم تکرار جوړېږي؛ او د کلام بلاغت ته تاوان رسوي. او درېيمه دا چې رجز ئې په داسي معنی اخيستی چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه هيڅ مصداق نه لري، دوی دا د بت لمانځني په معنی اخيستی، حال دا چې رسول الله صلی الله عليه و سلم تر بعثت مخکې هم له بتانو بې زار او تر متنفر وو. دا خبره د ده له شأن ډېره لري ده، له بعثت وروسته او په لومړنيو لارښوونو کې به دا خبره څنګه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته شوې وي چې د بتانو له پليتي ځان لري کړه!! مګر دی بتانو ته

نژدې وو، چې ورته وويل شي: ترې لرې شه!! د رجز اصلي معنى اضطراب ده؛ او دا په دعوت پورې تړلې موضوع ده؛ او هر دعوتگر بايد متوجه کړی شي چې ځان ترې وساتي.

چا چې شپږم آيت داسې ترجمه کړی: (داسې احسان مه کوه چې ترې زيات ئې غواړې)، تعبير ئې په څو دلائلو ضعيف او کمزورى دئ: د لا تمنن اصلي معنى ئې نه ده رااخيستې، اصلي معنى ئې مه غوڅوه ده؛ او په دې معنى د قرآن په څو ځايونو کې راغلى دئ، لکه د التين په سوره کې چې ويل شوي: لهم اجر غير ممنون: دوى ته نه غوڅېدونکى اجر دئ. دې ته ئې پام نه دئ کړى چې دا لارښوونه د داسې لارښود کلام په ضمن کې راغلې چې په سر کې د ويښېدو، قيام او انذار غوښتنه کوي او په پاى کې د صبر او استقامت سپارښتنه؛ او د بحث اصلي موضوع ئې دعوت، مبارزه او مقتضيات ئې ده، نه د منت او احسان په څېر مسائل، دې ته هم نه دي متوجه شوي چې منت په هر صورت کې، که لږ وي او که ډېر، قبيح عمل دئ، خو د دوى په تعبير کې يوازې هغه منت قبيح ګڼل شوى چې له ډېرې غوښتنې سره توأم وي. او دا موضوع چې د وړې هديې او واړه احسان په مقابل کې د لويې هديې او لوى احسان طمع مه کوه؛ داسې موضوع نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په لومړنيو لارښوونو کې ذکر شي او مخصوصاً د داسې لارښوونې په ضمن کې چې دى قيام او پاڅون ته رابلي.

فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ ﴿٨﴾ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴿١٠﴾ ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾ وَجَعَلْتُ لَهُۥ مَالًا مَّمْدُودًا ﴿١٢﴾ وَبَنِينَ شُهُودًا ﴿١٣﴾ وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمْهِيدًا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ﴿١٥﴾ كَلَّآ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِـَٔايَٰتِنَا عَنِيدًا ﴿١٦﴾ سَأُرْهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾ إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ وَٱسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

٨- نو کله چې شپېلۍ کې پو شي. ٩- نو دا ورځ به وي، ډېره سخته ورځ. ١٠- پرکافرانو ناآسانه. ١١- ما پرېږده او هغه چې پيدا مي کړ يوازې. ١٢- او ورته ومي ګرځاوو زياتېدونکى مال. ١٣- او حاضر چمتو زامن. ١٤- او تيار مي کړ ده ته پراخوالى. ١٥- بيا طمع کړي چې زيات ئې کړم. ١٦- نه ؛ داسې نه ده؛ هغه خو دښمن شوى دئ زما

د آيتونو. ۱۷- ژر به ئې واچوو په زياتېدونکي مشقت کې. ۱۸- دی خو همغه دئ چې فکر او سنجش ئې وکړ. ۱۹- نو مرګ پر ده چې دا څنګه سنجش ئې وکړ. ۲۰- بيا هم مرګ پر ده چې څنګه (بد) سنجش ئې وکړ. ۲۱- بيا ئې نظر وکړ. ۲۲- بيا ئې مخ تريو او تندی ګونځي کړ. ۲۳- بيا ئې شا کړه او ځان ئې ستر وښود. ۲٤- بيا ئې وويل: دا خو له نقل شوي جادو پرته بل څه نه دئ. ۲۵- دا خو د انسان له وينا پرته بل څه نه دئ.

۸-۱۰: دا مبارك آيتونه څو مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

- د قيامت راتګ محال مه ګڼئ، د ناممکن کار په سترګه ورته مه ګورئ، قيامت به په شپېلۍ کې له يوه پو کېدا سره پيل شي.
- دا ورځ به د کافرانو لپاره ډېره سخته او د نه زغملو ورځ وي.
- څوك چې نن د رسول الله صلى الله عليه و سلم او اسلام په ضد تبليغات کوي، د تبليغاتو په ناقور او سورني کې پو کوي او فتنې راولاړوي، بايد پوه شي چې سخته ورځ ئې په مخکې ده، هغه ورځ به په يوه داسې ناقور کې پو کړی شي چې د قيامت راتګ به اعلانوي.

۱۱-۲۵: دا آيتونه د هغه چا په اړه بحث کوي چې د الله تعالى له آيتونو سره ئې د دښمنۍ لپاره ملا تړلې، خپل مال ثروت، نفوذ او وجاهت له حق سره د دښمنۍ لپاره کاروي، تل په دې اندېښنو کې چې څنګه د رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده د دعوت مقابله وکړي، څه تبليغات وکړي، څه تهمت او افتراء ورپسې وتړي، خلکو ته څه ووايي چې د ده مخالفت او دښمنۍ ته ئې وهڅوي!! له ډېر غور او دقت وروسته؛ او په ښلو ښلو لارو چارو له فکر کولو وروسته ئې يوې خوا بلې خوا ته وکتل، مخ ئې تريو او تندی ئې ګونځي کړ، ژوره کينه ئې په څېرې کې راڅرګنده شوه، حق ورته معلوم وو خو ډډه ئې تړې کوله، په ډېر تکبر او غرور سره ئې وويل: دا قرآن چې پيغمبر عليه السلام ورته بلنه ورکوي، له جادو پرته بل څه نه شي کېدی، مګر نه ګورئ چې په ولس کې ئې اختلافات راولاړ کړي، پلار ئې له زوی او ورور ئې له ورور بېل کړی!! دا د کوډو او جادو داسې کتاب دئ چې د مخکينيو کوډګرو له کتابونو اقتباس شوی، دا ستاسو په څېر د يوه انسان کلام دئ، نه الهي کلام او پيغام، يوه انسان له ځانه جوړ کړی او خداى ته ئې منسوب کړی!! وليد بن مغيره د قريشو ستر او مخور مشر او په ټولو اجتماعي قضاياوو کې د دوی مرجع يو له هغو کسانو دئ چې د پيغمبر عليه السلام او قرآن مجيد په اړه ئې دا خبرې کړې وې، د قريشو د مشرانو په هغې غونډې کې چې په (دارالندوة) کې جوړه شوې

وه او مقصد ئې په هغو لارو چارو غور کول وو چې باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم په خلاف ئې غوره کړي، ده برخه والو ته ویلي وو: خپلې خبرې مو د دې سړي (رسول الله صلی الله علیه و سلم) په اړه یوه کړئ، د خلکو پوښتنو ته په ګډه یو ځواب ورکړئ، ووایئ چې د ده په اړه به خلکو ته څه وایو؟ ځینو وویل: ښه به وي چې د شاعر نوم ورکړو، ولید تندی تریو کړ او وئې ویل: عربو شعرونه ډېر اورېدلي، د ده خبرې له شعر سره هیڅ شباهت نه لري، نورو وویل چې د کاهن په نامه به ئې یاد کړو، وئې ویل: څوک چې د ده خوا ته ولاړ شي، خبرې به ئې د کاهنانو په څېر ونه مومي، نورو وویل: ښه ده چې لږونی ئې وګڼو، هغه وویل: څوک چې له ده سره مخامخ شي د جنون او لږونتوب نښه به ئې په خبرو او حرکاتو کې ونه ګوري، نورو وویل: وبه وایو چې جادوګر دئ، هغه وویل: ساحر په کومه معنی؟ ځواب ئې ورکړ: هغه چې په خلکو کې اختلافات او دښمني راولاړوي، دوستان سره بېلوي، ده وویل: هو دی جادوګر دئ او همدا کار کوي!!

د دې آیتونو شرح او تفصیل داسي دئ:

الف: د ۱۱ آیت په اړه د مفسرینو تر منځ دوه د پام وړ رأیي مومو:

لومړی: ما له دغه کس سره یوازي پرېږده، زه به یوازي او په خپله د ده چاره کوم.

دوهمه: داسي کس چې ما په خپله او د بل له مرستي او اشتراك پرته پیدا کړی، ما ته پرېږده، زه به ورسره حساب کتاب کوم.

دوهمه توجیه په دوه دلائلو غوره او دقیقه ده:

د (وحیداً) صیغه باید تر ټولو نژدې ضمیر ته چې په (خلقت) کې مضمر دئ راجع شي، نه (من) ته چې تر ې فاصله لري، لومړی توجیه مو په هغه صورت کې سمه ګڼلی شوی چې د آیت ترکیب داسي وی: ذرنی و من خلقته وحیداً

ورپسې آیتونه ښیي چې دا کلام د نعمتونو په لړ کې راغلی او معنی ئې یوازي دا کېدی شي چې ما په خپله پیدا کړی. یوازي په دې تعبیر سره ئې له وروستیو آیتونو سره یووالی او همغږي تأمین کېږي.

ب: له ۱۲ تر ۱٤ آیتونه ځیني نور هغه نعمتونه بیانوي چې په دغه مغرور دښمن د الله تعالی له لوري پېرزو شوي: پراخ او زیاتېدونکی مال، داسي ډېر زامن چې تل ئې خدمت ته چمتو ول، کافي امکانات او مساعد شرائط مو ورپه برخه کړل، دا ټول الهي نعمتونه ئې کافي ونه ګڼل، د شکر احساس ئې په کې راولاړ نه کړ، د لا زیات نعمتونو طمع لري.

ج: ټمنی به ئې څنګه تر سره شي، الله تعالی به څنګه نوري پېرزویني پرې کوي، په

داسې حال کې چې الهي نعمتونو طغيان ته هڅولی، د الله تعالی د آيتونو دښمنۍ ته ئې ملا تړلې، د نعمت په ځای به نقمت او عذاب ورته زيات کړي او په زياتېدونکي مشقت به ئې اخته کړي.

د: له ۱۸ تر ۲۵ آيتونو پورې د الله تعالی د آيتونو په اړه د دې معاند انسان د عناد او دښمنۍ څرنګوالی توضيح شوی؛ لومړی په اندېښنو کې لاړ، داسې حالت ئې غوره کړ چې ښيي په هغو لارو چارو غور کوي چې وکولی شي د رسول الله صلی الله عليه و سلم مقابله وکړي، په دې فکر کوي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه څه ووايي چې خلك ئې ومني، مرګ پر ده او پر دې غور او فکر ئې، حقيقت ورته څرګند وو خو غرض، مرض او کينې نه پرېښودو چې وئې مني، د رسول الله صلی الله عليه و سلم او قرآن په حقانيت پوهېدو خو تعصب او تکبر مخالفت ته هڅولو، نه پوهېدو چې نه رسول الله صلی الله عليه و سلم جادوګر دئ او نه قرآن د انسان کلام، خو له دې سره سره ئې وويل: دا د کوډو کتاب دئ، له مخکينيو کتابونو اخيستل شوی، دا د انسان کلام دئ چې خدای ته ئې منسوب کړی!!

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةً ۙ وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَيَزْدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِيمَٰنًا وَلَا يَرْتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِىَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾

۲۶- حتماً به ئې سقر کې واچوو. ۲۷- او څه شي خبر کړې چې سقر څه دئ؟ ۲۸- نه پرېښودل او نه خوشي کول. ۲۹- د څېرو بدلوونکی. ۳۰- نولس پرې ګمارل شوي. ۳۱- او د دوزخ ساتونکي مو له فرشتو پرته بل څوك نه دي ګرځولي؛ او د دوی شمېر مو د کافرانو له تعذيب پرته د بل څه لپاره نه دئ ګرځولی، د دې لپاره چې اهل کتاب پرې يقين وکړي او د مؤمنانو ايمان زيات کړي؛ او د دې لپاره چې اهل کتاب او مؤمنان

څه شك ونه کړي؛ او چې د بيمارو زړونو خاوندان او کافران ووايي: الله تعالى په دې مثال سره څه ويل غواړي؟ همداسي الله چې څوك غواړي بې لارې کوي ئې او څوك چې دى ئې غواړي هدايت کوي ئې؛ او ستا درب په لښکرو له ده پرته هيڅوك نه پوهېږي؛ او دا نه ده مګر د انسان لپاره يوه يادونه.

۲٦: سقر د دوزخ يوه هولناکه طبقه ده، دا د هغه چا لپاره مناسب ځاى دئ چې مغرور او متکبر دئ، له حق ئې مخ اړولى، د الهي دعوت کينه کښ دښمن دئ، د رسول الله صلى الله عليه و سلم او د قرآن په اړه ئې قضاوت په دښمنۍ ولاړ او ظالمانه قضاوت دئ. د ده له وضعيت سره مناسبه سزا همدا سقر دئ.

۲۷-۲۹: پوهېږې چې سقر څه دئ؟ تا ته ئې په څرنګوالي پوهېدا ګرانه ده، ستا په قاموس کې داسې الفاظ نه موندل کېږي چې د دې هولناکې کندې څرنګوالى توضيح کړى شي، دا د دنيا د اور په څېر نه دئ چې څه په کې ولوېږي فوراً ئې سوزوي او په ايرو ئې بدلوي، دا داسې اور دئ چې روح او جسم، دننه او بهر، د وجود سلول سلول ته ځان رسوي، دوزخيان په خپلې غېږې کې کلك نيسي، د تېښتې لار پرې بندوي، يوه شېبه ئې آرام نه پرېږدي، نه په هغه کې مرګ شته او نه ايرې کېدا؛ او نه يوه آرامه شېبه، مرګ او ژوند سره لاس او ګرېوان، ژوند مرګ ته ورته کړي، څېره تکه توره کړي.

۳۰- د دوزخ مأمورين نولس ډلې دي، هره ډله ئې ځانګړې دنده په غاړه لري او په ځانګړې توګه دوزخيان تعذيبوي، لکه څنګه چې ګناهونه رنګ رنګ دي، سزا ئې هم بېله بېله؛ او سزا ورکوونکي ئې هم بېل بېل دي، د فرشتو بېلې بېلې ډلې به د هرې ګناه لپاره ټاکلې سزا ورکوي، لکه څنګه چې د هرې ګناه په ارتکاب کې د انسان يو غړى او عضو اساسي ونډه تر سره کوي، په ځينو کې لاسونه، په ځينو کې زړه، په ځينو کې سترګې او دماغ او... عذابونه هم بايد بېل بېل وي او هر غړي ته بايد مناسبه او وړ سزا ورکړى شي، په دې آيت کې د نولس فرشتو ذکر شيي چې دوزخيانو ته به نولس ډوله عذابونه ورکول کېږي، دا عذابونه قرآن داسې بيان کړي:

۱- د عذاب يوه ډله به دوزخيان پرمخې دوزخ ته کشوي.

يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُواْ مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ القمر

۲- يوه ډله به ئې د تندي له وېښتانو کلك نيسي او

۳- بله به ئې له پښو او په ګډه به ئې په دوزخ کې غورځوي.

يُعْرَفُ ٱلْمُجْرِمُونَ بِسِيمَٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِٱلنَّوَٰصِي وَٱلْأَقْدَامِ ﴿٤١﴾ الرحمن

٤- يوه ډله به ئې پر مخ مخ وهي.
٥- او بله پر شا شا.

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴿٥٠﴾ الانفال

٦- بله ډله به د دوی غاړو ته غړوندي اچوي.

وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَاقِهِمۡۖ ... ﴿٥﴾ الرعد

٧: ځيني به د دوی لاسونو او پښو ته ولچك او زولنې وراچوي.

وَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٤٩﴾ ابراهيم

٨- بله ډله به دوی د دوزخ له ستنو سره په داسي اوږدو اوږدو زنځيرونو تړي چې اوږدوالی به ئې اويا گزه وي.

ثُمَّ فِي سِلۡسِلَةٖ ذَرۡعُهَا سَبۡعُونَ ذِرَاعٗا فَٱسۡلُكُوهُ ﴿٣٢﴾ الحاقه

٩- بله ډله به ئې په سر سر په گرزونو وهي.

وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ﴿٢١﴾ الحج

١١- ځيني به په دوی باندي د زخمونو د نو خوراك خوري.

فَلَيۡسَ لَهُ ٱلۡيَوۡمَ هَٰهُنَا حَمِيمٞ ﴿٣٥﴾ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنۡ غِسۡلِينٖ ﴿٣٦﴾ الحاقه

١٢- ځيني به په دوی بوی ناكي او تودې اوبه څښي.

مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٖ صَدِيدٖ ﴿١٦﴾ ابراهيم

١٣-١٤- ځيني به د قطران جامه وراغوندي چې توري، بد بوی، غوړي او ژر سوزېدونكې به وي؛ او ځيني به د دوی مخونه وروريتوي.

سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٖ وَتَغۡشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾ ابراهيم

١٥- ځيني نور به د اور جامې وراغوندي او ١٦- ځيني به ځوښ اوبه پر سر ورتويوي.

فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٞ مِّن نَّارٖ يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ﴿١٩﴾ الحج

١٧- ځيني به د دوی سوزېدلي پوستكي وربدلوي چې عذاب ښه احساس كړي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوۡفَ نُصۡلِيهِمۡ نَارٗا كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا

غَيْرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾ النساء

۱۸- یوه ډله به د هغو سرو او سپینو زرو په سکو د دوی تندی، اړخ او شا داغي چې په دنیا کې ئې کنز کړې وي.

يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾ التوبة

۱۹- او ځینې به د هغو ستنو اور ورو ورو زیاتوي چې دوزخیان به په کې ساتل کېږي او پر سر به ئې برغولي اېښي وي.

كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَٰهُمْ سَعِيرًا ﴿٩٧﴾ الاسراء

۳۰-۳۱- دلته څو خبرو ته خاص پام وکړئ:

- په ۳۰ آیت کې ویل شوي چې په دوزخ باندې نولس ټاکل شوې؛ او په ۳۱ آیت کې د دې وضاحت شوی چې د دوزخ ساتونکي ملائکي دي او د آیت په وروستۍ برخې کې ویل شوي چې د فرشتو شمېر له الله تعالی پرته هیچا ته معلوم نه دئ؛ او د دې معنی دا ده چې له نولس مراد د بې شمېره ملائکو نولس ټولګي دي.
- بیا ویل شوي چې د فرشتو دا لوی شمېر د کافرانو د تعذیب لپاره دئ، یعني د دوزخ ساتونکي مو ځکه په دومره لوی شمېر کې او په نولس ټولګیو کې ټاکلي چې کافران ښه تعذیب کړي.
- بیا دا خبره شوې چې د دې وینا په اړه به د خلکو غبرګون څلور ډوله وي:

۱- اهل کتاب به پرې یقین کوي، ځکه دوی په خپلو کتابونو کې هم دا خبرې مومي.

۲- د مؤمنانو ایمان پرې مضبوطېږي. دا ځکه چې د هر نوي حقیقت په پوهېدو سره د مؤمنانو ایمان زیاتېږي.

۳-٤: د بیمارو زړونو خاوندان منافقین او بې ایمانه کافران د داسې آیتونو په مقصد له پوهېدو عاجز وي، نه پوهېږي چې په دې کې څه پیغام او څه خبرداری پروت دئ. دوی به وایي: الله تعالی په دې وینا سره څه ویل غواړي؟

او په پای کې ویل شوي چې په دې سره د الله تعالی له ثابت سنت سره سم ځینې هدایت کېږي او ځینې بې لارې کېږي؛ او دا په داسې حال کې چې دا کتاب په اصل کې د ټولو انسانانو لپاره له پند پرته بل څه نه دئ.

د ۳۱ آیت په اړه څو ټکي په پام کې وساتئ:

• د آیت اوږدوالی مدني آیتونو ته ورته دئ، د آیت په متن کې اهل کتاب او د بیمارو زړونو خاوندانو (منافقینو) ته اشاره شوې او تاسو ته معلومه ده چې د دې دواړو ډلو په اړه بحث د مدني سورتونو ځانګړتیا ده، یوازې په هغو آیتونو کې دا بحث موندلی شو چې په مدینه کې نازل شوي وي. د همدې لپاره په پوره ډاډ سره ویلی شو چې دا آیت په مدینه منوره کې نازل شوی.

• دا آیت د مخکیني آیت د شرحې په مقام کې راغلی چې له تسعة عشر مراد څه دئ؟ وایي چې دا د دوزخ ساتونکې فرشتې دي، چې شمېر ئې له الله تعالی پرته هیچا ته معلوم نه دئ.

• په دې اړه چې د دوی شمېر مو د کافرانو لپاره فتنه ګرځولې؛ دوه تعبیرونه مخې ته راځي: لومړی ئې دا چې فتنه د عذاب په معنی ده او مقصد ئې دا دئ چې د فرشتو دا شمېر ډلې مو د کافرانو د زیات تعذیب لپاره ټاکلې. چې همدا دقیق او سم تعبیر دئ، ځکه چې د قرآن په ډېرو ځایونو کې فتنه د عذاب په معنی راغلې؛ او دوهم تعبیر دا دئ چې د دې عدد په بیانولو سره غواړو کافران وآزمویو، دا تعبیر ناسم او مبهم دئ.

• د دې حقائقو د بیانولو موخه او هدف دا دئ چې خلکو ته پند ورکړی شي، نه دا چې د فرشتو شمېر وښودی شي، په شمېر ئې له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي.

• دې ته مو هم پام وي چې دا آیت له مخکیني ډېر وروسته نازل شوی، مخکې له دې چې دا آیت نازل شي، د مخکیني آیت په اړه ډېري پوښتني راولاړې شوې، کافرانو او منافقینو ویلي چې د دې عدد معنی څه ده؟ دا خو یوه مبهمه خبره ده چې په دوزخ مو نولس ګمارلې، که دا یوازې ۱۹ملائکې وي نو دوی به دا لوی شمېر دوزخیان څنګه ساتي، تر چا به ورسېږي؟ په ځواب کې ئې ویل شوي چې دا د بې شمېره فرشتو نولس ټولګي دي.

كَلَّا وَٱلْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَٱلصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهَا لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾

۳۲- داسي نه ده؛ قسم په سپوږمۍ. ۳۳- او په شپې چې ترشا شي. ۳٤- او په سباوون چې رون شي. ۳۵- بې شکه چې دا یوه له سترو (پېښو) ده. ۳٦- انسان ته خبرداری ورکوونکی. ۳۷- ستاسو هغه چا ته چې غواړي مخکې ولاړ شي یا وروسته پاته شي.

۳۲-۳۵: دلته په دریو شیانو لوړه شوې: په سپوږمۍ، په شپې چې ترشا شي؛ او په سباوون چې رون شي؛ او بیا ویل شوي چې دا یوه لویه پېښه ده. تر دې د مخه چې د قسمونو او

ځواب په اړه ئې څه ووايو؛ بايد دا واضح شي چې په ځواب کې کومې پېښې ته اشاره شوې او د (ها) ضمير څه ته راجع دئ؟ او دا له کومو سترو سترو څيزونو دئ؟

که قسمونو او له قسمونو مخکې آيتونو ته لږ ځير شو نو د دواړو پوښتنو ځوابونه په آسانۍ سره موندلی شو؛ په قسمونو کې دريو سترو څيزونو ته اشاره شوې: سپوږمۍ، د شپې ښېرته ګرځېدو او د سباوون راختو ته، له اتم آيت د قيامت په اړه بحث پيل شوی، خو مخکې له دې چې بحث پای ته ورسېږي؛ د هغه چا په اړه خبره شوې چې مال، ثروت او قدرت مغرور کړی او له رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده له دعوت سره ئې دښمنۍ ته هڅولی، دروغجنو تبليغاتو ته ئې ملا تړلې او د مخالفت او مقابلې د بېلو بېلو اغېزمنو او مؤثرو لارو په لټه کې دئ، دا بحث له يولسم آيت پيل شوی او تر ۳۱ آيت پورې ئې دوام کړی او بيا له ۳۲ آيت وروسته د قيامت په اړه ناتمام بحث ښېرته پيل شوی او د پورتنيو قسمونو په ترڅ کې د قيامت د اثبات دلائل وړاندې شوي. د ځواب په ترڅ کې د قيامت ورځ د دغو سترو سترو پېښو په څېر يوه بله سترې پېښه ګڼل شوې، د سپوږمۍ د رابره کېدو په څېر او د شپې ښېرته ګرځېدو او د سباوون د راختو په څېر. په دې قسمونو سره قرآن خپل مخاطب ته وايي: ته ولې د قيامت له ورځې انکار کوې او راتګ ئې محال ګڼې؟ مګر ستا د اقناع لپاره د سپوږمۍ رابره کېدل، له مختلفو پړاوونو تېرېدل، له سترګو پټېدل او بيا راڅرګندېدل کافي نه دي؟ مګر همدا تا ته نه وايي چې له يوه حال بل ته اوښتل يو عام الهي سنت دئ، د يوه حالت پای د بل حالت پيل دئ، مګر ته نه ګورې چې د شپې پای د ورځې پيل وي، همدا راز چې شپه پای مومي؛ دا نړۍ به پای مومي، خو د دې نړۍ پای د بلې نړۍ پيل دئ، ته هسې بې موجبه او بې دليله دا نړۍ ثابته او تغيير نه منونکې ګڼې او ګمان کوې چې دا حالت به د تل لپاره دوام کوي!! او ستا دا ګمان هم غلط دئ چې که دا عالم ختم شو نو په دې سره هر څه پای مومي، نه بيا ژوندون شته او نه بله دنيا!! ستا دا باور داسې دئ لکه چې څوک ووايي: د سپوږمۍ او لمر غروب د دوی د عمر پای دئ، له دې شپې وروسته به بله ورځ نه وي او له دې ورځې وروسته به بله شپه نه وي، خو ګورې چې تياره شپه خپل ځای روڼ سباوون ته پرېږدي او سپوږمۍ له پټېدو وروسته بيا رابره شي. د انشقاق په سوره کې هم دې ته ورته، شفق، د شپې راتګ او د سپوږمۍ بشپړه کېدل د قيامت د راتلو او بيا ژوندون لپاره د دليل په څېر وړاندې شوي.

ځينو مفسرينو په (إِنَّهَا لَإِحۡدَى ٱلۡكُبَرِ) کې د (ها) ضمير، (سقر) ته راجع کړی او ځينو نورو (جنود) ته، خو دا نه يوازې ضعيف توجيهات دي بلکې د قسمونو او ځواب تر منځ

ژور او عميق ارتباط په کې له پامه غورځول شوی، د دوی توجيه داسې ده لکه چې څوک ووايي: په سپوږمۍ لوړه کوم چې دوزخ شته، د شپې په ښېرته ګرځېدو او د سباوون په بياراختو لوړه کوم چې د الله لښکري ښې شمېره دي!! داسې توجيه نه د قرآن کافر مخاطب ته قناعت ورکولی شي او نه ورته د فهم وړ ده. عجيبه دا ده چې څنګه دغو محترمو مفسرينو د انشقاق په سوره کې د همدې قسمونو واضح او څرګند تفسير له پامه غورځولی، هلته همدا قسمونه د قيامت او بيا ژوندون لپاره د دليلونو په توګه وړاندې شوي او ويل شوي چې د شپې ورځې تګ راتګ، د سپوږمۍ طلوع او غروب؛ او ستړېدل او وړېدل، پټېدل او څرګندېدل ئې دا ښيي چې دا نړۍ د مسلسل او مستمر تحول او بدلون صحنه ده، هر څه له يوه حالت بل حالت ته درومي، په هيڅ مقطع او هيڅ نقطه کې توقف او سکون نه شئ موندلی، د بيا ژوندون منکرين هسې او بې ځايه مرګ ته د سکون او توقف او د بدلون د پای په سترګه ګوري، دا انګېرنه له هغه څه سره ټکر او تصادم کوي چې د نړۍ له مشاهدې ئې تر لاسه کوو. د دې غلطي او بې بنسټي انګېرنې د اثبات لپاره هيڅ دليل، د دې ټولې پراخې نړۍ له هيڅ ګوټ نه شو وړاندې کولی.

۳۶-۳۷: د قيامت يادونه د ټولو انسانانو لپاره تذکر او پند دئ، د هغه لپاره هم چې غواړي د الله تعالی په لوري مخکې ولاړ شي، د معنوي ارتقاء په لوري ګړندي او مضبوط ګامونه واخلي او د مزيد مخکې تګ اراده لري؛ او د هغو لپاره هم چې شا ته پاته کېږي، د خپل رب په لوري له مخکې تلو ډډه کوي او د مخکې تګ همت نه لري، دواړو ډلو ته خبرداری ورکول کېږي او د ګناه او عصيان له بدو پايلو ئې وېروي.

كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٩﴾ فِى جَنَّٰتٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِى سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوا۟ لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلْخَآئِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلْيَقِينُ ﴿٤٧﴾

۳۸- هر څوک د هغه څه په ګرو کې دئ چې تر لاسه کړي ئې دي. ۳۹- مګر اصحاب اليمين. ٤٠- چې دوی به په جنتونو کې يو له بله پوښتي: ٤١- له مجرمينو: ٤٢- څه څه په سقر کې واچولئ؟ ٤٣- وايي به: موږ له لمونځ کوونکو نه وو، ٤٤- او مسکين ته مو خوراک نه ورکاوو. ٤٥- د خوشو خلکو په څنګ کې په چټي لوبو مشغول وو. ٤٦- او انکار به مو کاوو د قيامت له ورځې. ٤٧: تر هغه چې راورسېدو مرګ مو!!

٣٨: هر انسان د خپل عمل په ګرو کې دئ، ښه او نېك اعمال به ئې له ځان سره د جنت غوره ځای ته بیایي او بد اعمال به ئې د دوزخ بد ځای ته له ځان سره وړي، هغه څه چې د ده برخلیك ټاکي او د ده د راتلونکي واګي او مهار ئې په خپل لاس کې نیولی، د ده له کړنو پرته بل څه نه دي.

٣٩: (کېږ لاسي) چې په دنیا کې (کاږه) روان ول؛ او په چپو کږو لارو سر؛ او په الهي محاکمه کې ئې عملپاڼې په کېږ لاس کې ورکړی شوې، دوی به د خپلو کړنو په منګولو کې یرغمال وي، خو (ښی لاسي) چې په دنیا کې په سمه لار روان ول؛ او په الهي محاکمې کې ئې عملپاڼه په ښي لاس کې ورکړی شوې، دوی به د خپلو کړنو یرغمال نه بلکې اعمال به ئې د دوی په خدمت کې وي، د جنت په لوري به ئې له ځان سره بیایي او د جنت دروازې به د دوی پر مخ پرانیزي.

٤٠-٤٢: دوی به په جنت کې په خبرو او یو له بل په پوښتنو لګیا وي، له مجرمینو به پوښتي: ولې له دې برخلیك سره مخامخ شوئ، څه شي او کومو عملونو دې ځای ته ورسولئ؟ دلته څو ټکي د غور او توجه وړ دي:

الف: هم به د جنتیانو تر منځ خبري او یو له بله پوښتني وي او هم د جنتیانو او دوزخیانو ترمنځ.

ب: په دې پوهېږئ چې د یوه عادي مسلمان جنت به هومره پراخ او ستر وي چې سور به ئې د آسمانونو او زمکې په اندازه وي. او دوزخ هم دومره ستر او پراخ چې ټولو دوزخیانو ته په خپلې غېږ کې ځای ورکولی شي، د جنتیانو تر منځ او د دوی او د دوزخیانو تر منځ خبري آتري داسي وګڼئ لکه نن چې څوك د یوه ستور لیکې له یوه ډېر لري ستوري د بل ستور لیکې په یوه لري ستوري کې له چا سره خبري کوي، له دې معلومېږي چې د راتلونکي عالم ضوابط به له اوسني عالم ژور توپیر لري؛ او د انسان استعدادونه او حواس به هم له اوسني حالت ډېر توپیر لري.

دا داسي وګڼئ لکه څوك چې نن خپل کوم ملګری زمونږ په شمسي نظام یا ستورلیکې کې ولټوي او د سترګو په رپ کې ئې په یوه لري ستوري کې وموميږ!! له دې معلومېږي چې هلته به د انسان حواس څومره ځواکمن وي!!

خو آیا پوهېږئ چې په داسي خبرو به یو مهال د اسلام مخالفینو څومره ملنډې وهلې وي او هغه به ئې دروغجني او د حقیقت خلاف او له مبالغو ډکې ګڼلې وي؟!! خو دا دئ نن د افغانستان له یوه لري پراته کلي یو کس د یوه وړوکي مبایل په مرسته د نړۍ په لري ګوټ کې له خپل دوست سره داسي خبري کوي چې هم ئې غږ اوري او هم ئې مخ ګوري!!

دا نن د يوه قوي او ستر تلسکوپ خوا ته ناست ستور پېژاندی د ستور ليکي په لري اړخ کي يو ستوری گوري او وايي: دا ستوری زمور له زمکي په دومره واټن کي پروت دئ، حجم ئې زمور د زمکي په پرتله دومره ځله زيات دئ!! آيا د قرآن دا وينا داسي نه ده چي د ساينس د نننې معيارونو له مستوی هم وړاندي ده؟!

٤٣-٤٧: (مجرمين) به د (اصحاب اليمين) په ځواب کي وايي: پنځو گناهونو له دې برخليك سره مخامخ کړو:

١: مور لمونځ کوونکي نه وو.

٢: مسکين ته مو خوراك نه ورکاوو.

٣: له خوشو خلکو سره په چټي لوبو لگيا وو.

٤: له يوم الدين مو انکار کاوو.

٥: او دې انکار ته مو تر هغه دوام ورکړ چي مرگ مو راورسېدو!!

يعني نه مو د الله تعالی عبادت وکړ؛ او نه مو پر مسکين او بې وزلي ترحم او زړه سوی، د يوه بې هدفه او لاابالي انسان په څېر د نورو بې هدفو او خوشو خلکو په خوا کي په خوشو لوبو لگيا وو، له ژوند مو يوه بې مقصده ملعبه جوړه کړې وه، نه يوازي دا چي په آخرت مو باور نه وو بلکي هغه مو دروغ گاڼو، تر هغه په گناهونو کي غرق پاته شوو چي مرگ مو مېلمه شو؛ او زمور ماشومانه او خوشو لوبو ته ئې د پای ټکی کښېښود. په دې اوږده موده کي مو نه په خپلو کړنو کي تجديد نظر وکړ؛ او نه مو د (يقين)، (باور) او (عقيدې) په نامه څه پېژاندو، تر هغه چي مرگ راغی، زمور سترگي ئې راپرانيستې؛ او (يقين) ئې مور ته راوپېژاندو.

فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ ٱلتَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّاۖ بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلْأَخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿٥٥﴾ وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ هُوَ أَهْلُ ٱلتَّقْوَىٰ وَأَهْلُ ٱلْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

٤٨- نو د هيڅ شفاعت کوونکي شفاعت به گټه ورونه رسوي. ٤٩- نو سره له دې څه پرې شوي چي له دې تذکر ډډه کوي؟ ٥٠- داسي لکه چي تربدلي صحرائي خره وي،

۵۱- چې له زمري تښتېدلي. ۵۲- نه؛ بلکې هر یو ئې غواړي چې ورکړی شي پرانیستې پاڼې. ۵۳- نه؛ داسي نه ده؛ بلکې له آخرته نه وېرېږي. ٥٤- نه؛ داسي نه ده؛ بلکې دا یوه یادونه ده. ۵۵- نو څوک چې غواړي پند دي ترې واخلي. ٥٦- او پند نه ترې اخلي مګر دا چې الله ئې وغواړي، همدی د وېرېدو وړ دئ او د بخښنې غوښتو وړ.

٤٨: د چا لمن چې په دغو ګناهونو لړل شوې وي د هیڅ شفاعت کوونکي شفاعت به ګټه ورونه رسوي. نه به ئې له الهي عذابه وژغورلی شي او نه به ئې عذاب راکم کړی شي.

دا آیت مونږ ته د (شفاعت) حقیقت په ښه توګه توضیح کوي او وایي:

الف: ګمان مه کوه چې شفاعت په هر حالت او هر صورت کې ګټه دررسولی شي.

ب: ته د خپلو کړنو او عملونو په ګرو کې یې، د بل (شفاعت) به یوازي هغه وخت ښایي ګټه درورسوي چې ستا خپلو عملونو ته د شفاعت وړ ګرځولی وې؛ او دا وړتیا ئې تا ته درکړې وي چې الله تعالىستا په اړه د چا شفاعت قبول کړي.

ج: باید متوجه وې چې د (شفاعت قبلېدا) د الله تعالی کار دئ نه د شفاعت کوونکي کار؛ او الله تعالی ثابت او تغییر نه منونکي سنن لري، د دغو سنن له مخې پرېکړه کوي چې چا ته د شفاعت اجازه ورکړي او د چا په اړه، کوم شفاعت ومني او کوم شفاعت ته اعتناء ونه کړي.

د: نو ته د دې په ځای چې د چا شفاعت ته زړه ښه کړې، هغه د نجات وسیله وګڼې؛ او بروسه پرې وکړې (صالح عمل) د نجات اصلي لامل وګڼه او (شفاعت) د صالح عمل په څنګ کې ګټور وګڼه نه په مستقله توګه.

هـ: پام کوه چې په (شفاعت) باندي ستا اعتقاد د دې باعث نه شي چې بې باکه او جسور شې او دا اعتقاد دي ګناه ته وهڅوي، بې ځایه طمع او توقع درکې راولاړه نه کړي؛ او د خپلو ایماني مسئولیتونو له اداء کولو دي غافل نه کړي.

٤٩-۵۱: له دې ټولو سره سره څه د دې باعث شوي چې له دې الهي پند او تذکر متنفر او منزجر دي؟ ستا له بلني تښتي، تېښته ئې هم د حیرانتیا وړ، داسي لکه صحرائي خر چې له زمري تښتي.

۵۲- یوازي تېښته نه؛ بلکې هر یو ئې دا انتظار کوي چې د الله تعالی له لوري پرانیستی لیك ورته راشي، وایي: که پر رسول الله صلی الله علیه و سلم کتاب نازل شوی او وحي ورته راغلې، ولې پر مونږ هر یوه همداسي پاڼې نه نازلېږي، تر هغه چې همداسي پاڼې راباندي نازل نه شي ایمان نه راوړو او د قرآن وینا ته اعتناء نه کوو!!

۵۳- ګمان مه کوئ چې دا خلك به په هغه صورت کې خامخا ایمان راوړي او له خپلو بدو او

کرکجنو کړنو به لاس واخلي چې له آسمان داسي پانې پرې نازلې شي، نه؛ نه؛ دوی بې باکه دي، د ګناه او عصیان له بدو پایلو وېره نه لري، له آخرته بې پروا دي، باید پوه شې چې بې باکه او باغي ګنهګاران اصلاح کېدونکي نه وي.

٥٤-٥٦: دا آیتونه څو اساسي مطالب زمونږ مخي ته ږدي:

۱- قرآن د یادونې او تذکر لپاره نازل شوی، له قرآن دا انتظار مه لرئ چې ټول، ښه او بد، د هدایت تږی او له هدایت منزجر او متنفر به دې ته اړ باسي چې حقائق ومني او په سمه لار روان شي.

۲- څوک چې د هدایت کېدو تلوسه لري، د هدایت تږی دئ، کمال ته د رسېدو په لټه کې دئ، په حقیقت د پوهېدو تکل کوي، حق او حقیقت د ده ورکه شوې متاع ده، دا کس کولی شي له دې لارښود الهي کتاب ګټه واخلي او د هغه په رڼا کې حقیقت وپېژني او خپله لار او ورکه متاع وموميِ.

۳- د دوی (غوښتنه) په یوازي توګه کافي نه ده، داسي ګمان مه کوئ چې د حقیقت په موندلو کې یوازي د انسان عقل او حقیقت ته په رسېدا کې یوازي د ده خپل هوډ او عزم کافي دئ، نه؛ د خپل (عقل) او (ارادې) تر څنګ (الهي لارښوونو او الهي توفیق) ته ضرورت لري.

٤- په دغو دواړو بنسټیزو خبرو باید همزمان باور ولرئ: ۱- په هغې خبرې چې په ٥٤ آیت کې په دې مفهوم راغلې: (څوک چې غواړي نو پند دي ترې واخلي) یعني ته په خپل انتخاب کې آزاد یې، د پند اخیستلو پرېکړه به په خپله کوې، کولی شې له دوو لارو یوه غوره کړې، یا موافقه وکړې یا مخالفت. ۲- او په هغې خبرې چې د ٥٥ آیت په سر کې په دې مفهوم راغلې: (او پند نه شي اخیستی مګر دا چې الله تعالی وغواړي)، یعني له الهي توفیق او د ده له إذن او ارادې پرته نه شي کولی څه وکړي او خپل مقصد ته ورسي.

ځینې د دغو دواړو خبرو په تلفیق کې له مغالطې سره مخامخ کېږي، کله (جبر) ته متمایل شي او کله (اختیار) ته؛ او کله قضیه دومره پېچلې کړي چې نه په خپله له کړکېچ وتلی شي او نه بل د قضیې په حقیقت پوهولی شي او نه ئې پوښتنو ته ځواب ویلی شي. حال دا چې قضیه ډېره ساده او روښانه ده: الله تعالی انتخاب تا ته پرېښې او توفیق ئې ځان ته منسوب کړی. کله چې په تا کې د هدایت تنده او تلوسه راپیدا شي، ودي غوښتل چې په حقیقت پوه شې او په سمه لار هدایت شې؛ او الله تعالی ته دي رجوع وکړه او مرسته ترې وغواړې، هغه به حتماً د هدایت دروازې ستا په مخ پرانیزي، توفیق به درکوي او حقیقت ته په رسېدو کې به دي مرسته کوي. د خپلو بندګانو د لارښوونې په اړه د الله

تعالی سنت دا دئ چې که څوك ده ته مخه کړي، په چا کې حقیقت ته د رسېدو تلوسه او تنده راپیدا شي، تر لاس ئې نیسي، خړوبه کوي ئې او د هدایت دروازې ئې پر مخ پرانیزي، (یهدی الیه من ینیب) په چا کې چې انابت وي الله تعالی ئې د ځان په لوري هدایت کوي. او چا چې د کفر او نفاق لار غوره کړه او همدا ئې انتخاب وو، دی په خپل لاس د هدایت دروازې په خپل مخ تړي او د الله تعالی له عنایت او توفیق ځان محروموي.

(د دې موضوع تفصیل د التکویر د سورې د وروستي آیت په اړوند حاشیې کې مطالعه کولی شئ)

۵- یوازې الله تعالی د دې وړ دئ چې ترې وېره ولرئ او د دې وړ چې ترې بخښنه وغواړئ، ستاسو وېره به یوازې له الله وي او د ګناهونو بخښنه غوښتل مو د ده له درباره.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

القیامة

د سورې معرفي:

د دې مبارکې سورې نوم القیامة (قیامت) دئ،٤٠ آیتونه لري، د شپږو لومړیو آیتونو فواصل ئې قیامه ته ورته هموزنه صیغې دي، له اومه تر دیارلسمه پورې بصر ته ورته هموزنه صیغې، بیا له څوارلسمه تر پنځه ویشتمه پورې بصیره ته ورته هموزنه صیغې، له شپږویشتمه تر دېرشمه پورې راق او ساق ته ورته صیغې؛ او لس وروستي آیتونه ئې صلی او تولی ته ورته صیغې، ډېر ښکلی غږ، ښایسته وزن او خوندور مد و جذر لري. مکي سوره ده، په متن کې ئې داسې نښې ګورو چې ښیي دا سوره د مکي دور په لومړیو کې او هغه مهال نازله شوې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم لا د وحي په تر لاسه کولو کې کافي مهارت او تجربه نه درلوده، د وحي تر لاسه کولو په وخت کې به ئې دا اندېښنه وه چې څه ترې پاته یا هېره نه شي، د همدې لپاره به ئې له فرشتې د اورېدو په وخت کې، تر دې د مخه چې هغه خپل پیغام بشپړ کړي، ده به له ځان سره تکرارول.

دا سوره د (قیامت په ورځ) او (ملامتوونکي نفس) باندې قسمونو سره پیل شوې، د بحث اصلي موضوع ئې (قیامت) ده. په دې حتماً پوهېږئ چې په انسان کې د (ملامتوونکي نفس) شته والی د قیامت د اثبات لپاره یو مضبوط او قوي دلیل دئ، په دې معنی: که په انسان کې دا مَلَکَه او غریزه شته چې په هر بد او کرکجن کار کې هغه ملامتوي، د ده د

کړنو په اړه قضاوت کوي او بد کارونه ئې غندي، نو آیا هغه ذات چې انسان ئې پیدا کړی او دا ملکه ئې په ده کې اېښې، هغه به په همدې صفت متصف نه وي؟ د انسان د عملونو په اړه به قضاوت نه کوي او په خپلو بدو کړنو به ئې نه ملامتوي؟! هر عقلمن انسان به په دې اعتراف کوي چې د انسان پیدا کوونکی خدای به حتماً په دې صفت متصف وي، ستا ملامتوونکی نفس په دې شهادت ورکوي چې ستا رب حتماً د قضاوت په صفت متصف دئ، حتماً به د قیامت ورځ راولي او ستا د عملونو په اړه به قضاوت کوي. په قرآن کې معمولاً د قیامت په څېر د سترو سترو قضایاوو د اثبات لپاره په ملموس او مشهود شیانو لوړه شوې، خو دلته په استثنائي توګه لومړی په (قیامت) او بیا په (نفس لوامه) لوړه شوې، په نورو مواردو کې تل د قسمونو ځواب له قسمونو وروسته او اکثراً ورپسې متصل راځي، خو دلته د قسمونو په پای کې کوم ځواب نه مومو! برعکس (یوم القیامة) چې د قرآن د اسلوب له مخې باید د قسم د ځواب په توګه راغلی وی، د شاهد او یوه (مسلم حقیقت) په توګه ذکر شوی؛ او قسم په (نفس لوامه) چې د (قیامت د اثبات) لپاره دلیل او شاهد دئ له ځوابه وروسته راغلی!!

تعبیر داسې دئ: نه؛ د قیامت له ورځې ستا انکار واهي او بې بنسټه دئ، د قیامت راتګ یو مسلم حقیقت دئ، ستا (نفس لوامه) په دې شهادت ورکوي چې قیامت به حتماً راځي؛ او هغه رب چې ستا په وجدان کې ئې ملامتوونکې ملکه اېښې، حتماً به ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي، آیا انسان داسې ګمان کوي چې الله تعالی به ئې وراسته هډوکې راغونډ نه کړي، د ده کالبوت به جوړ نه کړي او بیا به ئې راژوندی نه کړي!! حال دا چې الله تعالی نه یوازې د انسان په بیا ژوندون قادر دئ بلکې کولی شي د ګوتو سرونه ئې په مخکینۍ بڼې کې جوړ کړي، له قیامت د ده د انکار وجه دا نه ده چې د ده عقل ئې نه شي منلی او یا مقنع دلائل ورته نه لري، په قیامت باور خو د ده په خټه کې اېښودل شوی، د ده وجدان په خپله د قیامت لپاره شاهد دئ، انکار ئې له جهل او ناپوهۍ نه دئ راولاړ شوی، بلکې له دې راولاړ شوی چې د بیا بیا ګناه اراده لري، د ده مشکل دا دئ چې (هوس) ئې دې ته اړ کوي چې خپل وجدان تکذیب کړي او له قیامت انکار وکړي، مګر نه ګورئ چې دی تل د خپل وجدان له مخالفت او ملامتولو سره سره ګناه ته ملاتړي، هوس پرې غالب شي، قضاوتونه ئې تل له هوی او هوس خړوبېږي، نه د خپل عقل پربکړو ته غاړه ږدي او نه د خپل وجدان قضاوت مني، هغه له قیامت د انکار لپاره یوازې یو دلیل لري؛ او هغه دا چې: قیامت به څه وخت راځي؟ ولې تر اوسه رانغی؟ که قیامت رښتیا وی باید تر اوسه واقع شوی وی!! دې انسان ته چې نه د خپل انکار لپاره کوم دلیل لري او نه

د بل دلائل مني، د هوس بنده دئ، د خپل عقل له پرېکړي او د خپل وجدان له قضاوت انکار کوي، فقط يو ځواب ويلی شو: لږ انتظار وکړه، عجله مه کوه، د دې ورځې هولناکې صحنې به په خپلو سترګو وګورې، له سترګو به دي پردې لرې شي، سپوږمۍ به تياره شي، لمر او سپوږمۍ به يو بل جذب کړي، په دې ورځ به له قيامت منکر انسان، هغه چې د دې حقيقت له منلو تښتېدو، وايي: ملجأ او مفر چېرې دئ؟ چېرې او چا ته پناه يوسم؟! خو د الله تعالی په وړاندې له ودرېدو پرته به هيڅ ملجأ او مفر نه شي موندلی. په هر هغه څه به پوه شي چې په دنيا کې ئې کړي وو، يا ئې د کولو اراده کړې وه خو نه وو توانېدلی او فرصت ئې په لاس نه وو ورغلی، يو يو به ئې د سترګو په وړاندې مجسم شي، په خپله به پوه شي چې کوم کوم بد عملونه ئې څرګند يا په پټه کړي او کومي کومي بدي ارادې ئې په زړه کې وې؟!! په خپل حال سره پوه؛ او د خپل زړه په اسرارو سره خبر، که څه هم د خپلو بدو عملونو د توجيه او له خپلو پليتو افکارو او عزائمو د دفاع لپاره دلائل او عذرونه وړاندې کړي، دی په خپله سره پوهېږي چې ولې له قيامت انکار کوي؛ او کوم عمل او اراده ئې هغه له قيامت انکار او د مکافات او مجازات تکذيب ته هڅولی؟!! دغه پليته ډله د خپل باطني خبث له کبله د قيامت په اړه د قرآن مضبوط او محکم دلائل هم نه مني، هغه قرآن چې رسول الله صلی الله عليه و سلم به له فرشتې د اورېدو په وخت کې داسې تراغېز لاندې راغی چې ژر ژر به ئې له ځان سره تکرارولو چې سره حفظ ئې کړي، څه ترې پاته نه شي، کوم حرف او لفظ ترې بې ځايه نه شي، ژر او بشپړ ئې خلکو ته ورسوي، د قرآن د جالب او جذاب آيتونو په اورېدو سره به داسې په وجد راغی او دومره تلوار او تلوسه به ئې په ده کې راولاړه کړه او د قرآن قوي او قانع کوونکي استدلال به داسې اغېز پرې وکړ چې فرشتې به لاخپل پيغام نه وو خلاص کړی چې ده به له ځان سره تکراراوو چې ژر ئې حفظ کړي او ډاډه به شو چې که له دې مخکې ځينو خلکو ورسره مخالفت کاوو نو اوس به د قرآن د دې دلائلو په اورېدو سره حتماً له مخالفته لاس اخلي. د ده همدغه تلوار ته په پام سره الله تعالی ورته لارښوونه وکړه چې د هېرېدو اندېښنه ئې مه کوه، د وحي د اورېدو په وخت کې ژر ژر ژبه پرې مه خوځوه، ستا رب د دې ذمه وال دئ چې قرآن به ستا په حافظه کې جمع کوي او ستا په ژبه به ئې جاري کوي، نه به ئې په حفظ کې څه ستونزه لرې او نه به ئې په بيانولو کې، د اورېدو په وخت کې ئې له ځان سره مه تکراروه، تلوار مه کوه، په دقت سره ئې واوره، حفظ او بيانول ئې زمونږ په ذمه دي!! ګورئ چې د قرآن په اړه د دغو دوو شخصيتونو چلن کې څومره ژور توپير دئ؟! يو ئې حقيقت تکذيبوي، نه په دې سبب چې کوم دليل ورته نه لري، بلکې له دې کبله چې د

(ګناه اراده) ئې دې تکذیب ته هڅوي؛ او بل ئې داسې د حقیقت ترې چې د اورېدو په وخت کې ئې دومره تلوار او عجله لري، داسې ژر ژر خپله ژبه پرې خوځوي.

هر دلیل چې دوی ئې د قیامت د تکذیب او انکار لپاره جوړوي بې بنسټه دئ، انکار ئې یوازې یوه وجه لري: دنیا ئې غوره کړې او د دنیا لپاره له آخرت عمداً انکار کوي، د دلائلو نشتوالی د دوی د انکار لامل نه دئ بلکې دنیا پالنه، د هوس بندګي او د آخرت عمدي انکار د دې تکذیب باعث او لامل دئ.

په دې ورځ به ځینې مخونه خوښ او ځلانده وي، د خپل رب په لوري ناظر او کتونکي؛ او ځینې څېرې عبوس، خړې او ملاماتونکي عذاب ته منتظري. ګمان مه کوئ چې دنیا نژدې او ستاسو خوا کې؛ او آخرت لري دئ او ستاسو او د آخرت تر منځ اوږد واټن، نه! دا یوه اشتباه ده، حقیقت دا دئ چې کله روح حلق ته ورسي او له هر لوري دا غږ اوچت شي: څوك کوﻟی شي د ده طبیب شي؟ څوك به ئې له مرګ وژغوري؟!! خو هیڅ ځواب به نه اوري او څوك به دا توان نه لري چې د مرګ له بیماري ئې وژغوري او د روح قبضېدا ئې وځنډوي، یقین ئې راشي چې نور نو د فراق شېبه ده، باید د دنیا له هر څه سره خپلې اړیکې غوڅې کړي او د الله تعالی په لوري وخوځېږي، د درد له شدته به خپلې پښې سره تاو کړي؛ او د الله تعالی په لوري به خپل سفر پیل کړي!! ستا مرګ د آخرت په لوري د سفر پیل دئ، ولې هغه لري ګڼې او اعتناء ورته نه کوې او دنیا نژدې شمېرې او پرې نښتی یې؟!! خو له دې ټولو دلائلو سره سره هغه نه آخرت تصدیق کړ؛ او نه ئې لمونځ وکړ، برعکس آخرت ئې تکذیب کړ او له لمانځه ئې ډډه وکړه، په ډېر غرور او تکبر سره خپلې کورنۍ ته وروګرځېدو. وای وای په تا او په دې حالت چې تا په دنیا کې غوره کړې!! وای وای په تا او هغه حالت چې په آخرت کې به ئې لرې!! آیا دې مکذب انسان دا ګمان کړی چې مهمل به پرېښودی شي؟!! آیا ګمان کوي چې د ده رب به ئې پرېږدي چې ومري، هډوکې ئې وراسته شي، په زمکه کې تجزیه شي، په همدې حالت کې به ئې پرېږدي، بېرته به ئې راژوندی نه کړي، محاسبه به ورسره ونه کړي؟ آیا داسې کار ورته ګران او محال برېښي؟ او یا الله تعالی ترې عاجز دئ؟ مګر دی یو وخت یوه حقیره نطفه نه وو چې په رحم کې لوېدلې وه ؟! مګر دې ته نه ګوري چې یو وخت ځوړندتوکی او علقه وو؟! مګر دې ته متوجه نه دئ چې خپل رب سم او موزون پیدا کړ؟! او الله تعالی له همدې حقیري نطفې د (نر) او (ښځې) جوړه پیدا کړه؟! آیا د ده لومړنی پیداکوونکی ذات چې انسان ئې له خاوري، بیا له نطفې او بیا له علقې پیدا کړ، له دې عاجز ګڼې چې مړي راژوندي کړي؟! هر سالم عقل په دې شهادت ورکوي چې داسې پیدایښت تر لومړي پیدایښت ډېر

سهل او آسان دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ١ وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ٢ أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ٣ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ٤ بَلۡ يُرِيدُ ٱلۡإِنسَٰنُ لِيَفۡجُرَ أَمَامَهُۥ ٥ يَسۡـَٔلُ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلۡقِيَٰمَةِ ٦

١- نه؛ زما دي قسم وي د قيامت په ورځي. ٢- او نه؛ زما دي قسم وي په ملامتوونکي نفس. ٣- آيا دا انسان انګېري چې راغونډ به نه کړو د ده هډوکي؟ ٤- ولې نه؛ په دې برلاسي یو چې برابر ئې کړو د ګوتو سرونه. ٥- بلکې دا انسان غواړي چې فجور وکړي ترې ورمخکې. ٦- نو پوښتي: کله به وي د قيامت ورځ؟!

١-٢: دلته په (يَوْمِ الْقِيَمَةِ) او (النَّفْسِ اللَّوَّامَةِ) لوړه شوې، خو د قسمونو نه وروسته په ټولې سورې کې داسې څه نه مومو چې د قسمونو ځواب وي. د قرآن په ټولو نورو سورتونو کې معمول دا ده چې لومړی په څرګند او منل شوي شي لوړه کېږي، بيا د قسم ځواب د يوې داسې مسلمي او انکار نه منونکې دعوی په ځېر ذکر کېږي چې همدا قسمونه ئې په حقانيت شهادت ورکوي، د دې عامي قاعدې مطابق بايد لومړی په (نفس لوامة) لوړه شوې وی او بيا د قيامت راتګ د دې قسم د ځواب په توګه ورپسې راغلی وی، خو دلته (يوم القيٰمة) د داسې يوه حقيقت په توګه ذکر شوی چې د قرآن هر مخاطب بايد د هغه په اړه شك او ترديد ونلري او د مسلم او قطعي حقيقت په توګه ئې ومني او بيا د قيامت د اثبات لپاره په (نفس لوامة) استناد شوی. دا چې ولې دلته د نورو سورتونو په څېر د قسم ځواب په څرګنده توګه نه دئ ذکر شوی او ولې د قرآن د عمومي قاعدې مغاير په داسې څه لوړه شوې چې څرګند نه دئ؟! په دې پوهېدل لږ غور غواړي. په لږ دقت سره په دې خبرې پوهېدی شو چې د قسمونو ځواب په خپله په قسمونو کې نغښتی دئ؛ او هغه داسې: د انسان په وجود کې د وجدان په نامه د داسې يوې مَلَکې شاهد یو چې په هر بد عمل او ګناه کې انسان ملامتوي، د ده بد عمل غندي، دا استعداد کسبي نه دئ بلکې د ده په فطرت او خټه کې اېښودل شوی، په هر ښه او بد، صالح او طالح انسان کې شته، دا وجداني محاکمه په هرچا کې تل فعاله وي، نه يوازې د هرعمل په اړه قضاوت کوي بلکې د مجازات پرېکړه هم کوي، مګر نه ګورئ چې انسان کله له يوه غلط کار وروسته خپل مخ

په څېړه وهي، کله ئې وجدان دې ته اړ کړي چې محکمې ته رجوع وکړي او په خپل داسي جرم اعتراف وکړي چې له ده پرته هیڅوك پرې خبر نه وي، کله بیا د وجدان له عذاب د نجات لپاره ځان وژني ته پناه وړي، وجدان ئې د دې فیصله کوي چې دی د مرګ وړ دئ، په خپله ځانته همدا سزا ورکوي. په انسان کې دا (ملامتوونکی نفس) د قیامت د اثبات لپاره قوي دلیل دئ، دا ځکه چې په انسان کې د قضاوت او محاسبې دا صفت په دې شهادت ورکوي چې د انسان خالق او پیداکوونکی به هم خامخا په دې صفت متصف وي، د (مخلوق) او (مصنوع) هر کمال او نېك صفت، په (خالق) او (صانع) کې د همدې صفت په شته والي شهادت ورکوي، ممکنه نه ده چې په مصنوع کې دي داسي کوم غوره صفت وي چې د ده په صانع کې دي همدا صفت په اتم او اکمل طور نه وي. نو هغه ذات چې انسان ئې پیدا کړی او په ده کې ئې (ملامتوونکی نفس) اېښی او د وجدان مَلَکه ئې ورکړې او هغه ئې داسي جوړ کړی چې د هر بد عمل او هري ګناه په اړه ئې قضاوت کوي، حتی خپل ځان ملامتوي او مناسبه سزا ورکوي، دا ذات به حتماً په دې صفت متصف وي، حتماً به د انسان د کړنو په اړه قضاوت کوي، ستا وجداني محاکمه په دې خبرې شهادت ورکوي چې د قیامت ورځ به هرو مرو راځي او هغه ذات به ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي چې ستا وجدان او ملامتوونکی نفس د ده ودیعه او پېرزوینه ده. که انسان د هري پېښې او صحنې په اړه خامخا قضاوت کوي، یوې ته په بلې ترجیح ورکوي، یوه تأییدوي، بله تردیدوي، دوه کسان د دوو بېلا بېلو کړنو په حال کې ګوري، یوه ته ښه او بل ته بد وایي، دوه کسان د جګړې په حالت کې ګوري، یو ظالم او بل مظلوم، د یوه په نسبت په خپل زړه کې ترحم او زړه سوی احساسوي، غواړي د هغه مرسته وکړي، د بل په نسبت په خپل زړه کې کرکه محسوسوي، غواړي د هغه مخنیوی وکړي، که ئې له وسه پوره وه حتماً د مظلوم مرستې ته راوړاندې کېږي او د ظالم مقابله کوي، ظالم ته د خپل ظلم جزاء ورکوي. ووایاست: په انسان کې دا د قضاوت استعداد چا اېښی، دا د مکافات او مجازات تصور چا ورکړی، دا د ښه او بد د تفکیك او تمییز فهم ئې له کومه کړی؟ ته څنګه دا منې چې په انسان کې دي دا صفت وي او د ده پیدا کوونکی ذات دي په دې صفت متصف نه وي؟ د عقل تقاضی خو دا ده چې د انسان پیداکوونکی او خالق باید په اتم او اکمل صورت کې د (قضاوت) او مکافات او مجازات په صفت متصف وي، هغه به حتماً د قیامت ورځ راولي چې دا قضاوت تر سره کړي.

د دغې شرحې په پام کې نیولو سره د دې قسمونو مطلب او په خپلو منځونو کې ئې تړاو ښه څرګندېږي او دا معلومېږي چې دلته هم د نورو قسمونو په څېر د قرآن عمومي

قاعده مراعات شوې. دلته د قرآن مخاطب ته داسې ویل شوي چې: نه؛ قیامت یو مسلم حقیقت دئ، حتماً به راځي، له قیامت ستا انکار خوشی بې بنسټه انکار دئ، ستا (نفس لوامة) په دې شهادت ورکوي چې د قیامت او محاکمې او محاسبې ورځ به حتماً راځي.

وروسته په همدې سلسله کې فرمایي: آیا انسان دا ګمان کوي چې د ده وراسته هډوکي او په خاورو بدل شوي اندامونه د بیا راغونډولو نه دي او الله به بیا د ده جټه جوړه نه کړي او هغه ته به سا ورنه کړي؟!! په داسې حال کې چې الله نه یوازي د ده په بیا راژوندي کولو قادر دئ بلکې په دې هم قادر دئ چې د ده د ګوتو د سرونو لیکې او ګاري په خپل مخکیني شکل کې بیاجوړي کړي. د قیامت په اړه د انسان د انکار وجه دا نه ده چې هغه ته کافي او قانع کوونکي دلائل په لاس نه دي ورغلي او یا له دې حقیقت د ده انکار د جهل او ناپوهې له کبله دئ، داسې نه ده؛ برعکس د ګناه اراده او په راتلونکي کې د فجور او بدکارۍ عزم ئې دې ته هڅوي چې له قیامت عمداً انکار وکړي. په قیامت باور خو د ده د وجود په خټه کې اېښودل شوی، د ده وجدان د قیامت او حساب کتاب یوه څرګنده بېلګه ده، د ده مشکل له دې راولاړ شوی چې (هوی او هوس) ئې دې ته اړ کوي چې د خپل (وجدان) او (عقل) پرېکړه تکذیب کړي، د ده قضاوتونه له هوس راخوټېږي، تل د خپل وجدان د حکم او غوښتني خلاف ګناه ته ملا تړي. که دی د خپل هوس فرمان ته غاړه کښېږدي؛ او د ګناه د ارتکاب اراده او عزم پرېږدي نو د ده او قیامت تر منځ به ټول حجابونه له منځه ولاړ شي او په خپل نفس کې به د هغه لپاره شواهد وموميي.

په (لاأُقْسِمُ) کې د (لا) په اړه د مفسرینو تر منځ اختلاف شته، صحیح رأیه دا ده چې په (لا) سره د مخاطب رأیه او نظر رد شوی، بیا مکث دئ؛ او بیا لوړه شوې، د دې تفصیل د البلد د سورې د قسمونو په شرح کې وګورئ.

٣-٤: په دې مبارکو آیتونو کې د قرآن یو بل علمي اعجاز زموږ مخي ته راځي: وایي: آیا له قیامت منکر انسان داسې ګمان کوي چې وراسته هډوکي به ئې بیا راغونډ نه کړو؟ آیا بیا ژوندون ورته محال برېښي؟!! په دې دي پوه شي چې نه یوازي بیا به ئې ژوندی کړو بلکې د ګوتو د سرونو ګاري به ئې هم په مخکینۍ بڼه کې جوړي کړو؟ تحقیقات ښیي چې د هر انسان د ګوتو د سرونو ګاري تر بل فرق لري، د همدې لپاره اوس پولیسان تر عکس د ګوتو د سرونو نښو ته اهمیت ورکوي، له هر متهم تر هر څه د مخه د ګوتو د سرونو نښه اخلي، د جرم په ځای کې د ګوتو په نښو پسې ګرځي؛ او په دې باور دي چې په دنیا کې د دوو انسانانو د ګوتو د سرونو ګاري یوه بل ته ورته نه دي!!

٥-٦: داسې نه ده چې د قیامت منکرین د قیامت د اثبات لپاره قانع کوونکي دلائل نه

مومي او په راتلو کې ئې شك لري؛ او دا ورته حقيقتاً ګرانه برېښي چې د انسان وراسته هډوکې دي بيا راغونډ او ژوندي شي، له قيامت د دوی د انکار وجه دا نه؛ بلکې دا ده چې د ګناه قصد او هوډ ئې دې ته هڅوي، دی په راتلونکې کې د ګناهونو د تکرار اراده لري او په آخرت باور ئې له ګناه راګرځوي، د ګناه لپاره له آخرت انکار کوي، نو په حقيقت کې دا انکار د ده د عقل حکم نه بلکې د ده د هوس غوښتنه ده، عقل ئې په آخرت ايمان ته رابلي خو هوس ئې د قيامت تکذيب ته، که د هوس غوښتنو ته تسليم نه شي او د ګناه اراده پرېږدي، د ده او د قيامت تر منځ به ټول حجابونه لري شي، هيڅ څه به د ده عقل په آخرت له باور کولو منع نه کړی شي. دی د قيامت د تکذيب لپاره يوازې يوه خبره د کولو لپاره لري: هغه قيامت چې تاسو ئې د راتلو خبرداری راکوئ؛ کله به راځي؟ ولې تر اوسه رانغی؟ که د قيامت د راتلو دعوی رښتينې وی بايد تر اوسه راغلی وی!! هغه په دې نه پوهېږي چې هره پېښه په خپل خپل وخت راځي! له خپل وخت نه مخکې د يوې پېښې د راتلو غوښتنه سفاهت دئ.

فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ ۝٧ وَخَسَفَ ٱلۡقَمَرُ ۝٨ وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ۝٩ يَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذٍ أَيۡنَ ٱلۡمَفَرُّ ۝١٠ كَلَّا لَا وَزَرَ ۝١١ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمُسۡتَقَرُّ ۝١٢ يُنَبَّؤُاْ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذِۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ۝١٣ بَلِ ٱلۡإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ بَصِيرَةٞ ۝١٤ وَلَوۡ أَلۡقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ۝١٥

۷- نو کله چې سترګي شي رډي رډي. ۸- او سپوږمۍ شي تکه توره. ۹- او يوځای کړل شي لمر او سپوږمۍ. ۱۰- وايي به انسان چې چېرې دئ د تېښتي ځای؟ ۱۱- داسې نه ده؛ هيڅ پناه ځی به نه وي. ۱۲- په دې ورځ به ټمځای ته د تلو لار وي ستا د رب په لوري. ۱۳- په دې ورځ به انسان خبر کړی شي په هغه څه چې مخکې ئې لېږلي او شا ته ئې پرېښي. ١٤- بلکې انسان ښه سترګه ور دئ په خپل ځان. ۱۵- که څه هم وړاندي کړي خپل عذرونه.

۷-۱۰: دا آيتونه څو اساسي مطالب توضيح کوي:

۱- د چا چې خپل غرض او مرض په حقائقو باندي د اعتراف مانع شي، په استدلال سره ئې نه شو قانع کولی، له عمدي انکار ئې نه شو منع کولی، بايد پرې ئې ږدو چې حقائق په خپله راشي، د سترګو مخي ته ئې ودرېږي، سترګي ئې ورپرانيزي، څوک چې قيامت نه مني،

عمداً ترې انکار کوي، ده ته باید ووایو: لږ صبر وکړه، په خپلو سترګو به ئې وګورې، یوازې د قیامت هولناکې صحنې کولی شي د ده سترګې ورپرانیزي.

۲- په دې ورځ به سپوږمی تیاره شي؛ او د دې معنی دا ده چې لمر به له ځلېدا ولوېږي، سپوږمۍ ته به رڼا نه شي ورکولی.

۳- لمر او سپوږمۍ به سره یو ځای شي، یعني د لمر جاذبه به دومره زیاته شي چې سپوږمۍ به د زمکې له جاذبې وشکوي.

٤- دا آیتونه د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز وړاندي کوي، کوم حقیقت چې په دغو آیتونو کې ورته اشاره شوې ساینس پوهان د شلمې پېړۍ په پای کې پرې پوه شول، له ژورو او اوږدو څېړنو وروسته دوی ته څرګنده شوه چې د خاصو عواملو له کبله په ځینو سماوي اجرامو او ستورو کې داسې تغییرات رامنځته شي چې په نتیجه کې ئې جاذبه دومره زیاته او ځواکمنه شي چې د نور وړانګې ئې ترې بېلېدی او تښتېدی نه شي، په اصل کې رونړ وي، رڼا او نور ترې وځي خو د قوي جاذبې په سبب ترې جلا کېدی نه شي، د ستورو دې حالت ته ئې د **black hole** (تیاره کنده) نوم ورکړی، دا داسې حالت دئ چې یو ستر ځلانده ستوری ناڅاپي له سترګو غائب شي، پرته له دې چې له منځه تللی وي، شته وي خو رڼا ئې نه تر سترګو کېږي، په لمر به دغسې حالت راشي، د جاذبې قوه به ئې ډېره لوړه لاړه شي، دومره چې له یوې خوا به د نور وړانګې نه ترې ساطع کېږي او له بلې خوا به سپوږمۍ ځان ته جذب کړي. که تاسو نن یوه منصف ستور پوه ته چې له ژورو څېړنو وروسته د دغو تیارو کندو په حقیقت پوه شوی، ووایئ: (قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ویلي چې یو وخت به لمر له ځلېدو ولوېږي، ورپسې به سپوږمۍ تیاره شي او بیا به ئې لمر ځان ته جذب کړي) یقیناً چې هغه به په ډېر حیرت او ژور تعجب کې لوېږي او په دې به اعتراف کوي چې دا وړاندوینه د یوه عادي انسان له لوري ممکنه نه ده. دا هغه ستر حقیقت دئ چې مور اوس پرې پوه شوي یو. د دې موضوع تفصیل د تکویر په سوره کې مطالعه کولی شئ.

۵- څوک چې نن په قیامت له اعتراف تښتي د قیامت په ورځ به د مخوف او هولناکو صحنو په لیدو سره د مفر په لټه کې وي، له هر چا به پوښتي: کومي خوا ته وتښتم؟ چېرې پناه یوسم؟

۱۱-۱۲: خو په دې ورځ به هیڅ پناه ځی نه شي موندلی، هیڅ د ټېکې ځای به په نظر نه ورځي، د الله تعالی له درشل پرته به بل مستقر نه وي، د تښتي ټولې لارې به ترلې وي، نه د پناه لپاره کوم ځای او نه ټېکې لپاره محل، هره لار به د الله تعالی په وړاندي ودرېدو ته

منتهي کېږي، د ده په لوري به درومي او د ده په وړاندي به ودرېږي.
۱۳: د قيامت د نه منلو له کبله ئې چې کومه ګناه کړې وه؛ او د کومو ګناهونو لپاره ئې چې له قيامت انکار کاوو، ټول به په خپلې عملپاڼې کې وګوري، په خپل ژوند کې ئې چې څه کړي وو، يا ئې د کولو اراده کړې وه خو پرې قادر شوی نه وو، د ټولو دقيق فهرست به خپلې مخې ته بيامومي.
۱۴-۱۵: ګمان مه کوئ چې يوازې د خپلې عملپاڼې په ليدو سره به له خپلو کړنو خبر شي، نه؛ بلکې په خپله به پرې پوهېږي، په ځان پوه دئ، له خپلو کړنو ښه خبر دئ، په خلاصو سترګو ئې ګناه ته لاس اوږد کړی، د ملامتوونکي نفس له اعتراض او ملامتولو سره سره ئې ګناه کړې، کوم معاذير چې دی ئې د خپلو ګناهونو د توجيه لپاره وړاندي کوي، واهي او جعلي دي، په خپله ئې په سست والي پوهېږي، ورته وبه ويل شي: كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا: ستا خپل نفس ستا په سر د حسيب په توګه کافي دئ.

لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾

۱۶- ژبه دي پرې مه خوځوه، د دې لپاره چې تلوار پرې کوې. ۱۷- راغونډول او ويل ئې دي زمونږ په ذمه. ۱۸- نو چې کله ئې لولو د لوستلو متابعت ئې کوه. ۱۹- بيا ئې بيانول هم زمونږ په ذمه دي.

۱۶-۱۹: ځينو مفسرينو دا څلور آيتونه د معترضه جملو په توګه نيولي او وايي چې له مخکينيو او وروستنيو آيتونو سره خاص ارتباط نه لري!! په داسي حال کې چې له څو اړخونو د دوی تر منځ ډېر ژور او ظريف ارتباط شته: په مخکينيو آيتونو کې د هغه چا چلن ته ګوته نيول شوې چې نه يوازې د قيامت په اړه د قرآن وينا او دلائل نه مني؛ بلکې عملاً او له دې کبله ئې تکذيبوي چې له ګناهونو لاس اخيستو ته چمتو نه دئ، په قيامت باور له ده دا غوښتنه کوي چې له ګناهونو ډډه وکړي خو دی د ګناه په ارتباط د خپل وجدان او ملامتوونکي نفس قضاوت هم نه مني، خو د قرآن په اړه د دې مفسد انسان د دغه ظالمانه چلن په مقابل کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم معاملې ته پام وکړئ او وګورئ چې په دې دواړو کې څومره ژور توپير دئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم د قرآن د هري نوې برخې په اورېدو سره داسي په وجد راځي او هڅه کوي چې په تلوار سره ئې زده او حفظ کړي، څه ترې پاته نه شي، هيڅ لفظ ئې هېر نه کړي؛ او دا احساس ورسره

راپيدا کېږي چې که د ده مخاطبينو تر اوسه د ده هيڅ مخکينۍ خبره نه ده منلې خو اوس او د دغو آيتونو په اورېدو سره به خامخا ايمان راوړي، د خپلو ټولو پوښتنو ځواب به په کې مومي، بايد ژرئې تر لاسه کړي او ژر ئې د خپلو مخاطبينو مخې ته کېږدي. عجله او تلوار ئې دومره چې الله تعالى ورته د تلوار نه کولو توصيه کوي او فرمايي: د قرآن د نويو آيتونو د تر لاسه کولو په اړه ډېره عجله مه کوه، کله چې ئې د وحي فرشته پر تا لولې ته ئې په تلوار له ځان سره مه تکراروه، پرېږده چې فرشته خپل پيغام بشپړ کړي، د وحي له القاء فارغ شي، په تأني او دقت سره ئې واوره، د هېرېدو تشويش ئې مه کوه، موږ د دې ذمه وال يو چې هغه ستا په حافظې کې خوندي کړو، ستا په ژبه ئې جاري کړو او شرح او تفصيل ئې بيان کړو.

كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ ٱلْآخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾

۲۰- نه؛ داسې نه ده؛ بلکې دنيا خوښوئ. ۲۱- او آخرت پرېږدئ. ۲۲- ځينې څېرې به په دې ورځ وي تازه خوښې. ۲۳- د خپل رب په لوري کتونکې. ٢٤- او ځينې څېرې به په دې ورځ وي خړې. ۲۵- ګمان به کوي چې ملاماتونکی چلن به ورسره وشي.

۲۰-۲۱: د دې آيتونو په اړه دوه توجيه مومو:

الف: هر دليل چې د قيامت د تکذيب لپاره وړاندې کوئ بې بنسټه دئ، ستاسو د انکار اصلي وجه دا ده چې: دنيا مو غوره کړې، د دنيا مينه مو په زړه سيوری غوړولی، آخرت ته مو قصداً شا کړې، له قيامت ستاسو د انکار اصلي وجه همدا ده.

ب: له عاجل، وړو او ژر تر لاسه کېدونکو اغراضو سره ستاسو علاقه او له لوړو اهدافو او په ځنډ تر لاسه کېدونکو اوچتو مقاصدو سره ستاسو عدم علاقه، د دې سبب شوې چې له قيامت انکار وکړئ او د قرآن مخالفت ته ملا وتړئ. مګر نه ګورئ څوک چې معنوي تنده لري او لوړو مقاصدو ته د رسېدو تلوسه لري په قرآن د ژر او ژور پوهېدو په اړه څومره تلوار او عجله لري؟! خو تاسو چې دا تنده او تلوسه در کې ځپل شوې او ځای ئې له پرېوتو دنيوي اغراضو سره افراطي مينې نيولې، قصداً او عمداً د تکذيب لپاره ملا تړئ!!

دوهمه توجيه هم دقيقه ده او هم د تحبون، عاجلة او تذرون اصلي معاني په کې مراعات شوې.

۲۲-۲۳: ځينې څېرې به په دې ورځ خوښې او ځلانده وي، د خپل رب په لوري کتونکې، دا

هغه بختور کسان دي چې په دنيا کې به تل او په هر کار کې د خپل رب په فکر کې ول، حرکت ئې د ده په لوري، لار ئې د ده لار، هغه لار چې الله تعالی ته پرې رسي، هدف ئې د الله تعالی رضاء تر لاسه کول، غوښتل ئې هغه کار وکړي چې د الله تعالی خوښ دئ؛ او هغسي ئې تر سره کړي چې الله تعالی پرې راضي کېږي، دوی به په دې ورځ خپل مقصد ته رسېدلي وي، د خوښۍ نښې به ئې په څېرو کې برېښي، د هغه ذات د جمال نداره به کوي چې په دنيا کې ئې غائبانه د هغه عبادت کاوو، په دې طمع او باور چې د قيامت په ورځ به ورسره مخامخ کېږي، مرګ ژوند ئې د ده لپاره وو، کړه وړه، هڅه هاند، جهاد او مبارزه ئې د ده لپاره وه، په دې ورځ به حجابونه لرې شي، منتظري سترګې به ئې د خپل معبود په جمال روښانه او تږي زړونه به ئې خړوبه شي.

د الله تعالی په لوري د نظر د څرنګوالي په اړه د مفسرينو څو رأيي مومو:

الف: ځيني وايي چې دا ليدل او کتل د زړه په سترګو، باطني ليدا او معنوي مشاهده ده نه حسي مشاهده او د سر په سترګو، دا ځکه چې په حسي مشاهدې سره يوازي هغه څه ليدلی شو چې جسماني وي او جسماني شيان خاص جسماني کيفيت او حالت لري او مکان ته اړ وي، حال دا چې د الله تعالی ذات له دغو ټولو منزه دئ. دوی د دې رأيي د دفاع لپاره په دې آيت استناد کوي:

لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾ الانعام: ۱۰۳

سترګې ئې ليدی نه شي او دئ سترګې ويني؛ او دی ښه باخبر لطيف دئ.

ب: ځينو (ناظرة) د (انتظار کوونکې) په معنی اخيستې او وايي چې مؤمنان به په دې ورځ يوازي الله تعالی ته منتظر وي او پر له پسې به د خپل رب رحمت، پېرزوينو او نعمتونو ته انتظار کوي.

ج: خو نور مفسرين (ناظره) په اصلي معنی اخلي او وايي چې دغه آيت په جنت کې د الله تعالی د ليدو او مشاهدې په حقيقت دلالت کوي، (د باطني شهود) او (د زړه په سترګو د ليدو) په ځای د سر په سترګو د ليدو خبره کوي او د دې تعبير لپاره په دې روايت استناد کوي:

عن ابن عمر(رضی الله عنه) قال: قَالَ رَسُولُ الله صلی الله عليه و سلم « إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَأَزْوَاجِهِ وَنَعِيمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مَسِيرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ وَأَكْرَمَهُمْ عَلَى الله مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً ». ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ الله صلی الله عليه و سلم (وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ). رواه الترمذی

له عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د جنتيانو تر ټولو ټيټه درجه به د هغه چا وي چې خپل جنتونه، مېرمني، نعمتونه، خادمان او تختونه به د زرو کلونو په واټن کې گوري؛ او الله ته تر ټولو مکرم به ئې هغه وي چې سهار ماښام به د هغه وجهي ته گوري، بيا ئې دا آيت تلاوت کړ: وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ * إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ *: ځيني څېرې به په دې ورځ خوښ تازه وي. د خپل رب په لوري کتونکې.

په څو دلائلو درېيمه رأيه دقيقه ده:

الف: د (ناظرة) اصلي معنى په کې مراعات شوې، مور بايد ځان ته دا حق ورنه کړو د خپلو شخصي واهمو له کبله د قرآن د الفاظو اصلي معنى پرېږدو او د الفاظو هغه غير اصلي معنى او د آيت هغه تعبير غوره کړو چې زمور واهمې مرفوع کړي، لومړى په خپل ذهن کې داسې څه انځور کړو چې زمور اجتماعي موقعيت، افکار، عقائد او خاص ذهنيت ئې غوښتنه کوي، بيا دا الفاظ د هغه په گټه تأويل او توجيه کړو، دا له هغه چا سره نه ښايي چې قرآن د الله تعالى کتاب گڼي، دې ته وايي تفسير بالرأى.

ب: که په يوې قضيې پورې اړوند دوه په ظاهر کې متباين آيات مومو، نو د دوى تر منځ د تلفيق مناسبه لار دا نه ده چې يو حذف کړو يا ئې الفاظو ته غير اصلي او محتملي معاني ولټوو او د بل په گټه ئې تأويل کړو، د الله تعالى په مقدس کتاب د ايمان تقاضى دا ده چې په هر يوه ئې په خپل خپل ځاى او په خپله خپله ځانگړې معنى بشپړ ايمان ولرو، نه څه ترې کم يا څه پرې زيات کړو او يا يو د بل په گټه توجيه او تأويل کړو. دا سمه نه ده چې د الله تعالى د ليدو په اړه دا آيت (لاتدركه الابصار و هو يدرك الابصار: سترگي ئې ليدى نه شي او دى سترگي ويني) په مطلقه توگه ومنو او په مقابل کې ئې دا آيت (وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة: ځيني څېرې به په دې ورځ خوښ تازه وي. د خپل رب په لوري کتونکې) مطلق ونه گڼو، د مخکيني آيت په گټه ئې تأويل کړو، (ناظره) د باطني مشاهدې په معنى ونيسو!! ولې نه وايو چې په دواړو بشپړ ايمان لرو، حرف حرف ئې منو، يو ئې په دنيا پورې مربوط دئ او بل ئې په آخرت پورې، په دنيا کې هيڅوك نه شي کولى الله تعالى په خپلو سترگو وگوري خو په آخرت کې به ئې جنتيان په خپلو سترگو گوري.

که ومنو چې د (لاتدركه الابصار) آيت عام دئ او په دنيا پورې ئې بايد مختص نه کړو نو بايد دې ته متوجه وو چې په آيت کې (لاتدركه) راغلى نه (لاتراه)، د (ليدو) او (درك كولو) تر منځ ژور توپير شته، هيڅوك نه شي کولى چې الله تعالى داسې وگوري چې کاملاً پرې احاطه وکړي او په بشپړه توگه ئې (درك) کړي، فقط ويني به ئې او د جمال له ليدو

به ئې خوند اخلي.

دا هم صحيح ده چې موسى عليه السلام ته ويل شوي: لن ترانى (هيڅ كله مي ليدى نه شې) خو پوښتنه كوو: هغه وخت د غره د ټوټه ټوټه كېدو او د موسى عليه السلام د بې هوښه كېدو وجه څه وه؟ آيا دا پېښه د غره په لوري د الله تعالى له تجلي رامنځته نه شوه؟ مگر ويلى شو چې هلته هيڅ څه نه دي شوي او موسى عليه السلام هيڅ څه نه دي ليدلي؟! كه د قيامت د ورځې ليدا په دې دليل باطني مشاهده گڼئ چې د حسي مشاهدې په منلو سره الله تعالى ته جسم ثابتېږي!! نو پوښتو: له موسى عليه السلام سره د الله تعالى تكلم به څنگه توجيه كوئ؟ مگر له يوې مباركې وني ئې ده ته (نداء) ونه كړه او په خاص كلام سره ئې له هغه سره تكلم و نه كړ؟ دا (نداء)، (تكلم) او (تجلي) به څنگه توجيه كوئ؟ آيا ستاسو د معيارونو او اسلوب له مخي (تكلم) د جسم تقاضى نه كوي؟! آيا كولى شو هغه باطني (تكلم) او (نداء) وگڼو؟

ج: د آخرت سنن او ضوابط بايد د دنيا د سننو او ضوابطو په څېر ونه گڼو، مگر نه پوهېږئ چې په جنت كې نه زړښت شته او نه مرگ، نه ئې اوبه گنده كېږي او نه شيدې، په كوم لوري چې وغواړې هغه خوځولى شې، شراب ئې نه څوك بې خوده كوي او نه ئې چټي او بې هوده خبرو ته هڅوي، نه به زمور زړه، سترگي او غوږونه د دنيا په څېر وي او نه مو حواس محدود، كمزوري او د اوس په څېر، هلته به جنتيان دوزخيان په داسي حال كې گوري او غږ به ئې اوري چې د دوى تر منځ واټن به له يوه ستوري تر بله ستوري له واټنه هم زيات وي، هلته نه حجابونه ستا مخه خنډ كولى شي او نه واټنونه د غږونو اورېدو مانع كېدى شي، هلته به كافر محجوب وي او ړانده ته ورته او مؤمن به د تېزو سترگو خاوند او د الله تعالى له ليدو معمور او خړوب.

٢٤-٢٥: او د دې مؤمن ټولگي په مقابل كې به بله ډله داسي مومې چې څېرې ئې عبوس، تندي ئې گونځي گونځي، رنگ ئې الوتى، سترگي ئې خړې؛ او ملاماتوونكي عذاب ته منتظر.

كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنْۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَٱلْتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾

٢٦- نه؛ داسي نه ده؛ كله چې ورسي تر ستوني. ٢٧- او غږ شي چې شته كوم دم كوونكى؟ ٢٨- او گمان وكړي چې دا وخت دئ د فراق. ٢٩- او راتاو شي ساق په ساق. ٣٠- په دې ورځ به د تلو لار وي ستا د رب په لوري.

٢٦- ٣٠: په دې آيتونو کې څو مهم ټکي توضيح شوي:

ګمان مه کوئ چې (آخرت) لري دئ او ستاسو او قيامت تر منځ اوږد واټن دئ! داسې نه ده؛ ستا مرګ د قيامت په لوري لومړی ګام او ستا د سفر پيل دئ، کله چې ستا روح ستوني ته ورسېږي، د حاذق طبيب او دموونکي په لټه کې شئ، خو ډېر ژر دې نتېجې ته ورسېږئ چې نور نو د فراق او بېلتون وخت رارسېدلی، بايد له دنيا او لذتونو ئې وداع وکړي او له هر هغه څه بېل شي چه په دنيا کې داسې پرې نښتی وو چې الله تعالی او آخرت ئې تر ټولو هېر کړی وو، ټول بايد نورو ته په ميراث پرېږدي او کله چې د ځنکدن او نزعي له سخت درد پښې يوه په بلې راتاو کړي، همدا د الله په لوري د تلو پيل دئ، ستا نزع د هغه سفر د پيل نقطه ده چې د الله تعالی په وړاندي په ودرېدو منتهي کېږي!! ولې دي آخرت لري ګڼلی؛ او په دنيوي اغراضو دي منګولې ښخي کړې او د هغوی لپاره دي الله تعالی او آخرت هېر کړی؟!!

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴿٣٣﴾ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِىٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْۦِۦَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾

٣١- نو نه ئې تصديق کړ او نه ئې لمونځ وکړ. ٣٢- برعکس تکذيب ئې کړ او مخ ئې واړاوو. ٣٣- بيا په کبر سره ولاړ تر خپل ټبره. ٣٤- وای وای دئ ستا په حال. ٣٥- بيا وای وای دئ ستا په حال. ٣٦- آيا ګمان کړي دا انسان چې مهمل به پرېښودی شي. ٣٧- مګر نه وو يوه نطفه د تويېدونکې مني ؟ ٣٨- بيا وو ځوړند توکی چې پيدا او برابر ئې کړ. ٣٩- بيا ئې تر جوړه کړه د نارينه او ښځينه جوړه. ٤٠- مګر دا ذات به قادر نه وي چې مړي کړي ژوندي؟

٣١- ٣٥: دا د قيامت منکر عاصي او ګنهګار انسان چې په راتلونکي کې هم د ګناه هوډ لري؛ او همدغه هوډ ئې په قيامت له ايمان منع کوي، له دغو ټولو قانع کوونکو دلائلو سره سره نه په قيامت باور کوي او نه په الله تعالی ايمان راوړي او نه په لمانځه سره خپل رب ته د احتياج لاس اوږدوي، برعکس د تکذيب او انکار لار ئې غوره کړې، له حقيقت مخ اړوي

او په غرور او تکبر سره خپلې کورنۍ ته ورګرځي او په دې افتخار کوي چې د حق مخالفت ته ئې ملا تړلې، نه پوهېږي چې وضع ئې څومره د افسوس وړ ده او څومره بد عاقبت ورته منتظر!! د ده حال په دنیا او آخرت کې افسوسناك دئ.

۳٦-٤٠: په دغو آیتونو کې څو مهم او اساسي ټکي مومو:

- آیا دا له قیامت منکر انسان داسي انګېرې چې له مرګ وروسته به مهمل پرېښودی شي، وراسته هډوکي به ئې ترخاورو لاندي پاته او بیا به راژوندی نه شي؟! آیا ګمان ئې دا دئ چې مرګ ئې د هر څه پای دئ او داسي څوك نشته چې بیا ئې راژوندی کړي؟
- آیا ده خپل لومړنی پیدایښت هېر کړی؟ آیا نه پوهېږي چې پیدایښت ئې له یوې داسي نطفې پیل شوی چې په رحم کې څڅېږي؛ او په رحم کې له څڅېدو وروسته ئې نه پلار د ده په ترکیب او ودي کې څه اغېز لري او نه ئې مور په څرنګوالي کې څه تصرف کولی شي. ووایه! څوك له دې نطفې انسان جوړوي؟ د چا تر څارنې او مراقبت لاندي وده کوي، علقه ترې جوړه شي، د ژوندي موجود په څېر ئې وده پیل شي؟ د چا په امر له دې نطفې ځینې (نارینه) او ځینې (ښځینه) جوړېږي او دغه جوړه د انسان د نسل دوام تضمینوي؟ مګر دا ټول ستا د رب د تصرف مظاهر او نښې نه دي؟
- مګر هغه ذات چې خاوره په نطفه بدلوي، له نطفې علقه جوړوي، د انسان پیدایښت له علقې پیل کړي، هر څه ئې ورته سم او برابر کړي، د نر او ښځې جوړه ترې جوړوي، آیا دا ذات د مړو له بیا راژوندي کولو عاجز ګڼئ؟! دا څومره له انصاف لرې او د عقل خلاف قضاوت دئ؟ هر عقلمن انسان په دې پوهېږي چې د مړي بېرته راژوندي کول تر دې ډېر ډېر آسان کار دئ چې مړه خاوره په نطفه بدله کړی شي.
- په دې آیت کې د قرآن مجید یو بل ستر علمي اعجاز ګورو: قرآن د مور په رحم کې د نطفې د ودي دوهمه مرحله د علقه په نامه یادوي، چې معنی ئې ځوړند توکی ده، یعني دا نطفه په دوهم پړاو کې داسي حالت غوره کړي چې د رحم په جدار پورې راځوړنده وي!! او دا هغه حیرانوونکی حقیقت دئ چې انسان اوس او وروسته له هغه پرې پوه شوی چې د لیزرې وړانګو په ذریعه ئې د مور په رحم کې د نطفې د ودي مختلف پراوونه ولیدل او ورته معلومه شوه چې د نطفې د جوړېدو په لومړي پړاو کې هغه د رحم په جدار پورې راځوړند وي. په دې حقیقت تر دې وړاندې انسان ته پوهېدل ممکن نه وو!!!

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

الدهر

د سورې معرفي:

د دې سورې نوم هم الدهر (زمانه) او هم الانسان (انسان) دئ، ۳۱ آيتونه لري، د ټولو آيتونو فواصل ئې مذکورا او سبيلا ته ورته وزن لري. ځيني مفسرين ئې مکي سوره ګڼي او ځيني ئې مدني؛ او ځينو له ۸، ۹ او۱۰ پرته ټوله سوره مکي ګڼلې.

خو د سورې په متن کې څو دلائل ښيي چې دا سوره مکي ده:

الف: د سورې مضامين او د بيان اسلوب ئې کاملاً مکي سورتونو ته ورته دي.

ب: د مدني سورتونو مربوط هيڅ مضمون په کې نه مومو. د بيان اسلوب ئې هم قطعاً مدني سورتونو ته ورته نه دئ.

ج: له ۲٦ آيت ئې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره بايد د (مزمل) له سورې مخکې نازله شوې وي. آيت داسې دئ: وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَٱسۡجُدۡ لَهُۥ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلٗا طَوِيلًا٢٦ (او د شپې له خوا ورته سجده کوه او د شپې په اوږدو کې ورته تسبيح وايه)، (د شپې په اوږدو کې د تسبيح له حکم) معلومېږي چې دا آيت د قيام الليل په اړه لومړنۍ لارښوونه ده؛ او حتماً د (مزمل) له سورې مخکې نازله شوې، دا ځکه چې د مزمل په سوره کې د قيام الليل په اړه لارښووني مشخص او مشرح دي، وخت ئې ټاکل شوی، په لومړي سر کې د شپې دوه برخې، نيمايي او درېيمه برخه ئې ورته غوره شوې، بيا په کې تخفيف راغلی او مقدار ئې د مسلمانانو ظروفو او شرائطو ته پرېښودل شوی، په قرآن کې معمولاً د يوې قضيې په اړه لومړی عام حکم راځي، بيا مزيد لارښووني او مشخص احکام راځي او حد او مقدار ئې مشخص کېږي، شاق حکم اکثراً په تخفيف مقدم او ترې مخکې وي، لکه چې له دښمن سره د مقابلې په ارتباط لومړی دا حکم صادر شو چې د نښتو په دوران کې به مسلمانان د لس برابره دښمن مقابله کوي، خو وروسته بيا په دې کې تخفيف راغی او د دوه برابره فوځ مقابله پرې لازمه شوه. نو ځکه ويل شوي چې د (شپې په اوږدو کې د تسبيح او تهجد عام حکم) بايد له تخفيف مخکې وي. د همدې لپاره په پوره ډاډ او اطمئنان سره ويلی شو چې د الدهر سوره به د مزمل له سورې مخکې نازله شوې وي، هغه متعارض آراء او روايات چې دا سوره مدني ګڼي د سورې له متن سره اړخ نه لګوي. دا سوره په داسې پوښتني پيل شوې چې هر مخاطب به ناچار مثبت ځواب ورکوي او د دې مجال ورته نشته چې منفي

ځواب ورکړي، پوښتي: آيا په انسان باندې داسې وخت تېر شوی چې د ذکر وړ شئ نه وو؟ د پلار په رګونو کې يوه قطره، مهين او بې اهميته قطره، چې نه يوازې جدي او مهمه ئې نه ګڼي بلکې کرکه ترې لري!!

ودې وايي: چا له دې ناڅيز او مهين شي پيدا کړ؟ الله تعالی په خپله دې پوښتنې ته ځواب وايي او فرمايي: دا موږ يو چې انسان مو د نر، ښځې له مختلطې نطفې پيدا کړ؛ او له ډول ډول تطوراتو او تحولاتو سره ئې مخامخ کوو، له مختلفو پړاوونو ئې تېروو، په هر تطور کې ئې وړتياوې او په هرې مرحلې کې ئې د بقاء او پايښت استعداونه آزمويو، وده ورکوو، د کمال په لورې ئې خوځوو؛ او يو حساس اورېدونکی ليدونکی انسان ترې جوړوو، دا موږ يو چې د ده په خټې کې لارښود استعدادونه ږدو، داسې وړتياوې او ځواکونه ورکوو چې د لارې په موندلو کې او د ښه او بد، مفيد او مضر په تشخيص او پېژندو کې د ده مرسته وکړي، په زړه کې ئې رون لارښود څراغ او ملامتوونکی وجدان او نفس ورکوو چې سمه لار وپېژندی شي او د ښايسته او کرکجن توپير وکولی شي، داسې وجدان چې که ئې خاوند په سمه لار لاړ شي، راضي کېږي، پياوړی کېږي، وده کوي، وزرونه ئې غوړېږي او که په بده او ناسمه لار لاړ ملامتوي ئې، سترګې، غوږونه؛ او د ده په وجدان کې دا لارښود استعدادونه په هر حالت کې د ده په خدمت کې دي، که څه هم د الهي نعمتونو پاس ساتي او که ناشکري کوي، که د خپل منعم رب په وړاندې مطيع دئ که سرکښ او باغي، په دنيا کې له خپلو بندګانو سره د الله تعالی معامله داسې ده، خو په آخرت کې به خلك په دوو ډلو وېشي:

کافر چې په لاس پښو او غاړه کې به ئې زولنې او زنځيرونه وي، ټمځای ئې د دوزخ سرې لمبې، په دنيا کې ئې بغاوت او سرغړاوی کاوو، خپل ځواکونه او استعدادونه ئې په غلطه کارول، نو ځکه ئې الله تعالی د دې وړ ګڼي چې اوس ئې لاس پښې په زنځيرونو وروتړي او له خپلو ټولو نعمتونو ئې محروم کړي.

نېکان او صالحان چې په جنت کې به وي، د هغو جنتي شرابو جامونه ئې په لاس کې چې کافور ورګډ وي، د هغې چينې اوبه چې د الله تعالی مقرب بندګان به ئې په کنارو کې ناست وي؛ اوبه به ئې په هر لور او ډول چې وغواړي بهولی او خوځولی شي، هم به ئې فواره د دوی په خوښه وي او هم بهېدا، دا ځکه چې دوی په دنيا کې د خپل رب نعمتونه په سمه او ښايسته توګه کارولي او د هغوی پاس ئې ساتلی وو، دوی په خپلو نذرونو وفا کوله، له محاسبې او هغې ورځ وېرېدل چې خلاصون ترې نشته، له خپلو بې وزلو همنوعانو سره ئې مرسته کوله، مسکين، يتيم او اسير ته ئې طعام ورکاوو، تر ټولو غوره

طعام، خو په همدې وخت کې د حال او قال په ژبه وايي: تاسو ته د طعام له درکولو له دې پرته بل مقصد نه لرو چې د خپل رب رضاء تر لاسه کړو، نه له تاسو د مننې غوښتونکي یو نه د بدلې، موږ له خپل رب وېرېږو، له هغې ورځې چې عبوس او تندی ئې تریو دئ، نو ځکه به ئې الله تعالی د دغې ورځې له کړاوه ژغوري او خوښي او خوشحالي به ئې په برخه کړي، د دوی د صبر په سبب به ئې ټمځای جنت وي او جامه ئې د وریښمو، په تختونو تکیه وهلي ناست، نه به د لمر تودوخه وي او نه څه یخني، سیوری پرې غوړېدلی، مېوې ئې نژدې؛ او تل تیاري، د سپینو زرو لوښي او د بلورو پیالې په بېلابېلو اندازو کې ئې خدمت ته وړاندې کېدونکې، داسې جامونه به په شونډو ږدي چې ممزوج او مخلوط به ئې د زنجبیل د چینې وي، دا د جنت هغه چینه ده چې نوم ئې (سلسبیل) دئ، چارچاپېر ئې تنکي زلمي خدمه د خورو مراوریدو په ځېر. که هغه ځای له نژدې وګورې نو په حقیقت کې دي بې انتهاء نعمتونه او ستر ملك لیدلی، د وریښمو په نازك او پرېږ شین بخنو جامو ملبس او د سپینو زرو په لاس وندیو مزین، خپل رب به ئې په پاکیزه شراب خړوبه کړي؛ او ورته وایي به: دا ستاسو بدله ده او ستاسو د هڅو قدرونه.

دا موږ یو چې قرآن مو جزء جزء درباندې نازل کړ، نو د خپل رب د حکم تر راتلو صبر کوه؛ او د دوی د هیڅ ګنهکار او کفور خبره مه منه، د خپل رب نوم سبا ماښام یادوه، د شپې له لوري ورته سجده کوه او د شپې په اوږدو کې ئې په تسبیح لګیا اوسه، دوی لنډ او پرېوتې دنیوي اهداف غوره کړي او د آخرت درنه ورځ ئې هېره کړې؛ او پروا ئې نه کوي، آیا په دې نه پوهېږي چې موږ پیدا کړي او موږ ئې د وجود بندونه ورمضبوط کړي؛ او چې کله وغواړو دوی ته ورته به ئې راپیدا کړو!! او د سورې په پای کې ویل شوي چې دا یو تذکر او پند دئ د هغه چا لپاره چې غواړي الله تعالی ته د رسېدو غوره لار وموميِ؛ او د ده په لوري د تلو لپاره ئې غوره کړي، انتخاب ستاسو په لاس کې دئ، دا لار فقط د الله تعالی په توفیق سره پلي کولی شئ، د الله تعالی مشیت په دې تللی چې که هر څوك د الله تعالی لار غوره کړي هغه ته د تلو توفیق ورکوي؛ او د ځان په لوري ئې هدایت کوي، د الله تعالی لار د هغه ذات لار ده چې په ټولو اسرارو پوه دئ، په هر حکم او لارښوونه کې ئې ژور حکمتونه مضمر دي، څوك چې د رحمت او پېرزویني وړ وموميِ د خپل پراخ رحمت سیوری پرې غوړوي، خو هغه چې ظالمان دي، نه ئې له یادونو پند واخیست او نه ئې د الله تعالی لار خپله تګلاره وګرځوله، دردناك عذاب ئې ورته تیار کړی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ۝١ إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ نَّبۡتَلِيهِ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا بَصِيرًا ۝٢ إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا ۝٣

۱- آیا پر انسان داسي وخت راغلی چي د یادولو وړ شئ نه وو؟ ۲- دا مورِ یو چي انسان مو له مختلطي نطفې پیدا کړ، چي آزمویو ئې او لیدونکی اورېدونکی مو ترې جوړ کړ. ۳- بې شکه چي مورِ لار وروښوده، که شاکر وي او که بې پاسه او کفور.

۱: دا آیت هر مخاطب ته دا پوښتنه راجع کوي چي انسان تر پیدایښت مخکې څنګه وو؟ له څه پیدا شوی؟ آیا داسي کوم وخت پرې تېر شوی چي د یادولو وړ شی نه وو؟ خاوره، د سپکو او کرکجنو اوبو یو څاڅکی، د خپل پلار په ملا کې، د خپلي مور په رحم کې، چي نه یوازي مهم او جدي نه تلقي کېدو بلکې کرکه ئې ترې درلوده!! که جواب مثبت وي (ناچار باید مثبت وي) نو په دې صورت کې باید ووایي: چا له دغه نا څیز شي پیدا کړ؟ مګر د ده پیدایښت له دغو مهین او سپکو اوبو دا حقیقت نه ثابتوي چي د ده رب به ئې بیا هم راپیدا کړي، دا دوهم ځل پیدایښت تر لومړي ځل ډېر آسان دئ!!

۲- د دې آیت لپاره دوه تفسیرونه مومو:

الف: ځینو ګمان کړی چي په دې آیت کې د ابوالبشر آدم علیه السلام خلقت ته اشاره شوې؛ او د دې خبرې چي (انسان د یادولو وړ شی نه وو) مراد هغه حالت دئ چي د ده د جد له پیدایښت مخکې ئې درلود.

ب: نور په دې باور دي چي د آیت نطاق عام دئ او د هر انسان پیدایښت ته اشاره کوي او د دې خبرې مراد چي (انسان د یادولو وړ شی نه وو) هغه حالت دئ چي هر انسان ئې د خپلې نطفې له جوړېدو مخکې لري، خاوره په مني بدله شي په (مهین او سپکو اوبو) چي انسان ئې له نوم اخیستو هم حیاء کوي.

په څو دلائلو دوهمه رأیه دقیقه ده:

- **د (لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا) له الفاظو معلومېږي چي په دې آیت کې د انسان د نطفې له جوړېدو مخکې هغه حالت ته ګوته نیول شوې چي لا د مور او پلار په بدن کې وي، د سپکو اوبو په څېر، د نه یادولو، دا ځکه چي د آدم علیه السلام پیدایښت له خاوري شوی، د ده د پیدایښت لپاره داسي الفاظ نه شي کارېدی.**

• په وروستي آيت کې د همدې انسان پيدايښت له (ګډې شوې نطفې) ښودل شوی چې معنی ئې له شك پرته د مور او پلار مختلطه نطفه ده، د همدې لپاره ويلی شو چې د آيت معنی دا ده: آيا په انسان باندې داسې وخت تېر شوی چې د ذکر وړ شی نه وو؟ د پلار په رګونو کې يوه قطره، مهين او بې اهميته قطره، چې نه يوازې جدي او مهمه ئې نه ګڼې بلکې کرکه ترې لري!! ودې وايي: چا له دې ناڅيز او مهين شي پيدا کړ ؟ الله تعالی په خپله دې پوښتنې ته ځواب وايي او فرمايي: دا موږ يو چې انسان مو د نر او ښځې له مختلطې نطفې راپيدا کړ؛ او ډول ډول تطوراتو او تحولاتو سره ئې مخامخ کوو، له مختلفو پړاوونو ئې تېروو، هر پړاو د ده لپاره يوه آزموينه ده چې د هغې په ترڅ کې د ده د بقاء توان او طاقت آزمويل کېږي! آيا انسان له الله تعالی پرته داسې څوك مومي چې له نطفې د ده په پيدايښت او د بشپړ انسان تر پوړ د ده په رشد او ودې کې څه اغېز ولري!؟

۳- د دې آيت په اړه لومړی بايد وګورو چې د إِنَّا هَدَيْنَاهُ ٱلسَّبِيلَ (لار مو وروښوده)؛ معنی څه ده؟ آيا مراد ئې فطري هدايت دئ او که د پيغمبرانو عليهم السلام او کتاب په ذريعه د انسان لارښوونه او هدايت؟

په څو دلائلو ويلی شو چې مراد ترې فطری هدايت دئ:

• د آيت الفاظ او ترکيب داسې دي چې ښيي هر انسان د دې الهي پېرزويني مشمول دئ او الله تعالی ئې دا هدايت په برخه کړی. دا الفاظ او ترکيب ئې يوازې په فطري هدايت منطبق کېدی شي، دا ځکه چې دا راز لارښوونه د هر انسان په برخه شوې خو د پيغمبرانو عليهم السلام په لاس لارښوونه داسې ده چې ځينې ئې مني او ګټه ترې اخلي او ځينې ئې نه مني او ترې محروم کېږي.

• تر دې مخکې يا وروسته آيتونو کې هيڅ داسې قرينه نه مومو چې د پيغمبر بعثت او د کتاب نزول ته ئې اشاره کړې وي چې وکولی شو په دې آيت کې (هدايت) د ارشاد او دعوت له لارې هدايت وګڼو.

ثانياً بايد وګورو چې د (إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا) معنی څه ده؟

دوه تفسيرونه مخې ته راځي:

الف: موږ لار وروښوده، کتاب مو ورولېږو او پيغمبر مو په دوی کې مبعوث کړ؛ اوس دا په دوی پورې اړه لري چې د دې الهي لارښوونې قدر کوي؛ او که ناشکري؛ انتخاب د دوی په لاس کې دئ؛ موږ ئې نه مجبوروو.

ب: موږ دا د هدايت او لار موندو اسباب؛ زړه، عقل، سترګې، غوږونه، د ده په خټه کې کښېښودلي، چې زموږ په اراده د ده په خدمت کې دي او د ښه او بد، سمې او خرابې لارې

تر منځ تفکیك او توپیر کې د ده مرسته کوي، که څه هم دی د دغو الهي نعمتونو قدر کوي او که ناشکري، د ناشکري په حالت کې هم دا استعدادونه نه ترې سلبوو.

په دوه دلیله دوهمه توجیه دقیقه ده:

- د آیت د الفاظو دقیقه ترجمه په کې مراعات شوې، که د آیت ترکیب داسي وی: (فمن شاء فلیشکر و من شاء فلیکفر) نو بیا لومړۍ توجیه سمه وه، خو ترکیب داسي دئ: (اما شاکراً و اما کفوراً: که شاکر وي که کافر)، دا ترکیب له لومړۍ توجیه سره سمون نه خوري، دقیق تعبیر ئې په دوهمه توجیه کې راغلی.
- د لومړۍ ډلې رأیه کې د (إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا) دقیق تعبیر نه دئ وړاندي شوی، دا یوازي فطري هدایت دئ چې هم د شاکر بنده په برخه وي او هم د کفور او ناشکر بنده.

إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۠ وَأَغۡلَٰلَا وَسَعِيرًا ۝٤ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ يَشۡرَبُونَ مِن كَأۡسٖ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ۝٥ عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفۡجِيرًا ۝٦ يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا ۝٧ وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ۝٨ إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ۝٩ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوۡمًا عَبُوسٗا قَمۡطَرِيرٗا ۝١٠

٤- بې شکه چې موږ د کافرانو لپاره زنځیرونه، غړوندي او د اور لمبې تیاري کړې. ۵- یقیناً چې نېکان به له داسي جامونو څښي چې مخلوط به ئې د کافور وي. ٦- هغه چینه چې د الله خاص بندګان به ئې خوا کې څښي، روانوي به ئې (څنګه ئې چې) روانول غواړي. ۷- په نذرونو وفا کوي او له هغي ورځي وېرېږي چې شر به ئې خور وي. ۸- او مسکین، یتیم او اسیر ته په داسي حال کې طعام ورکوي چې خوښېږي ئې. ۹- یوازي د الله د رضاء لپاره طعام درکوو، نه بدله درنه غواړو او نه مننه. ۱۰- بې شکه چې موږ له خپل رب وېرېږو، له هغي ورځي چې تریو مخې قهرجنه ده.

٤: په دنیا کې وضع داسي ده چې الله تعالی له خپلو نعمتونو خپل ټول بندګان برخمن کوي، که ئې شکر په ځای کوي او که ناشکري کوي، خو په آخرت کې به بېله وضع وي، هلته به کافران په زنځیرونو او زولنو تړلي او د اور په لمبو کې وي، هغه چې په خلاص لاس ئې تېرې کاوو، پښې ئې د ګناهونو په لوري تلو کې کارولې، خپل استعدادونه او ځواکونه ئې د ظلم او فساد په لار کې استعمالول؛ او فتنې ئې راولاړولې، نن به دلته په دارالحساب کې، د

مکافات او مجازات عالم کې، د اور په لمبو کې پروت وي، په لاسونو، پښو او غاړه کې ئې زنځیرونه.

۵-٦: خو ابرار (نېکان) چې د الله تعالی د نعمتونو پاس ئې ساتلی وو، ښه ئې وکارول، سمه ګټه ئې تري واخیسته؛ او کړني ئې ښې وې، نن به ئې د بریا موسکا په شونډو وي، د هغو شرابو جامونه ئې په لاس کې چې ممزوج او مخلوط به ئې کافور وي، دا هغه چینه ده چې د الله تعالی خاص او مقرب بندګان به ئې په کنارو کې ناست وي او د خپل خاص څښاك جامونه ئې په لاس کې، داسې چینه چې دا مقربین به ئې له خپلې خوښې سره سم په هر لوري بېولی شي، دوی ته تابع او منقاد، د خوځېدو لوری او څرنګوالی ئې دوی په خپله غوره کوي، فوران او خوټېدا به ئې د دوی له خوښې سره سم بدلېږي رابدلېږي. دا هم د انسان یوه فطري غریزه ده چې د اوبو د خوټېدو او بهېدو له بېل بېل حالت خوند اخلي، له یوه حالته ئې ستومانه شي په بل ډول کې ئې غواړي. لکه اوس چې د لویو لویو پرمختللو ښارونو په پارکونو کې فوارې داسې جوړوي چې هر څو ثانیې وروسته ئې حالت بدلېږي.

۷- دا (ابرار) هغه کسان دي چې په خپلو (نذرونو) ئې وفا کوله او د قیامت له ورځې وېرېدل، په (نذرونو) به ئې وفا کوله؛ یعني څه چې به ئې په خپله ذمه اخیستل هغه به ئې له ځنډ او کمښته پرته تر سره کول. فقهاءو (نذر) په څلورو ډولونو وېشلی:

اول: دا چې څوك له الله تعالی سره ژمنه وکړي چې د ده د رضاء لپاره فلانی نېك کار تر سره کوي.

دوهم: دا چې څوك ووایي: که الله تعالی زما دا حاجت تر سره کړ په بدل کې به ئې دا نېك کار تر سره کوم.

دریم: دا چې څوك ژمنه وکړي چې کوم ناروا کار به تر سره کوي او یا به کوم واجب کار پرېږدي.

څلورم: دا چې څوك کوم مستحب کار پر ځان لازم کړي او یا دا چې تعهد وکړي چې فلانی مباح کار به نه کوي.

دوه لومړي صورتونه ئې فقهاء د نذر تبرر (د نېکۍ نذر) په نامه یادوي او وفا پرې واجب ګڼي. او دریم او څلورم صورتونه د نذر لجاج (د جهالت او لجاجت نذر) نوموي، د دریم صورت په اړه ئې ټول فقهاء متفق دي چې اصلاً نه منعقد کېږي او هیڅ اعتبار نه لري او په کار ده چې عمل پرې ونشي، خو د څلورم صورت په اړه ئې په خپلو کې اختلاف لري، ځینې په دې نظر دي چې باید په دې نذر وفا وشي او ځینې وایي چې باید نقض شي

او د قسم کفاره ئې ورکړی شي؛ او ځيني ئې د نذر کوونکي خوښي ته پرېږدي چې پرې وفا وکړي او يا ئې د قسم د ماتولو کفاره ورکړي. د شافعي او مالکي فقهاءو له نظره دا نذر هم نه منعقد کېږي، خو زمور د احنافو فقهاءو په نظر په دواړو صورتونو کې کفاره لازمېږي.

د نذر تر ټولو غوره ډول دا دئ چې يوازې د الله تعالى د رضاء لپاره وي او موخه ئې فقط د الله تعالى رضاء تر لاسه کول وي، تر دې ټيټه درجه ئې هغه دئ چې د حاجتونو د تر سره کېدو لپاره وي خو د حاجت له پوره کېدو ترمخه اداء شي، په خپل نذر د دې لپاره ترمخه وفا کوي چې په خپل رب ئې دا اعتماد وي چې هيڅ نېك عمل او هيڅ صدقه او (نذر) نه ضائع کوي. او تر ټولو ټيټه درجه ئې هغه نذر دئ چې د حاجاتو رفع کېدو سره مشروط کړی شي او د حاجاتو له تر سره کېدو وروسته تر سره شي، دا ډول نذر يا د الله تعالى په اړه له بې اعتمادۍ خړوبه کېږي يا له بخل. عبدالله بن عمر رضي الله عنه د داسي نذر په اړه وايي:

عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَنْهَى عَنِ النَّذْرِ وَيَقُولُ: "إنه لَا يَرُدُّ شَيْئًا، وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ" اخرجه الجماعة الا الترمذى

له عبد الله بن عمر روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له داسي (نذر) د مخنيوي لړۍ پيل کړه او وئې فرمايل: نذر نه شي کولى هغه څه دفع کړي چې کېدونکى دئ، له دې لارې د بخيل انسان له لاسه مال راباسي.

همدا راز عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په دې نذر سره نه کوم کار راوړاندي کېدى شي او نه ځنډېدى، په دې سره يوازې د بخيل له جېبه مال راايستى شي.

عَن ابْنِ عُمَرَ؛ أَن النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيه وَسَلَّم سُئل عَن النَّذْرِ فَقَالَ: إِنَّهُ لا يُقَدِّمُ شَيْئًا، ولاَ يُؤَخِّرُهُ، وَلكن يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ. مسند البزار

د ابوهريره رضي الله عنه دا روايت هم وايي:

عن أَبى هريرةَ، أن النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قال: "إنَّ النَّذرَ لا يُقَرِّبُ مِن ابنِ آدَمَ شَيئًا لَم يَكُنِ اللهُ قَدَّرَه له، ولكنِ النَّذرُ يوافِقُ القَدَرَ فيُخرَجُ بذَلِكَ مِنَ البَخيلِ ما لَم يَكُنِ البَخيلُ يُريدُ أن يُخرِجه" السنن الكبرى للبيهقى

له أبو هريره روايت دئ چې نبي عليه السلام وفرمايل: دا نذر، داسي کوم څه چې الله

تعالى انسان ته مقدر کړی؛ نه شي ورنږدې کولی، خو احياناً (نذر) له (قدر) سره سمون وخوري، په دې سره د بخيل له لاسه هغه څه راباسي چې را ايستو ته ئې تيار نه وو.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، أَن النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قال: "إِنَّما النَّذرُ ما ابتُغِيَ به وجهُ اللهِ" الجامع الصحيح

عَنْ عبد الله بن عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِنَّمَا النَّذْرُ مَا ابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُ اللهِ» مسند احمد و السنن الكبرى للبيهقي

عبدالله بن عمرو روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: حقيقي نذر دا دئ چې د الله تعالى رضاء لپاره وي.

بايد متوجه وو چې فقط هغه (نذر) په ځان ومنو چې:

- جائز وي.
- توان او استطاعت ئې ولرو.
- د هيڅا حق په کې تر پښو لاندي نه شي او د فرائضو او واجباتو د نقض او نه أداء کولو سبب نه شي.

داسي نه چې ووايي پلى به حج ته ځم، ټول مال مي وقف کوم، ټوله ورځ د لمر تودو وړانګو ته ودرېږم، څو ورځې پرله پسې او له افطار پرته روژه نيسم، له لرې ځايه ځان بيت المقدس ته رسوم چې څو رکعته لمونځ په کې وکړم... دې ته ورته نذرونه چې مالايطاق او د انسان له وسه پورته وي او په هغه کې د نورو حقوق ترپښو لاندي کېږي، ناسم نذرونه دي. د آيت په پاى کې چې څه ويل شوي شيي چې د دغو نېکانو د (نذر) موخه د الله تعالى د رضاء تر لاسه کول وي، نه دنيوي اغراض.

۸-۱۰: څو ډېر مهم مطالب په دې آيتونو کې مومو:

الف: (ابرار) په خپل نيازمند، مسکين، يتيم او اسير همنوع ترحم او زړه سوى لري، مرسته ورسره کوي، دا ئې نه لورېږي چې په خپله مور وي او بل وړى، تر دې هم آخوا له خپل غوره او محبوب طعام هغوى ته خوراك وركوي.

ب: له بې وزلو او محتاجو سره د مرستي په وخت د حال او قال په ژبه وايي: يوازي د الله تعالى د رضاء لپاره له تا سره مرسته کوو، د دې په مقابل کې نه د بدلې طمع لرو او نه د مننې.

ج: د (ابرار) مقام ته هغه څوك رسېدى شي چې تر ټولو غوره شتمني د الله تعالى په لار کې وقف کړي، په هر نېك كار کې ئې موخه د الله تعالى رضاء تر لاسه کول وي، له الله

تعالی پرته له هیڅا د اجر او بدلې طمع نه لري، نه په چا منت باروي او نه د ستاینې او مننې انتظار ترې کوي.

د: وېره ئې یوازې له الله تعالی وي، د قیامت له سختي ورځې وېره ئې په ټول ژوند او ټولو تصرفاتو سیوری غوړولی وي.

هـ: په دې آیتونو کې د (ابرار) وړتیا او ځانګړتیاوو ته په اشارې سره قرآن غواړي موږ ته وښیي چې په قیامت باندې د ایمان نتائج څومره پراخ او ژور دي، دغه ایمان دوی د (ابرار) او نېکانو په زمره کې راوستي، تر ټولو غوره انسانان ئې ترې جوړ کړي، د قیامت له سختي ورځې وېرې دوی دې ته هڅولې چې په خپلو نذرونو وفا وکړي، له مسکین، یتیم او اسیر سره مرسته وکړي، همغه باور د دې باعث شوی چې له اخلاقي او معنوي پلوه هغې لوړې مستوی ته ارتقاء وکړي چې نه په چا منت ږدي او نه د ستاینې او توصیف توقع له چا کوي، حتی له هغه چا هم چې د مجبوریت او احتیاج په وخت کې ئې له هغه سره مرسته کړې، خپل تر ټولو غوره طعام ئې د هغه مخې ته اېښی، هغوی ته وایي: زموږ ښېګڼه د یادولو وړ نه ده، موږ خپله وظیفه تر سره کړې، له موږ مننه مه کوئ، له تاسو هیڅ بدله نه غواړو، موږ د خپل رب د رضاء په لټه کې یو، د قیامت د سختي ورځې له حساب وېرېږو، څه چې مو تر اوسه کړي د هغې ورځ د محاسبې لپاره ئې کافي نه ګڼو.

ګورئ چې په (۱۰) آیت کې د ابرارو له قوله داسې حکایت کوي: (موږ له خپل رب وېرېږو، له هغې ورځې چې تریو مخې او قهرجنه ده)؛ له الله تعالی وېره او هغه هم د قیامت په سختي ورځ کې، دې ظریف ټکي ته اشاره کوي چې که له الله تعالی وېره انسان له ګناه او تېري منع کوي او د ده د معنوي او اخلاقي ارتقاء باعث کېږي، په آخرت باندې ایمان، دا وېره په انسان کې راپیدا کوي او وده ورکوي. همدا راز دا ظریف ټکی افاده کوي چې که موږ نن له فقیر او مسکین سره په خپل چلن کې له دې ځان ساتو چې تندی ورته تریو کړو او سترګې پرې برګي، دا ځکه چې د الله تعالی له قهر او د قیامت د سختي ورځې له هیبته وېرېږو، داسې نه چې د دې ګناه په عوض کې مو ورتې او سزا ئې د قیامت د سختي ورځې په څېره کې راکړی شي.

فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمِ وَلَقَّىٰهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا ﴿١١﴾ وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُوا۟ جَنَّةً وَحَرِيرًا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ ۖ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ

عَلَيۡهِم بِـَٔانِيَةٖ مِّن فِضَّةٖ وَأَكۡوَابٖ كَانَتۡ قَوَارِيرَاْ ۝١٥ قَوَارِيرَاْ مِن فِضَّةٖ
قَدَّرُوهَا تَقۡدِيرٗا ۝١٦ وَيُسۡقَوۡنَ فِيهَا كَأۡسٗا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ۝١٧ عَيۡنٗا فِيهَا
تُسَمَّىٰ سَلۡسَبِيلٗا ۝١٨ وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيۡتَهُمۡ حَسِبۡتَهُمۡ
لُؤۡلُؤٗا مَّنثُورٗا ۝١٩ وَإِذَا رَأَيۡتَ ثَمَّ رَأَيۡتَ نَعِيمٗا وَمُلۡكٗا كَبِيرًا ۝٢٠ عَٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ
سُندُسٍ خُضۡرٞ وَإِسۡتَبۡرَقٞۖ وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٖ وَسَقَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ شَرَابٗا طَهُورًا
۝٢١ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمۡ جَزَآءٗ وَكَانَ سَعۡيُكُم مَّشۡكُورًا ۝٢٢

١١- نو الله د دغي ورځ له شره وساتل؛ او له تازګۍ او خوښۍ سره ئې مخامخ کړل. ١٢- او د دې لپاره ئې د جنت او وريښمينو جامو بدله ورکړه چې صبر ئې وکړ. ١٣- په تختونو به ئې په کې ډډه وهلې وي، نه به د لمر تودوخه په کې ګوري او نه يخني. ١٤- او سيوري به ئې پرې رانږدې وي؛ او مېوې به ئې په عجيبه توګه په خدمت کې او تر لاس لاندي. ١٥- او د سپينو زرو لوښي او د بلورو جامونه به پرې راګرځول کېږي. ١٦- د سپينو زرو شيشه ئي (لوښي)، چې په ظريفه توګه اندازه شوي. ١٧- او هلته به په داسي جامونو خړوبه کړی شي چې ممزوج به ئې د زنجبيل وي، ١٨- په جنت کې يوه چينه چې سلسبيل نومول شوې. ١٩- او شا او خوا کې به ئې تنکي تلپاته زلميان ګرځي راګرځي، که ئې وګورې د خورو ملغلرو ګمان به پرې وکړې. ٢٠- که هغه ځای وګورې نو پرېمانه نعمتونه او ستره پاچايي به دي ليدلې وي. ٢١- ملبس په پرېړ او نازك شين بخن حرير او د سپينو زرو په لاس وندیو مزين؛ او خپل رب به ئې په پاکيزه شرابو خړوبه کړي. ٢٢- (او ورته وايي به:) دا ستاسو بدله ده او ستاسو هڅي منل شوې په قدرونې سره.

١١: نو د دغو وړتياوو له کبله الله تعالى نه يوازي دا ابرار د قيامت د ورځې له سختيو ژغوري بلکې جنت ته ئې بيايي او له تازګۍ او خوښۍ سره ئې مخامخ کوي. په خپل نذر وفا، له قيامت وېره، له بې وزلو سره مرسته او خپل غوره طعام ورکول، د الله تعالى د رضاء لټه؛ او له ده پرته له بل چا طمع نه کول، له دې ځان ساتل چې په بل منت بار کړي يا د ستاينې او توصيف انتظار ترې ولري؛ او له الله تعالى وېره د دې باعث شوه چې جنت ئې په برخه شي.

۱۲-۲۲: په دې مبارکو آیتونو کې د ابرار او نېکانو په اړه او په جنت کې د دوی د وضعیت په اړه مزید وضاحتونه شوي:

صبر جنت ته ورسول، دا د دوی صبر وو چې په دوی کې ئې جنت ته د رسېدو وړتیا راپیدا کړه، د دوی ټول هغه خصلتونه چې جنت ته د رسېدو سبب کېږي؛ له صبر څرګندېدل.

په دنیا کې ئې ملبس حلال وو، له حرامو جامو ئې ځان ساتو، نه ئې له حرامو لارو تر لاسه کړې وې؛ او نه ئې د ګناه په تور داغ داغلې وې، نو اوس به د جنت ورېښمیني جامې ورپه برخه کېږي. ورېښمني جامې ځکه چې په دنیا کې ئې د داسې جامو له اغوستو زړه صبر کړی وو.

په لوړو لوړو تختونو به ئې ډډه لګولې وې، نه به ئې د لمر تودې وړانګې اذیت کوې او نه سخته یخني. او دا ځکه چې دوی په دنیا کې په تختونو ډډه لګول او آرامه ژوند پرېښی وو، د الله تعالی په لار کې ئې کړاوونه ګالل.

د جنت ونو به خپل سیوری پرې غوړولی وې او مېوې به ئې دوی ته نژدې نژدې او هره شېبه راشکولو او خوراك ته تیاري. او دا ځکه چې دوی له حرام رزق ډډه کوله او حرامو ته ئې له لاس اوږدولو ځان ساتو.

د سپینو زرو لوښي له خوندورو مېوو ډك، د بلورو جامونه له فرحت بخښونکو څښاك او شرابو ډك، د هغو جنتي خدمه وو په لاس کې چې تنکي تنکي زلمیان به وې او د دوی شاوخوا به ګرځي راګرځي؛ او دا ځکه چې دوی په دنیا کې له داسې مرفه ژوند لاس اخیستی وو، نه ئې د زرو جامونه کارول، نه ئې شراب څښل او نه ئې د عیش او عشرت محفلونه په تنکیو خدمه وو ښایسته شوي وو.

دا د سپینو زرو لوښي او دا شیشه ئې جامونه به په ښلو ښلو اندازو کې جوړ شوي وي، د هر خوراك لپاره ښل لوښی او د هر څښاك لپاره ښل جام. او دا ځکه چې دوی په دنیا کې له اسراف ځان ساتو، په ضروري شیانو ئې اکتفاء کوله، ځان ته د اشرافې ژوند برابرولو په ځای ئې له فقیر، مسکین او اسیر سره مرسته کوله.

د سپینو زرو له شیشه یې جامونو یا مراد دا دئ چې په ژې او ښخ کې به ئې سپین زر کارول شوي وي؛ او یا دا چې دا سپین زر به هومره شفاف وي چې بلور او شیشې ته به ورته وي.

داسې ډك جامونه به په لاس کې ورکول کېږي چې د جنت د یوې لوړې چینې چې نوم ئې (سلسبیل) دئ ډك شوي او (زنجبیل) پرې علاوه شوي.

د جنت خدمتګاران به تنکي زلمیان وي، تل په همدې عمرکې پاته کېدونکي، په هري ګوښې کې خدمت ته ولاړ؛ او داسې به برېښي لکه له مرواریدو جوړې شوې ښایسته مجسمې چې دلته هلته ولاړې وي.

د جنت عظمت او ستروالی او د نعمتونو پرېمانې به ئې هلته درک کړی شې چې په خپلو سترګو ئې وګوري، یوازې په دې صورت کې به پوه او په دې اعتراف ته اړ شې چې ستر ملك او بې شمېره نعمتونه دي لیدلي.

دا جنتیان به د جنت په مجللو قصرونو کې، په تختونو ډډه وهلي، د ونو تر سیوري لاندې، د داسې خدمه وو په احاطه کې چې له مېوو او خوراك څښاك ډك لوښې او جامونه به ئې په لاس کې وي، وګوري، په نازکو او پرېړو ورېښمینو جامو ملبس او په مړوندونو ئې د سپینو زرو لاس وندي. قرآن په دې سره له یوې خوا د جنت شاهانه ژوند انځور کړی، د دې لپاره چې د دنیا له عیش عشرت د دوی پام د جنت په لوري واړوي، د زر او زور د خاوندانو اشرافي ژوند ئې سترګي خېرې نه کړي، په دنیا کې ځان ته د داسې مرفه ژوند له جوړولو ځان وساتي، په حلال رزق اکتفاء وکړي، له اسراف او تبذیر ډډه وکړي؛ او له بلې خوا ئې په ډېر ظرافت سره د انسان غرائز او نفسي غوښتنې او تمایلات انځور کړي، ټول هغه څه ئې دقیقاً په ګوته کړي چې د انسان نفس او هوس ئې تمنی کوي؛ او ورته وایي: چا چې په دنیا کې او له حرامو لارو د دغو د لاسته راوړو هڅه وکړه په جنت کې به ترې محروم وي. په جنت کې د سپینو زرو لاس وند ته اشاره هم د انسان دې تمایل ته اشاره ده چې غواړي د سپینو زرو لاسوند ئې په لاس وي، مګر نه ګورئ چې اوس اکثر لاسونه، که د نارینه دي که د ښځو، په لاسوند مخصوصاً د ګړۍ بند سره ښایسته شوي؛ او اکثراً ګورو چې سپینو زرو ته ورته تر نورو زیات خوښوي.

او پر دغو ټولو نعمتونو سربېره؛ او تر ټولو لوړ ئې، (شراب طهور) چې د دوی د رب له لوري به ورکول کېږي، تر هغه شراب هم لوړ چې ممزوج به ئې کافور وي؛ او تر هغه هم غوره چې د سلسبیل له چینې به وي او ممزوج ئې زنجبیل؛ او ساقي ئې د جنت خدمتګاران، هغه شراب چې نوم ئې (طهور) دئ او ساقي ئې د دوی رب جل شأنه، تر ټولو غوره شراب، له هر نقص او عیب منزه، چې انسان صفا کوي؛ له هر نقص او عیب.

او په پای کې به دوی ته وویل شي: دا ټول ستاسو د هڅو بدله ده، تاسو د دغه مقام او د دې استقبال وړ یاست، الله تعالی ستاسو هڅې په قدرونې سره ومنلې او په عوض کې ئې دا بدله درکړه.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ تَنزِيلًا ﴿٢٣﴾ فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴿٢٤﴾ وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَٱسْجُدْ لَهُۥ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾

۲۳- دا موږ یو چې قرآن مو پرتا نازل کړ، په غوره او جزء جزء نازلولو سره. ۲۴- نو د خپل رب تر حکمه صبر وکړه؛ او د دوی د هیڅ ګنهکار او کفور خبره مه منه. ۲۵- او د خپل رب نوم دي سهار ماښام یادوه. ۲۶- او د شپې په یوې برخي کې سجدې ورته کوه او د شپې په اوږدو کې ئې په تسبیح لګیا اوسه.

۲۳- ۲۶: په دغو آیتونو کې څو نقاط زیاته توجه غواړي:

۱. دا آیتونه د مزمل د سورې لومړنیو آیتونو ته ورته دي، هلته د قرآن تلاوت، قیام اللیل، د الله تعالی ذکر، د دښمنانو په وړاندي صبر ته اشاره شوې او دلته د الله تعالی له لوري د قرآن نزول، د الله تعالی د حکم تر رارسېدو صبر، له دښمن سره له جوړ جاړي ډډه کول، د الله تعالی ذکر، د شپې په یوې برخي کې سجدې؛ او د شپې په اوږدو کې په تسبیح لګیا اوسېدا راغلي. د دغو دواړو سورتونو د دغو آیتونو له محتوی او د بیان له اسلوب په وضاحت سره معلومېږي چې همزمان او یو په بل پسې نازل شوي.

۲. که د الدهر د سورې ۲۳ آیت (نحن نزلنا علیك القرآن تنزیلا: موږ دا قرآن په ځانګړي نزول سره پر تا نازل کړی)، د المزمل د سورې له ٤ آیت (و رتل القرآن ترتیلا: او قرآن په ښه واضح توګه لوله) سره څنګ په څنګ کښېږدو او قضاوت وکړو نو په آسانۍ سره متوجه کېږو چې د الدهر د سورې ۲۳ آیت؛ د المزمل د سورې له ٤ آیت مخکې نازل شوی، دا ځکه چې په لومړي کې د قرآن تدریجي نزول ته اشاره شوې او په دې بل کې د قرآن د نزول څرنګوالي ته له اشارې پرته د قرآن په تلاوت تأکید شوی.

۳. د الدهر د سورې په آیتونو کې د قیام اللیل د مقدار او د ذکر او تسبیح د څرنګوالي په اړه الفاظ (عام) دي خو د المزمل په سوره کې (خاص) او د قیام اللیل مقدار او د قرآن تلاوت په کې مشخص شوی. او موږ ته معلومه ده چې په قرآن کې تل هغه آیتونه چې احکام په عامه صیغه په کې راغلي تر هغو آیتونو مخکې وي چې د احکامو ابعاد په کې مشخص او محدد شوي وي، لومړی د یوې قضیې په اړه عام حکم راځي او بیا د دې حکم حدود او ابعاد واضح کېږي. له دې کبله په قاطعیت سره ویلی شو چې د (الدهر) او (المزمل) سورتونه مکي دي، لومړی الدهر او بیا المزمل نازله شوې، یوازې هغه روایات د اعتناء او منلو وړ دي چې د الدهر سوره مکي ګڼي.

٤. قرآن په تدریجي توګه او جزء جزء پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی، دا

مطلب نه يوازې د الدهر د سورې د۲۳ آيت د (تنزيلا) صيغه توضيح کوي بلکې د قرآن ګڼ شمېر آيتونه ئې په تفصيل او تأکيد سره بيانوي، داسې چې د هر ډول شك او ترديد مجال له منځه وړي او د بشپړ او يوځايي نزول احتمال منتفي ګڼي.

۵. له دې کبله چې مورِ قرآن جزء جزء درلېږو، نو ته د هري برخي له حکم سره سم خپله دنده په صبر او استقامت سره تر سره کوه او د بلې برخي او نوي حکم او لارښوونې تر راتلو انتظار کوه.

٦. داسې نه چې بې صبره شې، د دښمن ګواښونه دي ووېروي، فشارونو ته ئې تسليم شې؛ او د ګنهګار او بې پاسه دښمن د جوړ جاړي وړاندیزونو ته مثبت ځواب ووايې!! له دې آيت هم په وضاحت سره معلومېږي چې د الدهر سوره په مکې کې نازله شوې، دا ځکه چې له دښمن سره د مقاطعې، عدم مداهنت او د جوړ جاړي وړاندیزونو ته ئې د نه ځواب ويل، يوازې په هغو سورتونو کې مومو چې په مکه کې نازل شوي. نه په هغو کې چې مدني دي.

۷. که غواړې چې تل صابر او ثابت قدم وې، د دښمن ګواښونه او فشارونه دي سازش ته ونه هڅوي، عزم او اراده دي کمزورې نه کړي، نو تل او سهار ماښام خپل رب يادوه.

۸. د شپې يوه برخه په سجده (لمانځه) کې تېروه؛ او د شپې په اوږدو کې په تسبيح او ذکر لګيا اوسه. د رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه مبارك حديث کې راغلي چې که څوك د ويدېدو په وخت کې په تسبيح لګيا شي او په همدې حالت کې ويده شي، که څه هم ټوله شپه په خوب تېره کړي اجر به ئې له هغه چا سره برابر وي چې همدا شپه ئې په ذکر او تسبيح تېره کړې.

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلۡعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمۡ يَوۡمٗا ثَقِيلٗا ﴿٢٧﴾ نَّحۡنُ خَلَقۡنَٰهُمۡ وَشَدَدۡنَآ أَسۡرَهُمۡۖ وَإِذَا شِئۡنَا بَدَّلۡنَآ أَمۡثَٰلَهُمۡ تَبۡدِيلٗا ﴿٢٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ﴿٢٩﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٣٠﴾ يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمَۢا ﴿٣١﴾

۲۷- بې شکه چې دغه خلك عاجلة (ژر تر لاسه کېدونکې) خوښوي؛ اوترشا ئې درنې ورځې ته شا کوي. ۲۸- دوی خو مورِ پيدا کړي؛ او مورِ ئې (د وجود) بندونه ورمضبوط کړي او چې کله وغواړو دوی ته ورته به ئې په عوض کې راپيدا کړو!! ۲۹- بې شکه چې دا يو تذکر او پند دئ، نو څوك چې غواړي خپل رب ته د رسېدو (غوره)

لار دي غوره کړي. ۳۰- او نه شئ غوښتی مگر هله چې الله ئې وغواړي، بې شکه چې الله باحکمت پوه دئ. ۳۱- څوك چې وغواړي د خپل رحمت (په سیوري) کې ئې داخلوي؛ او هغه چې ظالمان دي هغوی ته ئې دردناك عذاب تیار کړی.

۲۷: دوی لنډ او پرېوتې دنیوي اهداف غوره کړي او د آخرت درنه ورځ ئې هېره کړې؛ او پروا ئې نه کوي، یوازې همدا نن ورځ ئې په پام کې ده او له سبا ورځې که څه هم ډېره سخته ده غافل دي، د دوی د لید افق ډېر لنډ دئ، له دنیوي اغراضو او پرېوتو اهدافو آخوا نه رسي، د لید آخري نقطه ئې د دنیا منحط لذائذ دي نه تر دې لوړ او اوچت اهداف.

۲۸- آیا په دې نه پوهېږي چې مور پیدا کړي او مور ئې د وجود بندونه ورمضبوط کړي؛ او کله چې وغواړو دوی ته ورته به ئې راپیدا کړو!! د دې آیت په اړه څو ژباړې او تفسیرونه مخې ته راځي:

۱- مور پیدا کړي او مور ئې د وجود بندونه ورمضبوط کړي او کله چې وغواړو دوی به هلاك کړو او په عوض کې به ئې بله ډله؛ دوی ته ورته ډله راپیدا کړو، چې عملونه به ئې د دوی په څېر نه وي.

۲- لکه څنګه چې مو دوی روغ رمټ او له مضبوطو بندونو سره پیدا کړل، کوڵی شو د دوی شکلونه وربدل کړو، شل، مفلوج، ناتوان او بیمار ئې کړو.

۳- لکه څنګه چې مو دوی په لومړي ځل پیدا کړل، توان، ځواك او مضبوط بندونه مو ورکړل، بیا ئې هم له مرګ وروسته راپیدا کوڵی شو، په نوې بڼې کې، له مخکیني روح او نوي کالبوت سره.

درېیم تعبیر په څو دلائلو دقیق دئ:

- په مخکیني آیت کې د دنیا او آخرت په اړه بحث شوی؛ او په دې چې کافر انسان دنیا غوره کړې او آخرت ته ئې شا اړولې، په دنیوي لنډو اغراضو پسې نښتی او د آخرت درنه ورځ ئې هېره کړې، د آیتونو تر منځ همغږي او تنسیق د دې غوښتنه کوي چې په دې آیت کې به هم د مخکینۍ موضوع په ارتباط بحث شوی وي او مقصد به ئې بیا ژوندون وي نه بل څه.
- د آیت الفاظ له همدې تعبیر سره سمون خوري (بدلنا امثالهم) همدا مطلب افاده کوي، که د آیت ترکیب داسې وی: (یستبدل قوماً غیر هم) بیا به د لومړۍ ډلې مفسرینو رأیه د منلو وړ وه.

۲۹-۳۰: دا آیتونه چې په وار وار د قرآن د مواعظو او لارښوونو په پای کې تکرار شوي، دا

مهم مطالب افاده کوي:

- دا یو تذکر او پند دئ؛ د هغه چا لپاره چې غواړي الله تعالی ته د رسېدو غوره لار ومومي؛ او د ده په لوري د تلو لپاره ئې غوره کړي.
- انتخاب ستاسو په لاس کې دئ، پند تړې اخلئ او الله تعالی ته د رسېدو لار غوره کوئ او که مخ تړې اړوئ او په کږو لارو سر کېږئ.
- د الله تعالی لار د هغه ذات لار ده چې په ټولو اسرارو پوه دئ، په هر حکم او لارښوونه کې ئې ژور حکمتونه مضمر دي.
- دا لار فقط د الله تعالی په توفیق سره پلي کولی شئ، د الله تعالی مشیت په دې تللی چې انسان د خپلې لارې انتخاب ته آزاد پرېږدي، که څوك د الله تعالی لار غوره کړي هغه ته د تلو توفیق ورکوي او د ځان په لوري ئې هدایت کوي؛ او که څوك د شیطان په لارو تلو ته ملا وتړي په همدې کږو لارو د تلو فرصت او توفیق ورکوي، ده په خپل انتخاب سره د الله تعالی د مشیت خلاف نه بلکې عیناً د ده د سننو مطابق کار کړی، دا ځکه چې الله تعالی غوښتي چې انسان په خپل انتخاب کې آزاد وي او وکولی شي له دوه بدیلو یو ئې غوره کړي، له دوو لارو یوه د تلو لپاره انتخاب کړي، د هر کار توفیق د ده له لوري دئ، دا د ده په إذن او ارادې سره ده چې تاسو یوه لار غوره کولی شئ او د تلو توفیق تر لاسه کوئ، دا سنن د باحکمت پوه رب له لوري وضع شوي، الهي سنن دقیق دي او په کامل او بشپړ علم ولاړ او په هر یوه کې ئې حکمت او مصلحت مضمر دئ. د دې موضوع تفصیل د التکویر د سورې د آخري آیت په اړونده حاشیې کې مطالعه کولی شئ.

۳۱- الله تعالی چې هر څوك وغواړي د خپل رحمت او پېرزوینو په سیوري کې ئې داخلوي؛ او ظالمانو ته ئې دردناك عذاب تیار کړی. څوك چې د الله تعالی د رحمت وړ وي او عملونو ئې دی د الله تعالی د پېرزوینو او رحمت وړ ګرځولی وي نو رحمان خدای به خپل رحمت او عنایت د ده په حال شاملوي؛ او څوك چې ظالم او د دردناك عذاب مستحق وي له دې عذاب سره به ئې مخامخ کوي، چا چې د قرآن له لارښوونو او مواعظو پند اخیستی، د حرکت لوری ئې د الله تعالی په لوري وو، الله تعالی ئې هدف او د ده رضاء ئې مقصد وو الهي رحمت به ئې په برخه شي؛ او څوك چې له سمې لارې منحرف شو، په خپل انتخاب کې ئې تېرې وکړې، د خپل رب په اړه ظلم، په خپل ځان او په نورو ظلم، دردناك الهي عذاب ورته منتظر.

المرسلات

د سورې معرفي:

د دې سورې نوم المرسلات (لېږل شوې) دئ، چې له لومړي آیت اخیستل شوی،۵۰ آیتونه لري، ډېر ډېر ښکلی وزن لري، له هرو څو آیتونو وروسته دا آیت تکرارېږي: وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ* د شپږو لومړنیو آیتونو فواصل ئې عرفاً ته ورته وزن لري؛ اوم آیت ئې د واقع په صیغه ختمېږي چې دا د مخکینۍ سجع او وزن لپاره ډېر خوندور توقف دئ، له اتمه تر دولسمه پوري فواصل طُمِسَت ته ورته وزن لري، دیارلسم او څوارلسم د فصل په صیغې پای ته رسېدلې، بیا تکراري آیت راځي او له هغه وروسته تر یویشتم پورې فواصل مکذبین ته ورته وزن لري، ۲۲ او ۲۳ آیتونه د معلوم او قادرون په صیغو پای ته رسېدلې، بیا تکراري آیت راغلی، ۲۵، ۲٦؛ او ۲۷ کفاتا ته ورته هموزنه فواصل لري، ورپسې تکراري آیت دئ، له ۲۹ تر ۳۳ آیت پورې فواصل دا دي: تکذبون، شعب، لهب، قصر او صفر، بیا تکراري آیت دئ، ۲۵ او ۲٦ آیتونه په ینطقون او یعتذرون پای ته رسېدلې، بیا تکراري آیت دئ، له ۲۸ تر ٤٤ پورې فواصل دا دي: اولین، فکیدون، مکذبین، عیون، یشتهون، تعملون، محسنین، بیا تکراري آیت دئ، ٤٦ او ٤۸ د مجرمون او یرکعون په صیغو پای ته رسېدلې او په هر یوه پسې تکراري آیت راغلی؛ او وروستی آیت په ډېر ښکلي وزن سره د یؤمنون په صیغې پای ته رسېدلی.

دا هم مکي سوره ده. د سورې له مضامینو او د آیتونو له ترکیب ئې په وضاحت سره معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې په مکې باندې د قیامت په اړه جدي مناقشې خپل وزر غوړولی وو، قریشو له معاد او قیامت انکار کاوو، د دوی د انکار او تکذیب په ځواب کې دا سوره نازله شوې او ګڼ شمېر مضبوط او مقنع دلائل ئې د دوی مخې ته اېښي، داسې دلائل چې هیڅ باضمیر او باانصاف انسان ترې انکار نه شي کولی، یوازې هغه څوک به ئې نه مني چې د عمدي او قصدي تکذیب او انکار په لټه کې دئ، زړه او دماغ ئې قانع دئ او په حقانیت ئې اعتراف کوي خو هوی او هوس ئې مخنیوی کوي او انکار ته ئې هڅوي.

د بحث محوري موضوع ئې قیامت او له مرګ وروسته بیا ژوندون او د دې د اثبات دلائل، د قیامت د انکار بدي پایلې او په هغه د ایمان نتائج دي.

د سورې په سر کې د بادونو په پنځو صفتونو لوړه شوې:

- په معمولي او ورځني خوځښت او چلېدو ئې.
- په توند او تېز خوځېدو ئې.
- هغه وخت چې ورېځې په آسمان کې خورې ورې کړي.
- او کله چې د ورېځو لويي لويي برخي سره ببلي ببلي کړي او هره برخه په خاص لوري وخوځوي.
- او کله چې د تذکار باعث شي، هم هغو ته چې نرم نرم او ښکلی باران ئې پرې ورولی او اړتياوو ته ئې ځواب ويلی؛ او هم هغو ته چې توندي سيلۍ ئې پرې راوستې، توند او طوفاني باران ئې پرې ورولی او وېره ئې په کې راولاړه کړې، دواړو ته د پند وسيله شوی.

د قسمونو په پای کې دا سترە ادعاء شوې: هغه څه چې وعده ئې درکول کېږي حتماً واقع کېدونکې ده؛ په وروستيو آيتونو کې دا خبره توضيح شوې چې دا (قطعي او محتومه وعده) د قيامت، مجدد ژوندون او د پرېکړي د ورځې وعده ده. خو دا چې دا قسمونه څنګه د قيامت د راتلو ادعاء ثابتولی شي او د قسمونو او ځواب تر منځ ئې څه تړاو شته، د دې موضوع تفصيل به د سورې په تفسير کې وګورئ، خو دلته په اختصار سره وايو: دا بادونه شهادت ورکوي چې د قيامت وعده رښتينې ده، لکه څنګه چې دا اوس اوس په خپلو سترګو ګورئ چې د ژوندون لړۍ د بادونو په چلېدو سره پيل شي، بادونه د ژوند زېرى ورکوي او د ژوندون لامل کېږي، د زمکې له سر د بخاراتو د پورته کېدو، د ورېځو د خوځېدو او لرو لرو سيمو ته د هغوى د انتقال باعث کېږي، د (سقاء) په څېر د اوبو مشك په اوړو اخلي او د تېرې بوټي، انسان او حيوان په سر ئې وروي؛ او په دې سره د زمکې تر خاورو لاندي د بوټو زړې هڅوي، خوځوي او راژوندي کوي ئې او د ډول ډول نباتاتو د راټوکېدو لامل ګرځي، د نباتاتو د القاح باعث کېږي؛ او له وڼي او بوټي سره د دانې او مېوې په پيدا کولو کې مرسته کوي، کوم ذات چې د بادونو په ذريعه دا ټول کارونه تر سره کوي او مړه زمکه راژوندۍ کوي، آيا هغه له دې عاجز ګڼئ چې انسان بيا راژوندی کړي؟ آيا د انسان عقل دا منلی شي چې ووايي: بيا ژوندون ناممکن او مستحيل کار دئ؟ مګر تاسو هره ورځ د بيا ژوندون مظاهر په خپلو سترګو نه ګورئ؟ مګر د بادونو په ذريعه د ژوندون د لړۍ پيل کېدا مو هره ورځ مخي ته نه راځرګندېږي؟!! آيا هغه توندي او تېزي سيلۍ چې طوفانونه راولاړوي، ستر ستر ښارونه ورانوي، هر څه سره ځپي، د واړه قيامت صحنې انځوروي او ستاسو په زړونو کې وېره او خوف راپيدا کوي، دا کافي نه دي چې د قيامت د راتلو په اړه تاسو ته قناعت درکړي او ستاسو پوښتنې ځواب کړي؟ قيامت

به هم دغو طوفانونو ته ورته وي، خو په لويه کچه؛ او ټوله نړۍ به ويجاړه کړي.

څوک چې د خپل (عقل) په مرسته او د قيامت د اثبات په دې ټولو دلائلو قانع نه شو، ډېر ژر به د هغه هيبتناکي صحنې په خپلو (سترګو) وګوري، هغه وخت چې ستوري به تياره شي، آسمان به درې وړي شي، غرونه به له خپل خپل ځای وخوځېږي؛ او دغو لېږل شوو بادونو ته به هم بل ميقات وټاکل شي، د دوی دنده به تر يوم الفصل وځنډېږي؛ او بيا به په دغه ورځ بېرته د دوی په ذريعه د بيا راژوندي کولو لړۍ پيل شي، پوهېږې چې يوم الفصل څه دئ؟ اوس ئې په څرنګوالي نه شې پوهېدی، سترە ورځ ده، هيبت او عظمت ئې ستا له درک او فهم ډېر ډېر لوړ، افسوس افسوس د دغي ورځي په تکذيبوونکو.

مګر د تېرو مجرمو او باغي ډلو د هلاکت او تباهۍ عبرتناکي قصې، دا حقيقت نه په ډاګه کوي چې د دې عالم پالونکی رب له بندګانو سره محاسبه کوي، مجرم ته سزا ورکوي، د زمانې په هر پړاو کې ئې د ظالمانو په سر د عذاب متروکه مسلطه کړې، د خپل جرم سزا ئې ورکړې!! د دغو پېښو له ليدو سره سره څنګه له قيامت او مکافات او مجازات انکار کوئ؟!! افسوس افسوس په حال د تکذيبوونکو!!

آيا له کرکجنو اوبو (ماء مهين) ستاسو پيدايښت، د مور په رحم کې تر معيني نېټې ستاسو موقت استقرار؛ او بيا له هغې تياره او تنګي دنيا يوې بلې پراخې دنيا ته ستاسو انتقال، دا نه درته ثابتوي چې:

الف: بيا ژوندون مو سهل او آسان دئ؟

۱- په دې دنيا کې ستاسو توقف هم موقتي دئ، نېټه او موده ئې له مخکې ټاکل شوې؟

۲- د دنيا له کور د آخرت کور ته ستاسو انتقال داسې دئ لکه د مور له رحم د دنيا رحم ته ستاسو راتګ؟

۳- هغه ذات چې په دې ټولو کارونو قادر دئ ستاسو په بيا راژوندي کولو لا زيات قادر دئ.

افسوس افسوس د تکذيبوونکو په حال.

دا زمکه چې تاسو ئې پراوړو ژوند کوئ، ژوندي او مړي ئې په خپلې غېږ کې راغونډ کړي، له لوړو لوړو غرونو خوندوري اوبه، دا د ژوند تومنه، ژوو ته برابروي، دا د چا په اراده داسې جوړه شوې؟ او د چا په حکم دا کارونه درته کوي؟! آيا هغه ذات چې زمکه ئې د ژوو او مړو لپاره ټاټوبی ګرځولې، له دې عاجز ګڼئ چې دې ته ورته د ژوندون بل ټاټوبی راپيدا کړي؟!! افسوس افسوس د تکذيبوونکو په حال.

که تاسو دغو ټولو مضبوطو دلائلو ته ېې اعتنائې کوئ، دا قانع کوونکي دلائل نه شي کولی تاسو له انکار او تکذیب راوګرځوي او په قیامت باندي ایمان ته مو تیار کړي، نو لږ صبر وکړئ، هغه ورځ به راشي چې درته وویل شي: د هغه څه په لوري وخوځېږئ چې تل مو انکار ترې کاوو، د دوزخ د لوخړو په لوري، په دریو څانګو کې، هغه لوخړي چې آرامښت په کې نشته؛ او د لمبو مخه نه نیسي، ستري ستري لمبې چې د سوکو سترواڼی به ئې سترو سترو قصرونو ته او په رنګ کې ژېړو اوښانو ته ورته وی. افسوس افسوس د تکذیبوونکو په حال.

په دې ورځ به نه د وینا توان لري او نه به د عذر وړاندي کولو فرصت تر لاسه کولی شي. افسوس افسوس د تکذیبوونکو په حال.

د یوم الفصل هغه ورځ چې تاسو ترې انکار کاوو؛ او له خپل سلف سره یو ځای کېدا مو محال ګڼله؛ او په دې لټه کې وئ چې د تکذیب لپاره ئې دلائل وړاندي کړئ، دا ئې تاسو او دا ئې ستاسو مخکیني خپلوان او دا ئې یوم الفصل!! که له مخکینیو مکرونو او چل ول مو څه درسره وي او کولی شئ ځان پرې وژغورئ، دا ئې وخت دئ!! افسوس افسوس د تکذیبوونکو په حال.

ېې شکه چې پرهېزګاران به د چینو شاوخوا کې تر سیورو لاندي وي، په زړه پورې مېوې ئې په واك کې او ورته وبه ویل شي: په دنیا کې د خپلو نېکو عملونو له کبله نن په جنت کې چې څه غواړئ په خوند خوند وخورئ وڅښئ، مور نېکانو ته داسي بدله ورکوو! افسوس افسوس د تکذیبوونکو په حال.

او تاسو اې مجرمینو! لږ نور هم وخورئ او متمتع شئ. افسوس افسوس د تکذیبوونکو په حال. او چې ورته وویل شي: په رکوع شئ، رکوع نه کوي!! افسوس افسوس د تکذیبوونکو په حال. که په دغو ټولو دلائلو نه قانع کېږي نو په کومي خبرې به باور کوي او کوم دلیل به ئې قانع کړی شي؟!!

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلْمُرْسَلَٰتِ عُرْفًا ۝١ فَٱلْعَٰصِفَٰتِ عَصْفًا ۝٢ وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشْرًا ۝٣ فَٱلْفَٰرِقَٰتِ فَرْقًا ۝٤ فَٱلْمُلْقِيَٰتِ ذِكْرًا ۝٥ عُذْرًا أَوْ نُذْرًا ۝٦ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٌ ۝٧

١- قسم په دغو لېږل شوو په پېژانده توګه. ٢- بیا قسم په دې شیندونکو د شیندلو په حالت کې. ٣- قسم په دغو خوروونکو د خورولو په حالت کې. ٤- بیا قسم په فرق

کوونکو د بېلولو په حالت کې. ۵- بیا د ذکر په دغو القاء کوونکو، ٦- د عذر یا د خبرداري لپاره. ۷- بې شکه چې هغه ژمنه حتماً تر سره کېدونکې ده چې وعده ئې درسره کېږي.

۱-۷: په دې آیتونو کې د یوه شي په پنځو حالتونو لوړه شوې او ورپسې ویل شوي: هغه څه حتماً واقع کېدونکی دئ چې وعده ئې درکول کېږي. وروستي آیتونه دا (محتومه وعده) په پوره وضاحت سره معرفي کوي او وایي چې له دې وعدې مراد د قیامت او بیا راژوندي کولو وعده ده. خو باید وګورو چې دلته په څه څه لوړه شوې او ارتباط ئې د قسمونو له ځواب سره څنګه دئ او دا قسمونه څنګه په دې خبرې دلالت کوي چې د بیا ژوندون وعده رښتینې وعده ده او حتماً به تحقق مومي. په دې اړه څو خبرو ته توجه وکړئ:

د مفسرینو تر منځ په دې اړه ژور اختلاف ګورو چې دلته په څه څه لوړه شوې، ځینې ئې (بادونه) ګڼي، ځینې ئې د ملائکو هغه ډلې ډلې ټولګي ګڼي چې په ډلو ډلو امورو موظف شوي، ځینې لومړي څلور قسمونه په بادونو او پنځم ئې په ملائکو حمل کوي. دا د رأیې اختلاف ښیي چې د دغو آیتونو په اړه مربوط روایات په خپلو کې متعارض دي او داسې واحده رأیه چې په صحیح حدیث او د صحابه وو په متفق علیه نظر مستنده وي، نشته.

د قرآن د عمومي قاعدې له مخې دا باید داسې څرګند شی وي چې د قرآن هر مخاطب ته واضح وي او پر هغه باندې په استناد سره دا خبره ثابته کړی شي چې د بیا ژوندون وعده رښتینې وعده ده.

د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې بادونه د (عاصف) په صیغه یاد شوي او د ملائکو لپاره په هیڅ ځای کې دا صیغه نه ده کارول شوې.

د قرآن په ډېرو آیتونو کې د بادونو د لېږلو لپاره د (ارسال) صیغه راغلې.

د قرآن په ډېرو آیتونو کې ویل شوي چې الله تعالی بادونه رالېږي، په سر کې ورو ورو او نرم نرم خوځي، داسې چې تاسو ترې خوند اخلئ، بیا توند او تېز شي، په سیلې او طوفان بدل شي، ورېځې په سر واخلي، د آسمان په غېږ کې ئې خورې ورې کړي، د مړو ټاټوبو په لوري ئې وخوځوي، چېرې باران، چېرې واوره؛ او چېرې ډلې ووروي، چېرې نباتات رازرغونه کړي او چېرې د سېلابونو باعث شي او په خلکو کې وېره او خوف راولاړ کړي.

که وغواړو چې د دې آیتونو تفسیر په خپله په قرآن کې ولټوو او له تفسیر بالرأی ډډه

وکړو نو له بادونو پرته په بل څه ئې نه شو تطبیقولی، دا ځکه چې قرآن یوازې بادونه په دې صفاتو یاد کړي نه بل څه.

دا آیتونه د (فاء) توري یو له بل سره تړلي او دا ښیي چې دلته د یوه شي څو حالتونو ته اشاره شوې نه بېلو بېلو شیانو ته.

لکه چې په مخکینیو قسمونو کې تاسو ولیدل چې قسمونه د تعظیم لپاره نه بلکې د استشهاد لپاره راغلي، دلته هم په (بادونو) باندې استناد سره د قیامت منکرانو ته دا خبره شوې چې بیا ژوندون داسې دئ لکه هره ورځ چې تاسو ګورئ د یوه باد په لګېدو سره د ژوندون بهیر پیل شي، بادونه د ژوند پیغام له ځان سره راوړي، په هغو وربځو سره چې پر خپلو اوږو ئې وړي او په هغه باران سره چې له دغو وربځو ئې راوروي، د مړې زمکې د ژوندۍ کېدو باعث شي، د زمکې تر کلك قشر لاندې د ژوندون بڅرکې وخوځوي او په هغه کې سا پوکړي؛ او سپېره ډاګ په زرغونه چمن بدل کړي. نو ته چې هره ورځ د مړو د بیا ژوندي کېدو شاهد یې څنګه مجدد ژوندون محال ګڼې او له هغه انکار کوې؟!! تا چې په وار وار توندي او تېزي سیلۍ لیدلې چې په طوفانونو منتج شي او هر څه ګډ وډ کړي څنګه ګمان کوې چې ستا نړۍ به د تل لپاره همداسې آرامه او آباده وي او هیڅکله به له داسې کوم ستر طوفان سره نه مخامخ کېږي چې هر څه ئې وځپي او نظم ئې متلاشي کړي؟!

په څو دلائلو د هغو کسانو رأیه ضعیفه ده چې وایي دلته په ملائکو لوړه شوې:

- لومړی دا چې د دې رأیي لپاره نه له قرآن کوم دلیل وړاندې کولی شي او نه انساني عقل ته د منلو وړ دلیل.
- د قیامت د منکرانو د اقناع لپاره په ملائکو استشهاد او استناد نه شو کولی، هغوی ملائکې نه مني، په یوه متنازع فیه شي بل متنازع فیه شی نه شو ثابتولی او دا کار نه معقول دئ او نه د مخاطب د قانع کولو لار.
- په قرآن کې معمولاً د معاد، مجدد بعثت، مکافات او مجازات او دې ته ورته قضایاوو د اثبات لپاره په هغو شیانو استشهاد شوی چې هر مخاطب ته د منلو وړ وي، لکه شپه، ورځ، لمر، سپوږمۍ، ستوري، زمکه او آسمان، تل د غیبي امورو د اثبات لپاره په مشهود او محسوس شیانو استناد شوی، نباید دا عمومي قاعده دلته په استثنائي توګه له پامه وغورځوو او داسې رأیه قائمه کړو چې له عمومي قاعدې سره اړخ نه لګوي.
- په عربي کې په (الف او تاء) سره یا حقیقي مؤنث جمع کېږي او یا د غیر ذوي العقولو صفت، فرشتې مؤنث نه دي او په دې پوري متعلق صفات په (الف او تاء) نه شو جمع

کولی، مرسلات او عاصفات او ... د دوی جمع نه شو ګڼلی، په قرآن کې د ملائکو لپاره اکثراً د جمع مذکر صیغه کارول شوې. د دې مطلب شرح د النازعات د سورې په تفسیر کې وګورئ.

- که دا ملائکې وګڼو نو باید په ټولو هغو مواردو کې چې دې ته ورته صیغې راغلې لکه: العادیات، الموریات، المغیرات، النازعات، الناشطات، السابحات، السابقات، المدبرات، الذاریات، الحاملات، الجاریات او ډېر نور موارد، دا ټول باید ملائکې وګڼو، حال دا چې دا کار له یوې خوا ناسم دئ، له بلې خوا غیر قابل قبول او غیر قابل تطبیق او له بلې خوا د داسې تکرار موجب چې د قرآن له اوچت بلاغت سره سمون نه خوري.
- د قرآن په هیڅ آیت کې فرشتې د (عاصف) په صفت نه دي ستایل شوې، بر عکس دا صفت دبادونو لپاره راغلی.
- د آیتونو تر منځ تنسیق او د (فاء) په توري سره د دوی تر منځ ارتباط دا ښیي چې ټول د (عاصفات) په شان دي او د بادونو ښې ښې حالت په ګوته کوي.

دغو مطالبو ته په پام سره په کامل ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چې:

- له (ٱلْمُرْسَلَٰتِ عُرْفًا) هغه بادونه مراد دي چې په معروف، معمول او عادي طور خوځي، نرم نرم او ورو ورو.
- له (ٱلْعَٰصِفَٰتِ عَصْفًا) توند او تېز بادونه چې د طوفانونو باعث کېږي.
- له (ٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشْرًا) هغه بادونه چې ورېځې په فضاء کې منتشر کوي او له یوې سیمې ئې بلې ته انتقالوي.

د (ٱلْفَٰرِقَٰتِ فَرْقًا) معنی یا دا ده چې دا بادونه ورېځې په سترو سترو کتلو او کنډکونو کې متفرق کړي او په مختلفو لوریو ئې وخوځوي او یا دا چې دا بادونه د فرق کولو او تمییز استعداد لري، د ښه او بد، مستحق او غیر مستحق تر منځ فرق کولی شي، په دې پوهېږي چې څومره چېرې انتقال کړي، چېرې څومره باران ووروي، د کومې سیمې اوسېدونکي د کومې معاملې مستحق دي، د نرم او ورو ورو خوندور باران مستحق دي که د غضبناك سېل او طوفان!! خو دا دوهمه توجیه له دې کبله ارجح ده چې لومړی مفهوم په مخکیني آیت کې راغلی، نباید له (ٱلْفَٰرِقَٰتِ فَرْقًا) همغه د (ٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشْرًا) معنی واخلو، قرآن د بې ځایه تکرار له عیب منزه دئ.

له (فَٱلْمُلْقِيَٰتِ ذِكْرًا - عُذْرًا أَوْ نُذْرًا) هم بادونه مراد دي چې د ذکر او پند باعث دي، انسان ته الله وریادوي، کله داسې چې ګوري الله تعالی د ده عذر او توبه قبوله کړي، د باد په نرمې وړمې سره ئې ده ته د باران زیری ورکړی او کله له دې اړخه چې وېروونکی

طوفان په ده کې له الله تعالی وېره راولاړوي او د داسې هیبتناکو او وېروونکو پېښو خبر ورکوي چې له شر ځې د ځان ژغورنې لپاره له الله پرته د نجات بله مرجع او پناه ځی نه ګوري.

د (إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٌ) معنی او ارتباط ئې له مخکینیو قسمونو سره دا چې: د بادونو دغه بېلابېل حالات په دې شهادت ورکوي چې د قیامت محتومه وعده هرومرو تحقق مومي او مړي به بیا راژوندي کېږي، هغه ذات چې بادونه رالېږي، د ژوندون زېرى په لاس، د مړو د بیا ژوندي کولو وسیله، دا ذات بې شکه چې د مړو په بیا راژوندي کولو قادر دئ او هغه ذات چې په بادونو سره ستر ستر وېروونکي طوفانونه او لوی لوی ورانوونکي سېلابونه راولاړوي بې شکه چې په دې هم قادر دئ چې دا دنیا ورانه کړي او په ځای ئې د بلې نوې دنیا بنسټ کېږدي.

فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴿٩﴾ وَإِذَا ٱلْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتْ ﴿١١﴾ لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ﴿١٢﴾ لِيَوْمِ ٱلْفَصْلِ ﴿١٣﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ ﴿١٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٥﴾

٨- نو چې کله ستوري تېپ تیاره شي. ٩- او چې کله آسمان شي درې وړي. ١٠- او چې کله غرونه وایستی شي. ١١- او چې کله لېږل شوي بل وخت ته موکول کړی شي. ١٢- د کومې ورځې لپاره به وځنډول شي؟ ١٣- د پرېکړې د ورځې لپاره. ١٤- او څه پوه کړې چې د پرېکړې ورځ څه ده؟ ١٥- افسوس په دې ورځ په حال د تکذیبوونکو.

٨- ١٥: دا آیتونه څو اساسي مطالب بیانوي:

١- د قیامت منکرینو ته وایي: که دا د قیامت د اثبات بې شمېره دلائل نه منئ او سره له دې انکار کوئ نو تر هغه صبر وکړئ چې قیامت راشي او هولناکي صحنې ئې په خپلو سترګو وګورئ.

٢- لومړی به ستوري تېپ تیاره او له سترګو پټ شي.

٣- بیا به آسمان چاود چاود او درې وړي شي او دا اوسنی مضبوط نظم به ئې له منځه ولاړ شي. ټول هغه ستوري به خواره واره شي چې نن ئې په خپلې غېږ کې نیولي.

٤- دا غرونه چې کلك، ثابت او نه خوځېدونکي ئې ګڼئ او ګمان نه کوئ له خپله ځایه به وخوځي، وبه ئې ګورئ چې له جړو ایستل شوي.

٥- او ټول (الرسل: لېږل شوي) به راتلونکې خاصې نېټې ته موکول کړی شي، کار به ئې

متوقف شي، د بيا فعالېدو لپاره به بله نېټه ورته وټاکل شي او تر (يوم الفصل) به وځنډول شي، خو دا چې له دغو (لېږل شوو) مراد څه دئ او د توقيت او تر يوم الفصل پورې ئې د ځنډولو معنى څه ده، په دې اړه په تفسيرونو کې ګڼ شمېر آراء زموږ مخې ته راځي:

- ځينې ئې پيغمبران عليهم السلام ګڼي.
- ځينې ئې د فرشتو په معنى نيسي.
- او ځينې ئې په خپله عامه معنى اخلي.

درېيمه رأيه دقيقه برېښي چې دلائل ئې دا دي:

الف: د (المرسلات) او (الرسل) معنى يوه ده، هغه څه چې په لومړي آيت کې د المرسلات په صيغه ياد شوي په يوولسم آيت کې د الرسل په صيغه تکرار شوي. د کلام بلاغت دا تقاضى کوي چې (الرسل) به همغه مطلب افاده کوي چې (المرسلات) ئې افاده کوي.

ب: دا د پيغمبرانو عليهم السلام په معنى ځکه نه شو اخيستى چې د قيامت د دغو پېښو په دوران کې به د زمکې پر سر هيڅ پيغمبر نه وي، هغه وخت چې ستوري تياره شي، آسمان درې وړې شي، غرونه وايستى شي، په دې مرحله کې د لېږل شوو د معطله کېدو معنى په هيڅ صورت کې د پيغمبرانو عليهم السلام لپاره د توقيت په معنى نه شو اخيستى، تر يوم الفصل پورې د پيغمبرانو عليهم السلام موکول کېدا او ځنډېدا نه قابل فهم ده او نه د توجيه وړ، مخصوصاً چې د قيامت د سترو سترو حوادثو، د ستورو تورېدا، د آسمان د چاودېدا او د غرونو د خوځېدا په ضمن کې ذکر شوې.

ج: په دې آيت کې به خامخا د دريو مخکينيو آيتونو په څېر د قيامت يوې بلې سترې پېښې ته اشاره شوې وي.

د: که د (لېږل شوو) په کار کې توقيت او تأخير د (المرسلات: لېږل شوو بادونو) په کار کې د توقيت او تأخير په معنى واخيستى شي نو په دې صورت کې نه يوازې د آيتونو تر منځ همغږي تأمين کېږي، بلکې واضح مفهوم ترې اخيستل کېږي، په دې معنى چې په دې مرحله کې د ستورو له تياره کېدو، د آسمان له چاودېدو او د غرونو له خوځېدو وروسته به د بادونو هغه کار هم متوقف شي چې اوس ئې کوي؛ اوس د ژوند قاصد او د زمکې پر سر د ژوو د راپيدا کېدو ستر لامل دئ، خو په دې وخت کې به متوقف شي او تر يوم الفصل پورې به ئې دا دنده معطل شي؛ او د مجدد بعثت په ورځ به بيا په صور کې پو شي او په همدې سره به د بيا ژوندون لړۍ پيل شي او ټول به له خپلو خپلو قبرونو راپاڅي.

٦- ته نن له دې عاجز يې چې د يوم الفصل په څرنګوالي پوه شې، دا داسې سترە او هيبتناکه ورځ ده چې په عظمت او هيبت ئې پوهېدل درته ممکن نه دي.

۷- د هغو خلکو په حال افسوس افسوس چې دا ورځ تکذیبوي، په عقل ئې هم او د قیامت په ورځ د دوی په بد او دردناك حالت هم.

أَلَمْ نُهْلِكِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ ٱلْآخِرِينَ ﴿١٧﴾ كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٩﴾

١٦- آیا مخکیني مو هلاك نه کړل؟ ١٧- بیا مو وروستني ورپسې نه کړل؟ ١٨- له مجرمینو سره همداسي چلن کوو. ١٩- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

١٦-١٩: په دې مبارکو آیتونو کې قیامت، الهي محاسبه او مکافات او مجازات له یوه بل اړخ څېړل شوي، دا ځل د محسوس او مشهود طبیعي دلائلو په ځای تاریخي دلائل وړاندي کېږي، د مجرم او جنایتکارو ډلو بدي پایلې د قیامت د منکرینو مخي ته ږدي او ورته وایي: مگر د تاریخ هره پاڼه په دې شهادت نه ورکوي چې د زمانې په هر پراو کې کومو قومونو معاد او قیامت تکذیب کړی او په آخرت باندي نه باور او له الهي مکافات او مجازات انکار جرم او جنایت ته هڅولې، له بدو پایلو سره مخامخ او په الهي عذاب اخته شوي؟ څوك چې د دوی په لار تللي او د دغو هلاك شوو قومونو په پل ئې گام اېښی له ورته برخلیك سره مخامخ شوي، دا د تاریخ په اوږدو کې د مجرمو او جنایتکارو ولسونو مجازات مور ته څه راښیي؟! آیا له دې پرته بله انتباه ترې اخیستی شو چې حسیب خدای زمور د عملونو شاهد او ناظر دئ، مجرم ته سزا ورکوي، دلته د مکافات او مجازات ثابت الهي سنت حکومت کوي او دا چې قیامت او الهي محاسبه یو مسلم حقیقت دئ. افسوس د هغه چا په حال چې دا ورځ تکذیبوي!!

أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلْنَٰهُ فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿٢١﴾ إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢٢﴾ فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ ٱلْقَٰدِرُونَ ﴿٢٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٤﴾

٢٠- آیا له سپکو کرکجنو اوبو مو پیدا نه کړئ. ٢١- او آیا په مضبوط ټمځي کې مو ځای په ځای نه کړ؟ ٢٢- تر یوې معلومي نېټې؟ ٢٣- نو وتوانېدو او همدا راز ښه توانېدونکي یو. ٢٤- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

٢٠-٢٤: په دې آیتونو کې د بیا ژوندون د اثبات لپاره یو بل مضبوط دلیل وړاندي شوی، د انسان د پیدایښت په څرنګوالي باندي استناد سره د بیا ژوندون امکان ثابتوي، په دې

شرح:

• مګر تاسو مو د اوبو له يوه کرکجن څاڅکي پيدا نه کړئ؟ ولې مجدد خلقت درته ګران او مستحيل برېښي؟

• آيا د (رحم) په تياره دنيا کې ستاسو استقرار او په هغه کې تر معيني نېټې او مودې ستاسو توقف او بيا مو له هغې تنګي او تيارې نړۍ د زمکې د سر پراخي او روښانه نړۍ ته راتګ؛ دا نه ثابتوي چې له يوې دنيا بلې ته انتقال مو يو ځل آزمويلی بيا به ئې هم آزمويئ؟ د زمکې په (رحم) او تنګي محدودي غېږ کې له توقف وروسته به د آخرت پراخي نړۍ ته درومئ.

• هغه ذات چې په دې وتوانېدو تاسو له يوه څاڅکي اوبو پيدا کړي، د مور په رحم کې مو ځای په ځای کړي او له هغې تنګي دنيا مو بلې ته راولي، آيا هغه به په دې لا ښه قادر او توانا نه وي چې بيا مو راژوندي کړي؟ څنګه او په کوم دليل دا مجدد بعثت نه منئ او تړې انکار کوئ؟ افسوس په دې ورځ د تکذيبوونکو په حال.

أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ أَحْيَآءً وَأَمْوَٰتًا ﴿٢٦﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ شَٰمِخَٰتٍ وَأَسْقَيْنَٰكُم مَّآءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾

۲۵- آيا زمکه مو راغونډونکې نه ده ګرځولې. ۲۶- د ژوندو او مړو. ۲۷- او آيا دنګ دنګ غرونه مو په کې نه دي جوړ کړي او خوندوري اوبه مو نه دي دربانديې څښلې؟ ۲۸- افسوس په دې ورځ د تکذيبوونکو په حال.

۲۵-۲۸: ووايئ: چا دا زمکه داسې ګرځولې چې په خپلې غېږ کې مړه او ژوندي توکي راغونډ کړي او په هغې کې ئې د ژوند امکانات او شرائط برابر کړي؟ څوك د زمکې له دنګو دنګو غرونو خوندوري اوبه درکوي، هماغسې لکه د مور له تيو خوندوري شيدې؟؟ که دا دنګ دنګ غرونه نه وی نو ستا د څښاك اوبه به هم خوندوري او صفا نه وې!!

آيا هغه ذات چې زمکه ئې د (ژوند مهد او زانګو) کړه او د ژوند امکانات ئې په کې ځای په ځای کړل؛ په دې قادر نه ګڼئ چې ستاسو د مجدد پيدايښت لپاره بله زانګو او ټاټوبی راپيدا کړي؟!! افسوس په دې ورځ د تکذيبوونکو په حال.

ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلٍّ ذِى ثَلَٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِى مِنَ ٱللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرْمِى بِشَرَرٍ كَٱلْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَأَنَّهُۥ

جِمَٰلَتٌ صُفۡرٞ ٣٣ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٣٤

۲۹- دروميځ د هغه څه په لوري چې دروغ به مو ګاڼو! ۳۰- دروميځ د هغه سيوري په لوري چې درې څانګې لري، ۳۱- نه راحت بخښونکی دئ او نه د لمبو مخنيوی کوي. ۳۲- هغه چې د مانيو په څېر سوکې شيندي. ۳۳- ژېړو اوښانو ته ورته. ۳٤- افسوس په دې ورځ د تکذيبوونکو په حال.

۲۹-۳٤: تاسو چې قيامت تکذيبولو او په دې مو باور نه کاوو چې د دوزخ لمبې به ستاسو د جرم او جنايت سزا وي؛ دا ئې تاسو او دا ئې هغه څه چې دروغ مو ګاڼو!! په دنيا کې مو د هغه مغشوش انځور په خپل ناقص ذهن کې درلود، د هغه په اړه مو د شك او ريب سيوری په زړه او دماغ پروت وو، دا دئ هماغه مغشوش انځور او هماغه د شك او ريب سيوری، ستاسو مخي ته؛ ورځئ، تاسو ته منتظر دئ، خو دا سيوری د دنيا د راحت بخښونکي سيوري په څېر نه دئ، د حرارت مانع او له لمبو خوندي، نه؛ دا د دوزخ د لوخړو سيوری دئ، د اور سوکې به ئې ستاسو د دنګو دنګو قصرونو په اندازه وي او رنګ به ئې ستاسو د ښکلو ژېړو اوښانو په څېر!! مګر ستاسو قصرونو او ستاسو شتمنيو (او تر ټولو غوره ئې ستاسو ښکلو ژېړو اوښانو) له قيامت او دوزخ انکار ته نه وئ هڅولې؟ دا دئ اوس ئې انځورونه د دوزخ په لمبو او لوخړو کې وګورئ!! افسوس په دې ورځ د تکذيبوونکو په حال.

د يادونې وړ ده چې قرآن د دوزخ د اور د سوکو د څرنګوالي بيانولو لپاره د (قصر) صيغه کارولې، چې له يوې خوا ښيي دا اور به دومره ستر وي چې سوکې به ئې د قصرونو په اندازه وي خو له بلې خوا ښيي چې د ظالمانو قصرونو ته الله تعالى په کومه سترګه ګوري، د دوزخ د اور سوکې ورسره تشبيه کوي!! په رښتيا چې دا قصرونه د دوزخ د اور سوکې دي، د مظلومانو له وينو او هډوکو جوړ شوي، په انساني ټولنې کې د ظلم او فساد خورول له دغو قصرونو پيل کېږي، د دغو قصرونو خاوندان تل د حق په وړاندي خنډ شوي او تل ئې د حقپالو مقابله کړې.

هَٰذَا يَوۡمُ لَا يَنطِقُونَ ٣٥ وَلَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ فَيَعۡتَذِرُونَ ٣٦ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٣٧ هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِۖ جَمَعۡنَٰكُمۡ وَٱلۡأَوَّلِينَ ٣٨ فَإِن كَانَ لَكُمۡ كَيۡدٞ فَكِيدُونِ ٣٩ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٤٠

۳۵- دا داسي ورځ ده چې خبرې به نه شي کولی. ۳٦- او نه به دوی ته اجازه ورکړی شي چې عذر وړاندي کړي. ۳۷- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال. ۳۸- دا د پرېکړې ورځ ده، هم مو تاسو کړئ راغونډ هم مخکینیان. ۳۹- نو که د کوم پټ تدبیر (امکان) درسره وي نو زما په خلاف ئې وکاروئ. ٤۰- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

۳۵- ۳۷: په دې ورځ به د خبرو کولو توان ترې سلب شوی وي، دا ځکه چې په دنیا کې ئې ډېره ډېره په درواغو خپله خوله پرانیستې وه، د تکلم له وسائلو؛ له ژبې او شونډو ئې د حقائقو د تکذیب لپاره ډېر کار اخیستی وو، نو خود به ئې نن په خوله مهر وهل شوی وي او په ځای به ئې لاس او پښې په وینا راځي او د دوی په ضد به شهادت ورکوي!! لکه چې قرآن فرمایي:

ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٦٥

يٰس

په دې ورځ به نه یوازي خبرې نه شي کولی؛ بلکې د عذر وړاندي کولو مجال به هم نه مومي، دا ځکه چې دوی به د خپلو جرمونو او خیانتونو اړوند اسناد، مدارك او شواهد او د خپل ژوند دقیق، مشرح او مکمل راپور په خپلو عملپاڼو کې مومي او دا جرأت او امکان به ترې سلبوي چې څه ووایي او کوم عذر وړاندي کړي!! افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

۳۸-٤۰: نن د حق او باطل تر منځ د وروستۍ پرېکړې ورځ ده، نن به د عملونو په اړه وروستی قضاوت کېږي، دا هماغه ورځ ده چې تاسو ترې انکار کاوو او د تکذیب لپاره به مو دلائل ورته لټول او جوړول، په چل ول سره به مو خلك غولول چې په انکار کې ئې ستاسو ملګرتیا وکړي، د قیامت او حساب او کتاب په اړه د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت په ضد مو څومره هلي ځلي کولې او تدبیرونه مو سنجول، ویل به مو قیامت او بیا ژوندون نشته، که وي نو زمونږ له نیکونو او اجدادو کوم یو راژوندی کړئ، تر اوسه به کوم راژوندی شوی وو!! دا دئ دا تاسو او دا مو سلف او خلف، ټول مو راغونډ کړئ، ووایئ: آیا کوم کید، مکر او چل ول په واك کې لرئ چې نن ئې وکاروئ؟! له همغو چې په دنیا کې مو د پیغمبرانو علیهم السلام په ضد کارول؟! افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي ظِلَٰلٖ وَعُيُونٖ ٤١ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشۡتَهُونَ ٤٢ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ

هَنِيٓـَٔۢا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾

٤١- بې شکه چې پرهېزګاران به په سيورو کې او د چينو خوا ته وي. ٤٢- او هر راز مېوو کې چې غواړي ئې. ٤٣- د هغو عملونو په وجه ئې په خوند خوند وخورئ وڅښئ چې تاسو به کول. ٤٤- موږ خو نېکانو ته داسې بدله ورکوو. ٤٥- افسوس په دې ورځ د مکذبينو په حال.

٤١-٤٥: پرهېزګاران به په جنت کې وي، د ونو تر سيوري لاندې، د چينو شاوخوا کې، ډول ډول هغه مېوې ئې مخې ته چې زړه ئې غواړي، دوی د مکذبينو په مقابل کې ول، هغوی قيامت دروغ ګاڼو، دوی پرې ايمان درلود، هغوی له دې کبله جرم او خيانت ته لاس کاوو چې په آخرت او الهي محاسبې ئې باور نه وو، دوی له دې کبله له ګناه او خيانت ځان ساتو او پرهېزګار ول چې په قيامت، د الله تعالی په وړاندې ودرېدو او الهي محاسبې ئې باور وو، نو ځکه به ئې پايله له هغوی ښېله وي، هغوی د دوزخ په لوخړو کې او دوی د جنت د ونو تر سيوري لاندې، د چينو شا وخوا کې او هر راز مېوې ئې مخې ته!! نېکانو ته د الله تعالی بدله داسې وي!! په جنت کې به په دوی دا غږ کېږي چې په خوند خوند وخورئ وڅښئ، تاسو د همدې مقام او دغو نعمتونو وړ ياست. افسوس افسوس د مکذبينو په حال.

كُلُواْ وَتَمَتَّعُواْ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجۡرِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرۡكَعُواْ لَا يَرۡكَعُونَ ﴿٤٨﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٠﴾

٤٦- وخورئ او متمتع شئ لږ شانته چې تاسو مجرمين يئ. ٤٧- افسوس په دې ورځ د مکذبينو په حال. ٤٨- او چې ورته وويل شي: رکوع وکړئ، رکوع نه کوي. ٤٩- افسوس په دې ورځ د مکذبينو په حال. ٥٠- نو له دې وروسته به په کومې خبرې ايمان راوړي؟!!

٤٦-٤٧: د ٤٦ آيت دوه تفسيرونه زمونږ مخې ته راځي:

١- دا خطاب به په آخرت کې او هغه وخت مجرمينو ته متوجه کېږي چې دوی به په دوزخ

کې وي او د دوزخیانو خوراك به ئې مخي ته اېښودل کېږي؛ او له سپکاوي او تحقیره په ډکه لهجه به ورته ویل کېږي: لږ تړې وخورئ، لږ تړې مستفید شئ!! له تاسو سره وړ خوراك همدا دئ، تاسو مجرم وئ او په دوزخ کې د مجرمانو مناسب خوراك همدا دئ!!

۲- دلته د وینا مخه مجرمینو ته رااوښتې او په دنیا کې ورته خطاب شوی چې: د دنیا په دې لنډې مودې کې لږ وخورئ او تړې مستفید شئ، خو پوه شئ چې الهي عذاب درته منتظر دئ، دا ځکه چې تاسو مجرم او جنایتکار یئ!

لومړی رأیه په دوه دلیله دقیقه ده:

الف: هیڅ داسې قرینه نه مومو چې وښیي دلته د بحث مخکینۍ لړۍ قطع شوې او دنیا ته راګرځېدلې.

ب: په مخکینیو آیتونو کې خطاب پرهېزګارانو ته متوجه دئ، چې په جنت کې به وي او په ډېر درناوي سره به په دې صیغه دوی ته ویل کېږي: په خوند خوند وخورئ وڅښئ، د خپلو عملونو له کبله، د دې خطاب په مقابل کې باید دوزخیانو ته د خطاب څرنګوالی هم توضیح شي، نو ځکه ویل شوي چې دوی ته به د اهانت او سپکاوي په لهجه وویلی شي: لږ له دغه خوراکه چې له تاسو سره مناسب دئ وخورئ، تاسو خو مجرم او ګنهګار وئ.

٤۸-٤۹: د٤۸ آیت په اړه هم دوه رأیې مومو:

۱- رکوع ته د مجرمینو له بلل کېدو مراد دا دئ چې دوی به په دنیا کې لمانځه ته بلل کېدل خو دوی به ډډه کوله او همدا په دوزخ کې د دوی د پرېوتو یو بل لامل وو.

۲- مراد ئې دا دئ چې د قیامت منکرین سره له دغو ټولو مضبوطو او قانع کوونکو دلائلو چې دا سوره ئې د دوی مخي ته ږدي، دې ته تیار نه دي چې له مخالفت او لجاجت لاس واخلي او حقیقت ته سر ټیټ کړي.

د دوهمې رأیې د ترجیح لپاره څو دلائل لرو:

- دلته له رکوع د اجتناب خبره د داسې بحث په پای کې راغلې چې اساسي او محوري موضوع ئې قیامت او اثبات ئې په دلائلو سره ده، دې اجتناب ته باید د دغه بحث په ترڅ کې وګورو، د نومورې بحث تتمه ئې وګڼو؛ او په دې معنی ئې واخلو چې دوی د قیامت په اړه د دې سورې بلنې ته لبیك نه وایي او دلائلو ته ئې سر نه ټیټوي، که د بحث موضوع لمونځ وی او یا په مخکینیو آیتونو کې د لمانځه په اړه څه ویل شوي وی، نو کېدی شو چې (عدم رکوع) مو د عدم لمانځه په معنی نیولې وی.
- د سورې وروستی آیت په وضاحت سره ښیي چې دلته په قیامت باندې د ایمان نه راوړو خبره مطرح ده.

• د قيامت منكرين په قيامت ايمان ته رابلل كېږي نه لمانځه ته، لمانځه ته بلنه په قيامت او معاد له ايمان وروسته مطرح كېږي.

۵۰: دا آيت چې د المرسلات د سورې تتمه ده، په حيرتناكه لهجه پوښتي: نو له دې خبرو وروسته به په كومې خبرې ايمان راوړي؟ كوم استدلال به ئې قانع كړی شي؟ كه د دغې سورې په دغو مضبوطو او قانع كوونكو دلائلو قانع نه شي او له مخالفت او لجاجت لاس وانخلي او حقيقت ته سر ټيټ نه كړي، آيا بل داسې دليل او بله داسې وينا موندی شو چې د دوی قناعت پرې راشي او په قيامت ايمان راوړي؟!!

يعني په دې سوره كې د قيامت منكرينو ته داسې بشپړ او قاطع ځوابونه وركړی شوي چې هيڅ پوښتنه او اعتراض ئې بې ځوابه نه دئ پاته شوی، كه څوك په دغو دلائلو قانع نه شي، په بل هيڅ استدلال سره نه شو كولی دوی قانع كړو. له قيامت د دوی د انكار وجه دا نه ده چې كافي دلائل ئې نه دي اوربدلي، پوښتنو ته ئې ځواب نه دئ ويل شوی او اغېزمنه وينا او حكيمانه بلنه ئې نه ده تر غوږ شوې!! نه؛ تر ټولو مضبوطه او اغېزمنه وينا او تر ټولو قوي دلائل ورته ويل شوي، تر دې غوره وينا نه موندل كېږي، تر دې متين او قوي دليل نه شو پيدا كولی، دوی په هر صورت كې له ځان سره په كلكه پتېلې چې په خپل انكار به ترپايه ټينګار كوي، داسې كس په دلائلو نه شو قانع كولی. چې د قرآن په حكيمانه وينا او مضبوطو دلائلو قانع نه شي هغه به كومه وينا او كوم دليل وي چې دوی قانع او ايمان راوړلو ته چمتو كړي: فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ.

سُبْحَانَكَ اللهمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

النبأ

د سورې معرفي:

د دې مباركي سورې نوم النبأ (هماغه مهم خبر) دئ، چې د سورې له دوهم آيت اخيستل شوی،۴۰ آيتونه لري، د سورې له مضامينو، د آيتونو له تركيب او د بيان له سبك په څرګنده معلومېږي چې دا سوره د مكي دور د ابتدائي مرحلې له سورتونو ده، د بحث هغه اساسي او محوري موضوع چې دا سوره ئې په اړه بحث كوي د آخرت اثبات دئ.

د دې سورې آيتونه د نورو مكي سورتونو په څېر لنډ لنډ، قاطع او جامع او شعارونو ته ورته دي، چې ډېر ښايسته او خوندور وزن لري، د آيتونو طول په سر كې ډېر لنډ، بيا ورو ورو زيات شوی او وروستی ئې د لومړيو آيتونو نژدې درې برابره شوی، خو داسې چې

درې ډلې فقرې لري او د هري یوې اوږدوالی د لومړیو آیتونو په اندازه، له لومړي آیت تر پنځم پورې د آیتونو فواصل د یتساءلون، مختلفون او سیعلمون هموزنه صیغې دي او له شپږم آیت د سورې تر پایه مهاداً او ازواجاً ته ورته صیغې دي. په دې سورې کې د بحث اصلي او محوري موضوع؛ د آخرت مسئله او د هغه اثبات دئ، دلته د آخرت ورځي ته یوم الفصل ویل شوي او شیي چې د آخرت دغه د پرېکړې او بېلتون اړخ په کې څېړل شوی، یعني په دې ورځ د مؤمنانو او کافرانو، د نېکانو او بدکارانو تر منځ وروستۍ پرېکړه کېږي، هر یو به خپله مناسبه سزا او جزاء ګوري.

که د قرآن په څېړنو او بحثونو کې لږ دقت وکړو نو څو ټکي زمونږ توجه ځان ته جلبوي:

الف: قرآن تر ټولو دقیق او مفصل بحثونه د قیامت، آخرت، بیا ژوندون، حساب و کتاب او د عملونو د دنیوي او اخروي مجازات او مکافات په اړه لري، تر هري بلې موضوع ئې په دې اړه زیات بحث کړی او د دغې قضیې مختلف اړخونه ئې څېړلي.

ب: د قرآن لومړیو مخاطبینو ته د (آخرت) بحث تر بلې هري موضوع عجیب، له اعتراض ډک او د نه منلو وړ برېښېدو، په دې اړه ئې ډېري زیاتې پوښتنې درلودې او زښت زیات اعتراضات ئې کړي، هغوی په الله باور درلود، د الله طرف ته له بلنې سره ئې زیات حساسیت نه ښودو او هغه ئې د حیرت او تعجب وړ خبره نه ګڼله، په دې اړه د دوی اساسي اشکال یوازې دا وو چې خپل ګڼ شمېر خدایان، دا د دوی له پلار، نیکه پاته لرغونې میراث پرېږدي او د هغوی په ځای د یوه خدای عبادت وکړي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم په رسالت باندې د اعتراف په اړه ئې هم له دې کبله جدي ستونزه نه درلوده چې هغه کوم ناپېژانده شخصیت نه وو، د هغه د لوړ شخصیت، عظمت او د ده روښانه سوابق تري پټ نه وو، ټولو ښه پېژاندو، د هغه په لوړ او امتیازي شخصیت ئې باور درلود، پر ده ئې تر هرچا زیات اعتماد کاوو، دی ئې امین او رښتینی شخصیت ګانړو، د ده راتلونکي ته ئې ډېر توقعات درلودل، خو له مرګ وروسته بیا ژوندون، آخرت، قیامت، د عملونو اخروي مکافات او مجازات، یوه داسي قضیه وه چې د قریشو مشرکینو په آسانۍ نه منله، کله به ئې په حیرت او تعجب سره او کله د تمسخر او استهزاء په توګه ویل: آیا دا ممکنه ده چې پس له هغه به بیا راژوندي کېږو چې ومرو، هډوکي مو وراسته شي، ټول وجود مو تجزیه او خاوري شي؟!! که دا خبره رښتیا وي ولې د مخکینیو نسلونو تر اوسه هیڅوک بېرته نه دئ راژوندی شوی؟!! ولې ترننه د خپلو پلرونو او نیکونو د کوم یوه د بیا راژوندي کېدو شاهد نه شوو؟!

ج: په قرآن کې تر ټولو زیات دلائل په دې اړه ګورو چې خلکو ته آخرت، د الله لوري

ته ښرته ګرځېدل، بيا ژوندون، الهي محاسبه، مکافات او مجازات ثابت کړي، داسي دلائل چې ډېر دقيق، مضبوط او ژور دي او د هر شك او شبهې مجال ختموي او هر باضمير او با انصاف انسان پرې قانع کوي.

د نبأ په مبارکې سورې کې له دغو دلائلو يو ئې له کافي شرحي سره زمونږ مخي ته اښودل شوی. دا مبارکه سوره په دې آيتونو پيل شوې:

۱- له څه يو بل پوښتي.

۲- له آ ستري خبري.

۳- کوم چې دوی په کې په خپله مختلف دي.

د دغو آيتونو له فحوی معلومښري چې دوی تر ټولو زياتې پوښتنې د دغې ستري خبري په اړه درلودې، خو ټولو ګډه او مشترکه رأيه نه درلوده او پر يوې خبرې متفق نه وو، هر چا د قيامت او بيا ژوندون په اړه خپل مستقل تشويش او خپله ښله رأيه لرله، چا قيامت نه مانو، چا بيا ژوندون او چا محاسبه او مکافات او مجازات، قرآن په دې مبارکې سورې کې د دوی هغه ډله مخاطب کړې او پوښتنې ته ئې ځواب وايي چې فصل، محاسبه او مکافات او مجازات نه مني، د دوی لپاره ئې د قيامت ورځ د (يوم الفصل) په نامه نومولې او د اثبات لپاره ئې فرمايلي:

- د زمکې او آسمان هر څه د دې شهادت ورکوي چې هر څه د يوه خاص ضرورت او مصلحت له مخي او د يوه مقصد لپاره پيدا شوی او يوه تشه پرې ډکه شوې او يوه ضرورت ته پرې ځواب ويل شوی، له دې په ډاګه معلومښري چې هيڅ څه خوشی او بې هدفه نه دئ پيدا شوی، د هر څه په پيدايښت کې خاصه محاسبه په پام کې نيول شوې، له قيامت او حساب، کتاب د انکار معنی خو يوازې دا کښدی شي چې دا عالم له کوم سوچ او دقت پرته، خوشی او بې هدفه پيدا شوی، خو دا بې بنسټه باور له هغه څه سره په کلکه تصادم کوي چې د عالم هر څه پرې شهادت ورکوي. آيا نه گورئ چې دا زمکه مو تاسو ته زانګو ګرځولې، هغه مو داسي پيدا کړې چې تاسو ته ئې په خپلې مهرباني غښر کې ځای درکړی، ستاسو د پالنې او روزنې او ستاسو د رزق او روزي وسائل درته برابروي، ستاسو له فطري غوښتنو او طبيعي جوړښت سره موافق، ستاسو ټولو اړتياوو او غوښتنو ته ځواب وايي او د ژوند ټول ضروري سامان درته مهيا کوي؟
- آيا دې ته نه گورئ چې دا غرونه مو د زمکې مېخونه ګرځولي، داسي مېخونه چې زمکه له خوځښدو خوندي ساتي، که غرونه نه وی نو زمکه به مسلسل خوځښده، مونږ به نه د واورو او اوبو زښرمي درلودې، نه نهرونه، چينې او کاښزونه، دا غرونه دي چې په زمکه د

بېلو بېلو موسمونو باعث شوي او د يوې سيمې هوا او موسم ئې له بلې بېل کړی، هرې سيمې ته ئې ځانګړې هوا او خاص موسم ورکړی او د خاصو دانو او مېوو د راټوکېدو شرائط ئې په کې برابر کړي؟

- آيا دې ته پام نه کوئ چې تاسو مو جوړه جوړه، نر، ښځه پيدا کړئ او په دې سره مو ستاسو د نسل دوام تضمين کړ،
- آيا د شپې او ورځې په تلو راتلو کې مو غور نه دئ کړی چې يوه په بلې پسې منظم او په خپل ټاکلي وخت ځي راځي، يوه ئې ستاسو د آرام، استراحت او خوب لپاره لازم او ضروري شرائط برابروي او بله ئې د دانې او مېوې د راټوکېدو او تاسو ته د رزق او روزي د راپيدا کولو باعث او د ښه او بد؛ او د مفيد او مضر د ښه پېژندو وسيله ګرځي، تاسو خوب ته ضرورت لرئ چې په ورځنيو کارونو کې خپل مصرف شوی توان، طاقت مو جبران کړئ، خپل ستومانه او ناآرامه اعصاب مو تسکين کړئ او د راتلونکې ورځې هلوځلو ته ځان تيار کړئ، دا کار يوازې د خوب له لارې تر سره کېدی شي او تاسو د خوب لپاره تيارې او خاموشۍ ته ضرورت لرئ او دا دئ الله تعالی زمکه او آسمان او زمور د شمسي نظام د بېلابېلو اجرامو تر منځ واټن او د دوی حرکت داسې تنظيم کړی چې کله د زمکې پر سر شپه وي او کله ورځ، که داسې نه وی او د دوی تر منځ فاصلې او د دوی حرکت له اوسنې حالت سره لږ توپير درلودی نو د زمکې پر سر به ژوند ممکن نه وو!؟
- آيا دې ته نه ګورئ چې دا اُوه ګوڼې آسمانونه ئې ستاسو د کور چت ګرځولی، د زمکې پر سر د شهاب ثاقب د راپرېوتو مخه نيسي، نه پرېږدي چې د ملر مضر وړانګې زمکې ته راورسي او ستاسو ژوند له سخت ګواښ سره مخامخ کړي، د زمکې تودوخه ساتي، ورېځې په خپلې غېږ کې خوندي ساتي او د خورېدو مخه ئې نيسي او د واورې او باران په څېر ئې بېرته په تاسو وروي؟
- آيا دغه روښانه او تود ملر ته پام نه کوئ، چې آسمان په خپلې غېږ کې نيولی او تاسو ته هم رڼا درکوي او هم تودوخه او په منظمه توګه ستاسو زمکې ته خپلې وړانګې لېږي، د زمکې پر سر ژوندون د ملر د رڼا او تودوخې مرهون دئ، همدا ملر دئ چې د بحرونو د اوبو د تبخير او تصفيې باعث شي، آيا لږ مو دغو ورېځو ته توجه نه ده کړی چې څنګه د بحر له سطحې رااوچتې شي، د يوه اسفنج په څېر د اوبو بخارات له ځان سره واخلي، د آسمان په غېږ کې لامبو پيل کړي، په زرګونو ميله لرې، د وچو زمکو او بېدياوو په لور وخوځېږي، تږو کروندو، بوټو، ونو او حيواناتو ته چې يوه تېز باران ته سترګې په لار دي اوبه رسوي، مړه زمکه راژوندۍ کړي او له زړه ئې دانه او مېوه راوټوکوي، کليو او ښارونو ته چې د

باران د نه ورېدو له کبله ئې هوا ناصافه او ګنده شوې او راز راز ناروغۍ په کې خورې شوې، د ژوند او صفايي پېغام له ځان سره وړي، مړاوې څېرې روښانه، مأيوس زړونه ډاډمن او وچې زمکې ښېرازه کوي؟

• آيا نه ګورئ چې د زمکې او آسمان هر څه بامقصد او هدفمن او هر يو ئې د يوه خاص او ځانګړي ضروري کار د تر سره کولو لپاره پيدا شوی، هر يو په دې خور او پراخ عالم کې يوه تشه ډکوي، هر يو ئې په يوه خاص کار لګيا او د يوه ځانګړي هدف د تحقق لپاره په کار مصروف دئ، په ټول عالم کې هيڅ خوشی او بې مقصده شی نه شو موندلی، ټول ستا په خدمت کې، ټولو يوه بل ته لاس ورکړی چې ستا مرسته وکړي، ستا غوښتنو ته ځواب ووايي او ستا ضرورتونه او اړتياوي پوره کړي. ما ته ووايه: که له دغو کوم يو ئې خپله دنده تر سره نه کړي، له هغه کاره لاس واخلي چې ورسپارل شوی، طغيان وکړي، بې لاري شي، خپل فطري او طبيعي مسير بدل کړي، له خپل برېد او حد تجاوز وکړي، په دې عالم کې به څومره ستره بدنظمي رامنځته شي او څومره ستري ستري ستونزي به راولاړي کړي؟ څومره بده ورځ به پر انسان راولي؟ بې له شکه چې په دې سره به د کائنات نظم متلاشي شي او د زمکې پر سر د ژوند امکان به له منځه ولاړ شي. نو ما ته ووايه:

• آيا دا سمه ده چې ووايو: د دې خور او پراخ عالم هر څه سم او بامقصده پيدا شوي، خو انسان هسي عبث او بې هدفه پيدا شوی؟!! په آخرت او اخروي محاسبې عدم باور په دې معنی دئ چې انسان، دا اشرف المخلوقات، هغه چې د کائنات هر څه د ده لپاره پيدا شوي او د ده په خدمت کې ګمارل شوي، د هيڅ لپاره، خوشی او عبث پيدا شوی!! داسي غلط تصور خو نه د انسان له عقل سره اړخ لګوي، نه ئې واقعيتونه تأييدوي او نه ئې هيڅ با شعور او باضمير انسان منلی شي.

• که د عالم په چارو، نظم، ترکيب او ترتيب کې يو بسيط او عادي تغيير او د زمکې او آسمان تر منځ په دې يووالي او ژور تنسيق کې معمولي تبديلي او توپير د زمکې پر سر د ژوند امکان ختموي او د موجود نظم د متلاشي کېدو باعث ګرځي، نو څنګه ګمان کوئ چې دا عالم به تلپاته وي، قيامت به نه راځي او هيڅ بدلون به په کې نه رامنځته کېږي، د دې سخيف او بې بنسټه باور لپاره څه دليل لرئ، څه شي په دې اړه ډاډه کړي يئ؟!!

• سره له دې چې ګورې له آسمان په يوه باران سره مړه زمکه وخوځېږي، د ژوندي موجوداتو زړي په خوښت راشي، ژوندي شي، وده وکړي، د زمکې سخت او کلك قشر وسپړي او د شنه او سمسوره بوټي په څېر له زمکې سر رااوچت کړي، پاڼه او ګل وکړي او دانه او مېوه راوټوکوي، دا صحنې هره ورځ په خپلو سترګو ګورې، څنګه له مړيني وروسته

ژوندون مستحيل ګڼې او انکار ترې کوې؟!!

- که ته له چا سره احسان وکړې، څو ورځې ئې د يوه ګران مېلمه په څېر له ځان سره وساتې او د ده لپاره يو مهربان کوربه او مېلمه پال شې، په ډېر تکريم او عزت سره ئې مېلمه پالنه وکړې او په دې موده کې ئې ټولې اړتياوې پوره او ټول ضروريات ئې تر سره کړې، خو هغه نه يوازې ستا د دې مهربانيو او پېرزويتو پاس ونه ساتې، بلکې له تاسره د دښمنۍ لار ونيسي، ستا احسانونه هېر کړي، څه چې تا ورکړي، ټول ستا په ضد او ستا د رضاء او خوښې خلاف وکاروي، ستا له دښمنانو سره لاس يو کړي او ستا له دوستانو سره دښمنۍ ته ملا وترې، ما ته ووايه چې د دې ناشکر او بې پاس انسان په اړه به ستا قضاوت څه وي؟ د کومې سزا او بدلې مستحق به ئې ګڼې؟! که هغه ستا قضاوت ته وړاندې کړی شي، آيا د دې وړ به ئې وګڼې چې بيا ئې د مېلمه په څېر ومنې؟! آيا د ده په اړه به ستا قضاوت دا نه وي چې هغه د تکريم او تعظيم وړ نه دئ؟! ما ته ووايه: د داسې قضاوت استعداد چا درکړی؟ چا درښودلې چې له داسې کس سره مخکينی سلوک بيا تکرارول مناسب نه دئ؟ که ته ځان ته د دې قضاوت او پرېکړې حق ورکوې، آيا هغه ذات چې په تاکې ئې د قضاوت دا ماده اېښې، ته او ستا هغه بې پاسه مېلمه ئې پيدا کړي يئ، د داسې قضاوت حق نه لري؟! او هغه به له خپلو ناشکره بندګانو سره همغه څه نه کوي چې ته او هر انسان ئې له داسې کسانو سره مناسب ګڼئ؟!!

نو (يوم الفصل) به حتماً راځي، ټول خلك به بيا راژوندي کېږي، هر څوك به له خپل خپل قبر راپورته کېږي، ډلې ډلې به د الله په لور درومي، الهي محاکمې ته به وړاندې کېږي،د دوی د عملونو په اړه وروستۍ عادلانه پرېکړه به کېږي، ځيني به د کفران او طغيان له کبله په هغه جهنم کې پرېوځي چې د سرکښو او ناشکره انسانانو لپاره مناسب دائمي ټمځی دئ، نه به په هغه کې د څښلو يو غوړپ اوبه موندی شي او نه يوه لوښت سيوری او نه يوه شېبه له تودوخي آرام، خوراك او څښاك ئې تودې اوبه او نو، د دوی د عملونو او حرام خوراك، څښاك مناسبه سزا، خو ځيني نور به د خپلې تقوی او پاك ژمنۍ په سبب د جنت مستحق ګڼل کېږي، دوی د خپل رب د نعمتونو پاس وساتو، له حرام خوراك او څښاك ئې ډډه وکړه، له ناولو کړنو ئې ځان لري وساتو، د بل په حق له تېري ئې اجتناب وکړو، د دوی بدله به جنت وي، د دوی عملونو ته ورته بدله.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ﴿١﴾ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢﴾ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴿٣﴾ كَلَّا

سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٥﴾

١- له څه شي يو بل پوښتي. ٢- له هغي ستري خبري. ٣- کوم چې دوی په کې په خپله مختلف دي. ٤- نه؛ داسي نه ده؛ ژر ده چې به پوه شي. ٥- بيا هم داسي نه ده؛ ژر ده چې به پوه شي.

١-٣: څو اساسي مطالب په دې آيتونو کې ځان ښيي:

- قريشو د قيامت په اړه ډېري پوښتني يو له بله درلودې، له کومې ورځې چې دوی دا خبره واورېده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دوی په آخرت باندې ايمان ته رابلي او ورته وايي: دا عالم د پای يوه ثابته نېټه لري، قيامت به راځي، د نړۍ دا موجود نظام به متلاشي کېږي، بله دنيا به له بلې زمکې او آسمان سره راپيدا کېږي، ټول انسانان به بيا راژوندي کېږي، ټول به د الله په لوري دروميږي او د خپلو عملونو له ثواب او عقاب سره به مخامخ کېږي، قريشو به کله په حيرت او تعجب سره او کله په تمسخر او ملنډو سره يوه له بله پوښتنه کوله: آيا اورېدلې مو دي چې ستاسو دا ملګری څه وايي؟.!! آيا دا خبره د منلو ده چې له مرګ وروسته او پس له هغه چې هډوکي مو وراسته او په خاورو بدل شو، بېرته به راژوندي کېږو؟!! که دا خبره رښتيا وي نو زمونږ له پلرونو او نيکونو خو کوم څوک بايد تر اوسه راژوندی شوی وی!!

قرآن د دوی دا پوښتني داسي بيانوي:

... قَالَ مَن يُحْيِ ٱلْعِظَـٰمَ وَهِىَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ يس

... وئې ويل: څوک به دا هډوکي له هغه وروسته راژوندي کوي چې وراسته وي؟

وَقَالُوا۟ مَا هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾ الجاثيه

او وئې ويل: (حقيقت) له دې پرته بل څه نه دئ چې يوازي همدا زمونږ دنيوي ژوند دئ، مرو او راژوندي کېږو او له زمانې پرته مو بل څه نه وژني، په داسي حال کې چې په دې اړه هيڅ علم نه لري، دوی هسي ګمان کوي.

وَقَالُوٓا۟ إِنْ هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٢٩﴾ الانعام

او وئې ويل: دا نه دئ مګر زمونږ دنيوي ژوند او مونږ بيا راژوندي کېدونکي نه يو!!

- دوی د قيامت په اړه ثابت او واضح دريځ او رأيه نه لري، هر يو ئې د خپل تخمين او

گمان له مخي ېېله ېېله خبره کوي، په خپلو کې ژور اختلاف لري، ځينې دې قضيې ته له يوه اړخه ګوري او يوه برخه ئې مني او ځينې له بله اړخه ورته ګوري او بله برخه ئې مني، ځينې په بشپړه توګه ترې انکار کوي او ځينې په نسبي توګه.

- څوک چې د ژوند د قضاياوو په اړه د ګمان او تخمين له مخي او د خپلې سليقې او هوی او هوس په حکم قضاوت کوي او خاصه او ځانګړې رأيه وړاندي کوي او د خپلو باورونو او انګېرنو لپاره نه عقلي دلائل لري او نه علمي بنسټونه، تل او د هري قضيې په اړه به دې ته ورته اختلافاتو سره لاس او ګرېوان وي.
- داسي نه ده چې دوی ګمان کوي، (قيامت) به حتماً راځي، ډېر ژر او هرو مرو به د هغه په حقيقت پوه شي، جهل او ناپوهۍ دوی مخالفت ته هڅولي، تر اوسه ئې داسي دلائل نه دي اورېدلي او داسي شواهد ئې نه دي موندلي چې د آخرت په اړه د دوی ظن او ګمان په يقين بدل کړي او د دوی شکوک او شبهات رفع کړي، خو دا دلائل او شواهد به ډېر ژر او حتماً د دوی مخي ته راشي، د دوی کمزورۍ نظر او مړژواندی عقل به په دې حقيقت پوه شي چې د قيامت خبره رښتيا ده، خو که د دلائلو او شواهدو له ليدو سره سره ئې ايمان رانه وړ، ډېر ژر به قيامت په خپلو سترګو وګوري او په حقيقت به ئې پوه شي.

٤-٥: په څلورم او پنځم آيت کې که څه هم الفاظ تکرار شوي خو دوه ېېل ېېل مطالب افاده کوي، په لومړي کې دا ويل شوي چې د قيامت په اړه دلائل او شواهد به هرومرو د دوی مخي ته راشي او په حقيقت به پوه شي، په دې مبارکې سورې کې هم او د قرآن په نورو سورتونو کې به هم، کافي او قانع کوونکي دلائل وړاندي شي. او په ورپسې آيت کې په همغو الفاظو سره دې مطلب ته اشاره شوې چې که د دلائلو له مخي د قيامت راتګ ونه مني نو قيامت به په خپله راشي، دوی به ئې په خپلو سترګو وګوري او په حقيقت به ئې پوه شي. له قريشو ډېرو هغو کسانو چې مخکې ئې قيامت محال او ناممکن ګڼلو او له هغه ئې په کلکه انکار کاوو، د قرآن د مضبوطو دلائلو په اورېدو سره قانع شول او په آخرت ئې ايمان راوړ، د دوی ايمان د همدې څلورم آيت مصداق وو. دې مطلب ته مو بايد پام وي چې (س) يوازي د نژدې راتلونکي لپاره نه راځي، بلکې ډېر ځله يوازي د تأکيد لپاره راځي، متأسفانه ځينو کسانو اورېدلي چې (س) يوازي د نژدې مستقبل لپاره کارول کېږي، حال دا چې دا خبره په ځينو مواردو کې صحيح ده نه په ټولو کې او دا يوازي د ځينو مفسرينو رأيه ده، نه د ټولو، دلته هم په څلورم آيت کې د نژدې راتلونکي لپاره راغلی او په پنځم آيت کې يوازي د تأکيد لپاره، ځکه قيامت نژدې مستقبل نه دئ. موږ بايد د صرف او

نحوي قواعد هم د قرآن له مخي زده کړو، نه دا چې د يوه نحوي عالم ځانګړې رأيه خامخا پر قرآن تحميل کړو.

أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا ﴿٦﴾ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقْنَٰكُمْ أَزْوَٰجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلْنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾

٦- آيا نه ده ګرځولې مو دا زمکه يوه زانګو؟ ٧- او دا غرونه، څه مېخونه؟ ٨- مګر نه مو کړئ پيدا جوړه جوړه؟ ٩- ستاسو خوب مو کړ لامل د هوساينې؟ ١٠- او دا شپه مو کړه په څېر د يوه پوښاك؟ ١١- او دا ورځ مو کړه مهال د ژوند او ژواك؟

٦- لږ دغې زمکې ته وګوره چې په غېږ کې ئې ژوند کوې او پر اوږو ئې درومې، ستا لپاره يوه زانګو، نه ډېره سخته او کلکه، هومره چې د استفادې وړ نه وي او نه هومره نرمه او پسته چې نه پرې تګ ممکن وي او نه د اوسېدو وړ، نه ډېره توده او نه له اندازې زياته سړه، ستا له طبيعي جوړښت سره متناسبه، هوا ئې معتدله، ستا د اوسېدو لپاره جوګه، تياره يوه زانګو، داسې چې که ئې وضعيت لږ تر دې بدل وی، د تودوخې درجه ئې زياته يا کمه، فشار ئې لږ يا ډېر، د ورښت اندازه ئې زياته يا کمه او بله هره عادي تبديلي او تغيير ئې نظم له منځه وړي، ستا ژوند له جدي ګواښ سره مخامخ کوي او دا زانګو ستا لپاره ګور ګرځوي!!

٧- د زمکې له اوارو لږ د لوړو په لور، غرونو ته سترګې واړوه، آيا دې ته دي پام شوی چې دا غرونه ستا د زمکې مېخونه دي او ونډه ئې د زمکې د زانګو په راتېنګولو او ټولو کې هومره ده لکه د کېږدۍ په درولو کې د مېږويو او د يوه صندوق په جوړولو کې د مېخونو، هو؛ دا د زمکې مېخونه دي؛ په څو معنی وو:

الف: داسې مه انګېره چې دا غرونه يوازې د زمکې پر سر لوړي دي، ګمان مه کوه چې د زمکې پورتنۍ برخه ګونځي شوې او دا لوړي او ژوري په کې راپيدا شوې، تا ته به غرونه د خاورو او تيږو لوړي غوندې برېښي، خو حقيقت داسې نه دئ، غرونه د مېخونو په څېر د زمکې په زړه کې ننوتي، لويه برخه ئې د زمکې په زړه کې او وړه برخه ئې راوتلې او د زمکې پر سر ده. او آيا پوهېږئ چې دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ، انسان اوس او په شلمي پېړۍ کې په دې پوه شو چې واقعاً غرونه هسې د زمکې د سر لوړي نه دي، بلکې د مېخونو په څېر ئې لويه برخه د زمکې په زړه کې او وړه برخه ئې د زمکې پر سر ده.

ب: دغو سترو او درنو غرونو د زمکې ټېلې ټېلې برخې په خپلو کې سره کلکې نښلولې،

داسي لکه د اوسپني تختې چې د ولډنګ په ذريعه په خپلو کې سره ونښلي، دا غرونه د زمکې پر سر هغه درانه پټې وګڼئ چې نه پرېږدي د زمکې هغه کلك او ډبرين پوستکی چې تر خاورو څو کيلومتره لاندي دئ، د هغه فشار له کبله مات شي چې د زمکې له زړه د خوټېدونکو موادو راولاړېږي، په دې ترتيب غرونه د زمکې د زلزلو مخنيوی کوي، انسان له ډېرو علمي څېړنو وروسته نن په دې حقيقت پوه شوی چې د زمکې تر خاورين قشر لاندي، د کلکې ډبري پرېږ پوستکی راتاو شوی او د زمکې په زړه کې د ډېر فشار او تودوخي له کبله هر څه ويلي او د خوټېدو په حالت کې دي، له دې چې کوم فشار راپيدا کېږي هغه داسي وګڼئ لکه په سره اور پروت، د خوټېدو په حال کې د بخار دېګ چې له داخله تر سخت فشار لاندي وي، د زمکې ډبرين پوستکی هم دې ته ورته تر ډېر ستر فشار لاندي وي، که دا غرونه او د دوی زيات وزن نه وی نو د دې فشار په وړاندي به ئې د مقاومت تاب نه درلود او دلته هلته به يو په بل پسي ماتېدو او زلزلې به راولاړېدې. دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه ئې د (مېخونو) او (لنګر) په نامه ياد کړي او دا هغه حقيقت دئ چې انسان فقط په دې پېړۍ کې وربانديي پوه شو. قرآن دا حقيقت هم بيان کړی چې د غرونو تر راپيدا کېدو وړاندي زمکه خوځېده، له پرله پسې زلزلو سره مخامخ وه، الله تعالی غرونه وربانديي راپيدا کړل او دا خوځښت ئې سنبال شو او دا هم د غرونو په ارتباط يو بل ستر علمي حقيقت دئ چې انسان اوس وربانديي پوه شوی.

ج: په دې هم پوهېږو چې غرونه د اوبو زېرمي په خپلې سينې کې ساتي، د واوري ستر ستر ذخائر له فوري ويلي کېدو ساتي، نهرونه، چينې او کاږيزونه له همدې غرونو رابهېږي، د مختلفو سيمو د هوا او موسم په تغيير او د رنګ رنګ نباتاتو په زرغونېدو کې د غرونو ونډه ډېره اساسي او ټاکونکې ده، نو غرونه له دې پلوه هم د زمکې د خيمې لپاره د مېخونو حيثيت لري چې د ژوند د بقاء او ژوندیو ته د رزق او روزي په برابرولو کې مؤثره ونډه لري.

۸- د اتم آيت په اړه بايد څو اساسي ټکيو ته متوجه وو:

- انسانان جوړه جوړه، نر، ښځه پيدا شوي، يو د بل مکمِل او بشپړوونکی، هر يو ئې د بل تر څنګ د ډاډ، اطمئنان، سکون او آرامۍ احساس کوي او يو له بله د بېلوالي په صورت کې د نقص، کموالي او د کوم ضروري او حياتي شي د ورکولو احساس کوي، د دغو جوړو تر منځ جاذبه او مينه له همدې احساسه راولاړېږي او همدا جاذبه او مينه د انسان د نسل د بقاء لپاره ضروري ده، له دې پرته د انسان د نسل دوام ممکن نه وو.
- د قرآن له نظره انسان، حيوان او ټول ژوي او د عالم هر څه جوړه جوړه پيدا شوي،

قرآن د طبیعت د ټولو توکو تر منځ (زوجیت) د کمال او دوام باعث ګڼي. دا دقیقه نظریه د هغه بې بنسټه او غلط تصور کاملاً خلاف ده چې د کمونستانو ماتریالستي فلسفه ئې د تکامل د عواملو په اړه وړاندي کوي، هغوی (تضاد) او د متضادو توکو تر منځ دائمي (نزاع) د تکامل وسیله ګڼي!! دا په داسي حال کې چې ټول عالم د (ازواج) او جوړه جوړه توکو مجموعه ده، د دې خور عالم په هیڅ برخي کې د تضاد او عدم زوجیت بېلګه نه شو موندلی، د عالم په هري برخي کې د دې حقیقت شاهد یو چې تکامل د ازواج او جوړو تر منځ د ګډ کار او ژور تنسیق نتیجه ده، په حیواناتو او نباتاتو کې په څرګنده ګورو چې یو ئې څه د (ورکولو) لپاره لري او بل ئې د (اخیستلو) لپاره، د یوه ورکول یوه اړتیا وي او د بل اخیستل، همدغه احساس یو بل ته نژدې کړي، یو د بل نقص او اړتیا ته ځواب وایي او ضرورت ئې رفع کړي، همدا د دواړو تر منځ د راکړې ورکړې رابطه او تنسیق د نوي موجود د پیدایښت باعث شي او د دغې (جوړې او زوج) د نسل دوام او بقاء میسر او ممکن کړي. د طبیعت په عناصرو کې هم ګورو چې دوه توکي یوازي هغه وخت یو له بل سره ترکیب کېدی شي او نوی او ځوان توکی رامنځته کولی شي چې یو ئې د بل مکمِل وي، یو ئې د ورکړې لپاره کوم اضافي شی ولري او بل ئې د اخیستو لپاره تش ځای، دا دواړه یو بل ته لاس ورکړي، سره یو شي، یو د بل مکمِل شي، یو ئې د بل بار په اوږو واخلي او بل ئې د خپلې جوړې تشه ډکه کړي او په همدې سره نوی ترکیب رامنځته کړي، د عالم ټول مرکبات همداسي جوړ شوي، د (تضاد) نظریه، واهي او بې بنسټه ده او په عالم کې د تکامل د عواملو له توجیه سخت عاجزه او ناتوانه او د هیڅ څه د تکامل د څرنګوالي په اړه صدق نه کوي.

۹- تاسو خوب ته ضرورت لرئ، داسي یوه فرصت ته چې په ورځني کار کې خپله مصرف شوې انرژي او قوت جبران کړئ، دمه وکړئ، اعصاب مو لږ آرام وکړي او ستړیا مو رفع شي، الله تعالی تاسو داسي پیدا کړي یئ چې له څه وخت کار وروسته خوب درباندي غلبه وکړي، په خپله راشي، حتی ستا له اجازې او موافقې پرته راشي، لاس، پښې مو دروټري او له ځان سره مو بوځي، د خوب مهار ئې ستا په واك کې نه دئ درکړی، بلکې ستا مهار ئې د هغه لاس ته ورکړی، چې کله ستومانه شې او ستا ستوماني او ضعف هغه ځای ته ورسېږي چې نور نو هیڅ کار نه شې کولی، ناڅاپه دي خوب خوا ته راشي، ستا کار درباندي متوقف کړي، ستا د وجود بېلابېلو برخو ته دا فرصت ورکړي چې خپلې نیمګړتیاوي پوره کړي، خپله ستوماني رفع کړي او د راتلونکي پراو لپاره کار ته ځان چمتو کړي، ګورې چې (ستا په خوب) کې څومره ستر مصلحت او حکمت پروت دئ!! که (خوب) نه وی او یا ئې مهار د

انسان په واك كې وی، څومره ستر ستر مصیبتونه به ئې انسان ته راولاړ کړي وو؟!! حریص انسانانو به خپل ټول توان او ځواك په لنډې مودې کې مصرفاوو، خپله روغتیا به ئې په خطر کې اچوله او خپل ژوند به ئې د مرګ له ګواښ سره مخامخ کاوو!!

۱۰- تاسو د (خوب) لپاره دوو شیانو ته ضر ورت لرئ: تیاره او خاموشي، نه په رڼا کې سم او ژور خوب کولی شئ او نه له شور او ځوګ ډك محیط کې، ناڅاپي ګورې چې ستا مرستي ته شپه راشي، خپل تور وزر په هر څه او هر ځای خور کړي، غږونه خاموش شي، هر د غږ خاوند د خوب غږ ته پناه یوسي او په دې سره ستا د خوب لپاره مناسب شرائط برابر شي.

۱۱- تاسو د خپل ژوند مخکې ښولو او د خپل معاش او رزق، روزي د تأمین لپاره ورځې ته ضرورت لرئ، چې د هغې په رڼا کې هر څه وپېژنئ، مفید له مضر تفکیك کړئ، دوست له دښمن ښه کړئ او په خپل چاپېریال کې د شته توکو د کارولو امکان تر لاسه کړئ. د زمکې او آسمانونو خالق زمکه داسي جوړه کړې او د زمکې او لمر تر منځ فاصله او د زمکې حرکت په خپل محور او د لمر په محور ئې داسي تنظیم کړی چې کله د زمکې پر سره شپه وي او کله ورځ، نه شپه هومره اوږده وي چې زمکه تر ضرورته زیاته سړه شي او نه ورځ هومره اوږده چې زمکه تر لازم حد زیاته توده شي، باید یوه په بلې پسې راشي، تر هغه ستا خوا ته پاته شي چې ضروري وي، ستا اړتیا رفع کړي، خپل کارونه تر سره کړي، ښېرته ولاړه شي او خپل ځای بلې ته خالي کړي!! که دا دقیق نظم نه وی، شپه او ورځ تر خپل اوسني وخت لنډه یا اوږده وی، د لمر او زمکې تر منځ واټن کم یا زیات وی، د زمکې چورلېدل او خوځېدل توند یا سست وی، نو د زمکې پر سر به ژوند ممکن نه وو.

وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلْمُعْصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِّنُخْرِجَ بِهِۦ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّٰتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾

۱۲- او له تاسو بر مو جوړ کړل کلك اُوه ګوني. ۱۳- او جوړ کړی مو څراغ دئ رون او تود. ۱٤- او اوبه مو کړې راتوی له نښتېځونکو پرله پسې. ۱۵- چې راوباسو په دې سره څه بوټي څه داني. ۱٦- او سمسوره ګڼ باغونه.

۱۲- د زمکې پر سر ستاسو دا ټمځی داسي دئ چې د زمکې سطح ئې ستاسو د کور فرش؛ اوه آسمانونه ئې چت، ستورلیکي او ستوري ئې فانوس، لمر ئې څراغ او سپوږمۍ ئې د شپې شمع دي. قرآن دې ته په اشارې سره چې ستاسو له پاسه مو محکم اُوه ګوني پیدا کړي، څو اساسي خبرو ته اشاره کوي:

• يا خو زمور دا زمکه اُوه فضائي مدارونه لري او يا دا ټول عالم د آسمانونو په نامه اُوه طبقو احاطه کړی. په قرآن کې کله گورو چې له زمکې بري فضاء ته آسمان ويل شوي او فرمايي چې باران له آسمان ورووِ او معلومه ده چې باران له هغو وربځو راورېږي چې فاصله ئې زمور له زمکې تر لسو کيلومترو کمه وي. او کله د ستورو موقعيت ته آسمان ويل شوي او وايي چې په ستورو سره مو د دنيا نژدې آسمان ښايسته کړی، يعني ټول ستوري تر لومړي آسمان رالاندي دي.

• گورو چې دا اُوه گونې طبقې ډېر مضبوط او دقيق نظام لري، ټول سماوي اجرام ئې په خپلې غېږ کې کلك نيولي، يو له بل سره د دوی له ټکر او تصادم مخنيوی کوي، نه پرېږدي چې يو د بل په مدار کې ننوځي، ستر ئې وور جذب کړي، هر يو په منظمه توگه، په خپل خپل مدار کې خوځي، هر يو په خپل خپل ځای کې ساتي، د دغو بې شمېره سماوي اجرامو دا دقيقه ساتنه ښيي چې زمور په فضاء کې يو مضبوط، ځواکمن او دقيق نظام حاکم دئ.

• الله تعالی د زمکې فضاء داسي جوړه کړې چې له يوې خوا د هغو مضر او تاواني وړانگو او پلوشو مخنيوی وکړي چې له لمر د زمکې په لور رادرومي او له بلې خوا د يوه مضبوط چت په څېر پر زمکې د شهاب ثاقب له راپرېوتو مانع شي، کوم شهابونه چې د زمکې په لور راځي له دغې متکاثف او پرېږي فضاء سره له ټکر او تصادم وروسته يا ويلي شي او يا ئې مسير بدل شي او له زمکې ئې مخه بل لوري ته واوړي او د هوا همدا طبقه د زمکې تودوخه ساتي او په لايتناهي فضاء کې ئې د خورېدو مخه نيسي، هغه ستوري چې داسي متکاثفه او پرېږه فضاء نه لري له يوې خوا په پر له پسې توگه شهابي تيږي وربانديِ راپرېوځي او له بلې خوا ئې د شپې له پلوه هوا ډېره سړه شي.

١٣- هغه حکيم ذات چې دا کائنات ئې پيدا کړي، لمر ئې داسي گرځولی او فاصله ئې له زمکې دومره ټاکلې چې زمور دوو اړتياوو ته ځواب وويلی شي: مور ته رڼا او تودوخه راکړي، زمور دا د زمکې کور هم تود کړي هم روښانه، لمر ئې (سراج او وهاج) يعني (تود او ځلانده څراغ) گرځولی، زمور دواړو جدي او حياتي اړتياوو ته ځواب ويونکی، د لمر د نور او حرارت په مقدار کې ډېر لږ تغيير او د زمکې او لمر تر منځ په اوسني واټن کې ډېره لږه تبديلي او د شپې او ورځې په اوسنۍ اندازې او د زمکې په خپل محور چورلېدو او د لمر په محور خوځېدو کې ئې معمولي تبديلي د دې باعث کېږي چې د زمکې پر سر دا موجود تعادل له منځه ولاړ شي او په هغې کې ژوند ناممکن شي.

زمور زمکه له لمر ٩٣ مليونه ميله فاصله لري، د لمر حجم د زمکې د حجم ١٠٩ برابره

دئ او د لمر د سطحي تودوخه د سانتي ګراد په حساب ۱۴ ملیونه درجې ده، سره له هغه اوږده واټنه چې له لمر ځې لرو، نه شو کولی په عادي سترګو څو ثانیې لمر ته وګورو، د زمکې په ځینو برخو کې چې د لمر وړانګې پر له پسې پرې لګېږي د حرارت درجه کله کله ۱۴۰درجو ته ورسېږي، که زمور زمکه لږ لمر ته نژدې وی نو تودوخه به ځې هومره وه چې نه به انسان او حیوان پرې ژوند کولی شو او نه به بوټي ورباندي راشنه کېدی شو او که ځې فاصله له لمر تر دې زیاته وی نو سختي یخنۍ به د زمکې پر سر د ژوند مجال له منځه وور، خو دا فاصله داسي تنظیم شوې چې مور د لمر له نور او حرارت د ضرورت په اندازه ګټه واخیستی شو.

۱۴- په دې مبارك آیت کې ورېځې د معصرات یعني زېښېدونکې په نامه یادي شوې، په دې پوهېږو چې ورېځې د اوبو متکاثف او راغونډ شوي بخارات دي، چې د هوا د فشار او تودوخې په تغییر سره د اوبو په څاڅکو واوړي او د باران، واوري او ږلۍ په څېر ورېږي، د لمر وړانګې د دې باعث شي چې د سیندونو اوبه تبخیر شي، په ورېځو واوړي، بادونه ځې په خپل سر واخلي، لرو لرو سیمو ته ځې انتقال کړي، د غرونو پر جګو څوکو د واوري په څېر او په اوارو او معتدلو برخو د باران په څېر ووریږي، که دا نظام نه وی نو زمکه به د ژوند لپاره وړ نه وه، د دې موضوع په اهمیت هلته ښه پوهېدی شو چې څو اساسي ټکیو ته پام وکړو:

لومړی- که د بحرونو اوبه تبخیر نه شي او د ورېځو په توګه فضاء ته پورته نه شي، ځینې برخې ځې په فضاء کې، ځینې ځې په غرونو او سړو سیمو کې د واورو د سترو سترو زېرمو په شکل کې او ځینې ځې د زمکې لاندې برخې کارېزونو او چینو کې او یوه برخه ځې د زمکې پر سر د نهرونو په څېر خوندي نه شي، ټوله زمکه به په اوبو کې غرق او ټولې وچې به تر اوبو لاندې شي.

دوهم- د څښاك هیڅ پاکې اوبه به مو نه درلودې، له لنډې مودې وروسته به ټولې اوبه د سیندونو د اوبو په څېر تروې، ناولې او تېزابي کېدې او د څښلو وړ به نه وې.

دریم- د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو لپاره چې هره ورځ څومره اوبه په کار دي، دا لوی مقدار صافې او د استفادې وړ اوبه برابرول له بلې هیڅ لارې او په بلې هیڅ عملیې سره ممکن او مقدور نه دي، د (ثجاج) لفظ چې د پرېمانه او پر له پسې په معنی دئ د همدې لپاره په دې مبارك آیت کې راغلی او همدغه حقیقت ته اشاره کوي.

څلورم- محتاجو او اړو سیمو ته د دې مقدار اوبو انتقال هومره پراخو امکاناتو ته ضرورت لري چې د انسان له توانه ډېر ډېر اوچت دئ، آیا په دې پوهېږئ چې یوه واړه

ښار ته پاکې اوبه رسول، څومره ګران کار دئ او څومره مصارف غواړي؟ د دې پوښتنه له هغو ملکونو وکړئ چې د بحر خوا ته پراته او د زمکې لاندې اوبه ئې تروې دي او دې ته اړ چې د بحر اوبه تصفیه کړي چې خپلو خلکو ته د څښاك صافې اوبه برابري کړي.

پنځم- دا ورښت دئ چې د زمکې هوا تصفیه کوي، فضاء له زهرجنو او مضرو ګازونو، مکروبونو او ګندګیو تصفیه کوي او استنشاق او تنفس ته ئې تیاروي، له ورښت پرته له بلې لارې د زمکې د سر د ټولو حیواناتو او انسانانو د ضرورت وړ دومره زیاته صفا هوا برابرول ممکن نه ده؛ په بلې هیڅ عملیې دا کار نه شي کېدی.

١٥-١٦: په دې دواړو آیتونو کې د ورښت هدف ته داسې اشاره شوې: له آسمان په دې ورېدونکو اوبو سره ستاسو له زمکې بوټي او وني او دانې او مېوې راباسو، آسمان ستاسو لپاره خپلې غېږ کې نیولی، د زمکې په لور خپلې وړانګې خوروي اوبه تبخیروي، دا بخارات په ورېځو بدل شي، لرو لرو سیمو ته انتقال شي، له بره پر تاسو باران وروي او په همدې باران سره د زمکې له زړه دانه او مېوه راپیدا کوي، آیا دا تاسو ته په ډېر صراحت او وضاحت سره نه وایي چې د زمکې او آسمان تر منځ دقیق یووالی او تنسیق حاکم دئ، دواړه یو بل ته لاس ورکوي او د یوې دقیقې منصوبې او طرحې له مخې په ګډه کار کوي او ستاسو ارتیاوو ته ځواب وایي، بوټي او وني د زمکې خټه زېښي، ستاسو د ضرورت وړ توکي جذبوي او له هغه داسې ښکلې دانې او مېوې جوړوي چې رنګ ئې ښایسته، خوند ئې لذیذ، بوی ئې ښکلی، شکل ئې جذاب او هضم ئې آسان او همدا ستا غذا!؟ دا بهیر موږ ته ښیي چې د زمکې او آسمان د چارو تدبیر له یوې مرجع تر سره کېږي او له دې بهیر ثابتېږي چې څه په آسمان کې تر سره کېږي او څه پر زمکه واقع کېږي، دا ټول د یوې دقیقې او منظمې منصوبې له مخې تر سره کېږي، دلته هر حرکت هدفمن دئ، دلته هر څه سم پیدا شوي او په سم لور خوځي، نه څه خوشې او عبث پیدا شوی او نه په خپل سر او بې مقصده لګیا دئ.

إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ كَانَ مِيقَٰتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَٰبًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾

١٧- بې شکه چې د پرېکړې ورځ ټاکلې یوه نېټه ده. ١٨- هغه ورځ، چې پو به شي شپېلۍ کې، نو راځئ به ډلې ډلې. ١٩- او آسمان به پرانیستی شي، نو شي به دروازې. ٢٠- او روان به کړی شي غرونه، نو شي به سرابونه.

۱۷- نو په دې حقیقت کې شك مه کوه چې (یوم الفصل)، ستاسو د شو او بدو په اړه د قضاوت ورځ، د صالح او طالح تر منځ د تفکیك او توپیر ورځ به راځي، میقات ئې ثابت دئ او نېټه ئې نه بدلېدونکې، حتماً او په ټاکلي وخت به راځي، ټول کائنات د دې خبرې په حقانیت شهادت ورکوي، د عالم په طول او سور کې هري خوا ته موجود دقیق نظم او هدفمني د دې ورځې د حتمي راتلو تقاضی کوي.

مګر نه ګورئ چې الله تعالی مړه زمکه په یوه باران سره راژوندۍ کړي، همداسې به تا هم د ګور له خاورو ژوندی راباسي، آیا هغه ذات چې انسان ئې په لومړي سر کې هم له خاورو راپیدا کړ او بیا ئې د ده نطفه هم تل له خاورو جوړه کړه، په دې قادر نه ګڼې چې بیا به ئې له خاورو راپیدا کړي؟! آیا هغه ذات چې انسان ئې د یوې دقیقې منصوبې له مخې، جوړه جوړه پیدا کړ چې د نسل بقاء ئې تضمین کړي، له دې عاجز ګڼې چې بیا دې راژوندی کړي؟!!

په آخرت نه ایمان په دې معنی دئ چې دا خور وور او ستر عالم نه د کوم څرګند او واضح هدف لپاره پیدا شوی او نه روښانه او واضحه پایله لري، خوشی او د هیڅ لپاره پیدا شوی، نه ئې د پیدایښت لپاره کومه دقیقه منصوبه وه او نه کوم هدف او مقصد په پام کې!! دا غلط تصور او خطأ انګېرنه داسې ده چې د عالم هیڅ څه ئې نه تأییدوي، د عالم له هر څه او د یوه عقلمن او باشعور انسان له انتباه سره تصادم کوي، مګر تاسو ونه لیدل چې قرآن په دغې مبارکې سورې کې د زمکې او آسمان څومره شیان زموږ مخې ته کښېښودل او د هر یوه د پیدایښت مقصد او هدف او د دوی تر منځ ژور یووالی او تنسیق ئې موږ ته بیان کړ؟! آیا د انسان عقل دا منلی شي چې د عالم هر څه دې هدفمن وګوري خو خپل پیدایښت دې عبث او خوشی وګڼي؟! داسې چې شه او بد ئې برابر او هر کار ئې عادي او طبیعي وګڼل شي، که آسمان، زمکه، لمر، ورېځې، بادونه، باران، دانه، نبات او ونه د خپل فطرت د تقاضی او غوښتنو خلاف کوم کار وکړي او د خپلو دندو په تر سره کولو کې پاته راشي، کوم خطرناك حالت به رامنځته شي؟ څنګه ومنو چې انسان په دې عالم کې یوه استثناء ده، کوڵی شي د خپل فطرت خلاف عمل وکړي او له هغه مسیر یوې خوا بلې خوا ته منحرف شي پرته له دې چې د خپلې غلطۍ له بدو پایلو سره مخامخ شي؟!!

۱۸- په هغه ورځ به په شپېلۍ کې له پو کېدو سره سم، ټول له قبرونو راپورته کېږئ او فوځ فوځ به د الله حضور ته وړاندې کېږئ. په شپېلۍ کې پو کېدل داسې وګڼئ لکه په یوې ستړي نظامي اډې کې چې د ترم (سورنی او ناقور) له غږ سره سم، ټول فوځیان له کاغوشونو او خیمو راوځي او په منډه منډه د تعلیم میدان ته ځان رسوي او یا ئې داسې

وګڼئ لکه چې په آسمان کې د تالندي غږ اورو، له غږ سره سم خپلې سيمې ته د ورېځو راتګ ګورو، د باران ورېدل پيل شي، له دې باران سره متصل د زمکې تر قشر لاندې د نباتاتو زړې وخوځېږي، وده وکړي او سر له زمکې راوباسي، تاسو به هم د قيامت په ورځ په شپېلۍ کې د پو کېدو سره سم راژوندي کېږئ، له خپلو قبرونو به راپورته کېږئ او د خپل رب په لور به ډلې ډلې درومئ. دا ډلې ډلې به د خلکو د باورونو او عملونو له مخې جوړې شوې وي، هره ډله به له خپل خپل لارښود او مشر سره يوځای محشر ته ځي او د الله په وړاندې به ودرېږي.

١٩- ٢٠: دا مضبوط او محکم آسمان چې نن ستاسو د ډاډمن کور لپاره د يوه محفوظ چت حيثيت لري، د قيامت په ورځ به چاودونه په کې راپيدا شي، سوری سوری به شي، په هري ګوښې کې به ئې پرانيستې دروازې جوړې شي، د يوې داسې زړې خونې پرېوتې او سوري شوي چت ته به ورته شي چې د خونې منځ ته د هيڅ شي د راپرېوتو او توئېدو مخنيوی نه شي کولی.

که څه هم ځيني محترم مفسرين په آسمان کې دا د دروازو پرانيسته د قيامت د دوهمې مرحلې پېښه ګڼي، خو وروستی آيت په ډېر صراحت سره دا ښيي چې دا د قيامت د لومړۍ مرحلې يوه پېښه ده، دا ځکه چې د انسانانو بعثت او بيا ژوندون په هغې مرحلې کې تر سره کېږي چې لومړۍ مرحله تېره شوې، مخکينی نظام له منځه تللی او نوې زمکه او نوی آسمان پيدا شوی وي، هغه وخت به زمکه د يوه خور او اوار ميدان په څېر وي، نه به لوړي ژوري وي او نه به ئې په آسمان کې چاودونه، په ١٩ او ٢٠ آيت کې چې کومو پېښو ته اشاره شوې، د غرونو خوځېدل او د آسمان چاودېدل په لومړۍ مرحلې کې او د انسانانو تر بيا پيدايښت مخکې رامنځته کېږي، انسان د قيامت په دوهمې مرحلې کې راژوندی کېږي، خو دا مجدد بعثت په دې دليل تر دغو دوو پېښو وروسته ذکر شوی چې د دې سورې د بحث اصلي موضوع همدا ده او مطلب په دې شکل بيان شوی: د وروستۍ پرېکړې ورځ به راځي، په شپېلۍ کې په يوه پو کېدو سره به تاسو ټول له خپلو قبرونو راپورته کېږئ او ډلې ډلې به د الله حضور ته درومئ، دا سفر به هغه وخت پيل شي چې آسمان درې درې شي، غرونه له خپل خپل ځای وخوځېږي او سراب ترشا پرېږدي، دغه دنګ دنګ غرونه چې نن ستاسو د زمکې مېخونه دي، داسې به ټوټه ټوټه او ذره ذره شي لکه دوړه په شګلن ميدان کې، لکه پاشل شوې وړې او لکه سراب چې له لرې اوبه برېښي خو چې خوا ته ئې ورشې هيڅ نه وي، هغه زمکه چې دا ستر ستر غرونه پرې پراته وو، په داسې اوار ميدان به بدله شي چې سرابونه به په کې ترسترګو کېږي.

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابًا ﴿٢٢﴾ لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَىْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ كِتَٰبًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا۟ فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾

٢١- بې شکه چې دوزخ دئ کمین ځی. ٢٢- سرکښانو ته ټمځی. ٢٣- په هغه کې درنګ کوونکي اوږدې اوږدې پېړۍ. ٢٤- نه به په کې وڅکي څه سوړوالی، نه څه څښاك. ٢٥- مګر ګرمي او تودې اوبه او نو. ٢٦- برابره وړ سزا. ٢٧- دوی وو چې ئې هیله نه کوله د حساب. ٢٨- اودروغ به ئې ګڼلو آیتونه زمونږ په دروغو. ٢٩- او هر څه مو ګڼلي په لیکلو. ٣٠- نو وڅکئ چې درزیات به نه کړو مګر بل عذاب.

٢١- ٢٦: جهنم هغه کمینځی دئ چې ځانګړتیاوي ئې دا دي:

- **یاغیان او باغیان، د خپل طغیان له پایلو بې خبره سرکښان، په ټوله بې باکۍ سره د هغه په لور درومي، نه پوهېږي چې څو ګامه مخکې دوزخ ورته کمین کې او د دوی لپاره منتظر.**
- **د سرکښانو لپاره وړ او مناسب ځای.**
- **دا د څو ورځو لنډمهاله ټمځی نه دئ، په پېړیو پېړیو به هلته پاته وي، دا اوږده موده د هغه وخت په اندازه ده چې که دوی ته په دنیا کې مهلت ورکړی شوی وی نو له خپلې سرکښۍ به ئې لاس نه وو اخیستی، دوی مصمم وو تل او تر هغه چې کولی شي بغاوت او سرکښي وکړي، نو ځکه به اوس د تل لپاره دلته پراته وي.**
- **هغه چې په دنیا کې ئې د الله تعالی د بې شمېرو نعمتونو په وړاندې ناشکري وکړه، د پاك او حلال رزق په ځای ئې ناپاك او حرام رزق غوره کړ، د دې په ځای چې د نعمتونو وفرت او د دوی سوکالي په دوی کې د شکر او امتنان احساس راولاړ کړي، برعکس په دوی کې ئې د بغاوت او طغیان شوق راولاړ کړ، همدا نعمتونه ئې د ظلم، کبر، لویي او بغاوت په لار کې وکارول، نو خود به نن، چې د عادلانه پرېکړې ورځ ده، د دوی ټمځی دائمي دوزخ وي، له دې نعمتونو محروم، نه به یوه شېبه د دوزخ له سرو لمبو کوم سوړ ځای ته د تلو موقع ورکول کېږي او نه به له جوشو اوبو او د خپلو زخمونو له نو پرته بل خوراك او څښاك تر لاسه کړی شي، همدا د دوی د کړنو مناسبه سزا، حسابي او دقیقه، نه کمه او نه زیاته.**

۲۷-۲۸: د دوزخ د مستحقینو دوه عمده خصوصیات وو:

- نه یوازې دا چې په الهي محاسبې او د عملونو په مکافات او مجازات ئې باور نه وو، بلکې دا عدم باور ئې له دې راولاړ شوی وو چې الهي محاسبې ته ئې کومه طمع نه درلوده، عملونه ئې دومره قبیح او شنیع وو چې هیڅ عادلانه محاسبې ته ئې طمع نه شوی کولی، هغه څوك به څنګه د یوې عادلانه محاکمې نتائجو ته څه طمع ولري چې په جرم او جنایت کې ترستوني غرق وي، د دوی عملونه داسې وو چې له دوی ئې د الهي عادلانه محاکمې نېکو نتائجو ته د هیلې درلودو امکان سلب کړی وو.
- دوی الهي آیتونه تکذیب کړل، عمداً او په داسې حال کې چې حقیقت ئې ورته ښه څرګند شوی وو، داسې نه وو چې نه پرې پوهېدل او عقل ئې نه ورسېدو او له درك ئې عاجز وو، قصداً ئې ترې انکار وکړ، دا ځکه چې له الهي محاسبې ئې څه طمع نه وه، دغې ناهیلۍ دوی د قیامت تکذیب او د محاسبې انکار ته هڅول.

۲۹- حسیب خدای د دوی د عملونو دقیقه احصائیه اخیستې او د دوی د عملونو په کتاب او دوسیې کې ئې لیکلې، د دوی پایله به د دغې دقیقې احصائیې له مخې ټاکل کېږي.

۳۰- دا له آخرت او الهي محاسبې ناهیلي کسان باید نن الهي عذاب وڅکي او د عذاب له مزید زیاتېدو پرته بل څه ته سترګې په لار نه وي.

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾

۳۱- بې شکه متقیانو ته ښه ځای دئ د بریا. ۳۲- باغونه او انګور. ۳۳- او همزولې پېغلې حوري. ۳٤- او جامونه ډك تر ژۍ. ۳۵- نه به هلته بېهوده خبرې اوري نه درواغ. ۳٦- بدله ده ستا د رب، پېرزوینه په حساب.

۳۱-۳٦: (متقیان) به د سترې بریا شاهد وي، دا نېټه د متقیانو د بریا نېټه ده او دا مکان؛ وروستي بري ته د دوی د رسېدو مکان دئ، دوی ځان وساتو، خپل نفس او هوی او هوس ئې مهار کړ، د نفس او هوس له بندګۍ، د شیطان له متابعت، د بل په حق له تېرې او حرام ته له لاس اوږدولو ئې (ځان ساتنه) وکړه، نو خود به نن هغه ځای ته درومي چې ورسره ښایي او د الهي عدالت له مخې ئې مستحق دي، هغه جنت ته به درومي چې مشخصات ئې دا دي:

الف: د ډول ډول مېوو باغونه، د انګورو له تاکونو او څېلو سره.

ب: ځواني، همزولې او ځوانۍ ته نوې رسېدلې جوړې.
ج: تر ژې ډك جامونه.
د: نه به هلته بېهوده خبرې اورې او نه درواغ.

دا ټول ستا د رب پېرزوينه او عطاء ده، خو حسابې او د متقيانو له کړنو سره وړ او متناسبه. دوی په حلال رزق اکتفاء وکړه او له حرام ځې ځان وساتو، نو ځکه نن د غوره رزق او رنګ رنګ مېوو مستحق ګڼل شوي، دوی له حرام څښاك ډډه وکړه، نن به ځې بدله دا وي چې د جنت په شرابو تر ژې ډك جامونه ځې مخې ته اېښودل کېږي، دوی په خپلو جنسي روابطو کې له طبيعي او جائز حد تېرې ونه کړ او خپله ملن ځې په ګناهونو او ناروا جنسي تعلقاتو ونه لړله، خپل مهار ځې له لاسه ورنه کړ او شيطان او خپل هوس ته ځې ونه سپارو، نه ځې د شيطان په تحريك او نه ځې د خپل هوس په غوښتنه پردې انسان ته خپله هغه غېږ پرانيسته چې په اصل کې د ده د جوړې حق وه، نو ځکه به ځې نن ځواني او همزولې جوړې په برخه وي.

دلته (فيها) يا جنت ته راجع ده او مراد ځې دا چې په جنت کې به نه بېهوده خبرې اورې او نه درواغ او يا (کأساً دهاقاً) ته او مطلب ځې دا چې دا به د دنيا د شرابو په څېر نه وي چې انسان بې خوده کړي، عبث او بېهوده خبرو او دروغو ته ځې اړ کړي، د ناآرامو اعصابو لپاره کاذب او دروغجن تسکين، په هر محفل کې چې څښل شوي يوه له بله له بېهوده وينا او دروغو پرته بل څه نه دي اورېدلې.

دا متقيان به په داسې جنت کې اوسېږي چې هلته به ځې نه کله بېهوده خبره ترغوږ کېږي او نه به ځې کوم دروغجن د درواغو ويلو په حالت کې ترسترګو کېږي، دا ځکه چې دوی په دنيا کې له عبث مشغولتيا او بېهوده خبرو او کارونو ځان ساتلی وو، نه ځې په خپله دروغ ويل او نه ځې له دروغجنو سره ناسته پاسته او ملګرتيا وه، له دوی ځې کرکه وه او خپلې اړيکې ځې ورسره شلولې وې، نو خود به د داسې مقام او مکان مستحق شمېرل کېږي چې له دروغو، دروغجنو او له عبث او بېهوده ويناوو فارغ وي او همدا ستا د رب له لوري د دوی بدله ده، هم د عطاء او پېرزويني په څېر او هم حسابې.

رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلرَّحۡمَٰنِۖ لَا يَمۡلِكُونَ مِنۡهُ خِطَابٗا ﴿٣٧﴾ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ صَفّٗاۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَقَالَ صَوَابٗا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ إِنَّآ أَنذَرۡنَٰكُمۡ

عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴿٤٠﴾

٣٧- رب د آسمانونو او د زمکې او په دوی کې د هر څه، همغه رحمن ذات چې نه شي توانېدی د ده (له وېرې) په وینا. ٣٨- هغه ورځ چې جبرئیل او فرشتې به وي ولاړې ټول په لیکه، تکلم به نه شي کړلی مگر هغه چې رخصت ورکړي رحمن رب او کوي سمه وینا. ٣٩- دا ریښتینې ورځ ده، نو څوك چې غواړي، غوره دي کړي لاره د ورتگ، په لوري د خپل رب. ٤٠- بې شکه چې انذار مو کړئ له یوه نژدې عذابه، له هغسي یوې ورځې چې هر کس به د خپل لاس لېږلي ګوري او وایي به کافر: ای کاش که زه وی خاوري!

٣٧-٣٨: ستا رب، د آسمانونو او زمکې او د هر هغه څه رب دئ چې په دې دواړو کې دي، د ده عظمت او هیبت هومره دئ چې هیڅوك ئې په وړاندي د څه ویلو لپاره خوله نه شي پرانیستی، مگر دا چې دی ورته اجازه ورکړي او دا په داسي حال کې چې دی ډېر زیات مهربان دئ، په دې ورځ به جبرئیل، د ا د ټولو ملائکو سرور او سالار او ټولې فرشتې صف ترلې ولاړي وي، د دوی له منځه به هم هیڅوك د څه ویلو جرأت نه شي کولی، مگر دا چې اولاً له الله تعالی اجازه تر لاسه کړي او ثانیاً سمه او د صواب وینا کوي، هلته به نه د ناصوابه او ناسمي خبرې کولو مجال وي، نه د بې ځایه سپارښتنې او نه د نامناسب شفاعت.

٣٩: دا ورځ، له دغو ځانګړتیاوو سره حق ده، حتماً به تحقق مومي، نو د چا چې خوښه وي، د خپل رب لوري ته د ورګرځېدو سمه لار دي غوره کړي، هغه لار چې د الله خوا ته د غوره او ښایسته مقام په لاسته راوړو منتهي کېږي.

٤٠- تاسو الهي عذاب لرې ګڼئ، حال دا چې ډېر نژدې دئ، له دې نژدې عذاب خبرداری درکوو، دا د هغې ورځې عذاب دئ چې هر څوك به خپلې لاسته راوړنې ګوري او کافر به وایي: کاش خاوري وی، کاش ښېرته نه وی راژوندی شوی او داسي ورځ مي په خپلو سترګو نه وی لیدلې!! دا به همغه کس وي چې ګمان ئې کاوو له مرګ وروسته او پس له هغه چې خاوري شوو، هیڅکله به بیا راژوندي نه شو، دغې غلطي انګېرنې او ناسم تصور له داسي پایلې سره مخامخ کړ چې اوس د دې تمنی کوي چې کاش خاوري وی او ښېرته نه وی راژوندی شوی.

النازعات

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم (النازعات) دئ چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ٤٦ آیتونه لري، له مکي سورتونو دئ، د سورې له متنه په ډا ګه معلومېږي چې دا سوره د مکي دور په هغه پړاو کې نازله شوې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم، په ډېره نرمه لهجه قریش دې ته راوبلل چې له الله تعالی ووېرېږي، له ګنده کارونو او له حرامو ډډه وکړي، له شرک لاس واخلي، خو د قریشو فراعنه وو نه یوازې د ده دعوت ونه مانو بلکې خپل زور او ځواک ئې راغوند او د مقابلې لپاره ئې ملا وتړله، چې پر مکې او د مکې پر خلکو باندې خپله سلطه او واکمني ټینګه وساتي او پرې نږدې چې له دوی پرته د بل چا واکمني ته غاړه کېږدي، په دې مبارکې سورې کې د فرعون قصه او د موسی علیه السلام په خلاف د لښکرو راغوندولو نندارہ ئې د همدې مطلب لپاره راغلې.

د سورې آیتونه لنډ لنډ، وزن ئې سره ورته او ډېر خوندور، آیتونه ئې ورو ورو اوږده شوي، د پای د آیتونو اوږدوالی ئې د لومړیو آیتونو نږدې درې برابره شوی، له لومړي آیت تر پنځم پورې د آیتونو فواصل د غرقاً، نشطاً، سبحاً، سبقاً او امراً هموزنه صیغې دي، له شپږمه تر څوارلسمه پورې راجفة او رادفة ته ورته هموزنه صیغې دي، له پنځلسم تر شپږویشتم پورې او له څلور دېرشم تر یو څلوېښتم پورې موسی او طوی ته ورته هموزنه صیغې؛ او نور ئې بناها او سواها ته ورته صیغې دي، یوازې د درې دېرشم آیت وزن داسي دئ چې د مخکینیو او وروستنیو اوزانو لپاره یو خوندور توقف دئ(متاعا لکم و لانعامکم).

د دې سورې د بحث اصلي موضوع هم د آخرت او بیا ژوندون اثبات او د دې لپاره قوي او مضبوط دلائل وړاندې کول دي. دا دلائل په دریو برخو کې تنظیم شوي:

- د پیدایښت او خلقت هغه طبیعي مظاهر چې هره شېبه ئې په خپلو سترګو ګورو، هره شېبه له مړې خاورې د یوه ژوندي موجود د پیدا کېدو شاهد یو، تل مو هغه وېرېځي تر سترګو کېږي چې له زمکې او سیندونو راپورته شي، یوې او بلې خوا ته وخوځېږي، بارانونه تړې راوورېږي، مړه زمکه په خوځېدو راشي، د ژوند زړې د مړو خاورو په تل کې حرکت وکړي، وده وکړي او سمسوره بوټي راوټوکوي، مګر دا مظاهر کافي نه دي چې د بیا

ژوندون په اړه شك ونه کړئ او په دې باور ولرئ چې تاسو به هم دې ته ورته بیا راژوندي کېږئ؟!

- تاریخي حوادث او پېښې ښیي چې دلته له هر چا سره محاسبه کېږي او پر عملونو مکافات او مجازات مرتب کېږي، آیا د موسی علیه السلام له عبرتونو ډکه قصه درته کافي نه ده؛ نه ګورئ چې هغه یو تنکی زلمی دئ، تېښتي ته اړ شوی، فراري، وېرې اخیستی، د فرعون تر تعقیب لاندي، د اعدام پربکړه ئې صادره شوې، کلونه کلونه ئې په شپنې کې تېر کړي، له ۸- ۱۰ کلونو وروسته خپل هېواد ته راستنېږي، د لاري په نیمایي کې، په یوې تنګي او کرښچني درې کې په پیغمبرۍ مبعوث کېږي او د فرعون مقابلې ته لېږل کېږي، له غلامۍ د بني اسرائیلو د ژغورنې لپاره، د ضعف او ناتوانۍ احساس کوي، دا دروند مأموریت تر خپل وس اوچت ګڼي، د هېواد شرائط او د ولس وضع د ځان او د دې کار تر سره کېدو لپاره چمتو نه ګڼي او وایي: له یوې خوا د دښمن له لوري په قتل متهم یم او له بلې خوا زما مخاطبین بني اسرائیل به دا ګمان وکړي چې زه مشرۍ ته د رسېدو تلوسه لرم او دا شوق له هغه وخته زما په زړه کې راولاړ شوی چې زه د فرعون په کور کې وم او د هغه د کورنۍ غړی ګڼل کېدم، داسي یو شخصیت له دغو ځانګړتیاوو سره د هغه چا مقابلې ته درومي چې خلکو ته وایي: زه ستاسو اعلی او تر ټولو اوچت رب یم، باید ټول یوازي زما اطاعت وکړي، ټول به ده ته سرټیټوي، د ده ستاینه او لمانځنه به کوي، پر خپلې واکمنۍ مغرور او پر خپلو لښکرو دوکه شوی، راشئ وګورئ چې د دې دواړو طرفونو تر منځ د تصادم نتیجه څه وه؟! تاریخ موږ ته څه وایي؟ یو ډېر ځواکمن او په خپل قدرت مغرور خو د باطل مدافع، بل ئې ډېر ضعیف او ناتوان، خو د حق حامي، یو ئې ظالم او مستبد او د ظلم او استبداد حامي او بل ئې کمزوری خو د مظلوم او بې وزلو مدافع، مګر نه ګورئ چې دا مغرور ظالم مؤاخذه شو، د عذاب متروکه ئې پر سر راپرېوته، له خپلو لښکرو سره یو ځای غرق شو، مګر ومو نه لیدل چې مظلوم او بې وزلی وژغورل شو او د ظالم د شتمنیو او خزانو وارث شو!! که په دنیا کې د مکافات او مجازات سلسله او د عملونو د بدلې سنت نه وی نو باید ځواکمن او زورور تل پر اوضاع مسلط او د هر څه واکمن پاته کېدی او هیڅکله به ئې د ظلم له کبله د اقتدار کرسۍ نه ړنګېده او تخت او تاج به ئې نه نسکورېدو او کمزوری به د تل لپاره بې وسه، ناتوانه او تر محکومیت او اسارت لاندي پاته کېدو او هیڅکله به ئې د ځواکمن ظالم په مقابلې کې بریا نه په برخه کېده او د هغه د تخت او تاج او شتمنیو وراثت به ئې نه تر لاسه کاوو.
- آیا هغه ذات چې دا دومره ستر، خور او پراخ آسمان ئې پیدا کړی، مضبوط ئې ساتي،

دقيق نظم ئې ورکړی، شپه او ورځ راولي، زمکه ئې له دغو ځانګړتياوو سره پيدا کړې؛ اوبه ئې ترې راايستلې، وني او بوټي راشنه کوي، غرونه ئې د زمکې لپاره لنګر ګرځولي، په همدغو غرونو کې ستاسو او ستاسو د څارويو د ژوند ضروري توکي راپيدا کوي، آيا هغه ذات چې دا ټول کارونه د ده په اراده تر سره کېږي، له دې عاجز ګڼئ چې تاسو بيا راژوندي کړي؟! ووايئ: د دې ستر او بې انتهاء عالم خلقت ګران کار دئ که ستاسو بيا پيدايښت؟!

له دغو قوي دلائلو وروسته فرمايي چې د قيامت لويه پېښه به حتماً راځي، په هغه ورځ به انسان ته هم خپل ټول کړه وړه ور په ياد شي او هم به په دې پوه شي چې د قيامت دا ورځ هومره هم لري نه وه چې ده په دنيا کې انګېرله، په دې ورځ به ځيني جحيم ته دروميِ او ځيني جنت ته.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرۡقٗا ١ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشۡطٗا ٢ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبۡحٗا ٣ فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبۡقٗا ٤ فَٱلۡمُدَبِّرَٰتِ أَمۡرٗا ٥

۱- قسم دئ په ډوب شوو راشکېدونکو. ۲- قسم په خوشي شوو خوځېدونکو. ۳- قسم دئ په لامبو لامبو وهونکو. ٤- بيا قسم دئ په عجيبه مخکې تلو مخکې کېدونکو. ۵- بيا په هغه د ستر کار تدبيرووونکو.

۱-۵: په دې مبارکو آيتونو کې په پنځو شيانو لوړه شوې، په ډوب شوو راشکېدونکو، په خوشي شوو خوځېدونکو، په لامبو لامبو وهونکو، په عجيبه مخکې تلو مخکې کېدونکو او د يوه ستر کار په تدبيرووونکو.

د دغو قسمونو ځواب او هغه مدعی چې په دې قسمونو سره ئې ثابتول غواړي، په ۱۳ او ١٤ آيت کې داسې راغلی:

فَإِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٞ وَٰحِدَةٞ ١٣

نو دا به له يوې توندي چيغي پرته بل څه نه وي!

فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ١٤

ناڅاپه به بيا دوی وي په همغه خور ميدان کې.

د دغو قسمونو او له ځواب سره ئې د تړاو په اړه لاندي مطالبو ته توجه ولرئ:

- (النازعات) د نازعة جمع ده چې که رښه ئې (نزع) ونیسو نو معنی ئې ایستونکی ده او که (نزوع) ئې ریشه وګڼو نو معنی ئې وتونکی کېږي. دلته ئې دوهمه معنی اخیستل له دې کبله غوره ده چې په دې سره دا قسم له نورو سره ورته کېږي.
- د بیان له وضعي معلومېږي چې دلته د یوه خاص شي په مختلفو حالتونو لوړه شوې، د (فاء) په توري سره د ټولو آیتونو ربط او په پای کې دا خبره چې (ټول یو کار تر سره کوي) همدا مطلب افاده کوي. یعني دا شی لومړی (نازع)، بیا (ناشط) وروسته (سابح) او (سابق) او په پای کې د یوه ستر کار، (نه مختلفو کارونو) تر سره کوونکی شي. (فالمدبرات امرا) همدا مطلب په ګوته کوي.
- په دې قسمونو کې ذکر شوي شیان باید د قرآن هر مخاطب ته د فهم او درک وړ وي او د لمر، سپوږمۍ، آسمان، شپه او ورځ او دې ته ورته نورو هغو شیانو په څېر وي چې د قرآن په نورو آیتونو کې وربانديي لوړه شوې او قرآن د خپلې ادعاء د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندي کړي.
- باید هر مخاطب په دې قانع کړی شي چې له مرګ وروسته ژوندون حق دئ.
- دا باید داسي شی وي چې له اوبو د یوه غریق د راوتو په څېر راوځي. (النَّزِعَتِ غَرْقاً) همدا مطلب افاده کوي.
- باید په لومړي سر کې د یوه راوتونکي غریق په څېر وي، بیا په نشاط سره پورته تلونکی، بیا د لامبو وهونکي په څېر خوځېدونکی، بیا یو له بل مخکې کېدونکی او په پای کې د یوه ستر کار تر سره کوونکی.
- که قرآن ته رجوع وکړو او وګورو چې آیا قرآن په دغو صفاتو کوم څه معرفي کړي که نه؛ نو ګڼ شمېر آیتونه به مخي ته راشي چې په هغوی کې وربېځي په همدې صفاتو یادي شوې. په کار خو دا ده چې خپله د قرآن تفسیر کافي وګڼو او له دې ډډه وکړو چې د خپلې خوښي او رأیي مطابق ئې تفسیر کړو.
- همدا راز که خپلې شا او خوا ته پام وکړو او وګورو چې آیا زمونږ ماحول کې داسي څه شته چې دغه صفات ولري او هر څوك ئې په همدې صفاتو وپېژني؟ نو وربېځي په نظر راځي چې له اوبو د بخاراتو په څېر راووځي، آسمان ته پورته شي، له یوې سیمي بلې ته وخوځېږي، سرعت ئې زیات شي، یو له بله سبقت کوي، په پای کې باران ووروي او په دې سره په طبیعت کې تر ټولو د ستر کار، د مړې زمکې د راژوندۍ کېدو، باعث شي. او قرآن په مکرره توګه او په ګڼ شمېر آیتونو کې په باران سره د مړې زمکې او د نباتاتو په راژوندي کېدو استناد کوي او فرمایي چې تاسو به هم د قیامت په ورځ همداسي بیا راژوندي

کېږئ.

دا رأيه ضعيفه او کمزورې ده چې څوك له دې د فرشتو ېېل ېېل اصناف مراد کړي، په څو دلائلو:

۱- د داسې تعبير لپاره کوم قرآني دليل نه شي په ګوته کېدی، د قرآن په هيڅ آيت کې فرشتې په دغو صفاتو نه دي يادي شوې.

۲- دا تعبير د قسمونو په اړه د قرآن له عمومي قاعدي سره اړخ نه لګوي، نور قسمونه په څرګندو شيانو شوي.

۳- په فرشتو باندې استناد سره به هغه څوك څنګه قانع کړی شو چې نه بيا ژوندون مني او نه فرشتې؟!

د نازعات د سورې قسمونه او دې ته ورته قسمونه له دې کبله په ملائکو نه شو حمل کولی چې په عربي کې په (الف) او (تاء) سره يا حقيقي مؤنث جمع کېږي او يا د غير ذوی العقول صفت، قرآن په دې صراحت کوي چې ملائکې مؤنث نه دي او د جمع لپاره ئې په قرآن کې اکثراً د جمع مذکر صيغه کارول شوې، لکه په دې آيت کې:

وَتَرَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنْ حَوْلِ ٱلْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّۚ وَقِيلَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾ الزمر

او فرشتې به ګورې چې د عرش چاپېر راڅرخي په داسې حال کې چې د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايي؛ او د دوی تر منځ به په حق سره پرېکړه وشي او وبه ويل شي: ستاينې د عالمونو رب الله ته دي.

لکه چې ګورئ په دې آيت کې د ملائکو لپاره د حافات په ځای د حافين صيغه راغلې چې د جمع مذکر صيغه ده. همدا راز يسبحون هم د جمع مذکر صيغه ده او د ملائکو لپاره کارول شوې.

د دغو قسمونو په اړه د مفسرينو تر منځ ډېر اختلافات شته، ځينې ئې هغه فرشتې ګڼي چې د ارواح د نزع او قبضولو دنده ئې په غاړه ده، د کافر روح په سختۍ راباسي او د مؤمن سوکه او په آسانۍ سره، بيا په آسمان کې د لامبو وهونکو په څېر درومي، يوه له بلې د مخکې کېدو هڅه کوي او د چارو د تدبير دنده ورپه غاړه شوې. ځينې نور دا د انسان نفس او روح ګڼي چې د کافرانو په سختۍ وځي او د مؤمنانو په ملايمت او نرمۍ. ځينې نور ئې ستوري ګڼي او وايي چې ستوري په سختۍ طلوع او په آسانۍ غروب کوي. متعدد نور نظريات هم شته. خو په ډېر لږ دقت سره معلومېږي چې نه خو د دې اطلاق په ملائکو صحيح دئ او نه په روح او نه هم په ستورو، هغه مخاطب چې له بعثت او له

مرګ وروسته ژوندون منکر وي هغه په فرشتو او روح باندې په استناد سره نه شي قانع کېدی، ځکه هغه نه ملائکي مني او نه په روح باور لري، قرآن به څنګه په هغه څه استناد کوي چې د ده مخاطب ئې اصلاً نه مني؟! او څنګه به له دې لارې په هغې خبرې د ده د قانع کولو هڅه کوي چې منل ئې ورته ګران برېښي؟! همدا راز په دې قسمونو کې ذکر شوي صفات په ستورو نه شي تطبیقېدی، د ستورو طلوع او غروب یو شان وي، یو له بل سبقت هم نه کوي، هغوی ته (مدبرات امور) هم نه شو ویلی او په دوی باندې د استشهاد له لارې بیا ژوندون نه شي ثابتېدی او دا چې د دغوکمزورو او ضعیفو توجیهاتو لپاره په ټول قرآن کې هیڅ دلیل نه شو ښودلی.

دا خبره هم د یادولو ده چې ځینو درنو مفسرینو د دې قسمونو ځواب محذوف ګڼلی چې دا رأیه په دوه دلیله کمزورې او ضعیفه ده:

- دا تعبیر د قرآن له ډېر اوچت بلاغت سره اړخ نه لګوي، دا سمه نه ده چې څوک لوړه وکړي خو ورپسې ونه وایي چې د قسم موخه ئې څه وه او په کوم مطلب باندې د تأکید لپاره ئې لوړه کړې!! آیا دا سمه ده چې ووایو: والله، بالله، بیا ساکت پاته شوو، هیڅ ونه وایو او زمونږ قسمونه هیڅ ځواب ونلري؟!
- د همدې سورې ۱۳ او ١٤آیتونه په ډېر صراحت سره ښیي چې د پورتنیو قسمونو ځواب په کې پروت دئ.

د دې قسمونو ځواب دا دئ: فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ * فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ * نو دابه له یوې توندې چیغې پرته بل څه نه وي. ناڅاپه به بیا دوی په همغه خور میدان کې وي.

یعني پورتني قسمونه دا خبره ثابتوي چې له مرګ وروسته ژوندون نه یوازې مستحیل نه دئ بلکې فقط په یوې توندې چیغې سره به تاسو ټول له قبرونو نه راپورته شئ او په ستر آوار ډاګ کې به د حسیب خدای په وړاندې ودرېږئ. که قرآن ته رجوع وکړو نو په متعددو آیتونو کې به وګورو چې د بیا ژوندون د اثبات لپاره په ورېځو، باران او د بوټو په بیا راژوندي کېدو استناد شوی، په کار ده چې د نومورو قسمونو تفسیر د دغو آیتونو په رڼا کې ولټوو. دې لطیف ټکي ته مو هم باید پام وي چې اکثراً بارانونه د تالندي له توندي چیغې وروسته پیل کېږي!! او قرآن وایي چې د قیامت په ورځ به ستاسو بیا ژوندي کېدل یوازې په یوې توندې چیغې سره تر سره شي. له دغو ټولو دلائلو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې له النازعات، الناشطات، السابحات، السابقات او المدبرات یوازې ورېځې مراد دي نه بل څه. څوک چې په بیا ژوندي کېدو باور نه لري او هغه مستحیل ګڼي!! مګر هره ورځ د مړو د بیا راژوندي کېدو صحنې نه ګوري؟ آیا په یوه باران سره د زمکې ژوندي

کېدل ئې نه قانع کوي؟ مګر نه ګورئ چې ناڅاپي په آسمان کې د تالندي غږ اوچت شي، ورپسې له ورېځو د باران ورېدل پیل شي او په دې باران سره د زمکې په زړه کې د ژوندو توکو زړي وخوځېږي، وده وکړي او د زمکې له سخت قشر سر رااوچت کړي!! د قیامت په ورځ به هم ټول په یوې چیغې سره له قبرونو رااوچت شي او هر کس به د خپل رب په لوري روان شي.

باید وګورو چې آیا د النازعات د قسمونو په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم کوم حدیث شته؟ آیا له صحابه وو واحد او مؤثق روایت لرو؟ که داسې حدیث او روایت نه وي آیا مسلمانان د دې حق لري چې د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې په دې اړه کومه رأیه ورکړي؟ په دې اړه لاندې عرائض لرو:

- د دې آیتونو په اړه عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ته دوه رأیې منسوب شوې:

۱- هغه ملائکې چې روح قبضوي. په دې رأیه کې ابن مسعود، سعید بن جبیر، مجاهد او ګڼ شمېر نور ورسره ملګري دي. په دې کې النازعات د ایستونکو په معنی راغلی.

۲- او په خپله روح، چې په دې کې هم مجاهد ورسره موافق دئ. په دې کې النازعات د وتونکو په معنی نیول شوی.

قتاده او حسن النازعات او الناشطات ستوري او عطاء او عکرمة ئې لیندۍ ګڼې او عطاء ته په منسوب شوې بلې رأیې کې د الله تعالی د لارې د مجاهدینو آسونه او په بلې کې کښتۍ ګڼل شوې. علي رضي الله عنه ته منسوب رأیه کې هغه ملائکې ګڼل شوې چې پیغمبرانو علیهم السلام ته د وحي په راوړلو کې له شیطانانو سبقت کوي.

قال ابن مسعود وابن عباس ومسروق وسعید بن جبیر وأبو صالح وأبو الضحی والسدی "والنازعات غرقا" الملائکة یعنون حین تنزع أرواح بنی آدم فمنهم من تأخذ روحه بعسر فتغرق فی نزعها ومنهم من تأخذ روحه بسهولة وکأنما حلته من نشاط وهو قوله "والناشطات نشطا" قاله ابن عباس وعن ابن عباس "والنازعات" هی أنفس الکفار تنزع ثم تنشط ثم تغرق فی النار. رواه ابن أبي حاتم وقال مجاهد "والنازعات غرقا" الموت وقال الحسن وقتادة "والنازعات غرقا والناشطات نشطا" هی النجوم وقال عطاء بن أبی رباح فی قوله تعالی والنازعات والناشطات هی القسی فی القتال. وقال عطاء هی الخیل في سبیل الله. قتادة والحسن: هي النجوم تسبح في أفلاکها، وکذا الشمس والقمر; قال الله تعالی: "کل فی فلك یسبحون". عطاء: هی السفن تسبح فی الماء. ابن عباس: السابحات أرواح المؤمنین تسبح شوقا إلی لقاء الله ورحمته حین تخرج. قال علی رضی الله عنه: هی الملائکة تسبق الشیاطین بالوحی إلی الأنبیاء علیهم السلام.

له دغو بېلابېلو آراءو څو خبرې معلومېږي:

- له رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې اړه مؤثق حديث نشته. كه داسې حديث وى نو هيڅكله به دا مختلف آراء نه وړاندې كېدل.
- كه درنو مفسرينو د علي رضي الله عنه او عبد الله بن عباس رضي الله عنه په څېر صحابه وو ته منسوب آراء مؤثق ګڼلى هيڅكله به ئې بله رأيه نه وركوله.
- يوه شخص ته په يوې موضوع كې منسوب دوه متعارض آراء روايت تر سؤال لاندې راولې.
- دا اختلاف نه يوازې له موږ غواړې چې په ټولو آراءو غور وكړو او تر ټولو مضبوطه او مستدله ئې انتخاب كړو، بلكې موږ ته حق راكوي چې د قرآن د نورو آيتونو په رڼا كې د دغو آيتونو د اصلي معنى په لټه كې شو.

د دې لپاره چې د قسمونو په اړه مطلب ښه روښانه او د هر راز شك او شبهې مجال ختم شي؛ دا غوره ګڼو په قرآن كې د قسمونو موضوع لږ په تفصيل سره وڅېړو.

قسم په قرآن كې:

د ځينو مهمو مسائلو د اثبات لپاره په قرآن كې دا اسلوب غوره شوى چې په داسې څرګندو او واضح شيانو استناد او استشهاد وشي چې مخاطب ئې د يوه حقيقت په توګه مني او دا حقيقت د قرآن همدا مدعى ثابتوي، خو دا استشهاد د لوړې او قسم په څېر او صيغه شوى، په دغو مواردو كې اكثراً په هغو شيانو لوړه شوې چې كاملاً محسوس، مشهود او څرګند دي او هر ليدونكي ته د فهم او درك وړ؛ او دا طبيعي او ضروري خبره ده چې د يوه داسې مهم او تر مناقشې لاندې مطلب د اثبات لپاره چې قرآن ئې ثابتول غواړي او د قرآن مخاطب د هغه په منلو كې ټكنى وي، ترديد لري، مجرده ادعاء نه مني او دلائلو ته منتظر وي، بايد په داسې دلائلو استشهاد وشي چې د نزاع او اختلاف وړ نه وي او مخاطب ته كاملاً واضح او قابل درك وي. د اختلافې او قابل نقاش ادعاء د ثبوت لپاره په يوه غير ملموس او غير قابل فهم شي باندې استشهاد نه شي كېدى. تاسو د قرآن د تلاوت په جريان كې حتماً دا مشاهده كوئ چې د طبيعت په ډېرو بارزو او څرګندو شيانو لكه لمر، سپوږمۍ، آسمان، ستوري، زمكه، فجر، شفق، شپه، ورځ او دې ته ورته شيانو لوړه شوې او بيا د قسمونو په پاى كې او اكثراً له هغوى سره متصل يوه ستره او ډېره مهمه ادعاء عنوان شوې او په حقانيت ئې تأكيد شوى او همدغه قسمونه ئې د شاهد او دليل په توګه وړاندې شوي. په ډېر لږ غور او دقت سره په دې مطلب پوهېدى شو چې د قسمونو او د هغوى د ځواب تر منځ ژور او دقيق ارتباط شته، داسې چې واقعاً مقسم به شيان د قسم

د ځواب او له قسم وروسته د راتلونکې ادعاء په حقانیت شهادت ورکوي. همدغه ژور ارتباط ته په پام سره مفسرین په دې عقیده دي چې د قرآن قسمونه د استشهاد لپاره دي نه د دغو شیانو په عظمت د اعتراف لپاره. خو د قرآن په څو محدودو آیتونو کې داسې قسمونه هم ګورو چې مقسم به ئې له دقت او غور وروسته او له قرائنو معلومولی شو، دلته داسې صیغې راغلې چې په ډېرو شیانو ئې اطلاق کېدې شي، په دغو ډېرو شیانو کې اصلي او مقصودي شی موندل د پوره دقت غوښتنه کوي، په سطحي نظر د هغه موندل ګران وي، دلته ده چې د مفسرینو تر منځ شدید اختلاف راولاړېږي. د ځینو دغو قسمونو په اړه خو په تفاسیرو کې په لسهاوو آراء ګورو، د مثال په توګه د فجر د سورې په درېیم آیت کې په (الشفع والوتر: جفت او طاق) لوړه شوې چې تر ۳۶ زیات تفسیرونه ئې شوي، خو دې ته مو باید پام وي چې په دې ټولو تفسیرونو او تعبیرونو کې یوازې یو ئې صحیح کېدی شي او بس، هماغه صحیح دئ چې د آیت اصلي او دقیق مراد په ګوته کړي.

که په قرآن کې له داسې مواردو سره مخامخ کېږو چې د (مقسم به) لپاره استعمال شوې صیغه په ډېرو شیانو تطبیقېدی شي لکه (النازعات)، (الناشطات)، (السابحات)، (المرسلات)، (الناشرات)، (الفارقات) او دې ته ورته، نو په هغه صورت کې باید څو اساسي او مهمي خبرې په پام کې ولرو:

- تر ټولو د مخه باید د دغو الفاظو اصلي معنی او تفسیر په قرآن کې ولټوو.
- دا شیان باید د قسمونو په اړه د قرآن د عام اسلوب په رڼا کې تفسیر کړو، لکه څنګه چې په اکثرو مواردو کې (مقسم به) څرګند او واضح شیان او د قرآن هرمخاطب ته قابل فهم دي، په دغو محدودو مواردو کې هم باید داسې شیان مراد وي چې څرګند، قابل فهم او قابل درك وي. نه به هغه له سترګو پټ او غیبي شیان ګڼو او نه داسې شیان چې د قرآن هر مخاطب ئې نه مني. د طارق په مبارکې سورې کې د دغسې مواردو په اړه مور ته ډېره غوره لارښوونه شوې، هلته په (الطارق: د شپې له خوا څرګندېدونکې او ور ټکوونکې) باندې لوړه شوې، د (الطارق) اطلاق په ډېرو شیانو کېدی شي، خو قرآن په دې پسې متصل فرمایي: آیا پوهېږې چې (الطارق) څه دئ، (الطارق) ځلانده ستوری (النجم الثاقب) دئ. که قرآن په خپله دا الطارق نه وی معرفي کړی نو معلومه نه ده چې د دې په تفسیر کې به هم د مفسرینو تر منځ څومره ژور اختلافات راولاړ شوي وو. په کار ده چې ټول دې ته ورته موارد د دغې لارښوونې مطابق تفسیر شي.
- قسمونه باید له قسم وروسته ادعاء ثابته او د قرآن هر مخاطب قانع کړی شي، هر هغه تفسیر چې د قسم او ځواب تر منځ ئې دا تړاو او رابطه په ګوته نه کړی شي، هغه

ضعیف تفسیر او کمزورې توجیه وګڼئ.

- د قرآن د الفاظو په ترجمه کې مخصوصاً هلته چې یو لفظ ډېرې معانې ولري او د ټولو له منځ د یوې غوره کول غور او دقت وغواړي باید څو ټکي مراعات کړو:

لومړی باید د هغو الفاظو په رڼا کې ئې مناسبه معنی غوره کړو چې تړې مخکې او وروسته راغلي او له هغوی سره ئې یو ځای خاص کلام جوړ کړی. د همدې خاص کلام مجموعي مطلب د هر لفظ معنی په خپله واضح کوي، که تاسو د یوه چا د وینا په اکثرو برخو پوه شئ نو د همدې په رڼا کې د ده د وینا په هغو برخو او هغو الفاظو هم پوهېدی شئ چې له دې مخکې ئې په معنی نه پوهېدئ. له یوه کلام روغه او سالمه انتباه د مبهمو الفاظو معنی واضح او مشخص کوي. بیا باید تر دې مخکې او وروسته آیتونو ته رجوع وکړو او د هغوی په رڼا کې ئې معنی معلومه کړو. که ونتوانېدو چې په مربوطه آیت او له هغه وروسته او مخکې آیتونو کې د هغه معنی پیدا کړو نو باید په ټول قرآن کې ئې لټه وکړو، قرآن ته په مراجعې سره به حتماً د هغه شرح او تفسیر بیامومو، ځکه د قرآن آیتونه یو بل تشریح کوي، مجمل آیتونه ئې په مفصلو کې تفسیر او توضیح شوي، یو مطلب په یوه ځای کې په خاصو الفاظو په مجمل ډول ذکر شوی خو په بل ځای کې همدا مطلب په نورو الفاظو سره په مشرح او مفصل ډول راغلی، قرآن د الله کتاب دئ، مکمل او له هر نقص او عیب منزه، هر څه ئې واضح او مبین، قرآن له دې عیب منزه دئ چې په هغه کې دي داسي څه ویل شوي وي چې هرمخاطب ته ئې غامض وي او په خپله ئې وروسته یا مخکې د هغه وضاحت نه وي کړی. خو که احیاناً په ټول قرآن کې د هغه د شرحي په موندلو بریالي نه شوو نو دا باید خپل عیب او نقص وګڼو او په دې باور وو چې موږ په خپله کافي او لازم غور او دقت نه دئ کړی او په دې وجه په قرآن کې د هغه د شرحي او تفصیل په موندلو نه یو بریالي شوي که نه نو په قرآن کې حتماً د دې وضاحت شوی. بیا باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کې د هغه په مطلب د پوهېدو لټه وکړو، حدیث د قرآن شرح او تفسیر دئ. له دې وروسته به دا ګورو چې آیا صحابه وو او د دوی دور ته نژدې مفسرینو په دې اړه څه ویلي که نه؛ د دوی په روایاتو او آراءو کې داسي رأیه شته چې له ثقه راویانو روایت شوې وي او په قرآن او حدیث مبتني وي؟

انسان چې کله د خپل مخاطب حالت داسي وګوري چې د ده د خبرې په منلو کې متردد دئ، نو د هغه د تشوېش رفع کولو او په خپلې خبرې د متقاعد کولو لپار ه په داسي څه قسم او لوړه کوي چې مخاطب وربانديِ باور وکړي او دا یقین ئې راشي چې اوس نو دی حتماً رښتیا وایي. د الله په نامه د لوړې او قسم معنی دا ده چې موږ الله په خپلو خبرو

شاهد نيسو او په دې سره مقابل لوري ته ډاډ ورکوو چې رښتيا وايو. په قرآن کې هم د هغو مهمو مطالبو او سترو سترو خبرو د اثبات لپاره چې د قرآن مخاطب ئې له قوي دلائلو پرته نه مني، له دغه اسلوب کار اخيستل شوی. مونږ په داسې څه لوړه کوو چې مخاطب مو باور وکړي چې د دې (مقسم به) د عظمت په خاطر حتماً رښتيا وايو. خو په قرآن کې قسم د استشهاد لپاره راځي، د (مقسم به) په عظمت د اعتراف لپاره نه بلکې د خپلې ادعاء د اثبات لپاره د شاهد او گواه په توگه وړاندې کېږي. عادتاً بايد د يوه مطلب د اثبات او د مخاطب د اقناع لپاره په داسې څه استشهاد وشي چې د مخاطب له نظره کاملاً مسلم او منل شوی حقيقت وي او هغه ئې د واضح او څرگند دليل په توگه ومني او په هغه کې هيڅ شك او ترديد ونلري، هيڅوك په يوه نامسلم او نامنل شوي دليل د يوې متنازع فيه ادعاء د اثبات هڅه نه کوي او طبعاً چې داسې هڅه نامعقوله او بې فايدې ده.

د قرآن د ځينو قسمونو په تفسير کې د مفسرينو تر منځ د رأيې شديد اختلاف گورو، حتى د صحابه وو او د دوى دور ته د نژدې مفسرينو ترمنځ، په احاديثو کې په دې اړه هيڅ روايت نه لرو، د قرآن د تفسير په اړه د احاديثو په کتابونو کې ډېر محدود روايات لرو، په صحيح ترمذي کې تر نورو کتابونو دا راز احاديث زيات نقل شوي خو د هغوى شمېر هم دومره دئ لکه د قرآن د هرې سورې په اړه يوازې يو حديث، د مفسرينو تر منځ له دې اختلاف هم معلومېږي چې په دې اړه ثقه روايات محدود دي، ځکه چې د ثقه رواياتو په شته والي کې دوى اختلاف نه شو کولى. نو دې حقائقو ته په پام سره په کار ده چې مونږ د درنو مفسرينو له آراءو د هغه چا رأيه غوره کړو چې په قرآن مستنده وي او د خپلې شرحې د اثبات لپاره ئې د قرآن په آيتونو استناد کړى وي.

يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ۝٦ تَتْبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ۝٧ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ۝٨ أَبْصَٰرُهَا خَٰشِعَةٌ ۝٩ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِى ٱلْحَافِرَةِ ۝١٠ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا نَّخِرَةً ۝١١ قَالُوا۟ تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ۝١٢ فَإِنَّمَا هِىَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ ۝١٣ فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ۝١٤

٦- هغه ورځ چې ولړزېږي لړزېدونکې. ۷- بيا ورپسې راشي همغه پسې راتلونکې. ۸- په دې ورځ به ځينې زړونه مرتعش وي رېږدېدونکي. ۹- سترگې د دوى خړې وېرېدونکي. ۱۰- وايي: آيا مونږ يو مخکيني حالت ته بيا ورگرځېدونکي؟ ۱۱- که هر

څو وو وراسته شوي څو هډوکي؟ ۱۲- وايي: دا خو به نو خود وي تاواني بيا ګرځېدنه! ۱۳- نو دا به په يقين سره، يوازي وي يوه چيغه. ١٤- ناڅاپه به بيا دوی وي په همغه خور ميدان کې.

٦- ۷: دا مبارك آيتونه د قيامت د ابتدائي پړاو ځينو پېښو ته اشاره کوي او وايي: هغه ورځ به يوه لړزېدونکې ولړزېږي، په پرله پسې لړزېدو سره او ځيني زړونه به وېرې اخيستي وي او له وېرې به پرېږي، که څه هم په آيت کې دا نه ده ښودل شوې چې څه به لړزېږي، خو د آيت له فحوی هم او له دې هم چې ځيني زړونه په پرېږي، معلومېږي چې دا لړزېدونکې زمکه ده چې پر له پسې خوځېدل به ئې په انسانانو کې سخته وېره راولاړوي.
۸- ۱۲: ځيني زړونه به په سختي وېرې کې وي او له وېرې به رېږدي، سترګې ئې خړې او د وېرې او هيبت نښې ئې په څېرو کې څرګندي، دا وېرې اخيستي زړونه او سترګې به د هغه چا وي چې نن قيامت نه مني او له بيا ژوندون انکار کوي او وايي: آيا دا ممکنه ده چې کله ومرو او اوږده موده تر خاورو لاندي تېره کړو، هډوکي مو وراسته او هر څه مو په خاورو بدل شي، بېرته به راژوندي کېږو، له مرګ مخکې خپل لومړي حالت او شکل ته به راګرځو؟ او په ډېر تمسخر او استهزاء سره به ئې ويل: داسي بيا راګرځېدنه خو به خامخا زموږ لپاره ډېره زيانمنه وي، ځکه هيڅ تياری ورته نه لرو او هيڅ څه مو نه دي ورته زېرمه کړي، موږ داسي راګرځېدنه مضر او بې ګټې ګڼو، نه ئې منو او باور پرې نه کوو.
۱۳- ١٤: په دغو آيتونو کې چې د مخکينيو قسمونو ځواب دئ، د بيا ژوندون منکرينو ته ويل شوې: تاسو چې بيا ژوندون محال ګڼئ او هغه زيانمن شمېرئ او ګمان کوئ چې تر خاورو لاندي د اوږدې مودې له تېرولو وروسته بېرته راژوندي کېدل مقدور او ممکن نه دي، په دې پوه شئ چې له قبرونو ستاسو راپاڅونه به يوازي په يوه ټکان او خوځښت سره تر سره شي، همدا يوه جټکه به د دې باعث شي چې بيا راژوندي شئ، له قبرونو راپاڅئ، وخوځېږئ او په يوه پراخ ميدان کې د الله مخې ته ودرېږئ، داسي لکه نن چې په آسمان کې د يوې تالندي په غږ سره، په زمکې کې د ژوندون کاروان په حرکت راشي، باران (دا د ژوند اصلي لامل) له همدې غږ سره متصل ورېدل پيل کړي او د دغه حرکت باعث شي، د بوټو او دانو زړي راټوکېدو ته وهڅوي او مړه زمکه په ښېرازه، سمسور او ښايسته بوټو وپوښي.

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ١٥ إِذۡ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوًى ١٦ ٱذۡهَبۡ

إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ فَقُلۡ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَأَهۡدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخۡشَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَرَىٰهُ ٱلۡأٓيَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدۡبَرَ يَسۡعَىٰ ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلۡأٓخِرَةِ وَٱلۡأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰٓ ﴿٢٦﴾

۱۵- آیا د موسی د قصې حال دررسېدلی؟ ۱۶- کله چې ورغږ کړ د ده رب، په سپېځلې آ کږې وډې درې کې: ۱۷- د فرعون په لوري لاړ شه چې ده کړې سرکښي ده. ۱۸- ورته ووایه چې دې ته دي خوا کېږي چې ته پاك شې؟ ۱۹- او هدایت دي کړم په لوري د خپل رب، چې بیا به نو وېرېږې. ۲۰- نو ئې وښودله ده ته هغه لویه ستره نښه. ۲۱- خو تکذیب او سرکښي ئې کړله خپله. ۲۲- بیا ئې شا کړه هاند کوونکی. ۲۳- بیا ئې غونډ کړل، نو ئې غږ کړ: ۲۴- نو ئې وویل: زه ستاسو اعلی رب یم! ۲۵- نو الله دی په وروستي ږومبي عذاب باندي اخته کړ. ۲۶- بې شکه دې کې پند دئ هغه چا ته چې وېرېږي.

۲۰-۲۶: په دې مبارکو آیتونو کې د راغلې قصې په اړه څو اساسي ټکیو ته توجه ولرئ:

- **تر دې قصې مخکې او وروسته آیتونو کې د بیا ژوندون په اړه بحث شوی، د آیتونو تر منځ تړاو دا غوښتنه کوي چې دا قصه به خامخا له همدې موضوع سره تړاو لري او باید د مخکینیو او وروستیو آیتونو په څېر په دې کې هم د قیامت د اثبات دلائل وړاندي شوي وي، د هر بلیغ کلام تقاضی همدا ده. د قرآن اسلوب دا دئ چې د خپلې مدعی د اثبات لپاره تل د عقلي دلائلو تر څنګ او په څرګندو طبیعي شیانو له استشهاد وروسته، تاریخي پېښې د مخاطب مخې ته ږدي.**
- **دا قصه د موسی علیه السلام له بعثت پیل او د هغه شدید او عبرتناك عذاب په یادولو پای ته رسي چې فرعون پرې اخته شو. په دې قصې کې د موسی علیه السلام وضعیت داسي انځور شوی: موسی علیه السلام په یوې مقدسې او سپېځلې تنګي او کړکېچني درې کې روان دئ، د خپل رب له لوري یو غږ اوري، وظیفه ورکوي چې د فرعون مقابلې ته لاړ شه، یوازي دئ، نه د سفر کوم کاروان ورسره او نه د سنګر څه ملګري، په مبارزې مأمور شوی، دا ئې خپله غوښتنه او تلوسه نه ده، یو الهي مأموریت دئ، یوې الهي نداء او غږ هڅولی، د پاکۍ او پاك ژمنې طرف ته بلنه ورکوي، لارښود او مرشد دئ، الله او له هغه وېرې ته خلك رابلي او د خپل رسالت او دعوت د حقانیت لپاره څرګندي نښې ورسره دي، خو**

فرعون چې سرکښ او باغي دئ، تکذیب ته ملا تړي، دی دروغجن ګڼي او خبرې ئې دروغ، عصیان کوي، له حق مخ اړوي، د حق د مقابلې لپاره خپل ټول زور او ځواك کاروي، خپل پلویان او لښکري د مقابلې لپاره راغونډوي او ادعاء کوي چې د خلکو (اعلی رب) دئ، باید یوازي د ده اطاعت وشي او ستاینه او لمانځنه!! په دې قصه کې د دغو دواړو خواوو تر منځ دا مبارزه د هغه لوري په ماتې او نابودۍ منتج کېږي چې مغرور، عاصي، طاغي، د لښکرو خاوند او مطلق العنان او مستبد واکمن دئ، په ستر او شدید عذاب اخته شوی، هم د هغو لپاره عبرتناك چې د ده د اقتدار په وخت کې ژوندي وو او دا صحنه ئې په خپلو سترګو لیدلې او هم د هغو لپاره چې له ده وروسته راغلي او د ده له بد عاقبت او پایلې خبر شوي. دا تاریخي قصه ښیي چې زمونږ په دې نړۍ کې د ظالمانو د مؤاخذې او محاکمې سنت حاکم دئ، له هغوی سره محاسبه کېږي او خپله سزا ګوري، دا دنیا بې خاونده ملك نه دئ، ځان ته خاوند او مالك لري، له هر چا سره محاسبه کوي، عملونو ته بدله ورکوي، د مکافات او مجازات پربکړه کوي، د قیامت د منکرینو تصور او انګېرنه بې بنسټه او کاواکه ده او له هغې انتباه سره تصادم کوي چې هر عاقل انسان ئې له تاریخي پېښو اخلي.

- د فرعون دا ادعاء چې وایي: (زه مو اعلی رب یم)، دقت او څېړنه غواړي، باید وګورو چې د ده د خبرې معنی څه ده؟ په دې سره ئې خلکو ته څه ویلي، مقصد ئې څه دئ او له خلکو څه غواړي؟!! آیا خلکو دی د اوچت او لوړ معبود په توګه منلی؟ آیا دا ممکنه ده چې څوك دي د ځان په څېر یو انسان خپل معبود وګڼي او د ده په ستاینې او لمانځنې کې هغه ځای ته ورسېږي چې له هغه ځان ته تر ټولو لوړ او ستر معبود جوړ کړي؟!! ممکنه نه ده چې له دې خبرې به د فرعون مقصد دا وو چې زمکه او آسمان ما پیدا کړي او زه هماغه خدای یم چې له آسمان زمکې ته راکوز شوی، حتماً به ئې مقصد له دې پرته بل څه وو او حتماً به دا هغه څه وو چې هر فرعون ئې وایي او هغه څه چې د هر فوعون بندګان، ملګري او هغه ته تسلیم شوي ئې مني. هغه ویناوي چې فرعون کړې او د قرآن له نظره هغه د الوهیت او ربوبیت له ادعاء سره مترادف دي او قرآن هغه د فرعون له ویناوو رانقل کړې، هغه دا دي: زه د مصر او د مصر د خلکو او شتمنیو ټولواك یم، نهرونه او زمکې ئې زما دي، هغه کار چې ما ئې د کولو اجازه نه وي ورکړې، ناجائز او د مؤاخذې وړ دئ، قانون همغه دئ چې زه ئې قانون ګڼم او لارښوونه همغه چې زه ورته لارښوونه وایم، نه به بله مرجع د قوانینو وروستۍ مرجع ګڼئ او نه بل څوك خپل لارښود، د دې ملك مطلق العنان واکمن زه یم، دلته به له ما پرته د بل چا اطاعت نه کېږي. هر څوك

چې دا خبرې وکړي، هغه فرعون دئ او ځان ئې د خلکو اعلی رب ګڼلی او هر څوك چې کوم واکمن په دې معنی خپل واکمن ومني، هغه د فرعون بنده دئ او هغه ئې خپل اعلی رب منلی، که څه هم نه د ده فرعون په خپله خوله ووایي چې زه اعلی رب یم او نه دی ووایي چې دا مي اعلی رب دئ. له دې معلومېږي چې ډېر چارواکي فراعنه دي او ډېرو خلکو دا فراعنه خپل معبودان ګرځولي!!!

- په ۲۵ آیت کې د فرعون پایله الهي مؤاخذه او نکال الآخرة و الاولی ښودل شوې، چې په دې اړه د درنو مفسرینو تر منځ څو رأیي مومو:

۱- الله تعالی د آخرت او دنیا په عذاب اخته کړ، له اولی د دنیا عذاب او له اخری د آخرت عذاب اخلي او د دې اعتراض په ځواب کې چې ولې د آخرت عذاب د دنیا له عذاب مخکې ذکر شوی، وایي دا له دې کبله چې د آیتونو فواصل او قافیه سره ورته شي.

۲- الله تعالی هغه داسي مؤاخذه کړ چې د وروستنیو او مخکینیو لپاره د عبرت سبب شو.

۳- الله تعالی داسي مؤاخذه کړ چې هم د خپلو مخکینیو ګناهونو سزا وګوري او هم د وروستنیو، هم د هغه طغیان سزا ورکړی شي چې د موسی علیه السلام تر بعثت مخکې ئې کړی او هم د هغه مخالفت او بغاوت چې د ده له بعثت وروسته ئې کړی.

په دغو تعبیرونو کې لومړی تعبیر په څو دلائلو کمزوری او ضعیف دئ: لومړی دا چې فرعون لا تر اوسه د خپل طغیان او بغاوت اخروي عذاب نه دئ څکلی. دوهم دا چې که له نکال الآخره مراد اخروي عذاب وی نو حتماً له نکال الاولی وروسته راتلو، نه له هغه مخکې؛ او درېیم دا چې نکال هغه عذاب ته ویل کېږي چې نورو ته د پند او عبرت باعث شي او هغوی له ګناهونو راوګرځوي، د نکال لغوي معنی ته په پام سره باید دا دواړه دنیوي عذاب او عقوبت وي نه اخروي. د مزمل په سوره کې هم دنیوي عذابونه د انکال په صیغه او اخروي عذاب د جحیم په نامه یاد شوي: (ان لدینا انکالاً وجحیماً)، له دې هم معلومېږي چې له نکال دنیوي عذاب مراد دئ.

ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمۡكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغۡطَشَ لَيۡلَهَا وَأَخۡرَجَ ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾ وَٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾ أَخۡرَجَ مِنۡهَا مَآءَهَا وَمَرۡعَىٰهَا ﴿٣١﴾ وَٱلۡجِبَالَ أَرۡسَىٰهَا ﴿٣٢﴾ مَتَٰعًا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ﴿٣٣﴾

۲۷- تاسو به وئ ګران په پیدایښت کې که آسمان چې جوړ ئې کړ؟ ۲۸- لوړتیا ئې کړه ورلوړه او ښه ئې برابر کړ. ۲۹- او شپه ئې کړه ورپټه او راوړ ایسته غرمه ئې. ۳۰- او

تر دې وروسته ئې زمکه کړه خوره. ۳۱- راوې ایستې اوبه ئې او واښه ئې. ۳۲- او غای په غای ئې ودرول دا غرونه. ۳۳- متاع ستاسو لپاره او ستاسو د څارویو.

۲۷- په تفسیرونو کې د دې مبارك آیت دوه د پام وړ تعبیرونه مومو:

- تاسو مضبوط پیدا شوي یئ که دا آسمان چې ښه ئې لوړ جوړ کړی او هر څه په کې منظم او په پوره دقت سره؟!! دا ولې لویي کوئ، مغرور یئ او په ځان غره شوي یئ؟!!
- آیا ستاسو بیا پیدایښت به ګران کار وي که د دې آسمانونو چې له دې لوړوالي او دقیق نظم سره ئې پیدا کړي؟!! آیا هغه ذات چې دا آسمان ئې له دې عظمت، وسعت، سترواليِ او لوړوالي سره پیدا کړی، هر څه ئې په کې ښه او دقیقاً تنظیم کړي، شپه او ورځ ئې په کې پیدا کړي، زمکه ئې غوړولې اوبه او واښه ئې په کې راپیدا کړي، غرونه ئې په کې ودرولي او هغه ئې له یوې خوا د زمکې لپاره لنګرونه ګرځولي او له بلې خوا ئې په هغوی کې ستاسو او ستاسو د څارویو لپاره د رزق او روزي اسباب برابر کړي، آیا دا ذات په دې قادر نه ګڼئ چې تاسو بیا راژوندي کړي؟!! مګر خپل بیاپیدایښت د آسمانونو او زمکې تر پیدایښت ګران او ناشونی کار ګڼئ؟!!

لومړۍ رأیه په دوه دلیله ضعیفه او کمزورې ده: ۱- دا توجیه نه د دې برخې له آیتونو سره اړخ لګوي، نه ئې له سیاق و سباق سره او نه له ټولې سورې سره. ۲- په مخکینیو او وروستیو آیتونو کې هغه مطلب نه مومو چې دا تعبیر ورته ګوته نیسي، د سورې د بحث اصلي موضوع د قیامت او بیا ژوندون اثبات دئ، نه د انسان غرور، تکبر، لویي غوښتنه او ځان ترنورو لوړ او ستر ګڼل، په مخکینیو او وروستنیو آیتونو کې هیڅ داسي څه نه ګورو چې دا تعبیر تائید کړي، دا توجیه خو له دې مبارك آیت هغه معترضه جمله جوړوي چې له مخکې او وروسته سره ئې هیڅ ربط نه وي، خو دوهم تعبیر نه یوازې له ټولو آیتونو سره د دې آیت دقیق تړاو او ارتباط په ګوته کوي بلکې هغه د دې سورې د اصلي مدعی د اثبات لپاره د یوه قانع کوونکي، مضبوط او پیاوړي دلیل په توګه وړاندي کوي.

۲۸- ۲۹: دا مبارك آیتونه د آسمان څلورو ځانګړتیاوو ته اشاره کوي:

الف: پیداکوونکي او پالونکي ئې د هغه لوړوالی ورلوړ کړ، دا د آسمان د لوړوالي د بیانولو لپاره ډېر دقیق او موزون تعبیر دئ، د آسمان د لوړوالي د عظمت بیانولو لپاره تر دې موزون تعبیر نه شوو موندلی. د آسمان لوړوالی هومره دئ چې زمونږ د شمسي نظام د اړوند کهکشان او ستور لیکو د ځینو ستورو نور له ملیونونو نوري کلونو وروسته زمونږ زمکې ته رارسي او ځیني ئې په داسي سرعت سره له مونږ لرې کېږي چې نور ئې اصلاً زمکې

ته هیڅکله نه رارسي، زمور د اړوند ستور لیکي تر څنګ په ملیونونو نور ستورلیکي شته چې د هر یوه قطر او سور په ملیونونو نوري کاله دئ او زمور د کهکشان له آخري مدار ئې واټن په ملیونونو نوري کاله دئ. مور د آسمان د لوړوالي د تعیین لپاره نه کوم د اندازې واحد په واك کې لرو او نه کوم رقم او شمېر، دا لوړوالی یوازې د دغه مبارك آیت دقیق ترکیب بیانولی شي.

ب: له ټول لوړوالي او سټروالي سره سره ئې هغه مضبوط او منظم جوړ کړی او د هغه په پراخي سټري غېږ کې ئې دا بې شمېره ستوري هر یو په خپل خپل ښایسته او مناسب ځای کې ایښی.

ج: آسمان ئې داسي ګرځولی چې له هر څو ساعتونو وروسته زمور د زمکي فضاء تیاره شي او شپه راشي، سره له دې چې د آسمان په غېږ کې داسي ستوري شته چې نور او حرارت ئې په زرګونو ځله تر ځمر زیات دئ، خو دا روښانه او تاوده ستوري ئې زمور له زمکي په داسي واټن کې ایښي چې د شپې له خوا او کله چې ځمر پرېوځي زمور مزاحم نه شي او زمور د شپو تیاره او سکون له منځه یونسي.

د: زمور د زمکي په آسمان کې ئې داسي ځمر پیدا کړی چې مور ته رڼا او تودوخه راکوي، که دا ځمر نه وی نو زمور زمکه به د ډېرو نورو ستورو په څېر تل سړه او تیاره او د ژوند لپاره نامساعده وه.

۳۰-۳۱: دا آیتونه د زمکي درې ځانګړتیاوي په ګوته کوي:

- زمکه ئې د آسمان له تسویې او برابرولو وروسته اواره کړه، ځینو مفسرینو دا ګمان کړی چې ښایي له (بعد ذلك) به مراد دا وي چې زمکه او آسمان یو له بل وروسته په یوه زماني تفاوت سره پیدا شوي، لومړی یو او ورپسې بل، ځینو دا مخکې ګڼلی او ځینو بل، دا په داسي حال کې چې قرآن په ډېر صراحت سره فرمایي چې زمکه او آسمان سره جوخت او یوه کتله وه او د یوې سټري چاودنې په ترڅ کې سره بېل شوي او په یوه وخت کې راپیدا شوي، داسي نه ده چې لومړی یو او بیا بل پیدا شوی وي، کوم آیتونه چې تأخیر او تقدم افاده کوي هغه د زمکې او آسمان د تسویې د څرنګوالي بېلو بېلو پراوونو ته اشاره کوي، نه د دوی د پیدایښت نېټې ته، یعني تسویه او برابرول ئې یو په بل پسې تر سره شوي، لکه چې دلته په۳۰ آیت کې ویل شوي چې د زمکې اوارول د آسمان له برابرولو وروسته تر سره شوي.
- په زمکه کې ئې اوبه خلق کړې او هغه ئې د زمکې له زړه راوایستې، د دې معنی دا ده چې اوبه له بل ځای او له کومې بلې سیارې زمکې ته نه دي راانتقال شوې، بلکې په خپله

په زمکه کې راپيدا شوې او له زمکې راخوټېدلې.

- په زمکه کې ئې د نباتاتو د راټوکولو استعداد اېښی، د اوبو له پيدايښت وروسته ئې د هغې نباتات راشنه کړل، نو دا نباتات هم له بل ځای زمکې ته نه دي راوړل شوي، بلکې د زمکې له زړه راټوکېدلي.

دې ته مو بايد پام وي چې دا دوه مسئلې (د زمکې پر سر اوبه څنګه راپيدا شوې او نباتات څنګه راشنه شوي) له هغو مسائلو دي چې له اوږدې مودې راايسي تحقيقات ورباندې روان دي او ساينس نن هغې نتيجې ته رسېدلی چې قرآن څوارلس سوه کاله د مخه بيان کړې، ساينس نن همغه خبره کوي او وايي چې اوبه او نبات په خپله په زمکه کې راپيدا شوي او له بلې سيارې زمکې ته نه دي راانتقال شوي. او دا يقيناً چې د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ.

٣٢- ٣٣: په دې مبارکو آيتونو کې د غرونو په اړه څو مطالب ويل شوي:

- غرونه د اوبو او نباتاتو له پيدا کېدو وروسته پر زمکه راپيدا شوي.
- زمکه د غرونو تر پيدايښت مخکې لړزېدله، داسې لنګرونو ته ئې ضرورت وو چې لړزه ئې مهار کړي، الله تعالى غرونه پرې راپيدا کړل او په دې سره ئې د هغې نامنظم خوځښت ختم کړ.
- غرونه داسې پيدا شوي چې انسانان او حيوانات ئې له بې شمېره برکاتو ګټه واخلي، نهرونه، چينې او کاږېزونه ئې له غرونو سرچينه اخلي، دا غرونه دي چې د زمکې پر سر د ببل ببل موسم او هوا لامل دي او په همدې سره د زمکې ېبلو ېبلو سيمو کې د مختلفو دانو او مېوو د راټوکېدو شرائط برابر شوي، که غرونه نه وی نو د ټولې زمکې هوا به تر ډېره حده يو شان وه او موږ به له رنګ رنګ مېوو او دانو محروم وو.

فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوۡمَ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلۡجَحِيمَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفۡسَ عَنِ ٱلۡهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلۡجَنَّةَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٤١﴾ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرۡسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكۡرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخۡشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ

يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓاْ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

٣٤- نو چې راشي هغه ستره هنګامه. ٣٥- هغه ورځ چې انسان یاد کړي خپلي کړنې. ٣٦- او څرګند کړی شي دوزخ وهغه چا ته چې څه ویني. ٣٧- نو هغه چې ئې وکړه سرکښي. ٣٨- او د دنیا ژوندون ئی خوښ کړ. ٣٩- نو بې شکه چې جحیم به وي ټمځی. ٤٠- او اما هغه چې په وړاندي د خپل رب له ودرېدو ووېریدو او له هوی هوس ئې منع کړ خپل نفس. ٤١- نو بې شکه چې جنت به وي ټمځی. ٤٢- تا پوښتي له ساعت چې دا کله به وي وخت د ودرېدو ئې؟ ٤٣- دا ته په څه (مقام) کې یې د دې د یادولو. ٤٤- پای خو ئې دئ ستا د رب په لوري. ٤٥- ته خو یو منذر یې هغه چا ته چې له دې وېرېږي. ٤٦- داسي به وي دوی په هغه ورځ چې وئې ګوري: چې نه دي پاته شوې مګر یوازي یو ماښام او یا غرمه ئې.

٣٤- ٣٦: د بیا ژوندون او آخرت د اثبات لپاره هم د کائنات په غېږ کې مشهود او هري خوا ته ترسترګو کېدونکي دلائل وړاندي شول، هم په تاریخي دلائلو استشهاد وشو او هم پر عقلي دلائلو استناد، د دغو ګڼ شمېر دلائلو له وړاندي کولو وروسته اوس د قیامت څو هیبتناکي صحنې انځوروي او زمونږ مخي ته ئې ږدي او فرمایي: کله چې هغه ستره پېښه راشي، انسان به خپل ټول کړه وړه، ټول هغه څه راپه یاد کړي چې په آخرت له نه باوره خړوبه کېدل، آخوا ته به دوزخ څرګند وګوري، هغه ځای چې دا باورونه او کړنې پرې منتج کېږي، همغه چې په دنیا کې ئې ترې انکار کاوو.

٣٧- ٣٩: د چا چې دا دوه خصلتونه وو؛ هستوګنځی به ئې جحیم وي:

الف: طغیان او سرکښي.

ب: دنیا غوره کول او وروستی هدف ئې ګڼل.

٤٠- ٤١: او چا چې دوه نور صفات درلودل هستوګنځی به ئې جنت وي:

- **له الله سره له مخامخ کېدو، د هغه په وړاندي له ودرېدو او له الهي محاسبې په وېره کې وو.**
- **خپل نفس ئې مهار کړی وو او د هوی او هوس له بندګۍ ئې ځان ساتو.**

په آخرت باور او ایمان په دې منتج کېږي چې انسان محتاط وي، هر ګام په احتیاط سره پورته کړي او د هوی او هوس له بندګۍ ځان وساتي او په آخرت عدم باور له ده لاابالي او بې باکه انسان او د هوس بنده جوړوي، پر آخرت د ایمان نښه تقوی او ځان ساتنه ده او په آخرت د عدم باور نښه د نفس بندګي ده. انسان له دغو دوو لارو یوه

غوره کولی شي: یا به ئې اعتقاد او باور دا وي چې قیامت راتلونکی دئ، د الله په لور به درومي او د خپلو کړنو به حساب ورکوي، دا اعتقاد به ئې دې ته اړباسي چې محتاط وي، خپلو ناروا نفسي غوښتنو ته تسلیم نه شي، د خپل نفس د ارضاء لپاره د نورو په حق تېری ونه کړي او له حرامو او ناروا لارو خپلې نفسي غوښتني پوره نه کړي او یا دا چې په آخرت به ئې باور نه وي، د خپل نفس بنده شي، هر هغه څه تر سره کړي چې د ده هوس ئې ترې غواړي، د حلال او حرام پروا ونلري، نه د نورو حق ورته معنی لري او نه ئې مراعات او په پام کې ساتل، له دغو دوو لارو یوه جنت ته درومي او بله ئې دوزخ ته.

٤٢: اوس چې د آخرت منکرینو ته هیڅ بهانه نه ده پاته، ټولې پوښتنې ئې ځواب شوې، د اندېښنو د ختمولو لپاره ئې کافي دلائل تر لاسه کړي، نو پوښتنه کوي: د قیامت د راتلو نېټه به کله وي؟!! ولې تر اوسه نه دئ راغلی؟ ولې ځنډېدلی؟ له دې پوښتنې د دوی موخه دا نه ده چې د قیامت د راتلو دقیقه نېټه معلومه کړي، بلکې په دې سره غواړي بیا هم د انکار لپاره یو بل دلیل وړاندي کړي، مقصد ئې دا دئ چې: ډېر پیغمبران او دعوتګران راغلي او هریوه د قیامت د راتلو خبره کړې، خو تر اوسه د هیڅ یوه وړاندوینه سمه ونه خته او قیامت رانغی، نو ته مور ته دقیقاً ووایه چې: د قیامت د راتلو ثابته نېټه کومه ده او کله به واقع کېږي؟

ګورئ چې په دې مبارك آیت کې د (الساعة) لفظ راغلی، خو نه دئ مشخص شوی، د (الساعة) د لفظ اطلاق په هر ساعت کېدی شي، خو د دې لپاره چې هغه په ځانګړي مضمون کې راغلی، معنی به ئې د همدې مضمون په ترڅ کې لټوو، دلته په مضمون کې له الطامة الکبری (لویه هنګامه) بحث روان دئ او دا لفظ د همدې بحث په ترڅ کې کارول شوی او ځانګړې معنی افاده کوي، مراد ئې د (الطامة الکبری) د وقوع نېټه ده. همداسي باید په نورو مواردو کې هم د الفاظو دقیقه معنی د کلام په متن کې ولټوو نه د لغت په کتابونو کې او د لغت له کتابونو یوازې هغه معنی ورته غوره کړو چې د آیت ټول متن او د کلام اړونده برخه ئې تأییدوي.

٤٣- ستا ئې له دې سره څه؟ ستا دنده دا نه ده چې د قیامت د راتلو دقیقه نېټه وښیې او په دې اړه وړاندوینه وکړې، ته په هغه موقعیت کې نه یې چې دا وړاندوینه وکړې او دقیقه نېټه ئې په ګوته کړې. له الله پرته هیڅوك په دې نه دئ خبر. د اعراف د سورې په ۱۸۷ آیت کې دا مطلب مزید توضیح شوی:

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى ۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ

إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ١٨٧ الاعراف

د دې نېټې په اړه له تا پوښتي چې د وقوع وخت ئې کله دئ؟ ووایه: علم ئې فقط زما له رب سره دئ، له ده پرته ئې بل څوک په خپل وخت کې نه راڅرګندوي، په آسمانونو او زمکې کې درنه شوې، درته نه راځي مګر ناڅاپي، تا داسې پوښتي چې ګواکې ترې خبر یې، ووایه: علم ئې یوازې له الله سره دئ،: خو اکثر خلك نه پوهېږي.

دا آیت په مکرره توګه د قیامت علم الله تعالی ته مختص کوي او پر دې تأکید کوي چې فقط الله به ئې په خپلې ټاکلې نېټې کې رابرسېره کوي او له دې پټ راز به پرده اوچتوي، ناڅاپي او له مخکینۍ اطلاع پرته به تاسو نیسي، د دې لپاره چې د قیامت حادثه هومره ستره ده چې ټول آسمانونه او زمکه به احتواء کوي، نو ځکه ئې په ټاکلې نېټې پوهېدل انسان ته ګران شوي. له رسول الله صلی الله علیه و سلم ستاسو پوښتني داسې دي لکه چې هغه ترې خبر وي، په داسې حال کې چې له الله پرته هیڅوك پرې نه پوهېږي.

٤٤- د دې آیت تحت اللفظی ترجمه دا ده: پای ئې ستا د رب په لوري دئ. دا آیت یوازې او له مخکیني سره له ټراو پرته کېدی شي ډېرې معاني ولري، خو مور مکلف یو یوازې هغه معنی ئې راواخلو چې د ټول کلام په ترڅ کې او له مخکیني او ورستني آیت سره یو ځای ئې افاده کوي، مخکینی آیت په دې تأکید لري چې ته اې پیغمبره په داسې موقعیت کې نه یې چې د قیامت د ټاکلې نېټې په اړه څه ووایې، نو د ورپسې آیت چې وایي: پای او منتها ئې الله لره ده، دا مطلب افاده کوي چې په دې اړه څه ویل د الله کار دئ، لومړۍ او وروستۍ خبره به هغه کوي، له الله پرته هیڅوك پرې نه پوهېږي، د قیامت پېښه کومه وړه پېښه نه ده چې انسان وکولی شي په دې پوري مربوط پوهه او علم باندې احتواء وکړي او په درك کولو ئې قادر شي، بلکې دا یوه داسې ستره پېښه ده چې په ټول کائنات، زمکې او آسمانونو به احتواء کوي، د داسې یوې سترې پېښې چې لمن به ئې هومره خوره وي او دومره بې شمېره شیان به په خپلې غېږ کې نیسي، د دې پېښې په ټولو ابعادو پوهېدل، انسان ته له دې محدود عقل او کمزورو حواسو سره ممکن نه دي، دا علم یوازې له الله سره ښایي.

٤٥: دا مبارك آیت د قیامت په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم وظیفه په دې کې راخلاصه کوي چې خلکو ته منذر او خبرداری ورکوونکی وي، باید خلك د دې ورځې له ناڅاپي راتلو ووېروي، که څه هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم انذار او خبرداری د ټولو لپاره دئ، خو د دې لپاره چې سرکښ او بې باکه انسانان چې د هوی او هوس بندګان او د خپلو کړنو د پایلو په اړه بې پروا دي او هیڅ انذار او خبرداري ته اعتناء نه کوي، دوی

ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم انذار ګټه نه رسوي، نو ځکه دلته ویل شوې چې ته د هغو کسانو لپاره انذار او خبرداری ورکوونکی یې چې د قیامت له راتلو وېرېږي، ستا انذار یوازې دغو ته ګټه رسوي، نو په حقیقت کې ته یوازې د دوی لپاره منذر یې.
٤٦: د قیامت د منکرینو یو اعتراض، د (وخت او زمان) په اړه د دوی له غلط او خاطئ تصور او انګېرنې راولاړېږي، دوی وایي: له هغه وروسته چې ومرو او ډېره موده تر زمکې لاندې تېره کړو، څنګه به بیا راژوندي کېږو او خپل لومړنۍ حالت ته به ورګرځو؟ ولې تر اوسه چې د انسانانو په لومړنیو نسلونو اوږده موده تېره شوې هیڅوک بېرته راژوندی نه شو؟ که بیا ژوندون رښتینی وی باید تر اوسه حتماً تر سره او آثار ئې رابرسېره شوي وی!! دوی ته د قرآن ځواب دا دئ: کله چې هغه ورځ راشي او د آخرت نه منونکي له قبرونو راپاڅي او هغه ستره هنګامه په خپلو سترګو وګوري، نو د (زمان) په اړه به خپلې انګېرنې او معیارونه غلط ومومي، ټوله هغه اوږده موده چې دوی ترخاورو لاندې تېره کړې، دا به یوازې د یوې ورځې نیمایي ګڼي، یوه غرمه یا مازدیګری ئې!! اوس خو د (وخت) په اړه د دوی تنګ او محدود احساس، د دوی کمزوري حواس په خپلې لومي کې تړلې او د مجدد بعثت له منلو ئې عاجز کړي، هغه موده چې په سترو سترو مقیاسونو کې له هیڅ سره برابره ده، ډېره اوږده او حتی بې انتهاء ګڼي او د بیا ژوندون په وړاندې ئې ستره مانع بولي، دوی همدلته، د وخت د زندان په حصار کې په داسې حال کې پرېږده چې پر سترګو ئې د دغه قید پرده پرته ده او د عقل وزرونه ئې په دې زنځیر تړل شوي، د هغې ورځې په رارسېدو او د دغو پردو په راکوزېدو او د دغو زنځیرونو په شلېدو سره به په دې پوه شي چې تر زمکې لاندې د دوی پاته کېدل هومره هم اوږد او طولاني نه وو چې دوی ګمان کاوو او هغه ئې له قیامت د انکار دلیل ګاڼو.

عبس

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم (عبس) دئ، چې دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ چې له نورو پرې پېژندل کېږي او له لومړي آیت اخیستل شوی. ٤٢ آیتونه لري، له مکي سورتونو ده، له مضامینو ئې معلومېږي چې د دعوت په لومړیو کې هغه وخت نازله شوې چې د قریشو مشرانو لا تردې وخته له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره خپلې خبرې آتري، ناسته پاسته او راکړه ورکړه نه وې قطع کړې او خپله دښمني ئې لا

نه وه پيل کړې.

د دي سورې د شأن نزول په اړه ټول مفسرين متفق دي او وايي: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابو جهل، عتبه، اُبي بن خلف، اميه بن خلف او شيبه په څېر د قريشو له سردارانو سره غونډه درلوده او هغوى ئې اسلام ته رابلل، ناڅاپه عبدالله بن ام مكتوم، د خديجې رضي الله عنها تروريزى، د غونډې ځاى ته راغى او وئې ويل: يا رسول الله! ارشدنى (اې د الله رسوله! ما ته لارښوونه وكړه)، د ده ناڅاپي راتګ او د مجلس اخلال، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته نامناسب وبرېښېدو او پرې ناراض شو، غوښتل ئې په دې حساس وخت کې ئې څوك مزاحم نه شي، انتظار ئې دا وو چې که د قريشو له دغو مشرانو هر څوك ئې ايمان راوړي نو د قريشو ډېر كسان به له مخالفت لاس واخلي، له مسلمانانو سره به يو ځاى شي، د ده دعوت به ومني او لږ تر لږه مخالفت به ئې راكم شي، دغه احساس د دې باعث شو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د قريشو سردارانو او صناديدو ته اعتناء ولري او د عبدالله بن ام مكتوم رضي الله عنه په اړه بې اعتنائي وكړي. الله جل شأنه چې د ټولو رب دئ او د هغه سبحانه و تعالى په نزد کې د چا اجتماعي حيثيت اهميت نه لري، د رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې حركت ناراض شو او يوه مكمله سوره ئې په همدې اړه نازله كړه. پيغمبر عليه السلام د دغې سورې له نزوله وروسته وفرمايل: زه خپل رب د عبدالله بن ام مكتوم له كبله عتاب كړم، له دغې ورځې وروسته چې كله به هم عبدالله بن ام مكتوم د ده خوا ته راتلو نو خپل ځادر به ئې ورته وغوړاوو او ډېر احترام او عزت به ئې كاوو، دوه ځله ئې په خپل غياب او د جنګ جبهو ته د تلو په وخت کې هغه د مدينې منورې د چارو مسئول او خپل ځاى ناستى ټاكلى. ښايي ډېرو لوستونكو ته به دا خبره عجيبه معلومه شي چې ولې يو بسيط او عادي حركت دومره جدي نيول شوى او په اړه ئې يوه مكمله سوره، له عتابه ډكې لهجې سره نازله شوې؟!! خو كه د دوست او دښمن او د دعوت د معاند او مؤيد په اړه او د ټولني د مختلفو ډلو د معرفې په ارتباط د قرآن لارښوونو ته لږ ځير شو، د دې پوښتني ځواب په آسانۍ موندلى شو. قرآن په دې ارتباط خلك په دوو ډلو وېشي:

الف: مستكبرين:

هغه چې لويي غوښتونكي دي، ترنورو ځان لوړ ګڼي، پر ټولني حاكم او مسلط دي او پر ټولني حاكم اقتصادي او اجتماعي نظام بې شمېره امتيازات دوى ته وركړي، د دوى رفاه، سوكالي او پرنورو برلاسي ئې تضمين كړې، د خلكو قيادت او زعامت ئې د دوى په واك کې وركړى او د ټولني شتمنۍ ئې د دوى په لمن کې اچولې دي، دا ډله چې كله ئې قرآن

د ملأ (درباريان او سرداران) په نامه يادوي او کله ئې د مترفين (شتمن او سوکاله) په نامه، دوی تل او د هر پيغمبر د دعوت او بلنې او د هر مصلح د قيام په خلاف ودرېدلي، مستکبرين تل د حاکم نظام جدي حاميان او مدافعان وي، تل له باطل زاړه مذهب او د ولس له غلطو زړو باورونو او معتقداتو او پر ټولني د حاکم سياسي، اجتماعي او اقتصادي اړيکو او مناسباتو په کلکه دفاع کوي او هر بدلون خپلو ګټو ته جدي ګواښ ګڼي، د همدې لپاره د هر تحول او انقلاب په ضد مخالفت ته ملا تړي، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ سبإ

او هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی پيغمبر نه دئ لېږلی مگر دا چې مترفينو ئې وويل: موږ په قطعي توګه ستاسو له رسالت منکر يو.

شعيب عليه السلام ته د ده د قوم د ملأ او مترفينو ځواب دا وو:

قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَنُخۡرِجَنَّكَ يَٰشُعَيۡبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرۡيَتِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾ الاعراف

د ده د قوم لويي غوښتونکو سردارانو وويل: اې شعيبه! يا به تا او هغه مؤمنان چې درسره دي حتماً له خپل کلي باسو او يا به هرمرو زموږ مذهب ته بېرته راګرځئ، وئې ويل: که څه هم (ترې) کرکه ولرو؟!

د قرآن ټولنپوهنه او د اسلامي دعوت په وړاندي د جامعې د بېلا بېلو پرګنو د عکس العمل په اړه د قرآن تحليل دا حکم کوي چې مؤمن او انقلابي دعوتګران بايد هيڅکله د ټولني له دې ډلې د حمايت او تأييد انتظار ونلري او د هغو مخاطبينو په ضمن کې ئې ونه نيسي چې د موافقې او له صف سره د يو ځای کېدو طمع ترې کېږي.

ب- مستضعفين:

هغه چې په ټولني حاکم نظام او واکمنان ئې دوی په ضعف او بې وزلۍ کې ساتي، محروم او محکوم دي، بې وسه، ناداره او ناتوانه دي، د قرآن له نظره د پيغمبرانو د دعوت اصلي مخاطبين همدا مستضعفين دي، پيغمبران د دوی د ژغورنې لپاره لېږل شوي، همدا دوی دي چې تل د پيغمبرانو په څنګ کې ودرېدلي او د دوی د دعوت د بريا لپاره ئې قربانۍ ورکړې.

موفق دعوتګر بايد خپل مخاطبين د خپلې عقيدې په رڼا کې درجه بندي کړي، دوست له دښمن تفکيک کړي، اصلي اعتناء او التفات ئې هغه مخاطب ته وي چې مخکې يا

وروسته به له صف سره یوځای کېږي او د هغه چا په اقناع باندي خپل وخت ضائع نه کړي چې لجوج او نه قانع کېدونکی مخاطب دئ او په وروستي تحلیل کې د دښمنانو له ډلې دئ او هیڅکله د دوستانو په زمره کې نه راځي، باید دې ته متوجه وئ چې مستکبرین او لویي غوښتونکي هیڅکله دا نه مني چې په ټولنې کې عدالت او برابري وي، دوی تل د ملګرتیا په مقابل کې امتیاز غواړي، شرائط وړاندي کوي، په دې اصرار کوي چې له نظام سره مخالفت ونشي او په وضعیت کې د بدلون هڅه ونشي، داسي نظام غواړي چې په هغه کې د خلکو تر منځ تفاوت او نابرابري د یوه اصل په توګه منل شوی وي، د دوی برلاسي او لوړوالی تضمین کړي او دا هغه څه دي چې هیڅ الهي دین ئې نه مني. دغې طبقې ته اهمیت ورکول په دې منتج کېږي چې دعوتګران له خپلو فکري او اعتقادي مبادیو او اصولو تنازل وکړي، د لویي غوښتونکو شرائط ومني او په دې سره له اصلي مسیر منحرف شي او د خپل دعوت اساسي اصول او موازین مخدوش کړي. دغو اساسي ټکیو ته په پام سره د هغې غونډې بهیر جدي نیول شوی او یوه مکمله سوره له عتابي لهجې سره نازله شوې.

د دې موضوع اهمیت هلته لا زیات راڅرګندېږي چې د عبدالله بن ام مکتوم خپلوي له پیغمبر علیه السلام سره هم په پام کې ولرو، عادتاً له اقاربو سره په چلن کې د پردیو په پرتله له ډېر تکلف کار نه اخیستل کېږي، مخصوصاً له پردیو مېلمنو د استقبال په وخت کې، که په داسي یوه محفل کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه عدم التفات دومره جدي نیول کېږي، نو له دې دا معلومولی شئ چې دا قضیه د اسلام له نظره څومره اهمیت لري. دا جریان مونږ ته ښیي چې د اسلام په اند د یوه داعي چلن باید له دوست او دښمن او له هدایت طلب مخاطب او امتیاز طلب خصم سره څنګه وي، په دې کې هره اشتباه د مؤاخذې وړ اشتباه ګڼل کېږي، مؤمن دعوتګران باید متوجه وي چې په ایماني معیارونو کې یو عادي حقپال او حقیقت ټوونکی، که څه هم په سترګو ړوند وي، تر سلو هغو لویي غوښتونکو غوره دئ چې د حق او حقیقت په ځای د امتیازاتو په لټه کې وي، که څه هم قیصر، پاچا او وزیر وي، باید هغو کاذب او دروغجنو اعتباراتو او د ټولنې د سردارانو او سالارانو هغه جاه او جلال ته چې حاکم استبدادي نظام دوی ته ورکړی، ارزښت او اهمیت ورنه کړو، که ته په رښتیا یو مؤمن داعي یې نو ستا اصلي دنده دا ده چې همدغه نظام او د هغه کاذب ارزښتونه رانسکور کړې، ستا د ایمان او عقیدې غوښتنه همدا ده.

د دې مبارکې سورې د بحث اصلي موضوع همدا ده او ټول آیتونه ئې په همدې محور راڅرخي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ١ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ٢ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ٣ أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ٤

١- تريو ئې کړ تندی او مخ ئې واړاوو. ٢- چې کله ورته راغی هغه ړوند. ٣- څه شي ته خبرکړې، شايی (غوښتل ئې) ځان تزکيه کړي. ٤- يا پند واخلي او پند ئې ګټور کړي.

١- چا تندی تريو کړ او مخ ئې واړاوو؟ څوک د يوه ړانده په راتلو ناراض شو او هغه ته ئې شا کړه؟ ولې خطاب مخامخ پيغمبر عليه السلام ته متوجه نه دئ او داسي نه دي ويل شوي چې تا تندی تريو کړ او له هغه ړانده دي مخ واړاوو؟ ولې په سر کې له هغه چلن د غائب په صيغه يادونه کوي او بيا لهجه بدلېږي او د وينا مخ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اوړي؟

مفسرين په دې اړه بېل بېل تعبيرونه لري چې تر ټولو غوره او دقيق ئې دا دئ: کله چې د خپل يوه دوست کوم کار خوښ نه کړو او د ده له شأن ئې لري وګڼو او ده ته دا ويل وغواړو چې له تا مو دا انتظار نه وو او ورته ووايو چې ښايي د هغه کار د کولو په وخت کې به دا ته، له هغه اوچت شأن او له داسي کار ډېر لوړ شخصيت، په خپله نه وې!! معمولاً په دغسي يوې صيغې سره هغه ته خطاب کوو او خپله ناخوښي څرګندوو. پيغمبر عليه السلام له دغو آيتونو همدا انتباه اخيستې او فرمايي: عتبنی ربي: رب مي عتاب کړم. د عبس (تندی ئې تريو کړ) او تولی (مخ ئې واړاوو) په الفاظو کې د عتاب او نارضايتي نسبي له ورايه څرګندي دي.

په ځينو نورو آيتونو کې هم دې ته ورته څرګندوني ګورو: د انعام د سورې په ٥٢ آيت کې لولو:

وَلَا تَطۡرُدِ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ مَا عَلَيۡكَ مِنۡ حِسَابِهِم مِّن شَيۡءٖ وَمَا مِنۡ حِسَابِكَ عَلَيۡهِم مِّن شَيۡءٖ فَتَطۡرُدَهُمۡ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥٢ الأنعام

او هغه کسان (له ځانه) مه شړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعاء کوي، په داسي حال کې چې رضاء ئې لټوي، نه د دوی له حسابه څه پرتا دي او نه ستا له حسابه څه پر دوی،

نو که وئې شړې له ظالمانو به شې.

همدا راز د کهف د سورې په ۲۸آیت کې راغلي:

وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ٢٨ الكهف

د هغو خلکو په څنګ کې صبر وکړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعاء کوي، په داسې حال کې چې رضاء ئې لټوي او له دوی دې ستا سترګې بل لوري ته وانه وړي، د دنیوي ژوند د زینتونو په لټه کې؛ او د هغه چا متابعت مه کوه چې د ده زړه مو له خپل ذکر غافل کړی او د خپل نفس او هوس متابعت کوي او کار ئې زیاتی او افراط دئ.

عجیبه ده چې ځینو په خپلو تعبیرونو کې نه هغه حدیث ته پام کړی او نه دغو آیتونو ته او د دې هڅه ئې کړې چې نه دا کار یوه اشتباه وګڼل شي او نه دا الفاظ د عتاب الفاظ!! دا ځکه چې دوی ګمان کوي په بل صورت کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم عصمت تر سؤال لاندې راځي؛ حال دا چې د عصمت حقیقت او څرنګوالی په دغو آیتونو کې ډېر ښه څرګند شوی او دا آیتونه مونږ ته ښیي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د الهي مراقبت او عصمت په غېږ کې داسې ساتل شوی وو چې په هر ګام او هر حرکت کې ئې لارښوونه او مراقبت کېدو، که احیاناً داسې کوم کار ترې کېدو چې د ده له شأن او رسالت سره مناسب نه وو، که څه هم عادي او بسیط کار به وو او د انساني طبیعت په حکم؛ سملاسي به الهي لارښوونې په پرېکنده او صریحو الفاظو سره د ده مخې ته اېښودل کېدې، د دې کار په اړه به ئې قضاوت کېدو، سمه لار او د ده اصلي دنده به ئې ورښوده؛ او د قرآن په اند عصمت همدا دئ نه بل څه.

۲- پیغمبران علیهم السلام دوه اساسي مأموریتونه لري:

اول- (تزکیه)، د فرد او ټولنې پاکول له ټولو ناپاکیو، د انسان له زړه او دماغ د خرافاتو او اوهامو پلیتې پاکول، د ضمیر له صفحې ئې د ګناهونو زنګ صافول او وجدان ئې له هر هغه څه پاکول چې د ده د فطرت روغوالی ئې له منځه وړي، د ضمیر رونه صفحه ئې ورککړه کړي، هغه ئې د ګناه په ناولي ډنډ کې غورځولې او د فطرت نور او رڼا ئې ورتته کړې او بیا ئې روزنه، تربیه او معنوي ارتقاء او هغه ځای ته رسول چې له عملي او اخلاقي پلوه د ده سالم او روغ فطرت ئې غوښتنه کوي. د تزکیې په لفظ کې هم د پاکولو او صافولو معنی مضمر ده او هم د ودې، رشد او ارتقاء معنی.

دوهم- (تذكر)، وريادول او پند ورکول، تذکر هم ورپه يادول افاده کوي او هم پند ورکول، يعني پيغمبران عليهم السلام د دې لپاره رالېږل شوي چې خلکو ته هغه حقائق ورپه ياد کړي چې دوی هېر کړي، د انسان په ضمير، زړه او دماغ کې داسې استعدادونه او لارښوونې اېښودل شوې چې د رونې څراغ په څېر انسان ته لار ښودلی او تيارې ورته روښانه کولی شي، که دا استعدادونه فعال کړی شي او انسان ئې وکارولی شي، د حقيقت په پېژندو کې به له هيڅ ستونزي سره مخامخ نه شي، پيغمبران عليهم السلام راځي او د انسان دغه استعدادونه هڅوي، له غفلته ئې راويښوي او د ده په زړه او ضمير کې دا پرتې فطري لارښوونې فعالوي.

د الله لوري ته هر بلونکی او دعوتگر بايد د دعوت په دوران کې دې ټکي ته تل او دقيقاً ملتفت وي چې څوک تزکيه کېدو ته چمتووالی لري، څوک د ګناهونو له ناولې ډنډ د وتلو هڅه کوي، په چا کې د معنوي او اخلاقي ارتقاء تنده او تلوسه شته. د دعوتگر ورکه متاع همدا ده او اصلي مخاطب ئې همدغه، په چا کې چې د غفلت له خوبه د راويښېدو هڅه ګوري، څوک چې غواړي د خپل ضمير له صفحې د ګناهونو زنګ، غبار او ګردونه ورپڑوي، غواړي خپل اصل او سالم انساني فطرت ته بېرته راوګرځي، بايد دغو ته اعتناء وشي. دا آيتونه پيغمبر عليه السلام ته وايي: د عبدالله بن ام مکتوم له ظاهره داسې برېښي چې هغه د (تزکيې) او (تذکر) په لټه کې دئ، هغه راغلی چې (پاك) شي او (پند) واخلي، په ده کې دا استعداد شته چې ستا له پند اغېزمن شي، ګټه ترې واخلي، ستا پيغمبرانه مأموريت دا ايجابوي چې د ده دغو دواړو ځانګړتياوو ته په پام سره دي ده ته ترجيح ورکړې وی او تر نورو دي ده ته زياته اعتناء او توجه وی، تر هغو نورو دی د زياتې اعتناء او پاملرنې وړ او مستحق وو. وروستي آيتونه په ډېر صراحت او وضاحت سره وايي چې د عتاب اصلي وجه همدا وه.

أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ۝٥ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ۝٦ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ ۝٨ وَهُوَ يَخْشَىٰ ۝٩ فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ۝١٠

۵- خو چا چې استغناء به ئې کوله. ٦- نو ستا وه ورته خاصه پاملرنه. ۷- او څه پېره ئې پر تا نشته، که ځان نه کړي تزکيه. ۸- خو څوک چې په تلوار راغی ستا خوا ته. ۹- او وېرې وو اخيستی. ۱۰- نو تا کړه له هغه بې پروايي.

۵-۱۰: په دې آيتونو کې د هغو دوو ډلو څېړې انځور شوې چې د دعوت په وړاندې ېېل

بېل دريځونه لري او د دوی په اړه د دعوتګرانو ضروري چلن توضیح شوی:

الف- یوه ډله له هغو وګړو جوړه شوې چې د استغناء او بې نیازۍ احساس کوي، ځان پوره ګڼي، دا د استغناء احساس یا مال، ثروت او شتمنۍ په دوی کې راپیدا کړی یا جاه او جلال او اجتماعي حیثیت او اعتبار او یا د حقپالنې د تلوسې او د لار موندنې د تندي نشتوالي. دا ځکه چې نه د شتمنیو خاوندان د ټولنې په جوړښت او په ظالمانه او د عدالت خلاف مناسباتو او روابطو کې د بدلون ضرورت احساسوي او نه پر ټولنې مسلط واکمنان د مظلومانو او بې وزلو دردونه او کړاوونه درک کولی شي، طبیعي ده چې داسې خلك نه په ټولنې کې له بدلون سره توافق کوي او نه له هغو مبارزینو او انقلابیونو سره ملګرتیا کوي چې بدلون غواړي، د عدالت او برابرۍ مدافعان دي او د ظلم او بې عدالتۍ ټغر ټولول ضروري ګڼي. حساس او هوښیار دعوتګران باید له دغو د ملګرتیا انتظار ونلري، همدا راز هغه چې دې ته اهمیت نه ورکوي چې حق او باطل وپېژني، له ګنده افکارو او اخلاقو ځان تزکیه کولو ته پام او اعتناء نه لري، په خپل پرېوتې فکري او اخلاقي حالت راضي دي، په خپل ګنده محیط کې عادت شوي او بد بوی ئې نه شي حس کولی، د خپل منفور شخصیت د کرکجنو برخو له پېژندو عاجز دي، نه په خپل حالت اعتراض مني او نه د ټولنې له بد حالت شکایت لري، مغرور دي، خپل هر څه سم ګڼي، د خپل حالت په اړه کلك تعصب لري، د خپلې وضعې د اصلاح ضرورت نه احساسوي، دعوتګرانو ته نه ښایي چې خپل ګران او قیمتي وخت د دغو خلکو د اقناع په کار کې ضائع کړي چې د هدایت او لار موندنې استعداد په کې ځپل شوی، نه دا د دوی دنده ده او نه به له دې پوښتل کېږي چې دا مغرور لار ورکې ئې ولې په سمه لار برابر نه کړل.

ب- دوهمه ډله هغه خلك دي چې د حقیقت په لټه کې دي، د حق پېژندو تنده او تلوسه لري، له وضعې سترې او ستومانه دي، د خپل ځان او د ټولنې په وضعیت کې د بدلون ضرورت په شدت سره احساسوي، د ټولنې په ګنده او متعفني فضاء کې ئې نفس تنګ شوی، له فساد او ګناه کرکه لري، د محرومانو او مظلومانو دردونه او کړاوونه درك کوي، د علاج په لټه کې دي، له دې ناولې او ګنده محیط د نجات لپاره لاره او لارښود لټوي، د ټولنې د رواني وضعې له خطرناکو پایلو او عواقبو وېره لري، هم په خپلې فکري او اخلاقي وضعې راضي نه دي او هم د ټولنې د نورو خلکو له حالت پرېشان او اندېښمن دي، داسې خلك له خپلو دغو مواصفاتو سره د اسلامي دعوت اصلي مخاطبین دي، دوی ته د مسلمانو دعوتګرانو پیغام د فهم وړ دئ او په مبارزه کې ئې ملګري، دغو ته باید توجه وشي. قرآن دا د هدایت ځلانده مشعل، د زړه سواندو دعوتګرانو لارښود، دغې ډلې ته بې

اعتنائې او هغې بلې ته اعتناء او پاملرنه جدي او د عتاب وړ اشتباه ګڼي. نه ښايي چې په يوې جهل ځپلې ټولنې کې د وګړو اجتماعي موقعيت ته په پام سره له دوی سره چلن وشي، چا ته چې دې فاسد او غیر عادلانه نظام ښه موقعيت او امتيازي حيثيت او اعتبار ورکړی، نفوذ، رسوخ او وجاهت ئې ورپه برخه کړی، هغه ئې واکمن او ځواکمن ګرځولی، د مال او ثروت خاوند، داسې نه چې د دغې ټولنې د معيارونو تر اغېز لاندې راشو او دغو خلکو ته توجه او اعتناء وکړو او اهميت ورکړو او په مقابل کې ئې هغه څوک بې اهميت وګڼو او اعتناء او التفات ورته ونه کړو چې له خاص اجتماعي حيثيت برخمن نه دئ، له نظرونو لوېدلی، حاکم نظام د ده د ذلت او سپکاوي عوامل برابر کړي، بې وزله او ناتوان دئ، يو مؤمن دعوتګر بايد داسې نه وي او هيڅکله دا غلطي ونه کړي، که نه نو ستره او نه جبرانېدونکې اشتباه به ئې کړې وي، ځان او دعوت ته به ئې تاوان رسولی وي، بايد دا عمل يو عادي او ساده حرکت ونه ګڼو، مګر نه ګورو چې په دې اړه يوه مکمله او له عتابه ډکه سوره نازله شوې؟!

قرآن د پيغمبرانو د الهي نهضتونو د څېړلو په بهير کې په دې ټکي ډېر ترکيز کوي چې د تاريخ په اوږدو او د زمانې په هر پړاو کې تل د ټولنې مستضعفينو او محرومانو د پيغمبرانو ملګرتيا کړې، د ولس بې وزلې د دوی په خوا کې ودرېدلې او ځوانانو پرې ايمان راوړی، خو مستکبرينو، مترفينو، ملأ، اشراف، صنادید او د قوم مشرانو د دوی مخالفت ته ملا ټرلې، په دې ټکي جدي ترکيز ښيي چې دا د پيغمبرانو عليهم السلام او د دوی د تګلاري، کړنلاري او دعوت يوه مهمه ځانګړتيا او خصوصيت دئ، د دوی پر خط تلونکي مؤمن مبارزين او دعوتګران بايد د دغو لارښوونو مطابق، د دوست او دښمن په تفکيك او د آشنا او پردي په بېلولو کې په پوره بصيرت او زيرکتيا عمل وکړي، په دې ارتباط ناسم چلن او له تمييز پرته له هر چا د ملګرتيا طمع درلودل، د دې باعث شي چې دعوتګر د دوست او دښمن په پېژندو کې اشتباه وکړي، د غلط او بې ځايه انتظار له کبله له يأس او ناهيلۍ سره مخامخ شي، هغه چا ته چې په اصل کې (دښمن) دئ پر هغه چا ترجيح ورکړي چې وروسته يا مخکې به د ده د دوستانو او ملګرو په ډلې کې ودرېږي.

كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾ فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ﴿١٤﴾ بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾

۱۱- نه؛ داسې نه ده؛ دا يوه يادونه ده. ۱۲- نو پند دي ترې واخلي څوک چې غواړي. ۱۳- په غوره غوره پاڼو کې. ١٤- لوړې، پاکيزه، ۱۵- په لاس د سفراوو، ١٦- مخور او

نېك خصلته.

۱۱-۱٦: په دې مبارکو آیتونو کې د پیغمبرانو د رسالت او د دې رسالت د حاملانو ځانګړتیاوي بیان شوې او دا مطلب توضیح کوي چې دا دعوت هغه مخاطبان منلی شي چې خاص مواصفات ولري، په چا کې چې دغه ځانګړتیاوي ونه موندل شي، نه د دې رسالت د حمل وړتیا لري او نه ئې د منلو، په دې شرح:

۱- دا دعوت په اصل کې یوه تذکره یعني یوه یادونه ده، خو د څه یادونه؟ خپل مخاطب ته څه ورپه یادوي؟ آیا انسان ته کومه داسې خبره شوې چې اوس ئې هېره کړې او پیغمبر علیه السلام راغلی چې دغه هېره شوې خبره ورپه یاد کړي؟! د قرآن ځواب دا دئ چې هو؛ انسان ته ډېر څه په هغه وخت کې ورښودل شوي چې دی ئې جوړاوو، دی ئې له ډېرو استعدادونو سره پیدا کړی، په ده کې ئې داسې لارښوونې، مَلَکې او استعدادونه اېښي چې د ده د لارښوونې لپاره ضروري وو، د پیدایښت په همغه سر کې ئې ده ته د ډېرو نورو خبرو تر څنګ دا هم ښودلې چې رب ئې څوك دئ، ضمیر او فطرت ئې په دې شهادت ورکړی چې پیدا کوونکی ئې الله دئ، د همدغې فطري لارښوونې په سبب ده چې هر انسان خدای مني، د انسانانو له پیدایښت تر نن پورې ډېر لږ کسان داسې لیدل شوي چې خدای نه مني، دا نه مننه ئې هم د انکار په توګه وي نه دا چې له زړه پرې قانع وي او د خپل انکار لپاره دلیل ولري، قرآن په دې خبرې سره چې دا یوه تذکره او یادونه ده، دې ته اشاره کړې چې قرآن انسان ته هغه حقائق ورپه یادوي چې ده هېر کړي، دا هغو کسانو ته یوه یادونه ده چې خپل (فطرت) ئې لړلی، د (ضمیر په صفحې) ئې زنګ لګېدلی، د همدې لپاره ئې خپل هغه خدای هېر کړی چې د ده فطرت پرې باور لري، له همدې کبله حقائق په خپله بنه نه شي لیدې، د سالم انساني فطرت غوښتنې ئې هېرې کړې، له خپل طبیعي او فطري مسیر بې لارې شوې، په دې یادونې سره غواړي هغه خپل اصل ته راوګرځي. د انسان په خټه کې اېښودل شوي استعدادونه د انسان د لارښوونې لپاره کافي دي، په دې شرط چې انسان ئې وکاروي، له راکد پاته کېدو او ځپلو ئې ځان وساتي او پرې نږدې چې خارجي عوامل ئې تر خپل اغېز لاندې ونیسي، خو انسان د خارجي عواملو تر اغېز لاندې راشي، خپل اصل هېر کړي، له الهي لارښوونو نه ډکه حافظه او په لارښودونکو استعداونو ځلانده ضمیر راکد پرېږدي، له کارولو ئې غافل شي، د ده د راویښولو لپاره پیغمبران علیهم السلام راشي، د دې لپاره چې هېر شوي ورپه یاد کړي. دا فطري لارښوونې د انسان په شمول ټولو ژوو ته شوې، کېدی شي لاندې مثال دا موضوع تاسو ته ښه روښانه کړي: بحري کشپ له اوبو راووځي، د بحر په ژېر کې یو مناسب ځای غوره کړي، شګمنه زمکه وکني، هګۍ په

کې واچوي، تر شګو ئې لاندي کړي، سېې ئې پټي کړي او بېرته د بحر په لور لاړه شي. له څه مودې وروسته، په هګیو کې ئې بچي راپیدا شي، هغه ماتي کړي او ترې راووځي، شګي یوې خوا بلې خوا ته وشیندي او په ډېر سرعت او منډه د بحر په لوري په همغه لار وخوځېږي چې د دوی تر پیدایښت وړاندي د دوی مور پرې تللې وه!! غواړي له هیڅ ځنډ پرته ځان بحر ته ورسوي، په دې پوهېږي چې که بحر ته ځان ونه رسوي نو مرغان ئې خوري. ما ته ووایئ: چا د کشپ دغو بچیانو ته چې له هګیو د راوتو په وخت کې ئې خپله مور هم نه ده لېدلې او داسې څوک ئې هم نه دئ موندلی چې دوی ته ووایي: ستاسو د اوسېدو ځای بحر دئ او بحر ته د رسېدو لار دغه، ژر کوئ خپلې مور ته ځان ورسوئ که نه نو بحري مرغان مو خوري!! چا دغه لارښوونې د دوی په زړه او دماغ کې اېښې دي؟ د انسان په ذات او خټه کې چې کوم استعدادونه اېښودل شوي، دې ته ورته دي، فرق په دې کې دئ چې د حیوان تل فعال وي او نه ئې هېروي خو انسان ئې کله په خپل لاس غیر فعال کړي او کله هم هېر، دا ځکه چې د انسان ظرفیتونه او استعدادونه تر حیواناتو زیات او پېچلي دي، د دغو حساسو، پراخو او پېچلو استعدادونو تر منځ یووالی او تنسیق په ډېر لږ بې احتیاطۍ سره له منځه ځي، د یوه د انحراف او له بهرني محیط د اغېزمن کېدو په صورت کې یا د ټولو نظم ګډوډ شي او یا ځیني راکد او غیر فعاله، دا داسې وګڼئ لکه یو ستر او حساس کمپیوتر چې د ډېرو دقیقو محاسبو او ګڼ شمېر کارونو تر سره کولو وړتیا لري، که د دې حساس کمپیوتر یوه برخه په ویروس ککړه شي، ټولې برخې ئې اغېزمني شي، محاسبې ئې غلطي او کارونه ئې نیمګړي، لکه چې دا حساس کمپیوتر تر یوه ساده کمپیوتر چې یوازي څو محدود کارونه کولی شي، بیا بیا څارني ته ضرورت لري، انسان هم دې ته ورته دئ، دې ته ضرورت لري چې څارنه ئې وشي، هېر شوي ورپه یاد شي، راکد شوي استعدادونه ئې فعال شي، ویده حافظه ئې راویښه کړی شي او د ضمیر له صفحې ئې ګردونه پاک کړی شي.

۲- خو دا تذکر او یادونه یوازي هغه چا ته ګټه رسولی او له خوبه ئې راویښولی شي چې په خپله د ویښېدو اراده او تلوسه لري، دا ځکه چې انسان آزاد او د ارادې خاوند پیدا شوی، له دوو بدیلونو د یوه د انتخاب آزادي لري، کله چې د دوو لارو په سر ودرېږي کولی شي یوه ئې غوره کړي، دا په ده پوري مربوطه ده چې د دې تذکر په وړاندي څه عکس العمل ښیي، خوځېږي، ویښېږي، هېر رایادوي او پند اخلي که بې اعتنائي کوي، په خپلې وضعي راضي پاته کېږي او خپل اصل ته له راګرځېدو ډډه کوي!!

۳- دلته د دې تذکر د اړوند صحیفو او د حاملانو ئې څو ځانګړتیاوي بیان شوې: دا

صحيفې مکرمې دي، لوړې او پاکيزه دي او د داسې سفيرانو په لاس کې چې عزتمن او نېکوکار دي. سفرة د سافر جمع ده چې ځينو د ليکونکي او ځينو د سفير (استازی او مصلح) په معنی اخيستې، د سفير معنی ئې دقيقه برېښي او په دې سره دغه مطلب ته اشاره شوې چې د دې صيحفو حامل فرشتې او يا د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه صحابه چې د دې قرآن حاملان وو، عزتمن او نېک دي. په يوه روايت کې په دې اړه داسې راغلي:

عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «مَثَلُ الَّذِى يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهْوَ حَافِظٌ لَهُ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ، وَمَثَلُ الَّذِى يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهْوَ يَتَعَاهَدُهُ وَهْوَ عَلَيْهِ شَدِيدٌ، فَلَهُ أَجْرَانِ». متفق عليه، واللفظ للبخارى.

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه مثال چې قرآن لولي او په داسې حال کې چې حافظ ئې وي، دی به له السفرة الكرام البررة سره وي او د هغه چا مثال چې لولي ئې او ساتنه ئې کوي، خو پرې ګران تمامېږي، ده ته به دوه اجرونه وي.

دلته د دې يادونې اړوند صحيفو ځانګړتياوي او د دې تذکر د رسوونکو سفراوو مواصفات د دې لپاره راغلي چې خصوصيات ئې ښه څرګند شي او موږ ته وښيي چې څوک او له کومو ځانګړتياوو سره دا تذکر منلی شي او له چا بايد د دې کتاب د منلو انتظار ولرو، د موافقې او ملګرتيا طمع مو بايد له هغو وي چې پورتنۍ ځانګړتياوي په کې مومو، د قريشو هغه مشران چې نوموړې غونډې کې اهميت ورکړی شو د دې وړ نه وو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته اعتناء کړې وی، په دوی کې پورتني مواصفات نه وو، دوی په الهي معيارونو کې د عزت خاوندان نه بلکې ذليل دي، پاک نه ناولي دي، مخور نه سپک دي، بد قوله او بد فعله دي، نه نېک، وفادار او په خپلو ژمنو ولاړ، له دوی د ملګرتيا، د دعوت قبلولو او له صف سره د يوځای کېدو انتظار بې ځايه وو، بايد د دوی په ځای د داسې چا په لټه کې وو چې پورتنۍ وړتياوي په کې احساس کړو.

قُتِلَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَآ أَكۡفَرَهُۥ ﴿١٧﴾ مِنۡ أَيِّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾ مِن نُّطۡفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴿١٩﴾ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقۡبَرَهُۥ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا يَقۡضِ مَآ أَمَرَهُۥ ﴿٢٣﴾

۱۷- مرګ په دې انسان، دا څه شي دی کافر کړ؟ ۱۸- له څه ئې راپيدا کړ؟ ۱۹- له

يوې وړې نطفې، پيدا ئې کړ او جوړ ئې کړلو سم په اندازه. ۲۰- بيا ئې ورته لار کړله آسانه. ۲۱- بيا ئې مړ کړ، نو ئې ښخ کړلو په گور کې. ۲۲- بيا چې کله وغواړي هغه به منتشر کړي. ۲۳- نه؛ داسې نه ده؛ نه ئې کړو تر سره هغه څه چې دی الله وو پرې گمارلی.

۱۷-۲۳: بايد وگورو چې په دې مبارکو آيتونو کې دا عتاب او گواښ کوم انسان ته متوجه دئ او څوک د الهي نعمتونو په اړه کافر او ناسپاس گڼل شوی؟ په لږ دقت او د آيتونو سياق و سباق ته په پام سره کولی شو په دې پوه شوو چې دا همغه انسان دئ چې په مخکينيو آيتونو کې پرې بحث شوی، هماغه چې پيغمبر عليه السلام ورته اعتناء کړې وه، په دې طمع چې دا التفات به باعث شي چې هغه د دې کريمانه چلن درناوی وکړي، پاس ئې ولري، خپل دريځ بدل کړي، له مخالفت لاس واخلي او د رسول الله صلی الله عليه و سلم دعوت ته متمايل شي. خو د الهي نعمتونو په اړه د ده کفران او ناسپاسي ته په پام سره رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده د دعوت وارثانو ته ويل شوي چې له هغه انسان دا طمع مه کوئ چې د خپل منعم رب د ټولو سترو سترو نعمتونو قدر نه کوي، گمان مه کوئ چې ستاسو کريمانه استقبال او احترام به دوی له خپل مخالفت واړوي او ستاسو بلنې ته به مثبت ځواب ووايي.

مگر نه گورئ چې دی د خپل هغه پالونکي رب په وړاندې ناشکرې کوي چې دی ئې له يوې وړې نطفې پيدا کړ، روغ، رمټ، نه يوازې دا چې پيدا ئې کړ، بلکې د ژوند طريقه ئې وروښوده، په زمکې کې ئې د ژوند ټول ضروري شرائط ورته برابر کړل، د رزق او روزې بندوبست ئې ورته وکړ، که څوک له دغو ټولو نعمتونو سترگې پټوي، ناشکرې ئې کوي، نه خپل رب منې، نه ئې حکم ته غاړه ږدي او نه ئې د نعمتونو قدر کوي، څنگه ممکنه ده چې دا ناسپاس انسان به ستا د يوې پاملرنې، اعتناء او درناوي قدر وکړي، ستا دعوت به ومنې او ستا ملگرتيا ته به تيار شي؟!! په دې آيتونو کې لاندې نعمتونه د دوی مخې ته اښودل شوي:

۱- د ده پيدايښت له يوې نطفې.

۲- دی ئې متوازن او متعادل پيدا کړ، ټول ضروري استعدادونه ئې ورکړل، عمر، صورت او څېره ئې، جسمي ځواک او عقلي او فکري توان ئې، رزق او روزې ئې، دا ټول د ده پالونکي رب ورته ټاکلي.

۳- دنيا ته د راتلو لار ئې ورته آسانه کړه، د ښايسته او سوکاله ژوندلارې ئې وروښودې او په زمکې کې ئې د ده د ژوند ټول ضروري اسباب برابر کړل، زمکه او د هغې وضعيت ئې

داسي جوړ کړ چې د انسان له فطري اړتياوو او غوښتنو سره متناسب وي او دی ئې داسي جوړ کړ چې د زمکې پر سر خپل دې کور کې ژوند ورته ممکن وي.

٤- د مرګ سنت الله جل شأنه وضع کړ او په ګور کې ښخولو طريقه ده وروښوده، هم مرګ يو نعمت دئ او هم په انسان کې دا احساس چې خپل مړي ښخوي، که مرګ نه وی له يوې خوا به نړۍ لا د مخه ډکه شوې وه، زما او ستا د راتلو لپاره به ځای نه وو او وار به نه رارسېدو، له بلې خوا به انسان د زړښت داسي بد پړاو ته رسېدو چې تر ژوند به ئې مرګ په سلهاوو ځله غوره وو، په زړښت کې به د غوښې يوه بوی ناکه بوټۍ ترې جوړېده. همدا راز دا ستا مرګ دا حقيقت درته په ګوته کوي چې دلته کوم ذات شته چې د مرګ پربکړه د هغه له لوري صادرېږي!! ما ته ووايه: دا څوک دئ چې ته ئې پيدا کړی يې او تا وژني؟!! انسان نه غواړي چې ناروغ او کمزوری شي، زوړ شي او ومري، د ځوانۍ د وخت ټول توان، ځواک، استعدادونه، شور او شوق له لاسه ورکړي، دا ولې هغه مجبور دئ چې ومري، ولې له مرګ چاره نه لري او خامخا د مرګ داعي ته لبيک وايي؟ ولې د مرګ چاره نه شي کولی؟ نه ترې تښتېدی شي او نه ئې له منګولو ځان ژغورلی شي؟!! آيا د ده مرګ د دې لپاره څرګند دليل نه دئ چې دلته کوم داسي ځواکمن او واکمن ذات شته چې دی ئې ارادې ته مقهور او محکوم دئ او همغه د ده د مرګ پربکړه صادروي؟!!

د مرګ قضيه له څو اړخونو د توجه وړ ده:

الف: کله چې انسان زوړ شي، خپل ځواکونه له لاسه ورکړي، ضعيف او ناتوانه شي، له پښو ولوېږي، د نورو د اوږو پېټی شي، مرګ ئې خوا ته راشي، دا وخت د ده په مرګ کې هم د ده خير او مصلحت پروت وي او هم د نورو؛ پالونکي رب، په عالم کې، د ټولو ژوو لپاره د مرګ سنت اېښی؛ چې زاړه، کمزوري، ناتوانه، عمرخوړلي، ضعيف، بيمار او د نورو د اوږو پېټي توکي؛ خپل ځای ځوانو، ځواکمنو، سمسورو، شېرازو، نشيط او خوځنده توکو ته پرېږدي، که دا حکيمانه الهي سنت نه وی، انسان او ټولنه به ئې له څومره بد برخليک سره مخامخ کېدل او څومره ستونزي او کړاوونه به ئې ورته راولاړ کړي وو؟!!

ب- د انسان مرګ ښيي چې هغه د يوه داسي ذات د قاهره او ځواکمني ارادې په وړاندي مقهور او محکوم دئ چې د عالم تغيير نه منونکي سنن ئې وضع کړي او پر ټولې هستۍ حکومت کوي. انسان نه غواړي بيمار، ضعيف او ناتوان شي، ځواکونه او استعدادونه ئې ويلي شي او په پای کې په مرګ محکوم شي، ټول هغه وسائل او امکانات چې په واک کې ئې دي او ټول هغه تدابير چې ورته مقدور دي او هر هغه څه چې کولی ئې شي، په دې ټولو هڅه کوي چې خپل مرګ وځنډوي او خپل عمر اوږد کړي، خو نه شي

کولی خپل اجل بدل کړي او څو شېبې نور په دنیا کې د پاته کېدو موقع تر لاسه کړي، ناچار به مرګ ته تسلیمېږي، سلاطین، شتمن او بډایان او هغه چې پراخ امکانات او ډېر ډېر وسائل او تسهیلات ئې په واک کې دي، په قصرونو، دنګو دنګو، کلکو، خوندي او مصونو ماڼیو کې اوسېږي، حاذق حکیمان او طبیبان ئې په خدمت کې، مجهز روغتونونه، له پرمختللو تجهیزاتو سره، ګرانه او آزمویل شوې دوا ورته میسر، خو سره له دې ټولو د مرګ په وړاندې بې چاره!! ولې له مرګ د تېښتې چاره نه مومي؟ څه او د چا اراده ئې له مرګ تېښتې ته نه پرېږدي؟ د مرګ دا پیاوړی، مضبوط او نه بدلېدونکی سنت چا وضع کړی او د مرګ پرېکړه څوک صادروي؟ قرآن وایي:

فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾ الواقعه

کله چې ستاسو روح ستوني ته راورسېږي او تاسو دغه وخت (خپل مرګ یا د نورو مرګ) ګورئ او موږ (الله تعالی) تر تاسو ورته نژدې، (له تاسو ټولو ئې طمع شلېدلې او هیلي ئې یوازي الله ته) خو تاسو (ما) نه وینئ، نو که تاسو (د الله د ارادې په وړاندې) مقهور او محکوم نه یئ، نو (دا روح) بېرته وګرځوئ، که رښتیني یئ!!

که ستا ادعاء دا ده چې خدای نشته او دا عالم کوم قهار او جبار ټولواک نه لري او ته ئې د قاهره سننو په وړاندې محکوم نه یې، که په خپلې دغې ادعاء کې رښتینی یې، د خپل مرګ مخه ونیسه!!

ما ته ووایه: چا پیدا کړی یې، ستا په پیدایښت، ستا د برخلیك په ټاکلو او د هغو استعدادونو په تعیین کې چې په تا کې اېښودل شوي، له الله پرته د چا اراده دخیل ګورې؟!! نه تا په خپله پر هغه څه اغېز درلود او نه ستا مور او پلار، په خپل شکل، صورت، ځواکونو، استعدادونو، عمر، رزق او روزي کې له الله پرته څوك داسي مومې چې ونډه او اغېز په کې ولري؟! دانه او مېوه څوك راشنه کوي؟ ستا تر پیدایښت مخکې، تا ته د مور په تې کې شیدې څوك راپیدا کوي؟ د چا په اراده دنیا ته راځې، ورو ورو وده کوې، کمال ته رسې، زوال دي پیل شي، زړښت ته ورسېږي او په مرګ محکوم شې؟

ج- دا مَلَکه او شعور هم الله تعالی په تا کې اېښی چې نه غواړې د خپل مړي ورور جثه پر زمکه پرته، متعفنه او بوی ناکه او د ځیرونکو حیواناتو په منګولو کې وګورې!! دا ولې انسان غواړي د خپل ورور جنازه دفن کړي، دا احساس چا په کې اېښی؟ کله چې د آدم

علیه السلام د دوو زامنو تر منځ نښته وشوه او یو ئې ووژل شو، قاتل چا او څنګه دې ته متوجه کړی شو چې باید د خپل مقتول ورور جسد دفن کړي؟ قرآن وایي: یو کارغه ئې ولید چې زمکه په خپلې منښوکې سپړي، چې څه تر خاورو لاندې کړي، دا صحنه هغه ته ښیي چې څنګه د خپل مړي ورور په ښخولو سره د ده په نسبت خپله عاطفه اشباع کړي، ګورئ چې یو تذکر او یادونه، د یوه مرغه په واسطه، دا د ده اړتیا وه، په همدې سره ئې لارښوونه وشوه.

د- د انسان مرګ د ده د ژوندون پای نه بلکې له یوې مرحلې بلې ته انتقال دئ، هغه خدای چې انسان ئې پیدا کړی او د ده د مرګ پرېکړه کوي، هغه به ئې بیا راژوندی کوي، دا د الهي نعمتونو یوه بله بېلګه ده، چې د ده مرګ ئې تلپاته مرګ نه دئ ګرځولی، بلکې بیا ئې راژوندی کوي، که انسان بیا نه راژوندی کېدی او دې ژوندون ته ئې څه طمع او هیله نه وی، نه یوازې دا چې ده او د ده خپلوانو او مینه والو ته به د دې حالت زغمل ګران وو او دا عالم به ورته خوشی، بې هدفه او بېهوده برېښېدو، بلکې له عدالت او انصاف لرې هم، په خپل ژوند کې ګوري چې ځینې ظلم کوي، د نورو په حقوقو تېری کوي، په زمکه کې فساد خوروي، د بې وزلو او بې ګناه خلکو وینې تویوي، خو له دنیا داسې درومي چې نه ورسره حساب کتاب شوی او نه ئې د خپلو جنایتونو سزا لیدلې، نور ګوري چې ظلم پرې کېږي، مسلم انساني حقوق ئې ترپښو لاندې کېږي، خو په داسې حال کې مرې چې چا ئې چیغې وانه وربېدې او خپل حق ئې تر لاسه نه کړی شو. د عدالت تقاضی خو دا ده چې هم هغه ظالم خپله سزا وګوري او هم دا مظلوم خپل حق تر لاسه کړي، د همدې لپاره الله تعالی د قیامت ورځ ټاکلې، په دې عالم کې دا دقیق نظم، تعادل او توازن، د هر څه هدفمني او د ټولو مخلوقاتو تر منځ یووالی او ژور تنسیق ښیي چې دا کائنات یو عادل او حکیم رب او پالونکی لري، د ده عدالت دا حکم کوي چې قیامت راولي او له خپلو بندګانو سره محاسبه وکړي، ظالم مجازات کړي او مظلوم ته خپل حق ورکړي، یقیناً چې په دې سره الله تعالی د انسان په نسبت یوه ستره پېرزوینه او لورېینه کړې.

هـ- خو وګورئ چې دا ناسپاس او ناشکر انسان د خپل رب د د غو ټولو نعمتونو او پېرزوینو سره سره څه کوي، څومره بې شمېره پېرزویني ئې پرې کړې، هم د ده په خپل ذات، جوړښت او پیدایښت کې او هم د ده په غوره برخه لیك، تقدیر، استعدادونو او ځواکونو کې، هم د زمکې پر سر ده ته د سوکاله ژوند د ټولو ضروري شرائطو په برابرولو کې او هم ئې په مرګ او بیا ژوندون کې!! د دغو سترو سترو نعمتونو په وړاندې هغه څومره بې پاسه دئ، خپل منعم رب هېروي، له هغه بغاوت او عصیان کوي، له هغه چا چې د

خپل رب په وړاندي داسي ډئ، څنګه له هغه دا طمع لرئ چې ستاسو د ورين تندي استقبال به ئې دې ته تیار کړي چې له مخالفت لاس واخلي او ستاسو دعوت ومني؟!!

فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ﴿٢٤﴾ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَٰكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٢﴾

٢٤- نو انسان دي خپل طعام ته نظر وکړي. ٢٥- چې په څنګه تویولو مو راتوی کړلې اوبه؟ ٢٦- بیا په څنګه شق کولو سره شق مو کړه دا زمکه؟ ٢٧- نو راشنه مو کړه په دې کې څه دانه. ٢٨- او انګور او ساګ سابه. ٢٩- او وني د زیتون او د کجورو. ٣٠- او ګڼ سمسور باغونه. ٣١- هم مېوه او هم واښه. ٣٢- یوه متاع ستاسو لپاره او ستاسو د څارویو.

٢٤-٣٢: په دې مبارکو آیتونو کې دغه ناسپاس انسان د خپل رزق او روزي په اړه غور او فکر ته رابلل شوی او په دې اړه څو اساسي خبرو ته اشاره شوې:

- دا انسان دي وګوري چې رب ئې څنګه له آسمان اوبه راوروي، په دې سره مړه زمکه په خوځښت راولي، د هغې دننه د بوټو زړي خوځوي، وده ورکوي، د زمکې سخت قشر چوي، تنکي بوټي له خاورو سر رااوچتوي، بهر راووځي، شنه او سمسور شي، په خپل ساق ودرېږي، پاڼي او ګل وکړي، دانه او مېوه وکړي، ووایئ: د آسمان او زمکې، دا د انسان د کور فرش او چت ترمنځ، دا یووالی او ګډ کار چا رامنځته کړی؟ چا آسمان ته ویلي چې اوبه ووروه او زمکې ته ئې ویلي چې په دې اوبو سره د انسان لپاره دانه او مېوه راوټوکوه؟ ښه پوهېږي چې په دې کار کې له الله پرته هیڅوک څه ونډه نه لري او هیڅوک له هغه سره په دې کار کې شریك نه دئ.
- ته او ستا په خدمت کې څاروي د خپل ژوند لپاره خوراك ته ضرورت لرئ، د انسان او حیوان په جوړښت کې د همدې خاوري توکي کارول شوي، د بقاء لپاره همدغو توکو ته بیا بیا اړتیا احساسوي، خو دا نه شي کولی چې له دغو توکو مخامخ او په هغوی کې له ژورو تغییراتو پرته استفاده وکړي، ستا پالونکي رب دا ترتیب نیولی چې د خاورو دغه ضروري مواد د ونو او بوټو په ذریعه ستا خوراك او هضم ته برابر کړی شي، دا کار د زمکې او آسمان تر منځ د دغه ګډ کار په نتیجه کې تر سره شي، له بره باران وورېږي او د زمکې زړه کې د ونو او بوټو جړې د اوبو په مرسته دا توکي جذب کړي او ستا لپاره ئې په داسي

خوندوري مېوې او دانې بدل کړي چې نه يوازې د هضم وړ وي بلکې ښايسته، جالب، لذيذ، پاك، نظيف، چې مينه دې پرې راځي، چې زړه دې تخنوي، له بوی او له رنګ ئې خوند اخلي،... په دغو دانو او مېوو کې اوسپنه، کاربن، کلسيم، مس او ګڼ شمېر منرالونه، ويتامينونه او د ژوند لپاره ضروري توکي تعبيه شوي، خو په يوه داسې تناسب سره چې ستا وجود ورته ضرورت لري او په داسې بڼه کې چې ته ئې هضمولی او جذبولی شې، هره دانه او مېوه ئې په ګڼ شمېر پوستکو پوښلې، د دې لپاره چې پاکه او ستره وي او د مکروبونو او ستا ژوند ته له مضرو عواملو خوندي وي، چې کله د مېوه لرونکو ونو خوا ته ټېرېږې، د پاڼو او ګلانو له ښکلا ئې خوند اخلې، ښايسته بوی ئې ستا دماغ تازه کړي، رنګ، بوی، شکل او جوړښت ئې تا ځان ته راکاږي، طعم ئې خوندور او هضم ئې آسان!! ما ته ووايه: څوك دا وڼي او بوټي، په دې ګماري چې د زمکې په زړه کې سخت او کلك توکي، د خپلو نازکو جړوو له لاري جذب کړي او د ښايسته، ښکلې، خوندوري او د هضم وړ مېوې او دانې په بڼه کې ئې تا ته وړاندې کړي؟!! څومره ظالم او بې پاسه دئ هغه انسان چې له دغو ټولو نعمتونو ګټه اخلي، پرته له دې چې د خپل رب د نعمتونو او احساناتو قدر وکړي او د هغه د پېرزوينو مرهون وي!!! آيا له داسې کافر او ناسپاس انسان دا انتظار سم او پر ځای انتظار دئ چې معمولې اعتناء او التفات به ئې هومره اغېزمن کړي چې دا يو احسان وګڼي، ستا دعوت ومني او د الله په لوري په دې سفر کې ستا ملګرتيا وکړي؟!!

فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

۳۳- نو کله چې راورسي هماغه تونده چيغه. ۳٤- هغه ورځ چې هر څوك تښتي له خپل وروره، ۳۵- او له مور او خپل پلاره، ۳٦- او له خپلې ښځې، خپل اولاده، ۳۷- په دې ورځې به هر يوه د دوی ته داسې مشغولتيا وي چې په خپله به ئې بس وي. ۳۸- په دې ورځې به ځينې څېرې سپينې او رڼې وي. ۳۹- مُسکېدونکې، ښاد، خوشحاله. ٤۰- او ځينې څېرې داسې چې دې ورځ کې به پراته وي پرې ګردونه. ٤۱- توروالي او تيارو به وي پوښلې. ٤۲- همدا دي آ بدکاره کافران.

۳۳-۴۲: په ځغلنده نظر سره د دې آیتونو څو ظریف ټکي زموږ پام ځانته جلبوي:

ولې دلته د قیامت ورځ د صاخة (توند او تېزه چیغه) په نامه یاده شوې، د دې نومولو او د سورې د اساسي مضامینو تر منځ څه تړاو شته؟ دا تړاو موندل لږ غور غواړي او هغه داسي:

۱- د سورې په سر کې د قریشو له سردارانو سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغي غونډې ته د عبدالله بن ام مکتوم د ناڅاپي ننوتو، د خبرو په منځ کې د ده مداخله او هغه غږ په ګوته شوی چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ناخوښۍ او خفګان باعث شو، د سورې په پای کې د مخاطب پام د قیامت د ورځې هغه حالت ته راګرځول شوی چې په صور کې له پو کېدو او له توندي او هیبتناکې چیغي سره به پیل شي، د دې ورځې له هیبته او د دغي چیغي له وېرې به هر څوك داسي وېرې اخیستی وي چې له ځان پرته به ئې هیڅا ته پام نه وي، خپل نژدې دوستان به ئې هم هېر وي، ټولې مخکینۍ اړیکي به شلېدلې وي، له دې هیبتناکې صحنې به د تېښتې او پناه ځای لټوي، په لږ دقت سره راته جوتېږي چې د هغي مقدمې او دغي تتمې تر منځ ژور ارتباط شته او مخاطب ته دا مطلب څرګندوي چې په هغي غونډې کې د عبدالله بن ام مکتوم هغه ناڅاپي غږ نه بلکې د قیامت د ورځې دا هیبتناك غږ باید جدي وګڼل شي، په هغه مجلس کې د قریشو د دغو مغرورو سردارانو د خفګان او نارضائې په ځای باید د الله تعالی له محاسبې او له هغي ورځې اندېښنه ولرو چې په توندي چیغي سره به پیل کېږي، د دغو سردارانو کاذب جاه او جلال، غولوونکی ظاهر او په ټولنې کې د دوی وجاهت او نفوذ به هغه ورځ هیڅ ارزښت نه لري، د دوی د نفوذ او رسوخ ټغر به ټول شوی وي، ټولې مخکینۍ اجتماعي اړیکي به شلېدلې وي، دوست له دوست، مطیع له مطاع، واکمنان له خپلو کمزورو پلویانو به تښتي، د څېرو واقعي ماهیت به راڅرګند شي، هغه څېرې چې نن ئې خړې، په ګردونو پټې او ستومانه ګورې، څوك ورته اعتناء نه کوي او په ټولنې د حاکمو معیارونو له مخې ذلیل، بې عزته او بې قدره ګڼل کېږي، خو د الهي معیارونو له مخې ښایسته مقام او منزلت لري، معزز او مکرم دي، په هغه ورځ به ئې څېرې روښانه، پر شونډو مسکا، ښاد او خوشحال وي، خو هغه چې د کفر، ظلم، فساد او بدکارۍ له کبله په الهي معیارونو کې ذلیل او سپك وو، خو د جهل ځپلې ټولنې غلطو معیارونو وجاهت او اعتبار ورکړی وو، په دې ورځ به ئې مختورن، ټیټ سري، شرمنده او ذلیل وګورې، د دوی اصلي ماهیت او د زړونو تورواڼی او ناپاکي به راڅرګنده شي او د دوی دا په ظاهر کې سپین مخ به تور کړي.

۲- په دې ورځ به یو له بله یا له دې کبله تښتي او د دوستۍ اړیکي به ئې شلېدلې وي

چې مشر وو، نورو د ده اطاعت کاوو، دوی ئې غولولې او بې لارې کړې وو، نن به له دې وېرې تښتي چې پلویان ئې تر ګرېوانه ونه نیسي او ونه وایي چې تا مونږ بې لارې کړو او له دې بد عاقبت سره دي مخامخ کړو، تا په ګناه، کفر او عصیان کې پرېوتو ته اړ کړو او زمونږ سزا باید تا ته درکړی شي. او یا له دې کبله چې په دنیا کې به ځینو له ده د شفاعت طمع درلوده او ګمان به ئې کاوو چې د ده لمن مو نیولې، دی به مو د الله له عذاب ژغوري، نن به وېرېږي چې داسي نه هغه غولېدلي پلویان ئې راشي، دی تر غاړې یا لمني ونیسي، یا د شفاعت او سپارښتني غوښتنه ترې وکړي او یا ئې الله ته د اصلي مجرم په توګه وړاندي کړي، نو ځکه به له هر چا تښتي. د دې ورځې هیبت به هومره وي چې هیڅوک به بل ته د اعتناء او التفات مجال نه لري، هر څوک به په خپل ځان مصروف وي او د نجات د لاري په لټه کې، اجتماعي اړیکې او هغه روابط چې نن ئې یو له بل سره نژدې کړی، ځینو ته ئې وجاهت ورکړی، د نفوذ او اعتبار خاوند ئې ترې جوړ کړی او دوی ته ئې قدر او اعتبار ورکړی، دا خو پرېږده په هغه ورځ به ډېري مضبوطي او نژدې اړیکې هم شلېدلې وي، د ورور او ورور ترمنځ، د ښځې او مېړه ترمنځ، د پلار او زوی ترمنځ، دا ټولې اړیکې به شلېدلې وي.

۳- تاسو نن په خپلې ټولنې کې ځینې خلك په داسي حالت کې ګورئ چې پر مخونو ئې د فقر، لوږې او بې وزلۍ ګردونه پراته دي، په څېرو او جامو کې به ئې د محرومیت او محکومیت نښې له ورایه ترسترګو کېږي، ژېړ او ګونځي ګونځي مخ، شلېدلې شلېدلې جامې، په ګردونو پټ وښتان، ستړي او ستومانه، داسي نه چې د دوی دا د ترحم وړ حالت ستا د بې اعتنائي موجب شي، بې اهمیته او بې قدره ئې وګڼې، ښایي د دغو خړو څېرو، وښتانو او جامو خاوندان په الهي معیارونو کې ستر، مخور او ارزښناك شخصیتونه وي، ښایي په دغو خړو جامو کې بیدار ضمیر، حساس وجدان، پاك زړه، قوي ایمان او مضبوط شخصیت پټ وي، حقیقت به ئې د قیامت په ورځ د ده په ځلانده او روښانه څېرې کې راڅرګند شي، داسي نه چې د چا ظاهري وضع معیار وګرځوې او د دغو بې وزلو په ځای هغه چا ته اهمیت ورکړې چې ظاهر ئې ښایسته او جالب، جامې ئې ښکلې او ګران بیع او په څېرو کې ئې د سوکالي او تنعم آثار څرګند، پام چې ظواهر ملاك او معیار ونه ګرځوې او د دې له مخې له خلکو سره چلن ونه کړې!! د چا ظاهري بڼه دي ونه غولوي، د چا اجتماعي موقعیت ته په پام سره د هغه قدر، منزلت او مقام مه ټاکه او د دې له مخې ورسره معامله مه کوه، هغه چې کافر شوی او د الهي نعمتونو په وړاندي کفران کوي، که څه هم ظاهر ئې جالب او جذاب وي، په الهي معیارونو کې ذلیل او سپك

ګڼل کېږي، د قیامت په ورځ به د الله په وړاندي تورمخی، شرمنده او سرکوزی ودرېږي، پام کوه چې د پیغمبرانو په مکتب او مسلك کې ایمان او کفر، صالح او بد عمل معیار دئ نه د چا اجتماعي حیثیت او اعتبار او په ټولنې کې د هغه وزن او قدر.

که غواړې د پیغمبرانو علیهم السلام په کرښه لاړ شې او موفق او بریالی دعوتګر وې نو د خپل مخاطب اجتماعي حیثیت او نفوذ ته په پام سره هغه ته اعتناء او اهتمام مه کوه او هغه څوك بې اهمیته مه ګڼه چې پر ټولنې حاکم سیاسي، اجتماعي او اقتصادي نظام په سپکه سترګه ورته کتلې، له نظرونو ئې اچولی، له فقر او لوږې سره ئې مخامخ کړی، د هغه د ذلت، سپکاوي او بې وزلۍ عوامل ئې برابر کړي، خو د حقیقت په لټه کې دئ او د ارشاد او هدایت تږی، باید کفر او ایمان، فجور او تقوی درته معیار او ملاك وي، باید هغه چا ته اعتناء ولرې چې د کفر او فجور له بدو پایلو وېرېږي، دغه احساس هغه دې ته هڅولی چې د حقیقت په لټه کې شي او له دې حالته د وتلو لار پیدا کړي، هغه چې (کافر) او(فاجر) دي او له (حق او حقیقت) بې نیاز او ستا له بلنې او دعوت بې نیازي او استغناء کوي، که هر څومره مخور وي او د لوږ اجتماعي حیثیت خاوندان، هیڅ اهمیت او ارزښت نه لري، هغوی په الهي معیارونو کې ذلیل او حقیر دي، د دوی سپك مقام به د قیامت په ورځ ښه څرګند شي.

ګورئ چې دې مبارکې سورې له سره تر پایه، ټول په هماغه ځانګړې قضیې، چې په دعوت کې ډېر اهمیت لري، بحث کړی او د دعوت په کار کې د باایمانو دعوتګرانو او د پیغمبرانو علیهم السلام د وارثانو اسلوب ئې په ټولنې کې د بېلابېلو مخاطبینو په اړه توضیح کړی او د هر چا په ارتباط ئې د دوی کړنلاره او دریځ ښودلی.

التکویر

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم التکویر (راتاوول) دئ چې د همدې سورې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۲۹ آیتونه لري، په مکه مکرمه کې نازله شوې، آیتونه ئې لنډ، وزن ئې ډېر جالب او خوندور، شعارونو ته ورته، په سر کې لنډ لنډ، چې ورو ورو اوږده شوي او د پای آیتونه د لومړنیو نژدې درې برابره شوي، له لومړي آیت تر څوارلسم پورې د آیتونو فواصل کُوِّرَت ته ورته هموزنه صیغې دي، له پنځلسم تر اتلسم پورې خُنس ته ورته، بیا د سورې تر پایه کریم، مکین او مجنون ته ورته هموزنه صیغې راغلې، خطاب ئې پرېکنده او قاطع،

د سورې له مضامینو سره ورته، لومړی د قیامت ابتدائي حالت، د لمر تورېدل، د ټولو ستورو تیاره کېدل، د غرونو خوځېدا او د عالم د اوسني نظام متلاشي کېدل انځوروي، بیا له قبرونو د راپاڅېدو صحنه او د الله لوري ته د تلو او الهي محاسبه او په دې کې د جاهلیت د دور تر ټولو ستره او شنیع ګناه، د نجونو ژوندۍ ښخول او ورپسې جنت او دوزخ تمثیلوي، چې په لیدو سره به ئې انسان دا درک کړي چې څه ئې دې ورځې ته راغونډ کړي وو او اوس به ئې ځای کوم وي، بیا په عالم کې د خورو نښو په استناد دا ادعاء ثابتوي چې د قیامت په اړه د پیغمبر علیه السلام وینا رښتینې ده او په پای کې مخاطبینو ته ویل شوي چې که د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا له نورو سره مقایسه کړئ او قضاوت وکړئ، حتماً به ئې په حقانیت پوه شئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ۝١ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ۝٢ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ۝٣ وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ۝٤ وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ ۝٥ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ۝٦

۱- کله چې راتاو کړی شي دا لمر. ۲- او کله چې تیاره شي دغه ستوري. ۳- او کله چې روان کړی شي دا غرونه. ٤- او چې کله پرېښودی شي بلاربې اوښي. ۵- او چې کله تَرېدونکي را غونډ کړی شي. ٦- او کله چې سیندونه تر ژۍ ډک شي.

۱-٦: په دې آیتونو کې د قیامت د لومړۍ مرحلې څو ستري ستري هیبتناکې صحنې انځور شوې:

۱- هغه وخت چې لمر به په خپل ځان راتاو کړی شي، داسې لکه څوک چې خپله پګړۍ پر سر راتاو کړي. د لمر دا وړانګې چې نن د شمسي نظام هري خوا ته تر لرو لرو خورېږي، د قیامت په ورځ به ئې خورېدل بند شي او لمر به له سترګو پټ شي، د بیان دا انداز لږ عجیب غوندې برېښي، مفسرینو ئې ېل ېل تعبیرونه کړي، تر ټولو غوره تعبیر هغه دئ چې وایي د لمر رڼا به پرې راتاوه شي، نور به ئې رڼا نه خورېږي، د دې تعبیر په اهمیت هلته ښه پوهېدی شو چې د لمر او نورو ځلانده سترو سترو ستورو په اړه د کائنات څېړونکو هغه تحقیقي نظریه واورو چې د شلمې پېړۍ په پای کې او له ډېرو تحقیقاتو وروسته وړاندې شوه. له دې آیت دوه تعبیره درلودی شو:

- زمور لمر چې نن ځلانده، رونړ او تود دئ، ورو ورو به سوړ شي، ځلا او رڼا به ئې کمه شي، په پای کې به په سوړ او تیاره ستوري بدل شي، داسې لکه ډېر نور ستوري چې په سر

کې ځلانده ول خو ورو ورو تياره شوي، لکه زمونږ زمکه چې له لمر او نورو ستورو د راجلا کېدو په وخت کې توده، ځلانده او روښانه وه، ورو ورو سړه شوه، چې نن خپله رڼا او تودوخه له لمر اخلي، يوازې په زړه او تل کې ئې خپل مخکينی حرارت ساتلی او هر څه په کې ويلي دي، خو بهرنۍ برخه ئې سړه او تياره ده، لمر به هم په همدې برخليك اخته شي، رڼا او تودوخه به ئې ختمه شي.

- کائنات څېړونکو د هغو تحقيقاتو په لړ کې چې د شلمي پېړۍ په وروستيو لسيزو کې تر سره شول، داسې ستر ستر ستوري وموندل چې د جاذبې قوه ئې دومره زياته او ځواکمنه ده چې خپل نور ئې هم نه شي ترې وتلی، د نور وړانګې ئې بهر نه شي خورېدی او د قوي جاذبې له منګولو ئې بهر نه شي وتلی، مونږ دا ستوري په عادي سترګو نه شو ليدلی، دغو ستورو ته ئې د بليك هول (توره کنده) نوم ورکړی، دا توري کندي په حقيقت کې تش او تور ځايونه نه دي بلکې ستوري دي چې جِرم ئې ډېر ستر او کتله ئې ډېره متکاثفه او درنه، د جاذبې قوه ئې دومره قوي چې نور ترې تښتېدی نه شي، د نور هره وړانګه چې ترې وتل وغواړي د همدې جاذبې په وسيله بېرته جذب کېږي. تحقيقات وايي چې ستر ستر ستوري په خاص حالت کې په دې برخليك اخته کېږي. د قرآن له دغو الفاظو معلومېږي چې لمر به هم يو وخت له داسې حالت سره مخامخ شي چې رڼا به ئې په خپل ځان راتاوېږي او د خورېدو مخه به ئې نيول کېږي!! که لږ دقت وکړو نو گورو چې په دې مبارکو آيتونو کې لومړی د لمر او بيا د ستورو تياره کېدو ته اشاره شوې، خو د لمر لپاره د تکوير (راتاوول) لفظ کارول شوی او د ستورو لپاره د انکدار (تياره کېدل) لفظ، له دې په واضح توګه معلومېږي چې لومړی به په لمر کې داسې بدلون راشي چې پلوشې به ئې له خپلې جاذبې بهر نه شي وتلی او د وړانګو خورېدل به ئې متوقف شي، خو داسې چې په خپله به د لمر په سر راتاو شي او بيا به ستوري له دې کبله تياره شي چې د لمر وړانګې به نه وررسي.

دا مبارك آيتونه د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز زمونږ مخي ته ږدي او له يوه داسې ژور او ستر علمي حقيقت پرده اوچتوي چې کائنات پوهان، له پېړيو پېړيو تحقيق وروسته اوس او د شلمي پېړۍ په دغو وروستيو لسيزو کې پرې پوه شول او دا ئې د راتلونکو نورو تحقيقاتو لپاره د يوې دقيقې علمي نظريې په توګه ومنله. که دغو آيتونو ته په سطحي نظر وګورو او د لمر او ستورو تياره کېدل د قيامت نښه وګڼو، خو د مطلب ټولو ابعادو او د آيتونو ټولو الفاظو ته عميقاً توجه ونه کړو او مخصوصاً د يوه کائنات څېړونکي په سترګه ورته ونه گورو، د دې وړاندويني په اهميت نه شو پوهېدی، خو که يوه محقق، حساس او

زیرك څېړونکي ته ووایو چې زمونږ قرآن څوارلس پېړۍ د مخه ویلي چې یو وخت به د لمر پلوشې په خپله د لمر په سر راتاو شي او خورېدل به ئې ودرېږي، هغه ته د قرآن د دغو آیتونو هر لفظ دقیقاً ترجمه او توضیح کړو او ورته ووایو چې قرآن د لمر د تیاره کېدو لپاره د تکویر لفظ کارولی او د ستورو د تیاره کېدو لپاره ئې د انکدار لفظ، د دې الفاظو معنی ورته بیان کړو، هرومرو به حیران شي او په ډېر دقت سره به ستا خبرو ته ځیر شي او حتماً به اعتراف وکړي چې په دې کې خامخا کوم ژور راز او سر پروت دئ، دا هغه حقیقت دئ چې ساینس پوهان له ژورو تحقیقاتو او له پېړیو پېړیو څېړنو وروسته پرې پوه شوي او لا د څېړنو په مقدمه کې دي او د قضیې په نورو اړخونو د پوهېدو لپاره په شدت سره مصروف دي، دا څنګه یوه انسان په څوارلسو پېړیو مخکې شرائطو کې داسې خبره کړې، څنګه په دې حقیقت پوه شوی، څنګه ئې دا ادعاء کړې چې یو وخت به د لمر هغه ځلانده وړانګې چې هري خوا ته خورېږي، په خپله د لمر په سر راتاو او لمر به تیاره شي، هغه څنګه پوه شو، چا پوه کړ، له کومې مرجع ئې دا پوهه تر لاسه کړه چې دا لمر به یو وخت زمونږ زمکې ته نه رڼا ورکولی شي او نه تودوخه؟!!

۲- د قیامت په رارسېدو او د لمر د ځلا له بندېدو سره سم به ستوري تیاره شي، دا ګڼ شمېر ستوري چې نن ئې تاسو په آسمان کې ځلانده او روښانه ګورئ، ډېر ئې په اصل کې تیاره دي، خپله رڼا له نورو منابعو اخلي، نور ځلانده شمسي منظومې رڼا ورکوي او د دوی د ځلانده او روښ معلومېدو باعث کېږي، د ستورو په یوې کړۍ کې یو ستر او ډېر ځلانده ئې په خپلې شا و خوا کې نورو تیاره ستورو ته رڼا ورکوي، لکه چې سپوږمۍ په اصل کې بې نوره ستوری دئ، د لمر وړانګې ئې روښانه کوي، کله چې د نور او رڼا دا ځلانده سرچینې له ځلا ولوېږي، ستوري به ئې له سترګو پټ شي. قرآن د دې مطلب په ویلو سره چې لومړی به لمر له سترګو پټ او وړانګې به ئې پر ده راتاو شي او ورپسې به ستوري تیاره شي، یوه ستر علمي حقیقت ته اشاره کړې، داسې یو حقیقت چې انسان ډېر وروسته او په شلمي پېړۍ کې ورباندې پوه شو. څوارلس سوه کاله مخکې څوك په دې پوهېدی شو چې د سپوږمۍ او ډېرو نورو روښو ستورو نور او رڼا خپله نه ده، بلکې له نورو سرچینو ئې اخلي؟ د دې وړاندوینې، د بیان اسلوب او د هغو الفاظو چې د دې مطلب د بیان لپاره کارول شوي، په اهمیت یوازې حساس او منصف محققین او پوهان پوهېدی شي.

۳- قرآن وایي: دا دنګ دنګ او درانه غرونه چې لویه برخه ئې د زمکې زړه کې او کمه ئې د زمکې پر سر او لوړوالي او سټروالي ته ئې په پام سره څوك ګمان نه کوي چې دا به کله هم له خپل ځای وخوځېږي، داسې ورځ به راشي چې دا به نه یوازې وخوځېږي، بلکې له خپل

خپل ځای به رابېل او روان شي. دلته هم د قرآن یو بل علمي اعجاز ترسترګو کېږي، د غرونو ښویېدل هم یوه نوې پېښه ده، چې وجه ئې د زمکې د هغه قشر او پوستکي زړښت دئ چې د ډېري په څېر کلك دئ خو ورو ورو او د هغو پر له پسې چاودنو په سبب سست شوی چې د زمکې له زړه او له خوټېدونکې برخي ئې راولاړېدونکي فشار، برني فشار او نورو عواملو له کبله رامنځته کېږي او د زلزلو او د غرونو د ښویېدو باعث کېږي. دا بهیر او له هغه راولاړېدونکې پېښې به سوکه سوکه او د زمکې له مزید زړښت سره متناسب زیاتېږي، نن مور په دې پوهېږو چې د زمکې تر برني خاورین قشر څو کیلو متره لاندې، یوه کلك ډبرین قشر د زمکې زړه او منځنۍ برخه احاطه کړې، د زمکې په زړه کې د حرارت درجه ډېره اوچته او هر څه په کې ویلي دي، د دوی له خوټېدو ستر فشار راولاړېږي، غواړي دا کلك قشر مات کړي او بهر راووځي، د پوستکي ضعیفي برخي مقاومت ونه کړی شي، وچوي او دا ویلي مواد په ډېر شدت سره د زمکې سر ته راووځي او مور ئې د اور شیندونکو په څېر ګورو، ډېر غرونه د همدغو چاودنو له کبله راپیدا شوي، انسان اوس په دې پوه شوی چې غرونه او د زمکې دا برنۍ برخه او په هغه کې ټول جامد توکي په اصل کې د زمکې د زړه په ویلي او خوځېدونکو موادو پراته دي، داسي لکه د اوبو پر سر د لرګي یوه تخته. د خاصو عواملو له کبله ئې د ثبات او استقرار بڼه غوره کړې، د استقرار او ثبات اوسنی حالت به د قیامت په ورځ له منځه ولاړ شي او غرونه به له خپل ځای وښویېږي. د قرآن د دې څرګندوني په اهمیت هم هغه علماء او محققین پوهېږي چې له ډېرو څېړنو وروسته په دې حقیقت پوه شوې.

٤- د صحرائي او کوچي عرب تر ټولو غوره شتمني د ده اوښ وو، په ځانګړې توګه نه میاشتنۍ بلاربه اوښه، چې بچي او شېدو ته به ئې سترګي په لار وو، که وغواړې د اوسني انسان تر ټولو غوره شتمني له هغې زمانې سره مقایسه کړې نو وایې به: د هغه وخت صحرائي عرب ته خپله اوښه داسي وه لکه د یویشتمي پېړۍ انسان ته آخري ماډل موټر او تر دې هم زیات غوره او بااهمیته، د قیامت د ورځي د هیبتناکه صحنو له وېرې به انسان دې ته ورته خپل ټول غوره شیان هېر کړي، هیڅ څه ته به اعتناء نه لري، هر څه به پرېږدي او له هر چا به تښتي.

٥- هغه ورځ به ترېدونکي یو د بل خوا ته پناه وړي، هغه وحشي حیوانات چې یو له بل او له انسان وېرېږي، د قیامت د ورځي وېره به دا یو له بل وېرېدل پرې هېر کړي، د دې ورځي له هیبته به یو د بل غېږي ته پناه وړي، دا ځکه چې د زمکې ډېر هیبتناك او څیرونکي حیوانات به هم د قیامت د ورځي له هیبته داسي ذلیل شوي وي چې په خپله به

پناه ځی لټوي، بل به څنګه ترې وېره کوي، د دې ورځې هیبت به هومره وي چې په هر چا به ئې سیوری خور وي، د هر چا او هر څه هیبت به ئې ختم کړی وي، هیڅ تړېدونکی به له هیڅ څیرونکي نه وېرېږي.

ښایي کله به مو وړې مرغۍ لیدلې وي چې د شاهین او بازې د حملې په وخت کې هر هغه څه ته پناه وړي چې په خپلې خوا کې ئې مومي، که انسان وي او که حیوان، همداسي به د قیامت په ورځ تړېدونکي سره راغونډ شي.

٦- ځینو ژباړونکو تسجیر دسوزېدو او لمبه کېدو په معنی ترجمه کړی او له آیت ئې دا مطلب اخیستی: د قیامت په ورځ به په بحرونو اور ګډ شي او اوبه به ئې اور واخلي. د دې ډلې وروستنیو محققینو ویلي چې په اوبو کې دوه عنصره شته، هایدروجن او آکسیجن، چې یو ئې په خپله سوزي او بل ئې د سوزېدو په عملیه کې مرسته کوي، هایدروجن سوزېدونکی عنصر دئ او آکسیجن د نورو توکیو په سوزېدو کې مرسته کوي، که آکسیجن نه وي نو د سوزېدو عملیه نه شي تر سره کېدی، د حرارت په لوړو درجو کې همدا اوبه چې په عادي حالت کې ئې مور د اور د وژلو لپاره کاروو، په خپله به سوزېدونکې ماده شي. د دغو محققینو په اند دا آیت د قرآن یو بل علمي اعجاز ګڼل کېږي، انسان په شلمي پېړۍ کې په دې پوه شو چې دا د اور د وژلو وسیله په خپله د سوزېدو ماده ده. خو د تسجیر اصلي معنی ډکېدل دي او د دغې معنی له مخې د آیت مطلب دا دئ: د قیامت په ورځ به بحرونه تر ژیړ ډک شي اوبه به ئې وچې ته راوبهېږي او ټوله زمکه به تراوبو لاندي شي. مور نن په دې پوه شوي یو چې الله تعالی د زمکې د اوبو نظام داسي برابر کړی چې یوه برخه ئې په بحرونو کې وي، بله ئې د پرېږو ورېځو په بڼه کې د زمکې او آسمان تر منځ ګرځي، بله ئې د واورو په شکل کې په لوړو لوړو غرونو، یخو سیمو او د شمال او جنوب قطبونو کې ذخیره وي او یوه برخه ئې تر زمکې لاندي بهېږي، که دا دقیق نظام متلاشي شي، ورېځې خپلې ټولې اوبه پر زمکه ووروي، د غرونو واوري او د سړو سیمو یخونه ویلي شي او اوبه ئې د بحرونو لوري ته وبهېږي، ټوله زمکه به تراوبو لاندي شي، زمکه په یوازي سر د دومره اوبو ظرفیت نه لري. قرآن دا حقیقت د نوح علیه السلام د طوفان په ترڅ کې هم بیانوي، چې د یوې سیمې ټوله زمکه په اوبو کې غرقه شوه، دا دوهم تفسیر هم دقیق دئ او هم د قرآن د علمي اعجاز یوه بله بېلګه، دا ځکه چې د تسجیر اصلي معنی ډکېدل دي، نه سوزېدل او د سوزېدو معنی د تسعیر صیغه افاده کوي نه د تسجیر، تاسو به د انفطار په سوره کې هم وګورئ چې د بحرونو ډکېدو ته داسي اشاره شوې:

وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ:

او کله چې روان کړی شي سیندونه.

دا دواړه آیتونه د بحرونو تر ژړا ډکېدل او د وچې په لور بهېدل افاده کوي او دا هغه مطلب دئ چې تر ١٤ پېړۍ مخکې هیڅوک پرې نه پوهېدو، معلومه نه ده هغه وخت به څومره کسانو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې وینا استهزاء کړې وي او په ملنډو ملنډو به ئې یوه بل ته ویلي وي: موږ خو تل اوبه په داسي حال کې ګورو چې له وچې د بحر په لوري خوځي، خو محمد (صلی الله علیه و سلم) وایي چې یو وخت به دا اوبه له بحرونو د وچې په لوري وخوځېږي!! خو دا حقائق نن انسان ته څرګند شوي، آیا دا یوه عاقل او باانصاف محقق ته کافي نه ده چې ووایي: دومره ژور علمي حقائق بیانول، د داسي یوه انسان له وس ډېر اوچت کار دئ چې له اوسنۍ پېړۍ مخکې تېر شوی، که څه هم نابغه وي، له یوه پیغمبر پرته بل چا ته داسي خبره کول ممکنه نه ده.

وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ ۝٧ وَإِذَا ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ ۝٨ بِأَىِّ ذَنۢبٍ قُتِلَتْ ۝٩ وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتْ ۝١٠ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتْ ۝١١ وَإِذَا ٱلْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ۝١٢ وَإِذَا ٱلْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ۝١٣ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ ۝١٤

٧- او چې کله سره جوخت کړی شي نفسونه. ٨- او چې کله ژوندۍ ښخه شوې وپوښتی شي. ٩- په کومي یوې ګناه ده وژل شوې؟ ١٠- او چې کله صحیفې خورې ورې شي. ١١- او کله چې له پوسته دا آسمان شي. ١٢- او کله چې دوزخ (بل) په لمبو شي. ١٣- او جنت چې کله راوستی نژدې شي. ١٤- په خپلو حاضرکړو باندي پوه به هر یو نفس شي.

په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت د دوهمي مرحلې پېښې په اختصار سره داسي توضیح شوې:

٧- نفسونه به سره جوخت شي، په دې اړه دوه د پام وړ تفسیرونه شوي:

الف: روحونه به له بدنونو سره یو ځای شي او مړي به راژوندي شي.

ب: ټول انسانان به په بېلابېلو ډلو کې سره یو ځای کړی شي او د محاسبې لپاره به د الله په لور بوتلی شي. هغه نفسونه چې په خپلو کې سره ورته دي او شبیه مواصفات لري، دوی به سره جوخت او نژدې کړی شي، بېله بېله ډله به ترې جوړه شي، کافران له کافرانو سره، منافقان له منافقانو سره، مؤمنان له مؤمنانو سره، هر پیغمبر له خپل امت سره او هر مشر له خپلو پلویانو سره.

په څو دلائلو دوهمه توجيه دقيقه ده:

• په آيت کې دا نه دي ويل شوي چې روحونه به له کالبوتونو سره يو ځای شي، بلکې ويل شوي چې نفسونه به سره جوخت او جوړه کړی شي، له دې الفاظو کالبوت ته د روح راګرځېدل او اعاده نه شو اخيستی، بلکې د ورته او شبيه نفسونو يو ځای کېدل او په ډلو ډلو کې راغونډېدل افاده کوي، په قرآن کې د ازواج لفظ په دغه معنی بل ځای هم راغلی:

ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٢٢ الصافات

هغه راغونډ کړئ چې ظلم ئې کړی وو او د دوی جوړې هم او هغه هم چې دوی له الله پرته لمانځل.

لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨ الحجر

او سترګې دي د هغه څه په لوري مه اړوه چې د دوی ځينې مو ترې متمتع او برخمن کړي او مه پرې غمجن کېږه؛ او وزر دي مؤمنانو ته کوز ساته.

ټولو درنو مفسرينو دلته ازواج په امثال، اشباه او اصناف ترجمه کړی.

• وروستی آيت په ډاګه ښيي چې دلته تر محاسبې مخکې حالت انځور شوی، هغه حالت چې ټول خلك به په ډلو ډلو کې راغونډ او د محاسبې لپاره به د الله په لوري خوځول کېږي

۸-۹: له ژوندۍ ښخي شوې نجلۍ به پوښتی شي چې دا په کوم جرم وژل شوې وه؟ پوښتنه به له دې وي خو په داسي صيغې چې مطلب به ئې دا وي: دا ستا په څېر مظلومي نجونې په کوم جرم او ګناه او په دومره بې رحمۍ او قساوت ژوندۍ ترخاورو لاندي کړی شوې وې؟!!

قرآن دلته د قيامت د ورځې د هيبتناکو او وېروونکو صحنو له انځورولو، د ټولو خلکو له راژوندي کېدو او په ډلو ډلو کې له راغونډېدو وروسته، تر ټولو د مظلوم انسان، د هغې نجلۍ د محاکمې جريان انځوروي چې له کومي ګناه او جرم پرته، په ډېره بې رحمۍ او قساوت ژوندۍ ترخاورو لاندي کړی شوې، وايي: الهي محاسبه به لومړی او په سر کې په دې پېل شي چې د مظلومانو پوښتنه به کېږي، خو په دغو مظلومانو کې به تر هر چا د مخه (ژوندۍ ښخه شوې) راوړاندي کړی شي، د قيامت د ورځې محاسبه به له دې ځايه پېل شي، د دې صحنې د تمثيل الفاظ او د بيان څرنګوالی داسي دئ چې د صحنې هيبت او رعب او د هغې ورځې د عادل قاضي قهر او غضب څرګندوي. د دې صحنې د هيبت

سترواڼی هغه وخت لا زياتېږي او په ليدونکي باندي لا زيات رعب او وېره مسلط کوي چې دا صحنه د لمر او ستورو د تياره کېدو، د غرونو د خوځېدو او... او نورو سترو سترو حوادثو په ضمن کې گوري.

د جاهلي نظام په ماهيت باندي د ښه پوهېدو لپاره د دغي يوې بېلگي وړاندي کول کافي دي، بې گناه او معصومي نجونې به ئې فقط له دې کبله ژوندۍ په خاورو کې ښخي کړې چې ولي نجلۍ پيدا شوې، چې سبا به د بل ښځه وي او دا ئې د پلار لپاره يو پېغور، چې په جگړو کې به په اسارت نيول کېږي او د کورنۍ سر به پرې ټيټ وي، چې په جگړو کې ئې ساتنه او حفاظت د کورنۍ د غاړې پېټی، ولې هغه يو هلك نه دئ پيدا شوی چې مضبوطي متې ئې وی، جنگيالی او توريالی، چې هم له خپل ځان، هم له کورنۍ او هم له قوم دفاع کولی شي!! د دې پېدايښت به ئې ځان ته عار او ننگ گاڼو، چې کله به په کورنۍ کې د لور د زېږېدو خبر ورکړی شو نو تندی به ئې گونځي گونځي شو، غم او غصه به ئې په ځېرې کې راڅرگنده شوه، د شرمندگۍ احساس به ئې کاوو، چا ته به ئې په جگو سترگو نه شو کتلی!! قرآن د دوی دا حالت څومره ښکلی او دقيق انځور کړی، هلته چې فرمايي:

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلْقَوْمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ ۚ أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى ٱلتُّرَابِ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾

النحل

او کله چې ئې کوم يوه ته د نجلۍ (د زېږېدو) زيری ورکړی شي نو مخ ئې تك تور شي په داسي حال کې چې غمونه به زغمي، د دې بد زېرې په وجه له قوم پټېږي، (او له ځان سره وايي:) آيا په سپکاوي سره ئې وساتي او که ئې تر خاورو لاندي کړي!! څومره بده ده هغه پرېکړه چې دوی ئې کوي!!

د لور زېږېدا د پېغور خبره گنل کېده، د کورنۍ مشر به په دې خبري د خجالت او شرم احساس کاوو چې په کور کې ئې لور زېږېدلې ده، له سيالانو سره به په لوړ سر نه شو مخامخ کېدی او په جگو سترگو به ئې هغوی ته نه شو کتلی، د مظلومي نجلۍ برخليك به يا په ذلت او سپکاوي کې ژوند وو او يا ژوندۍ تر خاورو لاندي کېدا، دواړه ئې مرگ، يو ئې تدريجي مرگ او بل ئې فوري او ناڅاپي، احتمالاً چې قرآن په دې آيت (باي ذنب قتلت: په کومي گناه وژل شوې) سره دغو دواړومرگونو ته گوته نيولې.

په ډېرو رواياتو کې د جاهليت د دور دغي شاخصې او د مشرکانو د قساوت او بې رحمۍ دغي بېلگي ته اشاره شوې:

يو ځلي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د يارانو له ډلي يو صحابي ورته راغى او ورته وئې ويل: يا رسول الله! ما له ايمان مخكې ٣٦٠ نجونې له ژوندۍ ښخېدو ژغورلې او د هري يوې په بدل كې مي دوه اوښان فديه وركړي، آيا (دكفر په حالت كې) د دې نېك عمل څه اجر او ثواب به راته راكړى شي؟! رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: هو! ستا اجر دا وو چې الله تعالى د ايمان راوړو توفيق دركړ. گورئ چې په هغې جاهلي ټولنې كې دا ظلم هومره خور او عام وو چې يوه صالح انسان ٣٦٠ نجونې له ژوندۍ ښخېدو ژغورلې، خو د هري يوې په عوض كې ئې دوه اوښان فديه وركړي!!

يو كس رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په داسي حال كې راغى چې ډېر كسان ئې خوا ته ناست وو، وئې ويل: يارسول الله! له ايمان راوړو مخكې مي په كور كې لور وزېږېده، مور ئې دا خبره له ما پټه وساتله، هغه ئې په بل كور كې ستره كړه، يوه ورځ ناڅاپي كور ته ننوتم، په يوې وړې او ښايسته نجلۍ مي سترګې ولګېدې، پوښتنه مي وكړه چې دا ښايسته نجلۍ د چا لور ده؟ مېرمني مي وويل: زمور د گاونډي لور ده، خو چې له نجلۍ سره ئې زما مينه او محبت وليد، وئې ويل: كه رښتيا درته ووايم نو دا ستا خپله لور ده، چې ما له دې وېرې چې ونه وژل شي، له تا پټه ستره كړه!! د دې خبرې په اورېدو سره مي حالت بدل شو، جاهلانه حميت او غيرت مي راوپارېدو، دا مي د ځان لپاره د عار او پېغور خبره وگڼله چې سبا مي سيالان ووايي زما په كور كې لور زېږېدلې، له ځان سره مي وپټېله چې همدا نن شپه او د خلكو له خبرېدو د مخه ئې چېرې ترخاورو لاندې كوم، د شپې مي تر لاس ونيوله او له ځان سره مي صحراء ته بوتله، په يوې گوښې كې مي يو كوهى ومونډو، هغه مي په كې واچوله، كله چې مي هغه كوهي ته اچوله، هغې په دردناك او له مينې ډك غږ راته ويل: پلار جانه!! پلار جانه!! رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې دردوونكې قصې په اورېدو سره ډېر وژړل، له صحابه وو چا هغه سړى ملامت كړ چې ولې دي په دې قصې سره رسول الله صلى الله عليه و سلم هومره وځوراوو چې اوښكې ئې توى شي، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دى پرېږدئ چې دا قصه بيا تكرار كړي، د قصې په بيا اورېدو سره رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره وژړل چې مخ او گرېوان ئې په او ښكو لوند شو.

د يوه بل صحابي په اړه روايت شوى چې ويلي ئې دي: د جاهليت له زمانې دوه خاطرې لرم، د يوې په رايادولو سره مي له سترګو اوښكي وبهېږي او د بلې په يادولو سره بې اختياره خندا راشي، يوه ئې زما د يوې لور په اړه ده، مور ئې د دې له زېږېدو خبر نه كړم، پټه ئې ستره كړه، يوه ورځ مي هغه په خپل كور كې وليده، مينه مي پرې راغله، په

سر مې لاس راکښې کړ، له خپلې مېرمني مي پوښتنه وکړه چې دا څوك ده؟ هغې لومړی راته وویل چې د یوه دوست لور، له څه ځنډه وروسته ئې راته وویل: ستا خپله لور، چې پوه شوم دا په رښتیا زما خپله لور ده او مور ئې په پټه سترګه کړې، زمکه راباندې تنګه شوه، له دې وېرې چې سیالان مي پرې خبر نه شي پرېکړه مي وکړه چې ژر ئې تر خاورو لاندې کړم، همغه شپه مي له ځان سره روانه کړه، یو څراغ او کلنګ مي راسره واخیست، د صحراء په لوري وخوځېدو، په یوې ګوښې کې د قبر په کیندلو بوخت شوم، د کیندلو په وخت کې مي په ږیره ګردونه کښېنستل، لور مي رامنډې کړې او وئې ویل: پلار جانه پرېږده چې ستا د ږیرې دا ګردونه درپاك کړم، ګردونه ئې پاك کړل او بېرته په خپل ځای کښېناسته، نه پوهېده چې دا قبر د څه لپاره کیندل کېږي او څو شېبې وروسته به دا په کې ترخاورو لاندې کېږي، ما قبر وکیندو، دا مي په کې واچوله او ډېرې خاورې او تیږې مي پرې واچولې،... ګورئ! مورِ څومره بې رحمه او سخت زړې وو، لور مي زما په ږیرې ګردونه نه شو زغملی خو ما هغه تر خاورو او تیږو لاندې شخه کړه!!!

د خندا خاطره مي دا ده چې د جاهلیت په زمانې کې به چې کله په سفر تلو نو معمولاً به مو د کاروان د سر په اوښ باندې یو بُت نصب کړ، د دې لپاره چې د هغه د حمایې او ساتنې په طفیل مو دا سفر په خیر وي او له کوم ضرر او کړاو پرته خپل مقصد ته ورسېږو، په یوه سفر کې په دې ونتوانېدو چې د لرګي یا ډبرې کوم بت جوړ کړو، مجبور شوو له کجورو ئې جوړ او د لومړي اوښ په شا ئې نصب او د هغه د حمایې تر سیوري لاندې خپل سفر پیل کړو، سفر راباندې اوږد شو، په صحراء کې مو لاره ورکه کړه، څه چې مو د خوراك او څښاك لپاره درلودل ټول ختم شول او کار مو هغه ځای ته ورسېدو چې ناچار دا د کجورو بت راکوز کړو او په خپلو کې ئې ووېشو، خپل خدای مو وخوړ، هغه چې د ده د مرستې او حمایې په هیله مو دا سفر پیل کړی وو، د لارې په اوږدو کې، په هر ټمځای کې به د هغه شا وخوا ته راغونډ شوو، د هغه لمانځنه به مو کوله او پښو ته به ئې په سجده پرېوتو، خو چې وېرې شو نو نه یوازې هغه زموږ مرسته ونه کړی شوه بلکې دی مو وخوړ!!

د لوڼو ژوندۍ سخول، د جاهلي ټولنې دا تر ټولو کرکجنه ځنډه؛ خاص لاملونه درلودل چې ځینې ئې دا دي:

- له دې وېرېدل چې سیمه ئې د دښمن تر برید لاندې راشي او لوڼې ئې د دښمن په لاس کې پرېوځي او لوی دائمي پېغور ورته پرېږدي.
- دا ورته د عار او پېغور خبره برېښېده چې لور ئې د بل په نکاح کې راشي.

• د لور زېرېدا ئې د خپلې مېرانې د ضعف او کمزورۍ نښه ګڼله او په دې سره به ئې د سیالانو په قطار کې د شرمندګۍ احساس کاوو.

ځینې مفسرین په دې نظر دي چې له ښځو سره ظالمانه او له تبعیض او سپکاوي ډک چلن، د دوی انساني حقوق تر پښو لاندې کول او هغه له دې محرومول چې په ټولنې کې خپل انساني مقام ولري، خپل حیثیت تر لاسه او خپله دنده تر سره کړي، دا د ښځې له ژوندۍ ښخولو سره مترادف وه، دا ځکه چې له هغې سره د یوه ژوندي او شریف انسان په څېر معامله نه کېده، استعدادونه ئې ځپل کېدل، د خپلو وړتیاوو د تجلي مجال ئې نه شو تر لاسه کولی او د یوه مړي او د نورو د غاړې د پېټي په څېر ګڼل کېده.

۱۰- له هر چا سره به محاسبه کېږي، هر چا ته به خپله عملپاڼه په لاس کې ورکول کېږي، د محشر میدان به په هغو خورو ورو پاڼو ډک وي چې هر څوک به ئې په لاس کې لري.

۱۱- د آسمان دا شنه پرده به لري کړی شي، څه چې نن دغې پردې زمونږ له سترګو پټ کړي، ټول به راڅرګند شي. دلته باید لږ توقف وکړو، الفاظ عجیب برېښي، آسمان به له پوسته شي!! یعني څه؟! آیا آسمان پوستکی لري؟ آیا زمونږ او آسمان تر منځ داسې کومه پرده شته چې د آخوا شیانو لیدا ئې راته ګرانه کړي؟!! راشئ دا پوښتنه هم له هغو محققینو وکړو چې په دې اړه څېړنې کوي، هغوی ته به ووایو چې زمونږ په قرآن کې د آسمان په اړه داسې ویل شوي، چې د آسمان دا تر سترګو کېدونکې فضاء یوه پرده ده چې ډېر څه ئې زمونږ له سترګو پټ کړي؟!! دا محققین مونږ ته یو ځواب لري او هغه دا: هغه څه چې مونږ او تاسو ئې د یوې فېروزه ئې پردې په څېر ګورو، دا د زمکې چاپېر فضاء ده، د یوې پردې په څېر ده، دا پرده د دې باعث شوې چې مونږ د آسمان ډېر څه ونه ګورو، د نور ډېرې پلوشې داسې دي چې له دغې پردې نه شي تېرېدی، هغه ستوري چې دا وړانګې خپروي د دغې پردې له کبله ئې نن نه شو لیدی، که دا پرده نه وی نو مونږ به نن دا ټول ستوري هم په څرګنده لیدل. د قرآن دې آیت یو بل ستر علمي اعجاز زمونږ مخې ته اېښی او هغه حقیقت ئې بیان کړی چې انسان دا دئ اوس او په شلمي پېړۍ کې پرې پوه شو. د قیامت په ورځ به دا پرده څېرې شي، دا خندۍ به لري شي، د آسمان دا پوستکی به وشکول شي او هر هغه څه به راڅرګند شي چې دغه پرده او پوستکی ئې د لیدو مانع ګرځي.

۱۲- هغه دوزخ چې نن ستا له سترګو پټ دئ، په هغه ورځ به ئې څرګند وګورې.

۱۳- کوم جنت چې لري او محال ئې ګڼې هغه به رانږدې کړی شي، جنتیان به ئې په خپلې خوا کې ومومي.

۱٤- هر انسان به هم د خپلې عملپاڼې په لوستو او لیدو سره په دې پوه شي چې څه ئې د

دې ورځې لپاره له ځان سره راوړي او هم به په جنت یا دوزخ کې د خپل موقعیت له مخې پوه شي چې څه ئې کړي؟! ده په جنت یا دوزخ کې خپل ځای په خپل لاس جوړ کړی، دا د ده د کړنو دئ، د خپلو کړنو پایله به په خپلو سترګو په جنت او دوزخ کې وګوري.

فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ١٥ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ١٦ وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ١٧ وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ١٨ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ١٩ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ٢٠ مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ٢١

۱۵- نو داسي نه ده؛ لوړه کړم په دغو بیا راتلونکو. ۱۶- په دې تلونکو پټېدونکو. ۱۷- او په شپې چې شي په تلو. ۱۸- او قسم د سباوون په سا ایستو. ۱۹- بې شکه دا وینا ده د استازي عزتمن. ۲۰- مخور د عرش خاوند ته او ځواکمن. ۲۱- هلته منل شوی او امین.

۱۵-۱۸: په دې آیتونو کې په څو شیانو لوړه شوې:

- (خنس) د خناس جمع چې معنی ئې بیا بیا راتلونکی ده، شیطان ته له دې کبله (خناس) ویل شوي چې هغه هم مکرر راځي، وسوسه کوي، بېرته درومي، له بلې ګوښې راوړاندې کېږي او بله وسوسه القاء کوي. د دې خناس لپاره دوه نور صفتونه هم ښودل شوي: الجوار: تلونکي او الکنس: پټېدونکي
- په شپه چې کله په تلو شي. او په سباوون چې په سا ایستو شي.

د قسمونو ځواب دا دئ:

إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ١٩ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ٢٠ مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ٢١

بې شکه چې دا د عزتمن استازي وینا ده. د عرش خاوند ته مخور او ځواکمن. هلته منل شوی او امین.

د دغو قسمونو په معنی او د قسمونو له ځواب سره ئې د تړاو په څرنګوالي هلته ښه پوهېدی شو چې لاندې خبرې په پام کې ولرو:

- له دغو دوو آیتونو (والليل اذا عسعس) او (والصبح اذا تنفس)، په ډېر وضاحت سره

معلومېږي چې (الخنس، الجوار، الکنس) به هم خامخا داسې شیان وي چې له شپې سره تړاو لري او په شپې کې راتلونکي، خوځېدونکي او پټېدونکي، له ستورو پرته بل څه نه شي کېدی، ځکه دا ستوري دي چې هره شپه بیا بیا راڅرګندېږي، په شپه کې ئې د آسمان په غېږ کې خوځېدل راڅرګند شي، له شرق طلوع کوي او په غرب کې پرېوځي، د ورځې په رارسېدو سره ترشا شي او له سترګو پټ. که د (الخنس، الجوار او الکنس) الفاظ له دغو آیتونو بهر د لغت په کوم کتاب کې او په بل کلام کې وڅېړو نو بې شمېره مصداقونه ئې کېدی شي، خو که په دې خاص ځای او له دې مخکې او وروسته آیتونو په غېږ کې ئې معنی ولټوو نو له ستورو پرته بله معنی ترې نه شو اخیستی، ټول مفسرین په دې خبرې متفق دي چې په دې الفاظو سره ستورو ته اشاره شوې.

- د قیامت منکرین داسې ګمان کوي چې دا نړۍ نه بدلېدونکې، ثابته او ابدي نړۍ ده، په تحول او بدلون باور نه لري او دا خبره نه مني چې یوه ورځ به دا هر څه له منځه ولاړ شي. دوی ته د پیغمبرانو علیهم السلام یوه اساسي خبره تل دا وه چې قیامت به راځي، دا زمکه آسمان او د اوسنۍ دنیا اوسنی حالت به ختمېږي، نوې دنیا او نوې زمکه او آسمان به پیدا کېږي، له انسان سره به د ده د ټولو کړنو محاسبه کېږي، سزا او جزاء به ګوري. د دغې اساسي ادعاء د اثبات لپاره دلته ویل شوي: شپه ورځ، د ستورو تګ راتګ، طلوع او غروب ئې دا حقیقت په ګوته کوي چې دلته د ثبات او د یوه حالت د دوام په ځای د بدلون او تحول شاهد یو، هره شېبه حالت بدلېږي رابدلېږي، تاسو څنګه دا د بدلېدو رابدلېدو په حالت کې نړۍ ثابته او تغییر نه منونکې ګڼئ؟!! په داسې حال کې چې تحول او بدلون د همدې دنیا یو عام او څرګند اصل دئ، د دنیا هر څه هره شېبه بدلېږي، دا په آسمان کې خواره واره او څرګندېدونکي پټېدونکي ستوري او دا د شپې او ورځې تګ راتګ، د دې دائمي او مسلسل تحول او بدلون څرګندي بېلګي ستاسو مخې ته، له دې سره سره څنګه د عزټمن پیغمبر هغه خبره نه منئ چې وایي: یوه ورځ به دا لمر خپله رڼا له لاسه ورکړي، ستوري به تیاره شي، غرونه به له خپلو ځایونو وخوځي او هر څه به بدل شي؟ د ده په دې خبرې خو دا ده د هري شپې ورځې دا تحولات شهادت ورکوي. د (ثبات) او (دوام) عقیده بې بنسټه عقیده ده چې د دنیا مسلسل بدلون ئې ردوي. دا ولې تاسو دغه خپل ملګري پیغمبر ته له دې کبله مجنون وایئ چې د قیامت د راتلو خبره کوي؟!! ده خو د دې خبرې حقیقت په څرګند افق کې لیدلی، دغه افق ته د نظر کولو لپاره تاسو ته هم بلنه درکوي، د شپې ورځې تلو راتلو ته وګورئ، د ستورو طلوع او غروب ته وګورئ، دا څه پیغام له ځان سره لري، د ثبات او دوام پیغام که د تحول او بدلون پیغام، د ده خبره

تأييدوي كه ستاسو؟!! دى خو نه د كاهنانو په څېر دئ چې د (غيب) دروغجني خبرې خرڅوي او په څرګندولو کې ئې سخت بخيل وي او هيڅا ته ئې وړيا نه وايي، شکرانې او نذرانې وربانديې اخلي!! د ده وينا د شيطان د ملګرو له وينا سره مقايسه کړئ، دى څه وايي او هغوى له شيطان په الهام اخيستو سره څه وايي؟! سره له دې څنګه د ده دا وينا نه منئ، په داسې حال کې چې دا د ده خپله وينا نه بلکې د رب العالمين له لورې د يوې عزټمنې، ځواکمنې او د نورو مطاع فرښتې په لاس ده ته لېږل شوې وينا ده او هر هغه چا ته لارښوونه کوي چې په سمې او مستقيمې لارې د تلو تکل کوي.

د پورتنيو قسمونو ځواب دا دئ: انه لقول رسول كريم (بې شکه دا د عزټمن استازي وينا ده) بايد وګورو چې دا قسمونه څنګه په دې خبرې شهادت ورکوي او دغه دعوى ثابتولى شي چې دا د سورې په سر کې ويل شوې خبرې، د يوه عزټمن استازي وينا ده؟! په دې اړه ډېر توجيهات شوي خو تر ټولو دقيق تفسير ئې همغه دئ چې مخکې بيان شو.

دغه مسلسل او پرله پسې تحولات او بدلونونه چې تل او هره شېه او ورځ ئې ګورو، همدا د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ادعاء د اثبات لپاره ستر دليل دئ.

وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَءَاهُ بِٱلْأُفُقِ ٱلْمُبِينِ ﴿٢٣﴾ وَمَا هُوَ عَلَى ٱلْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴿٢٥﴾ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٧﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾

٢٢- او ستاسو دا ملګرى مجنون نه دئ. ٢٣- او بې شکه چې هغه ئې دئ ليدلى څرګند افق کې. ٢٤- او نه دئ دى په غيب باندې بخيل. ٢٥- او نه ده دا وينا د رټل شوي کوم شيطان. ٢٦- نو چېرې درومئ تاسو؟ ٢٧- دا نه ده مګر ذکر ټول عالم ته. ٢٨- ستاسو هغه چا ته چې ئې غوښتي؛ مستقيم شي. ٢٩- تاسو غوښتى نه شئ تر هغه چې نه وي غوښتي خداى، رب د عالمونو.

٢٢- هغه خبرې چې ستاسو ملګرى رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د قيامت په اړه کوي، پام چې دا د هغه چا د خبرو په څېر ونه ګڼئ چې ستاسو په ګمان پېريانو نيولى او هغوى د ده په ژبه د غيب په اړه خبرې کوي، دا د غيب خبرې نه دي، پيغمبر د خپلې دې وينا مصداق او نبۍ په افق کې څرګندې ليدلې، د ده وينا د کائنات په اړه له دقيق علم او

پوهي سرچينه اخلي، كه د ده په وينا كې لږ غور وكړئ او د ده دلائل واورئ نو په حقيقت به ئې پوه شئ، دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم خپله وينا نه ده، له ځانه ئې نه ده كړې، دوه بنسټونه ورته لري: ۱- نبۍ او آثار ئې د آسمان په غيبو كې څرګند ليدلې دي. ۲- د هغه الله له لوري يوې فرشتې دا اطلاع وركړې چې د عرش پالونكى او واكمن دئ.

۲۳- دلته دا نه دي ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم څه د آسمان په كنارو كې څرګند ليدلې، په دې اړه درې توجيهات زمونږ مخي ته راځي:

خداى ئې څرګند ليدلى!! دا توجيه نه د آيت له سياق و سباق سره اړخ لګوي او نه د قرآن له نورو څرګندونو سره تطابق لري، برعكس دا د قرآن له مباديو او اساساتو سره شديد تعارض لري، قرآن په ډېر صراحت سره وايي چې هيڅوك خداى نه شي ليدى، د موسى عليه السلام په څېر يوه اولواالعزم پيغمبر تمنى وكړه چې الله په خپلو سترګو وګوري، خو دا تمنى ئې له دې امله تر سره نه شوه چې په دنيا كې هيڅ انسان د الله د ليدو توان او استعداد نه لري.

په افق كې ئې داسي نبۍ او آثار تر سترګو شوي چې د قيامت په حتمي راتلو دلالت كوي.

د وحي حامل فرشته ئې د آسمان په غيبو كې په څرګنده ليدلې.

د دې آيت له فحوى او د مخكينيو آيتونو په رڼا كې معلومېږي چې دلته دغه دواړه مطالب افاده شوي. دا خبره ئې له هغې فرشتې اوړېدلې چې د وحي حامل وه او ده په افق كې څرګنده وليده او دا هغه خبره ده چې ده ئې نبۍ په افق كې په واضح توګه ليدلې دي، دا د شپې ورځې پر له پسې بدلونونه، د ستورو تګ راتګ، راختل او پرېوتل، سقوط او هبوط، نبۍ چې كائنات يوه ثابته او تغيير نه منونكې هستي نه ده چې له منځه تګ او متلاشي كېدل ئې محال وګڼو، هره شېبه د دې احتمال شته چې يو آني او ناڅاپي تصادم هر څه ګډ وډ كړي.

۲٤- دا آيت دوه مطلبه افاده كوي:

- څه چې پيغمبر عليه السلام د غيبي امورو او هغه څه په اړه وايي چې نه ئې انسان ليدى شي او نه درك كولى، دا د وحي له لارې ده ته ويل شوي او دى ئې په پوره احتياط او امانت سره خلكو ته رسوي، نه څه سپماوى كوي او نه بخل، نه د كوم بخيل عالم په څېر دئ چې نه غواړي نور خلك په هغه څه وړيا او ده ته له بدلې وركولو پرته پوه شي چې دى پرې پوه شوى او نه د كوم كاهن او منجم په څېر چې د غيب خبرې خرڅوي او شكرانې پرې اخلي.

• د غيب په اړه د ده وينا د خپلو هغو کاهنانو، منجمينو او فال نيوونکو سره مقايسه کړئ چې د خلکو د غولولو لپاره د غيبي امورو په اړه يو څه بل څه وايي خو نه د صداقت او اخلاص له مخې، نه خلکو ته د کومې ګټې رسولو لپاره او د دوی د لارښوونې او هدايت په غرض او نه مفت او وړيا، بلکې د (شکرانو) په بدل کې، اجوره پرې اخلي، له دې لارې خپله خپټه او جيب ډکوي، جاهل او ناپوه خلك غولوي، د غولېدلو خلکو جيب ته ئې سترګې وي.

خو تاسو ګورئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د قيامت، حساب و کتاب، جنت او دوزخ په څېر د غيبي امورو په اړه په خپل بحث سره نه يوازې له چا څه بدله نه غواړي بلکې په پوره سخاوت او پرته له کومې طمعې ئې خلکو ته رسوي او په دې لار کې کړاوونه ګالي.

که قرآن ته لږ ځير شو نو ګورو چې دښمنانو کله پيغمبران عليهم السلام په سحر او جادو متهم کړي او د هر يوه په اړه ئې ويلي چې دا ساحر او جادوګر دئ او کله ئې کاهنان ګڼلي! دا ولې؟ دا ځکه چې دوی په خلکو باندې د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوت د ژور اغېز لپاره بله توجيه نه شوی وړاندې کولې، دوی به خپلو پلويانو ته په دې اړه څه ويل چې دا ولې په دغو خلکو کې چې د پيغمبرانو عليهم السلام دعوت ئې منلی دومره ژوره تبديلي راغلې، هر څه ئې بدل شوي، افکار ئې، عمل ئې، اخلاق ئې، وينا ئې، کړه وړه او سلوك ئې، هر څه ئې له بنسټه بدل شوي، په ژوند او شخصيت کې ئې ژور انقلاب راغلی، دا پيغمبر حتماً ساحر او جادوګر دئ چې په خپلو څو خبرو سره ئې په خپلو مخاطبينو کې، داسې ژر او دومره ژور تغييرات راوستي، د پرون ورځې له بې وزلو، غلامانو، ذليلو او بې زړه خلکو ئې داسې ستر ستر، انقلابي، مجاهد، زړه ور او مقاوم شخصيتونه جوړ کړل، هغه چې تر پرونه د خپلو بادارانو په وړاندې سخت مطيع، ذليل او هر امر ته ئې تسليم ول، دا دئ اوس ئې بغاوت ته ملا تړلې، د نظام په وړاندې ودرېدلې، له مرګ نه وېرېږي، هر خطر په ورين تندي قبلوي!! آيا له يوه جادوګر پرته بل څوك دا کار کولی شي؟!!

او د دې لپاره به ئې هغوی ته کاهن ويل چې خلکو ته ووايي: دا د پيغمبرۍ مدعي چې وايي د الله له لوري ورته وحي شوې، په حقيقت کې زمونږ د دغو کاهنانو په څېر دئ چې د بازار په هري کوڅې کې ئې دوکان پرانيستی، فالونه اچوي، تعويذونه ورکوي، کوډي کوي، د غيب په اړه خبري کوي او په دې سره له بې وزلو غولېدلو خلکو شکرانې اخلي، د څو پيسو لپاره دا کارونه کوي، کسب ئې غيب ويل او له خلکو پيسې شکول دئ، که

پيغمبران د غيب په اړه څه وايي، د جنت او دوزخ، بيا ژوندون، د خداى، فرشتو، روح او پېريانو په اړه خبره کوي،... د دوى دا ټولې خبرې زمور د کاهنانو په څېر دي، زيات اهميت مه ورکوئ، نوې خبرې ئې مه ګڼئ او تر اغېز لاندې ئې مه راځئ.

د دغو خبرو په ځواب کې ويل شوي: نه ګورئ چې پيغمبر د کاهنانو په څېر نه دئ، پر غيب بخيل او ممسك نه دئ، له چا د بدلې او اجورې طمع نه لري، نه ئې له دېن دوکان جوړ کړى، نه له غيب ويلو ځان ته حرفه او پېشه!! قرآن دا د پيغمبرانو او رښتينو دعوتګرانو يوه ستره ځانګړتيا ګڼي چې د خپل دعوت او مبارزې په مقابل کې له خلکو د بدلې طمع نه لري، خپل اجر له الله پرته له هيڅا نه غواړي، قرآن دا يو دقيق معيار او ملاك ګڼي چې په هغه سره يو رښتينى او صادق دعوتګر له يوه حرفوي دعوتګر او دين خرڅوونکي دکاندار سره پېژندى شو، وګورئ چې هغه د اجر په لټه کې دئ که د اجورې په لټه کې، خپل اجر له الله غواړي که له خلکو؟ دى د خلکو لپاره قرباني ورکوي او که له خلکو غواړي چې د ده لپاره قرباني ورکړي؟!! آيا دى د خلکو د سوکالۍ او هوساينې لپاره خپله آرامتيا او هوساينه د دوى په پښو کې قرباني کوي او که له خلکو دا طمع لري چې د ده د هوسا او آرام ژوند لپاره کړاوونه وګالي او خپله هوساينه د ده په پښو کې ذبح کړي؟!! که له خلکو ئې بدله غوښته، يو حرفوي دعوتګر دئ، خو که د اجر طمع ئې يوازې له الله وه، د پيغمبرانو وارث دعوتګر دئ، دا بايد تل د يوه معيار او ملاك په توګه او د صادق او کاذب دعوتګر تر منځ د توپير او تفکيك وسيله وګڼئ، د هغه چا متابعت او ملګرتيا وکړئ چې له ماسوى الله د اجر او اجورې طمع نه لري، په دې اړه د قرآن لارښوونه دا ده:

ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ ٢١ يٰس

د هغه چا متابعت وکړئ چې له تاسو هيڅ بدله نه غواړي او هدايت شوي.

۲۵- راشئ د رسول الله صلى الله عليه و سلم پيغام او وينا د هغه چا له وينا سره مقايسه کړئ چې د رټل شوي شيطان مطيع او د شيطان د وسوسو تر اغېز لاندې دئ، وګورئ چې دا داعي څه وايي؟ له تاسو څه غواړي؟ خبرې ئې الهي رنګ لري که شيطاني؟ د يوه صادق داعي او ټګمار دعوتګر تر منځ د تفکيك او توپير لپاره بايد د دوى پيغام او د دعوت محتوى ته وګورو او دې ته پام وکړو چې هغوى خلکو ته د ويلو لپاره څه لري؟! چا چې په دوى ايمان راوړى او د دوى په لار تللې، په شخصيت کې ئې څه تبديلي راغلې، د دې دعوت اغېز د دوى پر کړنو څنګه دئ؟ صادق دعوتګر، د پيغمبرانو وارثان او د الله لورې ته بلونکي هغه دي چې حق، عدالت، صداقت، امانتداري، په خپلو ژمنو وفا، سخاوت، مروت، صبر، قناعت، تقوى او پاك ژوند ته بلنه ورکوي، د رښتيني دعوتګر د دعوت له

محتوى په خرګنده معلومېږي چې له الهي مرجع ئې الهام اخيستى او په مقابل کې ئې هغه دعوتګران چې د شيطان په لار درومي او له شيطاني وسوسو الهام اخلي، هغوى به وګورئ چې د فساد، ګناه، ظلم، خيانت، د نورو پر حق تجاوز او تېرى، دروغ، خدعه، کرکه، نفرت، حرص، بخل، خپلې ژمنې تر پښو لاندې کول، د ناروا موخو لپاره حرامې لارې غوره کول، دا هغه څه وي چې دوى بلنه ورکوي او د دوى د پلويانو په شخصيت کې به دا ټول په خرګنده وګورئ.

۲۶- له دې ټولو سره سره ځنګه د حق او باطل په تفکيک کې اشتباه کوئ، ځنګه په دې نه پوهېږئ چې ستاسو دا ملګرى پيغمبر دئ، پيغام او دعوت ئې الهي، ځنګه خداى او پيغمبر ئې پرېږدئ او د شيطان په لار درومئ؟! فاين تذهبون؟ نو چېرې درومئ؟!

۲۷- ګورئ چې د دې پيغمبر په الهي پيغام کې د عالميانو لپاره پند او يادونه ده، له يوې خوا هغوى ته نصيحت کوي، خبرداری ورکوي او له ګناه او تېرې ئې منع کوي، له بلې خوا هغه هېر شوي حقائق ورپه يادوي چې جړه ئې د دوى په فطرت کې ده، ويده وجدان ئې راويښوي، هغه راکده حافظه ئې خوځوي او فعالوي چې د حقائقو د پېژندو زېرمه ده.

۲۸- خو دا د هغه چا لپاره ذکر او پند دئ چې په هغه کې تلوسه وي، د حق پېژندو تکل، د حقيقت موندو تنده او په حقائقو د پوهېدا تمنى، لکه څنګه چې ږوند له نور او رڼا ګټه نه شي اخيستى، همدا راز په چا کې چې حقيقت ته د رسېدو تلوسه نه وي هغه د پيغمبر له ذکر او يادونې ګټه نه شي اخيستى، د ده ويده وجدان نه شي راويښولى، څوک چې د مستقيمې لارې د پېژندو هڅه کوي، غواړي سمه لار له ناسمې تفکيک کړي، د هغه لپاره دا پيغام ذکر او پند دئ، په دې سره به ئې په سمه لار د تلو توفيق په برخه شي.

۲۹- دلته يوې ډېرې مهمې اعتقادي موضوع ته اشاره شوې، داسې موضوع چې د مفسرينو تر منځ د ډېرو ژورو او پراخو بحثونو باعث شوې او هغو خلکو ته ئې ډېرې ډېرې پوښتنې راولاړې کړې چې له قرآني مفاهيمو سره آشنا نه دي، دوى وايي: که زمور مشيت د الله د مشيت تابع وي او تر هغه چې د عالمونو رب نه وي غوښتې زمور اراده او غوښتنه بې تأثيره ده! تر هغه چې الله نه وي غوښتې زمور په زړه کې نه کومه تلوسه او تمنى راولاړېږي او نه د کوم کار د کولو عزم او اراده، که خبره داسې وي چې مور څه غواړو او د کولو اراده او عزم ئې کوو، الله ئې زمور په زړه کې راولاړوي او مور د هغه کار کولو ته هڅوي، نو مور ولې بايد د داسې کار په اړه وپوښتى شو او د مکافات او مجازات مستحق وګڼل شو؟! چې الله ئې ونه غواړي مور ئې نه شو غوښتى، تر هغه چې الله د کوم کار د کېدو اراده نه وي کړې مور ئې نه شو تر سره کولى، د هر څه غوښتنه او د هر کار د کولو

اراده الله تعالی زمونږ په ژوند کې اچوي، نو مونږ به ولې او په کوم دلیل په کومې ګناه نیول کېږو؟!! دا موضوع د (قضاء او قدر) په بحث پورې تړلې یوه اعتقادي موضوع ده او دې پوښتنې ته ځواب وایي چې آیا انسان (آزاد) او (مختار) پیدا شوی که (مجبور) او (محکوم)؟ آیا په خپلو کړنو کې له استقلال او خپلواکۍ برخمن دئ که د هغو مقدراتو په وړاندې محکوم دئ چې دی ئې په خپلو منګولو کې نیولی او د هر راز مخالفت او سرغړاوې امکان ئې ترې سلب کړی؟! او که د دې دواړو تر منځ درېیمګړی حالت، نسبي آزادي او اختیار او نسبي محکومیت او مجبوریت؟ په دې مطلب د شپه پوهېدو لپاره په کار ده چې لومړی په دې موضوع پورې د تړلو مفاهیمو په معنی ځان پوه کړو او بیا د دوی تر منځ ارتباط او تړاو درک کړو او په پای کې د موضوع په حقیقت پوه شو. په موضوع پورې تړلې مفاهیم دغه دي:

قضاء: له قضاء هغه سنن او ضوابط مراد دي چې په ټول عالم او د کائنات په هرې برخې حکومت کوي، همغه چې مونږ ئې مظاهر په خپلو سترګو ګورو، ګورو چې هر څه د دغو سننو او ضوابطو په وړاندې محکوم او مقهور دي، هیڅ څه او هیڅوک له دې ضوابطو د سرغړاوې مجال نه شي تر لاسه کولی، په دې عالم کې هر کار د دغو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي، نه کوم ستر کار او نه کوم وړ کار، نه کوم عادي خوځښت او نه پراخ او ستر حرکت، هیڅ څه دغو ضوابطو ته له کامل انقیاد پرته نه شي تر سره کېدی، د عالم د هر ستر او وړ توکي پیدایښت، ارتقاء، د کمال اوج ته رسېدا، له هغه ځایه ئې د ضعف او ناتوانۍ په لوري د خوځښت پیل، په مرګ محکومېدا او خپل ځای بل ته پرېښودل، دا ټول د هغو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي چې دا عالم ئې په خپلو منګولو کې نیولی، د قرآن په قاموس کې دغه سنن او ضوابط د (قضاء) په نامه یادېږي چې دوه برخې لري:

الف: تکویني قضاء، دا پر طبیعت حاکم سنن او ضوابط.

ب: تشریعي قضاء، هغه قوانین او مقررات چې الله تعالی د انسان د فردي او اجتماعي ژوند د تنظیم لپاره ټاکلي.

انسان نن په دې حقیقت پوه شوی چې د دې پراخ او ستر عالم هر څه د خاصو قوانینو او ضوابطو په وړاندې منقاد دي او هر څه د دغو قوانینو مطابق تر سره کېږي، که دا د توکو پیدایښت دئ، په خپلو کې د عناصرو ترکیب دئ، د ژوو زېږېدا، وده، زړښت، مرګ او تجزیه کېدل دي، د شیانو حرکت، سرعت، راپرېوتا او ویښتل دي او که هر بل کار او هر حرکت، دا ټول د هغو ضوابطو مطابق تر سره کېږي چې ساینس ئې د (فارمول) په نامه

یادوي، قرآن ئې د قضاء په نامه.

قدر: د قدر لغوي معنی اندازه، حد او توان ده او د قضاء او قدر په مبحث کې په دې معنی راغلی چې الله تعالی هر څه په خاصه او معینه اندازه پیدا کړي، د مقدار لپاره ئې یو حد ورته ټاکلی، د ټولو شیانو د مقادیرو تر منځ ئې دقیق تناسب او تعادل رامنځ ته کړی، نه پرېږدي دا تعادل او توازن له منځه ولاړ شي، د توکیو ضروري مقدار کم یا زیات شي، د هر څه د پیدایښت، دوام او فناء لپاره ئې خاص اجل او نېټه ټاکلې، د هر څه د حرکت لپاره ئې د پیل او پای مسیر ټاکلی او هره پېښه په خپل ثابت وخت کې رامنځ ته کېږي.

نن ساینس همدغه خبره کوي چې د دې عالم د هر څه مقدار او اندازه ثابته او معینه ده، له ټولو هغو پرله پسې او مسلسل تحولاتو سره سره چې هره شېبه ئې هري خوا ته ګورو، یو د تجزیې په حالت کې، بل د راټوکېدو په حالت کې، د یوه موجود شکل بدل شي او بل څه ترې جوړ شي، جامد په مائع او مائع په ګاز بدل شي، خو له دې ټولو سره سره نه دا ثابت مقادیر بدلېږي او نه ئې تر منځ تعادل او توازن، په عالم کې شته (تقدیر) نه بدلېدونکی دئ او په عالم کې ترسترګو کېدونکي تغییرات ئې نه شي بدلولی. که په دې (تقدیر) کې ډېر لږ بدلون او تغییر راشي او دا شته توازن او تعادل له منځه ولاړ شي، نه به د زمکې پر سر ژوند ممکن وي او نه به د دې عالم دوام، هر څه به متلاشي کېږي او دا ټول کائنات به له منځه ځي!! ساینس نن په جګ غږ اعتراف کوي چې د عالم هر توکی له پیدایښت تر زړښت او مرګ پورې ثابت او معین مسیر پلی کوي..

اراده: د هوډ، عزم او قصد په معنی ده او په دې مبحث کې دا مفهوم افاده کوي چې د دې عالم هر څه د (قضاء او قدر) مطابق او د الله تعالی په اراده تر سره کېږي، خبره یوازي دا نه ده چې د کائنات له پیدایښت وروسته او په هغه کې د سننو او مقدراتو له وضع کولو وروسته، د دې عالم هر کار په خپله او له دغو سننو سره سم، د الله له تصرف او پرېکړې پرته سر ته رسي، داسي نه ده چې دا عالم خپلې مخي ته پرېښودل شوی وي او پېښي په خپل سر او د دغو ضوابطو او فورمولونو مطابق او د طبیعي بهیر په څېر رامنځ ته کېږي، برعکس خبره داسي ده چې که څه هم هر کار، هر خوځښت او هر بدلون او تحول د خاصو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي خو پیل او پای ئې د الله په اراده او إذن وي، دا الله دئ چې لحظه په لحظه او هره شېبه ئې اداره کوي، جهت او مسیر ورته ټاکي او خاص نتائج پرې مرتب کوي. خو باید دې پوښتنې ته ځواب پیدا کړو چې په داسي حالت کې د انسان د نسبي استقلال او آزادۍ او له دوو لارو او دوو بدیلونو د یوه په

انتخاب کې د ده د اختيار معنی څه کېدی شي چې دلته د هر څه او هر کار لپاره له مخکې مقادير او مقدرات ټاکل شوي، ثابت او تغيير نه منونکي سنن او ضوابط په ټول عالم حکومت کوي او هر کار د الله په اراده تر سره کېږي، دا باور خو د هر ډول خپلواکۍ او استقلال مجال ختموي او له انسان او د عالم له هر څه مجبور او مقهور مخلوق جوړوي!!

تر ټولو د مخه په کار ده چې د قرآن ځيني هغه آيتونه له نظره تېر کړو چې وايي: انسان ته په يوې معيني دائرې کې دا اختيار ورکړی شوی چې يوه له دوو لارو او له ښه او بد يو ئې انتخاب کړي، د ده دغه اختيار او استقلال ته په پام سره هغه د خپلو عملونو مسئوليت په غاړه لري او سزا به ئې گوري: دا مطلب په گڼ شمېر آيتونو کې راغلی چې مونږ دلته په دوو بېلگو اکتفاء کوو. د کهف په مبارکې سورې کې راغلي:

وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ٢٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ٣٠ الكهف

او ووايه: دا ستاسو د رب له لوري يو حقيقت دئ، نو څوک چې غواړي ايمان دي راوړي او د چا چې خوښه وي کافر دي شي، بې شکه چې مونږ د ظالمانو لپاره داسي اور تيار کړی چې دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او چې کله د مرستي لپاره غږ کړي نو په داسي اوبو به ئې غږ ته ځواب وويل شي چې خوټېدونکې، توري او بويناکي دي او مخونه وريتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبی!! او بې شکه هغو چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضائع کوو چې د عمل له مخي ښه وي.

له دې مبارکو آيتونو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چې انسان ته دا اختيار او واك ورکړی شوی چې په خپله خوښه يا د ايمان او صالح عمل لار غوره کړي او يا د کفر او ظلم لار، د همدغه واك او اختيار له کبله او د خپل انتخاب د څرنگوالي له مخي به سزا گوري، همدا راز د النبأ په سوره کې لولو.

ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ٣٩ النباء

دا رښتينې ورځ ده، نو څوک چې غواړي د خپل رب په لوري دي د ورتگ لار غوره کړي.

يعني دا هم د انسان په انتخاب پورې اړه لري چې د خپل رب لوري ته د ورتلو لار اختيار کړي او د صالح عمل په نتيجه کې د الله خوا ته غوره مقام تر لاسه کړي.

خو دا چې د دې آيتونو تر څنګ قرآن دا هم ويلي: (وَمَا تَشَاءُونَ إِلا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ): تاسو غوښتی نه شئ تر هغه چې د عالمونو رب الله نه وي غوښتي. دا مطلب به څنګه د انسان له نسبي آزادۍ او اختيار سره متصادم نه ګڼو او څنګه به دا آيتونه سره همغږي ثابتوو؛ ځواب ئې دا دئ:

که دا آيت او دې ته ورته؛ مستقل او له نورو بېل نه؛ بلکې د ټولو هغو آيتونو تر څنګ وڅېړو او ټول هغه آيتونه په پام کې ولرو چې د قضاء، قدر، ارادې، مشيت او اختيار مفاهيم په کې راغلي، نو په مطلب ئې پوهېدل آسان دي او له خبط او خطأ خوندي پاته کېدی شوو، متأسفانه بادي الرأی کسان او د لنډ نظر خاوندان دا آيت يوازي او نورو ته له پامه پرته ځېړي، له همدې کبله په مطلب پوهېدل ورته ګران شي او ګمان کوي چې دا آيت د انسان په بې وسۍ، مجبوريت او عدم اختيار دلالت کوي، دوی دې ته نه دي متوجه چې په دې آيتونو کې د دې موضوع يوه څنډه څېړل شوې او نوري برخي ئې په نورو آيتونو کې؛ په کار ده په موضوع د سه پوهيدو لپاره ټول اړوند آيتونه په پام کې ونيسو؛ د دغې غلطۍ له کبله ځينو د قضاء او قدر په اړه داسي څه ويلي چې په موضوع د پوهېدو په ځای ئې هغه مزيد ګرانه کړي، خلکو ته ئې شکوک او شبهات راپيدا کړي او دښمنانو ته ئې د دې خبرې کولو موقع ورکړې چې ووايي: قرآن هم انسان بې اختيار او مجبور مخلوق ګڼي او هم ئې کړه وړه د محاسبې وړ، په داسي حال کې چې مجبور مخلوق د خپلو کړنو په اړه هيڅ مسئوليت نه لري، د مجبور مخلوق د ټولو کړنو مسئوليت د هغه چا په غاړه وي چې دی ئې ورته مجبور کړی!! ځيني نور بيا په دې اړه له څه ويلو ممانعت کوي او په دې ئې ټينګار وي چې د قضاء او قدر موضوع بايد مجمل ومنو او تفصيل ته ئې له ننوتو ډډه وکړو!! په داسي حال کې چې دا يوه مهمه اعتقادي موضوع ده او ايمان پرې ضروري، ايمان له علم او پوهې پرته نه شي کېدی، ايمان په حقيقت کې د پوهې انتهاء او پايله ده، قرآن د ګڼ شمېر آيتونو په ترڅ کې او په ډېر تفصيل سره دا موضوع څېړلې. که په قضاء او قدر پوري مربوط ټول آيتونه د يوه بل څنګ ته کېږدو، د يوه لپاره بل له پامه ونه غورځوو او د ټولو په رڼا کې نتيجه راوباسو، نو نه به په اصل مطلب پوهېدل راته ګران وي او نه به له کوم مشکل سره مخامخ کېږو.

د دغې موضوع په ارتباط مو هم بايد دې ته پام وي چې قرآن که له يوې خوا دا ويلي چې دلته تغيير نه منونکي قضاء او قدر شته، هر کار د قضاء او قدر مطابق او د هغو سننو او ضوابطو په مراعات سره چې الله تعالی د دې عالم لپاره وضع کړي، د الهي مقدراتو په محدوده کې او د الله تعالی په اراده او إذن تر سره کېږي، له بلې خوا ئې دا هم ويلي چې

انسان ته نسبي واك او اختيار ورکړی شوی، هغه کولی شي له دوو لارو يوه غوره کړي، کولی شي له دوو کارونو د يوه د کولو اراده وکړي، پر قرآن د ايمان غوښتنه دا ده چې موږ به په دواړو خبرو ايمان لرو، نه دا چې يوه ئې ومنو او پر هغې ټينګار وکړو او له بلې سترګې پټې کړو او له پامه ئې وغورځوو. هغه چا ته چې په قرآن کې لږ غور وکړي، د دې دواړو خبرو تلفيق ګران کار نه دئ او په ډېره آسانۍ سره دې نتيجې ته رسېږي چې انسان ته د نسبي اختيار او واك ورکول او له دوو بديلونو د يوه د انتخاب قدرت او صلاحيت ورکول، د همدې الهي (قضاء) او (قدر) يوه برخه ده، الله تعالى دا سنت وضع کړی چې انسان کولی شي په ځينو مواردو کې او د يوې خاصې محدودې په انګړ کې د خپل مشيت او غوښتنې مطابق اقدام وکړي، که دا الهي سنت نه وی او د ده دا اختيار د قضاء او قدر جزء نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر په کامله توګه محکوم او بې اختيار وو، هيڅ څه به ئې په خپله خوښه نه شو تر سره کولی!! خو د الله تعالى مشيت داسې تللی، الله تعالى داسې اراده کړې، الله تعالى داسې غوښتي چې انسان دي نسبي واك او اختيار ولري، د همدې لپاره وايو چې انسان هر څه کوي د الله په اراده، إذن او اجازه ئې کوي، الله تعالى ورته د يوې پرېکړې عزم او د يوه کار د کولو توفيق ورکوي. د (قضاء) او (قدر) معنی دا نه ده چې انسان بې اختيار او بې ارادې مخلوق دئ، چې نه د انتخاب اختيار لري او نه په خپل تقدير او برخليك کې د ده اراده او عزم څه اغېز لري. دا د قضاء او قدر ډېر غلط او ناسم تعبير دئ، (قدر) يعني دا چې دلته د هر څه لپاره خاصه او تغيير نه منونکې اندازه ټاکل شوې او (قضاء) يعني دا چې دلته هر څه د ثابتو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي، انسان ته د همدغو سننو او مقدراتو په محدودې کې د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی، په سم انتخاب ئې سم نتائج مرتب کېږي او خراب انتخاب ئې خراب نتائج ورکوي.

د قضاء او قدر په اړه چې کوم آيتونه او روايات راغلي، په تعبير کې ئې مسلمانان په دريو ډلو وېشل شوي:

۱- هغه چې انسان د مقدراتو په وړاندي داسې بې واکه، مجبور او محکوم مخلوق ګڼي چې برخليك ئې له مخکې ټاکل شوی، دی ئې د بدلولو توان نه لري، د ده افعال او کړه وړه نه د ده د خپلې ارادې زېږنده دي او نه ئې د خپل ذاتي توان او ځواك ، اراده ئې د الله تعالى د ارادې تابع او ځواك ئې الهي توفيق دئ، دا ډله د جبريه په نامه نومول شوې. د دوی د عقيدې او باور خلاصه دا ده:

- انسان په خپلو افعالو کې خپلواك نه دئ.

- ځيني انسانان سعيد او بختور او ځيني شقي او بد بخت پيدا شوي.
- ځيني انسانان د جنت لپاره پيدا شوي او ځيني د دوزخ لپاره،
- جنتي به خامخا د جنت کارونه کوي او دوزخي د دوزخ، نه دا خپل برخليك بدلوی شي او نه هغه!
- که الله تعالی څوك جنت يا دوزخ ته لېږي دا پوښتنه نه شي تړې کېدی چې ولې؟ که ټول انسانان دوزخ ته ولېږي، ظلم ئې نه دئ کړی او که ټول جنت ته ولېږي بې عدالتي ئې نه ده کړې. دا ځکه چې ظلم هغه څه ته وايي چې څوك د بل په مال او حق تېری وکړي، انسانان ټول د ده مخلوق او دی ئې ټولواك دئ، د دوی په اړه هره پرېکړه د ده حق دئ.

۲- هغه چې د پورتنۍ ډلې په مقابل کې ده، انسان په خپلو افعالو کې مستقل او خپلواك ګڼي، د ده ټول افعال د ده د خپلې ارادې زېږنده بولي، د دوی له نظره جنت د مؤمن حق دئ چې خامخا ئې بايد تر لاسه کړي؛ او دوزخ د کافر د بدو عملونو سزا ده چې بايد ورسره مخامخ شي، دوی د مخکینۍ ډلې عقيده او مجبورونکی تقدير او برخليك د الهي عدل خلاف ګڼي، دوی د قدريه په نامه يادېږي، چې د باور خلاصه ئې دا ده:

- د انسان هر عمل په خپله د ده له لوري دئ، هم بد عمل په خپله خوښه کوي او هم نېك عمل، مخکینۍ ډله د انسان ټول افعال الله تعالی ته منسوبوي او دوی ټول انسان ته منسوبوي.
- جنت ته به هغه څوك دروميِ چې د جنتيانو عمل ئې کړی وي؛ او دوزخ به د هغه چا ځای وي چې د دوزخيانو عملونه ئې کړي.

دا دواړه ډلې د خپلې عقيدې په ملاتړ کې په خاصو او ځانګړو نصوصو استناد کوي او د مقابل طرف د استناد وړ آيات تأويلوي او روايات ئې يا نه مني او يا ئې د آيتونو په څېر تأويلوي.

۳- د دغو دواړو ډلو په مقابل کې درېيمي ډلې منځنۍ لار غوره کړې، د انسان په نسبي اختيار او نسبي محکوميت باور لري. دوی د اهل سنت و جماعت په نامه يادېږي او د امت اکثريت جوړوي.

اهل سنت و جماعت په دې عقيده دي چې انسان نه مجبور مطلق دئ او نه مختار مطلق، بلکې په يوې محدودې کې د اختيار خاوند دئ، د دوی له نظره د انسان په اړه دا عقيده درلودل چې هغه په مطلقه توګه محکوم او مجبور دئ هم د واقع خلاف خبره ده، هم له څرګندو نصوصو سره متصادم؛ او هم د الهي عدالت خلاف، عملاً ګورو چې انسان

نه د جماداتو په څېر بې واك او محكوم دئ؛ او نه داسې فعال مايشاء چې هر څه ئې زړه وغواړي وئې كړی شي، خبره داسې نه ده بلكې د ځينو كارونو د كولو واك او اختيار لري؛ او د ځينو له كولو عاجز او ناتوان دئ، د همدغه واك او اختيار له كبله له هغه سره محاسبه كېږي، ده ته چې د كومو كارونو كول ممكن دي د هغوی له منځه د يوه انتخاب كولی شي، خو د ده په دې انتخاب چې كوم نتائج مرتب كېږي، دی ئې په خپله نه بلكې الله تعالی ئې پرې مرتب كوي، په دې لار كې چې دی له كومو لوړو ژورو سره مخامخ كېږي دا ټول د ده له واك بهر شيان دي، كه هغه مجبور او بې اختيار وی نو نه محاسبه ورسره صحيح وه او نه ئې مجازات، دا ځكه چې د هغه چا مجازات او تعذيبول د عدالت خلاف كار دئ چې د اختيار او واك خاوند نه وي او د هر كار په كولو اړ شوی وي، الله تعالی په خپلو بندگانو ظلم نه كوي، څنگه به هغه څوك تعذيبوي چې بل گناه ته اړ كړی وي، الله تعالی خو د مجبوريت او اضطرار په وخت كې حرام كار هم انسان ته روا كړی.

جبريه د خپلې عقيدې د اثبات لپاره په دې آيت تر هر څه زيات استناد كوي:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ٩٦ الصافات

چې ترجمه ئې داسې كوي: او الله هم تاسو پيدا كړي يئ او هم ستاسو عملونه!

يعني دا تاسو نه يئ چې خپل عملونه تر سره كوئ بلكې ستاسو عملونه هم د الله تعالی له لوري پيدا كېږي!! د خپلو عملونو پرېكړه تاسو نه كوئ الله تعالی ئې كوي!!

د دغې ژباړې او استدلال په اړه بايد ووايو: دا ژباړه ناسمه او د آيت د مراد او مقصد خلاف ده. راشئ د دې آيت الفاظو ته لږ ځير شو او وگورو چې د آيت دقيقه او سمه ترجمه كومه ده، دا په اصل كې د ابراهيم عليه السلام د هغې جامع وينا يوه برخه ده چې خپل مشرك قوم ته ئې كړې، په صحيح ترجمې او معنی ئې په هغه صورت كې سم پوهېدی شوو چې دا آيت او تړې مخكينی يو ځای په پام كې ونيسو، د دواړو آيتونو ترتيب داسې دئ:

قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ٩٥ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ٩٦ الصافات

وئې ويل: آيا د هغه څه عبادت كوئ چې تاسو ئې (په خپله) تراشئ؟ حال دا چې الله تعالی هم تاسو پيدا كړي يئ او هم هغه څه چې تاسو ئې جوړوئ.

دلته په مخكيني آيت كې د دوی بتان د ماتنحتون په نامه ياد شوي؛ او په وروستني آيت كې همدا (مَا تَنۡحِتُونَ) د (مَا تَعۡمَلُونَ) په صيغه راغلي، يعني الله تعالی هم تاسو پيدا كړي يئ او هم هغه بتان چې تاسو په خپل لاس جوړ كړي.

دلته (مَا تَعۡمَلُونَ) داسي دئ لکه په لاندي آيتونو کې چې راغلی:

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمٗا فَهُمۡ لَهَا مَٰلِكُونَ ٧١ يٰس

آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې موږ هغه څاروي ورته پيدا کړل چې زمونږ لاسونو جوړ کړي؛ او اوس ئې دوی خاوندان دي.

او يا دا آيت:

لِيَأۡكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۖ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٣٥ يٰس

چې مېوه او هغه څه ئې وخوري چې دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آيا شکر نه کوي؟!

د دې آيت (وَالله خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ) دا الفاظ (وَمَا تَعْمَلُونَ) داسي تعبيرول چې الله تعالی د انسان عملونه پيدا کوي، غلط تعبير دئ، صحيح تعبير ئې هماغه مخکينی تعبير دئ چې په يوه حديث کې هم داسي اشاره ورته شوې: الله تعالی صانع او مصنوع دواړه پيدا کړي، يعني هم ئې انسان پيدا کړی او هم هغه څه چې انسان ئې جوړوي، له دې آيت دا انتباه اخيستل چې انسان په خپل عمل کې هيڅ راز استقلال نه لري ډېره بې بنسټه انتباه ده.

همدا راز دا ډله په دې روايت ډېر استناد کوي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ الصَّادِقُ المَصْدُوقُ، قَالَ: "إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللَّهُ مَلَكًا فَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعٍ: بِرِزْقِهِ وَأَجَلِهِ، وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ، فَوَاللَّهِ إِنَّ أَحَدَكُمْ - أَوْ: الرَّجُلَ - يَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ، حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا غَيْرُ بَاعٍ أَوْ ذِرَاعٍ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الجَنَّةِ، فَيَدْخُلُهَا. وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الجَنَّةِ، حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا غَيْرُ ذِرَاعٍ أَوْ ذِرَاعَيْنِ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الكِتَابُ، فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا " رواه البخارى

له عبد الله رضي الله عنه روايت دئ چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم موږ ته دا خبره وکړه: يقيناً چې ستاسو هر يو د مور په رحم کې څلوېښت ورځې رايوځای کېږي، بيا همدومره موده ځوړند توکی وي، بيا همدومره موده ژوول شوې غوښي ته ورته وي، بيا الله تعالی يوه فرشته راولېږي او د څلورو شيانو (د ليکلو) امر ورته وشي: د ده رزق، اجل؛

او دا چې شقي (بد بخت) به وي که سعيد(بختور)، بيا روح په کې پو شي، نو په الله قسم چې ستاسو يو کس به د دوزخيانو عملونه کوي، تر هغه چې د ده او دوزخ تر منځ به يوازي يو لاس يا نيم لاس واټن پاته وي، خو (د مقدراتو) ليکپاڼه به ئې پرې وړاندي شي، نو د جنتيانو عمل به وکړي نو ورداخل به شي؛ او يقيناً چې يو کس به د جنتيانو عمل کوي، تر هغه چې د ده او جنت تر منځ به يوازي يو لاس يا نيم لاس واټن پاته وي، خو (د مقدراتو) ليکپاڼه به ئې پرې وړاندي شي، نو د دوزخيانو عمل به وکړي نو ورداخل به شي.

د دې روايت په اړه لاندي ټکي د پام وړ دي:

قدريه دا او دې ته ورته روايات د حديث په توګه نه مني، نه ئې متن مني او نه ئې اسناد.

دا د جبريه وو لپاره نه يوازي مستمسك نه شي کېدی بلکي د دوی د عقيدې په بطلان دلالت کوي، دا ځکه چې دلته جنت او دوزخ ته تګ د انسان په عمل پوري تړل شوی؛ او په کې ويل شوي: فيعمَلُ بعمل أهل الجنَّة فيدخُلها: نو د جنتيانو عمل به وکړي او د همدې عمل له کبله به جنت ته داخل شي، فيعمل بعملِ أهلِ النار فيدخلها: نو د دوزخيانو عمل به وکړي او د همدې په سبب به دوزخ ته داخل شي.

د فرشتو دا کتابت، کتابت بالحكم نه دئ؛ کتابت بالوصف دئ، ليکنه ئې داسي نه ده چې دا دي سعيد يا شقي وي، بلکي داسي ده چې دا به سعيد يا شقي وي، دا ځکه چې کتابت ئې له خلقت مخکې نه بلکي له خلقت او په ده کې د روح له پو کېدو وروسته شوی او دا داسي ده لکه په يوې فابرېکې کې چې کومه دوا يا خوراکې توکی توليد شي او د فابرېکې مربوط هيئت د هغه له پاسه د دې خبرو د ليکلو هدايت ورکړي چې: د دې خصوصيات، ګټه او تاوان به څه وي، عمر ئې څومره او ترکومي نېټې وروسته خپل اصالت او خصوصيات له لاسه ورکوي او د استفادې وړ نه پاته کېږي.

له دې روايت يوازي دا خبره ثابتېږي چې د هر انسان په اړه به د فرشتو ليکنه رښتيا وخېژي او لکه چې دوی ليکلي همداسي به يا د خپل عمل له کبله دوزخ ته ځي يا جنت ته. د دې روايت له هيڅ لفظ دا نه معلومېږي چې انسان بې اختيار او مجبور پيدا شوی.

جبريه په دې روايت هم ډېر استناد کوي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " احْتَجَّ آدَمُ، وَمُوسَى، فَقَالَ مُوسَى: أَنْتَ آدَمُ الَّذِي أَخْرَجْتَ ذُرِّيَّتَكَ مِنَ الجَنَّةِ، قَالَ آدَمُ: أَنْتَ مُوسَى الَّذِي اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالاَتِهِ، وَكَلاَمِهِ ثُمَّ تَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِّرَ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ، فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى " رواه

البخاری

له ابوهریره رضي الله عنه روایت شوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آدم او موسی علیهما السلام په خپلو کې مناظره وکړه، نو موسی علیه السلام وویل: ته خو هغه آدم یې چې خپل اولاد دي له جنت وایستل؛ او آدم علیه السلام ورته وویل: ته هغه موسی یې چې الله تعالی په خپل رسالت او کلام سره تا ته غوره والی درکړ، خو بیا ما په هغه کار ملامتوې چې زما له پیدایښت مخکې زما لپاره مقدر شوی وو! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې آدم علیه السلام؛ موسی علیه السلام پر کړ.

د دې روایت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دا روایت له بخاري علاوه د حدیث په نورو کتابونو کې هم راغلی، خو په الفاظو او راویانو کې له څه توپیر سره.
- جبریه وایي چې آدم علیه السلام د هغې مېوې په خوړلو اړ شوی، له مخکې د ده په تقدیر او برخلیك کې لیکل شوي وو چې دی دي حتماً دا مېوه وخوري، نو ځکه دی ملامت نه وو او موسی علیه السلام د اعتراض حق نه درلود.
- قدریه نه دا روایت مني او نه ئې اسناد صحیح ګڼي. وایي: آدم او موسی علیهما السلام چېرې له یوه بل سره لیدلي او دا مناظره کله او چېرې واقع شوې؟ د دې ذکر نه په قرآن کې راغلی او نه په تورات کې.

اهل سنت و جماعت د دې روایت په اړه د جبریه له تعبیر سره موافق نه دي او په دې تعبیر دا اعتراضات لري:

۱- په قرآن کې په ډېرو صریح الفاظو او په مکرره توګه آدم علیه السلام په دې کار ملامت کړی شوی، په خپله آدم علیه السلام او بې بې ئې هم دا کار ګناه ګڼي او له الله تعالی د معافي او مغفرت غوښتنه کوي.

۲- څنګه به الله تعالی له یوې خوا آدم علیه السلام ته د هغې مېوې د نه خوړلو امر کوي او له بلې خوا به ئې د همدې مېوې خوړلو ته اړ کوي؟ له داسي کاره خو یو شریف انسان هم ډډه کوي، څنګه الله تعالی ته د دې نسبت کوئ؟!!

۳- د آدم علیه السلام له ځوابه دا معنی نه شو اخیستی چې هغه خپل ځان له ملامتیا برئ ګڼلی، دا ځکه چې په قرآن کې د ده اعتراف زموږ مخې ته پروت دئ، معنی ئې له دې پرته بل څه نه شي کېدی چې له جنت ستاسو ایستل خو زما کار نه وو، دا پرېکړه خو الله تعالی کړې، الله تعالی به ولې زما د غلطۍ سزا تاسو ته درکوي؟.! او د هغه چا له شأنه خو داسي اعتراض کول ډېر لري دئ چې الله تعالی ورته د رسالت مقام او د کلام افتخار ورکړی وي!!

شايي لاندي مثال له هغه چا سره مرسته وکړی شي چې د انسان نسبي اختيار؛ او له مخکې ټاکل شوي مقدرات؛ يو د بل منافي ګڼي او دا ورته ګرانه بريښي چې څنګه په لوح محفوظ کې ليکل شوي، تغيير نه منونکي مقدرات له انسان اختيار او واك نه سلبوي؟:

تاسو د يوه داسي باغ خاوند يئ چې جګ جګ دېوالونه او دنګه مضبوطه دروازه لري، شه ساتنه او حفاظت ئې کېږي، هيڅوك نه شي کولی ستاسو له اجازې پرته دې باغ ته ننوځي، خپل يوه دوست ته اجازه ورکوئ چې باغ ته ننوځي او مېوه ئې وخوري، د دروازې کيلي ورکوئ او ورته وايئ: دې باغ ته له دې کيلي په استفادې سره ننوتی او هره مېوه ئې خوړلی شې، له دې وروسته د دې باغ اختيار ستا په لاس کې دئ، خو دې ته دې پام وي چې د باغ کيڼ لوري ته داسي وني ولاړي دي چې د مېوو رنګ ئې شايسته او جالب، خوند ئې شه، خو خوړل ئې د ګټې په ځای تاوان درته لري، ستا صحت او سلامتيا ته تاوان رسوي، که دغو ونو ته ورنږدې نه شې او مېوه ئې ونه خورې نو دا به ستا په ګټه او زما د رضايت باعث شي، زما خوښه دا ده او دا مي پرتا پېرزو کېږي چې دا نوري هغه مېوې وخورې چې هم تا ته ګټوري دي او هم ئې زه درته خوښوم او پرې راضي کېږم او په دې سره به روغ رمټ له بڼ ووځې. ستا دا دوست ستا په اجازه بڼ ته ننوځي، هر څه چې په دې بڼ کې کوي او هره مېوه چې خوري نو ستا په اجازه او له هغه اختيار په استفادې سره ئې خوري چې تا ورکړی، په حقيقت کې هغه ستا په اراده، إذن او اجازه او له هغه اختيار او صلاحيت په استفادې سره عمل کوي چې تا ورکړی، که مضر او د ده روغتيا او سلامتيا ته تاواني او ستا د خوښي خلاف مېوه خوري او ستا د رضايت خلاف کار کوي او يا ګټوره مېوه خوري او هغه څه کوي چې ستا د رضايت باعث کېږي، دواړه کاره ئې ستا په إذن، اجازه، اراده او توفيق کړي، تا دا موقع، توان، توفيق او اجازه ورکړه چې باغ ته ننوځي او د خپلې خوښي مېوه وخوري، که تا دا اجازه نه وی ورکړې نه باغ ته ننوتی شو، نه ئې سم او بد کار کولی شو او نه ئې تاواني او ګټوره مېوه خوړلی شوه، غلطي ئې ستا په اجازه کړې خو مسئوليت ئې پر خپله غاړه دئ، له دې کبله چې په خپل انتخاب کې ئې اشتباه کړې، له اختيار او صلاحيت ئې غلطه استفاده کړې، هغو ونو ته نژدې شوی او مېوه ئې خوړلې چې د ده لپاره تاواني او د بڼوال د خفګان باعث. بڼ ته له ننوتو وروسته چې نوموړی کس هر څه کوي مسئوليت ئې د ده په خپله غاړه دئ، هم مفيده مېوه خوړی شي او هم مضره، دا ځکه چې د انتخاب واك ورکړی شوی، د خپل انتخاب نتائج به ګالي، شه انتخاب ئې شه نتائج لري او بد انتخاب ئې بد. د زمکې په سر د انسان خلافت او د قضاء او قدر په وړاندي د هغه محکوميت او ده ته د (اختيار) او (انتخاب) صلاحيت او

واك ورکولو معنی هم داسي ده.

په دې مثال کې د باغ دېوالونه، دروازه او کیلي ئې، د خاوند اجازه، خپل دوست ته د انتخاب اختیار ورکول، د ممنوعه وني د مېوې تاوان، د باغ د خاوند خوښي او ناخوښي له مفید او مضر مېوو د استفادې په صورت کې، هم (قضاء)، (قدر)، (د الله اراده)، له خپل بنده د الله تعالی رضایت او عدم رضایت، ښه توضیح کوي او هم (د قضاء او قدر په محدوده کې د انسان اختیار او واك) ښه انځوروي، خو د دې قضیې د یوې خاصې څنډې له بیانولو عاجز دئ او هغه دا چې: کله ستا دوست د باغ د دروازې کیلي تر لاسه کړي او باغ ته ننوځي، نو ستا له واك او ادارې ووځي، له دې وروسته ته ورباندې هیڅ ډول سلطه او واك نه لرې، په داسي حال کې چې له بنده سره د الله تعالی معامله داسي نه ده؛ هیڅ شبهه د هغه له ساتني، څارنې او ادارې نه شي وتی، هر ګام چې مخکې ږدي د الله په توفیق او مرسته ئې ږدي، د ښه او بد کار توان هم هغه ورکوي.

دې ته مو هم باید پام وي چې که انسان له داسي څه سره مخامخ کېږي چې د ده له اختیار او واك بهر دي، د ده عمر، د پیدایښت او مرګ نېټه ئې، پېښې او حوادث او که داسي څه چې په خپل انتخاب او اراده ئې کوي، دا ټول له مخکې په لوح محفوظ کې لیکل شوي، ځینې کسان په لوح محفوظ کې دا لیکنه د انسان د نسبي واك او اختیار منافي ګڼي، چې دا یوه مغالطه ده، وجه ئې یا ناپوهي ده او یا له اسلام سره دښمني!! دوی دې ته نه ګوري چې په لوح محفوظ کې دا هم لیکل شوي چې انسان نسبي واك او اختیار لري، کوم شي له دوو لارو یوه د تلو لپاره غوره کړي او دا داسي ده لکه په پورتني مثال کې چې ته د هغه دوست وضعیت ته په پام سره ده ته د کیلي ورکولو په وخت کې له ځان سره ولیکې: دی به په دې باغ کې څه څه وکړي او کومي کومي مېوې به وخوري، ستا دا لیکنه ستا د پوهې او علم څرګندونه کوي، هر څومره چې ستا علم او پوهه دقیق وي همدومره به د ده کړه وړه ستا د لیکني موافق خبژي، ستا لیکنه نه د ده خپلواکې سلبوي او نه ئې په کوم کار اړ کوي، دا ځکه چې تا په خپله د باغ کیلي ورکړې او د هري مېوې خوړلو اختیار دي ورکړی، په لوح محفوظ کې لیکنه دې ته ورته ده، دا لیکنه د انسان د هغو عملونو په اړه چې په خپل اختیار او خپلې خوښې ئې تر سره کوي، تقدیر بالوصف دئ، نه تقدیر بالحکم، دی پرې اړ شوی نه دئ بلکې د ده حالت په کې بیان شوی، دا د الله تعالی د بشپړ علم غیب ښودنه کوي، نه د هغه څه چې د انسان اختیار ترې سلب کړي او یو محکوم او مجبور مخلوق ترې جوړ کړي.

الانفطار

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الانفطار: چاودېدل دئ، چې د سورې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۱۹ آیتونه لري، په مکي دور کې نازله شوې، د تکویر د سورې په څېر ئې آیتونه لنډ لنډ، وزن ئې ډېر ښایسته او خوندور، شعارونو ته ورته، له آخري آیت پرته د ټولو طول او اوږدوالی یو شان دئ، د دریو کلمو په اندازه، آخري آیت له دوو فقرو جوړ شوی چې د نورو آیتونو نژدې دوه برابره کېږي، خطاب ئې پرېکنده او قاطع او د سورې له مضامینو سره ډېر متناسب، له لومړي آیت تر پنځم پوري فواصل انفطرت ته ورته وزن لري، خو په دې پنځو آیتونو کې د دې وزن الفاظ اُوه ځله راغلي چې انفطرت، انتثرت، فجرت، بعثرت، علمت، قدمت او اخرت دي، په شپږم؛ اوم او اتم آیت کې د غرّك، خلقك، عدلك او ركبك، وزن غالب دئ او په ټولو الفاظو ئې سیوری غوړولی، له دولسم او نولسم آیت پرته د نورو آیتونو د پای صیغې دین او نعیم ته ورته وزن لري، دولسم آیت په تفعلون پای ته رسېدلی او د آخري آیت دواړه فقرې د شیئا او لله په هموزنو الفاظو ختمي شوې.

په لومړیو دریو آیتونو کې د قیامت د لومړۍ مرحلې دریو سترو سترو پېښو، د آسمان چاودېدو، د ستورو تیت پرك کېدو او د بحرونو روانېدو ته اشاره شوې، په څلورم او پنځم آیت کې د قیامت د دوهمي مرحلې، دوه برخي د مړو په راژوندي کېدو سره د قبرونو سپړېدل او د هر چا سترګو ته د ده عملونه ودرېدل انځور شوي، ورپسې هغه غولېدلی انسان مخاطب شوی چې خپل پالونکی رب ئې هېر کړی او له الله سره د مخامخېدو له حقیقت انکار کوي، له حیرانتیا په ډکې لهجې ترې پوښتنه کېږي چې کوم څه د خپل هغه مهربان رب په اړه غولولی یې چې ته ئې پیدا کړې، متعادل او متوازن او په ښایسته صورت او غوره جوړښت کې، ولې د حساب و کتاب له ورځې انکار کوې؟! دا ورځ به خامخا راځي، ستاسو هر یو به خپله سزا ګوري، ځینې به جنت ته درومي او ځینې دوزخ ته.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتْ ۝١ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ۝٢ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ فُجِّرَتْ ۝٣ وَإِذَا ٱلْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ۝٤ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ۝٥

١- هغه وخت چې دا آسمان چاود چاود شي. ٢- او کله چې دا ستوري ټول تيت تيت شي. ٣- او کله چې سيندونه روان کړی شي. ٤- او کله چې قبرونه وسپړل شي. ٥- هر څوك به په کوم څه چې مخکې کړي او وروسته کړي ئې وو پوه شي.

١-٢: قرآن د دې مطلب په بيانولو سره چې يو وخت به په آسمان کې چاودونه راپيدا شي او ورپسې به ستوري خواره واره شي، يوه داسي ژور علمي حقيقت ته اشاره کړې چې تر دې پېړۍ د مخه انسان ته نه وو معلوم او ډېره لنډه موده کېږي چې کائنات څېړونکي پرې پوه شوي. لکه څنګه چې قرآن د عالم د پرله پسې او مسلسل پراخېدو خبره کوي، کائنات څېړونکي هم دې نتيجې ته رسېدلي چې دا کائنات ورځ په ورځ د پراخېدو په حال کې دي، په هر ستور ليکي (کهکشان) کې ستوري يو له بله او په خپله ستور ليکي يو له بله لرې کېږي، دا مسلسل پراخېدا به د دې باعث شي چې د ستورو او ستور ليکو تر منځ دا د جذب او فرار اوسنی تعادل او توازن له منځه ولاړ شي او د دوی تر منځ اړيکي يا په دې دليل سستي شي او وشلېږي چې د مرکز او لويو ستورو د جاذبې قوه کمزورې شي او يا د دې لپاره چې د دوی تر منځ واټن زيات شي او مرکز ئې نه شي کولی په خپل ماحول کې ستوري په خپل خپل مدار کې ټينګ وساتي او همدا به د ټولو ستورو د خورېدو باعث شي.

نو ګمان مه کوئ چې د عالم دا موجود نظم تلپاته او دائمي دئ او هيڅ بدلون به په کې نه راځي، مګر نه ګورئ چې کله دلته يو ستوری راپرېوځي او کله هلته بل له خپل مدار ووځي او د پراخي فضاء په غېږ کې د نامعلوم مسير په لوري وخوځېږي، د سماوي اجرامو دا هبوط او سقوط په ډاګه د داسي ورځي د راتلو خبر راکوي چې د ټولو ستورو تر منځ به پيوندونه وشلېږي او په فضاء کې به خواره واره شي. د قرآن د دې وړاندويني په اهميت هغه څوك پوهېدی شي چې کلونه کلونه ئې په هغو رصدتونونو کې تېر کړي وي چې ستر ستر او په لويو لويو عدسيو مجهز تلسکوپونه لري او د دغو تلسکوپونو په مرسته توانېدلي چې د دې پراخ عالم په ځينو اسرارو پوه شي، هغه چې د نومياليو کائنات څېړونکو نظريات ئې لوستي او له کلونو کلونو تحقيق وروسته دې نتيجې ته رسېدلي چې د عالم مسلسل او سريع پراخېدا به د دې باعث شي چې د ستورو تر منځ اړيکي کمزورې شي، له خپل خپل مدار ووځي، يو له بل سره تصادم وکړي او همغه حالت راشي چې قرآن ئې وړاندوينه کړې.

۳- کله چې د دې عالم په فضاء کې موجود نظم مختل شي، د زمکې په نظم کې به هم اختلال راپیدا شي، د دې اختلال یوه نښه به دا وي چې د اوبو رسولو دا اوسنی نظم چې د انسانانو او ټولو نورو ژوو ژوند ورپوري تړلی دئ، دا به مختل شي؛ اوسنی نظام د دې باعث دئ چې د زمکې د اوبو یوه برخه په بحرونو کې، بله د واورو په بڼه کې په غرونو او د شمال او جنوب قطبونو کې، یوه لویه برخه ئې د وربڼو په شکل کې د آسمان او زمکې تر منځ وي، بله ئې تر زمکې لاندې او یوه برخه ئې د خلکو د استفادې لپاره په نهرونو، چینو او کاربزونو کې بهیږي، په دې دقیق نظام کې اختلال به د دې سبب شي چې ټولې اوبه بحرونو ته راکوزې شي، د بحرونو کاسې تر ژیړ ډکې او د وچې په لوري ئې د اوبو رابهیدل پیل شي او ټوله زمکه تر اوبو لاندې شي. دا هم د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ، د دې په اهمیت هم یوازې حساس ساینس پوهان ښه پوهیږي، هغه چې د یویشتمې پیړۍ تر ټولو لویه مسئله دا ګڼي چې د زمکې تودوخه له دې کبله ورځ په ورځ زیاتیږي چې د اوزون هغه پرده ځای ځای پرې شوې چې د زمکې د هوا په متوازن ساتلو کې هم لویه ونډه لري او زمکې ته د خطرناکو او تاوانې وړانګو د راتلو په مخنیوي کې هم؛ او دا د هغو ګازونو له کبله ده چې له ځمنو فابریکو آسمان ته پورته کیږي. دوی وایي چې په تیرو سلو کلونو کې د زمکې حرارت څو درجې زیات شوی او که عاجل ګامونه وانه خیستل شي نو څو لسیزې وروسته به د زمکې پر سر ژوند ممکن نه وي، دوی د وروستیو کلونو شدید بارانونه، سېلابونه، طوفانونه او د بحرونو د اوبو د سطحي لوړېدل هم د دغه اختلال پایلې ګڼي!!

٤- دلته د قیامت د دوهمې مرحلې هغه صحنه زموږ مخې ته ایښودل شوې چې ټول قبرونه به وسپړل شي او مړي به له قبرونو رااوچت شي، هر څوك چې چېرې دفن شوی له همغه ځایه به راپورته شي او د محشر په لوري به وخوځېږي، له یوه سایق او بوونکي سره چې دی مخ پروړاندې بیایي او له یوه شاهد سره چې د ده پر ټولو کړنو به شهادت ورکوي. او دا به وروسته له هغه وي چې د مخکیني متلاشي شوي نظام په ځای به نوی نظام، له نویو سننو او ضوابطو سره او له نوې زمکې او آسمان سره راپیدا شي، بیا به ټول مړه انسانان بېرته راژوندي کیږي، خپل قبرونه به سپړي او بهر به راوځي، داسې لکه په هر پسرلي کې د بوټو هغه مړه زړې چې ترخاورو لاندې دي، په یوه باران سره وخوځېږي، وده وکړي، د زمکې زړه وچوي او د ښایسته بوټي په بڼه کې بهر راووځي.

۵- په دې ورځ به انسان ته د ده ټول عملونه، له څرنګوالي، ځای او نېټې سره ئې، له څه کمي او زیاتوالي پرته، په دقیقه توګه، د ده په وړاندې کښېښودی شي او دی به د خپلو

عملونو په فهرست کې ټول خپل (ما قدمت و اخرت) وګوري او د دې معنی داده چې:

الف: کوم کوم کار ئې څه وخت، څه وخت کړی، کوم مخکې او کوم وروسته.

ب: تر سره شوي عملونه ئې کوم دي او هغه ئې کوم چې د کولو اراده ئې درلوده خو د مرګ او نورو عواملو له کبله پرې موفق نه شو، ترې پاته شول او د کولو فرصت او توان ئې تر لاسه نه کړ.

ج: نه یوازې هغه کارونه به وګوري چې په خپل ژوند کې ئې تر سره کړي بلکې هغه څه به هم وګوري چې د ده له مرګ وروسته د ده په کړنو مرتب شوي، کوم مسجد، روغتون، پل او سړک ئې جوړ کړی وو، د خلکو د لارښوونې او هدایت او د ښېګڼو لوري ته د دوی د بلنې لپاره ئې کوم کتاب لیکلی وو، داسې څه ئې په میراث پرېښې چې راتلونکې نسلونو ترې ګټه اوچته کړي او دی ئې په ثواب کې ورسره شریک شوی او یا داسې څه ترې پاته شوي چې نور خلك پرې بې لارې شوي او دی ئې په ګناه کې ورسره شریک شوی، دا ټول به ئې په وړاندې مجسم شي.

(مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ) دا ټول مطالب افاده کوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨

٦- آی! اې انسانه! د خپل رب په اړه څه يې غولولی؟ ٧- هغه چې پیدا ئې کړې او ښه ئې برابر او متعادل کړې. ٨- په هرې بڼې چې غوښتل ئې، ترکیب ئې کړې.

٦- له دې مبارك آیت دوه انتباه او تعبیر درلودی شو:

- خدای هېرونه یو فریب او غولېدنه ده، خاص عوامل د دې باعث شي چې انسان وغولوي، بې عقله ئې کړي او الله وربانديې هېر کړي. که انسان د دې غولووني او فریب تر اغېز لاندې رانشي، الله به په خپلو ټولو مشاعرو سره درك کړي. د ده خپل وجود او هغه تعادل او توازن چې د ده په جوړښت کې مراعات شوی، هغه ښایست او ښکلا چې ده ته ورکړی شوې، هغه بې شمېره پېرزویني چې د ده مهربان او کریم رب پرې کړې، دا ټول به د ده زړه او دماغ، عقل او شعور د الله په شته والې متقاعد کړي.
- له قیامت انکار او هغه دروغ ګڼل او دا باور چې د انسان پیداکوونکی رب به قیامت نه راولي، له خپلو بندګانو سره به محاسبه نه کوي، مکافات او مجازات به نه وي، انسان ته به د خپلو کړنو سزا نه ورکوي، دا داسې انګېرنه ده چې د الله په اړه له یوه فریب او

اشتباه راولاړه شوې، له يوې داسې دوکې چې د انسان عقل تر خپل اغېز لاندې نيسي او د قيامت انکار او تکذيب ته ئې اړ کوي. که نه نو هغه دقيق تعادل او توازن او د ښايست، ښکلا او کمال هغه مظاهر چې د انسان په ښکلي او متوازن جوړښت کې ترسترګو کېږي، هغه کريمانه او له پېرزوينو ډکه پالنه چې د ده د پيدايښت له لومړۍ نېټې د ژوند تر پايه د ده په برخه ده او هغه مهربان نامرئي لاسونه چې تل د ده پالنه کوي، وده ورکوي، کمال ته ئې رسوي، ډېر ظريف او حساس استعدادونه، وړتياوي او ځانګړتياوي ئې په برخه کوي، دا ټول په خپله ثابتوي چې الله تعالى به حتماً انسان له خپلو کړنو پوښتي، د انحرافاتو، له حد او خط د عدول، د نورو په حق د تېرې او تجاوز سزا به ورکوي. د انسان عقل څنګه کولى شي دا خبره ومني چې الله به له انسان سره محاسبه نه کوي، په داسې حال کې چې د حکيم او کريم خداى د دقيق او حکيمانه تصرف نښې په خپلو سترګو ګوري، په ټول عالم کې دا دقيق تعادل او توازن، هغه تعادل او توازن چې انسان ئې مظاهر، نښې او بېلګې په خپل جوړښت کې ګوري، سره له دې چې ګوري هر څه سم پيدا شوي، د الله په مخلوقاتو کې خلأ، نقص او عدم توازن نه شي موندلى، دا الله به څنګه په دې راضي شي چې د ده په بندګانو دي ظلم او تېرى وشي او دى ئې پوښتنه ونه کړي، د ده بنده دي د جفا او ظلم مرتکب شي او دى دي ورسره محاسبه ونه کړي؟!! دا خاطئ انګېرنه له هغه تعادل او توازن سره اړخ نه لګوي چې د دې پراخ عالم په هرې برخې کې ئې ګورو.

له دغو دواړو تعبيرونو دوهم ئې په دې دليل دقيق او سم دئ چې د آيت سياق او سباق په همدې دلالت کوي او په دې سره دا آيت له مخکينيو او وروستنيو سره ورته کېږي، له دې آيت مخکې او وروسته آيتونه د قيامت په اړه بحث کوي، هولناکې صحنې ئې انځوروي، د يوم الدين د مکافات او مجازات خبره کوي او وايي چې هر څوك به خپل عملونه ګوري، طبيعي ده چې د دې آيت د بحث موضوع به هم نوروته ورته او د قيامت په اړه وي، د آيتونو تر منځ د تنسيق او يووالي تقاضى دا ده چې دلته به هم د قيامت د اثبات دلائل وړاندې شوي وي نه د الله د شتون د اثبات دلائل.

۷- په دې مبارك آيت کې د انسان د پيدايښت په اړه دريو مسئلو ته اشاره شوې:

- د انسان خلقت او پيدايښت.
- سم او برابر جوړښت ئې.
- هغه تعادل او توازن چې د ده په جوړښت کې مراعات شوى.

دا انسان څنګه د خپل هغه رب په اړه اشتباه کوي چې دى ئې پيدا کړى، وده ورکوي،

کمال ته ئې رسوي، دا ټول استعدادونه ئې ده ته ورکړي، د دغو استعدادونو د ودي او ځلا لپاره لازم شرائط ورته برابروي، د ده رزق او روزي او د ده د بقاء او دوام وسائل او ضروريات تأمينوي؟! مګر د ده خلقت او پيدايښت په دې شهادت نه ورکوي چې هرومرو يو پيداکوونکی لري؟!! مګر هغه صفات، وړتياوي او غوره استعدادونه چې ده ته ورکړی شوي په دې دلالت نه کوي چې رب او پالونکی ئې له داسي ذات پرته بل څوک نه شي کېدی چې په همدغه غوره صفاتو په اتمه او اکمله توګه متصف دئ؟! دا په هيڅ صورت کې ممکنه نه ده چې په مخلوق کې داسي کوم غوره صفت وي چې د ده په پيدا کوونکي کې دي هغه په اتمه او اکمله توګه نه وي، کوم عقل دا خبره منلی شي چې دا انسان دي په خپله، له کوم خالق پرته او يا د ړوند، کوڼ او بې عقله طبيعت په لاس پيدا شوی وي؟!!

نه يوازي دا چې انسان ئې پيدا کړ، بلکي هغه ئې سم او سالم، روغ او رمټ پيدا کړ، ټول هغه ضروري استعدادونه ئې ورکړل چې ورته اړ وو، د ده سلامتيا او بقاء ئې غوښتنه کوله او د زمکې پر سر د ژوند لپاره ئې ورته ضرورت درلود، نه ئې په جوړښت کې عيب او نقص موندی شو او نه کوم څه اضافي او غير ضروري.

په دې سربېره ئې هغه متوازن او متعادل جوړ کړ، دا تعادل هم د ده په جوړښت کې ګورو او هم د ده په شکل او صورت او څېرې کې او هم ئې د ده په انساني خصلتونو او استعدادونو کې. دا دقيق تعادل او توازن هغه وخت ښه احساسولی شو چې د انسان د وجود په کومي برخي کې مختل شي، مثلاً د باړوګانو څو تارونه ئې وسوزي، فقط څو نازك وېښتان، ګورې چې په دې سره نه يوازي د ده ښايست ته سخته صدمه ورسېږي بلکي د ده حساسي او نازکي سترګي له داسي ساتونکو بې برخي شي چې تل ويښ ولاړ وي او له تاواني شيانو ئې ساتي، که ئې غوږ پرې شي، نه يوازي د ده ښکلا او ښايست ته تاوان رسي بلکي د ښه او بد، مفيد او مضر غږ سمت او استقامت دقيقاً نه شي تشخيصولی، که ئې لاس قطع شي، تعادل او توازن ئې له منځه ځي او د ډېرو کارونو په کولو کې له ستونزو سره مخامخ کېږي، که ئې غصه پر زړه سوي او مهربانۍ غلبه وکړي، که ئې کرکه او کينه پر مينې او محبت درنه شي، که ئې وېره پر جرأت او زړه ورتيا غالبه شي، که ئې د دغو او ګڼ شمېر نورو خصلتونو او خصوصيتونو تر منځ تعادل او توازن له منځه ولاړ شي، يو پر بل غلبه وکړي، يو د بل د ځپلو باعث شي، معلومه نه ده چې انسان به له کومو کومو خطرناکو پايلو سره مخامخ کړي!! او څه به ترې جوړ کړي؟!! انسان خو پرېږدئ دا ضروري تعادل او توازن د دې پراخ عالم په هري برخي او ټولو ژوو کې ګورو، مګر دغو ونو ته مو پام نه دئ کړی چې که ئې يو ښاخ ښي اړخ ته راوټوکېږي بل ئې څو سانتي متره بر کيڼ اړخ ته

راوټوکېږي او په دې سره ئې تعادل تأمین شي، لوړه شي او یوې خوا ته له کږېدو خوندي پاته شي، که ئې له یوه اړخه کوم ښاخ پرې کړو نه یوازې خپل پرهار په داسې موادو وپوښي چې له مکروبونو او تاواني حشرو ئې ساتي او هغه مومیایي کوي بلکې ډېر ژر په همغه اړخ کې نوې ځانګه راوټوکوي چې هغه تعادل بېرتعه تأمین شي چې د یوه ښاخ د پرې کېدو له کبله له منځه تللی او بل لوري ته د کږېدو مخنیوی وکړي.

الله تعالی دا زمکه داسې جوړه کړې چې د انسان د ژوند لپاره مناسب ځای وي او انسان ئې داسې جوړ کړی چې د زمکې په دې کور کې چې آسمان ئې چت او زمکه ئې فرش ده، سوکاله او آرامه ژوند وکولی شي، د ده جوړښت، فطرت او طبیعت ئې داسې ګرځولی چې په دې ټمځي کې ژوند کول ورته مقدور او ممکن وي، که د ده جوړښت بدل کړی شي، یا د ده د دې ټمځي او محیط په شرائطو کې تبدیلي راشي او د دې دواړو تر منځ دا شته تعادل او توازن له منځه ولاړ شي، د انسان ژوند له جدي ګواښ سره مخامخ کېږي. دا ولې انسان نه شي کولی په بل هغه ستوري کې ژوند وکړي چې هلته شرائط د زمکې په څېر نه دي؟! دا ځکه چې په هغه محیط کې د ژوند کولو ضروري او لازمي استعدادونه نه لري، د دې خبرې معنی دا ده چې انسان ئې داسې جوړ کړی چې د ده په خټه او فطرت کې ئې د زمکې پر سر د ژوند کولو ټول ضروري استعدادونه اېښي او هر هغه څه ئې ده ته ورکړي چې په دې ټمځي که ئې ورته ضرورت درلود.

۸ – ځنګه چې الله تعالی په خپله غوښتل، انسان ئې په همغه شکل او صورت کې جوړ کړ، د انسان د ښایسته او ښکلي صورت ترکیب او د جذابې او جالبې څېرې د ظریفو خطوطو ترسیم، د رنګوَنې هغه ژور او لطیف هنر چې د ده د څېرې د ښلاښلو برخو په رنګوَنَه کې کارول شوی او له ده ئې تر ټولو ښایسته او کامل مخلوق جوړ کړی، دا ټول د الله تعالی پېرزویني دي، دا ښکلې، موزونه او ښایسته څېره الله تعالی ورکړې، هغه اشرف المخلوقات پیدا کړ، نه ئې د پلار او مور اراده په دې کې څه اغېز درلود او نه په ټول عالم کې له الله تعالی پرته بل چا، نو اې غولېدلی انسانه!! ولې دي خپل رب هېر کړی؟! ولې دا اشتباه در ته پیدا شوې چې هغه به دي بیا نه راژوندی کوي او له تا سره به محاسبه نه کوي؟

كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ﴿٩﴾ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَٰفِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَٰتِبِينَ ﴿١١﴾ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴿١٢﴾

۹- نه؛ داسې نه ده؛ بلکې تاسو دغه دین تکذیبوئ. ۱۰- حال دا چې ګمارل شوي دي پر تاسو حافظان. ۱۱- عزتمن لیکوالان. ۱۲- په هغه څه پوهېږي چې کوئ ئې.

۹ - په حقیقت کې خبره داسې نه ده چې انسان ته د خپل رب پېژندل ګران دي او یا د عملونو په مکافات او مجازات باندې باور کول ورته محال او ناممکن او د ده د عقل خلاف خبره، داسې نه ده چې په دې اړه څه جدي ستونزه لري، له اشتباه او مغالطې سره مخامخ کېږي، برعکس د ده عقل نه بلکې د ده هوی او هوس دی دې ته اړ کړی چې حقیقت (تکذیب) کړي او عمداً دروغ ووایي او له هغه حقیقت انکار وکړي چې د ده زړه او دماغ پرې قانع دئ، د ده بده او له ګناهونو ډکه سابقه او په راتلونکي کې د فسق او فجور د ارتکاب عزم او قصد ئې دې ته اړ کوي چې د مکافات او مجازات اصل تردید او (تکذیب) کړي او د دې لپاره جعلي او دروغجن دلائل جوړ کړي.

۱۰- خو باید په دې پوه شې چې ستا تردید او تکذیب هیڅ ګټه نه شي دررسولی، نه د قیامت راتګ ځنډولی شي او نه ستا د حتمي او قطعي محاکمې مخنیوی کولی شي، پر تا داسې ساتونکي او څارونکي ګمارل شوي چې تل او په هر ځای کې درسره دي، ستا ټول کړه وړه په دقت څاري او ستا د ښو او بدو مراقب دي.

۱۱- دا څارونکي نه یوازې ستا څارنه کوي او ستا د ټولو عملونو مراقب دي، بلکې ستا هر کار دقیقاً او له ټولو کوائفو سره ئې لیکي، دوی داسې مخور لیکوالان دي چې په خپلو لیکنو کې نه څه زیاتی کوي او نه کمی، هر څه په ډېر دقت سره لیکي، ستاسو هر لوی او وړ عمل او ستاسو د زړه هر حرکت لیکي.

۱۲- پر دې ټولو سربېره دوی ستاسو د عملونو او کړنو له ټولو کوائفو خبر دي، محرکات ئې ورته معلوم، په هدف او مقصد ئې پوهېږي، نه ئې ماهیت تړې پټ دئ او نه ارزښت، داسې نه دي چې ستاسو د عملونو غولوونکې ظاهري بڼې ته په پام سره خپل راپور جوړوي، ښایي عام وګړي ستا هغو عملونو ته ښه ووایي چې په ظاهر کې ښه ښکاري او د عمل ظاهري بڼې ته په پام سره ګمان کوي چې ته ښه انسان یې او عمل دي ښه او صالح، خو ښایي د دې غولوونکو ظواهرو ترشا ناولې موخي او بد اغراض مضمر وي، چې د لنډنظره خلکو له سترګو پټ دي، خو د دغو پوه څارونکو له نظره پټ نه شي پاته کېدی.

که د اوسنۍ پېړۍ هغه څېړني او نتائج ئې په پام کې ونیسو چې د فضاء په څپو او امواجو کې د غږ، حرکت او مناظرو د ثبت په اړه شوې او وایي چې د انسان هر غږ او حرکت د فضاء په څپو کې دقیقاً ثبت کېږي او د تل لپاره په فضاء کې پاته کېږي، که د ساینس دا کشف د قرآن له دغې وینا سره څنګ په څنګ کېږدو او قضاوت وکړو، زموږ او د هر با انصاف انسان قضاوت به څه وي؟ دا څنګه نن علم همغه خبره کوي چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې او په داسې شرائطو کې کړې چې انسان ته په داسې حقائقو پوهېدل

ممکن نه وو، کله چې د ساینس دا کشف د قرآن د هغې وینا سره ورته مومو چې د انسان ټول کړه وړه د (پوه څارونکو او لیکوالانو) په واسطه ضبط او ثبت کېږي، آیا له دې پرته بل څه ویلی شو چې: دا قرآن حتماً له داسې مرجع راغلی چې د عالم له ټولو اسرارو خبر دئ؟!!

إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿١٣﴾ وَإِنَّ ٱلْفُجَّارَ لَفِى جَحِيمٍ ﴿١٤﴾ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِينَ ﴿١٦﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿١٨﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ۖ وَٱلْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴿١٩﴾

۱۳- بې شکه چې نېکان به وي نعیم کې. ۱٤- او بې شکه بد کاران به وي جحیم کې. ۱۵- د سزا په ورځ به ننوځي هغه کې. ۱٦- او، غائبېدونکي به ترې نه وي. ۱۷- او څه شي ته خبر کړې چې دا ورځ د سزا څه ده. ۱۸- بیا څه شي ته خبر کړې چې دا ورځ د سزا څه ده. ۱۹- آ ورځ چې څوک به نه لري بل چا ته څه په واك کې او (واك به د هر) کار وي په دې ورځ مختص الله ته.

۱۳- ۱٤ دلته په ډېر تأکید سره ویل شوي چې نېکان به خامخا په هغه جنت کې وي چې له نعمتونو ډك دئ او بدکاران به حتماً په هغې کندي کې وي چې له اوره ډکه ده، یعني محاسبه به هرومرو تر سره کېږي، هر څوك به خامخا د خپلو عملونو سزا ګوري او خپل مناسب ځای ته به درومي. آیا دا ادعاء چې په دومره تأکید او قاطعیت سره شوې، یوازې یوه ادعاء ده او که د اثبات لپاره ئې دلائل هم وړاندې شوي؟! د دې مدعی د اثبات لپاره څه دلیل لرو؟ څنګه کولی شو ثابته کړو چې نېکان به خامخا جنت ته درومي او بدکاران هرومرو دوزخ ته؟

مور په هر انسان کې د (قضاوت) خصلت ګورو، چې د نورو د ښه او بد عمل په اړه قضاوت کوي، که دوه نفره د نښتي او جګړې په حال کې وګوري، چې یو ئې ظالم او بل ئې مظلوم وي، فوراً د ظالم په نسبت په خپل زړه کې کرکه او نفرت احساسوي او د مظلوم په اړه عاطفه او زړه سوی، که د مداخلې توان او فرصت ولري حتماً له مظلوم د دفاع لپاره وروړاندې کېږي او مرسته ئې کوي او ظالم له لاسه نیسي، ملامتوي ئې او له ظلم ئې راګرځوي، دا د (قضاوت) خصلت، له ظالم کرکه، له مظلوم سره خواخوږي، د ظالم ملامتول او له مظلوم دفاع، د انسان دغه خصلت مور ته دا حقیقت په ګوته کوي چې حتماً به هغه ذات هم په دې صفت متصف وي چې انسان ئې پیدا کړی او دا خصلت ئې په ده کې

اښې، که موږ د نورو د کړنو په اړه قضاوت کوو، نېکان ستایو، د دوی قدر کوو، غواړو وئې نازوو، انعام ورکړو او بدکاران ملامتوو، غواړو وئې رټو او سزا ورکړو، ځینو ته (ابرار) او ځینو ته (فجار) وایو، زموږ دا خصلت او صفت د هغه ذات د صفاتو مظهر او بېلګه ده چې موږ ئې پیدا کړي یو او دا خصلت ئې موږ ته راکړی، څنګه ومنم چې ته قضاوت کوې او ستا رب به قضاوت نه کوي؟!! زه خو هره شېبه او په هر مصنوع او مخلوق کې دا ګورم چې د هر (جوړ شوي شي) خصلتونه د (جوړوونکي) د صفاتو مظهر او هنداره وي، موږ د مصنوع او مخلوق په څېره کې د صانع او خالق د صفاتو نښې ګورو، هغه خدای چې انسان ئې پیدا کړی او د (قضاوت کولو) صفت او خصلت ئې ورکړی، هغه به هرومرو د انسان د کړنو په اړه قضاوت کوي، نېکان به جنت ته او بدان به دوزخ ته بیایي.

۱۵- الله تعالی په دنیا کې هم انسان ته د خپلو عملونو سزا ورکوي، دلته هم نسبي مکافات او مجازات تر سره کېږي، خو د کامل او بشپړ مکافات او مجازات لپاره ئې داسي نېټه ټاکلې چې د (یوم الدین) په نامه ئې نومولې، فجار او بدکاران به په دې ورځ او له الهي محاسبې وروسته په جهنم کې لوېږي.

۱۶- جهنم او لمبې به ئې داسي پرې راتاو شي چې نه به یوه شېبه ترې غائبېدی شي، نه به په کې مري چې له عذابه ئې خلاص شي او نه به داسي سوزي چې نور نو د سوزېدو درد احساس نه کړي.

۱۷ - ۱۹- پوهیږې چې دا (یوم الدین) څه دئ؟ دا د الله له لوري د حساب و کتاب او الهي محاسبې لپاره ټاکل شوې نېټه ده چې دوه عمده خصوصیتونه لري:

- هر څوك به په خپل ځان مصروف وي، د خپل ځان د ژغورنې هڅې به داسي مصروف کړی وي چې نه به بل ته د پام او اعتناء کولو مجال لري او نه د بل د ژغورنې او مرستې توان، نه به چا ته ګټه رسولی شي او نه به کوم عذاب ترې دفع کولی شي، د بل په ګټه د هیڅ کار د کولو اختیار او توان به نه لري.
- واکمني او اختیار به مختص الله ته وي، هغه به یوازینی ټولواك وي، د ټولو کارونو اختیار به له ده سره وي، له ده پرته به هیڅوك نه په واکمنۍ کې څه ونډه لري او نه د کارونو په تر سره کولو کې، که نن او په دنیا کې دا حالت ستاسو تر سترګو کېږي چې د عالم په یوې برخې کې هغه څه ګورئ چې کاملاً مقهور او محکوم دي، په خپل خپل کار بوخت او په خپله خپله فطري لار درومي، که خپل کار پرېږدي او له خپلې لاري منحرف شي له تباهۍ سره مخامخ کېږي، خو بلې خوا ته انسان ګورئ چې (واك) او (اختیار) ورکړی شوی او هغه له دغه واك او اختیار په استفادې سره ظلم کوي، فساد خوروي، د ګناه او عصیان

مرتکب کېږي، خو د هغو نورو په څېر فوراً او په بشپړه توګه خپله سزا نه ګوري، د دې وجه دا ده چې الله تعالی نه غواړي د انسان هغه نسبي واك او اختیار تر پې سلب کړي، فوري سزا د هغه نسبي واك او اختیار منافي ده چې انسان ته ورکړی شوی، د الله تعالی دغه پرېکړه چې انسان کولی شي په خپله خوښه خپله لار غوره کړي، په دنیا کې د فوري او بشپړ مکافات او مجازات مانع ده، خو د قیامت په ورځ به دا لړۍ پای ته ورسېږي، د انسان د هغه مخکیني واك او اختیار موده به پوره شي، هغه ورځ به ټول واك او اختیار د الله په لاس کې وي، هغه ورځ به له الله پرته نه بل واکمن وي او نه د اختیار خاوند چې د مکافات او مجازات مانع شي او د عدالت د پلي کېدو خنډ.

المطففين

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم المطففین (کموونکي) دئ، چې له لومړي آیت اخیستل شوی، مکي سوره ده، آیتونه ئې تر دوو مخکینیو سورتونو لږ اوږده خو د سورې له اوږدوالي سره متناسب دي او اکثراً له دریو کلمو او څلورو غږونو جوړ شوي، لومړي دوه آیتونه په مطففین او یستوفون ختم شوي، پاته ټول آیتونه هم د دغو دواړو د وروستۍ کلمې په وزن سره پای ته رسېدلي، کله د مطففین په وزن او کله د یستوفون په وزن، خو کله د (ن) په ځای (م) راغلی، لکه عظیم او مرقوم، چې دا دواړه هم د غږ له پلوه مطففین او یستوفون ته ورته دي، د غږ او اوزانو مد او جذر ئې ډېر ښایسته او خوندور دئ، د سورې له مضامینو په ډاګه معلومېږي چې د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې، هغه وخت چې د مسلمانانو شمېر ډېر کم وو، قریشو به پرې ملنډې وهلې، بې لاري، باغي او د خپل پلار نیکه له دین اوښتي به ئې ګڼل او په سپکه سترګه به ئې ورته کتل. ځیني محترم مفسرین ګمان کوي چې دا سوره باید په مدینه منوره کې نازله شوې وي، دا ځکه چې د پېر از پلور په څېر د اجتماعي امورو په اړه احکام او لارښوونې یوازي په مدني سورتونو کې موندلی شو، دوی په دې عقیده دي چې له تطفیف په تللو او پیمانه کولو کې کمی مراد دئ، خو دا رأیه په څو دلیله کمزورې ده:

- اکثر روایات په دې تأکید کوي چې دا سوره په مکه کې نازله شوې. جمهور علماء ئې مکي ګڼي او هغه روایات نه مني چې دا سوره مدني شمېري.
- تطفیف یوازي د جنس په تللو او پیمانه کولو کې کمي او د پلورونکي او پېرودونکي په

حق کې تېري ته نه وايي بلکې په نورو مواردو کې د کمښت او نقصان لپاره هم استعمالېږي، لکه چې په يوه روايت کې د هغه چا لپاره دا لفظ کارول شوی چې په لمانځه کې اهمال کوي، يا ئې حرکاتو او الفاظو ته پوره اهتمام نه کوي او يا ئې له خشوع، خضوع او د زړه په حضور سره نه اداء کوي، قرطبي ليکي:

عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ قَالَ: قَالَ سَلْمَانُ: «الصَّلَاةُ مِكْيَالٌ، فَمَنْ أَوْفَى أُوفِيَ لَهُ، وَمَنْ طَفَّفَ فَقَدْ عَلِمْتُمْ مَا قَالَ اللهُ فِي الْمُطَفِّفِينَ» الزهد لابن مبارك و المُحَلَّى

له سالم بن ابي جعد روايت شوی چې سلمان فارسي وويل: لمونځ هم په پيمانې سره دئ، چا چې ئې پيمانه پوره کړه، اجر به ئې پوره ورکړی شي، خو چا چې څه کمی په کې وکړ، نو په هغه څه خو پوهېږئ چې الله تعالى عز وجل فرمايلي: (ويل للمطففين) افسوس په کموونکو!!

همدا راز (وزن) او (کيل) هم يوازې د مادي توکيو او شيانو د کميت او مقدار لپاره نه کارول کېږي، بلکې د معنوي ارزښتونو او شيانو د اهميت، قدر او قيمت لپاره هم استعمالېږي، لکه دا چې مور د چا په اړه وايو: ډېر دروند سړی دئ، له دې مو مقصد دا نه وي چې پرېږ دئ او وزن ئې زيات دئ او يا وايو فلانی سپك سړی دئ، هيڅوك زمور له دې وينا دا مطلب نه اخلي چې د نومورې وزن سپك دئ، بلکې دا مطلب ترې اخلي چې بې وقار او بې اعتبار سړی دئ، د دروند او سپك الفاظ د چا د وقار، اجتماعي اعتبار، متانت، هيبت او حيثيت لپاره کارول کېږي، د قيامت په ورځ د اعمالو وزن کېدل ښيي چې دا لفظ د معنوي ارزښتنو د معلومولو او تعيين لپاره هم استعمالېږي.

- د سورې متن په ډېر صراحت سره شهادت ورکوي چې د (تطفيف)، (وزن) او (کيل) الفاظ د خلکو د معنوي قدر او منزلت د تعيين لپاره کارول شوي، ټوله سوره او ټول آيتونه ئې پر دې راڅرخي چې له يوې خوا فجار (بدکاران) او د دوی بد خصلتونه او بدي پايلې راښيي او له بلې خوا ابرار (نېکان) او د دوی صفات او نېك عاقبت په ګوته کوي، د سورې په هيڅ آيت کې د پېرلو او پلورلو يادونه نه صراحتاً شوې او نه تلويحاً. د اسلام له نظره تر دې چې د چا مال په ناحقه وخورې دا ډېره ستره ګناه ده چې په عزت ئې تېری وکړې لکه څنګه چې د انسان تر ټولو غوره شتمني د ده عزت او شرف دئ، تر ټولو ستر تېری هم د ده پر عزت او حيثيت باندې تېری دئ، تر ټولو ناکاره او بد مطفف هغه دئ چې يو شريف انسان تحقير کړي، هغه ته په سپکه سترګه وګوري، ځان تر ده اوچت وګڼي، د ده د (ذاتي ورتياوو) او (اجتماعي اعتبار) په اړه په خپل قضاوت کې تېری او تجاوز وکړي، د ده وزن کم وښيي او ارزښت ئې ناڅيزه، خو هغه وخت چې د ځان او د خپلو ورتياوو او په

ټولني کې د خپل وزن، اعتبار او حیثیت په اړه د نورو قضاوت غواړي، نو انتظار ئې دا وي چې ښه ډېره ستاینه ئې وشي، پیمانه ئې ورډکه کړي، له هر عیب او نقص ئې پاک او مبرا، اجتماعي حیثیت ئې ډېر لوړ او ذاتي وړتیاوي ئې ډېري اوچتي وګڼي. په دې سوره کې دغه خطرناکه بیماري او ستره ګناه څېړل شوې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ١ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ٢ وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ٣ أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ ٤ لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦

۱- وای وای د کموونکو په (حال). ۲- آ چې کله ځان په نورو تلي، ډکه ډکه پیمانه غواړي. ۳- او چې نور یا پیمانه کړي یا ئې وتلي، کمی کوي. ٤- آیا دغه ډله ګمان نه کړي چې حتماً به پاځولی شي. ۵- د یوې ستري ورځ لپاره. ٦- هغه ورځ چې رب العالمین ته به ودرېږی خلك.

۱-۳: د دې سورې د لومړیو دریو آیتونو په اړه په معتبرو تفسیرونو کې درې د پام وړ تعبیرونه مومو:

- ځینې وایي: له مطففین مراد هغه خلك دي چې د پېر پلور او راکړې ورکړې په وخت کې د خلکو حق پوره نه ورکوي، په پټه او چل ول سره په وزن او پیمانه کې کمی او غبن کوي؛ او په تلي او پیمانې کې ډنډې وهي، له نورو د څه اخیستو په وخت کې پیمانه ډکه غواړي خو نورو ته د څه ورکولو په وخت کې حتماً څه راکموي. د درنو مفسرینو دا ډله د (کالوهم) او (وزنوهم) الفاظ د (کالوا لهم) او (وزنوا لهم) په معنی اخلي او دلته (ل) مقدر ګڼي او آیت داسي ترجمه کوي: کله چې د نورو لپاره پیمانه کول او تلل کوي نو تاوان رسوي او څه کموي!! خو که په الفاظو کې هیڅ تصرف ونشي او د (ل) له راوړو او مقدر ګڼلو ډډه وشي نو د آیت د خپلو الفاظو دقیقه ترجمه دا ده: کله چې دوی پیمانه کوي او یا ئې تلي نو تاوان رسوي.
- د درنو مفسرینو دوهمه ډله په دې باور ده چې د (ل) زیاتول او مقدر ګڼل نه یوازي صحیح نه ده بلکې د احتیاط خلاف کار دئ، صحیح نه ده چې کالوهم د کالوا لهم په معنی واخلو او وزنوهم د وزنوا لهم په معنی ترجمه کړو، د الله په کلام کې چې هم د

معنی له پلوه بشپړ او کامل دئ او هم د الفاظو له مخې، دا ډول تصرف یو ناسم کار، بې ځایه جرأت او حتی بې باکي ده، دوی دلته هم او په نورو مواردو کې هم، دې ته ترجیح ورکوي چې د قرآن په الفاظو کې له هر ډول تصرف ډډه وشي، هر تصرف نامناسب کار او د الهي بلیغ کلام په شأن کې بې احترامي ګڼي او په دې تأکید کوي چې د قرآن الفاظ باید له څه کمي او زیاتي پرته او په پوره احتیاط سره ترجمه شي. دوی وایي: دلته د (کالوهم) او (وزنوهم) صیغې ځکه کارول شوې چې د قضیې یو ظریف اړخ په ګوته کړي او هغه دا چې: په خلکو پوري د مربوط شیانو او د دوی په لاس د جوړ شوو توکیو پیمانه کول او تلل په حقیقت کې په خپله د دوی تلل او پیمانه کول دي، دا ځکه چې په تولید کې ئې د دوی ذهن او فکر، هنر او کمال، تجربه او پوهه کارول شوي، د هر هغه څه ستاینه چې انسان جوړ کړی په حقیقت کې د هغه د جوړوونکي او تولیدونکي ستاینه ده او هغه ته د هر عیب او نقص منسوبول په حقیقت کې د هغه جوړوونکي ته عیب او نقص منسوبول دي، دا ډله مفسرین که څه هم (وزن) او (کیل) د پېر او پلور تلل او پیمانه کول ګڼي او په دې اړه له لومړۍ ډلې سره متفق دي خو (ل) مقدر نه ګڼي.

- د مفسرینو درېیمه ډله په دې نظر ده چې د دې آیتونو د بحث موضوع په پېر پلور کې د تطفیف موضوع نه ده؛ بلکې د یوه انسان ظالمانه قضاوت د بل انسان په اړه څېړل شوی او په دې سره د انسان یوې ډېرې خطرناکې رواني بیماریۍ ته اشاره شوې، (خپل ځان معیار ګڼل)، (ځان دروند او نور سپك ګڼل)، (له نورو د ستاینې انتظار په داسې حال کې چې د هغوی په ټولو وړتیاوو سترګې پټوي)، کله چې د خپل ځان او خپلو وړتیاوو او ځانګړتیاوو په اړه له نورو قضاوت غواړي نو انتظار او توقع ئې دا وي چې د ده د معیارونو مطابق به ئې ستاینه کوي، پیمانه به پوره او د ده له انتظار سره سم ډکه ورکوي، خو کله چې د نورو په اړه قضاوت کوي، د دوی د ذاتي استعدادونو او اجتماعي وزن او اعتبار په اړه څه وایي نو حتماً پیمانه کموي او په تلې کې ډنډې وهي، غبن او خیانت کوي، دا ډېره خطرناکه بیماري ده، چې قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې پرې بحث کړی او دا مبارکه سوره ئې ورته مختص کړې.

د درېیم تعبیر او تفسیر په تأیید کې څو مضبوط دلائل لرو:

الف: د آیتونو د الفاظو دقیقه ترجمه همدا تعبیر تأییدوي.

ب: دا تفسیر د سورې له ټولو آیتونو سره اړخ لګوي، په څرګنده ګورو چې ټوله سوره په همدغې موضوع بحث کوي، مخصوصاً له ۲۹ تر ۳۳ آیت چې په ډېر صراحت سره د لومړیو آیتونو شرح او تفصیل وړاندې کوي او فرمایي: ګنهګارانو به پر هغو خندل چې

ایمان ئې راوړی وو او چې کله به پر دوی تېرېدل نو په خپلو کې به ئې سترګکونه وهل او چې خپلې کورنۍ ته به وروګرځېدل نو په خندا خندا به وروګرځېدل او چې هغوی به ئې ولیدل ویل به ئې: دوی لار ورکې دي، حال دا چې دوی پرې څارونکي نه وو لېږل شوي!!

ج: دا سوره په مکه مکرمه کې نازله شوې او مکي سورتونه اکثراً په داسي قضایاوو تر نورو زیات ترکیز لري چې د کافرانو له خوا د مؤمنانو تحقیر او توهین او د دوی په لاس د مظلومو مسلمانانو تعذیب او ربېرول په کې څېړل شوي، په پېر پلور کې د غبن او خیانت په څېر قضایا په دې سورتونو کې نه شو موندلی.

د: که د قرآن د آیتونو لفظ په لفظ ترجمه واضح او صریح مفهوم افاده کوي، دا سمه نه ده چې له دې واضح مفهوم تېر شو او د الفاظو له إطار او محدودې پښه آخوا وغځوو، د آیت په ترکیب کې لاسوهنه وکړو، څه مقدر وګڼو او ګمان وکړو چې د آیت اصلي ترکیب او الفاظ داسي نه دي لکه اوس چې زموږ مخي ته پراته دي، اصلي بڼه ئې بله ده، داسي لکه زه چې وایم، د خاص مصلحت له کبله ځیني توري او کلمات حذف شوي او اوسنۍ بڼه ئې غوره کړې!! دا کار هلته کېدی شي او د منلو و ړ وي چې لفظ په لفظ ترجمه څه اشکال ولري او د اشکال د رفع کولو لپاره (تقدیر) ته اړ وو او له دې پرته بله چاره ونلرو چې ووایو: دلته دا توری مقدر دئ، حذف شوی، باید په ترجمه کې مراعات شي!! د الله د کلام په بلاغت او عظمت باندي د ایمان او اعتراف تقاضی خو دا ده چې په پوره احتیاط او دقت سره او له هر راز کمي او زیاتي پرته ئې ترجمه کړو. د مطففین د سورې د دغو آیتونو په ترجمه کې دې ته هیڅ ضرورت نه لرو چې (وزنوهم) (وزنوا لهم) ترجمه کړو او (کالوهم) د (کالوا لهم) په معنی واخلو، مګر موږ تل د انسانانو په اړه په خپلو قضاوتونو کې دې ته ورته الفاظ نه کاروو؟ کله چې تاسو د یوه چا د وجاهت او اجتماعي اعتبار او حیثیت په اړه قضاوت کوئ او وایئ چې مخور دئ، په خلکو کې نفوذ او رسوخ لري، خلك ورته احترام لري، ټول ئې قدر کوي او خبرې ئې اوري، په دې الفاظو سره په حقیقت کې تاسو هغه پیمانه کړی او کله چې وایئ: ښه انسان دئ، پوه، هوښیار، د حوصلې خاوند، زړه سواند او د ده نور ذاتي صفات بیانوئ په دې سره تاسو هغه تللی. د نورو په اړه هر له عدالت لري او ظالمانه قضاوت، تطفیف دئ چې د اسلام له نظره ستره ګناه، لوی تېری او ظلم ګڼل کېږي، لکه په دې روایت کې چې راغلي:

عن سعيدِ بنِ زَيدٍ، عن النّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّه قال: "مِن أربَى الرِّبا الاستِطالَةُ فى عِرضِ المُسلِمِ بغَيرِ حَقٍّ" رواه احمد

له سعید بن زید رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د

مسلمان په عزت په ناحقه تېرى ستر سود دئ.

يعني دا ګناه د اسلام له نظره تر ربا او سود هم ستره ده، په سود سره بل ته مالي تاوان اړوې خو په دې کار سره د ده عزت تر پښو لاندي کوې او اعتبار او حيثيت ته ئې تاوان اړوې، مخصوصاً که دا کار د خپل اعتبار او حيثيت اوچتولو لپاره وکړې، د بل عزت د ځان د عزت لپاره قرباني کړې، د کاذب حيثيت او اعتبار ګټلو لپاره د بل حيثيت ترپښو لاندي کړې او يا په دې حالت کې وې چې د ځان په اړه له هر چا داسي قضاوت غواړې چې پيمانه تر ژې ډکه کړي او په هغو صفتونو مو وستايي چې په تاسو کې نشته، لکه چې قرآن فرمايي:

... وَّيُحِبُّونَ أَن يُحۡمَدُواْ بِمَا لَمۡ يَفۡعَلُواْ ... ﴿١٨٨﴾ آل عمران

... او دا خوښوي چې په هغه څه وستايل شي چې نه ئې دي کړي...

په ټولو هغو مواردو کې چې ما تر اوسه په کې تحقيق کړى د هغو کسانو رأيه مي د پورتني مورد په څېر ضعيفه او کمزورې موندلې چې د آيت په الفاظو کې تصرف کوي، کله څه زائد ګڼي، کله ئې مقدر او محذوف شمېري او کله ئې په اصلي معنى نه اخلي او غير اصلي معنى ئې غوره کوي.

٤-٦: د دې بيمارۍ جړې له هغه اعتقاده خړوبه کېږي چې دوى ئې د آخرت او مکافات او مجازات په اړه لري، په آخرت او مکافات او مجازات نه باور دوى په دې بيمارۍ اخته کړي، په دې باور نه لري چې د الله په وړاندي به ودرېږي او له الهي محاسبې سره به مخامخ کېږي، دغه کافرانه انګېرنه د دې لامل شوې چې په خپلو قضاوتونو کې بې باکه وي او دا ګمان وکړي چې د نورو په اړه د دوى هر قضاوت به ځاى نيسي، خلك به ئې مني او داسي څوك نشته چې د دوى د دروغجنو او ظالمانه قضاوتونو او افتراءاتو حقيقت بربنډ کړي.

كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٖ ﴿٧﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سِجِّينٞ ﴿٨﴾ كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ﴿٩﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّمَحۡجُوبُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمۡ لَصَالُواْ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا ٱلَّذِى

كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾

۷- نه؛ داسي نه ده؛ بې شکه چې ليك پاڼه د بدکارو وي سجين کې. ۸- او څه په دې خبر کړې چې څه دئ دا سجين؟ ۹- يو ليکل شوی کتاب. ۱۰- وای په دې ورځ په دروغ ګڼونکو. ۱۱- آ چې دروغجنه ئې ګڼله د سزا ورځ. ۱۲- او نه ئې ګڼي دروغ، مګر هر تېری کوونکی ګنهګار. ۱۳- چې کله ولوستی شي آيتونه مو ورباندي، وايي: قصې د مخکينيو!! ١٤- نه؛ داسي نه ده؛ بلکې زنګ وهلی دئ د دوی پر زړونو، د دوی لاس ته راوړنو. ۱۵- نه؛ داسي نه ده؛ بې شکه په دې ورځ به محجوب وي له خپل رب. ١٦- بيا به وي ننوتونکي په جحيم کې. ۱۷- بيا به وويل شي: دا همغه څه دئ چې دروغ به مو ګڼلو.

---

۷ — په دې آيت کې مطففين د فاجر او بدکار په صيغه ياد شوي او سبې چې د تطفيف عمل د هغه چا کار دئ چې د بدکارۍ او فجور له کبله د حقارت احساس کوي او د نورو په عزت او حيثيت په تېري سره او د دوی له سېګنې او وړتياوو د انکار له لاري غواړي دا د حقارت احساس ختم او خپل کمښت جبران کړي، په حقيقت کې د نورو په شخصيت تېری د هغه چا کار دئ چې سپك او بې شخصيته وي، باعزت او با شخصيت خلك نه دې ته څه ضرورت احساسوي چې نور ئې ستاينه وکړي او نه د نورو په وړاندي د حقارت او ټيټوالي احساس کوي چې د دوی پر عزت او حيثيت د تېري له لاري خپل حيثيت اوچت کړي او په ټولنې کې کاذب وجاهت تر لاسه کړي. د دغو بدکارو مطففينو د کړنو دوسيه زندان ته تللې او په هغه کتاب کې درج شوې چې د زندان په دفتر کې پروت وي او د زندانيانو نومونه او د دوی د جرمونو کوائف په کې ليکل شوي وي.

۱۰-۱۳: له۱۰ تر ۱۳ آيتونو کې د دې ډلې څو نور کرکجن خصلتونه په ګوته شوي:

- دوی دروغجن دي، د نورو په اړه په خپلو دروغجنو قضاوتونو سره د تطفيف جرم او ګناه کوي.
- نه يوازي د نورو په باب دروغ وايي، افتراء کوي او په عزت او حيثيت ئې تېری کوي، بلکې (يوم الدين) هم تکذيبوي او دروغ ئې ګڼي.
- (تعدي: تېری) او (اثم: ګناه) دوی هغه ځای ته رسولې چې (يوم الدين: د سزا ورځ) دروغ وګڼي، يعني دوی په دې وجه له آخرت او د عملونو له مکافات او مجازات انکار نه کوي چې کافي، قانع کوونکي او معقول دلائل ورته نه لري، بلکې وجه ئې دوه نوري خبرې دي: يوه ئې دا چې دوی په خپل حق او حد قانع نه دي، مخکې ئې د بل په حق تېری کړی

او په راتلونکي کې هم د تېري اراده لري او بله ئې دا چې په ګناهونو لړلې دي، تر دې د مخه ئې هم ګناهونه کړي او له دې وروسته هم د ګناه اراده لري، دغه (تېری) او (ګناه) له آخرت د دوی د انکار لامل دئ.

د دې آیت په وړاندې چې وایي فقط (معتد) او (اثیم) له آخرت او الهي محاسبې انکار کوي، باید لږ توقف وکړو او وګورو چې دا څنګه او ولې یوازې تېری کوونکی او ګناهګار له الهي محاسبې انکار کوي؟!! څنګه تېری او ګناه انسان هغه ځای ته رسوي چې د مکافات او مجازات حقیقت ونه مني او آخرت دروغ وګڼي؟!! له دې آیت معلومېږي چې د تېري کوونکي او ګناهګار انسان لپاره په آخرت نه باور او له الهي محاسبې انکار، ذهني محرك لري نه عقلي دلیل، هغه له داسې ستونزې سره مخامخ دئ چې باید ځان ته دا خبره تلقین کړي چې نه آخرت شته، نه حساب او کتاب او نه مکافات او مجازات، دی قیامت د ځان لپاره یوه خطرناکه پېښه ګڼي، چې عواقب او پایلې به ئې ده ته ډېرې دردناکې وي، په آخرت د باور تصور ئې سخت ځوروي، ناچار باید په دروغجنو تلقینونو سره له دې اضطراب او پرېشانۍ ځان وژغوري، انسان عادتاً په اغفالوونکو او غولوونکو تلقینونو سره محتمل خطر نفي کوي او په دې سره ځان له ذهني اضطراب او پرېشانۍ ژغوري.

- دا کسان نه یوازې له خلکو سره په خپل چلن کې مطفف دي، بلکې له څرګندو الهي آیتونو سره په معامله کې هم مطفف دي، دا دئ ګورئ چې الهي آیتونه اساطیرالاولین ګڼي، په څو معنوو:

۱ - دا د آخرت آخرت خبرې مو ډېرې اورېدلې، ډېرو دا خبره کړې چې قیامت راتلونکی دئ، ښېرته به راژوندي کېږئ او د خپلو عملونو سزا به ګورئ، خو تر اوسه نه قیامت راغی او نه د دوی وعد او وعید تر سره شو.

۲- قرآن ئې د تېرو قومونو د قصو مجموعه ګڼلی، یوه تاریخي کتاب ته ورته!! دا یوازې دوی نه دي چې د الله لارښود کتاب ته ئې اساطیرالاولین ویلي، مخکینیو امتونو هم له الهي کتابونو سره دغه معامله کړې، دا دئ وګورئ له تورات او انجیل سره هغو خلکو څه معامله وکړه چې په همدې کتابونو د ایمان دعوی کوي، راشئ بایبل وګورئ چې د مسخره قصو مجموعه ترې جوړه شوې، داسې مسخره قصې چې هر هوښیار او عاقل انسان ته خندا پرې ورځي، انسان د هغه چا عقل او شعور ته حیرانېږي چې دا له مسخره قصو ډک کتاب د الله تعالی له لورې په پیغمبرانو نازل شوی کتاب ګڼي، له قرآن هم ډېرو هغو خلکو اساطیرالاولین جوړ کړی چې د ایمان دعوی کوي، څوك چې د قرآن بحثونه، وعد او

وعيد ئې په هغې زمانې پورې محدودوي چې دا کتاب په کې نازل شوی او ګمان کوي چې په قرآن کې دا له مؤمنانو سره د الهي تأييد او نصرت وعدې، د هجرت او جهاد احکام، د بري او فتح زېرې، د دښمن د حتمي ماتې او د مؤمنانو د حتمي بريا او برلاسي وړاندوينې، ټولې په همغې زمانې پورې مربوط ګڼي، د موسی عليه السلام او فرعون او نورو تاريخي څېرو او د دوی د زمانې د پېښو په اړه د قرآن بحثونه تاريخي بحثونه ګڼي، نه د الهي ثابتو سننو لپاره تاريخي بېلګې، په حقيقت کې دغو هم له قرآن اساطيرالاولين جوړ کړی، قرآن دا څېرې او په دوی پورې اړوند قصې د تاريخي بېلګو په څېر وړاندې کوي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ابو جهل د خپل امت فرعون ګڼي:

عن ابن مسعود... فَلَمَّا وَقَفَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «هَذَا فِرْعَوْنُ هَذِهِ الْأُمَّةِ». رواه الطبرانی

له ابن مسعود روايت دئ چې وئې ويل: کله چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ده د جسد خوا ته ودرېدو نو وئې ويل: دی د دې امت فرعون وو.

هو؛ هره زمانه ځان ته فرعون لري او په مقابل کې ئې يو موسی، د رسول الله صلى الله عليه و سلم د امت فرعون ابو جهل وو. يعنی فرعون يوه تاريخي څېره نه بلکې يوه تاريخي بېلګه ده، د ظلم، استبداد، اختناق، فساد او کفر بېلګه، د تاريخ فرعون مړ شوی خو د قرآن فرعون په هره زمانه کې شته، نن هم شته او سبا به هم وي، د کلي په کچه هم، د هېواد په کچه هم او د ټولې نړۍ په کچه هم، پرون بريژنف يو فرعون وو او نن جورج بش يو فرعون دئ. عمر رضي الله عنه ته اطلاع ورکړی شوه چې فلاني د پخو خښتو دوه منزله کور جوړ کړی، وئې ويل: ګمان مي نه کاوو چې د محمد عليه السلام په امت کې به هم کوم فرعون راپيدا شي، هماغه چې هامان ته ئې وويل: د پخو خښتو قصر راته جوړ کړه!! ګورئ چې صحابه وو فرعون يوه تاريخي څېره نه بلکې يوه تاريخي بېلګه ګڼله، د دوی په اند د قرآن په قصو کې د قرآن مفاهيمو ته عيني تجسم ورکړی شوی، الهي سنن په کې تمثيل شوي، عقائدو ته ترسترګو کېدونکي هيکلونه ورکړی شوي، د هري قصې په ترڅ کې يوه مفهوم ته ژوندی او عملي مثال وړاندي شوی، چې ښه څرګند شي او هرچا ته پرې پوهېدل آسان شي. قرآن د دې لپاره چې خپل مخاطب په دې ښه پوه کړي چې د حق او باطل تر منځ نزاع او د ظالم او مظلوم تر منځ جګړه يو دائمي سنت دئ، دا جګړه پرون وه، نن شته او سبا به وي، خو تل به ئې نتيجه د حق غلبه او د باطل زوال او د حقپالو بريا او د باطلپالو ماته وي، خو دا مطلب او ټول جوانب ئې خپلو مخاطبينو ته د فرعون او موسی عليه السلام د قصې په ترڅ کې مجسم کوي.

١٤- د دغو مطففينو د ضمير صفحه لړلې او زنګو وهلې ده، فجور، کذب، اعتداء، اثم او نورو بدو عملونو او ګناهونو د دوی پر زړه او دماغ داسې توره او پرېږه پرده غوړولې چې د دوی ټول معيارونه ئې وربدل کړي، د دوی قضاوتونه ئې تر خپل اغېز لاندې نيولي او د دوی کار ئې هغه ځای ته رسولی چې د الله تعالی خرګند آيتونه اساطيرالاولين وګڼي، څوک چې د الله له آيتونو سره دا معامله کوي، هغه ته دا ډېره عادي خبره ده چې قيامت دروغ وګڼي، د خلکو له سېګنو او وړتياوو سترګې پټې کړي او په خپلو قضاوتونو کې د تطفيف مرتکب شي.

١٥- دوی به د قيامت په ورځ، هغه وخت چې د محاسبې لپاره حاضر کړی شي او د الله تعالی په وړاندې ودرېږي، محجوب وي، يا په دې معنی چې سترګې به ئې له شرمه ټيټې اچولې وي، پورته به نه شي کتی، له دې ناولې مخ، تور زړه، لړلې وجدان، د ننګينو عملونو پېټی پر اوږو او زنګ وهلې زړه سره به څنګه جرأت کوي چې الله تعالی ته بر وګوري؟! په محکمو کې به مو مجرمان ليدلي وي چې د قاضي په وړاندې څنګه ولاړ وي؟ سر ټيټ، غاړه کږه، سترګې د زمکې په لور، د پورته کتو جرأت نه کوي او د قاضي په لور د سترګو له اړولو ډډه کوي!! او يا په دې معنی چې عملپاڼه به ئې له شا په کيڼ لاس کې ورکړی شي او يا په دې معنی چې په دنيا کې د دوی پر زړونو زنګ وو، پر سترګو ئې پردې، د قيامت په ورځ به دا پرده د دوی او الله تر منځ حجاب شي.

١٦- ١٧- د دوی لپاره مناسب ځای جحيم دئ، خپل ګناهونه به ئې دې ځای ته رسوي او هلته به ورته ويل کېږي: دا دئ همغه چې دروغ مو ګڼلو، تاسو د عملونو په مجازات باور نه کولو، دا ئې ستاسو د عملو سزا، تاسو دوزخ نه مانو، دا ئې تاسو او دا ئې دوزخ، تاسو له الهي محاسبې انکار کولو، دا ئې ستاسو عملپاڼي!!

كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلْأَبْرَارِ لَفِى عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾

١٨- نه؛ داسې نه ده؛ بې شکه عمل پاڼه د نېکانو به په لوړو لوړو کې وي. ١٩- او څه

يې ته پوه کړی چې څه دي دا لوړ لوړ؟ ۲۰- ليکلی يو کتاب. ۲۱- تماشا به ئې کوي مقربين. ۲۲- بې شکه چې ابرار به وي نعيم کې. ۲۳- پر تختونو باندي ناست به تماشا کړي. ۲٤- په څېرو کې به ئې مومې تازه والی د نعيم. ۲۵- خړوبېږي په خالصو سرمُهر شوو شرابونو. ۲٦- مُهر به ئې مشك وي، نو په دې کې دي سيالي وکړي سيالان. ۲۷- او له تسنيم ئې ګډونه. ۲۸- آ چينه چې ئې په خوا کې څښل مقربين کا.

۱۸- دا بد عمله مطففين دي پوه شي چې په خپلو ناروا قضاوتونو سره نه د نېکانو او ابرارو ښېګڼې او وړتياوي اغېزمني کولی شي او نه ئې مقام او منزلت راتېټولی شي، د دوی عملپاڼه تر لوړ نه لوړ ځای ته رسېدلې او د دوی مقام ئې دومره لوړ کړی چې نه د چا لاس وررسي او نه تغيير او بدلون په کې راوستی شي، تاسو نه شئ کولی په خپلو ناروا تبليغاتو سره د دوی لوړ مقام او مرتبه راتېټه کړئ.

۱۹-۲۱: پوهيږې دا (عليين) چې د ابرارو عملپاڼه په کې ساتل کېږي، څه دئ؟ دا هغه ليکل شوی کتاب دئ چې د الله تعالی د دربار مقربين به ئې په تماشا بوخت وي، هر يو غواړي تر بله ئې مخکې وګوري، د نېکانو عملپاڼه په لوړ کتاب کې درج شوې او د الله په وړاندې مقربين ئې شاهد او ناظر، نو ووايه: په دې صورت کې به ستا پوچ تبليغات څه تأثير پرې وکړي؟

فرشتې د نېکانو عملپاڼې په سرعت او تلوار پورته وړي، چې کله د عرش خوا ته مقربې فرشتې دا عملپاڼې او په هغه کې د انسان نېك عملونه وګوري له دې کبله حيراني شي چې انسان څنګه له ټولو هغو غرائزو او محرکاتو سره چې دی د عصيان، ګناه او بدي لور ته هڅوي او په داسي حال کې چې شيطان په هرګام کې ورته کمين نيولی او هره شېبه ئې وسوسه کوي، خو هغه له ګناه او عصيان ځان ساتلی، الله ئې غوره کړی، نه د شيطان د وسوسو تر اغېز لاندې راغلی او نه خپل هوی او هوس ته تسليم شوی، روژه ئې نيولې، لمونځ ئې کړی، خپل مال ئې د الله لپاره وقف کړی، خپل ځان ئې د الله په لار کې قرباني کړی، دې ته به حيراني شي او دا پاڼې به په خپلو کې يوه بل ته ښيي.

۲۲-۲٤: کوم نېك بندګان چې په دنيا کې له فقر او مسکنت سره مخامخ وو او يا ئې د دنيا مال او متاع ته ډېره اعتناء نه درلوده، خپلې شتمنۍ ئې د الله په لار کې وقفولې او په لږ څه به ئې قناعت کاوو او په همدې سبب به فاجرو او بدکارو مطففينو ملنډې پرې وهلې او د دوی حالت به ئې د خندا او تأسف وړ ګاڼو، نن به هغوی له نعمتونو ډکو جنتونو کې وي، په لوړو شاهانه تختونو ناست، راز راز نعمتونو به احاطه کړي وي او په څېرو کې به ئې د نعمتونو نښې راڅرګندې وي.

٢٥- څښاك ئې له داسې شرابو چې سر به ئې مهر وي، له دوی مخکې به ئې نه چا خوند څکلی وي او نه به ئې شوندې پرې لګېدلې وي، هلته به د انسان دې تمایل ته هم ځواب ویل کېږي چې غواړي له ده مخکې څوك د ده په جام او پیالې خوله کښېږدي، هلته به نه یوازې د جنتیانو د څښاك د لوښو او جامونو سرونه بند وي بلکې د پاسه به مهر هم پرې وهل شوی وي.

٢٦- خو مُهر او لاك به ئې د مشکو عطر وي، نه عادي لاك. دا هغه څه دي چې انسان ته ښایي له نورو سره په کې سیالي او رقابت وکړي، نه د دنیا کاذب وجاهتونه او بې پایښته او بې ارزښته مال متاع ئې، ولې د جنت د دغو سترو سترو نعمتونو د لاس ته راوړو لپاره په خپلو کې سیالي نه کوئ.

٢٧-٢٨: دلته ځینې مفسرین (بها) د (منها) یا (عنها) په معنی نیسي او آیت داسې ترجمه کوي، مقربین به د دې چینې اوبه څښي، خو موږ د هغو درنو مفسرینو رأیه مضبوطه ګڼو چې الفاظ په خپله اصلي معنی کې رااخلي او دلته وایي: د ابرارو په رحیق مختوم کې به د دې چینې یوه برخه ورګډوي خو مقربین به د دغې لوړې چینې خوا کې خپل خاص څښاك څښي، تسنیم لوړ او اوچت ځای ته وایي، دا چینه به په یوه لوړ ځای کې وي او اوبه به ئې له همغه لوړ ځایه لاندې راپرېوځي، هغه څه چې انسان ته ډېر جالب او ښایسته برېښي او خوند ترې اخلي، دا هم یو انساني تمایل دئ چې له لوړو لوړو ځایونو د اوبو د راپرېوتو له منظرې خوند اخلي، په جنت کې به د ده دا تمایل هم اشباع او دا تنده به ئې هم خړوبه شي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمُ ٱنقَلَبُواْ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ أُرْسِلُواْ عَلَيْهِمْ حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ ٱلْكُفَّارُ مَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

٢٩- بې شکه هغو خلکو چې ئې کړي وو جرمونه، خندل به ئې پر هغو چې ایمان ئې وو راوړی! ٣٠- چې خوا ته به ئې تېرشول، سترګې به ئې وهلو په خپل منځ کې. ٣١- او چې کله به خپل اهل او کهول ته ګرځېدل، په خندا به ګرځېدل. ٣٢- او چې کله

به ئې ولیدل، ویل به ئې: دا دوی خو بې له شکه دي لار ورکي. ۳۳- حال دا چې پردوی نه وو لېږل شوي ځارکوونکي. ۳٤- نو نن به پر کفارو باندي خاندي هغه خلك چې ایمان ئې وو راوړی. ۳۵- پر تختونو باندي ناست به تماشا کړي. ۳٦- آیا ورکړی شو کفارو ته ثواب د هغه څه چې دوی کولو؟

۹- دا آیت په ډېر صراحت سره ښیي چې په لومړي آیت کې له (تطفیف) مراد همدغه تمسخر او ملنډې دي. په ګناهونو کې غرق مطففینو به پر نېکانو او ابرارو ملنډې وهلې، دوی به ئې سفیه، حقیر، سپك او ضعیف ګڼل او د هر ظلم او تېري وړ به ئې بلل.

۳۰- چې کله به د مؤمنانو په څنګ کې تېرېدل، نو یوه به بل ته د استهزاء او تمسخر لپاره سترګك واهو، له دې او مخکینیو آیتونو په ډېره آسانۍ معلومولی شو چې دا مبارکه سوره باید په داسي شرائطو کې نازله شوې وي چې:

الف: مسلمانان له هغې مرحلې تېر شوي چې خپل ایمان به ئې پټاوو او اوس په داسي شرائطو کې دي چې خپل ایمان ئې څرګند کړی او کافران ئې ښه پېژني.

ب: کافرانو یوازي په تمسخر، استهزاء او ملنډو بسنه کوله او د دوی په تعذیب، وهلو ټکولو ئې لاس نه وو پوري کړی.

دا ځانګړتیاوي د مکي دور له خاصې مرحلې پرته په نورو مراحلو کې نه شو موندلی او دا د همغه ابتدائي مرحلې وروستی پړاو دئ چې مسلمانان د یوه نوي دین د پلویانو په څېر راڅرګند شول. په دې کې د هیڅ شك مجال نه پاته کېږي چې دا سوره به په همدغې مرحلې کې نازله شوې وي. د قرآن د سورتونو یوه ستره ځانګړتیا دا ده چې له محتوی ئې هم شأن نزول معلومېدی شي او هم د نزول مرحله؛ او له یوه بلیغ او بشپړ کلام سره همدا ښایي. انسان ډېر تعجب کوي چې څنګه ځینو نومیالیو مفسرینو دا د مدني دور سوره ګڼلې. مګر په مدینه کې چا دا جرأت کولی شو چې پر مؤمنانو ملنډې ووهي؟!!!

۳۱- د مؤمنانو له توهین او تحقیر وروسته او پس له هغه چې پر دوی به ئې ډېرې ملنډې وهلې وې، خپلې کورنۍ ته به په داسي حال کې راوګرځېدل چې په جګ غږ به ئې خندل، په خپلو کړو به ئې د خپلې کورنۍ په وړاندي فخر کاوو او دا به ئې له خپل پلرني دین او مذهب دفاع او د نیکونو په میراث او پاته شونو د غیرت کولو نښه ګڼله!!

۳۲- د مؤمنانو په خوا کې به په ډېر غرور او تکبر تېرېدل او دوی به ئې بې لارې او لار ورکې ګڼل او یوه بل ته به ئې ویل: دغو بې عقلو لار ورکه کړې، د خپل پلار نیکه دین ئې پرېښی، دنیا ته ئې شا کړې، د پوچ او مبهمو اهدافو لپاره خپل هر څه له لاسه ورکوي، د هیڅ لپاره خپل ژوند په خطر کې اچوي، له دې ټول ضعف او کمزورۍ سره سره ګمان کوي

چې پر خپلو ځواکمنو او زورورو دښمنانو به برلاسي شي او خدای به ئې مرسته وکړي!! عجیبه ناپوهي او سفاهت!! ګورئ چې د کافرانو او بد ضمیرو مجرمینو په اند دا ناپوهي او سفاهت دئ چې څوك د لوړو لوړو او سپېڅلو اهدافو لپاره خپلې آرامتیا او سوکالي ته له پامه پرته عمل وکړي او خپل شته د الله په لار کې او سپېڅلو اهدافو ته د رسېدو په لار کې قرباني کړي.

۳۳- مګر دوی ته چا د مؤمنانو د ځارنې او د هغوی پر کړنو د مراقبت دنده سپارلې؟!! آیا د دوی وظیفه دا ده چې د نورو د عملونو ځارنه وکړي او د هغه په اړه قضاوت وکړي؟! چا ورته ویلي چې مؤمنان تر مراقبت لاندې ونیسئ او ځارنه ئې کوئ، چې داسې ورپسې دي او د دوی په اړه تبلیغات کوي؟! له دغو مؤمنانو څه تاوان دوی ته رسېدلی چې یوه شېبه ئې آرام نه پرېږدي، ملنډې پرې وهي او بې لارې ئې ګڼي؟!!

۳٤-۳۵: نن او له هغه وروسته چې دا کافر او مغرور بدکاران به د خپل انتظار خلاف، مؤمنان په جنت کې ګوري، پر شاهانه لوړو لوړو تختونو ناست او ځان به د دوزخ په تل کې او د هر چا د کړنو ماهیت او پایلې راڅرګندې شوې، نو مؤمنان به د هغو کافرانو دردناکه وضع د خندا وړ ګڼي چې په دنیا کې ئې ځان په حقه ګانړو، له خپلې وضعې راضي وو او په هغې ئې فخر کاوو او غوره پایلو ته ئې منتظر وو، نن به د مؤمنانو پر شونډو د فتحې او بریا موسکا وي او د دښمنانو د رسوایۍ تماشا به کوي.

۳٦- آیا کافرانو د خپلو عملونو ثواب تر لاسه کړ؟!! دلته د (ثواب) کلمه یوه ډېره ظریفه او لطیفه توجیه لري او هغه دا چې: ثواب هغې بدلې او جزاء ته وایي چې د ښه عمل په مقابل کې ورکول کېږي، کافرانو له ټولو هغو نارواوو او تېرې او تجاوز د ښې بدلې او ثواب طمع درلوده چې د مؤمنانو په حق کې ئې کول، که ئې هغوی ځورول، که ئې ملنډې پرې وهلې، که ئې د دوی پر مال، ځان او عزت تېرى کاوو، ټول ئې د ثواب کارونه ګڼل، ځان ئې په حقه، خپل مذهب ئې سم، له خپلو کړنو ئې په دنیا او آخرت کې د ښو پایلو طمع درلوده، نو آیا دا ثواب ئې تر لاسه کړ؟ آیا هغه په زړه پورې نتائج ورپه برخه شول؟! (جهنم)، همغه (ثواب) چې دوی ته ئې انتظار کاوو!!

الانشقاق

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الانشقاق (شلېدا) دئ چې له لومړي آیت اخیستل شوی، دا د سورې نوم دئ نه د سورې د مضامینو لپاره عنوان، ۲۵ آیتونه لري، د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې. آیتونه ئې لنډ لنډ، له شپږم او پنځه ویشتم آیت پرته د ټولو اوږدوالی او د غږونو شمېر سره ورته دئ، خو شپږم او پنځه ویشتم آیتونه هم د څو داسې غږونو مجموعې دي چې د نورو آیتونو په څېر دي. تر پنځم آیت فواصل انشقت ته ورته هموزنه صیغې دي، شپږم او اوم آیت د (ملْقیه) او (یمینه) په دوو هموزنو صیغو پای ته رسېدلي، که لسم او یولسم آیت یو ځای ولوستی شي نو له اتم تر پنځلسم پورې فواصل یسیرا ته ورته هموزنه صیغې دي، که څه هم څوارلسم آیت د یحورَ په صیغه ختم شوی خو که د قرائت په دوران کې توقف ونه کړو غږ ئې یسیرا ته ورته کېږي، له شپاړسم تر نولسم پورې وزن د شفق او وسق په څېر دئ او که ۲٤ او ۲۵ آیت یو ځای قرائت شي نو د پای د آیتونو وزن د یسجدون په څېر دئ.

د سورې په پیل کې د آسمان شق شق کېدا ته چې د قیامت له لومړیو نښو ده اشاره شوې، بیا د زمکې اوارېدا او له خپلې سینې د هر څه بهر راایستو او تشېدا ئې، د انسانانو بیا راژوندي کېدا، د الله تعالی په لوري د دوی تګ او د عملپاڼو د ورکړې صحنې انځور شوې، داسې چې یوې خوا ته کافران ګورې چې پاڼې ئې په کښې لاس کې تر شا ورکول کېږي او بلې خوا ته مؤمنان چې پاڼې ئې په ښي لاس کې ورکړې شوې، یو په خپلې عملپاڼې خوښ دئ او د خپلې کورنۍ غږو ته خوشحال او له موسکا سره راګرځي او بل ئې دومره پرېشانه چې د مرګ هیله به کوي. ورپسې د دې ادعاء د اثبات لپاره ډېر مضبوط او قوي دلائل وړاندي شوي چې قیامت هرومرو راتلونکی دئ او مرګ د ژوند پای نه دئ. او بیا له قیامت منکر انسان ته په ډېري حیرتناکې لهجې دا پوښتنه راجع شوې چې څنګه او ولې له دغو ټولو دلائلو سره سره ایمان نه راوړي او د با عظمت قرآن قوي استدلال ته سر نه ټیټوي!! او په پای کې وایي چې دا منکرین له دې کبله له قیامت انکار نه کوي چې عقلي دلائل ئې مخې ته نه دي راغلي، بلکې عمداً او په حقیقت ئې له پوهېدو وروسته انکار کوي او درواغو ته په پناه وړو سره هغه تکذیبوي، د دوی بد عملونه ئې دغه دروغو ته اړ کوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ ١ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ٢ وَإِذَا ٱلۡأَرۡضُ مُدَّتۡ ٣ وَأَلۡقَتۡ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتۡ ٤ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ٥

١- کله چې آسمان ټوټې ټوټې شي. ٢- او خپل رب ته به غوږ شي او همدغه ورته ښايي. ٣- اوکله چې خوره کړی شي دا زمکه. ٤- او راواچوي هر څه چې وي په دې کې او خالي شي. ٥- او خپل رب ته به غوږ شي او همدغه ورته ښايي.

١-٢: دغه آسمان چې نن زموږ د کور د چت په څېر دئ او ټول هغه ستوري چې په خپلې غېږ کې ئې نیولي او په خپلو کې ئې له تصادم او ټکر مخنیوی کوي، د قیامت په رارسېدو سره به شق شق او ټوټې ټوټې شي او ستوري به ئې خواره واره، لکه څنګه چې نن د الله په وړاندې منقاد او تسلیم دئ او د الهی اوامرو اطاعت کوي او په کامل انقیاد سره، د هغو ضوابطو او سننو مطابق خپله دنده تر سره کوي چې الله تعالی وضع کړې، د قیامت په ورځ به هم د الله تعالی حکم ته غاړه کېږدي او ټوټې ټوټې به شي، له ده سره همدا ښايي.

٣-٥: زمکه به خوره او اواره کړی شي، په دوه معنی وو:

الف: د زمکې دا اوسنۍ لوړې ژورې او دا جګ جګ غرونه چې یوه سیمه ئې له بلې جلا کړې او د خلکو تر منځ حائل شوي، دا به له منځه ولاړ شي او زمکه به په پراخ او اوار میدان بدله شي.

ب: زمکه به تر اوسنۍ کچې زیاته پراخه شي او په داسې پراخې زمکې به بدله شي چې په خپلې غېږ کې ټولو هغو انسانانو ته ځای ورکړی شي چې د انسان له پیدایښت د قیامت تر ورځې پیدا شوي.

قرآن وایي چې د زمکې او آسمان د اوسني نظام له متلاشي کېدو وروسته به نوی آسمان او نوې زمکه پیدا کړی شي، په نوي نظام کې به له یوې خوا زمکه اواره وي او له بلې خوا تر اوسنۍ کچې ډېره پراخه، راشئ د دې مطلب په وړاندې هم لږ توقف وکړو او وګورو چې ننني علم او ساینس په دې اړه څه وایي؟ آیا له اوسني مقدار د زمکې د مزید پراخېدو امکان ردوي او که ئې تأییدوي؟!! محققین او د ژور نظر خاوند څېړونکي دې حقیقت ته په پام سره چې کائنات په مسلسل او پرله پسې توګه پراخېږي، دې نتیجې ته رسېدلي چې که موږ هر څومره شا ته نظر وکړو او څو ملیونه کاله مخکې د کائنات حجم

معلوم کړو نو دا به راته جوته شي چې هر څومره شا ته درومو د کائنات پرخوالی او حجم وړ مومو، په دې شا ته تګ کې به سلهاوو او زرهاوو ملیونه کاله مخکې ټول کائنات د یوې وړې کُرې په اندازه او تر هغه مخکې د فټبال د یوه توپ په اندازه او له هغې سترې چاودنې څو ثانیې وړاندې به ئې د یوې منې په اندازه ومومو چې د دې عالم د تکوین او جوړېدو په سر کې شوې. دا عالم له هغې شېبې تر اوسه او تر پایه به په مسلسل او پرله پسې توګه پراخېږي، دوی له خپلو ژورو او پراخو څېړنو وروسته دې نتیجې ته رسېدلې چې که د اتم د زړه او هغو الکترونونو تر منځ چې په چاپېر ئې راچورلې، موجود واټن لږ زیات کړی شي، نو زمونږ د زمکې حجم به له اوسني مقدار په ملیونهاوو ځله زیات شي او که دا واټن لږ له اوسني مقداره راکم کړو نو حجم به ئې د اوسني حجم ملیونمه برخه شي.

قرآن په دې اړه فرمایي:

وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾ الذاريات

او آسمان مو په خپل لاس جوړ کړ او موږ ئې پراخوونکي یو.

هر با انصاف عالم او هر باشعور انسان به په دې اعتراف وکړي چې دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز دئ، دا هغه حقیقت دئ چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ویلی او انسان د شلمې پېړۍ په وروستیو کې پرې پوه شوی.

د نوي نظام له راتلو وروسته به زمونږ دا زمکه (چې له اوسني مقداره به ډېره پراخه شوې وي) ټول هغه څه له خپلې سینې بهر راوباسي چې الله تعالی ئې د راایستلو امر ورته کوي او تشه به شي، لکه څنګه چې نن خپل پالونکي رب ته مطیع او منقاده ده، خپلې دندې په بشپړ انهماك سره سر ته رسوي، په هغه باران سره چې له آسمان وربېږي، په خپلې سینې کې د ژوند زړې راویښوي، وده ورکوي، په خپلې غېږ کې ئې پالي، ښکلي او سمسور بوټي او وني راټوکوي، دانه او مېوه تولیدوي، زمونږ لپاره رزق او روزي برابروي، موږ ته ئې په خپلې غېږ کې ځای راکړی، هر څه ئې زمونږ په خدمت کې، موږ ته مسخر او رام، د قیامت په ورځ به د خپل رب حکم ته غاړه کېږدي، د انسانانو ټول هغه مړي به ژوندي بهر راوباسي چې په خپلې سینې کې ئې تر خاورو لاندې ساتلي، له زمکې سره همدا ښایي او اوسنۍ وضع ئې په دې شهادت ورکوي چې همدا کار به کوي.

څوك چې بیا ژوندون محال ګڼي او دا ورته ګران برېښي چې خاوري شوی انسان به بېرته راژوندی کېږي، مګر دا هره ورځ د بیا ژوندي کېدو صحنې په خپلو سترګو نه ګوري؟!! مګر دې ته ئې پام نه دئ چې دا زمکه تل هغه مړه توکې بېرته ژوندي بهر راباسي چې ومري او تر خاورو لاندې شي؟ د دغو صحنو له لیدو سره سره څنګه او په کوم دلیل

له آخرت او بيا ژوندون انکار کوي؟!!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ٦ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ٧ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا ٨ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورٗا ٩ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهۡرِهِۦ ١٠ فَسَوۡفَ يَدۡعُواْ ثُبُورٗا ١١ وَيَصۡلَىٰ سَعِيرًا ١٢ إِنَّهُۥ كَانَ فِيٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورًا ١٣ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ١٤ بَلَىٰٓۚ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ١٥

٦- آی اې انسانه! بې شکه چې دا ته يې د خپل رب په لور په هڅه هاندکوونکی، نو مخامخېدونکی به ئې وې. ٧- نو هغه چې په ښي لاس کې ئې ورکړی شي ليك پاڼه. ٨- نو ژر به محاسبه شي په آساني محاسبې. ٩- او ورګرځي به خپل اهل ته خوشحاله. ١٠- او هغه چې ليك پاڼه به ئې ورکړی شي له شا. ١١- نو ژر ده چې مرګی به ځانته بولي. ١٢- او لمبو کې (د دوزخ) به ننوځي. ١٣- دی خو خپل ټبرکي وو خوشحاله. ١٤- ده ګمان کاوو چې وبه نګرځي هيڅکله! ١٥- هوکې ولي نه؛ چې رب ئې وو د ده ليدونکی!

٦ - په دنيا کې ستا هڅه او هاند په حقيقت کې د الله په لوري ستا د حرکت يوه هڅه ده، هر ګام چې مخکې ږدې او هره لوړه ژوره چې په زحمت سره ترې اوړې، په حقيقت کې د الله په لور درومې، د هغه په وړاندې د ودرېدو لپاره يو واټن پلی کوې، د دې شاق او ستونزمن سفر په پای کې، که دې باور وي او که نه؛ که وغواړې او که نه؛ خدای ته رسې او د هغه په وړاندې ودرېږې او ورسره مخامخ کېږې.

٧-٩: چا ته چې په دغه ورځ خپله عملپاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي، محاسبه به ئې آسانه وي، خوښ او سر لوړی به خپلوانو ته راګرځي. دا آسانه حساب به څنګه وي؟ ابن عمر رضي الله عنه ئې په يوه روايت کې توضيح کوي:

عن بن عمر قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول « يُدْنَى الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ حَتَّى يَضَعَ عَلَيْهِ كَنَفَهُ فَيُقَرِّرُهُ بِذُنُوبِهِ فَيَقُولُ هَلْ تَعْرِفُ فَيَقُولُ أَىْ رَبِّ أَعْرِفُ . قَالَ فَإِنِّى قَدْ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِى الدُّنْيَا وَإِنِّى أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ. فَيُعْطَى

صَحِيفَةَ حَسَنَاتِهِ... رواه مسلم والبخارى

له ابن عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: د قيامت په ورځ به يو مؤمن بنده خپل رب ته نژدې کړى شي، حتى چي الله تعالى به خپل لاس پرې واچوي او په خپلو ګناهونو به اعتراف ترې واخلي او ورته وبه وايي: آيا دا او دا (ګناه) دي پېژني، وبه وايي: هو؛ زما ربه، پېژنم ئې، الله تعالى به وفرمايي: په دنيا کې مي پرده پرې واچوله او دا دئ نن ئې درته بخښم، نو د سېګنۍ پاڼه به ئې ورکړى شي.

په دې مبارك حديث کې د مخلص بنده په اړه د مهربان رب پراخ عنايت او ستر لطف انځور شوى، چې د محاسبې په وخت کې به هغه خپلې خوا ته راوغواړي، سره به ئې ځان ته نژدې کړي، داسې به ئې ورنږدې کړي لکه څوك چې يو ګران دوست د دې لپاره خپل تخرګ ته ورنږدې کوي او خپل لاس پرې اچوي چې يوه پټه مهمه خبره ورته وکړي، داسې چې بل څوك ئې وانه وري، الله تعالى به په دغسې حالت کې هغه ته خپل اشتباهات ورپه ياد کړي، ټول به ورته وبخښي، هيڅوك به پوه نه شي چې د ده او رب تر منځ ئې څه تېر شول، عملپاڼه به ئې ورته ورکړي خو يوازې سېګنې به په کې درج وي او اشتباهات به ئې ترې حذف شوي وي، خوښ او په جګو سترګو به خپلوانو ته راوګرځي.

پيغمبر عليه السلام فرمايي: زما د امت له اوياوو زرو سره به محاسبه نه کېږي:

... فَتَنْجُو أَوَّلُ زُمْرَةٍ وُجُوهُهُمْ كَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ سَبْعُونَ أَلْفًا لاَ يُحَاسَبُونَ. رواه البخارى

لومړى ډله به وژغورل شي، مخونه به ئې د څوارلسمي سپوږمۍ په څېر ځلېږي، هيڅ حساب به ورسره نه کېږي.

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم « مَنْ حُوسِبَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عُذِّبَ ». فَقُلْتُ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ الله عَزَّ وَجَلَّ (فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا) فَقَالَ « لَيْسَ ذَاكِ الْحِسَابُ إِنَّمَا ذَاكِ الْعَرْضُ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عُذِّبَ » رواه البخارى

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له چا سره چي د قيامت په ورځ محاسبه وشي نو عذاب به ئې په برخه شي، ما ورته وويل: مګر الله تعالى نه دي فرمايلي چي ژر به آسانه محاسبه ورسره وشي، وئې فرمايل: دا محاسبه نه ده؛ دا فقط (خپل عملونه ئې) ورښودل دي، له چا سره چي د حساب مناقشه وشي عذاب به ئې په برخه شي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم أَنَّهُ قَالَ « لَنْ يُنْجِيَ أَحَدًا مِنْكُمْ

عَمَلُهُ ». قَالَ رَجُلٌ وَلاَ إِيَّاكَ يَا رَسُولَ الله قَالَ « وَلاَ إِيَّاىَ إِلاَّ أَنْ يَتَغَمَّدَنِىَ الله مِنْهُ بِرَحْمَةٍ وَلَكِنْ سَدِّدُوا » رواه البخارى

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ستاسو هيڅ يو به داسي نه وي چې خپل عمل ئې وژغوري، چا ورته وويل: يا رسول الله حتى تا هم؟! وئې فرمايل: حتى ما هم، مگر دا چې الله تعالى مي په خپل رحمت کې ونغاړي، خو ځان سم کړئ.

عن ابى هريرة يقول: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ» ، فَقَالَ عُكَّاشَةُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، فَدَعَا لَهُ. صحيح ابن حبان

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زما د امت اويا زره به له حساب پرته جنت ته ننوځي، عكاشه رضي الله عنه وويل: يا رسول الله! دعاء راته وكړه چې زه له دغو وم، پيغمبر عليه السلام ورته دعاء وكړه.

۱۰-۱۱: خو هغه څوك چې عملپاڼه به ئې له شا ورکړی شي، د مرگ تمنی او هيله به کوي، وايي به کاش نه وی راژوندی شوی، کاش خاوري وی، کاش مرگ مي په برخه شوی وی او دا صحنه مي نه وی ليدلې، دا به هغه څوك وي چې له الله تعالى سره د مخامخ کېدو وړتيا نه لري، مجرم، خائن، عاصي، بدكار، سركښ، مشرك او له الله تعالى او د هغه له نعمتونو منكر دئ، الله تعالى هم نه غواړي د ده ناولى مخ وگوري، عملپاڼه به ئې له شا او په کين لاس کې ورکول کېږي.

۱۲- د دوزخ د سره اور لمبو ته به ننوځي.

۱۳- دا ځكه چې په دنيا کې ئې په بشپړه بې باکۍ او بې پروايۍ کې غير مسئولانه ژوند کړی، په گناه کې خوښ وو، نه ئې له الهي محاسبې څه اندېښنه وه او نه د دوزخ له اوره څه وېره.

۱٤- گمان ئې دا وو چې هر څه په همدې دنيوي ژوند کې راخلاصه کېږي، نه د الله لوري ته ورتگ شته او نه د آخرت او حساب و كتاب ورځ.

۱۵- د ده د دې غلطي انگېرنې خلاف به خامخا د الله په لور دروميو او حتماً به له الهي محاسبې سره مخامخ کېږي، دا ځكه چې الله تعالى ئې د عملونو ناظر دئ، موږ چې مخلوق يو او زموږ هر استعداد الهي وديعه او امانت دئ، چې كله مو د چا سره او بد تر سترگو شي، حتماً بدله ورکوو، كه نور هيڅ نه وي سره ئې ستايو او بدو ته ئې بد وايو،

غواړو د ده ښو ته ښه بدله ورکړو او بدو ته ئې بده سزا، که موږ دا کار کوو مګر هغه خدای چې بصیر دئ او موږ ته د قضاوت مَلَکه او استعداد هم ده راکړی، هغه به د خپلو بندګانو د عملونو په اړه قضاوت نه کوي، ځینې به جنت او ځینې به دوزخ ته نه بیایي؟!!

فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ ﴿١٩﴾

۱۶- نو نه؛ زما دي لوړه په شفق وي. ۱۷- او په شپې او څه چې ونیسي په غېږ کې. ۱۸- او په سپوږمۍ چې کله بشپړه شي. ۱۹- حتماً به له یوه پوړه؛ بل پوړ ته اوچت درومئ.

۱۶-۱۹: د شپې او سپوږمۍ بېلابېل حالت د دې نښه ده چې مرګ د ژوند پای نه؛ بلکې د ابدیت په لوري یو پراو دئ، د دغه ادعاء د اثبات لپاره په دې آیتونو کې په لاندې شیانو لوړه شوې: په شفق: د آسمان د ژېړ هغه سره ګاره چې د لمر په لوېدو پسې راخرګنده شي، په شپه او هغه څه چې په خپلې غېږ کې ئې نیسي او خپل تور وزر وربانديې غوړوي او په سپوږمۍ چې کله بشپړه شي.

د دغو دریو قسمونو ځواب او هغه مطلب چې په دغو قسمونو سره ئې اثباتول په نظر کې دي، دا دئ: تاسو به حتماً له یوې پوړې بلې ته پورته کېږئ.

راشئ وګورو چې دا قسمونه له ځواب سره څه ارتباط لري او څنګه دا خبره ثابتوي چې انسان به حتماً له یوه حالت بل ته خوځېږي؟ دې پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره باید لاندې خبرې په نظر کې ولرو:

د انسان د مرګ په اړه دوه انګېرنې او تحلیلونه درلودی شو:

الف: مرګ د توقف او رکود حالت دئ، په مرګ سره انسان له خوځښت او حرکت ودرېږي او کار ئې پای ته رسي، مرګ د ده د ژوند او خوځښت وروستی پراو دئ.

ب: مرګ یو مقطعي حالت دئ؛ د انسان د هغه مسلسل او پای نه منونکي خوځښت یو حالت چې انتهاء نه لري، مرګ له یوه حالت بل حالت ته یو حرکت دئ، مرګ د یوه ژوندون پای او د بل پیل دئ، په مرګ سره د هغه چا په لوري درومو چې دا ژوند ئې موږ ته راکړی.

څوك چې له بیا ژوندون انکار کوي هغه په دې باور وي چې مرګ رکود او سکون دئ، په مرګ سره ژوند پای ته رسېږي او حرکت ئې په ټپه ودرېږي، له هغه وروسته بله مرحله او بل پراو نشته، په مرګ سره د انسان د بدلون او له یوه حالت بل ته د خوځېدو

سلسله ئې متوقف کېږي، دوی په دې عقیده دي چې د انسان هغه ژوند چې له یوې نطفې پیل شي، وده وکړي، د یوه ماشوم په څېر دنیا ته راشي، ځوانۍ ته ورسېږي، زوړ شي، زوال ئې پیل شي، په مرګ محکوم شي او په همدې مرګ سره ئې هر څه پای ته ورسېږي.

خو الله تعالی دوی ته په ځواب کې فرمایي: داسي نه ده؛ نور پېړاوونه هم په مخکې لرئ، حتماً به له یوه حالت بل ته د تلو لړۍ دوام کوي، له مرګ وروسته نور مراحل هم په مخ کې لرئ، له یوه پوړ به بل ته پورته کېږئ، د بې نهایت په لوري دوامدار او مستمر حرکت کې به نور مراحل هم پلي کړئ. د دغي ادعاء د اثبات لپاره په څو مشهود او ملموس طبیعي شیانو استشهاد شوی:

۱- په شفق چې د ورځې پای او د شپې پیل اعلانوي. ۲- په شپه چې هر څه له سترګو پټوي. ۳- په سپوږمۍ چې له مختلفو پېړاوونو تېره او بشپړه شي.

تاسو په دې نړۍ کې د مسلسل بدلون شاهد یاست، ګورئ چې ورځ پای ته ورسېږي، د آسمان لمنه سره شي، شفق راځرګند شي، شپه راورسېږي، خپل تور وزر په هر څه وغوړوي، څو ساعته وروسته ختمه شي او خپل ځای ورځ ته پرېږدي، آیا دا صحیح ده چې د هرې شپې ورځې مرګ د هغه دائمي پای وګڼو او ووایو: بله شپه او ورځ به رانشي؟ سپوږمۍ ګورو چې د میاشتي په پیل کې رابره شي، وړه وي، په تدریج سره سټره شي، مکمله شي خو بیا په تدریج سره وړه شي، داسي چې د میاشتي په پای کې له سترګو پټه شي. آیا دا سمه ده چې د سپوږمۍ له موقتي پټېدو دا ګمان وکړو چې بیا به طلوع نه کوي او راځرګنده به نه شي؟

د شپې ورځې تګ راتګ، د سپوږمۍ طلوع او غروب او سترېدل، وړېدل، پټېدل او ځرګندېدل ئې دا ښیي چې دا نړۍ د مسلسل او مستمر تحول او بدلون صحنه ده، هر څه له یوه حالت بل حالت ته درومي، په هیڅ مقطع او هیڅ نقطه کې توقف او سکون نه شئ موندی، د بیا ژوندون منکرین هسي او بې ځایه؛ مرګ ته د سکون او توقف او د بدلون د پای په سترګه ګوري، دا انګېرنه له هغه څه سره ټکر او تصادم کوي چې د نړۍ له مشاهدې ئې تر لاسه کوو. د دې غلطي او بې بنسټي انګېرنې د اثبات لپاره هیڅ دلیل، د دې ټولې پراخې نړۍ له هیڅ ګوټ نه شو وړاندي کولی.

فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ

أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٍ ﴿٢٥﴾

۲۰- نو څه شوي په دوی چې ایمان نه راوړي؟ ۲۱- او چې قرآن پرې ولوستی شي سجده نه کوي؟ ۲۲- بلکې دروغ ئې ګڼي هغه چې کافر شول. ۲۳- او الله خو ډېر ښه پوه دئ په هر څه چې غونډوي ئې. ٢٤- نو ورکړه ورته زیری د دردناك عذاب. ۲۵- مګر هغه چې ایمان ئې وي راوړی او ښه ښه عملونه ئې وي کړي، چې دوی ته به وي اجر نه غوڅېدونکی.

۲۰-۲۱: د دغو حقائقو له لیدو او د دغو مضبوطو دلائلو له اوربدو سره سره څنګه ایمان نه راوړي، څنګه پرې کافر شوي؟!! ولي الله ته له ورګرځېدو منکر دي او مرګ د خپل سفر پای ګڼي؟!! ولي د قرآن د دومره قوي دلائلو په وړاندي سر نه ټیټوي، دا حقیقت نه مني او له لجاجته لاس نه اخلي؟!!

له یوې خوا دا عالم چې د الله تعالی (مشهود کتاب) دئ، هره پاڼه او هر توکی ئې په دې شهادت ورکوي چې د منکرینو دا عقیده باطله او سراسر غلطه ده چې مرګ د ژوند پای او د خپل سفر آخري منزل ئې ګڼي او تلپاته رکود او خمود ئې شمېري، له بلې خوا قرآن دا د الله تعالی هغه مقروء کتاب چې د عالم هر څه ئې د مدعی تأیید کوي او په حقانیت ئې شهادت ورکوي، دوی ته وایي چې مرګ د دائمي رکود او توقف پیل نه دئ بلکې د نوي سفر پیل دئ، په مرګ سره د الله په لوري درومئ، سره له دې ولې باور نه کوي، د قرآن د عظمت په وړاندي سر نه ټیټوي او الله ته سجده نه کوي؟!!

یعني هم د دې خور او پراخ عالم هر څه څرګنده ښه او آیت دئ چې انسان په دغه حقیقت باور ته رابلي او هم د قرآن آیتونه مومِ ته دا حقیقت ثابتوي او د ایمان بلنه راکوي، دا دواړه او په ګډه، هر سترګور انسان دې ته رابلي چې الله ته غاړه کېږدي او په آخرت باور وکړي.

دا مبارك آیت د قرآن جلال او عظمت بیانوي او مومِ ته وایي: د باعظمت قرآن تر څنګ به په بې اعتنائي او بې باکۍ نه تېرېږئ، بلکې د دې عظیم الشأن کتاب د آیتونو په اوربدو سره باید د هغه رب په وړاندي سرونه ټیټ او تندی پر زمکه کېږدئ چې دا لویه پېرزوینه ئې پر مومِ کړې او دا کتاب ئې رالېږلی. د احنافو له نظره د قرآن څوارلس آیتونه داسې دي چې په اوربدو او لوستو سره ئې سجده راباندي واجبه کېږي او دا آیت یو له هغوی دئ. څوك چې دا آیتونه تلاوت کړي یا ئې واوري باید د تلاوت سجده وکړي، خو که په یوه مجلس کې ئې څو څو ځله واوري، یا ئې د تدریس، حفظ او تلاوت په دوران کې

په يوه وخت کې څو ځلي تلاوت کړي يا ئې واوري، نو د ټولو په پای کې يوه سجده ورته کفايت کوي، خو په بيا تکرار سره نوې سجده لازمېږي، که له مجلس ووتې او په بيا راتلو سره هغه آيت بيا تکرار شو بيا به د تلاوت سجده کوې. (امام شافعي رحمه الله ئې څوارلس سنت سجدې، امام مالك رحمه الله ئې ۱۱ او امام احمد ئې پنځلس ګڼي.

۲۲- خبره داسي نه ده لکه چې د آخرت منکرين ئې وايي او ادعاء کوي چې نه د کائنات او عالم څرګندو نښو قانع کړي او نه د قرآن آيتونو دوی ته قناعت ورکړی، بلکې اصلي خبره دا ده چې دوی له دې حقيقت عمداً او قصداً انکار کوي، زړه او دماغ ئې پرې قانع دي خو هوی او هوس ئې انکار او تکذيب ته اړ باسي.

۲۳- الله تعالی ښه پوه دئ په هغه څه چې دوی ئې راغونډوي؛ او دا په څو معنی وو:

- ټول هغه افکار، نظريات، عزائم او د زړونو غوښتني ئې چې دوی په خپلو سينو کې راغونډ کړي.
- د دوی د ټولو عملونو حاصل او نتائج چې دوی تر لاسه کړي.
- هغه مال او دولت ئې چې راغونډ کړی ئې دئ.

لومړۍ معنی په دې دليل تر نورو دقيقه او موزونه ده چې له مخکينيو آيتونو سره ئې يووالی همدا غوښتنه کوي او په ګډه دا مطلب افاده کوي چې: له آخرت انکار کوونکي عمداً او قصداً له دې حقيقت انکار کوي، په داسي حال کې چې زړه او دماغ ئې د هغه په حقانيت شهادت ورکوي، د دوی په اړه دا قضاوت د هغه عليم او پوه ذات له لوري دئ چې د دوی د سينو اسرار ترې پټ نه دي، ښه پوهېږي چې دوی په خپلو سينو کې څه راغونډ کړي.

۲۴-۲۵: له آخرت دا انکار کوونکې ډله، له خپل دې دروغجن باور او له خپل هغه دريځ او کړنو چې له دې باوره خړوبېږي، د ښو پايلو او غوره نتائجو انتظار لري، ګمان کوي چې تل به ښه زېری پرې کېږي، خو د دوی د غلط انتظار خلاف د دردناك عذاب زېری ورکړه.

انسان کله داسي شي چې له خپلو بدو کړنو او غلطي تګلاري هم د ښو پايلو انتظار کوي او پرې راضي وي، لکه چې قرآن فرمايي:

.... كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾ المؤمنون

.... هره ډله په هغه څه خوښه وي چې ورسره دي.

دغې ډلې ته ووايه: ستاسو د توقع او انتظار خلاف، دردناك عذاب درته منتظر دئ، له دې دردناك عذاب يوازي هغه څوك ژغورل کېږي چې ايمان راوړي او نېك عملونه وکړي، چې په دې صورت کې به تلپاته، پای نه موندونکی او نه شلېدونکی اجر تر لاسه کوي.

البروج

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم (البروج) دئ چې له لومړي آیت اخیستل شوی، په مکه کې او د (الشمس) له سورې وروسته نازله شوې، ۲۲ آیتونه لري، د سر آیتونه ئې لنډ لنډ دي چې ورو ورو اوږده شوي او منځني ئې لږ اوږده دي، خو دا اوږده هم هر یو له څو داسې فقرو جوړ شو ی چې وزن او اوږدوالی ئې لنډو آیتونو ته ورته دئ، بیا ورو ورو بېرته رالنډېږي او د پای آیتونه ئې د لومړنیو په څېر کېږي، د لومړیو اوو آیتونو فواصل ئې بروج ته ورته هموزنه صیغې دي، له اتم د سورې تر پایه اکثراً حمید ته ورته دي خو د ۱٤، ۱۷، ۱۸او آخري آیت ئې بروج ته ورته د ودود، جنود، ثمود او محفوظ صیغې دي. د اوزانو مد او جذر آیتونو ته ډېر ښایسته وزن او غږ ورکړی. د سورې له مضامینو او لهجې په وضاحت سره معلومولی شو چې دا سوره په څنګه شرائطو کې نازله شوې او هغه وخت د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده مؤمن یاران له څنګه حالت سره مخامخ وو او دښمنانو څه ورسره کول. د دې سورې خلاصه دا ده چې ظالمان بې الهي انتقام نه پاته کېږي.

په دې سوره کې ګورو چې د داسې خندقونو خاوندان په کې انځور شوي چې ستر اور ئې بل کړی او د خپل دور مظلوم او بې وزلې مؤمنان له دې کبله په کې اچوي او سوزوي ئې او د دوی له سوزولو خوند او لذت اخلي، چې ولې ئې په مالك الملك خدای ایمان راوړی!!

د دې قصې رانقلول او د سره اور د هغو خندقونو د خاوندانو پایلې څېړل چې بې وزلې مؤمنان ئې په کې سوزول او دوی ئې د ستر عذاب وړ ګڼل، په خپله دا ښیي چې د دې مبارکې سورې د نزول په وخت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم او یاران ئې له ورته حالت سره او د خپلو مخکینیو باایمانو وروڼو په څېر له کړاوونو سره مخامخ وو.

د بروج د مبارکې سورې په آیتونو کې په لږ غور سره دا خبره راته جوته کېږي چې دا سوره په داسې شرائطو کې نازله شوې چې مؤمنانو ته د مکې تنګه وادي د اور په یوه خندق بدله شوې وه، داسې چې د ظلم او تجاوز لمبو ئې له هري خوا دوی احاطه کړي وو، ابو لهب (د اور د لمبو پلار) اورونه ورته بل کړي او مېرمنه ئې (حمالة الحطب) شوې،

خس او خاشاك په اوږو راوړي، په دې اور ئې اچوي او لمن ورته وهي، دوی دواړو او د دوی په څېر ډېرو نورو هري خوا ته د فتنو اورونه بل کړي، لګيا دي د مکې مشرکان هڅوي، د پيغمبر عليه السلام او د ده د يارانو په ضد د خلکو غصه او قهر راپاروي او نه پخلا کېدونکي عداوت، جدي مخالفت او پرېکنده اقدام ته ئې تياروي، د امت فرعون ابو جهل (د جهالت پلار) د شرك او جهل مدافعين دي ته تيار کړي چې د مکې دا تنګه وادي د مؤمنانو لپاره د تعذيب او کړولو په ډګر بدله کړي، تور زندان ترې جوړ کړي او د ژوند مجال پرې تنګ کړي، د اختناق، وېرې او خوف فضاء جوړه کړي، هلته بلال د اميه بن خلف مړۍ ګورې چې د جزيرة العرب د ډېرې ګرمې ورځې په تڼکنده غرمه کې ئې بربنډ څملولی، سړې او درنې تيږې ئې پر سينه وراښېې، پرله پسې ئې په درو وهي چې يا په الله له ايمان لاس واخلي او يا د خپل آقا له دين د بغاوت سزا وڅکي!! او په دې سره د ده د آقا (اميه بن خلف) غصه سړه شي او د قهر د اور لمبې ئې کښېنې!! په بلې ګوښې کې خباب بن ارت ګورې چې بربنډ ئې د اور په سکروټو پرېستی او تر هغه ئې پرېښې چې دا سکروټي د مظلوم خباب د تنډاکو نو مړې کړي او هغه بلې خوا ته آل ياسر (د ياسر کورنۍ) ګورې چې له ګڼ شمېر نورو مظلومو مؤمنانو سره د صحراء په هغه زندان کې ساتل کېږي چې له تودوخي تنور ته ورته دئ، هر سبا او ماښام دُرې خوري، له تودوخي، تندي او عذابونو مري، د ياسر د مېرمني، سمیه، دا د اسلام لومړنۍ شهيده، سينه ئې د ابو جهل په نيزې سورې کېږي او په شهادت رسېږي... او....

د ابتلاءاتو او کړاوونو په دې سخت حالت کې دا لنډه سوره، له جازمو پرېکړو، پرېکنده قضاوتونو او قاطع ګواښونو سره نازلېږي. د دې مبارکې سورې آيتونه له يوې خوا د قريشو بې رحمه او ظالمو مشرانو ته چې بې وزلې مسلمانان ځوروي دا وايي چې د ظلم پايلې ئې وخيمي او خطرناکې دي او له هغه عاقبت سره به ئې مخامخ کړي چې مخکينې ظالمان، اصحاب الأُخدود، فرعون او ثمود ورسره مخامخ شوي وو، له خپل زور، ځواك په استفادې سره او د موحدينو او خدای پالونکو په کړولو او ځورولو سره نه شي کولی له دې بدو پايلو ځان وژغوري او د حق د بري مخه ونيسي. له بلې خوا مؤمنانو ته، هغو ته چې د تاريخ په دې پړاو کې له حق او عدل دفاع او د ايمان طرف ته د بلنې بيرغ ئې پورته کړی وايي چې د ايمان لار له لوړو ژورو او کږلېچونو ډکه ده، په اغزو پوښل شوې، په دې لاري تګ صبر او زغم غواړي، عزم او همت غواړي، هغه څوك پرې تلی شي چې قربانۍ ته تيار وي، خطرونه ګاللی شي، هره پېښه په ورين تندي منلی شي، د دې لاري په اوږدو کې ښايي کله داسې حالت هم راشي چې پر مخکينيو راغلی وو، پر هغو چې د سره اور په کندو کې

وسوزول شول، ښايي تاسو هم دې ته له ورته کړاوونو او ابتلاءاتو سره مخامخ شئ، له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په وخت کې بايد د خپلو مخکينيو وروڼو په څېر صبر وکړئ، د هغو په څېر شئ چې د اور کندو ته لوېدل ئې ومنل خو کفر ته تسليمېدل نه؛ په پوره مېړانې، صبر او استقامت سره په خپل ايمان ټينګ پاته شول. د دوی په څېر به دښمن ته له تسليمېدو، په هره بيع چې وي، ډډه کوئ، په دې پوه شئ چې د الله تعالی نيونه ډېره سخته ده، د هر څه او هر حالت پيل او پای د ده له لوري دئ، هر بدلون د ده په اراده راځي، له اوسني حالت مخکيني ته ګرځول د ده په حکم تر سره کېږي، که ئې څوک واکمن کړ، واک او ځواک ئې ورکړ، د ضعف او کمزورۍ له حالته ئې د قوت او ځواکمنۍ حالت ته ورساوو، بايد په خپل زور ځواک مغرور نه شي، په نورو لويي او کبر ونه کړي او له خپل ځواک د مظلومانو او بې وزلو په کړولو او سپکولو کې کار وانخلي، په دې دي پوه شي چې دا طاقت او قدرت ئې تلپاته او دائمي نه دئ، زوال ورپسې دئ، دې ته ئې بايد پام وي چې دا هستي داسي پالونکی رب لري چې د هر څه د پيل او پای پرېکړه هغه کوي، هغه چې بخښونکی او ودود دئ، له باايمانو بندګانو سره مينه لري، يوازي ئې نه پرېږدي، دا نه شي منلی چې د ده مخلص بند ګان دي د تل لپاره تر ظلم لاندي او له کړاوونو سره مخامخ وي، حتماً به خپل رعايت، عنايت او ولايت د دوی په حال شاملوي، هغه د ټول عالم مالك او ملك دئ، هم ټولواك او هم د هر څه خاوند، ټوله هستي د ده تر عرش لاندي او هر څه د ده د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي، چې څه وغواړي هغه کولی شي، هيڅ ځواك د ده د ارادې مخي ته نه شي خنډ کېدی، تاريخ ته رجوع وکړئ او وګورئ چې د فرعون او ثمودیانو په څېر د مغرورو او عاصي ځواکونو شوم عاقبت څنګه وو؟!! همغه چې خپل زور ځواك او خپلو فوځونو او تجهيزاتو غولولي وو.

آيا دا کافران په دې لټه کې دي چې د الله تعالی قطعي او حتمي وعدې تکذيب کړي او د تحقق مخه ئې ونيسي؟! مګر په دې نه پوهېږي چې الله پرې احاطه لري، د هغه د ارادې په وړاندي مقهور دي، په داسي ځای کې اوسېږي چې الله ئې ټولواك او مالك دئ او حکم ئې پرې مسلط، يو ضعيف او کمزوری بنده چې د الله د ارادې مقهور دئ څنګه به په دې وتوانېږي چې د الله تعالی د قطعي پرېکړو د تحقق مخه ونيسي؟!! په دې پوه شئ چې د قرآن وعد او وعيد، قاطع او جازم پرېکړي او قضاوتونه، خامخا پلي کېږي، قرآن باعظمت او پرتمين دئ، له هر تکذيب او لاسوهني خوندي، چې نه ئې د باطل پلوي ځواکونه وعيد څنډولی شي او نه ئې د جاهل او ناپوهو مکذبينو هلي ځلي د وعدو د تحقق مخه نيولی شي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ ١ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ ٢ وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ ٣ قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ ٤ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ ٥ إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُودٞ ٦ وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ ٧

۱- قسم د برجونو په خاوند آسمان. ۲- او په هغي موعود ورځي. ۳- او په هر شاهد، مشهود. ٤- هلاك شول خاوندان د خندقونو. ٥-(خندقونه د سره) اور او د ډېر سوند. ٦- کله چې ئې دوی پر غاړه ناست وو. ۷- او شاهد د هغه څه چې مؤمنانو سره دوی کړل!!

۱-۳: لکه چې ګورئ په دریو لومړنیو آیتونو کې په څلورو شیانو قسم یاد شوی: (د برجونو په خاوند آسمان)، (هغه موعود او ټاکلې ورځ)، (هر شاهد) او (هر مشهود). د قسمونو ځواب په څلورم آیت او ورپسې دریو آیتونو کې په دې صیغه مومو: هلاك شول خاوندان د خندقونو؛ (خندقونه د سره) اور او د ډېر سوند؛ چې ئې دوی پر غاړه ناست وو؛ او شاهد د هغه څه چې دوی له مؤمنانو سره کړل!!

باید وګورو چې د دغو قسمونو معنی څه او څنګه دا ثابتوي چې د خندقونو خاوندان هلاك شول؟!

لاندې ټکیو ته پام وکړئ:

- **(بروج) له (برج) اخیستل شوی چې معنی ئې څرګندېدل او ښکاره کېدل ده، په قرآن کې په دغه معنی څو ځایه راغلی، لکه:**

.... وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ ... ٣٣ الاحزاب

.... او د مخکینې جاهلیت د ځان ښودنې په ښېر ځانونه مه څرګندوئ....

تَبَارَكَ ٱلَّذِي جَعَلَ فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجٗا وَقَمَرٗا مُّنِيرٗا ٦١ فرقان

مبارك دئ هغه ذات چې په آسمان کې ئې بروج (ستوري) رامنځته کړل او په هغه کې ئې رونړ څراغ (لمر) او روښانه سپوږمۍ راپیدا کړه.

وَلَقَدۡ جَعَلۡنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ ١٦ الحجر

او بې شکه چې په آسمان کې مو بروج (ستوري) پیدا کړل او هغه مو لیدونکو ته ښایسته

کړ.

له دغو ورستيو دوو آيتونو په ډاګه معلومېږي چې له بروج نه مراد ستوري دي.

د قرآن له دغو څرګندو لارښوونو سره سره، متأسفانه ځينو مفسرينو له بروج؛ د ستورو په ځای، د يوناني فلسفې هغه دولس ګوني موهومي بروج اخيستي چې د دوی په فلکي اصطلاحاتو کې د لمر د مختلفو منازلو لپاره ټاکل شوي، يونانيانو د کال په هر فصل کې د لمر دغه منازل او بروج، د خپلو مختلفو خدايانو په نامه مسمی کړي او هر برج ته ئې د خپل يوه خدای نوم ورکړی وو، دا اصطلاحات له يونان هغو اسلامي ملکونو ته راکوز شول چې له يونان سره همسرحد وو، ځيني علماء ترې متأثره شول او هغه ته ئې اسلامي رنګ ورکړ.

د (الْيَوْمِ الْمَوْعُودِ) په اړه د مفسرينو دوه رأيې لرو: ځيني ئې د قيامت ورځ ګڼي او ځيني ئې د مؤاخذې او عذاب هغه ورځ چې الله تعالی په دنيا کې کافرانو او ظالمانو ته ټاکلې. په دوه دليله د مفسرينو د دوهمې ډلې رأيه ارجح او غوره ده: لومړی دا چې په همدې مبارکې سورې کې د دوو باغي او عاصي ډلو بد عاقبت ته اشاره شوې، د فرعون او ثمود ډلو ته چې له مهلت وروسته د الله تعالی له شديد بطش او مؤاخذې سره مخامخ شول. له دې معلومېږي چې له (الْيَوْمِ الْمَوْعُودِ) هغه تاريخي ورځې مراد دي چې دوه ډلګي ئې د فرعون او ثمود په قصه کې ګورو. او دوهم دليل دا چې د قيامت په ورځې استشهاد سره دا نه شي ثابتېدی چې د اصحاب الاخدود پايله تباهي او هلاکت دئ. دا ځکه چې د قرآن کافر مخاطب نه د قيامت په موعود ورځ باور لري او نه په دې باندي استناد سره دا ادعاء مني چې د اور د کندو خاوندان به د هلاکت له پايلې سره مخامخ شي. (يوم الموعود)) بايد داسي ورځ وي چې د قرآن هر مخاطب هغه د يوه مسلم او انکار نه منونکي حقيقت په توګه ومني او په هغه باندي استناد دی قانع کړي چې واقعاً د اصحاب الاخدود په اړه شوې ادعاء يو حقيقت دئ. که دلته له (يوم الموعود) هغه ورځ مراد شي چې ظالمانو ته ئې د رارسېدو خبر ورکړی شوی، په تاريخ کې په وار وار تکرار شوې، هر پيغمبر خپل قوم د هغې له رارسېدو ويرولی، هيڅ مخاطب له هغې انکار نه شي کولی، هر څوک چې تاريخ ته رجوع وکړي د دې ورځې څرګندي ښلګي به ئې مخي ته راشي، همغه ظالمانو ته د مهلت وروستۍ ورځ، په دنيا کې د دوی د مؤاخذې ورځ، په دې صورت کې د قسم او ځواب تر منځ ئې ارتباط کاملاً جوت کېږي.

په دې توګه د لومړي قسم ارتباط له ځواب سره داسي دئ: دا له بې شمېره ځلاندو ستورو ډک آسمان، په دې حقيقت شهادت ورکوي چې دا کائنات حتماً يو داسي ځواکمن مالك او قهار سلطان او ټولواك لري چې دا ټول بې شمېره اجرام ئې اداره کوي، هر يو په

خپل خپل ځای او خپل خپل خاص مسیر کې ساتي، د دوی تر منځ د تصادم او ټکر مخه نیسي، هر یو په منظم او مستمر طور په همغه ثابت مدار کې خوځوي چې ورته مشخص شوی. دا خور او پراخ آسمان له دغو ټولو بې شمېره خوځنده اجرامو سره او له دې محکم نظم او ضبط سره، په دې شهادت ورکوي چې دا کائنات هسې بې واکداره ملك نه دئ، له مهاره وتلې او د ساتونکي او پالونکي واکمن له سلطې او سیطرې فارغه دنیا نه ده چې په هغې کې هر څوك هر څه وکړي، نه ترې پوښتنه وي نه ګروېرنه، نه له ظالم سره حساب وشي او نه د مظلوم لاس نیوی او پوښتنه، نه په نورو تېري کوونکي مجازات شي او نه له خپل حق د محروم شوو چیغې واورېدی شي. د دې هستي ساتونکی او مالك خدای به حتماً د اور د کندو له خاوندانو د دې انتقام اخلي چې د ده مظلوم مؤمن بندګان ئې په الله د ایمان په جرم د اور په کندو کې اچول او هغه به حتماً د دغو مظلومو مؤمنانو پوښتنه کوي او د دوی مظلومانه استغاثه به اوري.

د همدې سورې په څو آیتونو کې الله تعالی د (ملك)، (ذوالعرش المجید)، (فعال لمایرید) او (محیط) په صفاتو ستایل شوی، داسې چې د سورې په ټولو مضامینو ئې سیوری غوړولی، دا په خپله ښیي چې د برجونو په خاوند آسمان باندې د قسم موخه دا مطلب ثابتول دي چې دا کائنات داسې باعظمت ساتونکی او پالونکی واکمن لري چې د عرش خاوند دئ، په هر څه محیط دئ، چې څه وغواړي تر سره کوي ئې. دغه مطلب د الطارق په سورې کې له مزید وضاحت سره راغلی، هلته هم د آسمان په ځلاندو ستورو استناد شوی او د دې ادعاء د اثبات لپاره وړاندې شوی چې هر څوك د الله تعالی د رعایت او حفاظت تر سیوري لاندې دئ، داسې لکه د آسمان دا بې شمېره ځلانده ستوري.

د دوهم قسم ارتباط د قسمونو له ځواب سره داسې دئ: (همغه پېژندل شوې موعوده ورځ)، شهادت ورکوي، (هغه ورځ چې هر څوك ترې خبر دئ)، (هغه چې په تاریخ کې په وار وار تکرار شوې)، (هغه چې د ظالمانو د ظلم ټغر په کې ټولیږي او الهي عذاب په دوی نازلېږي)، (د مهلت او فرصت وروستۍ ورځ)، (د ظالمانو د ظلم او تېري د پای ورځ)، دا شهادت ورکوي چې د اصحاب الاخدود پای به هم دې ته ورته وي، آیا نه ګورئ چې د مهلت له پای ته رسېدو وروسته له ظالمانو سره څه شوي او مالك الملك خدای څنګه په شدت سره مؤاخذه کړي، هر څه ئې پر دوی رانسکور کړي، تخت او تاج ئې، قصرونه او بنګلې ئې، داسې چې اوس د دوی وران او ویجاړ قصرونه په دې شهادت ورکوي چې د ظلم پای وخیم او عبرتناك دئ، د ظالمانو د تېري لپاره حد او پای شته، خو د داسې کندي چې په یوم الموعود کې هلته رسي او په کې نسکورېږي. ټولو پیغمبرانو او زړه

سواندو داعيانو خپل قومونه له دې ورځې وېرولي، لکه چې هود عليه السلام خپل قوم ته وايي:

إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ٣٥ الشعراء

يقيناً چې زه د لويي ورځې له عذاب پر تاسو وېريږم.

د غافر د سورې په ۳۱ آيت کې د فرعون د کورنۍ د هغه مؤمن کس خبره لولو چې فرعونيانو ته په خطاب کې وايي:

وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُم مِّثۡلَ يَوۡمِ ٱلۡأَحۡزَابِ ٣٠ مِثۡلَ دَأۡبِ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلۡمٗا لِّلۡعِبَادِ ٣١ غافر

او هغه چې ايمان ئې راوړی وو وويل: اې زما قومه! زه خو يقيناً چې د نورو ډلو د عذاب د ورځې په څېر د کومې ورځې له رارسېدو پر تاسو وېرېږم، د نوح د قوم، د هود او د عاد او له دوی وروسته قومونو له پايلې او عاقبت؛ او الله خو په خپلو بندګانو د ظلم اراده نه لري.

درېيم قسم په هر شاهد او ليدونکي شوی، هر د سترګو خاوند چې تاسو ئې په دې دنيا کې ګورئ، د ده د ليدو دا استعداد په دې خبرې دلالت کوي چې د ده پيدا کوونکی به حتماً داسې ذات وي چې د ليدو په صفت به متصف وي، دا نه شي کېدی چې مخلوق او مصنوع دي داسې صفت ولري چې د ده خالق او صانع دي همدا صفت ونلري، هر مخلوق او مصنوع په اصل کې د خالق او صانع د صفاتو مظهر وي، په ده کې د صانع صفتونه راڅرګند شوي وي، چا چې د نړۍ سترګورو ته سترګې ورکړې او په هغوی کې ئې د ليدلو استعداد اېښی، هغه حتماً بصير (ليدونکی) دئ. نو د هر شاهد او ليدونکي وجود د داسې ذات په شته والي شهادت ورکوي چې شاهد او بصير دئ، دا صفت هغه د زمکې په دې شاهدانو کې اېښی، په دې اړه قرآن په بل ځای کې څومره ښه وينا لري:

أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ يَرَهُۥٓ أَحَدٞ ٧ أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ٨ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ٩ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ١٠ البلد

آيا ګمان کوي چې نه دئ چا ليدلی؟ آيا ده ته مو ورنه کړلې دوې سترګې؟ او يوه ژبه او دوې شونډې؟ او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟

څنګه ګمان کوي چې نه به د ده د عملونو څارنه کېږي او نه به ئې د کړنو په اړه قضاوت، نه ئې اعمال د چا ترسترګو لاندې دي او نه داسې څوک شته چې مکافات يا

مجازات ئې کړي؟! په داسي حال کې چې دی په خپله د یوه مخلوق په توګه سترګي لري، د بصیرت خاوند دئ، د خپل مافي الضمیر د انعکاس لپاره او د خپلو مشاعرو، عواطفو او احساساتو د بیان لپاره او د خپلو قضاوتونو او پرېکړو د اصدار لپاره د ژبې او دوو شوندو په څېر وسائل په واک کې لري، د نورو د عملونو څارنه کوي، د هر ښه او بد په اړه په خپل زړه کې ملاك لري او په ضمیر کې لارښود، (ښه) ور ته (معروف)، له هغه سره آشنا، د هغه په اړه ښه احساس په زړه کې او (بدي) ورته (منکر)، د هغه په اړه په خپل زړه کې د کرکې احساس کوي او له خپل طبیعت او مزاج سره ئې ناآشنا مومي، که په مخلوق کې دا صفات وي، د ده خالق به څنګه دا صفات ونلري؟! دا له شك وتلی حقیقت دئ چې هر لیدونکی او د سترګو خاوند په دې شهادت ورکوي چې د ده پالونکی خدای تر ده زیات لیدونکی، د ده د کړنو شاهد او د ده د عملونو څارونکی او قاضي دئ. د همدې سورې په ۹ آیت کې همدې مطلب ته اشاره شوې او ویل شوي: او الله په هر څه باندي شاهددئ (وَالله عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيد).

د څلورم قسم ارتباط له ځواب سره داسي دئ: هر مشهود، هر هغه څه چې په سترګو لیدل کېږي، د دې ادعاء په حقانیت ځکه شهادت ورکوي چې په ټول کائنات کې هیڅ عبث، خوشی، بې فائده او بې هدفه شی نه موندل کېږي، هري خوا ته چې سترګي وغړوو، هر څه ته چې پام وکړو، نظم ګورو، هر څه سم پیدا شوي، د خاص هدف لپاره پیدا شوي، په هیڅ ځای کې خلاء، قصور او فطور نه شو لیدی، قرآن ګواښ کوي چې هیڅوك د نړۍ په هیڅ ګوټ کې چاوډ او خلاء نه شي په ګوته کولی:

مَّا تَرَىٰ فِي خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍۖ فَٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ۝٣ ثُمَّ ٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنقَلِبْ إِلَيْكَ ٱلْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ۝٤ الملك

د رحمن په مخلوقاتو کې بېلوالی لیدی نه شې، نو وغړوه سترګي، آیا ګورې کوم یو چاوډ ؟ بیا هم وغړوه سترګي په وار وار، راګرځي ستا په لور به دغه سترګي نامراده او هغه به وي ستومانه.

ښه غور وکړه، خپل ټول توان ځواك وکاروه، هري خوا ته سترګي وغړوه، د الله په مخلوقاتو کې ژوره څېړنه وکړه، وګوره چې په دې ټول عالم کې کوم چاوډ، خلاء، نقص او قصور په سترګو درځي؟! په دې خور او ستر عالم کې د داسي عیب او نقص د موندلو په طمع به هر محقق او څېړونکی د خپلو سترګو له سترېا پرته بل څه تر لاسه نه کړی شي. نو انصافاً ووایئ: څنګه ومنو چې په ټول عالم کې دي کمال، ښایست، نظم او هدفوالی وي، د

ضوابطو التزام، نه دي چېري خلاء وي او نه قصور او فطور، خو د انسان دا وړه دنيا، دغه چي د ټول کائنات په نسبت له هيڅ سره برابره ده، دلته دي سراسر بې نظمي وي، انسان دي خپل سر ته پرېښودی شوی وي، داسي چي نه ئې د بدو پوښتنه وشي او نه د ښو قدرونه، نه مکافات شي نه مجازات، هغه دي حدود مات کړي، ضوابط او قواعد دي ترپښو لاندي کړي، له حق او حقيقت دي انکار وکړي، خو نه دي محاسبه ورسره وشي، نه دي پوښتنه ترې وشي او نه دي د کړنو سزا ورکړی شي!! دا بې بنسټه او واهي تصور، له هر مشهود د هر شاهد له انتباه سره منافات لري او د کائنات د هغه حميد پالونکي رب په نسبت يوه کرکجنه افتراء ده چي د عالم ذره ذره د ده په شته والي او د هر څه په سم او ښه پيدا کولو شهادت ورکوي. دا له انصاف لري ظالمانه قضاوت دئ!! داسي غلطه انګېرنه او تصور خو په دې معنی ده چي په دې عالم کي نه نظم شته، نه ضوابط او قواعد، حال دا چي هر مشهود په رسا غږ وايي: دلته هر څه سم دي، هر څه ښه او ښايسته پيدا شوي، په سم تقدير او ميزان، هر څه په دې خبري شهادت ورکوي چي دا عالم د يوه (عزيز) او (حميد) ذات له لوري اداره کېږي! د دې عالم ساتونکی او پالونکی رب له دې عيب منزه دئ چي د ده په ملك کي دي څوك ظلم وکړي، د ده مظلوم بندګان دي په ناحقه وځوروي، هغوی دي بې وزله او ضعيف وګڼي او له حق د لاس اخيستو لپاره دي هغوی تعذيب کړي، حق او د الله د ملك ضوابط دي تر پښو لاندي کړي، له الهي سننو دي سرغړونه وکړي، خو الله دي نه له ده سره محاسبه وکړي او نه د مظلوم پوښتنه!! نه دي له ظالم انتقام واخلي او نه دي د مظلوم استغاثې ته ځواب ورکړي!! الله تعالى له دې منزه دئ چي ذات ته ئې کوم عيب او نقص راجع شي يا افعالو ته ئې کوم اعتراض. نو په دې کي شك نشته چي د اور د کندو خاوندانو ته له تباهۍ او هلاکت پرته بل څه انتظار نه کوي.

وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ٨ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ٩

۸- او عيبناکه ئې ونه ګاڼو له دوی؛ مګر دا چي په ستايلي عزيز خداى ئې ايمان راوړ.
۹- هغه ذات چي د دې زمکې، آسمانونو واکمني د ده ده او الله دئ په هر څه باندي شاهد.

۸-۹: دغو ظالمانو پر مظلومو مؤمنانو له دې پرته بل اعتراض نه درلود چي ولي ئې په هغه

ستايل شوي عزټمن الله ايمان راوړی چې د آسمانونو او زمکې ټولواك دئ!!

په دغو دوو آيتونو کې د الله تعالی څلور صفتونه ذکر شوي: عزيز، حميد، مالك او شهيد، په لومړيو آيتونو کې هغه څلور شاهدان چې لوړه پړې شوې د الله تعالی په دغو څلورو صفتونو شهادت ورکوي او دا ثابتوي چې الله تعالی د آسمانونو او زمکې مالك دئ، عزيز او حميد دئ، پر هر څه شاهد او ناظر. او د دې شرح داسي ده:

- د آسمان په پراخې غېږ کې دا بې شمېره ځلانده ستوري په دې خبرې شهادت ورکوي چې پيدا کوونکی او پالونکی ئې د قوت، غلبې او عزت خاوند دئ.
- هغه موعود ورځ چې د ظالمانو د مؤاخذې او نيونې ورځ او دوی ته د مهلت ورکولو وروستۍ نېټه، هغه چې د تاريخ په اوږدو کې په وار وار راغلې، دا ورځ د دې خبرې شهادت ورکوي چې دا عالم بې څښتنه ملك نه دئ چې هر څوك هر څه غواړي وئې کړي، نه پوښتنه وي او نه ګروېږنه، بلکې يو عادل ټولواك او مالك لري، محاسبه کوي او مجرمينو ته سزا ورکوي.
- هر مشهود، هر څه چې په دې عالم کې ترسترګو کېږي، په دې شهادت ورکوي چې پيداکوونکی ئې حميد او ستايل شوی دئ، د کمال په صفاتو متصف او له هر عيب او نقص منزه.
- او هر شاهد او ليدونکی، هر هغه څه چې د ليدو استعداد په کې اېښودل شوی، هغه او د ده دا استعداد په دې خبرې شهادت ورکوي چې پيدا کوونکی ئې، هغه ذات چې ده ته ئې دا استعداد ورکړی، حتماً بصير او ليدونکی دئ.

دې ته مو بايد پام وي چې د شاهد او مشهود په اړه هم د مفسرينو تر منځ کافي اختلاف شته او هم په دې اړه نقل شوو رواياتو کې، دا اختلاف ښيي چې په دې اړه داسي موثق روايت نشته چې ټولو پرې اتفاق کړی وي او له بېلابېلو آراءو او تعبيرونو ئې ډډه کړې وي.

نو آيا په هغه عزيز، مالك الملك، شهيد او حميد خداى باندي ايمان راوړل جرم دئ چې د عالم ذره ذره ئې په حقانيت شهادت ورکوي او پر هغه ايمان ته بلنه ورکوي؟!! آيا تر دې د ستر ظلم تصور کېدی شي چې څوك دي په دې الله د ايمان راوړو له کبله د اور په خندقونو کې واچول شي؟!! څومره ستر جرم! څومره نه بخښونکی جنايت! څومره ستره بې باکي او جرأت چې څوك د عزيز، حميد، مالك الملك، شاهد او ناظر خداى په وړاندي د ده پر بې وزلو بندګانو داسي ظلمونه کوي؟!! قهار خداى چې د دغو صحنو شاهد دئ، قسي القلب او بې رحمه ظالمان به خامخا د خپلو جنايتونو په سزا رسوي او د وحشيانه تېريو

مناسبه سزاء به ورکوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ ١٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡكَبِيرُ ١١

۱۰- بې شکه چا چې واچول فتنو کې مؤمنان او مؤمناني، بیا ئې ونه کړه توبه، د دوزخ عذاب دئ دوی ته او د اور عذاب دئ دوی ته. ۱۱- بې شکه، هغو چې ایمان ئې وي راوړی، ښه کارونه ئې وي کړي، داسي جنتونه به وي دوی ته، چې ترې لاندي ئې ویالې بهېږي، همدا ستره بریا ده.

۱۰- کومو بې رحمو ظالمانو چې بې وزلې مؤمنان ئې د اور په خندقونو کې واچول، منتقم خدای به ئې د جهنم په اور کې ګوزار کړي او چا چې دوی د اور په سرو لمبو تعذیب کړل، حسیب خدای به هم د اور په عذاب سره له دوی انتقام واخلي.

ښایي (وَلَهُمۡ عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ) د تأکید په غرض او د دې لپاره راغلی وي چې د دوزخ عذاب مزید توضیح کړي، په دې معنی چې په دوزخ کې به تل د اور په لمبو سره تعذیب کېږي او یا دا چې (عذاب جهنم) د دوی اخروي سزا او (عذاب الحریق) ئې دنیوي سزا وه، لکه څنګه چې په ځینو روایاتو کې راغلي چې (اصحاب الاخدود) د هغه اور په لمبو کې راګیر شول چې په خپل لاس ئې بل کړی وو، د هغې دردناکې صحنې د تماشا لپاره چې څوک راغوندِ شوي وو، ټول د همدې اور په کومي کې پرېوتل.

دلته د آیت په متن کې او د دغو سترو ظالمانو د سزا د بیان په ضمن کې؛ د توبې لفظ ګورو، چې د رحمان خدای بې انتهاء رحمت او لطف انځوروي، ګورو چې الله تعالی د دغو لپاره هم د توبې دروازه پرانیستې پرېښې، د هغو لپاره هم چې د ده مظلوم بندګان په دومره قساوت او بې رحمۍ تعذیبوي!! هو؛ الله رؤف او رحمان دئ، یوازې هغه وخت د توبې دروازه بندوي او انتقام اخلي چې د ګناهګار بنده بېرته راګرځېدنه مستحیل شي، پر خپل کفر، ظلم، جهل او فساد تر هغه ټینګار وکړي چې مهلت ئې پای ته ورسېږي.

ملك الناس خدای که له یوې خوا بې ایمان ستمګران له خپلو بدو پایلو سره مخامخ کوي، له بلې خوا هغه له دې کبله چې ستایلی او حمید دئ هیڅکله په دې نه راضي کېږي چې د ده په ملك او د ده تر واکمنۍ لاندي نړۍ کې دي عدل تأمین نه شي، د ده د مستضعفو مؤمنانو استغاثه دي وانه وربدی شي، هغوی ته دي د خپلو نېکو عملونو

عادلانه بدله ورنه کړی شي، الله تعالی له داسي عيب منزه دئ، په سزا او جزاء کي تأخير د دې لپاره دئ چې الله تعالی له يوې خوا عاصي بنده ته مهلت ورکوي او له بلي خوا عابد بنده آزموي. د مهلت او آزموينې په پای کي به خامخا هر چا ته خپله مناسبه سزا ورکوي.

۱۱- په دې آيت کي مؤمنانو ته ويل شوي: که تاسو د ايمان په لاري کي له ستونزو سره مخامخ يئ، د سختو ابتلاءاتو او آزموينو په لړو ژورو کي ژوند کوئ او د ظالمانو تر تعذيب او ځورونو لاندي يئ، خو له دې سره سره صبر کوئ، پر خپل ايمان ټينګ ولاړ يئ، له ناسمو عملونو ډډه کوئ، نه دښمن ته تسليمېږئ او نه له لاري منحرف کېږئ او نه له ستونزو او کړاوونو د وتلو لپاره غلطي لاري غوره کوئ، نو بايد ډاډه او مطمئن وئ چې تر ټولو ستره بريا به مو په برخه شي او دا ستره بريا هغه جنت دئ چې د ونو او بنګلو لاندي ئې ويالې بهېږي، که احياناً په دنيا کي مو بريا وځنډېده، تاسو په خپلو سترګو ونه ليده او ستاسو د ملګرو او يا بل نسل په برخه شوه، نو له دې کبله ئې پروا مه کوئ چې د دې په بدل کي داسي ستره بريا درته انتظار کوي چې يقيني ده، د دنيا هيڅ ځواك ئې د تحقق مخه نه شي نيولی، جنت، واقعي بريا، ستاسو وروستی هدف، ستاسو د ټولو هڅو اصلي موخه، د دنيا قريب الوصول اهداف د ماتي او بريا وروستی معيار نه دئ، چې که چا تر لاسه کړل بريالی دئ او که تري محروم شو نو نامراد او ناکام دئ، کېدی شي دلته په ظاهر کي د کوم چا موقتي بريا په برخه شي، خو دا حقيقی بريا نه بلکي د ماتي مقدمه وي او کېدی شي دلته څوك موقتاً له ماتي سره مخامخ شي، د لاري په نيمايي کي د خپل هدف قرباني شي، خو دا د ده او د ده د آرمان د بريا مقدمه او وسيله وي، د ماتي او بريا وروستۍ پرېکړه به په (يوم الفصل) کي د الله تعالی له لوري کېږي، فائز او بريالی هغه دئ چې په هغه ورځ د بريا سند تر لاسه کړي، په دوزخ کي له پرېوتو وژغورل شي او د جنت مستحق وګڼل شي او خاسر او نامراد هغه څوك دئ چې په دغه ورځ ئې د ناکامۍ او نامرادۍ سند په کيڼ لاس کي ورکړی شي، له جنت محروم او د دوزخ په اور کي پرېوځي. د ايمان په لار کي قرباني شوي مؤمنان به جنت ته دروميِ، هغه ستره بريا به ئې په برخه کېږي او په دنيا کي به ئې آرمانونه د دوی د هغو وروڼو په لاس تر سره کېږي چې د دوی په لاري دروميِ او د دوی د آرمانونو وارثان دي، په دې ترتيب به ئې د دنيا او عقبا بريا په برخه کېږي.

په وروستيو آيتونو کي د ايمان او کفر تر منځ د نزاع دوړو خواوو ته ويل کېږي چې د الله تعالی نيونه شديده ده، پيل او پای د ده په واك کي او هغه بخښونکی او ودود دئ.

إِنَّ بَطۡشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ هُوَ يُبۡدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلۡوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾

۱۲- بې شکه چې نیونه ستا د رب ده حتماً سخته. ۱۳- دا خو دی دئ چې پیلول کوي او بیا راګرځول. ١٤- او دی دئ آ بخښونکی مینه ناك. ۱۵- ستر د عرش خاوند. ١٦- ښه کوونکی د هر څه چې وئې غواړي.

۱۲- په دې مبارکو آیتونو کې له یوې خوا مؤمنانو او د الله د لاري هغو مجاهدینو ته چې د ظالمانو په لاس کړول کېږي، ویل شوي چې باید ډاډه وي، د ظالمانو د بدو پایلو په اړه شك ونه کړي، ستاسو رب به ئې حتماً نیسي، د الله تعالی نیونه سخته ده، دوی نه شي کولی چې د منتقم خدای له سختي نیوني وژغورول شي، پام کوئ چې بې حوصلې نه شئ، داسي نه چې د دوی له ځورونو او کړولو نه د ځان ژغورني لپاره هغه څه وکړئ چې خپل رب ناراض کړئ، د هغه له تأیید محروم شئ او د الله تعالی له سختي مؤاخذې سره مخامخ شئ، باید له الهي نیوني او عذاب ستاسو وېره هومره وي چې د دښمن دا ځورونې او کړاوونه هیڅ وګڼئ، اصلي وېره مو د دښمن له ځورونو نه بلکې د الله له سختي نیوني وي.

او مغرورو ستمګرانو ته چې بې وزلي مؤمنان ځوروي ویل شوي: ګورئ چې د الله له لوري دا مهلت او فرصت مو ونه غولوي، باید پوه شئ چې دا مهلتونه او فرصتونه پای لري، په پای کې ئې د الله تعالی سخته نیونه او مؤاخذه درته سترګي په لار، آیا ګمان کوئ چې د اصحاب الاخدود قصه به تکرار نه شي او تاسو به هم له ورته عاقبت سره مخامخ نه شئ، آیا په دې نه پوهېږئ چې هم د هر څه پیلول د الله له لوري دي او هم ئې بیا تکرار!! إِنَّهُۥ هُوَ يُبۡدِئُ وَيُعِيدُ*

۱۳- د دې مبارك آیت څو تعبیرونه په تفسیرونو کې مومو:

الف: د هر کار پیل او د تاریخ په اوږدو کې ئې په وار وار تکرار او د پېښو او حوادثو بیا بیا تکرار، د الله تعالی په اذن او اراده تر سره کېږي، کوم څه چې مخکې اصحاب الاخدود وکړل او له کومو پایلو سره چې هغوی مخامخ شول او څه چې د دوی وارثان ئې د کفر، جهل او ظلم په لاري کې کوي او هریو ئې له مشابه پایلو سره مخامخ کېږي، دا ټول د الله تعالی د ثابت او نه بدلېدونکو سننو مطابق تر سره کېږي، د یوه شنیع جرم د پیلوونکو مؤاخذه او نیونه او بیا په راتلونکي کې د دې جرم د نورو تکرارووونکو نیونه د هغه الله جل شأنه کار دئ چې مبدئ او معید دئ.

ب: آیا په آخرت عدم ایمان، دا جنایتکاران جرئ او بې باك کړي او د داسي سترو سترو

جناياتو د کولو جرأت ئې ورکړی؟ مګر نه ګوري چې د هر څه لومړنی پیدایښت هم او بیا بیا پیدایښت ئې هم د الله تعالی له لوري دئ؟ مګر هغه ذات چې انسان ئې په ابتداء کې پیدا کړ او بیا ئې نسل د ده له هغې نطفې په دوامداره توګه راپیدا کوي چې د خاورو له مړو اجزاوو جوړېږي او تاسو هره ورځ د دې بیا بیا پیدایښت شاهد یئ، مګر هغه د انسان په بیا راژوندي کولو قادر نه دئ؟ په کوم دلیل دا وروستۍ اعاده چې تر لومړي پیدایښت ډېر آسان کار دئ محال او ناممکن ګڼئ؟!! له الهي محاسبې انکار کوئ او د داسي بې رحمانه جناياتو مرتکب کېږئ؟

ج: ټول موجودات د رب العالمین خدای په قدرت او دائمي تصرف سره په پرله پسې توګه، له لاندي بر درومي، له ټیټو لوړو ته خېژي او بېرته لاندي راپرېوځي، له ضعف او ناتوانۍ، قوت او ځواکمنۍ ته رسي او بېرته د ضعف لومړني حالت ته ورګرځي، پیل ئې له هیڅ وي، کمال ته ورسېږي او له څه مودې وروسته بېرته په شا راشي او په زوال محکوم شي، هر څه د الله تعالی په اراده له یوه حالت بل ته اوړي رااوړي. هغه چې نن ځواکمن او د قدرت خاوندان دي، زر او زور په واک کې لري، مغرور شوي او بې وزلې انسانان د ضعف او ناتوانۍ په جرم ځوروي، باید پوه شي چې مبدئ او معید رب به ئې د اقتدار له مسنده لاندي رانسکور کړي، له ذلت سره به ئې مخامخ کړي او هغه تر اقتدار د مخه ورځې به پرې راولي.

دا درې سره تعبیرونه سم برېښي، خو لومړۍ او درېیمه توجیه له دې کبله دقیقي دي چې مخکیني او وروستني آیتونه او د دې سورې د بحث موضوع د همدې غوښتنه کوي.

١٤- لکه څنګه چې د مغرورو ظالمانو په اړه د الله تعالی نیونه سخته ده، د هغو په اړه چې ایمان راوړي او خپله تګلاره د ایمان په رڼا کې وټاکي، ډېر بخښونکی، مهربان او محبت کوونکی دئ، د دوی له نیمګړتیاوو تېرېږي، خبط او حطأ ئې ورته بخښي، د دوی پالنه او روزنه کوي، په محبت او مینې سره ئې پالي، د خپل رحمت وزر پرې غوړوي، کارونه ئې ورته سموي، په ستونزو او کړاوونو کې ئې یوازي نه پرېږدي، مرسته ئې کوي او د خپلو عملونو نېکه بدله ورکوي.

١٥: او د محبت او پېرزویني دا رابطه د هغه ذات له لوري ده چې د مجد او عظمت خاوند او د هغه عرش مالك دئ چې آسمانونه او زمکه ئې تر سیطرې لاندي دي، هماغه با عظمت ټولواك.

په اُوه ګونو صحیح قرائتونو کې د دې آیت دوه قرائتونه زمونږ مخي ته راځي: ځیني (المجید) د دال په کسر سره او ځیني ئې په ضمه سره اداء کوي، په لومړي صورت کې

(المجيدِ) د عرش صفت کېږي او په دوهم صورت کې (المجيدُ) د ذوالعرش صفت، خو که د مخکې او وروسته آيتونو فواصلو ته نظر وکړو، ټول له المجيدُ مضموم سره هموزن دي، د دې لپاره دوهم قرائت دقيق ګڼو او د آيت ترجمه داسې ده: هماغه د عرش خاوند باعظمت ذات.

١٦: د هر هغه څه ښه تر سره کوونکی دئ چې وئې غواړي، د ده د ارادې په وړاندې هيڅوک او هيڅ ځواک نه شي خنډ کېدی، دا هستي د ده ملك دئ چې په هري خوا او هر کار کې ئې د ده حکم چلېږي، نو ته اې د الله د دين سپاهي! اې د ايمان د تود سنګر ساتونکيه! ډاډه اوسه او خپلې راتلونکې ته هيله من چې ودود خدای به تا د ابليس د لښکرو د دې بريدونو په وړاندې يوازې نه پرېږدي.

او ته اې مغرور ظالمه! ته چې مؤمنان ضعيف او بې وزلې ګڼې، د دوی دښمنۍ ته دې ملا تړلې، د بريدونو لاندې دې نيولې، د دوی د ځورولو لپاره دې متې بډوهلې، آيا پوهېږې له چا سره دښمني کوې او جګړه دې له چا سره ده؟ د الله د جند له سپاهيانو سره، ستا جنګ په حقيقت کې د مستضعفانو له رب سره دئ!! پوهېږې چې د دې جنګ پايله به څه وي او تا به له کوم شوم عاقبت سره مخامخ کړي؟!!

هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطٌۢ ﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِى لَوْحٍ مَّحْفُوظٍۭ ﴿٢٢﴾

١٧- آيا تا ته رسېدلی دئ خبر د آ لښکرو؟ ١٨- د فرعون او د ثمود؟ ١٩- خو په لټه د تکذيب کې دي هغه چې کافران شول.٢٠- او الله دئ د دوی چار چاپېر محيط. ٢١- بلکې دا دئ پرتمين قرآن. ٢٢- په يوې خوندي لوحې کې.

١٧-١٨: آيا د پيغمبرانو عليهم السلام او د دوی د رښتينو پلويانو په خلاف د فرعونيانو او ثموديانو له هلو ځلو خبر يې؟ آيا پوهېږې چې د دوی لښکري له کومو پايلو سره مخامخ شوې؟ او د دغو لښکرو خاوندانو ته ئې څه لاس ته راوړني درلودې؟ تاريخ ته رجوع وکړه، وګوره هغه چې خپل زور ځواک ئې د حقپالو په ضد کارولی او د دې هڅه ئې کړې چې د حق د بري او د حقپالو د برلاسي مانع شي، له کومو پايلو سره مخامخ شوي او د دوی د ناولو هلو ځلو نتيجه څه وه؟ فرعون له خپلو لښکرو سره د هغه بحر په څپو کې غرق شو چې موسی عليه السلام او ملګرو ته ئې د روغ رمټ تېرېدو لار ورکړه، تخت او تاج،

باغونه او قصرونه، زر او زمکه ئې مستضعفینو ته په میراث پاته شول، ثمودیان په شدید الهي عذاب اخته شول، له تیرو تراشلې مانۍ ئې د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت وسیله شوې.

د کائنات د پرانیستي کتاب آیتونه او د انسانیت د تېر تاریخ په پاڼو کې درج عبرتناك آیتونه، په ډېروضاحت سره دا خبره اعلانوي چې د کفر، ظلم، بغاوت او عصیان پایلې ډېري خطرناکې دي، خو کافران د پند او عبرت په ځای په دې لټه کې دي چې دا حقائق تکذیب کړي او له دې سننو انکار وکړي.

۱۹-۲۰: که دا کافران نه د کائنات د پرانیستي کتاب له آیتونو پند اخلي او نه له تاریخي پېښو او نه د فرعون او ثمود په څېر د کافرو ځواکونو له بدو پایلو عبرت اخلي او دا هڅه کوي چې حق تکذیب کړي او له الهي سننو سره مخالفت وکړي، په داسې حال کې به دوی له خپل انکار او تردید څنګه کومه نتیجه تر لاسه کړي چې الله تعالی پرې احاطه کړې او د قهار او جبار خدای د قاهره ارادې په وړاندي محصور او مقهور دي ؟! دوی او هلي ځلي ئې د الله د سیطرې او سلطې له دائرې بهر نه دي چې د خپلې خوښې نتائج پرې مرتب کړی شي، د الله تعالی له استازو سره له مخالفت او د ده له حق دین سره له دښمنۍ سره سره دوی د الله جل شأنه په ملك کې اوسېږي او د ده د ارادې مقهور او د هغو سننو او ضوابطو محکوم دي چې الله جل شأنه وضع کړي او په ټول عالم کې نافذ او حاکم دي!! نو دا محکوم او مقهور انسانان او دا د الهي سننو په زندان کې محصور زندانیان به څنګه په دې وتوانېږي چې د الله تعالی پرېکړي تکذیب کړي او له پلي کېدو ئې مانع شي؟!! هغه حقائق چې دا لجوج او د حق منکر ډله ئې د تکذیب په لټه کې ده داسې څه نه دي چې څوك ئې د تکذیبولو توان ولري؟

۲۱-۲۲: او دا د قرآن پرېکړي دي، د هغه قرآن چې مجد او عظمت ئې تر دې ډېر ډېر لوړ دئ چې دا ذلیل عناصر ئې د تکذیب توان ولري او د هغه د مدعیٰ، پرېکړو، قضاوتونو، بشارتونو، وعدو، وعیدونو او انذارونو د تحقق مخنیوی وکړی شي. دا (پرتمین قرآن) هغه رب العالمین رالېږلی چې (ذو المجد) او (ذوالعرش) دئ او هغه خپل قرآن له هر راز لاسوهنې، تکذیب او تحریف خوندي کړی. په داسې حال کې چې (مالك الملك) خدای، (مجید او د عرش خاوند) او (په هر چا او هر څه محیط) رب، دا (پرتمین) قرآن په (خوندي صفحه) کې ثبت او صیانت ئې تضمین کړی، نو څوك به په دې وتوانېږي چې د دې قرآن قطعي او محتومي وعدې او وعیدونه په خپلو بې حاصله هڅو سره تکذیب کړي او د تحقق مخه ئې ونیسي؟!!

بې له شکه هغه څه چې عظیم الشأن قرآن د (اور د خندقونو) د خاوندانو او د مؤمنانو د ځورونکو د بدو پایلو په اړه ویلي او د خپلې ادعاء د اثبات لپاره ئې له ځلاندو ستورو ډک آسمان، (یوم الموعود) او (هر شاهد) او (هر مشهود) د شاهدانو په څېر وړاندې کړي او د فرعونیانو او ثمودیانو د لښکرو په بدو پایلو ئې استناد کړی، دا به هرو مرو تر سره کېږي، د قرآن مجید دا قاطع او جازم حکم له هر تکذیب (مصون) دئ، د باطلپالو له ټولو هڅو او د مکذبینو له ټولو هلو ځلو سره سره به حتماً او له شك او تردید پرته تر سره کېږي.

الطارق

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم (الطارق) دئ چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۱۷ آیتونه لري، لومړي درې آیتونه ئې دوه دوه غږونه، ورپسې دیارلس آیتونه ئې درې درې غږونه او وروستی ئې څلور غږونه لري، که پنځم او شپږم آیت یو ځای ولوستی شي نو له لومړي آیت تر لسم پورې د آیتونو فواصل الطارق ته ورته وزن لري، له یولسم تر څوارلسم پورې رجع او فصل ته ورته وزن او ورستي درې آیتونه ئې د کیدا په وزن دي، هم ئې د ورته آیتونو غږ ډېر ښکلی او جالب دئ او هم ئې په ببلو ببلو برخو کې د غږونو مد او جذر ډېر خوندور دئ، دا سوره په مکه مکرمه کې او هغه وخت نازله شوې چې د قریشو سردارانو د پیغمبر علیه السلام دعوت د ځان او د خپل زعامت لپاره جدي ګواښ وګاڼو، د خطر احساس ئې وکړ او د مقابلې لپاره ئې د لارو چارو لټول پیل کړل او دا هڅه ئې کوله چې د دې دعوت د خوړېدو مخه ونیسي. د دې مبارکې سورې د بحث اساسی موضوع د دې مطلب ثابتول دي چې دلته د انسان د کړنو څارنه او مراقبت کېږي، محاسبه په مخکې لري، ببرته راژوندی کېږي او له الهي محاکمې سره به مخامخ کېږي. څوك چې دا حقیقت نه مني، خپلو غلطو انګېرنو غولولی، خپل زور ځواك مغرور کړی، په مکافات او مجازات باور نه لري، هغه ته وایي: دغه له ځلاندو ستورو ډك آسمان ته نظر وکړه، ووایه چې دا بې شمېره ستوري څوك په خپل خپل ځای کې ساتي؟ څوك دا اوبه د وربڅو په بڼه کې له زمکې آسمان ته پورته کوي؟ او څوك له آسمان اوبه راوروي او په دې اوبو سره دا زمکې چوي او دانه او مېوه راشنه کوي؟ آیا دا شواهد تاسو ته دا خبره نه ثابتوي چې دا هستي یو مراقب ټولواك لري؟ او دا د الهي مراقبت ادعاء او د مجدد بعثت او د محاکمې او

محاسبې خبره؛ مجرده ادعاء او بې دليله وينا نه ده، بلکې يوه داسي واقعي ادعاء ده چې ټول عالم او د کائنات دا نظام ئې پر حقانيت شهادت ورکوي، دا بې شمېره ځلانده ستوري چې څوک ساتي هغه د ټولو ساتونکی او څارونکی دئ. که څوک دا ټول حقائق نه مني او د حق په مخالفت کې او له باطل د دفاع لپاره له کيد او مکر کار اخلي، څو ورځې دي انتظار وکړي، ډېر ژر به د خپل کيد او مکر پايلې او د الهي مکافات او مجازات حقيقت، په دنيا او آخرت کې په عين اليقين سره وګوري.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ۝٢ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ۝٣ إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ۝٤

۱- لوړه په آسمان او دا د شپې وَر ټکوونکي. ۲- څه شي خبردار کړې چې څه دئ دا د شپې وَر ټکوونکی؟ ۳- ستوری ځلېدونکی. ٤- هيڅوک داسي نشته چې پر ده نه وي ساتونکی.

٤-۱: په دې آيتونو کې په (آسمان) او (الطارق) لوړه شوې او هغه د دې ادعاء د اثبات لپاره د شاهدانو په توګه وړاندې شوې چې (هر نفس يو ساتونکی او حفيظ) لري. د دې لپاره چې پوه شو د قسمونو معنی څه ده او څنګه د دغې لويې ادعاء په حقانيت شهادت ورکوي، بايد لاندې ټکيو ته توجه وکړو:

د (الطارق) لغوي معنی په شپه کې راځرګندېدونکی او وَر ټکوونکی ده، چې اطلاق ئې په ډېرو شيانو کېدی شي، خو وروستی آيت ئې مشخص کوي او وايي: (ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ: ځلانده ستوری) او له دې مقصد هر ځلانده ستوری دئ چې په شپه کې راځرګند شي، نه کوم خاص ستوری. دلته (النجم) د جنس لپاره دئ او ټول ستوري افاده کوي.

که چېرې قرآن په خپله دا (الطارق) نه وی معرفي کړی او تفسير ئې مونږ ته پرېښی وی، نو معلومه نه ده چې له دې به څه عجيب او غريب تعبيرونه شوي وو؟! څومره مختلف، بېلابېل او يو له بل سره متصادم آراء او نظريات به وړاندې شوي وو، څومره د اصلي معنی مغاير معاني او مفاهيم به ئې ورته تراشلي وو، څومره (بطون) او (راز رموز) به ئې له رسا ذهن، رمز پېژندونکې او (بطن فهم) سليقې ورته راايستلي وو؟! مخصوصاً هغو کسانو چې بيمار ذهن لري، په څرګندو توکيو، روښانه او واضح الفاظو او ځلانده حقائقو قناعت نه کوي، ظاهر ورته کافي نه وي، د (سر او راز) او (مخفي او بطن) رابرسېره

کېدو ته انتظار کوي او اعجاز ته منتظر وي!!

موږ په مذهبي فرقو کې داسي يوه فرقه هم لرو چې ځيني مفسرين ئې وايي: له الطارق مراد هغه سؤالګر دئ چې يو ماښام ئې د اميرالمؤمنين علي رضي الله عنه د کور دېره وټکوله او هغه په داسي حال کې چې خپله ئې يوه يا دوه ورځې څه نه وو خوړلي؛ او ګواکې روژه ئې نيولې وه، خپل خواږه ئې دې سؤالګر ته ورکړل!! او په همدې خاطر دا سوره نازله شوه!! دوی وايي چې همدا د دې آيت بطن دئ او د قرآن په بطن له ائمه وو پرته بل څوك نه پوهېږي!! د قرآن د ډېرو نورو آيتونه په اړه دې ته ورته پوچ او بې بنسټه تعبيرونه لري. که د يوه داسي څرګند آيت په اړه د دوی تعبير دومره غلط او له اصلي مطلبه په فرسخونو لرې وي نو د هغو آيتونو په اړه به ئې تعبيرونه څنګه وي چې د تأويلاتو مجال په کې وي؟!! دوی دې ته هم متوجه نه دي چې ښايي د دې سورې د نزول پر مهال به علي رضی الله عنه لابلوغ ته نه وو رسېدلی او روژه لا اصلاً نه وه فرض شوې!!

قرآن د دغه بيمار (ذهنيت) د ښه معرفې لپاره د ابراهيم عليه السلام په قصه کې څومره ښه فرمايي: ابراهيم عليه السلام وويل: (رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ) زما رب همغه دئ چې راژوندي کوي او مړه کوي او همغه چې لمر له مشرق راپورته کوي، ګورئ چې د ابراهيم عليه السلام لپاره مرګ او ژوند او د شپې ورځې تګ راتګ قطعي دليل دئ، له همدې خپل رب پېژني، د عالم د همدې ملموسو او مشهودو مظاهرو د خپل رب په لوري هدايت کېږي او نور کسان هم په همدې شيانو په استناد سره د الله تعالی په لوري رابلي، خو نمرود دا استدلال نه مني، هغه کافي نه ګڼي او وايي: (أنا أُحْيِي وَأُمِيتُ) دا د ژوند او مرګ پرېکړه خو زه هم کولی شم!!

همدا راز قرآن فرمايي:

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعٗا ﴿٩٠﴾ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٤﴾ قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ﴿٩٥﴾ الاسراء

او وئې ویل: تر هغه دربانديِ ایمان نه راوړو چې له زمکې کومه چینه راته ونه بهوې او یا دي د خرما او انګورو داسې باغ نه وي چې په منځ کې ئې ویالې رواني کړې. او یا لکه څنګه چې ګمان کوې دا آسمان پر موږ ټوټې ټوټې راپرې باسې او یا الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړې او یا دي د سرو سپینو زرو کور وي او یا آسمان ته وخیژې او ختل دي هم تر هغه نه منو چې کوم داسې لیکلی کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو، ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لېږل شوي انسان پرته بل څه یم؟! او د هدایت له راتلو وروسته؛ خلك له دې پرته بل څه له ایمان راوړلو منع نه کړل چې ویل ئې: آیا الله یو انسان د پیغمبر په توګه مبعوث کړی؟ ورته ووایه: که په زمکې کې ملائکې اوسېدی او ډاډمنه ګرځېدی نو حتماً به مو له آسمان پر دوی یوه فرشته د پیغمبر په توګه لېږلې وه.

بیمار ذهنیتونه دغسې وي، خدای په (اعجازونو)، (خارق العاده پېښو) او (فوق طبیعي اسرارو) کې لټوي، دا په طبیعت کې خواره بې شمېره نښې او شواهد ورته کافي نه وي، دا د الله له لوري نه ګڼي، طبیعي پېښې ئې بولي، غواړي خدای د داسې پېښو له مخې ثابت کړي چې غیر طبیعي وي، په (رازونو) او (رموزونو) سره، نه په (ښکاره وو) او (څرګندو) سره!! خو د قرآن اسلوب بېل دئ، قرآن د هستي هر څه او هر حرکت د الله تعالی د ذات او صفاتو نښه او مظهر ګڼي، په همدغو څرګندو شیانو استناد کوي او په دې سره خپله ادعاء ثابتوي، په همدې څرګندو، په طبیعت کې خورو ورو شیانو باندي لوړه کوي او د خپلې مدعی لپاره ئې د شاهد په توګه وړاندي کوي. د الطارق په سوره کې ګورئ چې د آسمان تر څنګ په الطارق یعني د شپې له خوا راڅرګندېدونکو هغو ستورو لوړه کوي چې په شپه کې د آسمان په غېږ کې راڅرګند شي، د آسمان په څېر څرګند، مشهود او ښکاره. دغه توضیح او شرح باید د قرآن د نورو قسمونو لپاره د یوه لارښود اصل او اسلوب په توګه ونیسئ، چېرې چې د (مقسم به) په پېژندلو کې له ابهام او اشکال سره مخامخ شوئ، نو د دغه اصل په رڼا کې ابهام او اشکال رفع کولی شئ. لکه چې (الطارق) یو جلي، مشهود او څرګند شی دئ: ځلانده ستوري، همدا راز په نورو مواردو کې هم (مقسم به)) د (الطارق) په څېر مشهود او قابل درك شی وګڼئ او هغې رأیې ته هیڅ اعتناء مه کوئ چې له دې غیبي او له سترګو پټ شیان مرادوي. دا د قرآن له اسلوب سره مخالفه رأیه په دېوال ووهئ.

باید دا واضح کړو چې آسمان او په هغه کې ځلانده ستوري څنګه دا ثابتوي چې هر نفس د یوه ذات تر مراقبت او حفاظت لاندي دئ؟

په دې پوهېږو چې د دې ستر عالم بې انتهاء عظمت د شپې له خوا راڅرګند شي، د

ورځې له خوا ټول سماوي اجرام له سترګو پټ وي، د لمر له لوېدو او د شپې له رارسېدو سره سم، ستوري یو په بل پسې راښکاره شي، په خپلو پلوشو سره زمونږ سترګې هڅوي، زمونږ د سترګو په وړاندې ودرېږي، مونږ د کائنات د عظمت او پراخوالي تماشا ته رابلي او دا پوښتنه زمونږ په ذهن کې راولاړوي چې په دې خور وور، پراخ بې انتهاء عالم کې دا بې شمېره آسماني اجرام څوک اداره کوي؟ څوک ئې ساتي؟ دا کوم ځواک دئ چې هر یو په خپل خپل مسیر کې خوځوي او د دوی تر منځ له ټکر او تصادم مانع کېږي؟ بې شکه چې دا آسمان او د هغه په غېږ کې دا بې شمېره ځلانده ستوري په دې شهادت ورکوي چې دا عالم یو ځواکمن او مقتدر ساتونکی او پالونکی لري چې هر جزء ئې په خپل خاص ځای کې ساتي، له تشتت او بد نظمي ئې او په خپلو کې د دوی د تصادم مخنیوی کوي.

ګورئ چې قرآن د هغه چا د اقناع لپاره څه وایي چې ګمان کوي دا عالم په خپله پیدا شوی او هر څه ئې طبیعت ته سپارل شوي، نه کوم مراقب لري او نه ساتونکی او محافظ، حوادث په تصادفي توګه او په خپله رامنځته کېږي، نه واکمنه اداره شته او نه خاص ضوابط او سنن، قرآن هغه ته بلنه ورکوي چې د آسمان په لوري سترګې واړوه، د هغه وسعت او عظمت ته ځیر شه، هغو بې شمېرو ستورو ته پام وکړه چې د دې بې انتهاء فضاء په غېږ کې ئې حفاظت او ساتنه کېږي، په همدې استدلال کوي او انسان ته وایي: هغه ذات چې دا هستي اداره کوي او د هر جزء او ذرې ساتنه ئې په واک کې لري، همدا ذات ستا مراقب او ساتونکی هم دئ.

فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ۝٥ خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ ۝٦ يَخْرُجُ مِنۢ بَيْنِ ٱلصُّلْبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ۝٧

۵- نو دا انسان دي وګوري، له څه دئ پیدا شوی؟ ٦- له ټوپ وهونکو اوبو دئ پیدا شوی. ۷- راوځي د سینې او ملا له منځه.

۵-۷: انسان دي خپل پیدایښت ته لږ ځیر شي، له یوه څاڅکي ټوپ وهونکې اوبو پیدا شوی، د مني دغه کرکجن څاڅکی چې کمال ئې ټوپ وهل ښودل شوی، څنګه ورو ورو وده وکړي، علقه شي، د غوښې یوه ټوټه شي، یو ماشوم ترې جوړ شي او په پای کې په یوه ځواکمن، مضبوط او د دغو ټولو وړتیاوو خاوند انسان بدل شي؟! څوک ئې د ضعف او حقارت له هغه حالت د قوت او کمال دې حالت ته رسوي؟!! د چا تر نظارت او مراقبت لاندې له دغو مراحلو تېرېږي؟ لومړی دي ووایي: چا پیدا کړی؟ آیا له کوم (خالق) او

پالونکي پرته پیدا شوی؟ او یا په خپله د ځان خالق او پیدا کوونکی دئ؟ مګر مور پلار ئې په دې هیئت او کیفیت کې د ده د پیدا کولو پربکړه کړې وه؟ آیا مور پلار ئې دا استعدادونه په ده کې اېښي؟ د ده نطفه چا په هغو ټوپ وهونکو اوبو کې تیاره کړې وه؟ پلار مور خو له دې پرته بل څه نه دي کړي چې یوه داسې تیاره (دانه) ئې په یوې زمکې کې کرلې چې د هغه په جوړېدا کې د دوی عقل، پوهې، غوښتنې، ارادې هیڅ ونډه نه درلوده. دوی د دې دانې (حارث) دي نه (زارع)، د نطفې پیدایښت او تر بشپړ انسان پورې هغه ته وده ورکول د هغه ذات کار دئ چې د ټول عالم رب او پالونکی دئ.

د انسان عقل نه دا خبره منلی شي چې (انسان) له پیدا کوونکي پرته پیدا شوی او نه دا چې دی په خپله د خپل ځان پیدا کوونکی دئ، نو دی چا پیدا کړی؟

قرآن فرمایي چې له الله پرته هیڅوك نه شي کولی څه راپیدا کړي او یا پیدا شوی شته شی معدوم کړي. ساینس د قرآن دغه خبره تأییدوي او وایي: انسان فقط دومره کولی شي چې په طبیعت کې موجود توکي له یوې بڼې بلې ته واړوي، خو هیڅکله نه شي کولی څه خلق یا ئې معدوم کړي. کولی شي لرګی وسوزوي، په ایرو، ګاز، حرارت او د لرګي په نورو اجزاوو ئې بدل کړي، خو دا وس او توان نه لري چې د لرګي اجزاء په بشپړه توګه له منځه یوسي، هغه په سوزولو سره لرګی تجزیه کړی، ختم او معدوم کړی ئې نه دئ. ساینس ادعاء کوي چې انسان نه د یوې وړې ذرې د پیدا کولو توان لري او نه ئې د ختمولو. نو پوښتنه کوو: که انسان، دا اشرف المخلوقات، دا تر ټولو مخلوقاتو کامل، د هیڅ څه د پیدا کولو توان نه لري، نو دا ټول مخلوقات چا پیدا کړي؟!! هیڅ عقل دا خبره نه شي منلی چې دا ټیپ ریکارډر په خپله او له جوړوونکي او صانع پرته پیدا شوی!! دا ماڼۍ په خپله او له کوم معمار او مهندس پرته جوړه شوې!! د پلاستیك یوه ټوټه په یوې ګوښې کې پر زمکه پرته مومې چې خاص شکل او رنګ لري حتماً له ځان سره وایي: د پلاستیك دا ټوټه د یوه غوري برخه ده، جوړوونکی ئې مهندس، رسام، هنرمند او د پلاستیك په خواصو پوه انسان دئ، دا ځکه چې تا په هغه کې د هنر او علم نښې موندلې دي. په لار درومې، پر زمکه پلونه ګورې، ستا عقل حکم کوي چې په دې لاري له تا مخکې څوك تللی او دا د هغه پلونه دي. همدا راز مور په دغې شنې وني کې د شکلا، ښایست، هنر، علم او حکمت آثار ګورو، په جوړښت او وظائفو کې ئې د دقیقې او حکیمانه طراحي نښې ګورو، داسې نامرئي لاس په خپل عقل سره احساسوو چې دا ونه له یوې وړې دانې راپیدا کوي، وده ورکوي، کمال ته ئې رسوي، پاڼه، ګل او مېوه ورکوي، ښایسته ئې مومو، متعادل او متوازن، د خاص کار لپاره پیدا شوې، په دې توانېږي چې له زمکې خاص او ضروري مواد جذب کړي، پاڼه،

ښايسته ګل او خوندوره مېوه ترې جوړه کړي، که ئې د تنې د کومي برخي پوټکی وشکوې نو فوراً په هغه ځای ملهم ږدي او پټې لګوي او په سرښناکي د مکروب ضد مائع ئې پوښي، چې ډېر ژر کلکه پټې ترې جوړه شي، که ئې د يوې خوا کومه ځانګه پرې کړې، ډېر ژر په هماغه اړخ کې بله ځانګه راوټوکوي د دې لپاره چې خپله موازنه حفظ کړي او يوې خوا ته له کږېدو خوندي پاته شي، د لمر د وړانګو استقامت پېژندی شي او خپلې ځانګې په همغه لوري غځوي!! آيا د علم، حکمت او هنر د دغو ټولو نښو له لیدو سره سره زموږ عقل اجازه راکوي چې ووايو: دا ونه په خپله او هسې له کوم علیم او پوه پیدا کوونکي پرته پیدا شوې؟!! قرآن څومره ښه فرمايي:

أَمْ خُلِقُواْ مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ الطور

آيا بې څه (له خالق او پيدا کوونکي) پرته پيدا شوي او يا په خپله پيداکوونکي دي؟!

له دغو دواړو خبرو يوه ئې هم د انسان عقل نه شي منلی، نه بې خالقه خلقت مني او نه دا چې انسان په خپله د ځان خالق دئ!!

يعني انسان دي غور وکړي چې چا پيدا کړی، چا له يوه ځاځکي اوبو، يوې وړې ذرې، د يوه ځاځکي تر يو په يو مليارد هم وړه، پيدا ئې کړ، وده ئې ورکړه او کمال ته ئې ورساوو؟!! آيا د انسان پيدايښت په ډېر صراحت سره شهادت نه ورکوي چې خامخا يو محافظ او مراقب لري؟! هم له ځلاندو ستورو ډک آسمان په دې خبرې شهادت ورکوي او هم د انسان پيدايښت د اوبو له يوه ځاځکي.

۷- دا (ټوپ وهونکې اوبه) د (ملا او سينې له منځه) راوځي، بايد وګورو چې د دې خبرې معنی څه ده، په داسې حال کې چې دا اوبه له ملا او سينې پرته په بل ځای کې جوړېږي او په خاص ځای کې ساتل کېږي او د اړوند غړو اداره ئې د مغز د ځانګړې برخې له خوا تر سره کېږي چې د ملا په تير کې د غځېدلو عصبي رشتو له لارې ئې اداره کوي او د دغو اوبو د ټوپ وهلو باعث کېږي. په دې اړه د مفسرينو تر منځ ګڼ شمېر تعبيرونه او توجيهات ګورو خو دوه ئې د پام وړ دي:

الف: که څه هم د دې اوبو د توليد او ساتنې او بيا ټوپ وهلو دنده د مغز د ځانګړې برخې کار دئ، خو نور مهم غړي چې د ملا د تير او سينې تر منځ پراته دي، لکه زړه، ينه، سږې او هغه عصبي رشتې چې د سينې او ملا تر منځ ئې جال غوړېدلی، ټول د دغو اوبو په توليد او مخصوصاً ټوپ وهلو کې ونډه لري، د همدې لپاره دلته ويل شوي چې دا اوبه د سينې او ملا له منځه راوځي.

ب: د مور په رحم کې د انسان د پيدايښت په لومړيو ورځو کې د دغو اوبو د پيدا کولو

او ساتلو اړوند غړی (خصیه) د سینې او ملا تر منځ وي، د ماشوم له لویېدو سره سم دا غړی ورو ورو خپل لومړنی موقعیت پرېږدي او لاندې راشي او د دوو پښو تر منځ ځای ته ځان ورسوي. په دې آیت کې د دې غړي لومړني او اصلي ځای ته اشاره شوې او دا هغه ستر حقیقت دئ چې علماء نن پرې پوه شوي.

إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ۝٨ يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ۝٩ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ۝١٠

۸- بې شکه چې هغه ئې په بیا راګرځولو دئ توانا. ۹- هغه ورځ چې (ټول) رازونه به بربنډ شي. ۱۰- نو نه به ئې څه توان وي، نه ملاتړی.

۸: د دې آیت په (انه) کې ضمیر الله جل شأنه ته راجع دئ، که څه هم په مخکینیو آیتونو کې نه دئ ذکر شوی، خو د کلام له فحوی معلومېږي او په (رجعه) کې انسان ته راجع دئ چې په مخکینیو آیتونو کې ورته اشاره شوې او له بیا راګرځولو ئې مراد له مرګ وروسته بیا ژوندون دئ او ارتباط ئې له مخکینیو آیتونو سره داسې دئ: هغه ذات چې انسان ئې له یوه څاڅکي اوبو راپیدا کړ په بیا پیدا کولو ئې هم قادر دئ، هماغه ذات چې د آسمان په دې بې انتهاء غېږ کې دا بې شمېره ستوري ساتي او انسان ئې د داسې اوبو له یوه څاڅکي پیدا کړ چې ترې کرکه لري، هغه اوبه چې د انسان له سترګو پټ، د سینې او ملا تر منځ ئې راپیدا کېږي او د غړو د هغه نظام په ذریعه تولید او ساتل کېږي چې انسان پرې کامل تسلط نه لري، له دغه څاڅکي جوړه شوې نطفه چې د کوم چا په اراده په کامل انسان بدلېږي همغه ذات ئې په بیا راژوندي کولو هم قادر دئ.

۹: د انسان (رجع) او بیا ګرځېدنه به په هغه ورځ تر سره شي چې ټول رازونه به په کې ښکاره او ټول اسرار به په کې بربنډ شي، دا اسرار او رازونه د ځینو مفسرینو له نظره د انسان هغه پټ عزائم او هغه ګناهونه دي چې د نورو له سترګو ئې پټ تر سره کړي، خو که دا آیت د مخکینیو آیتونو په رڼا او له هغوی سره په ارتباط کې تفسیر شي نو له سرائر باید مراد هغه حقائق وي چې نن د انسانانو له نظره پټ دي او د قیامت په ورځ به راڅرګند شي، دا ځکه چې په مخکینیو آیتونو کې لاندې څو هغو حقائقو ته اشاره شوې چې د کافر انسان له نظره پټ دي او د اثبات لپاره ئې استدلال شوی:

لومړی: هر نفس یو ساتونکی او څارونکی لري.

دوهم: هغه ذات چې انسان ئې د اوبو له یوه څاڅکي پیدا کړی، د ده په بیاپیدایښت

هم قادر دئ.

دوهمه توجيه په څو دلائلو قوي ده:

۱- (ال) په (السرائر) کې ښيي چې دا اسرار بايد تر دې وړاندې توضيح شوي وي.

۲- د انسان خپل اسرار او رازونه که له نورو انسانانو پټ وي، نو له الله او کرام الکاتبين پټ نه دي او اسرار نه ګڼل کېږي.

۳- د آيتونو تر منځ يووالی او همغږي په دغي توجيه سره تأمين کېږي او لومړۍ توجيه دا تنسيق او يووالی له منځه وړي.

۱۰- د دې آيت په اړه هم دوه تعبيرونه مومو:

الف: د قيامت په ورځ او په الهي محاسبې کې به د انسان ټول اسرار بربنډ شي، هم به د خپلو څرګندو بدو عملونو مناسبه سزا ګوري او هم د پټو، نه به خپله له الهي نيونې او عذاب د ژغورېدو او تېښتې توان لري او نه به داسي مرستندوی مومي چې له دې شوم عاقبت ئې وژغوري.

ب: هغه مستکبرين چې ځان ورته ډېر ځواکمن او قوي برېښېدو، د سرتېرو لښکري ئې په واک کې، خپل ظاهري اقتدار او د پلويانو او سپاهيانو کثرت او ډېرښت مغرور کړي وو، نه ئې خدای مانو او نه د آخرت د ورځې مکافات او مجازات، له پيغمبرانو عليهم السلام سره ئې د مخالفت ملاتړله، پټې توطئې او دسيسې به ئې کولې، په دې ورځ چې ټول (تر پردو شا ته) حقائق به رابرسېره او اسرار به بربنډ شي، وبه ګوري چې نه ئې څه (قوت) شته او نه کوم (مرستندوی او ملاتړی)، د ځواکمنې انګېرنه ئې پوچ او بې بنسټه وه او هسې يو خيال او ګمان وو او پلويان او حاميان ئې داسي کسان نه وو چې په سختو ورځو مخصوصاً په دې ورځې کې د دوی مرسته وکولی شي، دا دئ اوس د الله تعالی په وړاندې (ضعيف) او (ذليل) ولاړ دئ، پلويان او حاميان ئې ترې بې زار او متنفر.

په لږ دقت سره پوهېدی شو چې دوهمه توجيه ډېره دقيقه او غوره ده، هم له مخکيني آيت سره اړخ لګوي او هم د سورې له تتمې او وروستي آيت سره چې د دغو کفارو (کيد) ته ګوته نيسي.

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ﴿١١﴾ وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ﴿١٧﴾

۱۱- لوړه په آسمان دا پر له پسې راګرځوونکی. ۱۲- او په زمکي چاودېدونکې. ۱۳- بې شکه چې دا پرېکنده وینا ده. ١٤- او نه ده هغه خوشې ببهوده. ۱۵- دوی خو کاروي څه تدبیرونه. ١٦- او زه هم کاروم څه تدبیرونه. ۱۷- نو پرېږده کافران، لږ غوندي ئې پرېږده.

۱۱-۱۲: دلته په دوو شیانو لوړه شوې: په آسمان چې پر له پسې راګرځوونکی دئ او په زمکي چې چاودېدونکې ده.

د قسمونو ځواب دا دئ:

إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ١٣ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ١٤

بې شکه چې دا پرېکنده وینا ده. او خوشې ببهوده نه ده.

د قسمونو او ځواب شرح دا ده:

- په لومړي قسم کې آسمان ته ذَاتِ الرَّجْعِ: پر له پسې راګرځوونکی، ویل شوي، د کلام له فحوی او د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې په دې پوهېږو چې دلته په (ذَاتِ الرَّجْعِ) سره د آسمان باران ته اشاره شوې، دا باران دئ چې د اوبو د بخاراتو په بڼه کې له زمکي د آسمان په لوري وخوځېږي او آسمان ئې بېرته د زمکي په لوري راوګرځوي.
- په دوهم قسم کې زمکي ته ذَاتِ الصَّدْعِ: چاودېدونکې، ویل شوي چې مراد ئې د نباتاتو په رازرغونېدو سره د هغې چاودل دي.
- د قسم په ځواب کې دا خبره نه ده واضح شوې چې له دې پرېکنده وینا کومه وینا مراد ده؟ خو که لږ غور وکړو نو ګورو چې تر قسمونو مخکې په اتم آیت کې ویل شوي: إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ: بې شکه چې هغه ئې په بیا راګرځولو توانا دئ. د دغې ادعاء د اثبات لپاره دا قسمونه راغلي او ورپسې ویل شوي چې دا پرېکنده وینا ده او هسې ببهوده خبره نه ده.
- له آسمان د اوبو په راوړېدو سره د زمکي له زړه د نباتاتو رازرغونېدل ښیي چې الله تعالی د مړو په بیا ژوندي کولو قادر دئ، تاسو تل دا بیا راژوندي کېدل په خپلو سترګو ګورئ، نو څنګه د بیا ژوندون خبره یوه بابیزه او خوشې خبره ګڼئ؟!! مګر له آسمان د اوبو راوړېدل او په دې سره د مړې زمکي ژوندي کېدل او د رنګ رنګ نباتاتو رازرغونېدل د دې ادعاء څرګند او قطعي ثبوت نه دئ؟!

له مجدد ژوندون خو هغه چا باید انکار کولی چې په خپل ټول ژوند کې ئې د دې کومه بېلګه نه وی لیدلې، ته خو هره شېبه ګورې چې د اوبو یوه (قطره) په نطفې او

انسان بدله شي، له مړې او ژوول شوې دانې او مېوې د انسان په بدن کې ژوندۍ نطفه جوړه شي، مړه زمکه په یوه باران سره وخوځېږي او ګڼ شمېر ژوندي توکي راشنه کړي. نو ته څنګه بیا ژوندون محال ګڼې؟!!

دلته هم ګورئ چې هغه څه په څرګند ډول نه دئ ښودل شوی چې آسمان ئې بېرته راګرځوي، خو له دې کبله وایو چې له دې مراد د اوبو بخارات دي چې د آسمان په لوري درومي او هغه ئې بېرته د باران او واورې په بڼه کې راګرځوي، لومړی دا چې؛ له دې پرته بل داسې څه نه شو په ګوته کولی، دوهم دا چې د دې بېرته راګرځېدونکي او د زمکې د چاودېدو تر منځ باید څه ارتباط وي او درېیم دا چې دا باید بیا ژوندن ثابت کړی شي، له باران پرته بل داسې څه نه مومو چې دا کار کوي.

ځینو درنو مفسرینو په (انه لقول فصل) کې ضمیر قرآن ته راجع ګڼې او وایي: یقیناً چې د قرآن وینا قاطع او پرېکنده ده. په داسې حال کې چې د دې توجیه لپاره نه یوازې کوم دلیل نه شو وړاندي کولی بلکې په دې سره د آیتونو تر منځ همغږي هم له منځه ځي، په ډېر لږ دقت سره دا خبره راته جوته کېږي چې له دې (قول فصل) مراد هغه قول دئ چې د همدې سورې په ۸ آیت کې راغلی او د باران ورېدل او له زمکې د بوټو راټوکېدل ئې د همدې قول د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندي کړي، په دې معنی چې بیا ژوندون او دا چې الله تعالی د مړو په بیا احیاء قادر دئ، خوشې او بېهوده خبره مه ګڼئ، مګر نه ګورئ چې الله تعالی له آسمان اوبه راوروي او په دې سره مړه زمکه راژوندۍ کوي!! ستا (رجع) او بیاراګرځونه به هم دغسې وي. (ذات الرجع) آسمان او (ذات الصدع) زمکه په دې خبرې شهادت ورکوي چې الله تعالی ستا په (رجع) قادر دئ.

۱۵-۱۷: د دغو مبارکو آیتونو په اړه څو ټکیو ته پام ولرئ:

- له دغو آیتونو په څرګنده معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې دښمنانو د اسلام او مسلمانانو په ضد توطئو او دسیسو ته ملا ټرلې وه.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم او ټولو مؤمنانانو ته ډاډ ورکړی شوی چې د دښمن له کید او مکر وېره او تشویش مه لرئ، هیڅ تاوان نه شي دررسولی، الله تعالی ستاسو ولي او مرستندوی دئ، هغه به د دوی توطئې شنډوي.
- داسې نه چې د کفارو په نیوني کې ځنډ او تأخیر ستاسو د اندېښنې او تشوېش باعث شي، دا (مهلت) زیات او اوږد نه دئ، ډېر ژر به پای ته رسېږي او الهي عذاب به ډېر ژر پرې نازل شي.

الاعلى

د سورې معرفې

د دې مبارکې سورې نوم الاعلى (هماغه لوړ) دئ، چې له لومړي آیت ئې اخیستل شوی، ۱۹ آیتونه لري، له اوم آیت پرته نور ټول له دریو دریو ورته غږونو جوړ شوي، خو اوم آیت هم دوه فقرې لري چې هره یوه د سورې د آیتونو په څېر ده، د ټولو آیتونو فواصل د اعلى په وزن دي، دا وزن له فواصلو علاوه په نورو الفاظو کې هم ګورو، چې سورې ته ئې ډېر ښایسته او خوندور وزن او سجع ورکړې، د سورې له متن مخصوصاً له شپږم آیت معلومېږي چې دا سوره د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې، هغه وخت چې لا رسول الله صلى الله عليه و سلم د وحي په تر لاسه کولو کې مشکلات درلودل او دا اندېښنه به ورسره وه چې داسې نه څه ترې هېر شي، لا ورسره عادي شوی نه وو، په دې سوره کې ده ته په دې اړه ډاډ ورکړی شوی. په لومړیو پنځو آیتونو کې د توحید او خدای پېژندنې اساسات او مبادي څېړل شوي، بیا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اطمئنان ورکړی شوی چې:

۱- د الله د رعایت او عنایت له کبله به د قرآن وحي ترې نه هېرېږي.

۲- د الله لوري ته د بلنې مأموریت ئې ورته آسان او په دې کې راخلاصه کړی چې یوازې د هغه چا د لارښوونې او هدایت هڅه وکړي او پند ورکړي چې د بلنې د منلو وړتیا په کې موندل کېږي.

۳- څوک چې بې باکه او لاابالي نه وي، د خپلو عملونو د ښو او بدو پایلو په اړه بې اعتناء نه وي، په ځان او له خپل عاقبت وېرېږي، د ځان او د ټولنې د غلطو عقائدو، بدو افکارو او نظریاتو له پایلو وېره لري، په خپلې ټولنې کې د ظلم، فساد او بې عدالتۍ عواقب خطرناک ګڼي او د نجات لاري لټوي، د دې الهي دعوت اصلي مخاطب همدغه دئ، داسې څوک به حتماً دا پیغام د زړه په غوږونو اوري او دې بلنې ته به لبیک وایي، خو شقي او بدبخت انسان به له دې ډډه کوي.

٤- څوک چې خپلې فکري او اخلاقي تزکیې ته اهتمام او التفات لري، خپل پالونکی رب رایادوي او لمونځ کوي، فلاح او بریا به ئې په برخه شي.

۵- خلك د دنیا ژوند غوره ګڼي، ژر او آسان تر لاسه کېدونکي، ټیټ او پرېوتي اهداف ځان

ته ټاکي، حال دا چې دنیا او دنیوي اهداف بې پایښته او ناڅیزه دي او آخرت غوره دئ او تلپاته.

٦- ستا رسالت د ابراهیم او موسی علیهما السلام په څېر د اولوالعزمو پیغمبرانو د رسالت ادامه ده، همغه چې د سترو سترو مدنیتونو بنسټونه ئې اېښي، د سترو سترو انقلابونو لارښوونه ئې کړې او د تاریخ لوی لوی مستکبرین د دوی په لاس رانسکور شوي، ستا او د دوی پیغام یو دئ او د دعوت او مبارزې پایلې مو سره ورته.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ۝١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ۝٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ۝٣ وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ۝٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ۝٥

١- یاد کړه په پاکۍ سره نوم د خپل اعلی رب. ٢- هغه چې پیدا ئې کړل (هر څه) او برابر ئې کړل. ٣- او آ چې اندازه او هدایت ئې کړل. ٤- او هغه چې دا بوټي ئې راوایستل. ٥- بیا ئې زرغونه او توربخن کړل.

١- دا آیت دوو مطالبو ته اشاره کوي:

الف: ستا پالونکی رب (لوړ) دئ، لوړ تر هر هغه څه چې په دې عالم کې ستا تر سترګو کېږي، لوړ تر دې چې ستا په خیال، وهم او ګمان کې وګرځي، په دې پراخ عالم کې هیڅ څه هغه ته ورته نه شې موندلی.

ب: د خپل لوړ رب نوم په پاکۍ یادکړه، په څو معنی:

اولاً: پام چې د الله جل شأنه په اړه د بحث په دوران کې کوم عیب او نقص ورته منسوب نه کړې، الله تعالی تر دې لوړ دئ چې په ذات او صفاتو کې ئې څه کمی او عیب وي.

ثانیاً: الله تعالی په داسي نامه مه یادوه چې د ده له عظمت او شأن سره نه ښایي، الله تعالی غوره نومونه لري، په دغو غوره نومونو سره ئې یادوه، باید پوره محتاط وې چې د الله د یادولو او ذکر په وخت کې داسي نوم ونه کاروې چې د الله تعالی په شأن کې بې ادبي ګڼل کېږي، د الله ذکر خاص ادب او ځانګړی فرهنګ او قاموس لري، د ځان پاکوالی، د زړه حضور او د روح خشوع، د دې مقدس مقام آداب دي، څوك چې له دې پرته بل حالت ولري، بې ادبي ئې کړې، همدا راز د ذکر په دوران کې هغه نومونه کارول چې له دې خاص او ځانګړي قاموس نه وي اخیستل شوي، الحاد او له اصلي لاري کږېدل دي، څوك چې د

مستۍ او بې خودۍ په حالت کې، له جذبې او ساز او سرود سره الله یادوي بې ادبي کوي، څوك چې الله د ساقي، صنم، دلبر، معشوق، پیرمغان او ... په نامه یادوي بې فرهنګه دئ، د الهي ذکر له قاموس بې خبر او د الله تعالی د ذکر له آدابو بې برخي.

۲- ستا پالونکی رب همغه دئ چې دا ټول پیدا شوي ئې پیدا کړي، نه یوازي دا چې هغه ئې پیدا کړي بلکې (سم) ئې پیدا کړي، د دې عالم هر څه ښه، ښایسته، موزون او دقیق پیدا شوي، له یوې خوا د دوی (وجود او شته والی) په دې دلالت کوي چې حتماً یو (پیدا کوونکی) لري، له بلې خوا د دوی سم، دقیق او موزون خلقت په دې شهادت ورکوي چې (پیدا کوونکی) ئې (اعلی) او (لوړ) دئ.

د هر څه پیدایښت له نشت پیل کړي، ورو ورو ئې کمال او د سموالي وروستي پړاو ته ورسوي.

له (پیدایښت) او(تسویې) علاوه دوې نورې ځانګړتیاوي هم د ده په مخلوقاتو کې ګورو:

- هغه ثابته او معینه اندازه چې د دوی په (مقدار) کې مراعات شوې.
- هغه لارښوونې چې د هر څه په فطرت او خټه کې اېښودل شوې.

د دې عالم خالق او پالونکي رب هر څه د ضرورت په اندازه پیدا کړي، نه تر ضرورت کم او نه زیات، هیڅوك نه شي کولی د دې پراخ عالم په غېږ کې کوم داسې (اضافې) او (غیر ضروري) شی ومومي چې هسې او بې له کومې ګټې ئې دلته کوم (ځای) اشغال کړی!! همدا راز نه شي کولی د داسې کوم څه نوم واخلي چې په دې عالم کې ئې ځای تش او خالي دئ، د دې عالم د توکیو په (مقدار) او د دوی تر منځ (تناسب) کې چې کومه (اندازه) مراعات شوې دومره دقیقه ده چې په هغه کې ډېر لږ تغییر او تعدیل د ټول عالم د متلاشي کېدو باعث کېږي!! هر شی په خپل ځای او مقدار کې داسې دقیق پیدا شوی چې که له منځه ولاړ شي او یا ئې اندازه او مقدار کم او زیات شي، د ټول عالم بقاء له ګواښ سره مخامخ کوي.

پالونکي رب چې هر څه پیدا کړی، هغه ته ئې لارښوونه او (تلقین) کړی چې دنده ئې څه ده او دلته به د خپل شتون په دوران کې کوم کوم کارونه تر سره کوي، کوم خالي ځای به ډکوي، په کوم مسیر کې به خوځي، کوم نتائج به وړاندي کوي. مګر نه ګورئ چې لمر په خاص وخت کې له خاص ځای راخېژي، په معین مسیر کې درومي، د یوې معیني مسافې له پلې کولو وروسته، په خاص وخت کې، په داسې ځای کې پرېوځي چې له مخکې ورته ټاکل شوی، خپل مأموریت تر سره کوي، تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي، ستاسو، حیواناتو او

نباتاتو اړتياوو ته ځواب وايي، ستاسو په خدمت کې دئ، د دانې او مېوې په پيدايښت کې ممد او د رزق او روزي په درکولو کې درسره مرسته کوي، سپوږمۍ د شپې رابره کېږي، ستاسو تياره شپې روښانه کوي او ستاسو لپاره په تيارو شپو کې روښانه او څرګند تقويم، چې د شپو ورځو حساب پرې معلومولی شئ.

وئې ګورئ چې شپه ورځ په کار بوختې وي، زيار باسي، مضر ګازونه جذبوي او ستاسو د اړتيا وړ اکسيجن توليدوي، د زمکې له خاورو په خپلو نازکو جړړو سره هغه حياتي مواد جذبوي چې ته ورته ضرورت لرې او د ملر د وړانګو په مرسته له دغو موادو تا ته ښايسته او خوندوري مېوې جوړوي.

د شاتو موچۍ ګورئ چې له دې وړوکتوب او نازکتوب سره سره څومره منظم او ښايسته کور ځان ته جوړوي، داسې منظم کور چې د نړۍ ستر مهندسين ئې په ډېرو مجهزو وسائلو هم له جوړولو عاجز دي، له داسې توکيو ئې جوړوي چې د شاتو په څېر شی په کې تر اوږدې مودې خوندي او روغ رمټ ساتلی شي، په دې پوهېږي چې څنګه د خپلې خوښې (مَلِکه) او (واکمن) ځان ته غوره کړي، د زور پاچايي نه مني، په ډېر ښه شان خپل وظائف په خپلو کې وېشي او دا استعداد لري چې په خپل ملك کې دقيق نظم پلی کړي، په کوم کې چې هم د دندو وېش عادلانه وي، هم د نظافت او صفايي خيال ساتل شوی وي او هم د پردیو او د هغو مچيو له ننوتو مخنيوی وشي چې له ناپاکو وزرونو او پښو سره د دوی پاك او صفا کور ته ننوتل وغواړي، د کور په دروازه کې حساس او هوښيار پهره داران ودروي او هر ننوتونکی څاري او يوازي په هغه صورت کې د ننوتو اجازه ورکوي چې (خپل) وي او (پاك ستره) وي، په دې پوهېږي چې څنګه د ګلانو عصاره وزېښي او شات ترې جوړ کړي، داسې شات ترې جوړ کړي چې د کلونو کلونو په تېرېدو هم نه ګنده کېږي، د انسان د ډېرو بيماريو لپاره درمل دئ او انسان تر اوسه له خپل ټول مخکې تګ او مجهزو لابراتوارونو سره سره د هغه له توليد عاجز دئ، خو همدا وړه حشره ئې هم پيدا کولی شي او هم ئې تر اوږدې مودې صفا، ستره او روغ رمټ ساتلی شي!! چا به حتماً دې ته په غوږ کې ويلي وي چې څنګه والوزي، څنګه له هغه وروسته خپل کور ته بېرته راستنه شي او لار ورکه نه کړي چې په پراخې فضاء کې څو څو کيلومتره لري د ګلانو په لټه کې ځي، بېرته راګرځي او له کومې اشتباه او غلطۍ پرته د خپل کور دروازه پيدا کوي!!

مور داسې مرغان هم مومو چې بچوڼي ئې هيڅکله خپله مور نه ګوري، مور ئې د زېښت په وخت کې، په يوه خوندي ځای کې، څو پوړيزه ځاله جوړه کړي، داسې چې کافي نور او حرارت ورورسېدی شي، په هري برخې کې يوه هګۍ واچوي او خوا ته ئې د خپل

بچونې د اړتيا وړ کافي مقدار خوراک کېږدي، بيا د هري ځالي خوله وربنده کړي، دا د خپلو بچونو له راوتو مخکې ومري، بچونې ئې له هګيو راووځي، په هماغه خوراک تر هغو ګوزاره کوي چې ستر شي او د الوتو جوګه، نو د ځالي خوله پرانيزي، بهر راووځي او د خپلې مور په څېر ئې ژوند او خوی او عادت وي او د ژوند په پای کې د خپلې مور په څېر ځاله جوړه کړي، هګۍ په کې واچوي، خوله ئې وربنده کړي او ومري. ووايئ: څوک دغو مرغانو ته چې خپله مور ئې نه ده ليدلې، معلم او استاد هم نه لري، لارښوونه کوي او ورته وايي چې ستا د پلار نيکه د ژوند طريقه دا وه؟! يقيناً چې الله تعالى هر څه پيدا کړي او هر يوه ته ئې د خپل فطرت او طبيعت مطابق لارښوونه کړې.

د عالم په ټولو مخلوقاتو کې يوازې انسان داسې مومو چې د هغو فطري لارښوونو تر څنګ چې د ده په ضمير کې اېښودل شوې هم مور ته شديداً اړ وي او هم مرشد او لارښود ته، له دې پرته نه سم ژوند کولی شي او نه کمال ته رسېدی شي.

د غرځه بچی په دې پوهېږي چې څه وخت د واښو خوړل پيل کړي او د غرونو په پراخو ځنو او لويو دښتو کې، چې له راز راز بوټو ډکې وي، کوم بوټی وخوري او د کوم يوه له خوراک ځان وساتي. خو د انسان (بچی) تر اوږدې مودې، نه شي کولی چې په خپل وړوکي کور کې شه او بد وپېژني او مفيد له مضر بېل کړي، هم اور ته لاس غځوي او هم ډبره، لوټه او حتی زهر په خوله منډي. نه اور ته له ځان اچولو ډډه کوي او نه اوبو ته، (لارښود) او مرشد ته اړتيا د ده د فطرت مقتضا ده.

٤- ستا رب هماغه ذات دئ چې بوټي راشنه کوي، هماغه ذات چې اراده ئې د زمکې له کلك او سخت پوټکي؛ نازك او ښايسته بوټي راټوکوي او هيڅوك د دغو رنګ رنګ بوټو په پيدا کولو کې د ده د فعل شريك نه دئ؛ همدا ستا رب دئ. ته زمکه وسپړې، مړه دانه په کې وکړې او ستا رب ئې د داسې شنه او ښايسته بوټي په څېر راوباسي چې ژوندی دئ، احساس لري، وده کوي، د خپل نسل د دوام بند وبست کوي او څو دانې په عوض کې درکوي.

٥- د دې مبارك آيت په اړه د درنو مفسرينو تر منځ دوه رأيي مومو:

الف: ځيني (غثاء) د خس او خاشاك په معنى اخلي او (احوى) د هغه خوسا شوي بوټي په معنى چې رنګ ئې توربخن شي. دوی ٤ او ٥ آيتونه داسې ترجمه کوي: ستا رب همغه دئ چې له زمکې بوټي راشنه کوي، چې بيا ئې وچ او خوسا کړي.

ب: ځيني نور ئې (غثاء) د ستر شوي بوټي او (احوى) له ډېر شينوالي توربخن شوي په معنى اخلي او نومورې دوه آيتونه داسې ژباړي: تنکي واښه له زمکې راباسي، بيا ستر بوټي

تړې جوړ کړي او له ډېر شينوالي ئې توربخن کړي.

په لږ دقت او د آيتونو سياق او سباق او له مخکينيو او وروستنيو آيتونو سره ئې ارتباط ته په پام سره په دې پوهېدل راته آسان کوي چې دوهمه رأيه دقيقه ده او د آيتونو تر منځ نژدې ارتباط څرګندوي او لومړۍ رأيه دا تنسيق او يووالی له منځه وړي.

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ۝٦ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ ۝٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝٨ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ۝٩ سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ ۝١٠ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلْأَشْقَى ۝١١ ٱلَّذِى يَصْلَى ٱلنَّارَ ٱلْكُبْرَىٰ ۝١٢ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ۝١٣

٦- ژر به ئې پرتا لولو؛ داسې چې هېر ئې نه کړې. ۷- مګر دا چې الله وغواړي؛ بې شکه دی پوهېږي په څرګندو او په هغه چې پټېږي. ۸- او تا به کړو روان په دې آسانه؛ آسانۍ سره. ۹- نو وکړه يادونه؛ که تذکار وو ګټور. ۱۰- هغه چې وېرېږي؛ ژر به پند تړې واخلي. ۱۱- او هغه چې تر ټولو زيات شقي وي؛ له دې به شي په ډډه. ۱۲- همغه چې داخل به شي ستر اور کې. ۱۳- بيا به هلته نه مري او نه خو به ژوند کوي.

٦- د دې آيت په ترڅ کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اطمئنان ورکړی شوی چې له جبرئيل عليه السلام د وحي تر لاسه کولو په وخت کې دا اندېښنه ونه لري چې تړې هېره به شي، رسول الله صلى الله عليه و سلم د وحي د پيل په لومړيو ورځو کې او مخکې له هغه چې په دې کې پوره مهارت پيدا کړي، له جبرئيل عليه السلام د وحي له اورېدو سره سم به ئې هغه په وار وار تکراروله چې ښه ئې حفظ کړي، په دغه آيت سره هغه ته ډاډ ورکړی شو چې د وحي د هېرېدو په اړه تشويش مه کوه، قرآن به داسې پر ده لوستل کېږي چې هيڅکله ئې هېر نه کړي. دا آيت څو ظريفو ټکيو ته اشاره کوي:

- دا سوره هغه وخت نازله شوې چې لا رسول الله صلى الله عليه و سلم د وحي په اخيستو کې پوره او بشپړ مهارت نه درلود او له دې په څرګنده معلومېږي چې دا سوره د بعثت په لومړيو کې نازله شوې.
- انسان ته د خطاب او څه ورته ويلو داسې طريقه هم شته چې که مراعات کړی شي نو مخاطب به ئې د ده وينا د تل لپاره په ياد ساتي، انسان ته په دې خاصې او ځانګړې توګه

څه ویل د دې باعث شي چې هغه ئې خپلې حافظې ته داسې وسپاري چې هیڅکله ترې هېر نه شي.

۷- دلته د (إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ) فقره دوه مطلبه افاده کوي:

• د قرآن داسې ډاډمن حفظ ستا خپل ذاتي کمال نه دئ؛ بلکې د الله تعالی د عنایت او توفیق نتیجه ده. که دا الهي عنایت ستا په حال شامل نه وي او الله تعالی وغواړي چې څه ستا له حافظې زائل کړي؛ ټول به هېر کړې؛ دا همغه مطلب دئ چې د قرآن په بل آیت کې په دې صیغه راغلی:

وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ الاسراء

او که وغواړو هغه څه به له منځه یوسو چې تا ته مو وحي کړي؛ بیا به زمونږ په خلاف ځان ته کوم وکیل ونه مومې.

• که موقتاً او احیاناً ځینې برخې هېرې کړې؛ نو دا هېرونه د هغه قطعي تضمین مغایر نه ده چې د نه هېرولو په اړه شوی؛ الهي سنت داسې دئ چې کله کله انسان هغه څه هم هېروي چې دقیقاً او په ډاډمنه توګه ئې حفظ کړی وي؛ خو په یوې عادي اشارې سره ئې بېرته راپه یاد کړي. د دې آیت په ترڅ کې چې د کوم څه تضمین شوی هغه دا دئ چې تر لاسه کړې وحي به هیڅکله په دائمي توګه نه هېروي. د موقت هېرولو یوه بېلګه ئې په صحیح بخاري کې هغه روایت دئ چې وایي:

یو ځل رسول الله صلی الله علیه و سلم د فجر په لمانځه کې د یوه آیت لوستل هېر کړ؛ له لمانځه وروسته ابي بن کعب رضي الله عنه ترې وپوښتل یارسول الله! آیا دا آیت منسوخ شوی؟ وئې فرمایل: نه؛ رانه هېر شو. همدا راز دا روایت ئې بل شه مثال دئ:

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ: سَمِعَ النَّبِيُّ صلی الله علیه و سلم رَجُلا يَقْرَأُ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: «رَحِمَهُ اللَّهُ، لَقَدْ أَذْكَرَنِي كَذَا وَكَذَا آيَةً أَسْقَطْتُهُنَّ مِنْ سُورَةِ كَذَا وَكَذَا». (بخاری: ۲٦٥٥)

له عائشه رضي الله عنها روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د یوه سړي آواز واورېد چې په جومات کې ئې د قرآن تلاوت کولو، نو وئې فرمایل: ((الله دي رحم پرې وکړي؛ د فلاني او فلاني سورت فلانی او فلانی آیت ئې رایاد کړ چې له ما هېر شوي وو)).

یعني لکه څنګه چې الله تعالی؛ د عدم دائمي نسیان او هېرولو وعده ورسره کړې وه؛ دا دئ په نیمه شپه کې ئې څوک خوا ته راوست؛ او هغه ته ئې هېر شوي آیتونه ورپه یاد

کړل.

د (إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفَىٰ) فقره چې د هر پټ او څرګند څه په اړه د الله تعالى مطلق علم بیانوي؛ دلته او د نومورې آیت د مخکینۍ برخې په ارتباط دا مطلب په ګوته کوي چې که د وحي د اخیستو په وخت کې؛ په ژبه یا په خپل زړه کې د وحي الفاظ تکرار کړې؛ که خپله اندېښنه څرګنده کړې یا ئې په خپل زړه کې وساتې؛ الله تعالى پرې پوهېږي؛ همدا راز دا مطلب په ګوته کوي چې دا ډاډېینه د هغه الله تعالى له لورې ده چې ستا له پټو او څرګندو استعدادونو خبر دئ او په دې پوهېږي چې په کومه بڼه کې تا ته وحي وکړي چې هیڅکله ئې هېره نه کړې.

۸ -۹: دا دوه آیتونه د (فاء) په توري سره په خپلو کې تړل شوي او دا مطلب افاده کوي چې: اې پیغمبره! د الله تعالى او د ده د دین په لورې د دعوت او بلنې په دې کار کې مو ستا دنده آسانه کړې او کوم داسې درومند پېښې مو ستا په اوږو نه دئ اېښې چې وړل ئې درته ګران وي، له تا سره مو آساني کړې او ستا مأموریت مو په دې کې راخلاصه کړی چې یوازې د هغو خلکو دعوت او بلنې ته اهتمام او التفات ولرې چې ستا له تذکر او یادونې ګټه اخیستی شي، خو هغه چې (ذکر) کومه ګټه نه وررسوي، وجدان ئې د مرګ په خوب ویده دئ او په هیڅ نعرې او چیغې که څه هم د ډېر زړه سواند داعي له کومې راوتلې وي، نه راویښېږي، هیڅ دعوت که هر څومره د عقل او شعور راپاروونکی او که هر څومره په پېرزویني او زړه سوي مبتني وي اغېز پرې نه کوي، ته مکلف نه یې چې دوی به خامخا هدایتوې او په سمه لار به ئې برابروې، یعنی ستا مأموریت مو داسې آسان کړی چې هدایت کېدونکو ته لارښوونه او یادونه وکړه خو هغه چې د باطل ناولې لمن ئې کلکه نیولې، له حق او حقیقت مستغني او بې نیاز دي او یادونه او ذکر ګټه نه وررسوي، د دوی په اړه د هیڅ مکلفیت احساس مه کوه او ځان په کړاو کې مه اچوه.

۱۰- څوک چې وېرېږي هغه حتماً پند اخلي! چې په دې اړه دوه توجیه مومو:

الف: څوک چې له (الله تعالى) وېرېږي، هغه به خامخا ستا له یادونو پند اخلي، ویده ضمیر او وجدان به ئې راویښ شي او حق او حقیقت به درک کړي.

ب: څوک چې بې باکه نه دئ، خپلې موجوده وضعې او د خپلې ټولنې اوسنې حالت مشوش کړی، د ځان او د خپلې ټولنې د نورو وګړو د افکارو، عقائدو او عملونو پایلې ډېرې خطرناکې ګڼي، مضطرب او پرېشان دئ او د نجات لارې لټوي، دوی به حتماً ستا د دعوت په هنداره کې د نجات لار بیامومي او خپله ورکه شوې متاع به پیدا کوي.

دوهمه توجیه دقیقه او تر لومړۍ ډېره غوره ده، لومړۍ توجیه په دې دلیل کمزورې

او ضعيفه ده چې انسان تر هغه له خپل رب وېره نه کوي چې سم ئې ونه پېژني؛ له الله تعالى وېره له هغه وروسته د انسان په زړه کې راپيدا کېږي چې هغه سم وپېژني، خو دا توجيه د دې برعکس وايي چې د الله په لوري ستا بلنه به هغه څوک مني چې له الله تعالى وېرېږي!!

۱۱- تر ټولو بدبخت انسان به له (ذکر) ډډه کوي، په دوو معنى وو:

الف: څوک چې ډېر بدبخت او شقي وي او د نېکۍ ټول استعدادونه په کې ځپل شوي وي، هغه به له دې (ذکر) او يادوني ډډه کوي. په دې توجيه کې شقاوت او بدبختي د اجتناب او ډډه کولو امل ښودل شوى.

ب: څوک چې له دې (ذکر) او يادوني ډډه کوي هغه به ډېر شقي او بد بخت انسان وي. او په دې کې له دې ذکر او يادوني ډډه کول د شقاوت او بدبختۍ باعث ښودل شوى.

۱۲- ۱۳: د دې بدبخت او شقي انسان پايله دا ده چې په ستر اور کې به لوېږي او د تل لپاره به په کې پاته کېږي، د نه مړ او نه ژوندي په ښه کې، ژوند به ئې داسې دردناك او مرګونى وي چې مرګ به يو ستر نعمت ورته برېښي او تل به ئې تمنى کوي، چې ژغورنې ته ئې راوړاندي شي او له دې دردناك ژوند ئې وژغوري، خو تمنى به ئې نه تر سره کېږي.

قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ ٱسْمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾ بَلْ تُؤْثِرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴿١٧﴾ إِنَّ هَٰذَا لَفِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

۱٤- يقيناً بريالى شو چا چې ځان کړو تزکيه. ۱۵- او ياد ئې کړ د خپل رب نوم، نو ودرېد په لمانځه. ۱٦- خو تاسو غوره کړى ژوند دې دنيا. ۱۷- حال دا چې آخرت دئ هم غوره هم تل پاتى. ۱۸- بې شکه چې دا (ثبت) دئ مخکينيو صحيفو کې. ۱۹- د ابراهيم او د موسى په صحيفو کې.

۱٤- هغه څوک به فلاح او بريا تر لاسه کوي چې لومړى له ناولې فکر او عقيدې او له ګنده کړنو ځان لرې وساتي، له حرام خوراك څښاك، له پليتو اخلاقو او له بدو کړنو ډډه وکړي، ځان تزکيه کړي او خپلې روزنې او تربيې ته اهتمام وکړي.

۱۵- ثانياً خپل رب رايادوي او په لمانځه ودرېږي، لمونځ ئې د ځان له تزکيې او د الله له رايادولو وروسته وي. ګورئ چې په دې مبارك آيت کې د الله د نوم ذکر له لمانځه مخکې راغلى چې څو مطالب ترې اخيستل کېږي:

- باید د الله رایادونه تا لمانځه ته وهڅوي، چې کله درياد شي، د ده جلال او عظمت او د ده هغه بې شمېره نعمتونه چې پر تا ئې پېرزو کړي، دا باید تا دې ته وهڅوي چې په وړاندي ئې ودرېږې، مننه او شکر ئې په ځای کړې، د اطاعت او بندګۍ ژمنه وکړې، په مخکې ئې رکوع او سجده وکړې او په پښو کې ئې ولوېږې.
- د لمانځه تر ټولو مهمه او اساسي برخه د الله ذکر دئ، هم ئې بنسټ دئ او هم پیل او مقدمه.
- لمونځ به د الله تعالى د نامه په یادولو سره پیلوو.

نو لمونځ نه څه شکلي او تشریفاتي مراسم دي، نه بې روح او بې مقصده حرکات، نه بې مفهومه کښته پورته کېدا او نه شرق او غرب او یوې بلې خوا ته بې محتوی مخ اړونه، بلکې بامقصده او بامحتوی حرکت دئ، چې د الله له ذکر خړوبېږي، هغه لمونځ چې د الله له یاده غافل زړه سره، له ناولو افکارو او عزائمو سره، له حرامو ډکو سلولونو سره، له ناپاکو او ګنده او له حرامو لارو تر لاسه شوو جامو سره، اداء شوی وي یو بېهوده او په الهي معیارونو کې بې ارزښته حرکت دئ.

۱۶- ۱۷: تاسو د دنیا په ژوند پوري زړه تړلی، پښو ته لوېدلې، ټیټې موخې او بې ارزښت اهداف مو ځان ته غوره کړي او په دنیوي مال متاع پسې نښتي یئ، حال دا چې آخرت هم ترې غوره دئ او هم تلپاته، دې غوره او تلپاته هدف ته د لمانځه له لارې رسېدی شئ.

۱۸- ۱۹: په دې وینا سره چې (دا مطلب په لومړنیو صحیفو کې راغلی)، یا مخکینې آیت ته اشاره شوې، یا د (قد افلح من تزکی) آیت ته او یا ټولې سورې ته، په دې معنی چې د دې سورې مطالب د توحید، رسالت، د دعوت مؤیدین او معاندین او د دنیا او آخرت تر منځ دا مقایسه د ابراهیم او موسی علیهما السلام په څېر د دوو سترو سترو پیغمبرانو په صحیفو کې هم راغلې. د دې دعوت موافقین او مخالفین دي خپلې پایلې د دغو سترو سترو شخصیتونو د قصو په هنداره کې ولټوي چې هر یوه ئې د سترو انقلابونو لارښوونه کړې، ستر ستر امتونه ئې جوړ کړي، د شرك، جهل او ظلم ټغر د دوی په لاس ټول شوی، ستمګران او مستکبران د دوی په لاس رانسکور شوي او د هغو لویو لویو بریالیو قیامونو لارښوونه ئې کړې چې بې وزلو او مستضعفو پرګنو د خپلې آزادۍ او نجات لپاره تر سره کړي.

که وغواړو چې د (إِنَّ هَٰذَا لَفِي ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ) په آیت کې د (ان هذا) اشاره تر ټولو نژدې مطلب ته مربوط وګڼو نو تر دې مخکې آیتونو کې ویل شوي (قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ * وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ * بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا * وَالآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى* او دا هغه اساسي

مطالب دي چې په ټولو الهي کتابونو کې راغلي، همدا راز د دې سورې ټول مطالب داسې اساسي مطالب دي چې په نورو کتابونو کې هم راغلي دي. ابن جرير لومړی قول غوره ګڼي او ابن عباس د يوه حديث په استناد دوهم قول.

د لمانځه په اړه چې په دې مبارکې سورې کې څه ويل شوي، دوه ځې غور او دقت غواړي:

۱- رسول الله صلى الله عليه و سلم وروسته له هغه چې د دې مبارکې سورې دا لومړی آيت (سبح اسم ربك الاعلى) پرې نازل شو، صحابه وو ته ځې وفرمايل: د (سبحان ربي الاعلى) تسبيح د خپلو سجدو د تسبيحاتو برخه وګرځوئ.

عَنْ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ الْجُهَنِيَّ، يَقُولُ: لَمَّا نَزَلَتْ {فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ}، قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اجْعَلُوهَا فِي رُكُوعِكُمْ» فَلَمَّا نَزَلَتْ: {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى}، قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «اجْعَلُوهَا فِي سُجُودِكُمْ» اخرجه احمد و ابن ماجه و ابوداؤد

۲- لکه څنګه چې په دې سوره کې د (الله د نامه ذکر) تر لمانځه د مخه راغلی، پيغمبر عليه السلام هم دا لارښوونه کړې چې لمونځ بايد د الله اکبر په ويلو سره پيل شي.

له دغو دواړو خبرو معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه ټول حرکات، الفاظ او ترتيب ځې د قرآن له اشارو او څرګندونو اخيستي، چې په ځينو ځې اکثر خلك پوهېدی شي او په ځينو ځې يوازې پيغمبر عليه السلام پوه شوی او نور ځې پرې پوه کړي.

الغاشية

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الغاشية (پوښوونکې) دئ چې له لومړي آيت اخيستل شوی، ۲٦ آيتونه لري، ټول آيتونه ځې د طول او د غږونو د شمېر له مخې سره ورته دي، د لومړيو پنځو آيتونو فواصل ځې د غاشيه او خاشعه په وزن دي، شپږم او اوم آيتونه ځې د ضريع او جوع په صيغو پای ته رسېدلي، بيا له اتم تر دولسم پوري ټول د لومړنيو په څېر د ناعمة او راضية په هموزنو الفاظو ختم شوي، له ديارلسم تر شپاړسم پوري د مرفوعة په څېر هموزنو صيغو او له اُوه لسم تر شلم آيت د څلورو آيتونو په پای کې د خُلِقَت او رُفِعَت

هموزنه صيغې راغلې او بيا څلور ورپسې آيتونه د مُذَكِّر، مسيطر، كفر او اكبر په صيغو ختم شوي او د پای دوه آيتونه ئې د ايابهم او حسابهم په هموزنو صيغو پای ته رسېدلي. د آيتونو اوزان او مد و جذر ئې ډېر ښايسته او خوندور دئ. د مكي دور په لومړيو كي نازله شوې، د بحث محوري موضوع ئې د قيامت هغه هيبتناكه ورځ ده چې آثار او نښې به ئې د هر چا په څېرو كي څرگندي وي، د دې ورځي د هيبتناكو پېښو آثار هم، د الهي محاسبې د رعب او هيبت آثار هم او د هر چا د عملونو په اړه د وروستۍ پرېكړو د اصدار اغېز به هم د هر كس په څېره كي ښكاره وي، ځيني به گوري چې د ذلت، سپكاوي، وېري، خوف، ندامت او پښېمانۍ نښې به ئې په څېرو كي له ورايه ويني، د جهنم سرو لمبو ته به په ننوتو اړ شي، د جهنم د خوټېدونكې چينې د جوشو اوبو په څښلو به مجبور شي، د اغزنو بوټو داسې خواړه به ئې مخې ته كښېښودی شي چې نه خوك څوربوي او نه ئې لوږه رفع كوي، د دوی په مقابل كي به نور داسې وگورې چې په خوښو او خوشحاله څېرو كي به ئې د نعمتونو آثار وي، په لوړو لوړو جنتونو كي په جگو جگو تختونو ناست.

هغه چې د دې عالم په څرگندو آيتونو او نښو كي ئې غور ونه كړ، له هغو واضح او روښانه لارښود نښو ئې پند وانه خيست چې د دوی چارچاپېر خورې وې، نه ئې د دې آسمان په پيدايښت كي غور وكړ او نه د هغو بې شمېره ستورو چې دې پراخ آسمان په خپلې غېږ كي ساتلي، د دوی لمر ئې په خپلې غېږ كي ورته نيولی وو رڼا او تودوخه ئې وركوله، پر دوی ئې باران وراوو او د زمكي په سر د رزق او روزي په تأمين كي ئې د دوی مرسته كوله، دې ته ئې هم پام ونه كړ چې د اوښ په څېر ستر ستر حيوانات ئې ده ته رام او مسخر كړي وو، سره له خپل سترواليو او ځواكمنۍ ئې تر ځان ډېر ضعيف انسان ته غاړه ايښې وه، ورته مطيع وو او د ده خدمت ئې كاوو، دې زمكي ته ئې ونه كتل چې د ده د كور فرش ئې ترې جوړ كړی وو، دی ئې په خپلې غېږ كي نيولی وو او له خپلې سينې ئې ده ته خوندوري دانې او مېوې راټوكولې، دې دنگو دنگو غرونو ته ئې هم توجه ونه كړه چې د ده چينې، كاږبزونه او ويالې ترې رابهېدې، د دغو ټولو څرگندو نښو له ليدو سره سره ئې خپل رب ونه پېژاندو او هدايت نه شول، دوی تر حيواناتو ډېر بې عقله دي، تر دې اوښ هم، د قيامت په ورځ به د دغه اوښ خواړه ده ته وركول كېږي، اغزي به ئې خوراك وي، د اوښانو په خواړو به ئې استقبال كېږي.

د سورې په پای كي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې د دغو كمعقلو او بې شعورو مخالفينو له مخالفتونو مه تشويش كوه او مه د ستړيا او ستومانتيا احساس، خپل كار ته په ډاډه زړه ادامه وركړه، ته مُذَكِّر او پند وركوونكی يې، خپله دنده تر سره

کړه، دوی ته خپل نصیحت وکړه، هېر حقائق ورپه یاد کړه، ته د دوی د حتمي هدایت او لارښوونې مسئول نه یې، کومه سلطه او سیطره وربانديي نه لرې، الله ته به ورګرځي او هغه به ورسره محاسبه کوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡغَٰشِيَةِ ۝١ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ۝٢ عَامِلَةٞ نَّاصِبَةٞ ۝٣ تَصۡلَىٰ نَارًا حَامِيَةَۢ ۝٤ تُسۡقَىٰ مِنۡ عَيۡنٍ ءَانِيَةٖ ۝٥ لَّيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٖ ۝٦ لَّا يُسۡمِنُ وَلَا يُغۡنِي مِن جُوعٖ ۝٧

١- آیا تا ته رسېدلی دئ خبر د آ پوښونکې؟ ٢- څه څېرې به په دې ورځ وي وېرېدونکې. ٣- ستړې او ستومانه. ٤- ننوځي به سره اور کې. ٥- خړوبېرې به له یوې تودې چینې. ٦- نه به وي خوراك دوی ته پرته له اغزن بوټي.٧- نه به څوربولی شي او نه خو به د لوږې چاره کړلی شي.

١- باید وګورو چې (هاغه پوښونکې) څه ده؟ او څه به پوښي؟ له ورستیو آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې له دې پوښونکې مراد د قیامت ورځ ده، چې په هر څه به خپل وزر وغوړوي، هر څه به احاطه کړي، د هیبت اغېز به ئې په هر چا او هر څه پروت وي، نښي به ئې په هري څېرې کې راڅرګندي وي. آیا د دې ورځې له څرنګوالي خبر یې؟

٢-٣: په دې هیبتناکې ورځ کې به ځینې مخونه داسي مومې چې د سختي وېرې او خوف نښي به له ورایه په کې برېښي، سپك او ذلیل به وي، یوې بلې خوا ته منډو به سخت ستومانه کړي وي، د هغې ورځې د کړاوونو له کبله به سخت ستړي وي، د دوزخ د سرو لمبو په لیدو سره به له وېرې پوړېږي.

٤- د دوزخ په سره او تاوده اور کې به ننوتو ته اړ شي.

٥- د جهنم د خوټېدونکې چینې د جوش اوبو په څښلو به مجبور شي.

٦- ٧: د اغزنو ترخو بوټو داسي خواړه به ئې مخې ته کښېښودی شي چې نه څوك څوربوي او نه ئې لوږه رفع کوي.

دوی په دنیا کې د الله تعالی د نعمتونو کفران او ناشکري کوله، نو ځکه به اوس له ټولو هغو نعمتونو محروم وي چې په دنیا کې ئې ورکړي وو، دوی په دنیا کې د حیوان په څېر ژوند وکړ، نو خود به نن د دوی طعام هغه تریخ او اغزن بوټي وي چې اوښان ئې خوري.

د دوی په مقابل کې به نور داسې وګورې چې په خوښو او خوشحاله څېرو کې به ئې د نعمتونو آثار ګورې، په لوړو لوړو جنتونو کې په جګو جګو تختونو ناست.

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴿١٤﴾ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾

۸- په دغه ورځ به ځینې څېرې خوښې وي. ۹- راضي په خپلو هڅو. ۱۰- عالي شانه جنتو کې. ۱۱- نه به اوري هلته بېهوده وینا. ۱۲- په دې کې وي جاري چینه. ۱۳- په دې کې لوړ تختونه. ۱٤- او جامونه هري خوا ته اېښودلي. ۱۵- او په لیکه ږدول شوي بالښتونه. ۱٦- او خواره نفیس فرشونه.

۸- جنتیان به داسې مومې چې د نعمتونو آثار به ئې په ځلانده او روښانه څېرو کې له ورایه برېښي، خوښ، خوشحال او په شوندو ئې موسکا.

۹- په دنیا کې په خپلو کړو عملونو او هلو ځلو راضي او په پایلو ئې خوشحال.

۱۰- دوی به په لوړو او عالي شانه جنتونو کې وي، جنتونه به ئې هم له معنوي لحاظه لوړ وي او هم د مستوی له لحاظه، دا هم د انسان یو فطري تمایل دئ چې دنګ او جګ کور، په لوړ او مرتفع ځای خوښوي، په جنت کې به د انسان دغه تمایل هم اشباع او دغې فطري غوښتنې ته به ئې هم ځواب وویل شي.

۱۱- په هغه کې به هیڅ بېهوده خبره نه اوري، دا ځکه چې په دنیا کې ئې هم په خپله له بېهوده خبرو ډډه کوله او هم ئې له نورو نه خوښوله. او دا یو ستر الهي نعمت دئ چې انسان د داسې شریفو او درنو خلکو په منځ کې ژوند وکړي چې نه بېهوده خبره واوري او نه ئې بېهوده کار ترسترګو شي. او د یوه شریف او درونده انسان لپاره تر ټولو لوی روحي عذاب دا دئ چې د بدخولو او بدژبو خلکو په ټولنې کې ژوند وکړي او له هري خولې ګنده خبرې، دروغ، بد و رد، ښکنځلې او د خدعې او دوکې خبرې واوري.

۱۲- انسان هغه باغ او سمسوره سیمه خوښوي او خوند ترې اخلي چې چینې په کې بهېږي، جنت به همداسې ومومي.

۱۳- ۱٦: په جنت کې به په لوړو لوړو تختونو ناست وي، د رنګ رنګ څښاك جامونه به ئې هري خوا ته تیار پراته وي، د ناستې په ځای کې به ئې بالښتونه او تکیې په منظمه توګه اېښودل شوي وي، قیمتي، نفیس او فاخره فرشونه به ئې تر پښو لاندې غوړېدلي وي،

د هر یوه ژوند به د پاچایانو تر ژوند ډېر ډېر لوړ وي.

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾

۱۷- مګر نه ګوري اوښانو ته چې څنګه پیدا شوي؟ ۱۸- او آسمان ته چې دا څنګه لوړ کړی شوی؟ ۱۹- او دې غرونو ته چې څنګه نصب کړی شوي؟ ۲۰- او دې زمکې ته چې څنګه خوره شوې؟

۱۷-۲۰ هغه چې له (آخرت)، (د عملونو له مکافات او مجازات) او له (جنت او دوزخ) منکر دي، آیا خپلې شاوخوا ته ئې پام نه دئ کړی، د دغو ټولو بارزو او څرګندو مخلوقاتو د پیدایښت څرنګوالي ته ئې توجه نه ده کړې، دا چې هره شېبه ئې ترسترګو کېږي: آسمان، غرونه، زمکه او اوښان؟! مګر صحرائي عرب چې تر ټولو غوره شتمني ئې خپل اوښ وو، د دغه ستر، ځواکمن، صبور حیوان د پیدایښت په څرنګوالي ئې غور نه دئ کړی؟!! چا داسې پیدا کړی چې د ده په خدمت کې وي، ده په پراخو، وچو، بې واښو او بې اوبو دښتو کې د خپلو درنو درنو پښتو د وړلو لپاره د اوښ په څېر یوه حیوان ته ضرورت درلود، الله تعالی ورته راپیدا کړ، ورته رام او مسخر ئې کړ، داسې چې د ده یو وړوکی ماشوم کولی شي د دوی لوی کاروان هري خوا ته چې وغواړي بیایي ئې.

آیا دغه شنه آسمان ته نه ګوري چې څنګه د ده زمکه شپه او ورځ روښانه کوي، د لمر په شمول ئې ستر ستر سماوي اجرام په خپلې غېږ کې کلك نیولې، هم رڼا ورکوي هم تودوخه، په خپلو نامرئي لاسونو د ورېځو لویي لویي کتلې له یوې سیمې بلې ته وړي او په هغه ځای کې چې انسان او نور ژوي واوري او باران ته ضرورت لري، واوره او باران وروي، ستا د ضرورت وړ هوا د خپلې سینې په قفس کې درته ساتي. آیا دغو دنګو دنګو غرونو ته نه ګورې چې ستا د اړتیا وړ واوره په خپلې غېږ کې درته ساتي او ستا نهرونه، چینې او کاریزونه تږې رابهېږي او دې زمکې ته چې له خپل زړه دانې او مېوې درته راباسي؛ اوبه له آسمان اخلي، رڼا او تودوخه له لمر او په دې سره ستا د ژوند ضروري مواد د ښایسته، خوندوري، پاکې، ستره او د هضم وړ مېوې په بڼه کې تا ته وړاندي کوي، مګر له هغه هدفمنې چې د زمکې، آسمان، غرونو، حیواناتو او نباتاتو په پیدایښت کې مضمره ده، عبرت نه اخلې؟! او دې ته نه متوجه کېږي چې دا عالم عبث او بېهوده نه دئ پیدا شوی. په آخرت نه باور په دې معنی دئ چې ته دا هستي یوه بېهوده او عبث ملعبه او لوبه ګڼې،

حال دا چې د دې پراخ عالم هر توکی د دې بې بنسټه او غلط باور او انګېرنې په بطلان او غلط والي شهادت ورکوي!!

دا دئ ګورئ چې د خپلې ادعاء د اثبات لپاره د قرآن اسلوب او طریقه څنګه ده؟ او د هغو فیلسوف مآبانو له اسلوبه څومره فرق لري چې دلائل ئې غامض، مبهم او دومره پېچلي وي چې نه په خپله پرې قانع وي او نه مخاطب قانع کولی شي، مخاطب ئې نه پوهېږي چې دا له کومې نړۍ راغلی او په کومه ژبه خبرې کوي؟! د دغو برعکس قرآن داسې دلائل وړاندي کوي چې هر څوك پرې پوهېدی شي، په هغه څه استناد کوي چې د ټولو مخي ته پراته دي، ملموس او مشهود، د فرد فرد د سترګو مخي ته ولاړ؛ آسمان څنګه پیدا شوی؟ زمکه څنګه؟ غرونه او ستا په خدمت کې حیوانات څنګه؟

فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

۲۱- نو وریاد کړه چې ته یې وریادوونکی. ۲۲- نه یې ته پر دوی سلطه کوونکی. ۲۳- مګر هغه چې ئې شا کړه او کافر شو. ۲٤- نو الله به ئې په لوی عذاب تعذیب کړي. ۲۵- بې شکه چې راتګ ئې زمونږ په لور دئ. ۲٦- بیا یقیناً چې حساب ئې پر مونږ (پور) دئ.

۲۱- ۲۲: ته اې پیغمبره! یوازي یو پند ورکوونکی او وریادوونکی یې، هیڅ واك او سیطره پرې نه لرې، ستا دنده پند ورکول او تذکر ده، نه د دوی واکمن ګمارل شوی یې او نه ئې مراقب او څارن، له تا به خپل امت ته د (پند او ذکر) په اړه پوښتنه کېږي نه د دوی د ردالعمل په اړه.

۲۳-۲٦ څوك چې مخ واړوي او په دې حقیقت کافر شي، الله تعالی به ئې په ستر عذاب سره تعذیب کړي، ستا دنده دعوت او بلنه ده، له دوی سره محاسبه او سزا ورکول زمونږ کار دئ، بیا راګرځېدنه ئې زمونږ په لور ده او محاسبه ئې زمونږ پر ذمه.

الفجر

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الفجر (سباوون) دئ، چې له لومړي آیت ئې اخیستل شوی، ۳۰ آیتونه لري، آیتونه ئې لنډ لنډ، جامع او شعارونو ته ورته، ادعاء ئې پرېکنده او قاطع، غږ ئې ډېر ښکلی او خوندور، لومړي پنځه آیتونه ئې (فجر) او (عشر) ته ورته صیغو باندې پای ته رسېدلې، له شپږم تر څوارلسم آیت فواصل د عاد، عماد او عذاب هموزنه دي، د پنځلسم او شپاړسم آیتونو د پای صیغې د (اکرمن) او (اهانن) هموزنه الفاظ دي او ورپسې د اُوه لسم او اتلسم آیتونو پای د (یتیم) او (مسکین) هموزنه الفاظ، له نولسم تر درویشتم پورې فواصل د (لمّا) او جمّا) په وزن دي، څلرویشتم آیت په خپل منځ کې د (لیتني) او (حیاتي) هموزنه صیغې لري او له آخري دوو آیتونو سره هموزنه پای، د پنځه ویشتم او شپږویشتم آیتونو فواصل احد دي او د اُوه ویشتم او اته ویشتم (مطمئنة) او (راضیة). د دې سورې خلاصه دا ده: د هري شپې په پای کې سباوون دا خبره کوي چې ستا رب ظالمانو ته په کمین کې دئ او د دوی د اقتدار توره شپه به حتماً ختمويي.

د سورې له مضامینو په ډاګه معلومېږي چې د مکي دور په لومړیو کې او هغه وخت نازله شوې چې دښمن زور زیاتي ته ملا تړلې وه، په خپل زور ځواك مغرور او مسلمانان ئې پرې وېرول، الله تعالی مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چې د دغو مغرورو سردارانو د اقتدار توره شپه به ډېر ژر پای ته ورسېږي او د هغو قومونو په برخلیك به اخته شي چې تر دوی د مخه په خپل کثرت او قوت مغرور شوي وو، خپلې غولوونکې ظاهري وضعي او تمدن او پرمختللو وسلو او تجهیزاتو دوکه کړي وو، اقتدار او واکمني د دوی د فساد او طغیان لامل وو، د پیغمبرانو علیهم السلام مخالفت ته ئې ملا تړلې وه، په زمکې کې د فساد باعث او د بې وزلو په ځورولو بوخت وو، له همدې کبله الهي عذاب ناڅاپي پرې نازل شو، اقتدار ئې نسکور او ټغر ئې ټول شو. باید ډاډه وئ چې دغو ستمګرانو ته هم شدید العقاب رب په کمین کې دئ، پرېږدئ چې په غرور او بې باکۍ سره لږ نور هم مخکې ولاړ شي او هغه ځای ته ورسي چې کمین ورته نیول شوی او د الهي عذاب متروکه به ئې پر سر راپرېوځي. بیا فرمایي چې مغرور ظالمان غلط معیارونه کاروي، دنیوي مال او متاع او په جهل ځپلې ټولنې کې کاذب وجاهت او اعتبار د واقعي اعزاز او اکرام نښه ګڼي او ګمان ئې

دا دئ چې که له هري لاري دا تر لاسه کړي عزت او فضیلت ئې په برخه شوی او څوک چې ترې محروم شو، ذلیل او سپك دئ او د تحقیر او اهانت مستحق، له همدې کبله ګورئ چې د دوی په ټولني کې (یتیم) که څه هم د یوې شریفې او مخوري کورنۍ یتیم پاته شوی وي او که څه هم د دوی د خپلوانو او دوستانو یتیم وي، له نظره لوېدلی وي او څوك ورته توجه او اعتناء نه کوي، بې وزلی او مسکین سپك ګڼل کېږي، څوك ئې پروا نه کوي او یو بل دې ته نه هڅوي چې د مرستي لاس وراوږد کړي او له فقر او لوږي ئې وژغوري، میراث د ځواکمنو له خوا غارت شي او ضعیفان ترې محروم شي، له سرو سپینو زرو او له مال متاع سره افراطي مینې داسې د دوی پر زړه او دماغ خپل سیوری غوړولی چې هر ظلم او جنایت ئې ورته ښایسته کړی او هر سپك او ذلیل کار ئې د هوښیارۍ او عقلمنۍ کار ورته ګرځولی.

بیا مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چې خبره داسې نه ده لکه دغه مغرور ستمګران چې ئې انګېري، نه قیامت مني او نه الهي محاسبه او نه د ظلم د بدو پایلو سره حتماً مخامخېدل، هرو مرو به د حسیب خدای په لور درومي او هغه به ورسره محاسبه کوي، حتماً به له هغې ورځې سره مخامخ شي چې په خپلو غلطیو ئې پوه کړي، اشتباهات ئې ورپه یاد کړي او د جبران لاري به ئې لټوي، خو هغه ورځ به دا رایادونه، ندامت او پښېماني، هیڅ ګټه نه شي ورسولی، لاس پښې به ئې کلك کلك تړلي وي او د خپلو عملونو سزا به ګوري. خو هغه چې نه خپل زر او زور مغرور کړل او نه تنګسې او د مال متاع کمښت مأیوس، په ستونزو او کړاوونو کې صابر او ثابت پاته شوي، په هیڅ حالت کې ئې وېره، اضطراب او یأس په زړه او دماغ خپل سیوری نه دئ غوړولی، تل ئې په ډاډه زړه، آرامو اعصابو او سړه سینه د ستونزو مقابله کړې، د الله پېرزوینو ته هیله من او عنایت ته ئې سترګې په لاري، د دوی پایله به دا وي چې الله تعالی به له دوی او دوی به له الله تعالی راضي وي، جنت ته به ننوځي او د الله د صالح بندګانو په ډلې کې به نیول کېږي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلْفَجْرِ ۝١ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ۝٢ وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ ۝٣ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ۝٤ هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ۝٥

۱- قسم په سباوون. ۲- او په هرو لسو شپو. ۳- او په دغه جفت او طاق. ٤- او په شپې چې شي روانه. ۵- آیا دې کې به قسم وي پوهیالیو ته؟

۱-۵: په دې آیتونو کې په لاندې شیانو لوړه شوې: په سباوون، په هرو لسو شپو، په جفت او طاق او په شپې چې روانه شي.

له قسمونو وروسته دا خبره شوې: هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ : آیا پوهیالیو ته به په دې کې څه قسم او شاهد وي؟

بیا د عاد، ثمود او فرعون تباهي او هلاکت ته په دې ډول اشاره کوي: ودي نه لیدو چې ستا رب له عاد سره څه رنګ چلن وکړ؟ د ارم (عاد)، هماغه د جګو ستنو خاوند، هغه چې په ښارونو کې دوی ته ورته نه وو پیدا شوي او له ثمود سره چې په درو کې ئې تیږې وتراشلې. او له فرعون سره، آ د میخونو خاوند، هغه خلك چې په ښارونو کې ئې سرکښي وکړه. او فسادونه ئې په کې ډېر کړل. نو رب دي د عذاب متروکه پرې راپرېښوده.

او ورپسې د قسمونو ځواب په دې صیغه راغلی:

إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ

بې شکه چې ستا رب په کمین کې دئ.

په دې مبارکو آیتونو کې په څلورو شیانو د لوړې شاهد یو، راشئ وګورو چې په څه څه لوړه شوې او د قسمونو ځواب څه دئ؟ د قسمونو او ځواب تر منځ ئې ارتباط څنګه دئ؟ او د کومې ادعاء د اثبات لپاره په دې شیانو لوړه شوې؟

که لږ دقت وکړو نو متوجه کېږو چې له قسمونو وروسته په اتو آیتونو کې د دریو باغي او عاصي ډلو: عاد، ثمود او د فرعون د قوم شوم او کرغېړن عاقبت ته اشاره شوې، دا هره ډله په خپل خپل وخت کې پیاوړې، ځواکمنه او په وسائلو سنبال ډله وه، چې د فساد، ظلم او طغیان له کبله مؤاخذه شول او په الهي دردناك عذاب اخته. په ۱٤ آیت کې د یوې ډېرې مهمې ادعاء شاهد یو، چې په ټول قاطعیت او تأکید سره مطرح شوې او هغه دا چې (ستا رب حتماً په کمین کې دئ). دغه ادعاء د مخکینیو قسمونو ځواب دئ، د هغې د اثبات لپاره په دغو قسمونو او پورتنیو تاریخي مثالونو استناد شوی. د دې لپاره چې پوه شو دا قسمونه څنګه دا ادعاء اثباتوي چې ستا رب د شر او فساد ځواکونو ته په کمین کې دئ، باید لاندې خبرو ته توجه وکړو:

- د قسمونو په سر کې د الفجر (سباوون) ذکر او ورپسې لیال عشر (لسګونې شپې) او په پای کې ئې والليل اذا يسر (او په شپې چې شي روانه) دا ښیي چې په منځنیو قسمونو کې هم باید د شپې په اړه خبره شوې وي او له (الشفع و الوتر) هم باید جفت او طاق شپه مراد وي نه بل څه، د بیان له فحوی په ټول صراحت سره معلومېږي چې له سباوون هر سباوون، له لسګونو شپو د هري میاشتي لسګوني شپې او له جفت او طاق هره جفت او

طاق شپه مراد ده. د الهي بليغ کلام دقيق نظم او يووالی همدا ايجابوي، په بل څه د هغوی اطلاق، بې بنسټه او بې ځايه تعبير دئ چې هيڅ دليل ورته نه شو وړاندي کولی.

- د دغو آيتونو الفاظ عام دي، دا سمه نه ده چې تر خاص سباوون او خاصو شپو ئې محدود کړو، د آيتونو په الفاظو کې هيڅ داسي نښه نه گورو چې اختصاص ترې ثابت شي.
- د الهي کلام بلاغت دا تقاضی کوي چې د نومورو قسمونو او ورپسې تاريخي مثالونو او د قسمونو د ځواب تر منځ بايد ژور او دقيق ارتباط وي.
- ته چې هر سحر، د (شپې) د ختمېدو او د سباوون د راختو شاهد يې، هره جفت او طاق شپه گورې چې پای لري، سره له دې چې په هغوی کې د تيارې او رڼا له پلوه او د اوږدوالي او لنډوالي له پلوه او په هغوی کې د سپوږمۍ د شکل او هيئت له لحاظه تفاوت وي، خو هره يوه پای مومي او خپل ځای ورځي، رڼا او روښنايي ته پرېږدي. د هري مياشتي لسيزي گورې چې په لومړۍ کې ئې سپوږمۍ وړه وي او ورو ورو سترە شي، د شپو لومړۍ برخي ئې سوکه سوکه تر مخکې زياته روښانه وي، په منځنۍ لسيزي کې د شپو ډېره برخه روښانه او د سپوږمۍ زياته برخه څرگنده وي او په ورستۍ لسيزي کې سپوږمۍ وړه وي او رڼا ئې ضعيفه، د شپو لومړۍ برخه تياره او وروستۍ ئې نسبتاً روښانه. تر هغه چې د وروستۍ لسيزي په وروستۍ شپه کې سپوږمۍ له سترگو پټه شي، مياشت پای ته ورسي او خپل ځای بلې مياشتي ته پرېږدي. همدا راز چې هر سحر د شپې تياره زړه په رونړ فجر سره ځيري شي، د سباوون ځلانده توره د شپې په تور سر راپرېوځي، د شپې توره پرده ځيري او فجر طلوع کوي، بايد مطمئن وې چې د جهل، ظلم او فساد توره شپه به همداسي ختمېږي.

ډېره ډېره عجيبه او د حيرانتيا وړ خبره ده چې ځينو درنو مفسرينو رحمهم الله، له (فجر) او (ليال عشر) خاص اوقات او له جفت او طاق له شپو پرته نور څه مراد کړي!! ځينو له الفجر د ذي الحجې د لسمي سباوون او ځينو د جمعې د ورځي او ځينو د محرم د لومړۍ ورځي سباوون، ځينو له (لَيَالٍ عَشْرٍ) د ذي الحجې لومړۍ لسيزه، ځينو د روژې د مياشتي لومړۍ لسيزه او ځينو د محرم لومړۍ لسيزه، ځينو له جفت او طاق د ذي الحجې اتمه او نهمه، ځينو د لمونځونو جفت او طاق رکعتونه او... او... ترې مراد کړي، د جفت او طاق په اړه خو تر ۳٦ زيات توجيهات شوي!! په دغو مختلفو آراءو کې به څو اساسي ستونزي وگورئ:

- عام الفاظ ئې خاص کړي.
- دې ته ئې پام نه دئ کړی چې (لَيَالٍ عَشْرٍ) په نکره صيغه راغلي، په هرو لسو شپو ئې

اطلاق کېږي او خاصې لسې شپې ترې مرادول اصلاً صحیح نه ده.

- دلته د شپو ذکر راغلی نه د ورځو، خو دوی د روژې، ذي الحجې او محرم ورځې ترې جوړې کړې!!
- شیعه مفسرینو خو دې ته هم پام نه دئ کړی چې د دې آیت د نزول په وخت کې حسین رضي الله عنه لا پیدا شوی هم نه وو، د ده له شهادت سره به ئې څنګه او څه ارتباط وي؟!!
- د قسمونو او ځواب تر منځ ارتباط ئې له پامه غورځولی.
- داسې ئې انګېرلې چې دا قسمونه د (مُقْسَم به) په عظمت د اعتراف په توګه ذکر شوي نه د استشهاد او استناد لپاره، حال دا چې خبره برعکس ده، الله له دې ډېر ډېر لوړ دئ چې د کوم څه د عظمت لپاره په هغه لوړه وکړي، دا کار له انسان سره ښایي نه له رب العالمین سره، د قرآن قسمونه د استشهاد لپاره او د مدعی د اثبات په منظور راغلي.
- که (فجر)، (لیال عشر) او (الشفع و الوتر) خاص اوقات ونیسو، نو په هغوی باندې لوړه دا مدعی څنګه ثابتوي چې ستا رب ظالمانو ته په کمین کې دئ؟!! او دا به د فرعون، عاد او ثمود د قومونو له تباهۍ سره څه تړاو لري؟!! په داسې توجیه سره خو د الله له بلیغ کلام بې ربطه جملات جوړېږي، یووالی او دقیق نظم ئې له منځه ځي.

دا آیت (هَلۡ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ) په ډېر وضاحت سره ښیي چې په مخکینیو آیتونو کې راغلي قسمونه عقلي (دلائل) او (شواهد) دي، نه مجرد قسمونه. (عقل) ئې مخاطب کړی او وایي چې (د عقل خاوندان) ئې په حقیقت پوهېدی شي، (ذی حجر) د دغو قسمونو د مدعی حقیقت درک کولی شي. د دې قسمونو اساسي (مدعی) دا مطلب ثابتول دي چې (الله تعالی ظالمانو ته په کمین کې دئ)، د دغې مدعی د اثبات لپاره لومړی د هرې شپې په پای کې د سباوون په راختو استناد شوی او ویل شوي چې هره شپه، څه جفت څه طاق، څه د میاشتي د یوې لسیزې څه د بلې لسیزې، بالآخره د فجر په راختو پای ته رسي، همدا راز به د ظلم شپه ختمېږي او ټغر به ئې ټولېږي، د هغو لپاره چې (د عقل خاوندان) وي همدا دلیل کافي دئ، بیا په دې پسې متصل، د پورتني حقیقت او الهي سنت څو تاریخي بېلګې رااخلي او د مخاطب مخې ته ئې ږدي او همدغه ادعاء د تاریخ په پاڼو د استناد له لارې ثابتوي. دا دئ تاریخ شاهد دئ، د عاد، ثمود او فرعون پایله څه وه؟ متمدن، ځواکمن، مسلح، د زر او زور خاوند، خو ظالم، مفسد، عاصي او طاغي!! یو ئې ذات العماد (د لوړو لوړو جثو او جګو جګو بنګلو خاوند) بنګلې ئې د ضرورت لپاره نه؛ بلکې عبث، خوشې او د خپل قدرت او زور ځواک د ښودو لپاره، بل ئې ثمود چې تیږې به

ئې تراشلې او په غرونو کې ئې ځانته مجلل کورونه جوړول، درېیم ئې فرعون چې د خپلو مخالفینو په لاس پښو کې ئې مېخونه ټکوهل، نه یوازې د عادي مخالفینو، حتی د خپلې مېرمني په لاس پښو کې هم!! په دوی ټولو د الهي عذاب متروکه راپرېوتله، د دنیا له صفحې حذف شول، د دوی د هلاکت دوه اسباب وو: الف- طغیان او سرغړاوی ئې وکړ او زر زور مغرور کړل. ب: په زمکه کې د ډېر فساد باعث شول.

نو که د طغیان او فساد له کبله په مخکینیو ظالمانو الهي عذاب نازل شوی، نو اې ظالمانو! په دې پوه شئ چې ستاسو پایله هم دې ته ورته ده. په دې پوه شئ چې الله تعالی هر ظالم ته په کمین کې دئ، مهلت ورکوي خو غافل کېږي نه؛ لکه یو ښکاري چې د خپل ښکار لپاره کمین نیسي، ښکار ته موقع ورکوي چې بې باك او بې اعتناء د کمین په لوري وخوځي، په خاص وخت او ځای کې ئې مناسبه چاره کوي، همدا راز الله تعالی ظالمانو ته مهلت ورکوي، تر خاص وخت پورې ورته انتظار کوي، ظالم له خپل عاقبت بې خبره، په الهي مهلت او فرصت غولېدلی، په ظلم، فساد او طغیان کې مخکې درومي، ناڅاپه له الهي کمین سره مخامخ کېږي او د عذاب متروکه پر سر خوري.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۝٦ إِرَمَ ذَاتِ ٱلْعِمَادِ ۝٧ ٱلَّتِى لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِى ٱلْبِلَٰدِ ۝٨ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُوا۟ ٱلصَّخْرَ بِٱلْوَادِ ۝٩ وَفِرْعَوْنَ ذِى ٱلْأَوْتَادِ ۝١٠ ٱلَّذِينَ طَغَوْا۟ فِى ٱلْبِلَٰدِ ۝١١ فَأَكْثَرُوا۟ فِيهَا ٱلْفَسَادَ ۝١٢ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ۝١٣ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلْمِرْصَادِ ۝١٤

٦- ودي نه لید؛ له عادیانو سره څه وکړل ستا رب ؟ ۷- د ارم (عاد)، آ خاوند د جګو ستنو. ۸- آ چې نه وو پیدا شوي دوی ته ورته په ښارونو. ۹- او ثمود سره چې تیږي ئې درو کې وتراشلې. ۱۰- او فرعون سره خاوند د آ مېخونو. ۱۱- هغه (خلك) چې ښارونو کې ئې وکړه سرکښي. ۱۲- فسادونه ئې ډېر کړي په هغو کې. ۱۳- نو رب دي پرې راپرېښوده متروکه د عذاب. ١٤- بې شکه چې ستا رب دئ په کمین کې.

٦-۹: د تاریخ پاڼې راواړوئ، د عاد بد برخلیك ته لږ ځیر شئ، همغه (عاد اولی)، د ارم اولاد، چې نیکه ئې سام او غور نیکه ئې نوح علیه السلام وو او د الله یو زړه سواند او هوښیار پیغمبر هود علیه السلام په کې مبعوث شوی وو، هغه قوم چې هیڅ قوم ورسره سیالي نه شوی کولی، ځواکمن، متمدن او ذات العماد؛ په دوه معنی وو:

لومړۍ: جګ او دنګ قد، له پياوړو او مضبوطو مټو سره.

دوهمه: له لوړو لوړو ستنو جوړ شوي قصرونه ئې وو، دا همغه قوم وو چې په لومړي ځل ئې له تيږو جګي جګي ستني جوړول او په خپلو لوړو لوړو قصرونو کې کارول ئې اختراع کړ، قرآن د لوړو لوړو، مضبوطو او په جګو جګو ستنو ولاړو ماڼيو په جوړولو کې د دې قوم د مهارت په اړه فرمايي چې دوی به تر خپلې سلطې لاندې سيمو کې په هري لوړي داسې دنګي دنګي ماڼۍ جوړولې چې ګواکې د تل ژوند کولو لپاره ئې جوړوي نه د خپل ضرورت رفع کولو لپاره او حتی عبث، بېهوده او د خپل زور ځواک ښوونې لپاره. خو قرآن فرمايي چې د دغو دنګو دنګو ماڼيو بنسټ په ظلم او د نورو په حق تېري ايښودل شوی وو، يعني د دوی د هري ماڼۍ تر شا به د ظلم لاس وګوري، حقيقت همدا دئ چې اکثراً د جګو جګو ماڼيو خاوندان هيڅکله دا ماڼۍ د خپل لاس په تنډاکو او د خپلو خولو له حاصله نه بلکې د نورو د وينو او خولو په بيع جوړوي. دغه ځواکمن او متمدن قوم هم د ظلم او تېري لار غوره کړه، له خپل پيغمبر هود عليه السلام سره ئې مخالفت ته ملا وتړله، نو الهي عذاب ونيول، تونده سيلۍ پرې راغله اُوه شپې او اته ورځې، داسې تونده سيلۍ چې د دوی ټولې کلکې ماڼۍ ئې رانسکوري کړې، د دوی جړې ئې داسې له بېخه وايستې چې هري خوا ته د خرما د هغو ونو د ستړو په څېر خواره واره پر زمکه پراته وو چې له جړو ايستل شوې وي، مګر ودي نه ليدل چې ستا د رب عذاب څنګه د عاديانو پر سر نازل شو او هغوی ئې له کوم برخليك سره مخامخ کړل؟ دا قوم په خپل ځواك داسې مغرور وو چې قرآن له دوی په دغو الفاظو نقل قول کوي:

فَأَمَّا عَادٌ فَٱسْتَكْبَرُواْ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَقَالُواْ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ۖ أَوَ لَمْ يَرَوْاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَـٰتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾ فصلت

او عاد خو په ناحقه په زمکې کې لويي غوښتنه او جاه طلبي وکړه او وئې ويل: څوك به تر موږ زيات قوي او ځواکمن وي؟ آيا دې ته ئې پام ونه کړ چې هغه الله تر دوی ډېر قوي دئ چې دوی ئې پيدا کړي او زموږ له آيتونو ئې انکار کاوو.

که دا قوم له خپل هغه مادي پر مختګ، برلاسۍ، ترقي، تمدن، قوت او ځواکمنۍ چې هيڅا ورسره سيالي نه شوی کولی، خو د فساد، طغيان، ظلم او له پيغمبرانو عليهم السلام سره د مخالفت له کبله له هغه دردناك برخليك سره مخامخ شو او د ټولو متمدنو ظالمانو او ستمګرانو لپاره د عبرت وسيله شول اوسني ستمګران بايد د دغه قوم د بد برخليك په هنداره کې خپل برخليك او راتلونکی وګوري، د دوی د ظلم توره شپه به هم پای ته رسي او

الهي عذاب به ئې رانيسي.

ثمودیان هم چې د سام بن نوح علیه السلام د اولاد یوه څانګه او صالح علیه السلام په دوی کې مبعوث شوی وو، نه قبیلې ئې وې، په فساد اخته او زعامت ئې د نهو مفسدو سردارانو په لاس کې، په وادي القرى کې اوسېدل، د غرونو د ډډې لوی لوی کمرونه به ئې تراشل او په هغو کې به ئې ځان ته مجلل کورونه جوړل. له دې او نورو آیتونو معلومېږي چې په ډېرو کې داسې مجلل کورونه جوړول په لومړي ځل د دغه قوم په لاس پیل شوي، د دوی د تمدن آثار تر ننه پاته دي. دغه قوم هم طغیان وکړ، په الهي عذاب اخته شول، په مرګ محکوم شول او هغه مجلل کورونه ئې د نورو لپاره د عبرت درس شو.

۱۰- په دې اړه چې له اوتاد (میخونو) مراد څه دئ چې فرعون او فرعوني نظام پرې مجهز وو، د مفسرینو تر منځ څو آراء مومو:

الف: مراد ئې هغه میخونه دي چې فرعون به د نظام مخالفین پرې تعذیبول او د دوی په لاس پښو کې به ئې ټکوهل. نه یوازې خپل عادي مخالفین، بلکې حتی په خپلې ښځې ئې هم رحم ونه کړ، هغه چې پر موسی علیه السلام د ایمان په جرم ئې هومره وکړوله چې په لاس پښو کې ئې ورته د اوسپنو میخونه ټکوهل، خو دغه باایمانه میرمن د تعذیب په همدې سخت حالت کې نه یوازې په خپل ایمان ټینګه او ثابته پاته شوه بلکې ویل ئې: اې زما ربه! په خپلې خوا کې؛ په جنت کې راته کوم کور را، له فرعون او کړنو ئې ما وژغوره او له دې ظالم قوم نجات را.

ب: یا ئې مراد د فرعون د فوځ هغه ښپل ښپل قطعات دي چې د فرعوني نظام د خیمې لپاره ئې د میخونو حیثیت درلود او له رانسکورېدو ئې مخنیوی کاوو.

ج- او یا په دې میخونو سره د فرعون هغو لښکرو ته اشاره شوې چې کله به کومې سیمې ته ولاړل، ځای په ځای به شول او خپلې خیمې به ئې ودرولې، پراخه سیمه به ئې په میخونو ډکه کړه.

وګورئ هغه فرعون چې طغیان او سرکښي ئې هغه ځای ته رسېدلې وه چې د خپلو مخالفینو په لاس پښو کې ئې د اوسپنیزو میخونو له ټکوهلو هم ډډه نه کوله، پایله ئې څه وه او له کوم برخلیك سره مخامخ شو؟!! هغه غربیان چې نن پر عیسی علیه السلام د ایمان دروغجنه دعوی کوي، پلرونو ئې د عیسی علیه السلام د بې وزلو پلویانو په لاس پښو کې همداسې د اوسپنو میخونه ټکوهل، د افغانانو او هغو خلکو لپاره چې کمونستان پرې مسلط شوي، داسې سزاوي د حیرانتیا او تعجب خبره نه ده؛ کمونستانو هم خپل مسلمان مخالفین د نوکانو په ایستو، د بدن نازکې برخې په سکروټو او سرو تېلو داغلو، د ګوتو

بندونو کې ستني ورمنډلو، برقي شوکونو... کړول.

۱۱-۱۲ هغه قومونه چې دوې ځانګړتیاوې ئې وې:

- طغیان او سرکښي ئې کوله، خپل زر او زور مغرور کړي وو.
- په زمکې کې ئې فساد خورولو.

هغه چې کبر او لویي ئې کړې، نور ئې حقیر او ذلیل ګڼلي، انساني حدود ئې تر پښو لاندي کړي، د الله په وړاندي ئې طغیان او عصیان کړی، تر خپلې سلطې لاندي سیمو کې ئې فساد خور کړی، د دوی له تېري نه د خلکو سر او مال خوندي او نه ئې عزت او ناموس مصون وو، نه ئې په بې وزلو زړه سوی کړی او نه ئې د اخلاق، ترحم او عاطفې په نامه څه پېژندل او نه ئې له الله تعالی وېره وه، وګورئ چې د دوی د فساد او طغیان پایله څه وه؟

۱۳- ۱٤: ستا د رب د عذاب متروکه ئې پر سر راپرېوته، نو اې ستمګرانو! اې د شر او فساد مغرورو ځواکونو! په دې پوه شئ چې ستاسو د طغیان او فساد پایلې له دې پرته بل څه نه شي کېدی، د منتقم خدای متروکه به خامخا ستاسو پر سر هم راپرېوځي.

قرآن چې له دغو تاریخي پېښو کومه نتیجه راباسي او دا ئې نتیجه ګڼي چې ستا رب ظالمانو ته په کمین کې دئ، له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې په فجر، لسګونو شپو، جفت او طاق شپو او د هرې شپې په پای ته رسېدو له لوړي هم دغه پورتنۍ نتیجه راباسي او دا خبره راته مزید توضیح کوي چې له دغو قسمونو همغه څه ثابتول په نظر کې دي چې دغه تاریخي قصې ئې ثابتوي. یعني که د قرآن کوم مخاطب ته د دغو قسمونو موخه مبهمه پاته شوه، له کومې اشتباه سره مخامخ شو او د هدف او مقصد له پوهېدو ئې عاجز شو، نو دا قصې او ترې اخیستل شوې نتیجه به د دوی مرسته وکړي، تشویش به ئې رفع او پوښتنو ته به ئې ځواب ووایي. د قرآن د ټولو قسمونو په اړه باید دې ته ورته چلن وشي، لومړی باید په مخکې وروسته آیتونو کې، بیا په ټوله سوره کې او بیا په ټول قرآن کې د هغوی په مطلب د ښه پوهېدو هڅه وکړو، له تفسیر بالرأی ډډه وکړو او له داسې تعبیر او توجیه ځان وساتو چې د سورې له مضامینو او د بحث له اصلي موضوع سره هیڅ اړخ نه لګوي. داسې لکه دلته چې د نوموړو تاریخي قصو په رڼا کې په فجر او شپې د لوړي موخه او هدف مور ته مزید راڅرګندوي او په هدف ئې ښه پوهېدل مور ته آسان کوي، دلته له قسمونو وروسته قصې راغلې او د دواړو په پای کې مخاطب ته ویل شوي چې د طغیان او فساد توره شپه به خامخا پای ته رسي، لکه څنګه چې په هرې شپې پسې ورځ راځي، همداسې به د ظالمانو د طغیان او فساد په توري شپې پسې د بې وزلو د نجات

ورځ راځي، د ظلم، جهل، شرك او كفر تياره شپه به خپل ځای د عدل، انصاف او توحيد رونړ فجر ته پرېږدي، تاريخ په دې حقيقت شهادت وركوي، مگر ودي نه ليدل چې ستا رب له عاد سره څه وكړل؟ له ثمودیانو سره ئې څه وكړل؟ د مېخونو خاوند فرعون او فرعونیانو سره ئې څه وكړل؟ مگر دوی ټول د خپل ظلم او طغیان په پای كې په ستر الهي عذاب اخته نه شول؟ دا د ظلم توري شپې ښايي يوه له بلې څه توپير ولري، توروالی او خوروالی ئې، د سپوږمۍ د رڼا ضعف او قوت ئې، كم او زيات وي، خو د ټولو پايله يوه ده، سپين سباوون ئې تور ټغر ورټولوي. (بې شكه چې ستا رب په كمين كې دئ)، همدا دپورتنيو قسمونو نتيجه او د دغو تاريخي قصو خلاصه ده.

(مرصاد) هغه كمينځي ته وايي چې ښكاري ئې د دې لپاره جوړوي چې خپل ښكار په لومي كې واچوي، ښكار ئې (له كمين غافل) په بې باكۍ او بې اعتنائي دروميِ او ناڅاپي په دام كې لوېږي، الله تعالى هم دغسي ظالمانو ته په كمين كې دئ، مهلت وركوي، تر خاصې نېټې ورته انتظار كوي، ستمگران چې د خپل ظلم له پايلو بې خبر او په بې باكۍ او جسارت مخكې دروميِ، الهي مهلت غولولي، په طغيان او سركښۍ كې له وروستيو پولو هم د تېرېدو تكل كوي، خو ناڅاپه له الهي كمين سره مخامخ شي او د عذاب متروكه په سر وخوري.

فَأَمَّا ٱلْإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكْرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾
وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَهَٰنَنِ ﴿١٦﴾

۱۵- نو دا انسان چې كله ئې خپل رب وآزمويي او عزت او نعمت وركړي، نو وايي به چې رب مي عزت راكړ. ۱٦- او چې كله ئې بيا وآزمويي (داسي) چې روزي پرې كړي محدوده، نو وايي به چې خدای مي اهانت كړم.

۱۵-۱٦: دا طاغي او مفسد انسان داسي دئ چې په خپلو قضاوتونو كې تل مادي معيارونه كاروي، كه الله تعالى ئې د اعتبار او عزت خاوند كړي، مال او دولت وركړي، جاه، جلال او اقتدار ئې په برخه كړي، په ولس كې وجاهت، رسوخ او نفوذ تر لاسه او په نعمتونو ئې ونازوي نو گمان كوي چې حقيقي عزت او سرلوړي ئې تر لاسه كړې، حال دا چې الله تعالى دا پېرزويني د ده د (اكرام) او (اعزاز) لپاره نه بلكې د ابتلاء او آزمويني لپاره ده ته وركړې او كه په بل حالت ئې وآزمويي، رزق او روزي پرې تنگه او محدوده كړي، په تنگسې ئې وآزمويي، نو وايي به: رب مي په سپكه راته كتلي او زه ئې اهانت كړی يم، په داسي حال

کې چې دا حالت، د ده د اهانت او سپکاوي لپاره نه بلکې د ده د ابتلاء او آزمويلو لپاره ئې پرې راوستی، دا دواړه حالتونه د ابتلاء او آزمېښت لپاره دي، اشتباه مه کوئ، په رزق کې پراخوالی د خپلو عملونو بدله مه ګڼئ او تنګوالی ئې سپکاوی او الهي اهانت مه شمېرئ، دواړه د آزمېښت لپاره دي، کله دي الله تعالی د مبارزې په سنګر کې آزمويي، کله د اقتدار په حالت او په (قصر) کې، ت د دې لپاره چې ولیدی شي د رزق او روزي د پراخوالي او د امکاناتو د وفرت او کثرت په وخت کې د خپل رب د پېرزوينو شکر کوې او که برعکس دا ستا د کبر، غرور، سرکښي او طغیان باعث ګڼري او کله چې ئې ستا رزق درته محدود کړ آیا په خپل محدود رزق قانع او راضي وې او د الله تعالی شکر په ځای کوې، شکوه او شکایت نه کوې، د رزق د لاس ته راوړو حرامي لاري نه لټوې؟ یا برعکس پر حلال رزق د قناعت او اکتفاء په ځای حرامو ته لاس غځوې او حرامي لاري غوره کوې؟

د قرآن له نظره دا یوه ستره اشتباه او خاطئ قضاوت دئ چې څوک د یوې طاغي او مفسدي ټولني مادي پرمختګ او سوکالي معیار وګڼي او د امکاناتو وفرت او کثرت ئې د هغې د وړتیا او ښه والي نښه ونیسي او دې ته ئې پام نه وي چې دا امکانات ئې له کومي لاري تر لاسه کړي!! ډېر کمعقله کسان همداسي قضاوت لري، د غرب مادي پرمختګ او د غربیانو مرفه ژوند د دوی د ښه والي نښه ګڼي او دې ته پام نه کوي چې غرب د بې وزلو آسیایي او افریقایي ملکونو د غارت له لاري دا امکانات تر لاسه کړي، د دوی د رفاه لپاره د دې هېوادو مظلوم وګړي قرباني شوي. قرآن د دغه غلط او خاطئ قضاوت لامل داسي بیانوي:

كَلَّا ۖ بَل لَّا تُكْرِمُونَ ٱلْيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿١٨﴾ وَتَأْكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾ وَتُحِبُّونَ ٱلْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾

۱۷- نه؛ داسي نه ده؛ بلکې نه کوئ عزت د یتیمانو. ۱۸- او نه هڅوئ یو بل په اطعام د مسکینانو. ۱۹- او د بل د میراث برخه خورئ په زښت زیات خوړلو. ۲۰- او مینه کړئ له مال سره، مینه ډېره کلکه.

۱۷- داسي نه ده لکه تاسو چې انګېرلې، دا د عزت او سپکاوي معیارونه نه دي، چا ته چې الله تعالی پراخ رزق ورکړی دا په دې معنی نه ده چې الله تعالی ورته عزت ورکړی او د چا روزي چې ئې محدوده کړې نو هغه ئې توهین کړی، دا خو ستاسو هغه غلط قضاوت دئ چې ستاسو له خپل ناسم اجتماعي حالت راخوټېدلی، ستاسو په ټولني کې چې څوک بې

وزلی، کمزوری او له خپلې دفاع عاجز وي، نو له نظرونو لوېدلی وي، څوك ورته اعتناء نه کوي او له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم وي، دغه حالت په تاسو کې دا غلط ذهنیت او قضاوت راولاړ کړی، ستاسو په ټولنې کې هیڅوك د یتیم درناوی او احترام نه کوي، تر هغې ورځې چې پلار ئې ژوندی وو، حامي او مدافع ئې درلود، هغه به دي په غېږ کې نیولو، په مخ تندي به دي ښکلولو، د ده پر سر به دي د مهربانۍ لاس راښکو، خو اوس چې ضعیف اوناتوان دئ، حامي او مدافع نه لري، نو نه یوازي څه اعتناء او التفات ورته نه لرې بلکې مال ئې غصبوې، په حق ئې تېرى کوې، که څه هم دا (یتیم) د هغه چا اولاد دئ چې ستا دوست او خپلوان دئ، د هغه په ژوند کې دي ورته احترام درلود او د ده د دوستۍ ډېره دي په سینه وهله، ستاسو دا (قضاوت) له دغه وضعیت خړوبېږي، د دې (مادي قضاوتونو) جړې باید ستاسو په (بد اجتماعي وضعیت) کې ولټوو، په هغې ټولنې کې چې یتیم تحقیر او توهین شي او سپك وګڼلی شي او حقوق ئې ترپښو لاندي شي، طبیعي ده چې هلته به (قضاوتونه) همداسي وي!!

۱۸- تاسو بخیلان یئ، عاطفه، زړه سوی او ترحم مو ځپل شوي، نه د یتیم په اړه زړه سوی او ترحم درکې پاته دئ او نه د مسکین په اړه عاطفه او مهرباني، نه د یتیم عزت کوئ او نه مسکین ته یوه مړۍ ډوډۍ ورکوئ، د بې رحمو، قسی القلب او بخیلو خلکو قضاوت به خود همداسي وي.

۱۹- تاسو چې د میراث په وېش کې بې عدالتي کوئ، زورور او خوله ور ټول میراث غصب کړي، د کمزورو وارثانو حق وخوري او له خپلو ټولو حقوقو ئې محروم کړي، له مړي پاته شتمنۍ ټولې د ځان کړي، د دې پروا ورسره نه وي چې دا نور هم د ده نژدې خپلوان دي، د دې په ځای چې د خپلې برخې له میراث له بې وزلو او غریبو خپلوانو سره مرسته وکړي، برعکس د دوی مسلم حق خوري!! نو د دې خلکو قضاوت به خود داسي وي.

۲۰- له مال دولت سره افراطي مینه، د دې غلط قضاوت بل لامل دئ.

په دې آیتونو کې د دوی د غلط قضاوت څلور اصلي عوامل په ګوته شول: یتیم ته اعتناء نه کول، یو بل مسکینانو ته د مرستې لپاره نه هڅول، د میراث بې درېغه خوړل او له مال دولت سره افراطي مینه. ستاسو ټولنه په دغو خطرناکو بیماریو اخته ده او په تاسو کې ئې دا غلط او ناسم قضاوت راپارولی.

كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾

۲۱- نه؛ داسي نه ده؛ هغه وخت چې په ټکولو، ټکولو اواره کړی شي زمکه. ۲۲- او

رابه شي ستا رب او وي به فرشتې ليکه په ليکه.

۲۱- خبره داسي نه ده لکه چې تاسو انګېرلې، ستاسو د غلطو انګېرنو حقيقت به هغه وخت ښه څرګند شي چې قيامت د زمکې په درنو درنو جټکو او لړزېدو سره پيل شي، لوړې ژوري ئې له منځه ولاړې شي، په پراخ آوار ډاګ بدله شي، ټول انسانان له خپلو خپلو قبرونو راپورته شي، ټول د الله تعالى د قضاوت په وړاندي ودرېږي او الهي محاسبه پيل شي.

۲۲- د دې مبارک آيت په وړاندي بايد لږ توقف وکړو او د هغو الفاظو په معنى ئې ځان ښه پوه کړو چې غور غواړي، په دې اړه لاندي ټکيو ته ستاسو توجه رااړوم:

- قرآن دا عالم په دوو برخو وېشي: (مشهود) يعني هغه څه چې انسان ئې په خپلو حواسو ليدى او درک کوى شي او (غيب) يعني هغه څه چې د انسان له نظره پټ دي او په خپلو حواسو ئې نه شي درک کولى. د انسان ژبه، فرهنګ او قاموس له هغو نومونو او الفاظو جوړه شوې چې ده د (مشهود) شيانو لپاره وضع کړي، دا نومونه او الفاظ د هغه څه له بشپړې معرفې عاجز دي چې د (غيب) په محدوده کې دي، قرآن د انسان په ژبه نازل شوى، د غيبي حقائقو د معرفې لپاره ئې هم د انسان د ژبې هغه الفاظ کارولي چې په اصل کې انسانانو د مشهود شيانو لپاره وضع کړي، خو قرآن دلته د تشبيه فن کارولى او له دې لارې ئې د غيبي حقائقو فهم خپل مخاطب ته آسان کړى، د قرآن هغه آيتونه چې د تشبيه فن په کې کارول شوى او د (مشهود) شيانو لپاره وضع شوي الفاظ ئې د (غيبي) حقائقو لپاره راوړي، دې ته آيات (متشابه) وايي او هغه چې د (تشبيه) فن په کې نه دئ کارول شوى (محکم) آيتونه بولي.
- په دغو مواردو کې راغلي الفاظ به په متبادره او متداوله معنى نه نيسو او هغه انتباه به ترې نه اخلو چې د مشهود شيانو په اړه ئې ترې اخلو.
- په دې آيت کې د (جاء) لفظ راغلى، مور په خپلو محاوراتو کې او د مخلوقاتو په اړه دا لفظ له يوې نقطې بلې ته د تګ لپاره کاروو، خو له دې لفظ د الله تعالى په اړه همدغه متداوله معنى نه شو اخيستى، د الله تعالى د راتګ څرنګوالى هيڅ مخلوق ته ورته نه دئ، الله تعالى نه په خپل ذات کې کوم مخلوق ته ورته دئ او نه په خپلو افعالو کې، د قيامت په ورځ به الله تعالى راځي، خو دا راتګ په مخلوقاتو کې د متداول او متبادر راتلو په معنى نه دئ.
- په داسي مواردو کې هم بايد له تأويل ډډه وکړو، هم له تشبيه او تمثيل او هم په بله معنى د لفظ له تعبير او توجيه، داسي نه چې ووايو: د (جاء) معنى ظاهرېدل دي، همدا

راز سمه نه ده چې ووايو الله تعالى به له يوه ځای بل ځای ته راځي، د عرش، کرسي، يد، اصابع، سمع، بصر، جاء، نزل، اخذ، اعطى او دې ته ورته کلمات به هم نه تأويل کوو، دا ځکه چې په تأويل ئې له الله پرته بل څوك نه پوهېږي او نه به ئې په متبادري او متداولې معنى اخلو، دا ځکه چې داسي کار له مخلوق سره د الله تعالى په تشبيه کولو منتج کېږي. دا الفاظ به په خپله کاروو او تأويل به ئې الله ته محول او مفوض کوو.

دا بيان او الفاظ ئې د دې لپاره راغلى چې د قيامت د ورځې د الهي محاسبې څرنګوالى انسان ته د فهم وړ وګرځي، په حقيقت ئې تر زيات نه زيات پوه شي او دا مفهوم ئې ذهن ته نږه رانږدې کړى شي چې د قيامت په ورځ به ټول خلك د الله تعالى په وړاندي ودرېږي، فرشتې به صف صف منظمي ولاړي وي، داسي لکه په يوه مجلل دربار کې چې کوم واکمن راخرګندېږي او د تشريفاتو د قطعې فوځيان دواړو خواوو ته منظم په ليکه ولاړ او دربار د ده د استقبال لپاره سترګې په لار وي.

په دې پوهېږئ چې ټول الهي کتابونه او قرآن دا بليغ الهي کلام، د انسانانو په متداولو الفاظو نازل شوي، د انسان د فهم محدوده په کې مراعات شوې، د انسان فهم محدود دئ، الفاظ ئې هم قاصر او محدود، دا الفاظ کولى شي د الله تعالى ځينې صفات څه ناڅه معرفي کړي، خو د الله تعالى د ذات له معرفې عاجز دي، اسلام تا ته وايي چې د الله تعالى د غوره صفاتو او لوړو افعالو په اړه نږه او ترکومه چې کولى شې غور وکړه، خو د ذات او افعالو د څرنګوالې په اړه ئې د فکر کولو هڅه مه کوه، نه د الله تعالى ذات پېژندا ستا د وس او توان خبره ده او نه ئې د افعالو څرنګوالى. د انسان استعدادونه هومره ضعيف او کمزوري دي چې د يوې نازکې پردې او دېوال تر شا چې څه تېرېږي پرې نه پوهېږي، د ده په فضاء کې د غږ بې شمېره څپې خورې وي خو دى ئې نه اوري، د نړۍ د ګڼ شمېر راډيوګانو او تلويزيونونو څپې خوځي، د ده تلويزيون او راډيو ئې رااخيستى شي، خو دى ئې په خپلو سترګو او غوږونو له دغو وسائلو پرته نه ليدى شي او نه اورېدى، ستا فضاء د جاذبې د قوې له امواجو ډکه ده خو ته ئې له ليدو عاجز يې، ستا د ليد توان او ستا د درك او احساس محدوده ډېره تنګه ده، څوك چې الله تعالى له داسي څه سره تشبيه کړي چې دى ئې په خپلو کمزورو او محدودو حواسو درك کوي، په حقيقت کې ئې خپله پښه له خپل حد آخوا غځولې او بېهوده کار ئې کړى.

وَجِاْیٓءَ یَوْمَىِٕذِۭ بِجَهَنَّمَ ۚ یَوْمَىِٕذِۭ یَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَـٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ یَقُولُ یَـٰلَیْتَنِی قَدَّمْتُ لِحَیَاتِی ﴿٢٤﴾ فَیَوْمَىِٕذِۭ لَّا یُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا یُوثِقُ

وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾

٢٣- او دوزخ به راوستى شي په دې ورځ او وریاد به شي انسان ته په دې ورځ، خو له کومه به ئې وي پند اخیستنه؟ ٢٤- وایي به: ای کاش چې څه مي کړي وی دغه خپل ژوندون ته. ٢٥- نو هیڅوك به په دې ورځ، د ده عذاب ته ورته، کړول نه شي کولی. ٢٦- او هیڅوك به د ده کلك تړلو شانته، کلك تړل نه شي کولی.

٢٣- د (جهنم د راوستو) په څرنګوالي اوس مور نه شو پوهېدی، قرآن د دې په ځای چې ووایي جهنم به (راڅرګند) شي او یا دوزخیان به د جهنم په لوري بوتلی شي، د جهنم د راوستو خبره کوي، په بل ځای کې هم دې ته ورته الفاظ کاروي او فرمایي:

وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾ الشعراء

او جنت به متقیانو ته نژدې راوستى شي او جحیم به بې لارو ته څرګند کړی شي.

ښایي (جنت او جحیم) به له بل ځای د جنتیانو او دوزخیانو د اقامت محل ته راوړلی شي، لکه څنګه چې په دې حدیث کې ورته اشاره شوې:

عن عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَال رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَام، مَع كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْف مَلَك يَجُرُّونَهَا» رواه مسلم

له عبدالله بن مسعود روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: جهنم به راوړلی شي اویا زره واګي به ئې وي، له هري واګي سره اویا زره فرشتې چې راکشوي به ئې.

او یا په دې الفاظو سره دوزخیانو ته ویل شوي: هغه څه چې تاسو په دنیا کې د خپلو کړنو له کبله ورروان وئ، دا دئ نن هغه په خپله ستاسو خوا ته راځي او ستاسو مخي ته ودرېږي او دروازې ئې ستاسو پر مخ پرانیستل کېږي.

په هغه ورځ به انسان خپله ماضي او ټول تېر کړه وړه په یاد راوړي، پرې نادم او پښېمانه به وي، خو دا رایادونه او ندامت به څه ګټه نه شي ورسولی.

٢٤- د جهنم په لیدو سره به وایي: ای کاش د دغه اصلي ژوند لپاره مي څه بندوبست کړی وی او ای کاش داسي صالح عمل مي وی چې نن ئې د دوزخ له عذاب ژغورلی وی.

٢٥- هغه ظالمان چې خپل مخالفین به ئې په ډول ډول عذابونو کړول، تر دې چې په پښو او لاسونو کې ئې مېخونه ورټکوهل او د اور په کندو کې ئې غورځول، نن به په داسي ستر الهي عذاب اخته وي چې څوك ئې تصور هم نه شي کولی.

۲۶- که تاسو خپل مخالفین په وېروونکو او مخوف زندانونو کې اچوئ، د اوسپنو په قفسونو کې، په لاس پښو کې ئې زنځیرونه او زولنې، اړیکې ئې له هر چا سره شلوئ او د تېښتې ټولې لارې پرې ټرئ، خو دا نه شئ کولی چې ژوندۍ روحیه ئې په قید او بند کې واچوئ او مړاوې ئې کړئ، د آزاد ذهن چاره ئې نه شئ کولی، ډېر ئې داسې ګورئ چې اکثراً د خیال په عالم او د رؤیا په نړۍ کې د زندان له حصارونو ووځي او د راحت احساس کوي او ډېر نور ئې داسې چې په زندان کې هم د عزت او سرلوړۍ احساس کوي، د زندان قید او بند ئې ژوندۍ روحیه تراغېز لاندې نه شي راوستی، ډېر صابر او ثابت قدم مبارزین ګورو چې د زندان تیاره قفسونه ئې نه عزم ماتولی شي او نه ئې راتلونکې ته هیلې مړاوې کولی شي، د زندان په تنګو او تیارو خونو کې راضي وي، نه یوازې هلته د عزت او سرلوړۍ احساس کوي بلکې له زندان د مبارزې تود سنګر جوړوي، هغه د ځان لپاره یوه مدرسه ګڼي. یوسف علیه السلام کلونه کلونه په زندان کې تېروي، خو په پای کې کله چې د مصر د پاچا قاصد ورته راځي او د پاچا دا پیغام ورته راوړي چې لیدو ته ئې منتظر دئ، د رد ځواب ورکوي او وایي: خپل بادار ته دې ببرته ورشه، ورته ووایه: زما په اړه هغه اتهام څنګه شو؟ هغه ښځې چې خپل لاسونه ئې د مېوو په چړو پرې کړل، څنګه شوې؟

ظالمانو! په دې پوه شئ چې د قیامت په ورځ به د الله تعالی (ټرل) داسې سخت وي چې هیڅوک ئې اوس تصور هم نه شي کولی، د دوزخ په سر پوښلو قفسونو کې، په غاړه، لاس پښو کې اوړده اوړده زنځیرونه، په ستنو پورې ټرلې، د تېښتې ټولې لارې پرې بندي، روح او ذهن به ئې هم په داسې قید کې چې د خیال او خوب په عالم کې هم یوه شېبه د آزادۍ او آرامۍ احساس ونه کړی شي، ته خو یوازې د خپل بې وزلې دښمن جسد په زندان کې واچوې او لاس پښې ئې په زنځیرونو وروټرې، خو د ده روح نه شې زنداني کولی، خو الله تعالی به د دوزخیانو روح هم په قید کې واچوي.

يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾ فَٱدْخُلِى فِى عِبَٰدِى ﴿٢٩﴾ وَٱدْخُلِى جَنَّتِى ﴿٣٠﴾

۲۷- آی اې ډاډه نفسه! ۲۸- د خپل رب په لوري ګرځه ته راضي شوی، له تا راضي شوی. ۲۹- نو زما په بندګانو کې شامل شه. ۳۰- او جنت ته مي داخل شه.

۲۷-۳۰: قرآن، انساني نفس درې ډوله ګڼي او داسې ئې معرفي کوي:

- لوامه نفس: هغه نفس چې انسان په خپل بد کار کې ملامتوي، د ګناه په هر هغه کار

کې پرې اعتراض کوي چې انسان ئې کولو ته ملا تړي.

- امارة بالسوء نفس: هغه چې انسان بدو کارونو ته هڅوي، د ګناه هر کار، هر ناولی او کرکجن عمل، ظلم او د بل په حق تېری ورته ښایسته کوي او تر سره کولو ته ئې تیاروي.
- مطمئنه نفس: مطمئن، ډاډه، آرام، قانع او راضي نفس، هغه چې سمه لار ئې غوره کړې، حقیقت ئې پېژندلی، زړه ئې پرې ډاډه شوی، نه د حقیقت په پېژندو کې مضطرب او پرېشان وي او نه ئې په متابعت او پلي کولو کې، هیڅ حالت ورته شك او شبهه نه شي پیدا کولی، په خپل جائز حق قانع او راضي وي.

قرآن فرمایي چې دا د زړه ډاډ او اطمئنان او د روح سکون او آرامښت یوازي د الله تعالی په ذکر سره تر لاسه کېدی شي.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ الرعد

هغه چې ایمان ئې راوړی او د الله په ذکر سره ئې زړونه ډاډه کېږي، پام چې د الله په یادولو سره زړونه ډاډه کېږي.

مطمئن نفس همغه دئ چې رابطه ئې له خپل رب سره ټینګه ساتلې، زړه ئې د الله په یاد سره ډاډه کېږي، د الله تعالی په پرېکړو راضي او قانع وي او خپل خیر په هغه کې لټوي، څوك چې خپل رب نه پېژني، خپله رابطه ئې له الله تعالی سره شلولې، تل په وېرې، اضطراب او پرېشانۍ کې ژوند کوي، نه ئې زړه ډاډه وي او نه ئې روح آرامه، اضطراب او پرېشاني به حتماً د هغه روح او زړه په برخه وي چې خپل رب ئې هېر کړی، دا اوس تاسو په غربي ټولنو کې ګورئ چې هري خوا ته او د هر چا په څېره کې د ژور اضطراب او ناآرامۍ نښې له ورایه ښکاري، د غربي ټولني اکثر وګړي له خوب راوړونکو او مسکن دوا پرته خوب نه شي کولی، غواړي په شراب، چرس، سګریټ، هیروئین، موروفین او نورو مخدره موادو خپل روحي اضطراب علاج کړي او څو شېبې خپل ناآرامه زړه ته کاذب ډاډ او سکون ورپه برخه کړي، ورو ورو ئې کار هغه ځای ته ورسېږي چې له سخت روحي اضطراب د نجات لپاره ځان وژني ته ملاتړي، دا پراخي ځان وژني چې په هر غربي هېواد کې ئې ګورو او حکومتونه ئې له مخنیوي عاجز او راتلونکي ته سخت پرېشانه، ټول په خدای له عدم باور او له الله سره د خپلو اړیکو د شلولو نتیجه ده، دا ځان وژني ښیي چې غربي تمدن، افکار، عقائد، د ژوند طریقه او اسلوب ئې د انسان له سالم فطرت سره اړخ نه لګوي، نه شي کولی انسان ته روحي آرامي او د زړه سکون ورپه برخه کړي، په دې غیر فطري او په الحاد او بې دینۍ ولاړ تمدن کې انسان د اضطراب او پرېشانۍ احساس کوي، روح ئې ناآرامه، هیڅ څه ئې نه شي ډاډه کولی، زغم، حوصله، صبر او استقامت نه شي

ورکولی، د معمولي کړاو په نتیجه کې له ژوند بې زار شي، یا مخدره موادو ته پناه وړي او یا ځان وژني ته. دا ولې آسیایي او افریقایي انسان په سختو سختو ستونزو او کړاونو کې، په فقر او لوږې کې، په ژوند راضي وي او له کړاوونو د نجات لپاره ځان وژني ته پناه نه وړي، په یوه ستر آسیایي هېواد کې په یوه کال کې دومره کسان ځان وژنه نه کوي لکه چې د غربي هېوادونو په یوه یوه ښار کې چې تر دې په کمه موده کې ځان وژني کېږي، دا ولې؟ آیا د دې لپاره کومه بله توجیه موندلی شو؟ آیا له دې پرته بل څه ویلی شو چې هلته زړونه له ایمان تش شوي او دلته پر خدای باور په یوه او بله بڼه کې شته!! مخدره او نشه یې موادو ته د پناه وړلو اصلي او بنیادي وجه روحي اضطراب دئ، په دې خطرناکې بیماریې هغه څوک اخته کېږي چې له روحي سکون محروم وي، د دې بیماریې علاج له دې پرته په بل څه نه شي کېدی چې انسان بېرته الله ته وروګرځي، له الله تعالی سره خپلې شلېدلې اړیکې ټینګې کړي. عظیم الشأن قرآن دلته د جنت مستحق مؤمن بنده د نفس مطمئنة په نامه یادوي او په دې سره مور ته لارښوونه کوي چې فقط ایمان کولی شي انسان ته ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کړي، ایمان د انسان روح ته سکون او زړه ته ئې ډاډ ورکوي، عقل ئې قانع کوي، پوښتنو ته ئې ځواب وایي، په ټولنې کې ئې عدالت راولي او له اضطراب او پرېشانۍ ئې ژغوري.

يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ: اې مطمئن او ډاډه نفسه! (ٱرْجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ) د خپل رب لوري ته وګرځه، (رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً: په خپله راضي شوی او بل ترې راضي شوی)، ته له الله تعالی راضي او الله تعالی له تا راضي، تا ته چې څه درکوي ته پرې راضي او ستا له کړنو دی جل شأنه راضي. الله تعالی به ورته خطاب کوي: زما په بندګانو کې شامل شه او جنت ته مي داخل شه.

البلد

د سورې معرفي

د دې سورې نوم (البلد) دئ چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۲۰ آیتونه لري اُوه لومړي آیتونه ئې بلد او احد ته په ورته هموزنو صیغو باندې پای ته رسېدلې، ورپسې درې آیتونه د عینین، شفتین او نجدین په هموزنو صیغو او پاته لس آیتونه ئې د عقبة او میمنة په څېر هموزنو کلمو ختم شوي، غږ او مد و جذر ئې ډېر ښکلی او خوندور دئ. د سورې له متن په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره د مکي دور په هغو ورځو کې نازله

شوې چې د قريشو سردارانو د رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده د رسالت په ضد د مخالفت او دښمنۍ کلکه ملا تړلې وه او د ده په ضد ئې هره جفا او ظلم جائز ګاڼو.

د سورې په پيل کې د دې مطلب د اثبات لپاره چې (له ستونزو او کړاوونو سره مخامخېدل يو طبيعي بهير دئ او الله تعالى انسان داسې پيدا کړی چې خامخا به له ستونزو سره مخامخ کېږي)، په (هذالبلد) او (هر پلار) او (هر زوی) لوړه شوې، يعني د مکې مکرمې په تېر تاريخ او په هر پلار زوی تېر شوي کړاوونو باندې استشهاد کوي او همدا مطلب ثابتوي، بيا هغه مغرور او متکبر انسان ته خبرداری ورکوي چې خپل زور ځواك غره کړی، ګمان کوي دومره ځواکمن دئ چې هيڅوك پرې برلاسه کېدی نه شي او په ډېر غرور او مستۍ سره وايي: د پيغمبر عليه السلام او د ده د دعوت په خلاف مي ښه ډېر مال دولت مصرف کړی! دې مغرور دښمن ته وايي: ګمان مه کوه چې الله تعالى درنه غافل دئ، ستا د کړنو څارنه نه کوي او د ظلم او تېري سزا به درنه کړي. او بيا د دې مهم او اساسي مطلب لپاره چې (د انسان رب، بصير او د ده د عملونو شاهد او ناظر دئ، حتماً به ئې د ټولو کړنو په اړه قضاوت کوي) په داسې ډېر مضبوط او ډېر څرګند دليل استناد کوي چې هيڅوك ترې انکار نه شي کولى، د انسان خپلې سترګې او د ليدو استعداد؛ د دليل په توګه وړاندې کوي او فرمايي: ستا دا دواړه سترګې شهادت ورکوي چې ستا پيدا کوونکی حتماً (بصير) دئ او ستا د ټولو کړنو شاهد، د (مخلوق هر صفت) د دې نښه ده چې (خالق) ئې حتماً په دغه صفت په بشپړه او اکمله توګه متصف دئ، په انسان کې د تکلم په صفت او د ده په ژبې او دوو شوندو استناد کوي او فرمايي: ستا رب هم حتماً د تکلم په صفت متصف دئ او خامخا به ستا د عملونو په اړه پرېکړه کوي او ستا د عقائدو او افکارو په اړه به قضاوت کوي. د انسان په وجود کې د (ښه او بد) په اړه د ده په هغه احساس او قضاوت استناد کوي چې ښه ورته ښه ښکاري او خوښوي ئې او بد ورته بد ښکاري او کرکه ترې لري، نېکي ورته معروف برېښي، منل شوی او پېژندل شوی حقيقت ئې بولي او له خپل فطرت سره ئې آشنا ګڼي، خو بدي ورته منکر ښکاري، کرکجنه ئې ګڼي او د خپل فطرت منافي ئې بولي، له ښو دفاع کوي او له بدو کرکه لري، که دوه انسانان د نښتي په حال کې وګوري، يو ئې ظالم بل ئې مظلوم، غواړي د مظلوم مرسته وکړي او ظالم په خپل ځای کښېنوي، په ده کې دا د (قضاوت استعداد) د دې نښه ده چې د ده (پالونکی او پيدا کوونکی) ذات، هغه چې ده ته ئې دا استعداد ورکړی، هرومرو په دغه صفت متصف دئ، حتماً به د انسان د عملونو په اړه قضاوت کوي، د مظلوم لاس نيوی به کوي او ظالم ته به سزا ورکوي. بيا فرمايي: دغه غولېدلی انسان د دين لار له دې کبله غوره نه

کړه چې ګرانه او له لوړو ژورو ئې ډکه وموندې، له ګړلېچونو او کړاوونو ئې ووېرېدو، هغه صبر، ثبات، زغم او د قربانۍ جذبه چې په دې لار د تلونکو لپاره ضروري ده، هغه ئې په خپل ځان کې ونه لیده، خپل وزرونه ئې له دې دنګو دنګو غرونو د اوړېدو لپاره وړ او جوګه ونه موندل، دین د مظلومانو د آزادۍ په لار کې مبارزې ته بللو، د خپلوان یتیم او محتاج مسکین مرستې ته ئې هڅاوو، هغه هم د سختې قحطۍ په کال کې او هغه وخت چې دی په خپله له سختې لوږې سره مخ وي، د بې وزلې او مظلوم انسان په اړه ئې ترحم او زړه سوي ته بلنه ورکوله، ده ته په دې لار تګ او د عظمت او عزیمت دغو لوړو څوکو ته رسېدل ګران وبرېښېدو، نو له انتخاب ئې ډډه وکړه.

په پای کې خلك په دوو ډلو وېشي او فرمایي:

الف: ځینې بختور دي او د بختورو ځای ته به درومي، دا هغه صابر او باعزم مؤمنان دي چې د ایمان هغه لار ئې غوره کړه چې په اغزو پوښل شوې، په هر ګام کې ئې لوړې ژورې دي او له ګواښونو او خطرونو سره ډغرې وهل، په دې لارې وخوځېدل، صبر ئې وکړ او نور ئې صبر ته رابلل، په خپله زړه سواند وو او په نورو ئې زړه سوی او ترحم درلود او نور ئې ترحم او زړه سوي ته رابلل.

ب: ځینې ئې بې بخت او بدبخت دي او ځای ئې د بدبختو کرغېړن ځای، دوی هغه خلك دي چې الهي آیتونه ئې تکذیب کړل، له هغو څرګندو نښو ئې عمداً انکار وکړ چې د حق او حقیقت په لوري د انسان لارښوونه کوي، د دغه تکذیب او انکار له کبله به دوزخ ته درومي.

د دې مبارکې سورې خلاصه دا ده: له ستونزو او کړاوونو سره مخامخېدل د الله له رعایت د محرومیت نښه نه ده؛ برعکس دا یو ثابت او عام الهي سنت دئ.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَآ أُقْسِمُ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنتَ حِلٌّۢ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ﴿٢﴾ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴿٣﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِى كَبَدٍ ﴿٤﴾

۱- نه؛ قسم مي په دې ښار. ۲- او ته حلال ګڼلې کېږې په دې ښار کې. ۳- او لوړه په هر پلار او په هر زوی. ٤- بې شکه چې انسان مو پیدا کړی په سختۍ کې.

۱-٤- دلته څو خبرو ته پام وکړئ:

- ځینې ګمان کوي چې تر قسم مخکې (لا) اضافي ده او ځینې نور وایي چې دا د قسم د

نفي لپاره ده، په دې معنی چې لوړه نه کوم، دا دواړه توجیهات کمزوري دي، په قرآن کې نه اضافي څه شته او نه کم او دا دوهمه توجیه خو تر دې هم ډېره کمزورې او خرابه چې د غیر ضروري خبرې له کولو سره ئې مترادف کوي، که معنی ئې دا وي چې په دې ښار لوړه نه کوم نو د دې خبرې د کولو ګټه څه شوه؟!! غوره او دقیقه توجیه دا ده چې په دې (لا) سره د مخاطب وینا او دعوی رد شوې او د ده د ذهنیت له ردولو وروسته، مختصر مکث دئ او بیا ویل شوي چې په دې ښار مي قسم، یعني داسې نه ده چې تاسو ئې انګېرئ، زما دي په دې ښار او په هر پلار زوی قسم وي چې انسان په کړاو او ستونزو کې پیدا شوی. د قرآن په ډېرو ځایونو کې کلام په (لا) او (فلا) پیل شوی، په انساني محاوره کې هم د دې شاهد یو چې معمولاً انسان د خپل مخاطب خبره په لا او نه سره ردوي او ورپسې خپله خبره کوي.

- د دې خبرې (په دې ښار کې ته حلال یې) معنی دا ده چې: د مکې په دې ښار کې چې د (بیت الحرام) محدوده ده، جنګ په کې حرام دئ، په دې کې خلك د خپل پلار له قاتل هم د غچ اخیستو هڅه نه کوي، د بوټو او ونو له شکولو ئې ډډه کوي، د ځناورو او حشراتو له وژلو هم ځان ساتي، ښکار په کې حرام ګڼي، د هر څه حرمت په کې ساتل کېږي، خو اې پیغمبره!! دلته ستا هتك حرمت، له تا سره دښمني او مخالفت، ستا د یارانو تعذیب او وژنه، نه یوازي جائز ګڼل کېږي بلکې د ثواب کار ئې شمېري!! ټول د (حرمت) په (حریم) کې دي، خو ته له حرمت محروم او حلال!! که د سورې په متن کې او د قسمونو او ځواب تر منځ ارتباط ته لږ ځیر شو نو په دې خبرې پوهېدل به راته آسان شي چې له (أنت حِلٌّ بهَذَا الْبَلَد) مراد همدا مطلب دئ نه بل څه.
- په درېیم آیت کې (والد و ما ولد) د نکره په صیغه راغلي او معنی ئې هر پلار او زوی دئ، نه خاص پلار او زوی.

له قسمونو وروسته ویل شوي:

لَقَدْ خَلَقْنَا الانسنَ فی کَبَدٍ:

بې شکه چې انسان مو پیدا کړی په سختۍ کې.

دا د مخکینیو قسمونو ځواب دئ، باید وګورو چې دا قسمونه څه مطلب افاده کوي او څنګه د دې ادعاء په حقانیت شهادت ورکوي چې (الله تعالی انسان په محنت او مشقت کې پیدا کړی) او په (هذا البلد) او (والد و ما ولد) باندي د لوړي او ځواب تر منځ ئې څه رابطه ده؟ په دې خبرو د پوهېدو لپاره لاندي نقاطو ته توجه وکړئ:

هغو خلکو چې د پیغمبر علیه السلام او د ده له دعوت سره مخالفت ته ئې ملاتړلې

وه، خپل ټول وسائل او امکانات ئې د دې الهي نهضت د مقابلې لپاره کارول او د پیغمبر علیه السلام یاران ئې د مکې په مبارکي وادي، دا د الله د کور حرم کي، ترشدید تعذیب لاندي نیولي وو، ویل به ئې: په دې خبري څنګه باور وکړو چې محمدعلیه السلام د خدای پیغمبر دئ، د ټولو ملائکو مطاع جبرئیل د الله له لوري ده ته د الهي وحي قاصد دئ، دا ادعاء کوي چې لار ئې حقه او الله ئې مل دئ!! په داسي حال کي چې دی او یاران ئې له دغو سختو کړاوونو او ستونزو سره مخامخ دي، په هرګام کي مصیبتونه او ابتلاءات ورته منتظر، تعذیب کېږي، له خپل ملك شړل کېږي او وژل کېږي!! دا ولې د ده خدای د ده مرسته نه کوي؟ ولې ملائکي د ده مرستي ته نه راځي؟ ولې د ده مخالفین د الله په عذاب نه اخته کېږي؟ الله جل شأنه په دغي مبارکي سورې کي دوی ته دا ځواب ورکوي: له کړاوونو او ستونزو سره مخامخېدل یو ثابت الهي سنت دئ، خدای جل شأنه انسان داسي پیدا کړی چې خامخا به د راز راز محنتونو او مشقتونو له کړلېچونو تېرېږي، لوړي ژوري به ګوري، کړاوونه به ګالي، له مصیبتونو سره د چا د مخامخ کېدو معنی دا نه ده چې هغه د الله له تأیید محروم او لاره ئې ناسمه ده!! تاسو سخته اشتباه کړې چې دا انګېرنه مو د خپلو قضاوتونو لپاره ملاك او معیار ګرځولې، مګر د دې ښار د جوړېدو له قصې خبر نه یئ چې څنګه ستاسو جد ابراهیم علیه السلام د خدای خلیل، خپله ناتوانه مېرمن، هاجر رضي الله عنها او خپل وړوکی ماشوم زوی، اسمعیل علیه السلام په دغي سوزنده وادي کي هغه وخت یوازي پرېښودل چې نه په کي د څښاك اوبه وې، نه ونه او بوټي، نه سیوری، نه حیوان او انسان، وېرووونکې وچه دره او سپېره ډاګ، دواړه ئې د الله تعالی په حکم دلته یوازي پرېښودل، څومره ستره ابتلاء، هم پلار ته او هم مور او زوی ته!! څومره سختي ورځي ورباندي راغلې؟ که ابراهیم علیه السلام دا د کعبې معمار او زوی ئې اسمعیل ذبیح الله، هغه دوه ستر شخصیتونه چې تاسو اې قریشو! ځان ورته منسوبوئ او په دې انتساب فخر کوئ، که دوی له داسي ابتلاءاتو سره مخامخ شوي او تاسو دا نه وایئ چې ولې ستاسو جد له داسي سختو ورځو سره مخامخ شوی نو د محمد علیه السلام په اړه ولې دا خبره کوئ؟ د پیغمبرانو د ابتلاءاتو قصې خو دا حقیقت ثابتوي چې دا یو ثابت الهي سنت دئ.

د هر انسان د ژوند بهیر ته پام وکړئ، که پلار وي او که زوی، د هرچا ژوند له لوړو ژورو ډك، کمزوری، ضعیف او محتاج دنیا ته راشي، بل ته په هر څه کي اړ، لاس پښې وهي، له یوه اړخ بل ته نه شي اوښتی، بل څوك باید د ده مرسته وکړي، خپله غذا په اوښکو، ژړا او چیغو تر لاسه کوي، چې له زمکي د پورته کېدو شي نو هرګام په ډېر زحمت پورته کوي، په هر قدم کي پر مخ لوېږي، له راز راز بیماریو سره د دوامداري مقابلې لړۍ

ئې په مخ کې، دردونه او رنځونه، تر هغه چې ځوان شي، د ژوند بهیر ئې نوی پراو پیل کړي او ستونزي ئې نوې بڼه او پېچلي ابعاد، له یوې نزاع لا نه وي فارغ شوی چې په بلې سر شي، یو مشکل ئې لا نه وي حل چې له بل سره مخامخ شي، له یوې بیماریـ روغ شي په بلې اخته، دغه دئ د انسان د ژوند حقیقي انځور، له ستونزو سره مخامخ کېدل ئې د ژوند طبیعي بهیر، د الهي سننو مطابق او د ژوند لازمه. خدای جل شأنه انسان داسي نه دئ پیدا کړی چې تل به د ګلانو د پاڼو په بستر ځملي، الله د ګلانو تر څنګ اغزي پیدا کړي، د خندا تر څنګ ژړا، د خوشحالیـ تر څنګ غم، د سوکالیـ تر څنګ ستونزي.

أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾ يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾ أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٧﴾

۵- آیا دی انګېري، داسي چې، هیڅکله به څوک نه شي پرې قادر؟ ٦- وایي: ډېر مال مي کړ تباه! ۷- آیا دی انګېري داسي چې هیڅا لیدلی نه دئ؟

۵- ٦: دا څوک او کوم انسان دئ چې ځان ورته دومره ځواکمن او قدرتمن برېښي چې ګمان کوي هیڅوک به پرې برلاسی نه شي؟! که څه هم په آیت کې ورته په څرګنده ګوته نه ده نیول شوې خو د کلام له فحوی په واضح توګه معلومېږي چې دا همغه مغرور انسان دئ چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم هتك حرمت ته ئې ملا تړلې او د الله تعالی د کور په حرم کې پر ده هر تېری او تجاوز جائز او حلال ګڼي، هماغه چې خپل ټول زور ځواك ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده د دعوت په مخالفت کې کارولی او ادعاء کوي چې که رسول الله صلی الله علیه و سلم په حقه وی او الله تعالی او فرشتې ئې د ده ملاتړي وی نو له د غو کړاوونو او ستونزو سره به نه مخامخ کېدو!! او د ده مخالفینو باید هیڅکله دا فرصت نه شوی تر لاسه کولی چې له ده سره په عناد او دښمنیـ لاس پوري کړي، دی وځوروي او د ده یاران او ملګري وربرووي او سره له دې د الله تعالی له نیونې او مؤاخذې خوندي وي! دغو مغرورو سردارانو ته ویل شوي چې آیا ستاسو زور ځواك دا د غرور او کبر احساس درکې راولاړ کړی؟ آیا د پیغمبر علیه السلام او د ده د دعوت په ضد ستاسو پراخو هلو ځلو او ډېرو وسائلو کارولو او زیات مال دولت مصرفولو په تاسو کې دا ذهنیت راپیدا کړی، چې هیڅوک پر تاسو برلاسه کېدی نه شي؟

۷- آیا داسي انګېري چې چا نه دئ لیدلی؟ مګر ګمان کوي چې بصیر خدای، د ده د ناروا او ظالمانه هلو ځلو او ښکاره او پټو هڅو ناظر او شاهد نه دئ؟ سخته اشتباه کوي، هیڅ څه

ئې له هغه الله تعالی پټ نه دي چې بصیر دئ؛ او د دې حقیقت د اثبات لپاره په لاندي مضبوطو دلائلو استناد کوي:

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾

۸- آیا ده ته مو ورنه کړلې دوې سترګې؟ ۹- او یوه ژبه او دوې شونډې؟ ۱۰- او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟

۸- د دې حقیقت د اثبات لپاره چې د (انسان پیدا کوونکی رب) حتماً بصیر دئ او د ده د کړنو ناظر او شاهد، د انسان په دوو سترګو استدلال کوي او فرمایي: ته مخلوق یې، خالق لرې، بل پیدا کړی یې، ستا ټول استعدادونه ستا پیداکوونکي درکړي، ستا دوې سترګې هم د هغه ودیعه ده، ستا عقل څنګه دا خبره مني چې په تا کې به دا صفت وي خو ستا پیدا کوونکی به تربې محروم وي؟!! د عقل حکم خو له دې پرته بل څه نه شي کېدی چې ستا خالق باید په دې صفت په اکمل او بشپړه توګه متصف وي؟!! آیا ممکنه ده په مصنوع او مخلوق کې داسې غوره صفت وي چې د هغه په خالق او صانع کې نه وي؟!! د انسان بصر او بصیرت په دې شهادت ورکوي چې الله تعالی بصیر دئ. مور چې د عالَم پیدا کوونکی رب په کومو صفتونو یادوو مظاهر ئې په عالَم او د ده مخلوقاتو کې ګورو، که وایو الله تعالی بصیر دئ دا ځکه چې د ده په مخلوقاتو کې د دې ښلګه ګورو، که وایو الله تعالی سمیع او اورېدونکی دئ، دا د دې لپاره چې د سمع د صفت مظهر د ده په مخلوقاتو کې ګورو، که وایو: الله تعالی علیم دئ دا ځکه چې د (علم) مظاهر د عالم د هر څه په پیدایښت کې ګورو او زمور عقل راته وایي چې دا عالَم حتماً داسې ذات پیدا کړی چې په هر څه ښه پوهېږي.

۹- ستا ژبه او دوه شونډې د تکلم وسائل دي، ته له دغو وسائلو په استفادې سره خپل مافي الضمیر بیانوې، خپل قضاوتونه منعکس کوې او خپلې پرېکړې صادروې، په تا کې د دغه استعداد شته والی په دې شهادت ورکوي چې ستا رب حتماً د تکلم په صفت متصف دئ. حتماً به ستا د کړنو په اړه قضاوت کوي، وروستۍ پرېکړه به صادروي. په انسان کې د دغه صفت شته والی مور د الله تعالی د دغه صفت په څرنګوالي پوهوي. ټول عالم د الله تعالی د صفاتو مظهر دئ، د الله تعالی د صفاتو مظاهر په ټول عالم کې ګورو، مور له مظاهرو الله تعالی او صفات ئې پېژندی شو.

۱۰- الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې د ده په فطرت او خټه کې ئې د (ښه او بد) د پېژندو لپاره خاص معیارونه او استعدادونه اېښي، د (فجور) او (تقوی) څېره ئې د ده د

ضمير په صفحې انځور کړې، د دغه فطري استعداد له کبله ښه ورته ښه ښکاري او خوښوي ئې او بد ورته بد ښکاري او کرکه تري لري، نېکي ورته معروف برېښي، منل شوی او پېژندل شوی حقیقت ئې بولي او له خپل فطرت سره ئې آشنا ګڼي، خو بدي ورته منکر ښکاري، کرکجنه ئې ګڼي او د خپل فطرت منافي ئې بولي، له ښو دفاع کوي او له بدو کرکه لري، داسي ملکې او غریزې ئې ورکړې چې دی ښېګڼو ته هڅوي او له بدیو ئې منع کوي او په هر بد کار کې ئې ملامتوي، دغه استعداد د دې لامل دئ چې انسان د هر ښه او بد عمل په اړه قضاوت کوي، غواړي سزا او بدله ورکړي، که دوه انسانان د نښتي په حال کې وګوري، یو ئې ظالم بل ئې مظلوم، غواړي د مظلوم مرسته وکړي او ظالم په خپل ځای کښېنوي، په ده کې دا د (قضاوت استعداد) د دې نښه ده چې د ده (پالونکی او پیدا کوونکی) ذات، هغه چې ده ته ئې دا استعداد ورکړی، هرومرو په دغه صفت متصف دئ، حتماً به د انسان د عملونو په اړه قضاوت کوي، د مظلوم مرسته به کوي او ظالم ته به سزا ورکوي.

دا دئ ګورئ چې قرآن د الله تعالی د صفاتو د اثبات لپاره د همدغو صفاتو په هغو مظاهرو او بېلګو استناد کوي چې د ده په مخلوق کې ئې ګورو، هغه چا ته چې ګمان کوي: الله تعالی د خلکو له عملونو سره هیڅ کار نه لري او د دوی د ښو او بدو عملونو په اړه قضاوت نه کوي، فرمایي: ستا دا دوه سترګې، شهادت ورکوي چې خدای بصیر دئ او ستا د عملونو ناظر، ستا دوې شونډې او ژبه په دې شهادت ورکوي چې ستا رب به حتماً ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي، د ښه او بد په اړه ستا دا احساس د دې نښه ده چې الله تعالی به هم ستا عملونه په دوو برخو وېشي، ښه ته به ښه او بد ته به بده سزا ورکوي.

فَلَا ٱقْتَحَمَ ٱلْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَٰمٌ فِى يَوْمٍ ذِى مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾

١١- وئې نه دانګلو دغي سختي لار ته. ١٢- څه شي يې پوه کړی چې دا سخته لاره

څه ده؟ ۱۳- د غاړو پرانیستل. ١٤- او د لوږي په ورځ ورکړه د طعام. ۱۵- د خپلوې خاوند یتیم ته. ١٦- یا په خاورو سپېره شوي کوم مسکین ته. ۱۷- بیا له ډلې د هغو شي چې ایمان ئې دئ راوړی او په صبر او زړه سوي باندي ئې کړې سپارښتنه. ۱۸- دوی به وي د بختور ځای خاوندان. ۱۹- او زمونږ په آیتونو چې کافر شول، دوی به وي د شقاوت ځای خاوندان. ۲۰- ګمارل شوی سرپوښلی اور پر دوی.

۱۱- ۱۸: د (اقتحام) معنی دانګل، برید او په سخت کار کې سریع او توند ننوتل دي او (عقبة) هغي لاري ته ویل کېږي چې د غره په اړخ کې تېره شوې وي، لوړي ژوري او کږلېچونه ولري. وروستي آیتونه (عقبة) داسي معرفي کوي:

- له قید او بند د غاړو آزادول.
- د خپلوې خاوند یتیم او بې وزلې مسکین ته په داسي ورځو کې طعام ورکول چې قحطي او لوږه خوره وي.
- ایمان او د ایمان په لاري صبر او استقامت.
- نور صبر او استقامت ته رابلل.
- خلك پېرزوینو، زړه سوي او ترحم ته رابلل.

هغه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده دعوت په ضد په خپلو هڅو او بې درېغو مالي لګښتونو ویاړي، د ایمان لاره ئې سخته، کږلېچنه او ګرانه موندلې، په دې کې له اقتحام ځان عاجز ګڼي، په خپل زړه کې هغه قوت او ځواك نه وینې چې د دې لوړ غره څوکو ته رسېدل ورته ممکن وبرېښي، په خپل پرېوتې ځای کې پاته شو، د غلامۍ، بخل، حرص، قساوت، بې رحمۍ او د کفر او بې ایمانۍ په حضیض کې پاته کېدل ئې غوره وګڼل، د خپلې مخکینۍ وضعې لمن ئې داسي ټینګه ونیوله چې د دوام لپاره ئې خپل ټول زور ځواك او ټول امکانات وکارول، له دې لوړو آخوا بختور ځای ته د رسېدو لپاره ئې په (عقبه) کې له (اقتحام) ډډه وکړه، دی د هغو کسانو په څېر نه دئ چې واقعي سعادت ته د رسېدو لپاره په ګرانو او سختو لارو د تلو جرأت او همت لري، نه د لاري له لوړو ژورو وېرېږي او نه د سفر له اوږدوالي، لوی زړه؛ اوچت عزم، صبر او زغم، پیاوړي او مضبوط وزرونه لري.

سره له دې چې انسان په هرصورت کې او د خپل ژوند لپاره چې هر مقصد غوره کړي او مقصد ته د رسېدو لپاره چې هره لار اختیار کړي، حتماً به له (کبد) ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کېږي، که ئې د ایمان په لار د تلو پرېکړه وکړه او که د شیطان او نفس د متابعت او غلامۍ په لار. داسي نه ده چې د نفس په بندګۍ او د شیطان په غلامۍ کې به

اوږدې لاري پرې لنډې او د ژوند کړاوونه به ورته آسان شي، هسې د ده ذليل نفس او مکار شيطان د آزاد او سرلوړي ژوند په ځای د غلامۍ او مريتوب ژوند ورته آسان او ښايسته کړي، له محتاجو خپلوانو او بې وزلو انسانانو سره د مرستې په ځای د حق په مقابله کې خپل مال مصرفول ورته غوره او د ويارِ وړ کار وبرېښوي، دغه د نفس او شيطان دوکه د دې باعث شي چې په حق او حقيقت له ايمان او اعتراف ډډه وکړي، د ايمان په ځای د کفر لار، د ترحم او زړه سوي په ځای د بې رحمۍ او قساوت او د قناعت او صبر په ځای د حرص اوبخل لار غوره کړي.

بې مناسبته ئې مه ګڼئ چې د يوه لوړ غره په ځنګل کې د يوې تروړمۍ شپې د تګ قصه دلته راواخلم: د امريکايانو په ضد د جهاد په لومړيو شپو ورځو کې چې زمور د اوسېدو سيمه د دوی تر سخت مراقبت لاندې وه، هم ئې له لاندې څارله او هم له بره په جاسوسي طيارو او سپوږمکيو، يوه شپه له يوې سيمې بلې ته تلو، سخته تياره وه، له رڼا او څراغ مو استفاده نه کوله، يوه ملګري راته وويل چې الله تعالی دې د دغو کړاوونو د تحمل اجر درکړي، ورته ومې ويل: خلك د دنيوي مقاصدو لپاره تر دې ډېر زيات کړاوونه ګالي، زحمتونه قبلوي او شپه ورځ خولې تويوي، څو شېبې وروسته مو مخې ته داسې کس راغی چې په همغه تياره کې ئې، د هغه لوړ غره په ډډه کې يوه لويه سټه په يوازې تن راکشوله، وروښو ته مې مخ کړ چې ګورئ دا کس به څه وخت راويښ شوی وي، د غره سر ته به ئې ځان رسولی او د دې ستې راکشول به ئې پيل کړي وي، خپل زحمت له دې سره مقايسه کړئ.

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: جنت د مکاره او ناخوالو په پردو پوښل شوی او دوزخ د شهواتو او نفسي غوښتنو په پردو.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ، وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ» رواه مسلم

يعني ستا او جنت تر منځ داسې پردې حائل دي چې ستا نفس ته ترې تېرېدل ګران او ستونزمن برېښي، له دغو پردو په تېرېدو سره جنت ته رسېدی شې، خو ستا او دوزخ تر منځ داسې پردې ځړېږي چې ستا نفس ته ښايسته او راښکونکې برېښي، که د خپل نفس خبره دي ومنله او له دغو پردو تېر شوې په دوزخ کې پرېوځې.

د دې مبارکو آيتونو دوو ظريفو ټکيو ته ستاسو پام رااړوم:

الف: د (فَكُّ رَقَبَةٍ) او (أَوْ إِطْعَٰمٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ) ذکر له ايمان مخکې راغلی او دا ښيي چې (ايمان راوړل) د هر کس او ناکس کار نه دئ، څوك چې له (قيدونو او بندونو)

آزاد شوی نه وي، د اسارت او غلامۍ د زنځیرونو شلولو ضرورت احساس نه کړي او په دې لار کې تګ ته ذهناً او عملاً چمتو نه وي، په خپله له الله پرته د بل بندګۍ ته سر ټیټوي، نور د اسارت او غلامۍ په دردناك حالت کې ګوري خو احساسات ئې نه راپاروي، داسې ضعیف النفس خلك د ایمان راوړو وړتیا او اهلیت نه لري، ذلیل او غلام فطرت انسانان دا د عزت او سرلوړۍ لار نه شي غوره کولی، یعني ایمان راوړل خاصو احساساتو، خصلتونو، ظرفیتونو، مواصفاتو، استعدادونو او وړتیاوو ته ضرورت لري؛ څوك چې له دې وړتیاوو محروم وي؛ د ایمان راوړلو له سعادت به هم محروم وي؛ قرآن دا مطلب په بل ځای کې په دې صیغه رااخلي:

... فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٥٦ البقرة

نو څوك چې له طغیان کوونکي انکار وکړي او بیا په الله ایمان راوړي نو په داسې کلکي کړۍ ئې منګولي ټینګي کړې چې شلېدل ئې نشته او الله خو ډېر پوه اورېدونکی دئ.

په دې مبارك آیت کې هم ګورئ چې په طاغوت کافر کېدل پر الله له ایمان راوړلو مخکې ذکر شوی، د دې معنی دا ده چې لومړی به له طاغوت انکار کوې، بیا به پر الله د ایمان راوړلو جوګه کېږې، تر هغه چې له طاغوت انکار ونه کړې او د هغه له منلو خپل برائت اعلان نه کړې، الله ستا د ایمان دعوی نه قبلوي، د توحید په کلمه کې هم تا ته د همدې درس درکړی شوی، لومړی له الله پرته بل هر اله نفی کوې، بیا د الله د اثبات خبره کوې: لا اله الا الله، وایې، ډېر خلك داسې وي چې پر الله د ایمان دعوی کوي، ګمان ئې هم دا وي چې پر الله ایمان لري، خو طاغوت ئې نه وي نفي کړی، له طاغوت ئې طمع او وېره وي، د هغه واکمنۍ ته سر ټیټوي، خپل منازعات او شخړې د حل و فصل لپاره هغه ته وړاندې کوي او د هغه پرېکړو ته غاړه ږدي، د داسې کسانو په اړه قرآن په مکرره توګه او پرېکنده الفاظو وایي چې د ایمان دعوی ئې دروغجنه ده.

ب: ایمان دوه مهم او اساسي مقتضیات لري: (صبر) او (ترحم). په کوم انسان کې چې د (صبر) او (زړه سوي) ماده وي؛ همدا ئې ایمان راوړلو ته چمتو کوي او بیا همدا ایمان دئ چې داسې ښو او غوره خصلتونو ته مزید وده او ارتقاء ورکوي؛ همغسې لکه د غلامۍ او بې عدالتۍ په ضد د مبارزې هوډ او عزم او د مظلوم او محتاج انسان په نسبت زړه سوی او ترحم چې د ایمان لپاره مقدمه ده. یو صحابي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغی او وئې ویل: یا رسول الله! ما د جاهلیت په دوران کې د الله تعالی لپاره سل اوښان صدقه

کړي او سل غلامان مي آزاد کړي؛ آيا د دې اجر به راکول کېږي؟ وئې فرمايل: له همدې کبله خو الله تعالى تا ته د ايمان سعادت درپه برخه کړ. ځکه نو دلته (فك رقبة) او (اطعام فی يوم ذی مسغبة) تر ايمان مخکې ذکر شوي.

۱۹-۲۰: هغه چې په کفر راضي شوي او د ايمان لار ورته عقبة برېښېدلې او له دانګلو او (اقتحام) ئې ډډه کړې او له هغو الهي آيتونو ئې انکار کړی چې دوی د ايمان (سعادت تون) ته رابلي او د کفر په (شقاوت تون) کې پاته شوي، ټمځای به ئې دوزخ وي، د اور په داسي اوږدو اوږدو منځ تشو ستنو کې به پراته وي چې په سر به ئې برغولې وي، نه به ئې تودوخه کمېږي او نه به دوی ته د وتلو او فرار مجال ميسر وي او نه د آزاد تنفس فرصت.

الشمس

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الشمس (لمر) دئ چې له لومړي آيت ئې اخيستل شوی، ۱۵ آيتونه لري، ټول آيتونه ئې په هموزنو صيغو او د (ها) په غږ پای ته رسېدلي، د دې وزن صيغې له فواصلو علاوه د آيتونو په منځ کې هم راغلې او ټولې سورې ته ئې ډېر ښکلی او خوندور غږ ورکړی. د سورې له مضامينو معلومېږي چې دا د مکي دور په هغه زمانه کې نازله شوې چې د پيغمبر عليه السلام په خلاف د مکې د سردارانو مخالفت خپل اوج ته رسېدلی وو.

د دې مبارکې سورې خلاصه دا ده: که بريا غواړې خپل نفس تزکيه کړه. د بحث اساسي موضوع ئې هم دا مطلب ثابتول دي چې د (انسان د فلاح او بريا) څرنګوالی د ده د نفس په (تزکيې او تدسيې) پوري مربوط دئ، که انسان شقي او بدبخت کېږي نو د دې شقاوت او بد بختۍ عوامل دي په خپل نفس کې ولټوي او که غواړي سعادت او نېک بختي ئې په برخه شي نو د دې (سعادت) لوازم دي په ځان کې راپيدا کړي.

د انسان خالق او پالونکي رب ده ته ويښ او حساس ضمير ورکړی او د ده په شعور کې ئې رون او لارښود څراغ اېښی، ده ته ئې د (تقوی) او (فجور) د پېژندو الهام کړی، که دی په دې وتوانېږي چې دا څراغ رون او روښانه وساتي، د دې کېدو مخه ئې ونيسي، د لاري په موندو او د ښه او بد په پېژندو کې ترې کار واخلي، بلنې ته ئې لبيک ووايي، لارښوونو ته ئې اعتناء وکړي، د خپل ضمير صفحه له ککړېدا خوندي وساتي، خپل وجدان ژوندی او فعال وساتي او له ځپل کېدو او مړاوېدو ئې مخنيوی وکړي، فلاح او بريا تر لاسه کوي، خو

که د (فجور) او (طغیان) لار غوره کړي، په خپله به هم بدبخت شي او خپله ټولنه به هم له شقاوت او بدبختۍ سره مخامخ کړي.

د دغي ستري ادعاء د (اثبات) لپاره د عالم څو مشهود او څرګند شواهد، (لمر او سپوږمۍ)، (شپه او ورځ) او (آسمان او زمکه) د شواهدو په توګه وړاندي کوي او فرمايي: لکه څنګه چې په (آسمان) کې رونړ لمر ګوري، چې ستا د زمکې رڼا او تودوخه له هغه ده، چې کله ستا (زمکه) له هغه مخ واړوي، سړه او تياره شي او چې مخ وروړوي، (توده) او (روښانه) شي، د (لمر په پرېوتو) سره شپه راځي، هلته (سپوږمۍ) ګورې چې حرارت نه لري او رڼا له لمر اخلي. ستا په ضمير کې هم دې ته ورته لمر او څراغ اېښودل شوی، ستا حساس وجدان ستا د ضمير رونړ لمر دئ، (ښه) او (بد)، مفيد او مضر، حق او باطل درښيي، له بدو دي منع کوي، نېکيو ته دي هڅوي، په ګناه او بد کار کې دي ملامتوي، چا چې خپل وجدان ته ځلا ورکړه، مثال ئې د زمکې هغه حالت ته ورته دئ چې لمر ته مخ واړوي، رڼا او تودوخه ئې په برخه شي، د خوځښت، ژوند، ارتقاء او ودي لړۍ په کې پيل شي او چا چې د خپل وجدان صفحه ولړله او دا څراغ ئې مړ کړ، مثال ئې د زمکې هغه حالت ته ورته شي چې شپه خپل تور وزر پرې وغوړوي، له نور او حرارت محرومه شي.

د سورې په پای کې دغه پورتنی حقيقت د يوه تاريخي بهير په ترڅ کې بيانوي او د ثمودیانو په قصې کې ئې انځوروي او فرمايي: په دې قوم کې د دوی د يوه (ډېر شقي انسان) (طغيان) او پاڅون د دې باعث شو چې دا قوم خپل زړه سواند پيغمبر صالح عليه السلام تکذيب کړي، د هغي (ناقة الله) لاس پښې قطع کړي چې د دوی د پيغمبر (معجزه) وه، په شديد الهي عذاب اخته شول او د کورونو چتونه ئې پرې راپرېوتل.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ۝١ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ۝٢ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ۝٣ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰهَا ۝٤ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ۝٥ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا ۝٦ وَنَفۡسٖ وَمَا سَوَّىٰهَا ۝٧ فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ۝٨ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩ وَقَدۡ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝١٠

۱- قسم په دغه لمر او په غرمه ئې. ۲- قسم په دې سپوږمۍ چې شي ورپسې. ۳- قسم په دغي ورځ چې ئې څرګند کړي. ٤- قسم په دغي شپې چې ئې راونغاړي

تیارې کې. ۵- قسم په دې آسمان او په دا هسې جوړېدو ئې. ٦- قسم په دغې زمکې او دا هسې خوړېدو ئې. ۷- قسم په دغه نفس او په دا هسې سمېدو ئې. ۸- چې الهام ئې ورته وکړ د فجور او ځان ساتو ئې. ۹- بې شکه بریالی شو هغه څوک چې پاک ئې کړلو. ۱۰- او بې شکه نامراد شو هغه څوک چې وئې لړلو.

۱-۸: له لومړي آیت تر ۸ پورې په څو شیانو لوړه شوې او ورپسې ویل شوي: قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا * وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا *: بې شکه بریالی شو هغه څوک چې پاک ئې کړلو؛ او بې شکه نامراد شو هغه څوک چې وئې لړلو.

باید وګورو چې د دغو قسمونو او ځواب تر منځ ئې څه رابطه شته، دا قسمونه څنګه دا خبره ثابتوي چې: هغه کس بریالی شو چې خپل نفس ئې تزکیه کړ او هغه نامراد شو چې ککړ ئې کړ)؟

ځواب دا دئ: لکه څنګه چې د دې عالم حکیم خالق، ستا د زمکې د روښانه کولو لپاره داسې لمر پیدا کړی چې نه یوازې ستا د زمکې (کور) ته رڼا ورکوي بلکې حرارت هم ورکوي، د لمر له (حرارت) او (نور) پرته به ستا په تیاره او سړې زمکې باندې ژوند ممکن نه وو، همدا راز ئې ستا د لارښوونې لپاره ستا په نفس کې د سالم فطرت او حساس ضمیر روڼ څراغ اېښی، داسې لارښود چې هم تا ته (فجور) درښیي او هم (تقوی)، ښه درته ښایسته او آشنا کړي او بد درته منکر او کرکجن.

ته په آسمان کې ګورې چې سپوږمۍ د (لمر) له پرېوتو وروسته راڅرګنده شي، دا سپوږمۍ چې د شپې نښه ده، نه له ځانه نور لري او نه حرارت، که له دې ستا د زمکې په لور د نور پلوشې رادرومي، نو دا په خپله د دې نه بلکې د لمر وړانګې دي چې دا ئې د یوې آئینې په څېر زمکې ته منعکس کوي. که لمر پرېووت سپوږمۍ راځي او د شپې راتګ اعلانوي، همدا راز که ستا د ضمیر څراغ خړ او مړ شو، نو نامراده شوې او تیاره دي په برخه شوه.

ته ورځ ګورې چې لمر راڅرګند کړي، ورځ د زمکې هغه حالت دئ چې لمر ته مخه کړي، په دې سره روښانه شي، رڼا او حرارت ئې په برخه شي، هر څه په کې ویښ شي، وده، حرکت او خوځښت په کې پیل شي. او ته شپه ګورې چې لمر پټ کړي، شپه د زمکې هغه حالت دئ چې لمر ته شا کړي او په دې سره له نور او حرارت محرومه او تیاره ئې په برخه شي، د خوځښت او حرکت ځای رکود او جمود ونیسي، ستا د (نفس) هم دغه حالت دئ، که دي (تزکیه) کړ او پاک صاف دي وساتو، بریالی شوې او که دي (ولړلو) نو ناکام او نامراد شوې. که تا د خپل نفس لمر (دا حساس ضمیر) او (دا لارښود څراغ) روښانه کړ نو

(رڼا)، (ژوندون)، (وده) او (ویښتیا) به دي په برخه شي او که دي خړ او دپ کړ نو (تیاره)، (خوب) او (رکود او جمود) به درته مخه کړي.

دلته دې مطلب ته اشاره کول هم ضروري برېښي چې دا ولې قرآن د دې په ځای چې ووایي: د لمر په تلو راتلو سره شپه او ورځ راځي، برعکس وایي: ورځ لمر څرګند کړي او شپه ئې پټ کړي؟! د بیان په دغه اسلوب سره قرآن یوه داسې ستر حقیقت ته اشاره کړې چې انسان یوازي څو کاله د مخه په شلمي پېړۍ کې ورباندي پوه شو. انسان مخکې په دې نه پوهېدو چې شپه او ورځ په اصل کې د زمکې دوه خاص حالتونه دي چې د زمکې په حرکت پورې ارتباط لري، نه د لمر په حرکت پورې، دا د زمکې حرکت دئ چې کله د لمر د څرګندېدو باعث شي او کله ئې د پټېدو، د بیان دا دقیق اسلوب نه یوازي د قسمونو له ځواب سره ژور ارتباط لري بلکې له یوه ستر علمي حقیقت هم پرده اوچتوي. لکه چې د زمکې د شپې او ورځې باعث په خپله زمکه ده، ستا د نفس د شپې ورځې باعث هم په خپله ستا نفس دئ.

همدا راز ته په خپلې فضاء کې لوړ او اوچت آسمان ګورې او تر خپلو پښو لاندې پرېوتې زمکه، ستا نفس هم دې ته ورته دوه حالته درلودی شي، یا به لوړ درومي یا به له زمکې سره نښلي، یا به د ارتقاء او رشد لار نیسي او عزت، رفعت او سرلوړۍ ته به رسي، یا به د ځوړ، سقوط، هبوط او پرېوتو لار غوره کوي او د ذلت او سپکاوي په کنده کې به پرېوځي. قرآن په ډېرو نورو ځایونو کې هم دې ته ورته د زمکې په لوري درومند کېدل، په زمکې پسې نښتل او د هبوط او سقوط اصطلاحات هلته کارولې چې ذلت، رذالت او سپکاوی افاده کړي، ذلت ته غاړه ایښودل او په سپك ژوند د انسان رضایت تمثیل کړي او پورته تګ ئې د معنوي ارتقاء او روحي رشد لپاره کارولی.

په ۵ ،٦ او ۷ آیت کې د (مابناها، ما طحٰها او ماسوٰها) په اړه د مفسرینو دوه رأیي زموږ مخي ته راځي چې دقیقه او ارجح ئې دا ده: په دې آیتونو کې (ما) مصدري ده او د آیتونو ترجمه داسي ده: قسم په دې آسمان او دغه رنګ جوړېدو ئې. قسم په دغي زمکې او داهسي خورېدو ئې. قسم په دغه نفس او دا هسي سمېدو ئې. د دې رأیي د ترجیح دلائل دا دي:

- د کلام بلاغت او د آیتونو تر منځ نظم او تړاو دا تقاضی کوي چې د مخکینیو او وروستنیو آیتونو په څېر دلته هم باید په څرګندو شیانو لوړه شوې وي، لکه چې په نورو آیتونو کې په لمر او غرمه ئې، په سپوږمۍ چې په لمر پسې راشي، په ورځ چې لمر څرګند کړي، په شپه چې لمر پټ کړي، په آسمان او په زمکې لوړه شوې، په (مابناها، ما طحٰها او ماسوٰها) کې هم باید څرګندو شیانو ته اشاره شوې وي، د قرآن اسلوب دا دئ چې

(مشهود) او (ملموس) شی د (غیب) او له سترګو پټو شیانو د اثبات لپاره شاهد راوړي.

- که (ما) د (مَن) په معنی ونیول شي نو د قسمونو معنی به دا شي چې په ټولو کې په الله لوړه شوې، چې په دې سره له یوې خوا د بلاغت مغایر تکرار راځي او له بلې خوا په الله تعالی باندي لوړي سره (کافر) مخاطب په دې نه شي قانع کېدی چې د نفس تزکیه په بریا منتج کېږي او تدسیه ئې په خسران او نامرادۍ.

نو په دې قسمونو سره انسان ته ویل شوي: که ستا نفس همت وکړ اوچت او لوړ اهداف ئې غوره کړل، له تیارو د وتلو تکل ئې وکړ، له زمکنیو ټیټو جاذبو ئې ځان وژغورو، د لوړو په لوري ئې د الوتو پیاوړي وزرونه پیدا کړل، بریا دي په برخه کېږي، خو که دي نفس په تیاره، ناپاکۍ او پلیتۍ کې پاته شو، له هغه د وتو همت او جرأت ئې ونه کړ، ذلیل، زبون، شقي او بدمرغه به شي. لکه چې په طبیعت کې روڼ او تود لمر ګوري؛ او سپوږمۍ چې په خپله تیاره ده او لمر ئې روښانه کوي، شپه او ورځ ګوري چې یوه لمر متجلي او څرګند کړي او بله ئې پټ، لوړ آسمان او ټیټه پرته زمکه ګوري، په خپله د انسان دننه د (تقوی) الهام او د (فجور) د وسوسې شاهد یې، نو په دې پوه شه چې ستا د روح او نفس هم دوه حالته دي: یا به هغه تزکیه کوې، وده به ورکوې، لوړ به ئې بیایې، ارتقاء به ورکوې او په دې سره به بریا تر لاسه کوې او یا به ئې په کثافاتو لړې، لاندي به ئې غورځوې، له اوچت تلو به ئې راګرځوې، پرېږدې به ئې چې تپ او زنګ وهلی پاته شي چې په دې سره به ئې په خسران او نامرادۍ اخته کوې.

دا مطلب هم د یادولو وړ دئ چې د یوې مذهبي فرقې په ځینو تفاسیرو کې د (الشمس)، (القمر) او دې ته ورته الفاظو داسي تفسیرونه شوي چې له قرآن سره د دوی چلن او د قرآن په غلط تفسیر کې د دوی جسارت او بې باکي ته انسان حیران پاته شي!! د مثال په طور وایي: الشمس یعني علي، والقمر یعني فاطمه!! یعني د الشمس او القمر معنی هغه نه ده چې عام خلك ورباندي پوهېږي، له الشمس مراد علي رضي الله عنه دئ او له القمر مراد فاطمه رضي الله عنها!! دوی د قرآن د الفاظو هغه معنی اخیستل سم نه ګڼي چې د عربو په محاوراتو کې معموله وه یا ئې د لغت په کتابونو کې موندل کېده!! د قرآن د الفاظو ظاهري او متداوله معنی اخیستل، له الشمس لمر، له القمر سپوږمۍ، له اللیل شپه او له النهار ورځ، له السماء آسمان او له الارض زمکه او... دا صحیح نه ګڼي، وایي: د دې الفاظو د ظاهري معنی تر شا بله باطني معنی مضمره ده چې په هغې یوازي اهل بیت او د دوی ائمه پوهېږي او بس!! دوی وایي: د قرآن په درې سوه آیتونو کې علي رضي الله عنه ته اشاره شوې، په داسي حال کې چې هر په قرآن پوه انسان حتی هغه چې ډېر محدود او سطحي پوهه هم ولري په دې ښه پوهېږي چې په ټول قرآن کې یو داسي

آیت هم نشته چې په هغه کې صراحتاً او یا اشارتاً او تلویحاً علي رضي الله عنه ته اشاره شوې وي!! د دوی په مقابل کې بیا ځینې نور داسې دي چې د تفسیر او ترجمې په دوران کې د یوه لفظ ټولې هغه معاني رااخلي چې د لغت په کتابونو کې ئې بیامومي او د مختلفو معانیو له مخې د آیت ګڼ شمېر ترجمې او تفاسیر وړاندې کوي، پرته له دې چې یوې ته په بلې ترجیح ورکړي او دا ووایي چې په دې خاص ځای کې کومه ځانګړې معنی مراد ده!! دوی ګمان کوي چې د یوه کلام کمال په دې کې دئ چې ډېرې معاني ولري!! حال دا چې بلیغ کلام هغه دئ چې معنی ئې څرګنده وي، مخاطب مشخص، محدد او واضح مفهوم ترې واخلي، دا شك ورته راپیدا نه شي چې د کلام د خاوند هدف څه دئ، برعکس د ویناوال هدف په صراحت او آسانۍ سره درك کړي. قرآن خو خپل ځان داسې معرفي کوي چې مبین، آسان، له شك فارغ او څرګند دئ، یوه برخه ئې په بلې سره توضیح شوې، په واضح عربي ژبې کې لېږل شوی، ابهام او اغماض په کې نشته او د هر څه تفصیلي بیان په کې راغلی.

۷-۸: د نفس تسویه په داسې بڼې کې چې هم د (تقوی) الهام ورته شوی او هم د (فجور)، په دې پوهېږي چې له څه (ځان ساتنه) وکړي او هغه (حدود) کوم دي چې مراعات ئې ورته ضروري دئ، هغه چې ترې اوړېدل او راښوېېدل فطري حدود ماتول او له طبیعي پولو تېرېدل او (فجور) دئ، د انسان په ضمیر کې دا د تقوی او فجور پېژندا د دې نښه ده چې د نفس تزکیه او معنوي رشد او ارتقاء ئې او د دغه فطري استعداد وده د ده فلاح او بریا تضمینوي او د دې استعداد تدسیه او ځپل د انسان په شقاوت او بد بختۍ منتج کېږي. هر څوك په دې پوهېږي چې د انسان په بقاء او فلاح کې دوه شیان اساسي او مهمه وڼه لري: ۱- له هغه څه (ځان ساتنه) چې تاوان ورته لري، ۲- او د هغو پولو مراعات چې د انسان سالم طبیعت ئې د مراعات غوښتنه کوي. که په انسان او بل هر ژوي کې له مضر د (ځان ساتني) استعداد نه وی او تاوانې شیانو ته د تمایل په وخت کې د ده د ضمیر په تل کې یوه غریزه نه راپارېدی او دی ئې نه منع کولی، د ژوند دوام او بقاء ئې ممکن نه وه. همدا راز که ئې له خپلو طبیعي پولو فطري پېژندنه په برخه نه وی، له دغو پولو د اوښتو په وخت کې خپل ضمیر دا غږ پرې نه کولی چې ودرېږه او له دې لیکې آخوا مه تېرېږه او دا حد مه ماتوه او دلته ئې هغه له (فجور) او حد ماتولو نه منع کولی، د زمکې پر سر ئې د ژوند بقاء ممکنه نه وه. که د ټولو هغو شخړو او فتنو جړې ولټوو چې د انسان ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي او د هغو شخړو عوامل وڅېړو چې په خونړیو نښتو منتج کېږي، د ټولو تر شا به یا عدم (تقوی) او ځان نه ساتنه وګورو او یا (فجور) او

له پولو تېرېدل او طغیان ومومو. په رښتیا چې د انسان فلاح او بریا د نفس په تزکیې او شقاوت او بدبختي ئې د نفس په تدسیې پوري تړلې.

کوم درانه مفسرین چې ګمان کوي دلته (ما) د (مَن) په معنی راغلې، دا استدلال کوي چې په دې آیت (فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا) کې الهام کوونکی او د الهام د فعل فاعل نه دئ په ګوته شوی او په مخکینیو آیتونو کې هم له (ما) پرته بل فاعل نه مومو نو ځکه باید دا الهام کوونکی هماغه ذات وي چې د انسان نفس ئې سم او برابر پیدا کړی، د دوی په ځواب کې باید ووایو:

لومړی: داسې آیتونه په قرآن کې ډېر زیات وینو چې فاعل په څرګندو الفاظو نه دئ ښودل شوی خو د کلام له فحوی په واضح توګه هغه پېژندی شو، لکه د النازعات د سورې په ۲۷- ۳۲ آیتونو کې داسې افعال راغلي چې فاعل ئې یوازې د قرائنو له مخې پېژندی شو:

ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴿٣١﴾ وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا ﴿٣٢﴾ النازعات

تاسو به وئ ګران په پیدایښت کې که آسمان چې جوړ ئې کړ؟ لوړتیا ئې کړه ورلوړه او ښه ئې برابر کړ. او شپه ئې کړه ورپټه او راوړې ایسته غرمه ئې. او له دې وروسته زمکه ئې خوره کړه. راوئې ایستې اوبه ئې او واښه ئې. او ځای په ځای ئې ودرول دا غرونه. متاع ستاسو لپاره او ستاسو د څارویو.

په دغو ټولو آیتونو کې (فاعل) فقط له قرائنو معلومولی شو. نه په خپله آیتونو کې په څرګندو الفاظو راغلی او نه په نژدې مخکینیو آیتونو کې.

دوهم: په داسې ضعیف دلیل سره نه شو کولی هغه ترجمه توجیه کړو چې په کلام کې د رکاکت باعث او د آیتونو تر منځ د تړاو لړۍ شلوي او یووالی ئې له منځه وړي.

۹-۱۰: د مخکینیو قسمونو ځواب په دغو دواړو آیتونو کې راغلی، مخکینۍ شرحي ته په پام سره په واضح توګه ګورو چې د قسمونو او ځواب تر منځ ئې ژور او ډېر نژدې تړاو او ارتباط شته، لکه څنګه چې په دې عالم کې رونړ او تود لمر ګورې او سپوږمۍ چې تودوخه نه لري او رڼا له لمر تر لاسه کوي، شپه او ورځ ګورې چې یوه ئې لمر راخرګند کړي او بله ئې پټوي، لوړ آسمان ګورې او پرېوتې زمکه؛ او لکه څنګه چې د انسان په ضمیر کې د الهام شوې (تقوی) او (فجور) شاهد یې، نو ستا د روح او نفس تمایلات هم دوه حالته لري، یا به ئې تزکیه کوې، پاکیزه به ئې ساتې، وده او ارتقاء به ورکوې او فلاح او بریا ته به رسې

او یا به ئې لرې، ټیټ له زمکې سره به ئې نښلوې، د ودي او ارتقاء مخه به ئې نیسې، دې ته به ئې پرېږدې چې تت شي او زنګ پرې پرېوځي، چې په دې صورت کې به ئې له تباهۍ او نامرادۍ سره مخامخ کوې.

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَىٰهَآ ﴿١١﴾ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشْقَىٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقْيَىٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴿١٥﴾

۱۱- په خپلې سرکښۍ خو ثمودیانو تکذیب وکړ. ۱۲- هله چې راپورته شو تر ټولو لوی بدبخت ئې. ۱۳- نو دوی ته وویل د خدای رسول چې پام، د الله په دغې اوښې او وار د اوبه خور ئې. ١٤- خو دروغجن ئې وګڼلو او د اوښې لاس او پښې ئې قطع کړلې، نو په وجه د ګناه ئې د دوی رب پرې غضب وکړو او ښه ئې برابر کړل. ۱۵- او د عاقبت ئې پروا نه کړې.

۱۱-۱۵: په دغو مبارکو آیتونو کې د پورتنۍ سترې مدعی لپاره یوه مجسمه تاریخي بېلګه وړاندې شوې او د تاریخ په لوړو ژورو کې ئې دا حقیقت ثابت کړی چې د (نفس د تدسیې) او له (تزکیې) د امتناع پایلې څومره خطرناکې دي او انسان له کوم عاقبت سره مخامخ کوي؟ د ثمودیانو د باغي او سرکښ قوم قصه زمونږ مخې ته ږدي او فرمایي: (ثمودیانو) سرکښي او طغیان وکړ، دا (طغیان) باعث شو چې الله تعالی او آیتونه ئې، پیغمبر او دعوت ئې (تکذیب) کړي، د دې (تکذیب) او له (حق) د انکار اصلي عامل د دوی (طغیان) وو، تر ټولو شقي انسان په دوی کې راځرګند شو، راپاڅېدو، د طغیان لپاره ئې ملا وتړله، قوم ورپسې اقتداء وکړه، د تکذیب او طغیان لاره ئې غوره کړه، له خپل پیغمبر صالح علیه السلام ئې د معجزې غوښتنه وکړه او وئې ویل: تر هغه به ستا دعوت ونه منو چې څرګنده معجزه رانه وړې، صالح علیه السلام دعاء کوي، الله جل شأنه د اتمام حجت لپاره له لویې ډبرې داسې اوښه راپیدا کوي چې کولی شي ټول کلي ته شیدې ورکړي، پیغمبر ئې ورته وایي: دا ئې ستاسو غوښتې معجزه، خو اوس به د دې څاه اوبه یوه ورځ ستاسو وي او یوه ورځ د اوښې، هم به د اوښې پام ساتئ او هم ئې د اوبه خور، د تېرې په صورت کې به الهي عذاب درباندې راپرېوځي. څه موده ئې دې وېش ته غاړه کښېښوده، خو ډېر ژر ئې د صبر او قناعت لمن پرېښوده، تر ټولو شقي انسان ئې راپاڅېدو، د اوښې وژلو ته ئې متې رابډوهلې، د خپل پیغمبر ګواښ ته ئې اعتناء ونه کړه،

هغه ئې تکذیب کړ، د اوښي لاس پښې ئې قطع کړې، الهي عذاب پرې نازل شو او حسیب خدای د حجت له اتمام وروسته هر څه پرې رانسکور او له خاورو سره برابر کړل. دا دئ ګورئ چې د (نفس طغیان) انسان (تکذیب) ته هڅوي، له معجزو انکار ته ئې تیاروي، طاغي او باغي نفس ته تر ټولو څرګنده معجزه هم اهمیت نه لري او ګټه نه وررسوي، د حجت او معجزې لاس پښې قطع کوي.

الهي سنت داسي دئ چې د عذاب د وروستۍ پرېکړې له صادرولو مخکې اتمام حجت کوي، مهلت ورکوي، پیغمبر لېږي، څرګندي نښې د انسان مخې ته ږدي او په پای کې خپله وروستۍ پرېکړه صادروي، لکه چې بني اسرائیلو ته ئې د (هاروت او ماروت) په نامه دوه فرشتې د انسان په بڼې کې ولېږلې، د لوط علیه السلام قوم ته ئې فرشتې د تنکیو زلمیانو په څېر ولېږلې او ثمودیانو ته ئې (ناقة الله) د اتمام حجت لپاره راپیدا کړه. الله تعالی د دې باغي قوم د ګناهونو له کبله هر څه پرې رانسکور کړل او د پایلو پروا ئې نه وه، الله تعالی د دنیا د هغو واکمنانو په څېر نه دئ چې د مجرم د مجازات په وخت کې زړه نا زړه وي، احتیاط کوي، دا اندېښنه ورسره وي چې داسي نه د مجرم قوم، قبیله، حزب او ډله عکس العمل ونه ښیي، خو قدیر او شدید العقاب خدای د دې (طاغي) او (مجرم) قوم د نیوني او مؤاخذې د پایلو هیڅ پروا نه وه.

اللیل

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم اللیل دئ، له لومړي آیت ئې اخیستل شوی، ۲۱ آیتونه لري، ټول آیتونه ئې د لومړي آیت په څېر طول او وزن لري او (یغشیٰ) ته په ورته او هموزنو صیغو پای ته رسېدلي، د الشمس له سورې سره ډېر شباهتونه لري او د سورې له متن داسي معلومېږي چې د الشمس له سورې مخکې نازله شوې، دا ځکه چې دلته هغه ګواښونه نه ګورو چې د الشمس په سورې کې د ثمودیانو د قصې په ترڅ کې د قریشو باغي او طاغي سردارانو ته متوجه وو او له دې په واضح توګه معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې د سردارانو شدید مخالفت لا نه وو پیل شوی.

د بحث محوري موضوع د دې مطلب ثابتول دي چې د انسان عملونه د ماهیت او پایلو له مخې په خپلو کې ژور توپیرونه لري او داسي نه ده لکه چې بې ایمان وګړي ئې انګېري او په آخرت باور نه کوونکي ګمان کوي چې د انسان (اعمال) یوازي د ظاهري بڼې

له مخي يو له بله توپير لري، خو په اصل کې او د ماهيت له مخي هيڅ توپير سره نه لري، يعني دا نه مني چې د انسانانو ځيني عملونه ښه دي، د ښې بدلې وړ او په آخرت کې ئې د ښو پايلو باعث او ځيني ئې بد، د بدو بدلو وړ او په آخرت کې د بدو پايلو باعث، دوی د انسان د عملونو په اړه د تفاوت او توپير باور هسې يو بې بنسټه تصور او خيال ګڼي، د دوی په اند کوم عمل ته ښه يا بد او ښکلی يا کرکجن ويل د انسان د موسمي او مقطعي باورونو زېږنده ده، نن يوه کار ته ښه وايي خو څه موده وروسته همدا کار بد ګڼي!! دا سوره د دغه غلط ذهنيت د تصحيح لپاره فرمايي: لکه څنګه چې شپه او ورځ په خپلو کې ژور توپيرونه لري، يوه ئې په بشپړ سخاوت سره رڼا او تودوخه درکوي، ستا مخه درته روښانه کوي، د ګټورو او مفيدو شيانو د پېژندو او له هغوی د ګټې اخيستو امکان درکوي، بد او مضر شيان درمعرفي کوي او له هغوی د ځان ساتلو امکان په لاس درکوي، بله ئې هم رڼا له تا سپموي او هم تودوخه، په تياره کې ئې نه دوست له دښمنه بېلوی شې او نه مفيد له مضره، ستا عملونه دې ته ورته دي، يو له بل متفاوت، ځيني ئې د ورځې په څېر، چې په کې ورکړه، پېرزوينه، ځان ساتنه، د ښه او ښايسته پېژندنه ده او ځيني ئې د شپې په څېر چې په کې بخل، سپما، استغناء، د ښه او ښکلي نه پېژندا ده، همداسي چې شپه او ورځ د ماهيت له مخي سره توپير لري او نتائج ئې سره ورته نه دي، د انسانانو دا دوه ډلې له دوو ډوله عملونو سره په هيڅ صورت کې او د هيڅ معيار له مخي سره برابر نه دي.

لکه څنګه چې (نارينه) او (ښځينه) انسانان د جوړښت له پلوه سره توپير لري، د انسانانو دوه ډلې هم د بېلابېلو او متفاوتو عملونو له مخي سره ورته نه دي، هغه چې خپلې شتمنۍ د الله تعالی په لار کې لګوي او تقوی او ځان ساتنه لري، ښېګڼه تصديقوي، هغه به هرومرو په هغې آسانۍ لاري د تلو توفيق تر لاسه کوي چې د ده سالم فطرت ئې غوښتنه کوي او هغه چې بخل او استغناء کوي، ښېګڼه تکذيبوي، خامخا به هغې سختې لاري ته راښکل کېږي چې د ده د فطري غوښتنو سره مغايرت لري او له داسي برخليك سره به مخامخ کېږي چې نه ئې مال او دولت ترې ژغورلی شي او نه ئې زور او ځواك.

د هغه شقي او بدبخت انسان لپاره چې د (تکذيب) لار غوره کوي او له حق او حقيقت ډډه کوي، د جهنم سرې لمبې انتظار کوي، خو هغه چې د (تقوی) لار غوره کوي او خپل مال د عاطفې او ترحم په حکم، د خپلې روح او نفس د تزکيې لپاره لګوي او موخه ئې د الله تعالی رضاء تر لاسه کول وي او له ده پرته له هيڅا طمع او توقع نه لري، له دې اوره به خوندي وي او له داسي برخليك سره به مخامخ کېږي چې د ده د رضايت او خوښۍ باعث به وي.

د دې سورې خلاصه دا ده چې د انسان اعمال (ښه) او (بد) لرې او مکافات او مجازات ایجابوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ١ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ٢ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ٣ إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ٤

۱- قسم په دغې شپې چې کله ونغاړي تياره کې. ۲- قسم په دغې ورځې چې ځلانده کړي (رڼا کې). ۳- قسم دئ په دا هسې پيدايښت د نر او ښځې. ٤- بې له شکه بېلابېلې مو دي هڅې.

١-٤: دلته د قسمونو په پای کې ویل شوي:

إِنَّ سعْيَكمْ لَشتى :

بې له شکه چې ستاسو هڅې بېلې بېلې دي.

د قسمونو او ځواب شرح او تفصيل داسې دئ: دلته په دريو شيانو لوړه شوې: په شپه چې کله خپل تور وزر په هر څه وغوړوي او له سترګو ئې پټ کړي، په ورځ چې هر څه راڅرګند کړي او د نر ښځې د پيدايښت په څرنګوالي.

د دغې ادعاء د اثبات لپاره چې د انسانانو هڅې او مساعي يوه له بلې توپير او تفاوت لري او د ماهيت، ارزښت او نتائجو له مخې يو شانته نه دي، په مخکينيو دريو خبرو استناد شوی: د (شپې) او (ورځې) تر منځ تفاوت او د (نارينه) او (ښځې) تر منځ تفاوت.

لومړی بايد دا خبره واضح شي چې د انسان د هڅو او مساعي تر منځ د تفاوت معنی څه ده؟ بيا بايد وګورو چې دا قسمونه څنګه د دغې ادعاء په حقانيت شهادت ورکوي؟ د انسان د کړنو په اړه دوه تصور او انګېرنې درلودی شو:

- د انسان اعمال (ښه) او (بد) لرې او مکافات او مجازات ايجابوي.
- د انسان اعمال ښه او بد نه لري، نبايد هغه د ښه او بد په معيارونو وزن کړو، ځينو ته ښه او ځينو ته بد ووايو او په مکافات او مجازات ئې باور ولرو.

څوک چې په خدای او آخرت باور نه لري، د انسان د عملونو په اړه ئې انګېرنه دا ده چې د انسان ټول اعمال يو شانته دي او د هغوی تر منځ په تفاوت باور نه لري، فقط هغه عمل (بد) ګڼي چې بل ترې متضرر شي، دا (عمل) هم په دې دليل بد نه دئ چې

(ذاتاً) او (اساساً) بد وي، نه؛ بلکې د هغه چا له نظره بد دئ چې ترې متضرر شوی، په یوه عمل کې د دواړو ذیدخلو خواوو د رضایت په صورت کې هر کار جائز او سم ګڼي. دا تصور د دې باعث ګڼړي چې انسان د عملونو مکافات او مجازات نفي کړي او په هغه باور ونه لري، د دغې انګېرنې له مخې (ښه) او (بد) د انسان د (خیال) زیږنده ده، د انسان له ځانګړو تصوراتو راولاړ شوی، اساساً (ښه) او (بد) نشته، دا په خپله تاسو یئ چې (ښه) او (بد) مو جوړ کړي.

قرآن د دغه غلط ذهنیت او ناسم تصور د تردید او تصحیح لپاره وایي: لکه چې شپه او ورځ سره متفاوت دي، یوه توده او روښانه او بله تیاره او سړه، یوه په ټول سخاوت سره نور شیندي، هر څه درته څرګندوي او په خپل حرارت سره د هر محتاج مرسته کوي، بله د نور او حرارت مانع شي، په هر څه تیاره پرده وغوړوي او پېژندل ئې ګران کړي، څوك چې د ورځې له خوا کار کوي خپل هرګام په پوره سوچ سره اخلي او په خپل ځای ئې ږدي، خو څوك چې د شپې له خوا خوځېږي هم د خپل حرکت د سمت او استقامت په تعیین کې له ستونزو سره مخامخ وي او هم د ګام اېښودو موزون ځای په غوره کولو کې. ستا عملونه هم یو له بله دومره تفاوت لري لکه دا د طبیعت دوه بېلابېلي شېبې، شپه او ورځ!! لکه چې (نر او ښځه) په هر خاص نوع ژوي کې په خپلو کې ژور تفاوتونه لري، هم د جوړښت له اړخه او هم له مقابل لوري سره په خپل تعامل کې، یو ئې اخیستلو ته تیار وي او بل ورکولو ته، یو ورکړه کوي او بل اخیستنه، د انسان په عملونو کې دې ته ورته تفاوتونه شته.

د انسان په کړنو کې تفاوت هومره ژور دئ لکه یو د بل مقابل کې د شپې او ورځې د تفاوت په اندازه او حتی تر دې هم زیات؛ یو ایثار کوي، د مظلوم او بې وزلې د ژغورنې لپاره خپل مال وقف کوي، له (بخل) ځان ساتي، د بل په حق له تجاوز او تېري ډډه کوي، له هغه څه چې ده یا د ده همنوع ته صدمه رسوي امتناع کوي، د اوچتو اولوړو انساني اهدافو لپاره قربانۍ ورکوي او (حسنی) (تصدیقوي)، یعنی (ښه) او (ښایسته) پېژني او په هغه اعتراف کوي، د ښه او ښایسته د پېژندو استعداد لري، د (ښه) او (بد) تفکیك کولی شي، له ټولو سره ورته چلن نه کوي، دا تمییز لري چې د انسان تر ټولو غوره عمل کوم دئ او تر ټولو بد ئې کوم. ټول یو برابر نه ګڼي. د دې کس عمل د ورځې په څېر دئ؛ روښانه او ښایسته. ده ته د ښېګڼو په آسانه لار تګ آسان شي، د انساني سالم فطرت د غوښتنو سره سم چلن ورته سهل او غوره برېښي، نه له ښه عمل ستومانه کېږي او نه پښېمانه کېږي، د دې په مقابل کې بل انسان داسي وي چې (بخل) کوي، د خپل مظلوم او بې وزلې

همنوع د ژغورنې لپاره د خپلو شتو له انفاق ډډه کوي، دا ضرورت نه احساسوي چې د محتاج انسان مرسته وکړي، له دې ځان بې نیاز ګڼي چې د کوم لوړ انساني هدف لپاره څه قربانۍ ورکړي، د ښه او بد عمل تر منځ د تفکیک او تمییز استعداد په کې ځپل شوی وي، له فضائلو انکار کوي، هر (معنوي ښایست) نفي کوي او د عمل په بدلې باور نه لري، د دې کس کړه وړه توري شپې ته ورته دي چې د نور او حرارت مانع کېږي او د ښه او بد او مضر او مفید د پېژندلو په وړاندي خنډ شي. دي کس ته د بدو او کرکجنو کړنو (سخته) لار ښایسته او آسانه وبرېښي، د انساني سالم فطرت مغایر عمل ورته ښایسته معلوم شي او د بدو په ډنډ کې مزید غرق شي. مگر دا کافي نه ده چې اعتراف وکړو د انسان عمل هم د کیفیت له لحاظه او هم د پایلو او عاقبت له پلوه تفاوت لري؟

فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ۝٥ وَصَدَّقَ بِٱلْحُسْنَىٰ ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْيُسْرَىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسْتَغْنَىٰ ۝٨ وَكَذَّبَ بِٱلْحُسْنَىٰ ۝٩ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْعُسْرَىٰ ۝١٠

۵- نو هغه چې ئې ورکړه او تقوی وکړه. ٦- او رښتیا ئې وګڼله غوره پایله. ۷- نو ژر به ئې آسانې ته آسان کړو. ۸- او چا چې استغناء او بخل وکړ. ۹- او دروغ ئې وګڼله غوره پایله. ۱۰- نو ژر به ئې آ ګرانې ته آسان کړو.

۵-٦: ستاسو د کړنو تر منځ توپیر دومره ژور دئ چې یو د بل ضد او مقابل، د شپې او ورځې تر منځ د توپیر په څېر او حتی تر دې هم زیات، یو ایثار کوي، د خپل همنوع د لاس نیوي لپاره خپل مال وقف کوي، له بخل او حرص ځان ساتي، د بل په حق تېرى نه کوي، له هغه څه ډډه کوي چې ده یا د ده همنوع ته تاوان رسوي. (حسنى) تأییدوي، چې څو تعبیرونه ئې شوي: د عمل په ښې بدلې باور لري، په ښایسته جنت باور لري، موحد دئ ښه عقیده لري؛ او تر ټولو غوره تعبیر ئې دا چې: ښایست پېژني او اعتراف پرې کوي، د ښه او بد، ښایسته او ناښایسته تر منځ د تفکیک توان لري، له ټولو سره ورته چلن نه کوي، د انسان تر ټولو غوره او ښکلی عمل له هغه بېلولی شي چې تر ټولو بد او کرکجن دئ، ټول یو شانته او برابر نه ګڼي، د دې انسان عمل د ورځې په څېر ښکلی او ښایسته دئ، الله تعالى به ئې هغې آسانې لارې ته هدایت کړي چې د ده د روغ او سالم فطرت مقتضا ده، په دې لار تګ به ورته آسان کړي.

قرآن له یوې خوا د ایمان لار (سهل) او آسانه ګڼي او له بلې خوا ئې ګرانه، سخته او (عقبه)، دا ځکه چې ځینو ته آسانه وي او ځینو ته ګرانه او سخته برېښي. دا لار ستا لپاره

(فطري) لار ده، په هغې کې به د زړه ډاډ او د روح تسکين تر لاسه کړې، وجدان به دي راضي او عقل به دي قانع وي، که څه هم په دې لار کې لوړې ژوري او کږلېچونه شته، له ډول ډول ابتلاءاتو سره توأم ده، د شر او فساد له ځواکونو سره ټکرونه په کې دي، له ګواښونو سره مخامخېدل، زندان ته تګ، قرباني ورکول، هجرتونه، شهادتونه، محروميتونه او محاصرې له ځان سره لري، هم آسانه ده او هم ګرانه.

د لومړۍ ډلې په مقابل کې بله ډله داسې ده چې بخل کوي، د بې وزلې انسان او د خپل همنوع ورور د لاس نيوي لپاره د خپل وخت، شتمنيو او امکاناتو له مصرفولو ډډه کوي او د داسې کار هيڅ ضرورت نه احساسوي، نورو ته له اعتناء او التفات ځان بې نياز ګڼي او بې پروايي کوي، فضائل او ښېګڼې تکذيبوي، د (کرکجن) او (بښه) عمل تر منځ د تفکيك استعداد نه لري، معنوي ښکلا او ښايست نفي کوي او د عملونو په نېکي بدلې باور نه لري. د دوی عملونه د توري شپې په څېر تك تور وي، نه چا ته رڼا ورکوي او نه تودوخه، الله تعالى به دا خلك پرېږدي چې د خپل سالم انساني فطرت مغاير لاري باندي وخوځېږي، همدا غير فطري او ګرانه لار ورته آسانه او ښايسته وبرېښي او په شور او شوق سره پرې روان وي. کوم څوك چې په لومړي ځل د ګناه اراده کوي، سخت مشوش وي، وېرېږي، داسې احساس کوي چې يوه ژور ګړنګ ته ځان اچوي، خو ورو ورو ئې دا احساس کمزورى کېږي او خبره هغه ځای ته ورسېږي چې همدغه ګناه ورته عادي برېښي، څوك چې په لومړي ځل دروغ وايي، خولې پرې راماتې شي، وېرېږي، دا وېره او انديښنه ئې په څېړې او حرکاتو کې له ورايه معلومېږي، خو ورو ورو ئې کار هغه ځای ته ورسېږي چې دروغ ويل ورته آسان شي، په دروغو کې داسې مهارت تر لاسه کړي چې نه ئې په څېړې کې کوم خاص تغيير راځي او نه ئې په حرکاتو کې، دروغ ورته کمال برېښي او د هوښيارۍ نښه ئې ګڼي!! ګورئ چې د انسان عملونه هم د کيفيت له لحاظه توپيرونه لري او هم د پايلو او عاقبت له پلوه.

وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْءَاخِرَةَ وَٱلْأُولَىٰ ﴿١٣﴾

۱۱- او مال به ئې څه دفع کړي له ده، کله چې نسکور شي؟ ۱۲- بې شکه چې پر موږ ده لارښوونه. ۱۳- او له شك پرته پای او پيل دئ زموږ.

۱۱- د دې آيت لپاره دوه ترجمې مومو:

• کله چې ومري او د قبر په غېږ کې پرېوځي، مال به ئې هیڅ څه له ده دفع نه کړی شي، هغه مال چې ده له حرامو لارو راغونډ کړی وو، پرته له دې چې د پاك او ناپاك او جائز او ناجائز تر منځ فرق وکړي اوس به د ده په هیڅ درد ونه خوري، څه به له ځان سره قبر ته هم نه وړي، دولت او ثروت، زر او زمکه، باغونه او بنګلې، وسائل او تجهیزات،... هر څه به ترې پاته وي، خالي لاس او د ګناهونو له پېټي سره به د الله په لوري درومي. په دې تعبیر کې (تردیٰ) په قبر کې د نسکورېدو په معنی اخیستل شوی.

• په دوهم تعبیر کې (تردیٰ) د معنوي او اخلاقي سقوط په معنی اخیستل شوی او وایي: کله چې دی له اخلاقي او معنوي پلوه سقوط وکړي، نو هغه مال او متاع به ئې څه ترې دفع کړی شي چې له حرامو او ناروا لارو ئې راغونډ کړی؟ د ده کومه مهلکه او خطرناکه فردي او اجتماعي بیماري به مداوا او علاج کړی شي؟ کله چې د ده کار هغه ځای ته ورسېږي چې ښه او بد ورته برابر وبرېښي، له اخلاقي او معنوي لحاظه داسې سقوط وکړي چې نور نو ښېګڼه او فضیلت نفي کړي، ښایسته او ناښایسته یو شانته ګڼي، نو په دې حالت کې به مال او دولت څه ګټه ورورسولی شي؟ غربي ټولنه د دې الهي قضاوت ډېر عبرتناکه بېلګه ده، هلته خلك اوچت مرفه ژوند لري، هومره چې له نورو ملکونو سره ئې مقایسه ګرانه ده، خو دا مرفه ژوند ئې له دې لاري په برخه شوی چې دا څوومه پېړۍ ده چې دوی د ټولو افریقایي او آسیایي ملکونو د شتمنیو په غارت او لوټمار بوخت دي، په دغو ملکونو کې د فقر او لوږې ستر او اساسي عامل هغه وضعیت دئ چې غربي ملکونو د دې هېوادو د اشغال په وخت کې پرې مسلط کړ، لومړی ئې دا هېوادونه د فوځونو په زور ونیول او د دوی د شتمنیو د غارت لړۍ ئې پیل کړه او بیا هغه وخت ترې ووتل چې په خپلو مستعمراتو ئې د خپلې خوښې نظام، اداره، فوځ، پولیس او چارواکي مسلط کړل او اوس په غیر مستقیمه توګه حکومت پرې کوي او شتمنۍ ئې غارت کوي، خو دا دئ ګورئ چې غرب اوس او له معنوي او اخلاقي پلوه د سخت سقوط له کبله له کوم خطرناك حالت سره مخامخ دئ؟ اوس په غربي ټولنې کې د حلال او حرام توپیر له منځه تللی، هر څوك له هري لاري مال تر لاسه کولی شي، حتی د خپل عزت او ناموس د پلورلو له لاري، نه په پټه بلکې څرګند او د دولت په رسمي اجازې سره، هلته خیانت، تېری او ګناه عام شوي، د نورو ولسونو په سر، مال او عزت تېری عادي او جائز کار ګڼل کېږي، هري خوا ته تشویش او اضطراب خور شوی، په فرد او ټولنې مسلط اضطراب او پرېشاني هغه ځای ته رسېدلې چې خلك چرس، شراب او هیروئینو په څېر مخدره موادو ته پناه وړي، ځان وژنې، جنسي انحرافات، د کورنۍ متلاشي کېدا، د کورنۍ له جوړولو بې زاري داسې خطرناك پراو ته

رسېدلي چې زړه سواند مفکرین ئې د ډېرې بدې راتلونکې خبرداری ورکوي، دلته معیارونه بدل شوي، د انسان د کړنو په اړه د (ښه) او (بد)، (ښایسته) او (ناښایسته) اعتقاد له منځه تللی او خپل ځای ئې د فضائلو او اخلاقي او معنوي وړتیاوو نفي ته پرېښی، د غربي هېوادو تر ټولو د ستر هېواد جمهور رئیس په (اخلاقي انحراف او د بل په ناموس تجاوز) متهم کېږي، د استنطاق په وخت کې دروغ وایي او د قاضي په وړاندي په دروغو لوړه کوي، د دغې (رسوا ماجرا) له افشاء وروسته د دې په ځای چې فرد فرد ئې ورټي، سپك او ذلیل ئې وګڼي، حیثیت او اعتبار ئې ختم شي او په ولس کې د ده د محبوبیت کچه راکمه شي، برعکس د ده محبوبیت په هغې پرېوتې او لړلې ټولني کې لا زیاتېږي، د ده ځای ناستی خپل ولس او ټولې نړۍ ته پر عراق د حملې په اړه ستر دروغ وایي، ادعاء کوي چې عراق اټمي وسائل او د ګڼ وژنې وسلې لري، خو له برید وروسته ټولې نړۍ ته معلومه شوه چې ده خپل قوم او نړۍ ته عمداً دروغ ویلي وو، خو د دې په ځای چې دا ښکرور دروغ ئې اعتبار ختم کړي برعکس یو ځل بیا د جمهور رئیس په توګه ټاکل کېږي!! دغه مال او دولت نه یوازي د دوی اساسي ستونزي نه شي حل کولی بلکې له مزید خطرناکو ستونزو سره ئې مخامخ کوي.

۱۲- د دې آیت تر ټولو غوره تفسیر دا دئ چې حکیم خدای، د خپل پراخ رحمت له کبله دا په خپلې ذمې اخیستې چې په هر صورت کې د انسان لارښوونه وکړي، د لیدو؛ اورېدو، پوهېدو، احساس او ادراك توفیق ورکړي، غوږونه ئې له اورېدو، سترګې ئې له لیدو، عقل او شعور ئې له فهم او پوهې محروم نه کړي، د کفر او بې ایمانۍ په حالت کې هم د ده دا استعداونه نه ځپي، ځینې مفسرین ئې دا تفسیر غوره ګڼي چې الله تعالی دا په خپله ذمه اخیستې چې د خپلو بندګانو د هدایت لپاره (لارښود پیغمبر) او (لارښوونکی کتاب) ولېږي، خو د آیت له فحوی او سیاق و سباق نه ئې معلومېږي چې لومړۍ توجیه دقیقه او غوره ده.

۱۳- دا آیت وایي چې پیل او پای د الله دئ، په څو معنی وو:

- الله تعالی ستاسو د (دنیا) او (عقبا) مالك دئ، د خپلې دنیا او آخرت خیر او سعادت د الله تعالی خوا کې او په الهي لارښوونو کې ولټوئ.
- نه په دنیا کې د الله تعالی له نیونې او مؤاخذې خلاصېدی شئ او نه په آخرت کې، دا ځکه چې الله تعالی د دنیا او آخرت څښتن او مالك دئ.
- که ئې منې او که ئې نه منې الله تعالی د دنیا او آخرت مالك دئ، نه په الله تعالی ستا باور او عقیده او د الهي لارښوونو متابعت د ده د اقتدار او واکمنۍ لمن پراخولی شي او نه ئې ستا انکار او عصیان راکمولی شي، په هر صورت الله تعالی د دې ټول عالم او د دنیا او

عقبا بلامنازع ټولواك دئ.

- هم د هر کار پيل د ده په توفيق سره دئ او هم ئې پای او پايله هغه تعيينوي.

که له مخکينيو آيتونو سره د دې آيت ارتباط ته لږ ځير شو په آسانۍ سره په دې خبرې پوهېدی شو چې ځلورمه توجيه ډېره دقيقه او له نورو آيتونو سره ئې د ټراو تقاضی همدا ده.

فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَىٰهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ ﴿١٩﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾

١٤- نو ومو ويرولئ له آ اوره چې لمبې کړي. ١٥- ننوځي په کې نه مګر همغه چې تر ټولو وي بدبخته. ١٦- همغه چې تکذيب ئې کړ او شا ئې واړوله. ١٧- او تر ټولو متقي به تري ساتلی شي په ډډه. ١٨- هغه چې خپل مال ورکوي، ځان تزکيه کوونکی. ١٩- هيڅا ته، له ده سره کوم داسي نعمت نه وي چې بدله ئې ورکوی شي. ٢٠- مګر د خپل لوړ رب د رضاء لټول. ٢١- نو خود به ژر راضي شي.

١٤-٢١ په دغو مبارکو آيتونو کې د انسان د عملونو دوه متضادي او متباينې بېلګې د يوې بلې خوا ته ږدي او د دواړو پايله سره مقايسه کوي او فرمايي:

له هغه اور خبرداری درکوم چې لمبې ئې پورته کېږي، دا د سرو او لوړو لمبو اور د هغه چا ځای دئ چې تر ټولو زيات (بدبخت او شقي) انسان دئ، تر ټولو بدبخت انسان همغه دئ چې دې ستر اور ته به ننوځي او دا شقي او بدبخت انسان همغه دئ چې د حق د تکذيب او له هغه د اعراض لار ئې غوره کړه، له دغه وېروونکي، مخوف او مهيب عاقبت به هغه څوك ژغورل کېږي چې تر ټولو زيات (متقي او پرهېزګار) وي، خپل مال د خپلې روح او نفس د تزکيې لپاره انفاقوي او د دې لپاره هم د خپل مال يوه برخه انفاقوي چې په دې سره خپل مال له هغې ناولتيا پاك کړي چې ښايي په کومي حرامي او ناولې ګټې سره به ئې لړلی وي، دا انفاق ئې د دې لپاره هم نه وي چې بل ته د کومي مرستي يا ښېګڼې بدله ورکړي، د هيڅا د داسي کومي پېرزويني او احسان پوروړی نه وي چې عوض به ئې ورکوي او د هيڅا لپاره له ده سره داسي څه هم نه وي چې د بدلې طمع ئې ورکړي ته وهڅوي، له کومي طمعي پرته له نورو سره مرسته کوي، يوازينی هدف ئې دا وي چې د خپل رب رضاء تر لاسه کړي، عطاء او بخښنه ئې له هري شائبې پاکه وي، خپل رب له

دې ډېر لوړ ګڼي چې د ده تر څنګ د بل رضاء ولټوي او يا له بله د بدلې طمع ولري. آيا کېدی شي له داسي شکلا، قداست او نزاهت ډک نېک عمل د هغه دروغجن، بخيل، له حق او حقيقت منکر انسان له کرکجن عمل سره ورته وګڼو او په ورته پايلې ئې باور ولرو؟!! نه؛ داسي هيڅکله نه شي کېدی، يو د اور د لمبو مستحق دئ او بل ئې له دې د خوندي پاته کېدو مستحق، دا بايد داسي بدله تر لاسه کړي چې پرې راضي شي. له داسي چا الله تعالی راضي کېږي، خود به د ده د خوښي او رضاء وړ بدله ورکوي.

الضحى

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الضحى (غرمه) دئ، له لومړي آيت ئې اخيستل شوی، ۱۱ آيتونه لري، لومړي اته آيتونه ئې د (ضحى) په څېر هموزنو صيغو پای ته رسېدلې، دوه ورپسې آيتونه ئې د (تقهر) او (تنهر) هموزنه فواصل لري، د آخري آيت د پای د صيغې وزن دوو مخکينيو ته ورته د (فحدث) صيغه ده. ډېر شکلی غږ او خوندور مد او جذر لري. دا سوره د مکي دور په هغو شپو ورځو کې نازله شوې چې له يوې خوا پيغمبر عليه السلام د قريشو له سخت مخالفت سره مخامخ وو او له بلې خوا د لنډې مودې لپاره د وحي راتګ وځنډېدو، له يوې خوا د وحي موقتي انقطاع د ده د سختي پرېشانۍ او اندېښنې باعث وو او نه پوهېدو چې د وحي د ځنډېدو سبب څه دئ، داسي نه چې کومه اشتباه ترې شوې وي، داسي نه چې خپل رب ترې ناراضه شوی وي او له بلې خوا د دښمن له پراخو تبليغاتو سره مخامخ وو، چې يوه بل ته به ئې ويل: هغه خدای، محمد(عليه السلام) پرېښی او خپلې اړيکې ئې ورسره شلولې چې ده به ځان د هغه استازی ګانو، له هغه سره ئې د ارتباط دعوی کوله او قرآن ئې د هغه له لوري وحي ګڼله!! دا د الله تعالی له لوري وحي نه بلکې شيطاني وسوسې وې، دغه شيطان ترې ښه شوی او دی ئې يوازي پرېښی. د دغو تبليغاتو او اندېښنو په دوران کې دا مبارکه سوره نازله شوې او په ترڅ کې ئې پيغمبر عليه السلام ته ډاډ او اطمئنان ورکړی شوی چې نه خو خپل رب يوازي او ګوښی پرېښی او نه ترې ناراض شوی، بلکې د وحي په موقتي ځنډ کې خاص حکمتونه مضمر دي، لکه څنګه چې د ټکنده غرمې او د ورځې د سختي ګرمۍ وروسته د شپې راتګ ضروري دئ، انسان نه شي کولی په دوامداره توګه د لمر تودوخه وزغمي، بايد څو ګنټې د لمر له پلوشو يوې خوا ته شي، شپه خپل وزر پرې وغوړوي، اعصاب ئې آرام شي او

بايللى صبر او زغم بېرته تر لاسه کړي، همداسي د وحي موقت ځنډېدا ضروري وه، ته اې پيغمبره! لا تر اوسه د وحي د مسلسل او پرله پسې تر لاسه کولو لپاره پوره او بشپړ تيارى نه لرې، دا کار دربانديي ګران ټامېړي، څه موده بايد وځنډېړي چې د بيا تر لاسه کولو لپاره کافي چمتووالى ومومې، مطمئن اوسه چې تر مخکې لا شه راتلونکى درته انتظار کوي، ستا رب به داسي پېرزويني درپه برخه کړي چې ستا د بشپړ رضايت باعث شي، نه يوازي دا د شپې ورځې تګ راتګ بايد تا ډاډه او مطمئن کړي او د وحي د راتلو موقتي انقطاع داسي وګڼې لکه له ورځې وروسته د شپې راتګ، بلکې د الله تعالى هغه پېرزويني او عنايات بايد ستا د اطمئنان لپاره کافي وي چې تر دې د مخه ستا په برخه شوي، مګر ته ئې يو يتيم ونه موندې او د ټېکې ځاى او مأوى ئې درکړه؟ مګر ته ئې لار ورکې او مشوش ونه موندې او ستا لارښوونه ئې وکړه؟ آيا نېستمن ئې ونه موندې او شتمن ئې کړې؟ د دغو الهي پېرزوينو مقتضيات دا دي چې:

الف: په يتيم غصه نه شې.

ب: سائل ونه رټې.

ج: او د خپل رب نعمتونه بيان کړې.

د دې مبارکې سورې خلاصه دا ده: لکه چې کله غرمه وي او کله تياره شپه، همدا راز کله به سوکالي وي او کله ستونزي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلضُّحَىٰ ﴿١﴾ وَٱلَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴿٣﴾ وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ ٱلْأُولَىٰ ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰٓ ﴿٥﴾

١- قسم په دې غرمه. ٢- قسم په دغه شپه چې شي تياره. ٣- نه پرېښى يې خپل رب، نه ئې ګڼلى يې دښمن. ٤- او پايله تا ته غوره ده له پيل نه.٥- او ژر به دي خپل رب، هومره درکړي چې راضي شې.

١-٥: په لومړيو دوو آيتونو کې په غرمه او په شپه چې کله تياره شي، لوړه شوې او ورپسې په دريو آيتونو کې پيغمبر عليه السلام ته د لاندي خبرو ډاډ ورکړى شوى: نه خپل رب پرېښى يې او نه ئې دښمن ګڼلى يې. تر پيل به پايله درته غوره وي. او رب به دي ژر دومره درکړي چې پرې راضي شې.

د (مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ) له فقرې معلومېږي چې دښمن د پيغمبر عليه السلام په

خلاف دا تبليغات کول چې که دی پيغمبر او الله تعالی د ده مل وی نو دی به ئې په دې سختو شپو ورځو کې يوازې نه پرېښودو، چا ته به ئې د دې موقع نه ورکوله چې دی او ياران ئې وځوروي، الله تعالی دلته ډاډ ورکوي چې نه الله تعالی يوازې پرېښی يې او نه له تا بې پروا شوی.

د دې لپاره چې پوه شوو د قسمونو او ځواب تر منځ ئې څه ارتباط شته، لاندې خبرو ته توجه وکړئ:

- د قسمونو او ځواب تر منځ ئې ارتباط هغه وخت ښه درک کولی شو چې هم د ټولې سورې مجموعي مضمون په پام کې ولرو او هم هغه خاص شرائط چې دا سوره په کې نازله شوې.
- که د دې مبارکې سورې مضامينو ته لږ ځير شو نو ګورو چې دلته د پيغمبر عليه السلام د ژوند ځينو لوړو ژورو ته اشاره شوې او ورته ويل شوي: مګر ته ئې يو يتيم ونه موندلې او د ټبکې ځای ئې درکړ؟ مګر ته ئې يو لار ورکې ونه موندلې او لار ئې دروښودله؟ او نيازمند ئې ونه موندلې، خو غناء ئې درپه برخه کړه؟ که ستا په تېر ژوند کې دا لوړې ژورې راغلې، له ستونزو سره مخامخ شوی يې، خو الله تعالې ترې ژغورلی يې، نو که نن له ستونزو سره مخامخ يې، بايد مأيوس نه شې، بايد ډاډه وې چې د تېر په څېر به دا حالت هم پای ته ورسېږي، مګر نه ګورې چې الله تعالی کله ټکنده غرمه راولي او کله تکه تياره شپه، په تياره شپو کې بايد د رڼا ورځې او تودې غرمې راتلو ته هيله من وې.
- همدا راز دا سوره له هغه وروسته نازله شوه چې د څه موقت وخت لپاره پيغمبر عليه السلام ته د وحي راتګ متوقف شو، پيغمبر عليه السلام له دې ناحيې سخت پرېشان وو، کله کله دا تشويش ورسره راپيدا کېدو چې مبادا الله تعالی ترې ناراض شوی وي، مبادا کومه اشتباه ترې شوې وي او همدا د وحي د قطع کېدو باعث شوې وي، د دښمن شديدو تبليغاتو د ده تشويش لا زياتولو، ياران به ئې هره ورځ منتظر وو چې نوي هدايات به ئې تر لاسه کړي وي، څو اونۍ تېرې شوې، نوې الهي لارښوونه ئې د منتظرو يارانو لپاره نه درلوده، دې وضعيت د ده پرېشاني مزيد زياتوله، په همدې شرائطو کې دا مبارکه سوره نازله شوه. د دې سورې په قسمونو کې پيغمبر عليه السلام دې ته متوجه کوي چې کله غرمه وي، ماښام تودې وړانګې خوروي، که دا حالت د زيات وخت لپاره دوام وکړي، انسان ئې نه شي زغملی، حکيم خدای، ورځ او په هغې کې د تودو وړانګو خورېدل پای ته ورسوي، د څه وخت لپاره ماښام ترشا کړي، د تودو وړانګو خورول ئې متوقف کړي، په ځای ئې شپه راولي چې هم سړه وي او هم تياره او هم په کې چوپه چوپتيا، دا طبيعي تحول د

دې باعث شي چې انسان خپل تعادل له لاسه ورنه کړي او د زمکې په سر ژوند کول ورته آسان شي، همدا راز په پیغمبر علیه السلام د بعثت په لومړیو شپو ورځو کې د (وحي) مسلسل راتګ ده ته دومره ستونزمن او مشکل وو لکه په ټکنده غرمه کې لمر ته دوامدار ودرېدل، دې ته اړ وو چې د وحي دا پلوشې د څه وخت لپاره متوقفې شي، د دې لپاره چې پیغمبر علیه السلام د وحي د لړۍ بعدي څپو ته تیار شي، د دغه مطلب د اثبات لپاره د شپې په تګ راتګ استناد شوی او پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې نباید د وحي له موقت توقف پرېشانه شې، دا داسې وګڼه لکه له یوې تودې غرمې وروسته چې ورځ ورو ورو پای ته ورسېږي او شپه راشي! ستا رب نه له دې کبله د وحي نزول موقتاً متوقف کړی چې تا ته اعتناء نه لري او نه له دې کبله چې له تا ناراض شوی، برعکس ستا د (خیر) او مصلحت لپاره ئې دا کار کړی.

٤- د دې آیت څو تفسیرونه زمونږ مخې ته راځي:

- آخرت تر دنیا درته غوره دئ.
- تر (تېرې زمانې) غوره راتلونکی درته انتظار کوي.
- له دې موقت ځنډ وروسته به پر تا باندې د وحي راتګ تر مخکې په ښه او آسان حالت کې وي. له دې وروسته به هغه ستونزې نه لرې چې مخکې دي درلودې. په روایاتو کې راځي چې د وحي د راتلو په وخت کې به په رسول الله صلی الله علیه و سلم باندې کله کله داسې حالت راغی چې په سخت ژمي کې به خولې ترې بهېدې.

که ټولې سورې ته ځیر شو او له نورو آیتونو سره د دې آیت ارتباط ته پام وکړو نو دوهمه توجیه دقیقه برېښي، دا ځکه چې هم په راتلونکي کې د وحي ښه او آسان تر لاسه کول افاده کوي او هم رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هغه ډاډېنه چې د راتلونکي حالت په اړه ئې ورکوي.

٥- که وروستنیو آیتونو ته چې د (الهي نعمتونو) تفصیل په کې راغلی؛ پام وکړو، په وضاحت سره معلومېږي چې دلته د الله تعالی له (عطاء) مراد هم مادي عطایا دي او هم معنوي او د آیت معنی دا ده: ستا رب به دومره مادي او معنوي نعمتونه ستا په برخه کړي چې ته به پرې راضي او قانع شې!! او دا په حقیقت کې یوه الهي وړاندوینه وه چې ډېر ژر تر سره شوه، د دغې سورې د نزول په وخت کې شرائط داسې وو چې هیڅا دا تصور هم نه شو کولی چې پیغمبر علیه السلام او یاران به ئې له دغې ستونزمنې او سختې مرحلې ډېر ژر سرلوړي او بریالي تېر شي، د ضعف او ناتوانۍ دا مرحله به پای ته ورسېږي او داسې راتلونکی به ئې په برخه شي چې د دوی زړه ئې غواړي او کاملاً به پرې راضي وي،

هره ورځ چې په دغه الهي نهضت تېرېږي نوې نوې بریاوي به تر لاسه کوي، نن به ئې تر پرون غوره وي او سبا تر نن، دا ننني مشکلات به ئې ټول له مخي لري شي، خو همداسي وشول، لا ډېره موده نه وه تېره شوې چې دا الهي وعدې ټولې یوه په بلې پسې تر سره شوې او همغه حالت راغی چې پیغمبر علیه السلام او یاران ئې پرې راضي شول.

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَـَٔاوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾ فَأَمَّا ٱلْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

٦- مګر نه ئې ومونديې یو یتیم او د ټېکي ځای ئې درکړ؟ ۷- مګر نه ئې ومونديې یو لار ورکې او لار ئې وښودله؟ ۸- او نیازمند ئې ومونديې، خو غناء ئې کړه په برخه. ۹- نو یتیم باندي قهر مه کړه.۱۰- او مه رټه سائل. ۱۱- او په وینا شه د خپل رب په نعمتونو.

٦- رسول الله صلی الله علیه و سلم یتیم دنیا ته راغی، پلار ئې د ده له تولد څو میاشتي د مخه وفات شوی وو، تر شپږ کلنۍ پوري خپلي مهرباني مور په خپلي غېږ کې وروزو، خو له دې مهرباني غېږي هم محروم شو، مور ئې هم وفات شوه، درووند نیکه ئې د ده روزنه په غاړه واخیسته، له ده سره ئې ډېره مینه وه او تل به ئې دا خبره تکراروله چې که خدای کول زما له دې لمسي به ستر شخصیت جوړ شي، د ده ساتني او روزني ته ئې خاص پام او اهتمام کاوو، خو دوه کاله وروسته هغه هم وفات شو او دی د دغه درووند او زړه سواند شخصیت له پالني او روزني هم محروم شو، له دې وروسته ئې پالنه د خپل تره ابو طالب په غاړه شوه او هغه تر یوه مهربان پلار هم زیاته د ده پالنه او روزنه کوله او د ژوند تر پایه ئې په ډېره مېړانه او شهامت له ده دفاع کوله، وروسته له هغه چې پیغمبر علیه السلام په رسالت مبعوث شو او د قریشو زعماوو او سردارانو د ده دعوت او بلنه د خپل اقتدار لپاره جدي ګواښ وګڼلو، ابوطالب ئې تر فشار لاندي ونیولو چې باید محمد علیه السلام د دوی د مذهب له مخالفت او د دوی د بتانو او اصنامو له هتك حرمت منع کړي، خو ابوطالب دې فشارونو ته تسلیم نه شو، د ده له مرستي او حمایې ئې لاس وانه خیست، فشارونو، ګواښونو او سختو محاصرو او بندیزونو د ده کلك عزم سست نه کړ او د خپل ګران وراره یوازي پرېښودو ته تیار نه شو.

په دې آیت کې دې خبرې ته اشاره شوې چې پیغمبر علیه السلام یتیم دنیا ته راغی، د

مهرباني مور له پالني محروم شو، خپل زړه سواند نيکه ئې هم له لاسه ورکړ، خو هر ځل الله تعالى د خپل رحمت او پېرزويني وزر پرې خور کړى، که له يوې مهرباني غېږ محروم شوى بله ئې ورته برابره کړې، که له يوه پالونکي محروم شوى بل ئې ورکړى، دى ئې يوازي او بې پالونکي نه دئ پرېښى، دا بهير بايد دى ډاډه او مطمئن کړي چې الله تعالى به ئې يوازي او مهمل نه پرېږدي، که له يوې مأوى محروم شي د بلې بند وبست به ورته وکړي.

۷- په دې آيت کې د (ضال) صيغه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغه حالت د بيان لپاره کارول شوې چې تر بعثت مخکې ئې درلود او دا ئې د (هدايت) په مقابل کې کارولې، بايد وګورو چې د دې آيت معنى څه ده او د دغه لفظ د ترجمې په اړه څه وکړو چې هم د دې (لفظ) حق په سمه اداء شي، هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم په شأن کې بې ادبي ونه کړو او هم په الهي کلام کې له بې ځايه تأويل او تحريف مصون پاته شوو؟

په عربي کې د (ضال) لفظ په څو معانيو راځي:

- لار ورکې او تېروتې.
- څوك چې د څو لارو په سر ولاړ وي او نه پوهېږي هغه مستقيمه او سمه لار کومه يوه ده چې دى مخامخ خپل هدف ته رسوي.
- ورك شوي ته ويل کېږي.
- هغې وني ته هم ويل کېږي چې په صحراء کې يوازي راشنه شوې وي او خوا ته ئې نوري وني نه وي.
- د غفلت په معنى هم راځي.
- او کله د ضائع شوي مفهوم هم افاده کوي.

دلته به له دغو معانيو کومه يوه رااخلو، کومه معنى ئې داسي ده چې په هغې سره مو هم د الله تعالى د کلام په ارتباط له ادب پښه آخوا نه وي غځولې او هم مو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په شأن کې بې ادبي نه وي کړې، داسي نه چې د پيغمبر عليه السلام د احترام لپاره هغه څه وکړو او داسي څه ووايو چې د الله د کلام په نسبت له بې ادبۍ او بې احترامۍ سره مترادف وي، که مورږ له يوې خوا په دې مکلف يو چې د خپل ګران پيغمبر په شأن کې به له هر راز بې ادبۍ او بې احترامۍ ځان ساتو او د ده په اړه د بحث په دوران کې به دې ته متوجه وو چې له خولې مو داسي الفاظ ونه وځي چې د هغه د لوړ شأن په نسبت بې ادبي ګڼل کېږي، له بلې خوا په دې هم مکلف يو چې د الله تعالى د کلام په وړاندي به د ادب زنګون پر زمکه ږدو او الفاظ به ئې په ډېر احتياط او دقت سره ترجمه کوو، د خپلې خوښي معاني به نه تري اخلو او د خپلې خوښي جامې به نه ور

اغوندو. هغه څه به وايو چې الله تعالى په خپله ويلي او د خپل امين پيغمبر په ژبه ئې مورِ ته بيان کړي، داسي نه چې د هغه په ويلو کې زړه نازړه وو او د اصلي لفظ او د هغه د دقيقي معنى په ځاى بل څه ووايو. دلته (ضال) د (هدايت) په مقابل کې راغلى او ويل شوي: ته ئې (ضال) وموندې او (هدايت) ئې کړې.

قرآن فرمايي چې (انسان) د وحي له لارښوونو پرته او مخکې له دې چې الهي لارښووني ورته لار وښيي، ظلوم (ډېر زيات ظالم) او جهول (ډېر زيات نادان او جاهل) دئ، د وحي له لارښوونو پرته هغه په خپلو قضاوتونو کې حتماً ظلم کوي، لږ هم نه؛ ډېر ظلم؛ او د حقائقو په سمه پېژندو کې پاته راځي او لار تړې ورکېږي، انسان له وحي پرته ډېر جاهل او لار ورکى او ډېر ظالم او ستمگر دئ (إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولا).

رسول الله صلى الله عليه و سلم له وحي مخکې د لوړ، شفاف او وتلي شخصيت خاوند وو، پاك لمنى، صادق، رښتينى، امين، له شرك او خرافاتو بې زار، د مکې ټولو اوسېدونکو په درنه سترګه ورته کتل، د ده په لوړ شخصيت ئې اعتراف کاوو، هيڅوك نه شي کولى د ده په پاکه لمن او شفاف شخصيت د کومي ګناه او کوم بد کار داغ په ګوته کړي، د خپلې ټولنې له خراب وضعيت سخت ځورېدو، د نجات لار ئې لټوله، د خلکو په نسبت د ده زړه سوى او پر ټولنې د مسلطي دردونکې وضعي له ليدو د ده دردمن احساس دى شپه ورځ په اندېښنو کې اچولى وو او دې احساس د يوه داسي دروند پېټي بڼه غوره کړې وه چې د قرآن په وينا نژدې وو د ده ملا ماته کړي، تر هغه چې پر ده وحي نازله شوه، د وحي ځلانده مشعل د ده اندېښنې پاى ته ورسولې، خپله ورکه متاع ئې پيدا کړه، کمال ته د انسان د رسېدو لار ئې وموندە، له ظلم او جهل د نجات لار ئې پر مخ پرانيستل شوه.

د پيغمبر عليه السلام په دوو حالتونو کې، له وحې د مخه او له وحي وروسته حالت کې حتماً داسي ژور توپيرونه شته چې قرآن ئې په دغې صيغې يادوي: (وجدك ضالاً فهدى)، نه يوازې له وحي وروسته حالت ئې له مخکيني متمايز دئ او ژور توپيرونه په کې شته؛ بلکې له بعثت وروسته ابتدائي حالت ئې له وروستي حالت دومره تفاوتونه لري لکه د زمکې او آسمان تر منځ دا اوږد واټن، هغه په تدريج سره لوړ تللى او هغې لوړې څوکې ته رسېدلى چې هيڅ انسان ئې کنارو ته نه شي رسېدى. متأسفانه ځينې ناپوه او جاهل کسان د پيغمبر عليه السلام په اړه داسي غلو کوي لکه نصرانيانو چې د عيسى او مريمې عليهما السلام په اړه وکړه، وايي چې پيغمبر عليه السلام د بعثت له لومړۍ ورځې حتى تر دې هم د مخه په هر څه پوهېدو، په غيب پوهېدو، د ټول قرآن علم په لومړۍ ورځ ورکړى شو، نه يوازې دى په غيب پوهېدو بلکې دا پوهه له ده د ده لمسيانو ائمه ته په ميراث

رسېدلې!! حتى شپږ کلن کړوسی ئې امام زمان، عالم بالغیب او متصرف فی الکون دئ!! خو قرآن د ده په اړه فرمایي:

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٥٢ الشورى

او همداسي مو تا ته د خپل امر ځانګړې وحي وکړه، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دئ او نه د ایمان (په معنی او حقیقت) پوهېدې، خو مونږ داسي نور وګرځاوو چې له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدایتوو چې غواړو ئې؛ او بې شکه چې ته د مستقیمي لاري خوا ته لارښوونه کوې.

۸- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته له پلار هیڅ څه په میراث نه وو پاته شوي، هغه نه یوازي د مهربان پلار له پالنې د محرومیت درد څکلی وو او په شپږ کلنۍ کې د مور له تودې او مهرباني غېرې محروم شو، بلکې خپله ځواني ئې په تنګسې او نادارۍ کې پیل کړه اوږده موده ئې شپني وکړه، خو لا ډېر وخت نه وو تېر شوی چې د قریشو تر ټولو شتمني او صالح مېرمني لومړی د تجارت په چارو کې ورسره شریك کړ، بیا ئې د ازدواج وړاندیز ورته وکړ او په دې سره ئې له تنګسې د وتلو لار پر مخ پرانیستل شوه. رسول الله صلی الله علیه و سلم د همدې آیت په ارتباط فرمایلي: الله تعالی زه د خدیجې په نکاح سره له فقر وژغورلم.

۹-۱۱: د دې لپاره چې الله تعالی ته یتیم وموندې او مأوی ئې درکړه، لار ورکی ئې وموندې او لارښوونه ئې وکړه، محتاج ئې وموندې شتمن ئې کړې، نو د دغو نعمتونو مقتضیات دا دي:

- پر یتیم غصه مه کوه، له یتیم سره په خپلې معاملې او چلن کې هغه ورځې رایادوه چې یتیم وې او متولي او پالونکي ته محتاج.
- څوك چې د هدایت کېدو تلوسه لري، د لار موندو په لټه کې وي، ستا مرستي ته اړ وي، خپله مرسته مه ترې سپموه، باید په ډېر زړه سوي سره د هغه لارښوونه وکړې، مګر الله تعالی ته هدایت ته محتاج ونه موندې او پرتا ئې پېرزوینه ونه کړه؟ د دې نعمت شکر دا تقاضی لري چې هیڅ سؤال کوونکی او د لارښوونې محتاج انسان ونه رټې او د نه ځواب ورنه کړې، که څه هم د پوښتنو په وخت کې بې ادبي ترې وشي او د لارښود د احترام له پولو واوړي.

که څه هم دا آیت (وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ) په مستقله توګه او له مخکینیو آیتونو سره له ارتباط پرته بله معنی هم ورکولی شي او کېدی شي داسي ترجمه شي: او سؤالګر مه رټه، که کوم فقیر او محتاج انسان له تا مرسته وغواړي، یا مرسته ورسره وکړه او که د مرستي توان نه لرې نو په خوږه ژبه ئې ځواب کړه او له رټلو ئې ډډه وکړه. خو د دې لپاره چې دلته د مخکینیو او وروستنیو آیتونو تر منځ خاص تړاو شته او دا درې وروستي آیتونه د مخکینیو دریو په مقابل کې په مرتب ډول اود هغوی د فرعي او مقتضا په څېر راغلي او دا لسم آیت (وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ) د اوم آیت (وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ) په مقابل کې راغلی، نو ځکه له (سائل) د ګدا او سؤالګر معنی نه شو اخیستی.

ج: د دې لپاره چې د کلام په ترتیب کې دا آیت د اتم آیت (وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ) په مقابل کې ذکر شوی، باید د همدې تړاو په رڼا کې توضیح شي. او معنی ئې دا ده: ته خپل رب له احتیاج او فقر وژغورلې، شتمن ئې کړې، له حلالو لارو ئې ستا اړتیاوي پوره کړې، د دې الهي نعمتونو په مقابل کې پر تا لازم ده چې:

۱: خپله غنا او شتمني به الهي نعمت او پېرزوینه ګڼې، نه د خپل هنر، پوهې او هڅو نتیجه، دا ځکه چې ستا هنر، کمال او تکل هم الهي پېرزوینه او عنایت دئ نه ستا شخصي او ذاتي وړتیا. څوک چې خپله شتمني الهي عنایت او پېرزوینه وګڼي، شاکر بنده ترې جوړ شي، په نعمتونو کې د تصرف په وخت کې احتیاط کوي او د حرامو موخو لپاره ترې کار نه اخلي، خو څوک چې خپله شتمني خپل ذاتي کمال وګڼي او خپل مال او دولت د خپلو هڅو او کمال نتیجه وګڼي، د قارون په څېر به شي، شتمني به ئې مغرور کړي،، پر نورو به د لویي احساس کوي، نور به د مال دولت نه درلودو له کبله سپك او حقیر ګڼي، فساد ته به ملا تړي او خپل دولت به د فساد خورولو په لار کې کاروي.

۲: باید دهغه چا په څېر نه شې چې نه په ژبه د نعمت شکر په ځای کوي او نه ئې په څېرې کې آثار راڅرګندېږي او نه ئې په تصرفاتو کې نښه، یا ئې پټوي او یا ئې حقیر شمېري او د یادولو او شکر کولو وړ ئې نه ګڼي. که په دې باور یې چې د هر څه ورکړه د الله له لوري ده، نو په نعمتونو ئې اعتراف کوه او د محرومیتونو یادول او شکوه او شکایت کول پرېږده.

الشرح

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الشرح (پرانيستل) دئ، اته آيتونه لري، د آيتونو اوږدوالی، وزن او غږ ئې سره ورته او ډېر ښکلی او خوندور دئ، د لومړيو څلورو آيتونو فواصل ئې د (صدرك) هموزنه صيغې دي، ورپسې دوه آيتونه په (يسراً) پای ته رسېدلي او دوه وروستي آيتونه ئې د (فانصب) او (فارغب) په الفاظو پای مومي. دا هم په مکي دور کې نازله شوې سوره ده، متن او محتوی ئې او د (الضحى) له سورې سره ئې همغږي او ورته والی ښيي چې دا دواړه سورې په يوه وخت کې يوه په بلې پسې، لومړی (الضحى) او ورپسې (الشرح) نازله شوې، د دې سورې له آيتونو هم معلومېږي چې په دې وخت کې پيغمبر عليه السلام د سختو ستونزو او کړاوونو په محاصره کې وو، د فشارونو، ګواښونو او مشکلاتو په دې توري او ستونزمني شپې کې لومړی د الضحى د سورې په ترڅ کې ده ته ډاډ او اطمئنان ورکړی شو چې دا تياره شپه پای ته رسي، د روښانه راتلونکي روڼ سباوون به راځي او هره راتلونکې ورځ به دي تر مخکې غوره وي، ورپسې د الشرح په سوره کې راغلي چې آيا الله تعالى تا ته (انشراح صدر) درپه برخه نه کړه؟ آيا هغه (ملا ماتوونکی بار) ئې ستا له اوږو لري نه کړ؟ آيا ستا کار ته مو رونق ورنه کړ؟ او ستا نوم او شهرت مو لوړ نه کړ؟ لکه څنګه چې تر دې د مخه ئې ستا ډېري ستونزې حل کړې، بايد ډاډه وې چې پاته ستونزې به هم حتماً حل شي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ۝١ وَوَضَعۡنَا عَنكَ وِزۡرَكَ ۝٢ ٱلَّذِيٓ أَنقَضَ ظَهۡرَكَ ۝٣ وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ۝٤ فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝٥ إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝٦ فَإِذَا فَرَغۡتَ فَٱنصَبۡ ۝٧ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرۡغَب ۝٨

۱- آيا ستا سينه مو نه کړه درته پراخه؟ ۲- او آيا کوز مو له تا نه کړ ستا دروند پېټی؟ ۳- هغه چې ئې ستا ملا ماتوله. ٤- او درته لوړ مو کړ ستا ذکر. ۵- نو بې شکه هري

ستونزي سره وه يوه آساني. ٦- نو بې شکه هري ستونزي سره وي به آساني. ۷- نو کله چې فارغ شې، بيا زيار کوه. ۸- او په لوري د خپل رب کوه رغبت.

۱- د (انشراح صدر) دقيقه معنى بايد لومړى په خپله په قرآن کې ولټوو، که په دې موفق شوو چې واضح او څرګند مفهوم ئې په قرآن کې ومومو، نو بايد په همدې اکتفاء وکړو او بلي مرجع ته له رجوع ډډه وکړو، قرآن حکيم داسي دئ چې يوه برخه ئې بله برخه تشريح کوي، د (شرح صدر) په اړه څو آيتونه په قرآن کې داسي راغلي:

فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ كَذَٰلِكَ يَجۡعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٢٥﴾ الانعام

څوك چې الله تعالى ئې لارښوونه وغواړي نو سينه ئې اسلام ته پرانيزي او د چا بې لاريتوب چې وغواړي نو سينه ئې ورتنګه کړي، داسي لکه آسمان ته چې خېژي، همدا راز الله پر هغو ناپاکي تپي چې ايمان نه راوړي.

أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٖ مِّن رَّبِّهِۦۚ فَوَيۡلٞ لِّلۡقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٢٢﴾ الزمر

نو آيا هغه چې الله ئې د اسلام په لوري سينه ورته پرانيستې ده او هغه د خپل رب له رڼا برخمن دئ، نو افسوس د هغو پر حال چې زړونه ئې د الله د ذکر په اړه سخت دي، همدا دوی په څرګندي تېروتنې کې دي،

د موسى عليه السلام د قصې په ترڅ کې هم دا لفظ کارول شوی، هغه وخت چې دی د مظلومو بني اسرائيلو د ژغورنې لپاره د فرعون مقابلې ته په تلو مأمور شو، نو هغه خپله ناتواني په دې صيغه اظهار کړه:

قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيقُ صَدۡرِي وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي فَأَرۡسِلۡ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴿١٣﴾ الشعراء

وئې ويل: اې زما ربه! زه وېرېږم چې تکذيب به مي کړي، سينه مي تنګېږي او ژبه به مي سمه نه خوځېږي، هارون ته ئې ولېږه.

بيا وايي:

قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ﴿٢٦﴾ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ﴿٢٧﴾ يَفۡقَهُواْ

قَوۡلِي ﴿٢٨﴾ طه

وئې ويل: اې زما ربه! سينه مي راته پرانيزه، کار مي راته آسان کړه، د ژبې عقده (غوټه) مي راته وسپړه، چې په خبره مي پوه شي.

په لومړيو آيتونو کې شرح صدر د سينې د تنګوالي په مقابل کې راغلی او معنی ئې د هر ډول تشويش، ذهني اضطراب او هر راز شك او شبهې رفع کول، د اسلام د منلو لپاره د ده زړه تيارول او په دې ئې قانع کول دي چې د اسلام لاره حق ده او څه چې اسلام د عقيدې، اخلاق، عدالت، تمدن او تهذيب په اړه ويلي سل په سلو کې حقيقت لري.

او په وروستيو آيتونو کې شرح صدر د سينې د هغې تنګوالي په ارتباط راغلی چې وېره او خوف ئې لامل وي، د خپلې دندې او مأموريت له سترواليِ وېره، له دې وېره چې د دې درومد بار د وړلو توان به ونه لري، له دې وېره چې مخاطب به پرې بد ګماني وکړي، په خبره به ئې سم پوه نه کړی شي، د پراخي حوصلې او د ضروري فصاحت او د ژبې ښه طلاقت د نشتوالي وېره.

د انشراح صدر دغو معانيو ته په پام سره د دې سورې د لومړي آيت تفسير دا دئ: رسول الله صلى الله عليه و سلم تر بعثت مخکې په ټولنې له حاکم وضعيت، له شرك، جهل، فساد او ظلم، سخت پرېشان او مضطرب وو او له دې دردناك حالت د خلکو د ژغورنې د لارو چارو په لټه کې وو. د وحي په نزول سره هغه خپل ورك مشعل وموندو، اضطراب او پرېشاني ئې رفع شوه، زړه ئې ډاډه او مطمئن شو چې له دغې لارې او په دغو لارښوونو سره کولی شي خپله ټولنه له تباهۍ وژغوري او د دنيوي او اخروي سعادت په لوري ئې هدايت کړي.

نو د دې وينا چې آيا ستا سينه مو درته پراخه نه کړه؟ معنی دا ده چې آيا تا ته مو پراخه حوصله درنه کړه؟ آيا ستا تشويشونه مو رفع نه کړل؟ آيا ستا زړه مو ډاډه او مطمئن نه کړ؟ آيا تا ته مو راسخ عزم او مضبوطه اراده درنه کړه؟

رسول الله صلى الله عليه و سلم د دغې (انشراح صدر) له کبله وتوانېدو چې د رسالت دا درومد پېټی پر خپلو اوږو يوسي، د سترو سترو مخالفتونو، عنادونو او حسادتونو په وړاندې ثابت قدم پاته شي، د ستونزمن دعوت او اوږدې او ملاماتوونکې مبارزې ستونزې او لوړې ژورې ئې راسخ عزم او مضبوط هوډ کمزورى او متزلزل نه کړی شي، د جهل وهلي او شرك ځپلي قوم د جهالتونو او لجاجتونو په وړاندې په سړه سينه او پراخه حوصله ودرېږي، د هيڅ ځواك فشارونه او ګواښونه ئې له خپلې لارې منصرف نه کړی شي، هيڅ کله مأيوس نه شي، په ډاډه زړه او د حق په حتمي برې بشپړ باور او اطمئنان او په الهي

مرستي كامل اعتماد سره مخكې ولاړ شي، نه ئې د ناپوه مخاطبينو له حيرت او تعجب ډكې سترګې پرېشان او مأيوس كړي او نه ئې د كينه كښو او حسودو مخالفينو قهرجني سترګې له خپل ځای وخوځوي.

۲- ۳: دلته كوم دروند پېټی داسي ګڼل شوی چې نژدې وه د دې اولوا العزم پيغمبر ملا ماته كړي؟ كه څه هم په آيت كې نه دئ ښودل شوی خو له قرائنو په واضح توګه معلومېږي چې دا دروند پېټی د هغه درد، پرېشانۍ او تشويش دروند پېټی وو چې پيغمبر عليه السلام له دې بابته احساساوو چې خلك ئې په شرك، جهل، ظلم او فساد كې ليدل او د ده حساس ضمير ئې ځوراوو، د شرك او خرافاتو بازار ګرم وو، خلك ئې ليدل چې په خپل لاس به ئې مجسمه جوړه كړه او په وړاندي به ئې سجده كوله، فحشاء، بې حيائي او اخلاقي فساد هره خوا تر سترګو كېدو، خيانت، دوكه او ظلم عام شوي وو او د ټولني په ټولو مناسباتو ئې خپل تور وزر غوړولی وو، زورور ظالم او كمزورى مظلوم او له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم وو او هيڅا ئې د مظلوميت چيغي نه اورېدې، لوڼي ژوندۍ ښخېدې او ښځي په ذلت او سپكاوي كې ساتل كېدي، په ناروا قومي او نژادي نښتو كې د بې ګناه خلكو وينې تويېدې، د دوو قبيلو تر منځ به يوه وړه پېښه په داسي خونړيو جګړو بدله شوه چې تر پېړيو پېړيو به ئې دوام وكړ او په زرهاوو بې ګناه خلك به په كې ووژل شول، چا چې وسله او لښكر نه درلود او د ځان دفاع ئې نه شوی كولنه به ئې سر خوندي وو او نه مال، عزت او ناموس، رسول الله صلى الله عليه و سلم د دغه دردناك وضعيت له ليدو سخت ځوږېدو او تل په دې لټه كې وو چې د نجات لار ورته پيدا كړي، د اندېښنو او تشويشونو په دغه حالت كې وحي پرې نازله شوه او الهي لارښوونو ئې مخه ورته رڼا كړه، په دې سره ئې د اندېښنو او تشويشونو هغه دروند پېټی له اوږو كوز شو، د خلكو د ژغورنې او نجات رمز په لاس ورغی او مطمئن شو چې توحيد، په معاد ايمان او په رسالت باور او د الهي لارښوونو متابعت ته د خلكو په رابللو سره به نه يوازي د عربو جهل ځپلې ټولنه له دې درناك حالت ژغورل كېږي بلكې له دې لارې ټوله انساني نړۍ ژغورلی او سعادت ته ئې رسولی شي.

له دې مبارك آيت معلومېږي چې پيغمبر عليه السلام د خپل امت په اړه څومره زړه سواند وو، په (انسان) ئې څومره زړه سوی او د ده له ژغورنې سره ئې څومره مينه وه؟ خپل رب ئې څنګه پېژاندو او د يوه پيغمبر په توګه ئې د خپل دروند مسئوليت په اړه څه احساس درلود؟ هره شېبه ئې څه حالت او څه احساس وو؟ دلته قرآن فرمايي چې دغه احساس نژدې وو د ده ملا ماته كړي، په بل ځای كې فرمايي:

لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفۡسَكَ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ٣ الشعراء

ښايي ته خپل ځان وژنې د دې لپاره چې دوی ایمان نه راوړي، یعني د دوی د ایمان نه راوړو له کبله دومره اندېښنې کوې چې نژدې ده له اندېښنو ومرې؟

کله چې دا آیت نازل شو: (فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ): داسې استقامت وکړه لکه چې پرې ګمارل شوی یې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وویل: دې آیت سپین ږیرې کړم!! یعني خپل مأموریت ورته هومره درومند او حساس بربښي چې په بشپړه توګه ئې تر سره کول تر خپل وس او توان اوچت ګڼي.

قرآن په بل ځای کې فرمایي:

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ١٢٨ التوبه

یقیناً چې تاسو ته ستاسو له منځه داسې پیغمبر درغی چې هغه څه پر ده ګران ټامېږي چې تاسو ځوروي، ستاسو پر (هدایت او لارښوونې) حریص دئ او د مؤمنانو په اړه ډېر زړه سواند او مهربان.

د درد او مسئولیت دغه احساس، د خلکو د هدایت او لارښونې ژوره تلوسه، د مؤمنانو په اړه زړه سوی او مهرباني همغه درومند پېټی جوړ کړی وو چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر اوږو ئې داسې دروندوالی کاوو چې نژدې وه د دې اولوالعزم پیغمبر ملا ماته کړي.

ډېره د حیرانتیا خبره ده چې ځینو نومیالیو مفسرینو دلته (وزر) د ګناه په معنی اخیستی او په شرح کې ئې دا آیت رااخیستی چې الله تعالی خپل پیغمبر علیه السلام ته فرمایي:

لِيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ... ٢ الفتح

د دې لپاره چې الله تا ته مخکینې او وروستنې ګناهونه وبخښي...

دوی ته په ځواب کې وایو:

الف- له دې آیت وروسته آیت خو په ډېر صراحت سره وایي چې له دې (وزر) مراد (عسر) یعني ستونزې او کړاوونه دي نه ګناه.

ب- پیغمبر علیه السلام تر بعثت مخکې کومه داسې سترې ګناه کړې چې له دروندوالي ئې نژدې وه د ده ملا ماته شي؟!!

ج- نه یوازې د الشرح د سورې د نزول په وخت کې د الفتح سورې دا آیت نه وو نازل شوی، بلکې د مدني دور په وروستیو کلونو کې او د حدیبیې له معاهدې وروسته نازل شوی.

همدا راز متأسفانه ځینو درنو مفسرینو (شرح صدر) د (شق صدر) په معنی اخیستی، دوی په خپل ضعیف تعبیر کې نه د شرح صدر هغې معنی ته اعتناء کړې چې د قرآن په ګڼو آیتونو کې راغلې او نه ئې هغه مطلب ته توجه کړې چې دا آیت ئې له وروستیو سره په ګډه افاده کوي، دې ته ئې نه دي کتلې چې که دا د شق صدر په معنی واخیستی شي نو باید په وروستي آیت کې د (وزر) معنی هم د وجود کوم غړی وي او دا خبره نه کوم قرآن پوه کولی شي او نه ئې کوم عربي قاموس مني!!

٤- د دې آیت په اړه څو خبرو ته توجه ولرئ:

- دښمن هڅه کوي د پیغمبر علیه السلام په ضد خپلو تبلیغاتو سره د دعوت مخه ئې ونیسي او خلك په ده او د ده په دعوت له ایمان راوړو منع کړي، چې څوك به مکې ته راتلو دوی به ورته ویل: دلته د محمد په نامه یو څوك راپاڅېدلی، د مکې په خلکو کې ئې شخړې راپیدا کړې، د پلار او زوی، ورور او ورور، ښځې او میړه تر منځ ئې اختلافات راولاړ کړي، له خپل پلرني دین ئې بغاوت کړی، جادوګر دئ، خبرو ته ئې غوږ مه نیسئ، د ده خوا ته مه ورځئ، داسې نه چې د جادو تر اغېز لاندې ئې راشئ او بې لارې شئ، دغه تبلیغات د دې په ځای چې د ده او خلکو تر منځ حائل شي او د ده خوا ته د خلکو د ورتلو مانع شي برعکس ئې خلك دې ته هڅول چې پلټنه وکړي او ځان په دې پوه کړي چې دا محمد (علیه السلام) څوك دئ؟ څه غواړي؟ ولی ئې قریش مخالفت کوي؟ څوك چې د ده تر اغېز لاندې راغلې څه بدلون ئې په ژوند او افکارو کې راغلی؟ د دښمن دا معاندانه تبلیغات د دې باعث شول چې نوم ئې تر هر چا ورسېږي، شهرت ئې له مکې بهر ووځي او له مکې بهر هم خلك د ده له نامه سره آشنا شي.
- دلته د (رَفَعْنَا ذِكْرَكَ) په ځای (رَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ) راغلی او دا ښیي چې دغه شهرت له ده سره مرسته وکړه، خلکو ته د ده د دعوت په رسېدو کې ئې ګټه درلوده، د ده کار ئې ورته آسان کړ، خلك ئې وهڅول چې د ده خوا ته راشي، د ده خبره واوري او د ده په دعوت ځان پوه کړي، د دښمن تبلیغاتو د دې په ځای چې ده او د ده دعوت ته کوم تاوان ورسوي او د خلکو د راتلو مانع شي برعکس ئې خلك د ده خوا ته راوستل، هغه ځای ته چې د ده لاس نه رسېدو او هغو خلکو ته چې د ده غږ نه رسېدو، د (رفع ذکر) او د ده شهرت لوړېدو په نتیجه کې د نورو سیمو خلك هم د ده له نامه او له هدف او دعوت سره آشنا شول. که څه هم ځینو درنو مفسرینو له (رفع ذکر) دا مراد کړې چې تر قیامت به د

الله تعالى د نامه تر څنګ د محمد عليه السلام نوم اخيستل کېږي، په آذانونو کې به يادېږي او درودونه به پرې ويل کېږي، خو دلته او د سورې د بحث له موضوع سره په ارتباط کې ئې ښه او دقيق تعبير مخکينى تعبير دئ.

- دا الهي وړاندوينه تر سره شوه، چا ګمان کاوو چې د پيغمبر عليه السلام او د ده د دعوت کار به له ضعف، ناتوانى، د يارانو او پلويانو کمښت، د قوم شديد مخالفتونو، ګواښونو، فشارونو، محاصرو، سره سره داسي ژر هغي مرحلې ته ورسېږي چې د عربو ټوله پراخه سيمه به د ده تر سلطې لاندي راشي، د سيمي ټول قومونه به د ده دعوت ومني، له ده سره به ملګري شي، د ده د الهي اهدافو لپاره به هري قربانۍ ته چمتو شي، ټول به د الله تعالى د نامه تر څنګ د ده نوم ياد کړي، په مليونونو او مليارډونو انسانان به تر قيامت په ده درودونه لېږي، د ده په نامه به افتخار کوي او خپل نوم به د ده په نامه ښايسته کوي؟

۵- ٦: په دغو دواړو آيتونو کې څو ظريفو نقطو ته توجه وکړئ:

- د دې په ځاى چې وويل شي: له هري ستونزي وروسته به يوه آساني وي، ويل شوي: له هري ستونزي سره به يوه آساني وي، يعني د ستونزي او آسانۍ تر منځ فاصله او واټن نشته، خوا په خوا کې دي، آساني د ستونزو په منځ کې ولټوئ، سختي ورځې ډېري اوږدې نه وي، ژر پاى ته رسي، آساني به ئې په خوا کې ومومئ.
- په دوو آيتونو کې د دې مطلب تکرار ښيي چې يو ئې په تېري زمانې پوري اړه لري او بل ئې په حال او راتلونکي پوري، په دې معنى: لکه څنګه چې دي مخکې وليدل چې ډېري ستونزمني شېې ورځې تېري شوې، په هري ستونزي پسې آساني راغله، همداسي به اوسنۍ سختي ورځې هم تېري شي او د بريا او خوشحالۍ ورځې به راشي، (كان مع العسر يسرا، سيكون مع العسر يسراً)

او يا دا چې العُسْر (کړاو) په دواړو آيتونو کې د معرفه په صيغه راغلى او مراد ئې يو دئ، خو يُسْر (آساني) په دواړو آيتونو کې د نکره په صيغه راغلى، چې ښايي ښايي آسانۍ افاده کوي، يعنى له هري ستونزي سره دوه آسانۍ جوخت وي، يوه ئې په دنيا کې او بله ئې په آخرت کې، نو بايد ډاډه وې چې له هري ماتې سره بريالوي شته، په هري توري شېې پسې رڼا ورځ شته، مأيوس او ناهيلى کېږه مه، ستا رب په هر کړاو پسې د دوو آسانيو وعده درکړې، داسي نه چې خپله روحيه له لاسه ورکړې، مأيوس او ناهيلى شې، سست شې، شور، شوق او نشاط دي له لاسه ورکړې، د سختو ورځو په ليدو سره د ناتوانۍ او ضعف احساس وکړې، هيله من اوسه چې له هري ستونزي وروسته دوه آسانۍ درته انتظار کوي، دا د الله

تعالى قطعي او نه بدلېدونکې وعده ده.

۷- دا آیت مور ته وایي چې دنیا د قرار او فراغت ځای نه دئ، د مسلسل، پر له پسې او سترېا نه منونکو هاند او هڅو ځای دئ، د اسلام له نظره دنیا د کار او زیار ځای دئ، چې کله له یوه کار فارغ شې بل ته باید متې رابډوهې، باید تل هڅه وکړې، سخته هڅه، دوامداره او په بشپړ انهماك سره، د الله تعالى په لار کې هڅه، کله د الله تعالى په عبادت کې، کله د دعوت په کار کې، کله د تعلیم او تربیې په کار کې، کله د حلال رزق او روزي راپیدا کولو په کار کې، د قرار او آرام دار او کور جنت دئ نه دنیا.

ډېره عجیبه ده چې ځینو د آیت ترکیب او سیاق او سباق ته له پام پرته، په ډېر تکلف سره او د مذهبي تعصب په حکم، د (فانصَب) لفظ (فانصِب) کوي، (ص) ته د (زور) په ځای (زېر) ورکوي او د نصبولو معنی ترې راباسي او وایي: په دې سره پیغمبر علیه السلام ته امر شوی چې له فارغېدو وروسته علي رضي الله عنه خپل ځای ناستی وټاکه!! دغو جنابانو ته چې د قرآن په اړه ئې بې باکي ته انسان حیران پاته شي؛ وایو:

الف- دلته د (فَانْصَب) لفظ د (فَرَغْتَ) په مقابل کې راغلی، داسي لکه له دې مخکې چې يُسْر د عُسْر په مقابل کې راغلی، معنی ئې د فراغت عکس یعني زیار ایستل ده، نه بل څه، بله معنی ترې اخیستل له کرکجن تکلف پرته بل څه نه شي کېدی. همدا راز د (فَانْصَب) وزن باید (فارغَب) ته ورته وي، د بلاغت تقاضی همدا ده، له دې (فانصِب) جوړول همغږي له منځه وړي.

ب- د دې آیت د نزول په وخت کې علي رضي الله عنه لا بالغ شوی هم نه وو.

ج- د پیغمبر علیه السلام عظمت او حقانیت له دې خبرې هم معلومېږي چې هغه په داسي حال کې رحلت وکړ چې هیڅوك ئې خپل ځای ناستی ونه ټاکو، مخصوصاً له خپلې کورنۍ، راشدینو خلفاوو هم له خپلې کورنۍ کوم کس ځای ناستی ونه ټاکو، که دوی دا کار کړی وی نو نن به هر ظالم پاچا خپل زوی، لور او مېرمن په دې نامه د تخت او تاج وارث او د ځان ځای ناستی او ولي عهد ټاکو چې د پیغمبر علیه السلام په سنت عمل کوي او ډېرو دین پلورونکو مفتیانو به دا فتوی ورکوله چې د اعلیحضرت همایوني دا کار د شریعت او سنت مطابق کار دئ!! ډېر ناپوه او د دین له حقیقت او روح بې خبر انسان به په دې نه پوهېږي چې هر موروثي نظام ظالمانه او د عدل او انصاف مغایر نظام دئ، دین د دې لپاره راغلی چې دغه ظالمانه موروثي نظامونه او د زور حکومتونه رانسکور کړي او د خپل زعیم د ټاکلو اختیار ولس ته ورکړي.

د- محال ده چې پیغمبر علیه السلام ته د الله تعالى له لوري د چا د نصبولو امر شوی

وی او هغه دا کار نه وی کړی او محال ده چې د ده په لاس روزل شوو صحابه وو د ده له لوري د نصب شوي کس په ځای بل څوك غوره کړی وی!!

هـ- که پیغمبر علیه السلام ته د الله تعالی له لوري د ځای ناستي د نصبولو امر شوی وی، نو دا امر به په داسي صریح الفاظو په قرآن کې راغلی وو لکه د موسی علیه السلام په څنګ کې چې د هارون علیه السلام ذکر شوی، په ټول قرآن کې خو نه صراحتاً د علي رضي الله عنه نوم راغلی او نه اشارتاً د ده په اړه څه ویل شوي!

و- د ځای ناستي نه ټاکل او د موروثي قیادت نفي؛ د اسلام او د پیغمبر علیه السلام د عظمت نښه ده، اسلام په موروثي قیادت باور نه لري، دا د جاهلیت د دور پاته شونی ګڼي، په اسلام کې امارت او قیادت د خلکو په خوښه او د دوی له لوري اهل شخص ته سپارل کېږي، نه له پلاره زوی ته په میراث پاته کېږي او نه د امیر کورنۍ بل غړي ته؛ د قرآن حکم همدا دئ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د قرآن په دغه صریح حکم عمل کړی او له ده وروسته صحابه وو پرې عمل کړی.

۸- په هر حالت کې باید ستا رغبت د الله تعالی په لوري وي، داسي نه چې په کوم کار کې مشغولتیا تا د خپل رب له یاده غافل کړي، د الله تعالی یاد به تل ستا په ژبه او زړه وي، یوه شېبه به نه ترې غافل کېږې، په هر کار کې به د ده رضاء لټوې او د زړه میلان به دي تل د الله تعالی په لوري وي.

که په دې وروستیو مبارکو آیتونو کې راغلي دوه مطلبه (دوامداره او ستړیا نه منونکې هڅه، د الله په لوري رغبت) د ټولې سورې د آیتونو په رڼا کې وڅېړو، معنی به ئې دا وي: ستونزي به هرومرو پای ته رسي، ډاډه اوسه چې د آسانۍ او خوشحالۍ ورځي راتلونکې دي، خو داسي نه چې د سختو ورځو د پای ته رسېدو او له ستونزو او کړاوونو د فراغت په وخت کې له خپلو هڅو لاس واخلې، خپله مبارزه متوقفه کړې او د دنیا زرق و برق ته متمایل شې، بر عکس باید خپلو دائمي او ستړیا نه منونکو هڅو ته دوام ورکړې او رغبت دي یوازي د الله تعالی په لوري وي.

التين

د سورې معرفي

د دې سورې نوم التین (انځر) دئ، چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۸ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت د دوو صیغو په څېر دي، لومړی او شپږم آیت ئې د

زيتون او ممنون په صيغو پای ته رسېدلي، نور ئې (التين) ته ورته صيغو باندي، د څلورم آيت د پای صيغه تقويم ده چې د غږ له پلوه التين ته ورته ده. په مکه مکرمه کې نازله شوې، د بحث محوري موضوع ئې د دې مطلب ثابتول دي چې الله تعالی (احکم الحاکمين) دئ او عملونو ته عادلانه بدله ورکوي. د دې ادعاء د اثبات لپاره د انساني شخصيتونو دوه ېلګي او د دوی د عملونو پايلي زموږ مخي ته ږدي، يو هغه چې تر ټولو ټيټ او پرېوتي مقام ته رسېدلی، له اخلاقي او معنوي پلوه د الله تعالی تر ټولو مخلوقاتو ټيټ تللی، دومره ټيټ پرېوتی چې هر څه تري لوړ او اوچت دي. بل ئې هغه مؤمن بنده دئ چې عملونه ئې صالح او نېك دي او د خپلو نېکو عملونو غوره بدله په دوامداره او پر له پسې توګه تر لاسه کوي. دا په داسي حال کې چې الله تعالی دا دواړه انسانان، له هغو ټولو ژورو توپيرونو سره چې د دوی په کړنو کې شته، په ډېر غوره جوړښت او تقويم کې پيدا کړي، ډېر غوره او ښايسته استعدادونه او فضائل ئې د دوی په خټه کې اېښي، د استعدادونو له مخي ئې پر ټولو مخلوقاتو دوی ته فضيلت ورکړی، خو يو ئې د فضيلت او شرف لوړو لوړو څوکو ته ورسېږي او بل ئې د رذالت او سپکتوب په ژورو ژورو کندو کې پرېوځي، د دوی هر يو د دوو لارو مقطع باندي ودرېدلی، يوه ئې د لاندي تلو هغه لار غوره کړې چې ځوړه ده، ورو ورو ټيټېږي او په هغه ځای پای ته رسي چې تر ټولو ټيټ او پرېوتی ځای دئ، بل هغه لار غوره کړې چې لوړ درومي او ورو ورو لوړېږي او په هغه ځای منتهي کېږي چې تر ټولو لوړه څوکه ده او د عزت او شرف تر ټولو لوړ مقام. دلته د انسان په متفاوت انتخاب، ېلو ېلو تګلارو او مختلفو عملونو او کړنو ېل ېل نتائج مرتب کېږي او دا ښيي چې په دې عالم کې د مکافات او مجازات سنت حاکم دئ، هر عمل ته مناسبه بدله او سزا ورکول کېږي، له هر چا سره د ده د کړنو له مخي معامله کېږي. نو د دې حقيقت له مشاهدې او ليدو سره سره څنګه او په کوم دليل له دې انکار کوې چې يوم الدين د مکافات او مجازات وروستۍ ورځ په مخکې لرې، محاسبه به درسره کېږي او د خپلو عملونو مناسبه او عادلانه سزا به ګورې؟! د دې تکذيب لپاره څه دليل لرې؟!! کوم څه، کومه اندېښنه، کومه وجه او کوم دليل د دې باعث شوی چې په يوم الدين کې له الهي محاسبې انکار وکړې؟! مګر ته په دې نه پوهېږې چې الله تعالی (احکم الحاکمين) دئ؟ مګر نه ګورې چې (احکم الحاکمين خدای) عملاً انسان ته د خپلو کړنو بدله او سزا ورکوي؟ آيا دا د منلو ده چې په تا کې به د ښه او بد تر منځ د قضاوت او د حق او باطل او مظلوم او ظالم تر منځ د حکميت استعداد وي خو هغه الله تعالی به په دې صفت متصف نه وي چې تا ته ئې دا استعداد درکړی ؟!! په انسان کې د حکميت صفت د دې

نښه ده چې پيدا کوونکی به ئې حتماً (أَحۡكَمُ ٱلۡحَٰكِمِينَ) وي.

د سورې په پيل کې د پيغمبرانو عليهم السلام د بعثت او د وحي د مهبط په څلورو ځايونو لوړه شوې، په شام، فلسطين، طورسينا او بلدالامين (مکه مکرمه)، چې دا د جليل القدر پيغمبرانو د بعثت ټاټوبي او د سترو سترو الهي او ديني خوځښتونو او نهضتونو مهد او د نوميالیو او باعظمتو شخصيتونو زېږنتونونه دي، دغه سيمي د دې ادعاء د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندي کوي چې انسان په ډېر غوره تقويم او جوړښت کې پيدا شوی، د پيغمبرانو لوړ لوړ شخصيتونه په دې شهادت ورکوي چې په انسان کې لوړ لوړ استعدادونه اېښودل شوي، د وحي د نزول په دغو څلورو سيمو کې د سترو سترو شخصيتونو پيدايښت شيي چې د انسان په فطرت کې ډېر لوړ استعدادونه او اوچتي وړتياوي اېښودل شوې، څوك چې توانېدلې د خپل ضمير دا استعدادونه ځلانده کړي او ترې کار واخلي د عظمت او شرف لوړو لوړو څوکو ته رسېدلې. دا په انسان پورې مربوطه ده چې د خپلو فطري وړتياوو په کارولو کې کومه لار غوره کوي؟! د خپل غوره فطرت غږ او غوښتنو ته مثبت ځواب وايي د شرف او عزت لوړو څوکو ته د رسېدو په لار درومي او که د رد ځواب ورکوي، د ځوړ لار غوره کوي او د ذلت او رذالت ژورو کندو کې پرېوځي؟!!

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيۡتُونِ ١ وَطُورِ سِينِينَ ٢ وَهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٱلۡأَمِينِ ٣ لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ٤

۱- په دې انځر او دې زيتون باندي قسم. ۲- په طور سينين باندي قسم. ۳- په دغه خوندي ښار باندي قسم. ٤- بې شکه چې انسان مو پيدا کړی دئ په ډېر غوره جوړښت کې.

۱-٤: دلته په څلورو شيانو لوړه شوې او د قسمونوپه پای کې ويل شوي چې: بې شکه چې انسان مو پيدا کړی دئ تر ټولو غوره جوړښت کې.

د دغو قسمونو په اړه د مفسرينو تر منځ د زيات اختلاف شاهد يو، مور د اختصار لپاره د کمزورو او ضعيفو آراءو له راوړلو ډډه کوو، يوازې هغه رأيه رااخلو چې تر ټولو دقيقه او د سورې له مضامينو سره مطابق او د آيتونو تر منځ دقيق ارتباط ئې تأييدوي. د وضاحت لپاره لاندي عرائض لرو:

په دې آيتونو کې د (طور سينين) او (بلدالامين) مفهوم کاملاً واضح او روښانه دئ او

قرآن په خپله د هغوی وضاحت کړی، طور سینین د موسی علیه السلام مبعث ځای او بلد الامین، مکه مکرمه چې د اسمعیل علیه السلام او محمدعلیه السلام مبعث ځای او په هغې کې د ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام په لاس کعبه بنا شوې. که د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې غور وکړو نو دا خبره راته جوتېږي چې د دغو دواړو تر منځ یو ځانګړی شباهت او مناسبت شته او هغه دا چې دواړه د پیغمبرانو مبعث او د وحي مهبط دي، په یوه کې موسی علیه السلام په پیغمبرۍ مبعوث او د فرعون په مقابله مأمور شو او بل ئې د ابراهیم، اسمعیل او محمد علیهم السلام د بعثت او دعوت غېږ، له ځواب سره د دغو دواړو قسمونو ارتباط هم ډېر څرګند او واضح ځای او هغه دا چې دا دواړه ځایونه چې د نړۍ ستر ستر شخصیتونه ئې په غېږ کې پاته شوي، په دې خبرې شهادت ورکوي چې واقعاً انسان په ډېر غوره جوړښت کې پیدا شوی او ډېر ستر ستر استعدادونه په کې ایښودل شوي، د دغه اوچت او لوړ جوړښت څو څرګندي ښلګې ئې دغه جلیل القدر پیغمبران دي، که په انسان کې دا اوچت استعدادونه نه وی نو د پیغمبرانو په څېر عظیم او جلیل القدر شخصیتونه به په دوی کې نه راپیدا کېدل. مګر نه ګورئ چې دغه جلیل القدر پیغمبران د عظمت او لوړوالي کوم کوم مقام ته رسېدلي، هر یوه د سترو انقلابونو لارښوونه کړې، د دوی په لاس ظالم استبدادي نظامونه نسکور شوي، د عدالت او آزادۍ ډیوه ئې بله کړې، د دې ډیوې په رڼا کې مظلومو او محرومو انسانانو ته د ډاډمن او سرلوړي ژوند شرائط برابر شوي، په جهل وهلې ټولنې کې د رونړ مشعل په څېر ځلېدلي، توري تیارې شپې ئې روښانه کړې، آیا همدا کافي نه ده چې ووایو: واقعاً انسان په ډېر غوره تقویم کې پیدا شوی او په هغه کې ستر او عظیم استعدادونه ایښودل شوي؟

خو له ځواب سره د دوو لومړنیو قسمونو په ارتباط پوهېدل غور غواړي. په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- د یوه بلیغ کلام یو ستر خصوصیت دا وي چې د ښلو ښلو برخو تر منځ ئې تړاو، نظم او تنسیق وي، د دغه اصل له مخې باید دوه لومړي قسمونه له دوو وروستیو سره شباهت ولري. که دوه وروستي قسمونه خاصو ځایونو ته اشاره کوي، په کار دا ده چې دوه لومړي قسمونه هم دښته ورته ځایونو ته اشاره وکړي. خو باید وګورو چې په (التین) او (الزیتون) کې د دې امکان او احتمال شته که نه؟ ځواب دا ځای چې هو؛ په څو دلیله: لومړی دا چې د کلام له فحوی معلومېږي چې په لومړي آیت کې (البلد) مقدر ځای، د درېیم آیت له (و هذ البلد الامین) همدا خبره معلومېږي، یعني په لومړي آیت کې د انځر او زیتون په سیمو لوړه شوې. دوهم دا چې د دې سورې د نازلېدو په وخت کې فلسطین د اعلی زیتون په

درلودو مشهور وو او شام د اعلى انځر په درلودو، چې چا به د زيتون نوم واخيست نو فلسطين به ئې مخې ته راغى او چې د انځر نوم به ئې واخيست نو شام به ئې ذهن ته راغى، دا داسې وګڼئ لكه څوك چې په پاكستان كې د خربوزې نوم واخلي نو فوراً ئې افغانستان ذهن ته راشي او كه په افغانستان كې د ام يا كبلې نوم واخلي نو فوراً ئې پاكستان سترګو ته ودرېږي، دا ډېره عامه ده چې اكثراً ځايونه د خپلو خاصو مېوو په نامه يادېږي. عربانو معمولاً په خپلو محاوراتو كې مختلف ټاټوبي د خپلو ځانګړو او خاصو مېوو په نامه يادول، كه به چا د څو ملكونو په څنګ كې د زيتون او انځر نوم اخيستو نو له دې ئې د شام او فلسطين معنى اخيستله. درېيم دا چې دغو دواړو ځايونو ته د قرآن په څو آيتونو كې اشاره شوې او د طورسينين او بلد الامين په څېر د پيغمبرانو د بعثت مبارك ټاټوبي ګڼل شوي. څلورم دا چې كه د ځينو مفسرينو د رأيې مطابق (التين) او (الزيتون) فقط مېوه وګڼو او په خوا كې ئې (البلد) مقدر ونه بولو نو له يوې خوا د دغو څلورو قسمونو تر منځ شباهت او يووالى نه شو په ګوته كولى او له بلې خوا د قسمونو او ځواب تر منځ تړاو او ارتباط نه شو ښودلى. شام او فلسطين چې دلته په (التين) او (الزيتون) سره ياد شوي، له (طور سينين) او (البلد الامين) سره له دې پلوه شباهت لري چې هلته د سليمان، داؤد، عيسى او ابراهيم عليهم السلام په څېر پيغمبران مبعوث شوي. او په دې سره د ټولو قسمونو ژور او دقيق ارتباط په خپلو كې او له ځواب سره څرګندېږي. يعني هغه باعظمت او ستر ستر شخصيتونه چې په دغو څلورو سيمو شام، فلسطين، طور سينين او البلد الامين كې راولاړ شوي، تلپاته حماسې ئې جوړې كړې او د ډېر لوړ او اوچت انساني شخصيت ښلګې ئې وړاندې كړې، په دې شهادت وركوي چې الله تعالى په انسان كې څومره لوړ استعدادونه اېښي او په څومره غوره او احسن تقويم او جوړښت كې ئې پيدا كړى!!

- څوك چې التين او الزيتون يوازې د مېوو په معنى نيسي او د قسمونو او ځواب تر منځ ئې د ارتباط په اړه وايي: لكه څنګه چې په مېوو كې انځر او زيتون ډېرې ښې مېوې دي همدا راز انسان هم په ډېر غوره جوړښت كې پيدا شوى!! د دوى په ځواب كې وايو: دا به څنګه ثابتوئ چې دا دواړه مېوې تر نورو غوره دي، كه تر نورو ښې وى نو په قرآن كې به د خرما او انګورو په ځاى دوى د جنت د مېوو په سر كې يادې شوې وې!! د مېوو د ښه والي ئې د انسان له غوره پيدايښت سره څه؟ له طورسينين او بلدالامين سره به ئې تړاو او همغږي څنګه ثابتوو؟ د قسم معنى خو دا ده چې قسم كوونكى مقسم به د خپلې ادعاء د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې كوي، كه په الله تعالى قسم كوي او وايي: والله چې رښتيا وايم، د ده د دې قسم معنى دا ده چې الله تعالى شاهد دئ چې زه رښتيا وايم، نو

دلته په انځر او زيتون باندې د قسم معنی دا ده چې دا دواړه شاهد دي چې انسان په ډېر غوره جوړښت او تقويم کې پيدا شوی، که له دې دواړو دوی ته منسوب سيمې؛ شام او فلسطين ونيولی شي، دا دواړه سيمې يقيناً په دې شهادت ورکوي چې انسان په ډېر غوره جوړښت او تقويم کې پيدا شوی، دا ځکه چې په دغو سيمو کې ستر ستر پيغمبران عليهم السلام تېر شوي او دوی د غوره انسان او د ده د اوچت او لوړ جوړښت څرګندې بېلګې دي، خو په هغه بل تعبير سره خو له دغو آيتونو بې ربطه جملې جوړېږي.

ثُمَّ رَدَدْنَٰهُ أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ۝٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۝٦ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِٱلدِّينِ ۝٧ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ۝٨

۵- بيا مو رد کړ دی تر ټولو ټيټو ټيټ ته. ٦- مګر هغه چې ايمان ئې وي راوړی او کړي ئې وي سم سم عملونه، نو وي به تلپاته بدله دوی ته. ۷- نو څه شي له دې وروسته د دين درواغ ګڼلو ته ته اړ کړې؟ ۸- مګر نه دئ خدای، احكم الحاكمين؟

۵-٦: خو همدغه انسان، له همدې لوړ او ښايسته جوړښت سره او له ټولو هغو لوړو لوړو او غوره استعدادونو سره چې د ده په فطرت کې اېښودل شوي، د ايمان له سمې لارې د کړېدو او انحراف په نتيجه کې او د کفر د لارې په غوره کولو سره، د دنائت، رذالت، جهل او وحشت داسې ژورې کندې ته پرېوځي چې تر هر ټيټ ټيټ شي، تر هر ځيرونکي حيوان ډېر ځيرونکی، بې رحمه او وحشي شي، نه ئې په ظلم کې سيال پيدا کېږي او نه په جهل، بې رحمۍ او قساوت کې؛ او عملاً ګورو چې له دې سقوط او هبوط هغه کسان ژغورل شوي چې د ايمان او صالح عمل لار ئې غوره کړې او په دې لار کې ئې د خپلو نېکو عملونو تلپاته او نه شلېدونکې غوره او نېکه بدله تر لاسه کړې، عزت او سرلوړۍ ته رسېدلي. د يوه وېرووونکی او (مدهش سقوط) او د بل (عزت او لوړ تګ) ښيي چې دلته زمونږ په نړۍ کې د مکافات او مجازات لړۍ شته، صالح هم د خپلو نېکو عملونو بدله تر لاسه کوي او طالح هم د خپلو بدو کړنو سزا ګوري، يو ئې فلاح، بريا او نجات مومي او بل ئې د ذلت او سپکاوي او نامرادۍ په ژوري کندې کې پرېوځي، هره شېبه عملونو ته د مناسبې سزا ورکولو شاهد يو.

۷-۸: نو د عملونو د مکافات او مجازات د عملي بېلګو له مسلسل ليدو سره سره، څنګه او په کوم دليل له (يوم الدين) انکارکوې؟! او ولې له انسان سره حساب و کتاب او محاسبه

دروغ ګڼې؟ مګر ستا رب (احكم الحاكمين) نه دئ؟ مګر ودي نه ليدل چې په دغو څلورو سيمو کې، د پيغمبرانو د بعثت سيمو کې، د حق او باطل تر منځ د پرله پسې نښتو په دغو څلورو ميدانونو کې، په وار وار د احكم الحاكمين رب پرېکړې، د حق د بريا او د باطل د ماتې په ښه کې تکرار شوې؟!! حق پالونکي غالب شوي او باطل پالونکي مغلوب شوي؟! که څه هم د نزاع او نښتو په سر کې حق پالونکي ډېر کمزوري او ضعيف او د باطل سنګر ډېر مضبوط او مجهز برېښېدو او هيڅا ئې د ماتې او زوال تصور نه شو کولی!! که دلته او په دنيا کې د مکافات او مجازات لړۍ نه وی نو مسلط، مجهز او په ظاهر کې ډېر مضبوط او ځواکمن ستمګران بايد تل برلاسي او غالب او پر ټولنې د تل لپاره مسلط پاته کېدی او مستضعفين به هيڅکله د دوی له منګولو نه شوی وتلی او په دې نابرابري نزاع او جګړې کې به ئې هيڅکله بريا نه په برخه کېده!! او دا مجهز ځواکونه به هيڅکله د دوی په لاسونو نه رانسکورېدل او د زمکې خلافت به ئې نه په برخه کېدو، د ستمګرانو مؤاخذه او د شر او فساد پر ځواکونو د الهي عذاب راپرېوتل دا ښيي چې الله تعالی د دې عالم (حَکم او حاکم) دئ او د احكم الحاكمين رب پرېکړې په کې نافذي او حاکمي دي.

العلق

د سورې معرفي

د دې سورې نوم العلق (ځوړند شوي) دئ، چې له دوهم آيت اخيستل شوی، ۱۹ آيتونه لري، دوه لومړي آيتونه ئې د خلق او علق په هموزنو صيغو او ورپسې درې آيتونه د اكرم، قلم او يعلم په صيغو او له شپږم تر څوارلسم ئې تقوی ته ورته هموزنو صيغو او له هغه وروسته څلور آيتونه ئې ناصية ته ورته صيغو باندې پای ته رسېدلي او آخري آيت ئې د اقترب په صيغه داسې ختم شوی چې د سورې خوندور غږ او ښايسته مد و جذر په ډېر ښکلي او موزون توګه تکميل کړي. د اکثرو مفسرينو په اتفاق د دې سورې لومړي پنځه آيتونه هغه لومړني نازل شوي آيتونه دي چې د حرا په غار کې پر پيغمبر عليه السلام نازل شول او په همدې سره د وحي د راتلو لړۍ پيل شوې. دوهمه برخه ئې هغه وخت نازله شوې چې پيغمبر عليه السلام په علني او څرګنده توګه د کعبې خوا کې په لمانځه ودرېدو او د قريشو سردارانو د ده دا کار له خپل دين او مذهب څرګند بغاوت وګاڼو او د جدي عكس العمل پرېکړه ئې وکړه، د ابو جهل جاهلانه حميت د دې صحنې په ليدو سره چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د کعبې خوا ته په لمانځه ولاړ دئ، د قريشو د

مذهبي آدابو خلاف په نوې طريقه او بڼه عبادت کوي، (جاهلانه حميت ئې) وپارېدو، نه د دې لپاره چې په خپل مذهب غيرت وکړي بلکې دا ئې د خپلې واکمنۍ او سلطې په ضد بغاوت ګاڼو، دا ئې د هغه څه خلاف بالو چې ده ته ئې اقتدار ورکړی وو. له ګواښه په ډك غږ ئې پيغمبر عليه السلام ته وويل: نه غواړم چې بيا دي په دې حالت کې وګورم، خو پيغمبر عليه السلام ورته اعتناء ونه کړه، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت کوي چې يو ځلې پيغمبر عليه السلام په مقام ابراهيم کې په لمانځه ولاړ وو، ابو جهل ئې خوا ته تېرېدو، ودرېد او پيغمبر عليه السلام ته ئې وويل: آيا ته مې له داسې کار نه وې منع کړی؟ په توندو الفاظو ئې هغه وګواښو، پيغمبر عليه السلام په پرېکنده الفاظو ځواب ورکړ، ابو جهل ورته وويل: ته په چا نازېږې، له چا مې وېروې، په خدای قسم چې د دې ځای اکثر اوسېدونکي له ما سره دي او زما پلويان تر هر چا زيات دي!! (احمد، ترمذي او النسائي روايت کړی)

له نهم آيت (أَرَءَيْتَ ٱلَّذِي يَنْهَىٰ؛ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ) د سورې تر پايه پورې دغه جريان بيانېږي.

د سورې په لومړيو آيتونو کې چې د وحي د پيل لومړي آيتونه دي، د (قرائت)، (قلم) او (علم) يادونه شېيې چې د اسلام له نظره ليك، لوست او علم څومره اهميت لري او په الهي وحي کې ئې مقام او منزلت څومره لوړ او مهم دئ!!

د سورې دوهمه برخه شېيې چې پيغمبر عليه السلام د دغې برخې د نزول په وخت کې خپل دعوت علني کړی او په لومړي ځل د کعبې خوا ته په لمانځه ودرېدلی. او له دې وروسته ئې د ټولني له حاکم نظام سره څرګنده او علني مبارزه پيل شوې.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ ۝٢ ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ ۝٣ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝٥

۱- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پيدا ئې کړ. ۲- انسان ئې له ځوړندو پيدا کړ. ۳- ولوله چې رب دي ډېر کريم دئ. ٤- آ چې په قلم ئې پوهه ورکړه. ۵- انسان ته ئې ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.

۱- په لومړي آيت کې څو مهمې خبرې زموږ پام ځان ته جلبوي:

- د الله تعالى له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پيل شوې او دا شېيې چې د اسلام له

نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهميت لري، دا د الله تعالى لومړى امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پيل کړي.

- لوستل د خپل رب په نامه او د هغه په مرسته پيل کړه، هغه رب چې هر څه ئې پيدا کړي، ته او دا هر څه يوازي يو رب لرئ، چې هم ستا رب دئ او هم د نورو ټولو مخلوقاتو رب.
- د (اقرأ) له امر معلومېږي چې د وحي فرشتې بايد دا لومړۍ وحي په ليکلې بڼې کې د پيغمبر عليه السلام مخې ته اېښې وي. په دې اړه لاندې روايت پوره وضاحت کوي:

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّهَا قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ، فَكَانَ لاَ يَرَى رُؤْيَا إِلاَّ جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ، ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلاَءُ، وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ- وَهُوَ التَّعَبُّدُ- اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ، وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ، فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا، حَتَّى جَاءَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ، فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ. قَالَ « مَا أَنَا بِقَارِئٍ ». قَالَ «فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ. فَقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِى خَلَقَ * خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ) ». رواه البخارى

عروة بن زبير له عائشې رضي الله عنها روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام ته تر وحي د مخه رښتينو او صادقو خوبونو مخه کړه، هيڅ خوب به ئې نه ليد مگر دا چې د سباوون د رڼا په څېر به روښانه ختلو، بيا يوازيتوب ته متمايل شو، څو شپې ورځې به ئې د حرا په غار کې په عبادت تېرولې، څه خوراک څښاک به ئې له ځان سره واخيست، غره ته به ولاړ، څه وخت به ئې هلته يوازي تېر کړ، بيا به د خديجې رضي الله عنها خوا ته راغى، ورته توښه به ئې له ځان سره واخيسته او غره ته به ولاړ، په همدغو شپو ورځو کې ناڅاپي يوه فرشته ورته راغله او ورته وئې ويل: ولوله! رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي چې ما ورته وويل: زه لوستونکى نه يم، فرشتې په غېږ کې دومره کلك ونيولم چې حوصله مي سر ته ورسېده، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ويل: ولوله! ما ورته وويل زه په لوستلو نه پوهېږم، هغې بيا په غېږ کې ټينګ کړم، دومره چې طاقت مي سلب شو، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ويل ولوله! ما بيا ورته وويل زه لوستونکى نه يم، هغې بيا ټينګ ونيولم،

هومره چې بې طاقته شوم، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ویل: ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پیدا ئې کړ. انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ، ولوله چې رب دي ډېر کریم دئ، هغه چې په قلم ئې ښودنه وکړه، انسان ته ئې هغه څه ورزده کړل چې نه پرې پوهېدو.

د دې حدیث له الفاظو معلومېږي چې حتماً کومه لیکنه د پیغمبر علیه السلام په مخي کې نیول شوې او ترې غوښتل شوي چې وئې لولي، که داسي نه وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به نه ورته ویل چې زه لوستونکی نه یم، د دې په ځای به ئې ورته ویل چې څه ووایم؟

۲- په دې اړه چې (انسان له ځوړندو پیدا شوی) څو خبرې د توجه وړ دي:

الف: علق د علقة جمع ده، اصلي معنی ئې ځوړند ده او دلته له دې کبله د جمع په صیغه راغلې چې له انسان مراد ټول انسانان دي، یعني ټول انسانان ئې له ځوړندو شیانو پیدا کړي.

ب: قرآن د ټولو ژوو پیدایښت له اوبو او د انسان د پیدایښت لومړۍ ماده خاوره او د جوړښت پیل ئې له نطفې ګڼي، باید وګورو چې ولې په دې آیت کې د انسان د پیدایښت پیل له (علقه) ښودل شوی؟ دوه توجیه مومو:

۱- ادبي ترکیب د دې تقاضی کوي چې د مخکیني آیت په پای کې د (خلق) صیغې ته ورته صیغه د دې آیت په پای کې راغلې وی، د دې لپاره چې د دواړو فواصل او وزن یو شانته شوی وی.

۲- دلته د انسان د پیدایښت دوه ډېر متفاوت حالتونه (کامل انسان) او (یو ځوړند توکی) یو د بل څنګ کې ښودل شوي، چې په دې سره خپل مخاطب ته ووایي: لکه څنګه چې الله تعالی انسان له یوه ځوړند توکي پیدا کړي، وده ورکړي او بشپړ انسان ترې جوړ کړي، همداسي په (وحي)، (قرائت) او (تعلیم بالقلم) سره انسان د پوهې او علم داسي پوړي ته رسوي چې په ډېرو اسرارو پوه شي، په هغه څه چې تر دې وړاندي او له دې لارې پرته نه شو پرې پوهېدی.

ج: انسان ډېر وروسته او په ټېرې پېړۍ کې په دې پوه شو چې د مور په رحم کې او د انسان د جوړښت په پیل کې د ماشوم لومړۍ جوړه شوې نطفه د رحم په جدار پورې راځوړنده وي چې وروسته بیا د ژوول شوې غوښې ټوټې ته ورته بڼه غوره کړي. دا آیت هم د قرآن یو داسي علمي اعجاز زمونږ مخي ته ږدي چې ساینس د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته څوارلس پېړۍ وروسته پرې پوه شو.

۳-٤: ولوله چې ستا رب ډېر کریم دئ، دا د الله تعالی د کرم او پېرزویني څرګنده نښه ده

چې انسان د يوه (ځوړند توکي) له حالت هغه ځای ته رسوي چې (کامل انسان) ترې جوړ شي، ليك او لوست ورښيي، انسان يوازينی مخلوق دئ چې کولی شي د (لوستلو) له لاري د بل په خبره پوه شي او د (ليکلو) له لاري خپل معلومات خوندي کړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قيمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضائع کېدو مخه ونيسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسان پرته دا وړتيا او امتياز په هيڅ ذيروح کې نه ګورو، الله تعالی په انسان کې دا استعداد او وړتيا اېښې ده چې له (قلم) د تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی. له دې مبارك آيت څو اساسي مطالب استنباطولی شو:

الف: په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ يوه ته پر بل فضيلت.

ب: (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسيله ده، په دې سره انسان د دې مجال تر لاسه کوي چې په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چې له بلې لاري پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو

ج: لکه څنګه چې دلته د ((الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ) الفاظ په دې معنی دي چې انسان ته له قلم د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کې دا مَلَکه اېښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمير وليکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې د زده کړې او تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، همدا راز په نورو آيتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (عَلَّمَهُ الْبَيَانَ) او ((وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا)؛ هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بيان) ملکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافي الضمير) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پيغام تشريح او توضيح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د يوه مناسب نوم اېښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتيب، تنظيم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان يوه ځانګړتيا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضيلت او شرف ورکړی. هغه محترم مفسرين چې د (علم آدم الاسماء کلها) آيه په بلې بڼې تفسيروي او وايي چې اسماء توقيفي دي، د الله له لوري وضع شوي او آدم عليه السلام ته ښودل شوي، سخته اشتباه ئې کړې، تفسير ئې هم تفسير بالرأی دئ نه تفسير قرآن بالقرآن او هم د واقع خلاف، عملاً ګورو چې ټول نومونه انسان په خپله وضع کوي، د هر نوي توکي لپاره نوی نوم غوره کوي، که د دوی دا تعبير ومنل شي د (علم بالقلم) او (علمه البيان) آيتونه به د دوی د اسلوب

له مخې څنګه تفسیروو؟ که خبره داسې وی لکه دوی چې وایي، نو باید د ټولو شیانو نومونه، په ټولو ژبو کې سره ورته وی، خو عملاً ګورو چې خبره د دې عکس ده.

سره له دې چې قرآن (قلم)، (لیك) او (لوست) ته دومره اهمیت ورکړی او سره له دې چې پیغمبر علیه السلام ته د وحي په پیل کې لومړۍ لارښوونه د قرائت او قلم په اړه ده او ورته ویل شوي چې قلم د تعلیم او تعلم ستره وسیله ده، خو متأسفانه زمونږ په زړو دیني مدرسو کې (قلم) هېر شوی، له دغو مدرسو چې څوك فارغېږي په لیکلو نه پوهېږي!! نن د قلم ځای کمپیوټر نیولی، هغه کار چې مونږ ئې په قلم سره په خو ورځو مسلسل لیکلو سره نه شو کولی؛ د کمپیوټر په مرسته ئې په څو ساعتونو کې کولی شو؛ ښایي تفاوت به ئې دومره وي لکه د اوښ سفر او د موټر او جهاز سفر. نن چې څوك په کمپیوټر نه پوهېږي؛ داسې دئ لکه هغه چې پرون د قلم له کارولو عاجز وو.

۵: له دې مبارك آیت څو مطالب تر لاسه کولی شو:

الف: د انسان پر مخ چې د معرفت هره دروازه پرانیستل کېږي او په هري نوې خبرې چې د پوهېدو توفیق تر لاسه کوي، د ده هر(کشف) او په هر سر او راز پوهېدل ئې په حقیقت کې د الله تعالی یوه پېرزوینه ده، دا دروازه د ده له لورې ورته پرانیستل کېږي، په دغو حقائقو د پوهېدو توفیق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، لکه څنګه چې قرآن دا مطلب په بل ځای کې په دې الفاظو بیانوي:

وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ .... ﴿٢٥٥﴾ البقرة

او دوی د ده له علم یوازې په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي.

هر چا ته علم او پوهه دی ورکوي، سترګې، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښیي او د ښه او بد، مفید او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفیق تر لاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي.

ب: د دې عالم یوه برخه داسې ده چې انسان ئې له وحي پرته له بلې هیڅ لارې نه شي پېژندی، الله تعالی د وحي په لېږلو سره انسان ته په هغه څه د پوهېدو امکان هم میسر کړ چې له دې پرته درك کول او پېژندل ئې ورته ممکن نه وو.

ج: په اصل کې انسان (بې علمه) دئ، په تدریج سره زده کړه کوي او علم تر لاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دئ چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په خټه او دماغ کې اېښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهیم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي،

څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفید او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زیات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کې ئې اېښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطح لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقائق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاته کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَيَطْغَىٰٓ ۝٦ أَن رَّءَاهُ ٱسْتَغْنَىٰٓ ۝٧ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجْعَىٰٓ ۝٨

٦- نه؛ داسي نه ده؛ بې شکه چې انسان حتماً طغیان کړي. ۷- که ئې ځان بې نیازه ولید. ۸- بې شکه چې ورتګ دئ ستا د رب په لوري.

٦- داسي نه ده چې هر انسان حتماً د خپل اکرم رب د دغو ټولو سترو سترو نعمتونو قدر کوي، د هغو پېرزوینو هم چې د ده مهربان او منعم رب د انسان په شا وخوا کې خواره بې شمېره مخلوقات د ده لپاره او د ده په خدمت کې پیدا کړي او د (علقه) په څېر له وړوکي توکي ئې دی په خپله راپیدا کړ، وده ئې ورکړه کمال ته ئې ورساوو، لیك او لوست او له قلم استفاده ئې وروښوده، خپل خاطرات لیکلی شي او خپله پوهه او تجارب تر نورو انتقالولی شي، د دې په ځای چې د غو پېرزوینو قدر وکړي، د الله تعالی د عناياتو ممنون او مرهون وي، برعکس هغه داسي (ناسپاس)، کفور او کم ظرف دئ چې د نعمتونو وفرت او کثرت په ده کې د امتنان د احساس په ځای د عصیان او طغیان اراده او عزم راپاروي، سرکښي ته ئې هڅوي، چې کله ځان ورته مستغني او بې نیاز معلوم شي، سرکښي او طغیان کوي، تکبر او لویي کوي او هغه وخت له طغیان او عصیان لوېږي او له کبر او لویي لاس اخلي چې د استغناء او بې نیازۍ په ځای د احتیاج او نیازمندۍ احساس په کې راپیدا شي او ځان محتاج وګوري او دا احساس یوازې هغه وخت په انسان کې راپیدا کېدی شي چې هم خپل رب ښه وپېژني او هم خپل مقام او منزلت او هم د الله تعالی په وړاندې خپله اړتیا او احتیاج، د خپل حیثیت او مقام ښه پېژندا او د الله تعالی پېرزوینو ته د احتیاج او اړتیا ژور احساس، انسان دې ته هڅوي چې د الله تعالی په وړاندې د عجز سر ټیټ کړي، د دعاء لاسونه اوچت کړي او عبادت ته ئې مخه کړي، خو د بې نیازۍ او

استغناء کاذب احساس او په خپلو شته وو اتکاء او اتکال او په خپلو شتمنیو اعتماد ئې طغیان او عصیان ته هڅوي، قرآن کریم د انسان دغه د ضعف نقطه څومره ښکلې انځور کړې هلته چې فرمایي:

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنۡ ءَايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ٣١ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوۡجٞ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ فَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٖ كَفُورٖ ٣٢ لقمان

آیا نه ګورې چې دا بېړۍ د الله په فضل سره په بحرونو کې خوځي، د دې لپاره چې خپل آیتونه دروښیي، یقیناً چې په دې کې هر صابر او شکر کوونکي ته ډېرې نښې دي او چې کله ئې څپې د سیوري په څېر راګیر کړي، نو الله ته په داسې حال کې دعاء کوي چې خپل دین ئې ورته خالص کړی وي، خو چې کله ئې د وچې لورې ته وژغوري نو یوازې ځینې ئې منځ لاري شي (او نور ئې بېرته ظلم او تېرې ته مخه کړي) او زموږ له آیتونو انکار نه کوي مګر هر عهد ماتوونکی او ناسپاس انسان.

ګورئ چې د عجول، ناسپاس او بې عهد انسان وضع څنګه وي، د ستونزو او کړاوونو په وخت کې الله تعالی ته پناه وړي، هغه ته دعاء کوي، مرسته غواړي، د اخلاص او مخلصانه بندګۍ ژمنه کوي، خو څو شېبې وروسته او کله چې د مصیبتونو او کړاوونو څپې تېرې شي، له خطرونو وژغورل شي، ساحل ته ورسېږي، بیا نو خپلې ټولې ژمنې هېرې کړي، د الله تعالی د پېرزوینو ناشکري کوي!! د هر ناسپاس او بدعهد انسان حال او کار داسې وي.

په بل ځای کې فرمایي:

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ٢١ هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٢٢ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡۖ مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ

فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾ يونس

او كله چې خلكو ته له هغه وروسته چې كړاو وررسېدلى د كومې پېرزويني (خوند) وروخكو (گورې به چې) ناڅاپه به ئې زمور په آيتونو كې د پټ تدبير (اراده) وي، ووايه: الله په پټ تدبير كې تر ټولو ډېر چابك دئ. يقيناً چې زمور استازي ستاسو پټ تدبيرونه ليكي. الله هغه ذات دئ چې تاسې په وچه او اوبو كې بيايي، تردې چې تاسې په بېړۍ كې وئ او بېړۍ له سورو سره يوځاى له ملايم او خوندور نسيم سره وخوځي او په دې سره خوشحال شي، خو ناڅاپه تېز باد او طوفان ورباندې راشي او له هر لورې څپې ورباندې راتاو شي او گمان وكړي چې محاصره شول، (په دې وخت كې) الله ته پداسې حال كې دعاء كوي (او مرسته تر غواړي) چې په خپل ديانت كې ورته مخلص شوي وي او وايي: كه دي له دې وژغورلو نو حتماً به شكر كوونكي بندگان وو، خو كله چې نجات وركړو بيا د خپل تعهد خلاف په ناحقه په زمكې كې سركښي او بغاوت كوي. اې خلكو! په يقين سره چې ستاسې سركښي او بغاوت ستاسې په ضرر ده (دا دركړى شوى فرصت) د دنيوى ژوند يوه متاع ده، بيا مو زمونږ لورې ته راتگ دئ او په هغه څه به مو خبر كړو چې تاسو كول.

همدا راز فرمايي:

وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَآئِمًا فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَآ إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾ يونس

او كله چې انسان ته څه تكليف ورسېږي، نو په داسې حال كې مورږ مرستې ته بلې چې په ارخ به پرېوتى وي، يا به ناست وى، يا به ولاړ وي، خو كله چې ده ته هغه رسېدلى مصيبت لرې كړو بيا به داسې دروميږي لكه چې مورږ ئې له هغه تكليف خلاصون ته نه وو وربللي، مسرفينو ته خپل عملونه داسې ښايسته او مزين كړى شوي.

د الاسراء د سورې په ٦٧- ٦٩ آيتونو كې راغلي:

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِۦ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾ الاسراء

او کله چې په بحر کې کوم ربړ درورسېږي؛ له ده (الله) پرته ټول هغه ورك شي چې (مرستي ته ئې) دربلئ، خو چې کله مو وچې ته وژغوري نو اعراض او ډډه کوئ او انسان ډېر ناسپاس دئ، آیا له دې خوندي شوي یئ چې د وچې په ژېر کې مو ښخ کړي او یا تونده سیلېر دربانديي راولېږي، بیا هیڅ وکیل درته ونه مومئ او آیا له دې خوندي شوي یئ چې یو ځل بیا مو بېرته وروګرځوي او ستاسو د کفر او ناسپاسېر له کبله د باد تونده سیلېر دربانديي راولېږي او غرق مو کړي او بیا د دغې سزا په وجه پر مونږ کوم نیوونکی ونه مومئ.

په دغو ټولو آیتونو کې دا حقیقت ستاسو مخې ته راځي چې انسان هغه وخت الله تعالی ته مخه کړي، دعاء ورته کوي او عبادت ته ئې چمتو کېږي چې د احتیاج او اړتیا احساس وکړي، د (عبادت) اراده ئې د (احتیاج له احساس) راولاړېږي، خو چې د استغناء او بې نیازېر احساس وکړي نو له الله تعالی مخ واړوي، د عصیان او طغیان لار غوره کړي، په دې ترتیب ګورئ چې د الله په اړه د انسان معرفت او د ده د ربوبیت په اړه د ده علم او پوهه په انسان کې د احتیاج احساس راولاړوي، د ده دعاء له هغه (معرفت) څړوبه کېږي چې د رب العالمین په اړه ئې لري.

۸- د دې مبارك آیت لپاره دوه د پام وړ تفسیرونه مومو:

الف: اې ناشکره، عجول او کم ظرف انسانه! بیا ګرځېدنه دي د الله په لوري ده، د دنیا دا څو ورځنېر غناء او شتمني دي مغرور نه کړي او ستا د طغیان سبب دي نه شي، مرګ درته په کمین کې دئ، تر خوا به ئې تېرېږي، په دام کې به ئې لوېږې، ستا طغیان او سرکښي به پای ته ورسوي او د الله تعالی په لوري به دي بوځي.

ب: ستا هر څه په اصل کې د الله تعالی دي، ته چې څه په واك کې لري، ټول الهي امانتونه دي، اصلي مالك ئې الله دئ، ستا ثروت او شتمني، ستا توان او طاقت، ستا وړتیاوي او استعدادونه، ستا هنر او کمال، ستا جاه او جلال، وجاهت او اعتبار ټول الهي عطایا دي، اصلي (مرجع) ئې الله تعالی دئ، هغه به د دې په اړه وروستېر فیصله کوي او په پای کې به دا ټول په میراث پرېږدې او ایکې یوازي به د ده په لوري درومې.

په دې دواړو تعبیرونو کې دوهم ئې زیات دقیق او د آیت له سیاق او سباق سره متناسب دئ.

أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴿١٠﴾ أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ﴿١١﴾ أَوْ أَمَرَ بِٱلتَّقْوَىٰٓ ﴿١٢﴾ أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١٣﴾ أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾ كَلَّا

لَئِن لَّمۡ يَنتَهِ لَنَسۡفَعَۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٖ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٖ ﴿١٦﴾ فَلۡيَدۡعُ نَادِيَهُۥ ﴿١٧﴾ سَنَدۡعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا لَا تُطِعۡهُ وَٱسۡجُدۡ وَٱقۡتَرِب ﴿١٩﴾

۹- آیا ودي لید هغه چې مخنیوی کوي؟ ۱۰- د یوه بنده چې کله لمونځ کوي. ۱۱- آیا ودي لید که دی په هدایت وي. ۱۲- او ګمارنه په تقوی کوي. ۱۳- آیا ودي لید، که دی تکذیب کوي او دی شا اړوي. ١٤- آیا نه پوهېږي چې الله خو وینې؟ ۱۵- نه؛ داسې نه ده؛ که دی منع نه شو، حتماً به ئې راکښ کړو د تندي له وېښتو. ١٦- له درواغجن او خطأکار تندي. ۱۷- نو راودي بلي دی د خپل مجلس ملګري. ۱۸- او مونږ به حتماً وبلو څارن پلي ځواکونه. ۱۹- نه؛ داسې نه ده؛ اطاعت ئې مه کړه، سجده وکړه او ځان نژدې کړه.

۹-۱۰: آیا هغه څوك دي لیدلی چې د یوه لمونځ کوونکي بنده مخنیوی کوي، د (الله بنده) د (الله له عبادت) منع کوي، خپل زور ځواك د الله تعالی له عبادت د مخنیوي په لار کې کاروي، له هغه چا سره ئې دښمنۍ ته ملا تړلې چې د الله تعالی عبادت کوي، دښمني ئې له هغه چا سره نه ده چې د ده په خلاف ئې د جنګ جبهه پرانیستې، وسلې ته ئې لاس اوږد کړی او د ده په ضد ئې جګړې ته تیاری نیولی، بلکې له هغه چا سره دښمني کوي او جګړې ته ئې درومي چې نه ئې له ده سره کوم بد کړي او نه کومه ګناه، له دې پرته بله ګناه نه لري چې په خپل لمانځه سره د خپل رب عبادت کوي. څومره ستر ظلم، څومره ستره، قبیح او شنیع جفا!؟

۱۱-۱۲- له لمانځه ممانعت او د الله له عبادت د یوه عابد مخې ته خنډ کېدل، هغه وخت لا ډېر قبیح او شنیع حالت او بڼه غوره کړي چې لمونځ کوونکی یو هدایت شوی انسان وي او تقوی او پاك لمنۍ ته بلنه ورکوي. د قرآن له نظره دا هم شنیع او مردود عمل دئ چې څوك د هغه چا مخې ته خنډ شي او د ده په خلاف زور زیاتی وکړي چې د (خپل خدای) عبادت هغسې کوي چې د ده خپل زړه ئې غواړي، خو که دا (عابد) بنده په حقیقت پوه او هدایت شوی وي او په ډېره غوره او صحیح طریقه د حقیقي معبود عبادت کوي او نور تقوی، پاك لمنۍ، له ظلم، فساد او فجور پرهېز ته رابلي، په دې صورت کې له ده سره مخالفت او له داسې عبادت ئې مخنیوی، ډېر قبیح او شنیع ظلم دئ!! او که دا منع کوونکی له حقائقو انکار کوي، دروغ وایي او په حق او حقیقت له پوهې وروسته قصداً تړې مخ اړوي او داسې هم نه وي چې یوازي د (جهل) او ړوند، احمقانه (تعصب) له کبله ئې دې مخالفت ته ملا تړلې وي، نو په دې صورت کې تر ټولو د قبیح او شنیع ظلم او جرم

مرتکب شوی. قرآن د دې ستر ظالم په اړه فرمايي:
۱۳: أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّى * أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ الله يَرَى * آيا ودي ليد، که دی تکذيب کوي او دی شا اړوي. آيا نه پوهېږي چې الله خو (ئې) وينې؟

مګر دا د لمانځه او عبادت مانع او د لمونځ کوونکي عابد بنده په وړاندي خنډ، دروغجن او له حق او حقيقت مخ اړوونکی، څنګه دا جرأت کوي او څنګه ئې دغه شنيع ظلم ته ملا تړلې، آيا ګمان کوي چې الله تعالی ئې نه وينې؟! آيا په الله تعالی نه ايمان بې باکه کړی او ده ته ئې د دې شنيع او قبيح ظلم جرأت ورکړی؟ د دې مبارکو آيتونو لمن ډېره پراخه او نطاق ئې ډېر وسيع دئ او يوازې د پيغمبر عليه السلام په خلاف د ابو جهل په هغه سپك چلن پورې محدود نه دئ، بلکې ټولو هغو کسانو ته متوجه دئ چې د الله تعالی له لمانځنې او عبادت سره حساسيت لري، مخه ئې نيسي او له عبادت کوونکو سره دښمني ته ملا تړي.

۱٤- داسې نه ده چې دوی ئې انګېري، الله تعالی د دغو ټولو دردوونکو صحنو شاهد او ناظر دئ، حتماً به له دغو ظالمانو سره محاسبه کوي، که له خپل (ممانعت) لاس وانه خلي او د (حقيقت له تکذيب) او له (حق اعراض) ډډه ونه کړي، حتماً به ئې د تندي له وېښتانو کلك ونيسو او د دوزخ خوا ته به ئې راکښ کړو، هماغسې لکه په دنيا کې چې ذليل او سپك مجرم تر وېښتانو نيول کېږي، محکمې ته راکښ او مجازات کېږي.

۱۵- په دې مبارك آيت کې د تندي ويښتان (الناصيه) د کاذبه (دروغجن) او خاطئه (حطأکار) په نامه ياد شوي او دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز زمونږ مخې ته ږدي؛ د شلمي پېړۍ په وروستيو او د هغو څېړنو په ترڅ کې چې د انسان د مغز د مختلفو برخو د وظائفو په اړه وشول، څېړونکي پوهان په دې حقيقت پوه شول چې په سترو سترو جنايتکارانو کې د دوی د مغز ځانګړې برخه زياته وده کوي، د مغز دغه برخه د تندي تر وېښتانو لاندې پرته ده.

۱٦- نو دا ستر مجرم دي د خپلې جرګې ملګري راوبلي، له چا چې د مرستې، حمايت او ملګرتيا طمع لري، د چا ملګرتيا چې دی ئې مغرور کړی، هماغه چې ابو جهل او امثال ئې پرې حساب کوي، د ټولو مرسته دي تر لاسه کړي او ودي ګوري چې پايله به ئې څه وي؟!!

۱۷- مونږ به هم خپل زبانيه (انضباطان) راوغواړو، زبانيه هغو انضباطانو ته ويل کېږي چې د واکمنانو په دربار کې تيار او د هر امر تعميل ته چمتو ولاړ وي او هغه څوك له دربار ه باسي چې بې ادبي وکړي او د واکمن د قهر او غصې وړ وګرځي. نو دی دي خپل (نادیه) راوبلي او مونږ به خپل (زبانيه) ته د رټلو امر وکړو.

۱۸- داسې نه ده چې دښمان کوي، د ده نادیه هیڅ نه شي کولی، ګواښونو ته ئې اعتناء مه کوه، د تهدیدونو پروا ئې مه لره، د ده پربېکړې مه منه، په ډاډه زړه او د ده ګواښونو او لافو باتو ته په بشپړې بې اعتنائۍ سره د خپل رب عبادت کوه، خپل ملونځ کوه او د خپل رب په وړاندې خپلې سجدې کوه او له دې لارې خپلې اړیکې له خپل رب سره مزید ټینګې کړه او لا زیات ورنږدې شه. د دوی ګواښونه د دې په ځای چې تا له خپل رب لرې کړي، برعکس باید لا زیات دې ورنږدې کړي. ګورئ چې دلته (سجده) او (تقرب) توأم، یوه د بل څنګ ته او پرله پسې راغلي او ښیي چې سجده د تقرب ستره او اساسي وسیله ده، انسان خپل رب ته نژدې کوي، فاصله ئې له خپل مولا سره رالنډوي. څوك چې کبر او لویي کوي، د (زبانیه) په لاس به د الله تعالی له درشل رټل کېږي او څوك چې (سجده) کوي د خپل رب په وړاندې خشوع او خضوع کوي د آسمانونو لوړو ته اوچت درومي او ذوالعرش العظیم رب ته نژدې کېږي.

سجده په حقیقت کې د الله تعالی په پښو کې لوېدل دي، داسې لکه یو ډېر محتاج او نیازمند انسان چې د بل په پښو کې لوېږي او له هغه د ترحم او زړه سوي طمع کوي او مرسته ترې غواړي، اسلام دا حرکت له الله تعالی پرته د بل په وړاندې تحریم کړی او الله تعالی ته ئې مختص کړی، د الله په وړاندې سجده مومِ ته دا درس راکوي چې د بل په پښو کې به له لوېدو ډډه کوو. د ثوبان رضي الله عنه په روایت کې راځي:

عن ثوبان قَالَ سَأَلْتُ عَنْ ذَلِكَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ فَإِنَّكَ لاَ تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً إِلاَّ رَفَعَكَ الله بِهَا دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً ». رواه مسلم

له ثوبان رضي الله عنه روایت دئ چې په دې اړه مي له رسول الله صلى الله عليه وسلم وپوښتل نو راته وئې فرمایل: سجدې دي زیاتې کړه، ته چې الله تعالی ته هره سجده کوې نو الله تعالی په دې سره ستا مقام یوه درجه لوړوي او په دې سره یوه ګناه درنه رژوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ « أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ فيه.». رواه مسلم

له ابو هریره روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: انسان د سجدې په حالت کې تر بل هر حالت الله ته ورنږدې وي، نو په خپلو سجدو کې خپلې دعاګانې زیاتې کړئ (چې اجابت ته نژدې وي).

القدر

د سورې معرفي

د دي سورې نوم (القدر) دئ چې له لومړي آيت اخيستل شوی، پنځه آيتونه لري، چې ټول ئې د لومړي آيت وروستي لفظ (القدر) ته په ورته هموزنو صيغو پای ته رسېدلي. په مکه مکرمه کې نازله شوې. که څه هم ځينې مفسرين ئې مدني سوره ګڼي خو د سورې له متن، د بيان له انداز او څرنګوالي او له مکي سورتونو سره ئې له يورنګوالي او شباهتونو معلومېږي چې دا سوره په مکي دور کې نازله شوې.

د بحث محوري موضوع ئې د قرآن عظمت بيانول ده، د قرآن جلال او عظمت دومره لوړ او اوچت دئ چې د نزول شپه ئې الله تعالى د ليلة القدر (د قدر شپه) ونومواله، د ارزښت شپه، نه باارزښته شپه، هغه شپه چې په خپله ارزښت دئ او د ارزښتونو لپاره ملاك او معيار، تر زرو مياشتو غوره، يعني د انسان تر ټول عمر غوره، دا د برخليك شپه ده، په دې کې د انسان او ملتونو برخليك ټاکل کېږي، چا چې د دې شپې قدر وکړ او هغه ستر الهي نعمت ته ئې په درنه سترګه وکتل چې په دې شپه کې د انسانانو په برخه شوی، دا ئې خپل کړ، وئې ساتو او شکر ئې په ځای کړ، عزت او عظمت ته به رسي او چا چې د دې شپې عظمت ته اعتناء ونه کړه، هغه نعمت ته ئې پام ونه کړ چې دا د (قدر شپه) ئې ظرف وو، په همدې کې له لوړ آسمان زمکې ته راغلی، نو له سپکاوي او ذلت سره به مخامخ او په الهي عذاب او نقمت به اخته شي.

د (مقدراتو) په دې باعظمته شپې کې د هر انسان برخليك د ده د ژوند په ټولو برخو کې ټاکل کېږي، دا ځکه چې په هر کار د ګمارل شوو فرشتو له هري ډلې او صنف ځينې له خپل سالار جبرئيل عليه السلام سره يو ځای زمکې ته راځي، د خپل رب په حکم او لارښوونه ټول له نظره تېروي، د هر يوه (ارزښت) معلوموي، د هر چا دريځ د دې (ليلة القدر) او د هغې د مظروف (قرآن) په اړه معلوموي، د ده د مقدراتو په پاڼي کې ئې ليکي او د دې له مخې د ده برخليك ټاکي. دا شپه تر سباوون د (سلامتۍ) او له هر آفت او بلا د نجات پيغام له ځانه سره لري او فرشتې د هغه چا په لټه کې وي چې په دې ارزښتناکي شپې کې د سلامتيا او نجات لاري لټوي او هغه (قرآن) ته مخه کوي چې په دغې شپې کې نازل شوی او دومره اهميت ئې دې شپې ته ورکړی، د (قدر شپه) هغه چا موندلې چې په

هغې کې دا عزم او هوډ وکړي چې له دغې شېبې وروسته به (قرآن) د ده د ژوند د تیارو شپو مشعل وي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ۝٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ۝٣ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ۝٤ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ۝٥

١- بې شکه چې نازل مو کړ د قدر په شپه. ٢- او څه شي ته خبر کړې چې څه ده دا د قدر شپه. ٣- تر زرو میاشتو غوره ده د قدر شپه. ٤- په دې کې راکوزېږي د خپل رب په اذن، روح او د هر کار فرشته. ٥- د سباوون تر ختو ده سلامته دا شپه.

١- د لومړي آیت په اړه څو اساسي ټکي د ذکر وړ دي:

- که څه هم په (انزلنٰه) کې د ضمیر مرجع نه په خپله همدې آیت کې او نه په ټولې سورې کې ښودل شوې، خو د کلام له فحوی معلومېږي چې قرآن ته اشاره کوي او په دې کې ټول مفسرین سره متفق دي.
- د قرآن انزال او راکوزول هم په دې معنی دئ چې دا الهي پیغام بر له آسمانونو لاندې زمکې ته رالېږل شوی او هم په دې معنی چې د دې لوړ الهي کلام اوچته مستوی د انسان د درک او فهم کچې ته راکوزه شوې، یعني الله تعالی د خپل لوړ او باعظمت کلام مستوی دومره راکوزه کړې چې د زمکې پر سر اوسېدونکي انسان ته د فهم وړ شي.
- د انزلنٰه (مورِ قرآن نازل کړ) په اړه ځینې وایي چې قرآن د وحي د پیل په دغې شپې کې ټول یو ځای پر پیغمبر علیه السلام نازل شوی!! خو دا رأیه د قرآن د هغو صریح آیتونو مغایره ده چې د قرآن په تدریجي نزول باندې تأکید کوي. ځینې مفسرین دا وایي چې قرآن د لیلة القدر په دغې شپې کې ټول یو ځای له عرشه د دنیا آسمان ته رالېږل شوی، دوی د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په یوه روایت استناد کوي. راشئ وګورو چې د قرآن نور آیتونه د قرآن د نزول په اړه څه وایي، په کار ده د دې آیت تفسیر تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کې ولټوو او هغه رأیه لرې وغورځوو چې له قرآني شرحي سره تصادم کوي. قرآن په دې اړه په ډېر صراحت سره فرمایي:

وَقُرۡءَانٗا فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا ۝١٠٦ الاسراء

او قرآن مو ټوک ټوک کړ، د دې لپاره چې په ځنډ ځنډ سره ئې پر خلکو ولولې؛ او په ځانګړي کوزولو سره مو راکوز کړ.

همدا راز فرمايي:

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلۡقُرۡءَانُ جُمۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَۖ وَرَتَّلۡنَٰهُ تَرۡتِيلٗا ٣٢ فرقان

او کافرانو وويل: ولې دا قرآن په يوه وار ټول يو ځای پر ده نه دئ نازل شوی؟ داسې مو وکړل د دې لپاره چې ستا زړه پرې مضبوط کړو او ورو ورو ئې ولولو.

دا آيتونه په ډېر وضاحت سره ښيي چې د قرآن (نزول) تدريجي، ټوک ټوک، ورو ورو او له ځنډ او وقفې سره توأم وو او دا د هغو خلکو په رأيې د بطلان کړنې راکاږي چې پر پيغمبر عليه السلام د قرآن په يو وار او يو ځايي نزول باور لري.

- هغه څوک چې اورېدلې ئې دي يا ګمان کوي د انزال او تنزيل تر منځ توپير شته، يو ئې تدريجي راکوزېدل او بل ئې يو ځايي راکوزېدل افاده کوي، اشتباه ئې کړې او دا ځکه چې قرآن په ځای ځای کې د باران د وريدو لپاره د (انزلنا) صيغه کارولې، چې په ټولو کې تدريجي ورښت تړې مراد دئ نه د ټولو اوبو يو ځايي راتويېدل. د دوی اصلي مشکل دا نه دئ چې د نحوي په کوم کتاب کې ئې دا قاعده لوستلې، اصلي مشکل ئې دا دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او ائمه عالم الغيب ګڼي او دا خبره د دوی له غلطي عقيدې سره سمون نه خوري چې پيغمبر عليه السلام په سر کې او د وحي په لومړۍ ورځ د قرآن له هغو برخو خبر نه وو چې وروسته وروسته پرې نازلې شوې. د غلطي عقيدې په نسبت جاهلانه تعصب دغسې وي، د دې په ځای چې خپله غلطه عقيده د سمې خبرې په اورېدو تصحيح کړي برعکس سمه خبره غلطه توجيه کوي، حتى د قرآن خبره.
- قرآن په دې خبرې شهادت ورکوي چې پر پيغمبر عليه السلام باندې د وحي د نزول پيل د روژې په مبارکې مياشت کې شوی، لکه چې فرمايي:

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ ...

البقرة

د روژې مياشت هغه ده چې قرآن په کې نازل شوی، د خلکو لارښود، څرګندي لارښوونې او فرقان (د حق او باطل تر منځ د تفريق او توپير ذريعه) ...

له دې آيت په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې ليلة القدر د روژې د مياشتي يوه شپه ده. د دغې مياشتي د درنښت لپاره پر مور د دې مياشتي روژه فرض شوې او دا د

هغه ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره ده چې د قرآن په بڼه کې الله تعالی پر موږ پېرزو کړی او د دې میاشتې هغه ځانګړې شپه چې قرآن په کې نازل شوی د دې لپاره د (قدر شپه) نومول شوې او تر زرو میاشتو غوره ګڼل شوې چې د قرآن د نزول ستره پېښه په کې رامنځ ته شوې، د دې میاشتې او هغې ځانګړې شپې اهمیت ځې د هغې ستړي حادثې له کبله دئ، که نه نو ایام او اوقات ټول یو شانته دي او څه توپیر په کې نشته.

(قدر) د ارزښت او اندازې په معنی دئ، قرآن په هغې شپې کې نازل شوی چې د ارزښتونو شپه ده، داسې نه دي ویل شوي چې باارزښته شپه ده، بلکې ویل شوي چې دا د ارزښت شپه ده، ولې دا شپه د (قدر شپه) ده؟ دا د دې لپاره چې عظیم الشأن قرآن په کې نازل شوی او دا شپه د برخلیك او تقدیر شپه ده او دا ځکه چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی چې د انسانانو برخلیك ورپورې تړل شوی، د انسانانو او ملتونو برخلیك د دغه قرآن له مخې ټاکل کېږي، چا چې پرې ایمان راوړ او هغه ځې د خپل ژوندانه مشعل او لارښود وګرځاوو؛ عزت، سعادت او د دنیا او آخرت فلاح او بریا تر لاسه کوي او چا چې ترې مخالفت وکړ؛ له سپکاوي او ذلت سره به مخامخ کېږي. نو ځکه د قرآن د نزول شپې ته د (قدر شپه) ویل شوي، هغه میاشت چې قرآن په کې نازل شوی، د رمضان میاشت، د الله په نزد کې دومره ارزښت لري چې نفل ته ځې د فرض اجر ورکوي او فرض ته ځې د نورو وختونو د اویاوو فرضونو په اندازه اجر؛ او د دغې خاصې شپې مقام او منزلت هومره لوړ دئ چې تر زرو میاشتو (د انسان د ټول عمر معادل) غوره دئ، له دې معلومېږي چې له قرآن سره یوه شېبه تېرول تر هغو کلونو کلونو غوره دي چې په بل څه کې تېرېږي، له دې پوهېدی شې چې له قرآن سره ستا د مشغولتیا قدر او ارزښت په الهي معیارونو کې څومره لوړ دئ.

پیغمبر علیه السلام په دغه کتاب سره چې د (قدر په شپې) کې نازل شو، د تاریخ مسیر بدل کړ، د عربو برخلیك ځې په خاصه توګه بدل کړ او د ټولو انسانانو برخلیك په عامه توګه، له یوه وېشلي صحرأئي قوم او له مختلفو ولسونو او قومونو ځې داسې ستر متحد امت جوړ کړ چې په تاریخ کې ځې بېلګه نه شو موندلی، د دعوت په پیل کې ځې له دې قرآن پرته هیڅ څه نه درلودل، نه سلاح، نه مال دولت، نه د قوم ملاتړ، نه لښکري، نه د زمکې پر سر مل او ملاتړی، یتیم دنیا ته راغی، په وړوکتوب کې د پلار، مور او نیکه له پالنې محروم شو، خپل قوم او سردارانو ځې ورسره د شدید مخالفت ملا وتړله، له خپل کلي هجرت ته اړ شو، خو په دغه (قرآن) سره د شر او فساد په ټولو مجهزو او مسلطو ځواکونو غالب شو.

- له دې آیت په څرګنده معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم بعثت د

رمضان په میاشت کې او د (لیلة القدر) په شپه واقع شوی هر هغه روایت چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د بعثت لپاره د بلې نېټې ښودنه کوي، بې بنسټه او له قرآن سره متصادم روایت دئ.

- اما دا چې د روژې د میاشتي کومه شپه (لیلة القدر) ده، په دې اړه متعدد روایات او ښل ښل نظریات شته، د امت اکثر علماء په دې نظر دي چې د قدر شپه باید د روژې د میاشتي د وروستۍ لسیزي په طاقو شپو کې ولټوو، یوه د دغو شپو: ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹

۲-۳: آیا پوهېږې چې (لیلة القدر) څه ده؟، تر زرو میاشتو غوره، په دې شپه کې عبادت د زرو میاشتو تر عبادت زیات ارزښت او اجر لري او که د دې شپې قدر دي وکړ، ویښ او په دعاء او عبادت لګیا وې، دا پرېکړه دي وکړه چې قرآن، د دې شپې د قدر او ارزښت اصلي لامل به له دې وروسته ستا د لاري مشعل او د ژوند لارښود وي، نو په دې صورت کې ستا دغه شپه ستا تر ټول عمر غوره ده، خو که داسي ونه کړې، قرآن ته اعتناء ونه کړې، رجوع ورته ونه کړې او د متابعت ژمنه ورسره ونه کړې او له همدې شپې وروسته د دې قرآن په رڼا کې خپل ژوند او حرکت پیل نه کړې، هیڅکله به د قدر شپه ونه مومې او د (لیلة القدر) د موندلو په طمع ستا ویښ پاته کېدل به بې نتیجې او بې حاصله وي.

٤- یو له هغو مواردو چې په ترجمه کې ئې د مفسرینو تر منځ زیات اختلاف شته، د دې آیت دا برخه ده: (من کل امر)، چې د ځینو په اند (من) د (ب) په معنی، د ځینو د (ل) په معنی او د ځینو له نظره (من سببیه) او لاندې ترجمې ئې کړې دي:

- ملائکې د هر کار له امر سره زمکې ته راځي.
- ملائکې د هر کار د سرته رسولو لپاره زمکې ته راځي.
- ملائکې د هر کار لپاره زمکې ته راځي.

ځیني نور بیا وایي چې دا فقره په امر نه بلکې په سلام پای ته رسي او دا برخه په اصل کې داسي ګڼي: من کل امر سلام. او داسي ئې ترجمه کوي: د قدر شپه له هره پلوه سلامتیا ده.

خو د پورتنیو تعبیرونو هیڅ یوه ته د انسان د زړه ور نه پرانیستل کېږي، په څو دلائلو:

الف: دا آیت باید د (امر) په صیغې پای ته رسېدلی وي، دا ځکه چې د مخکینیو او وروستنیو آیتونو فواصل د همدې تقاضی کوي. نور آیتونه په دغو الفاظو پای ته رسېدلي: القدر، شهر او فجر، دې ته په پام سره باید دا آیت هم د (امر) په صیغې پای ته رسېدلی وي نه په (سلام) سره، په سلام سره ئې پای ته رسول د سورې ښکلی وزن او ترکیب له

منځه وړي.

ب: په پورتنيو ټولو تعبيرونو کې (من) په خپلې اصلي معنی نه دئ اخيستل شوی، اصلي معنی ئې د پښتو (له) ده.

که لږ ځير شو نو متوجه کېږو چې د (من کل امر) فقره يوازې له (الملائکه) سره مربوطه کېدی شي او په اصل کې د الفاظو ترکيب او ترتيب داسې دئ: (تنزل الملائکة من کل امر و الروح باذن ربهم)، خو د وزن او قافيې د مراعات لپاره (من کل امر) د آيت پای ته انتقال شوی او د آيت معنی داسې ده: د هر کار مربوط ځيني فرشتې او په هر ځانګړي کار مؤظف ټولګي به ځيني له جبرئيل عليه السلام سره يو ځای د الله تعالی په إذن زمکې ته راکوزېږي. په دې پوهېږو چې فرشتې ېېل ېېل ټولګي لري، په دوی کې هم د وظائفو او دندو له لحاظه توپيرونه شته او هم د ځواك او توان له پلوه، هر ټولګی په خاص کار ګمارل شوی، د قدر په شپه د فرشتو له هر ټولګي ځيني، نه ټول، له خپل سالار جبرئيل عليه السلام سره يو ځای زمکې ته راځي.

۵- دا شپه تر سباوون پورې سلامتيا ده. خو د دې خبرې معنی څه ده؟

په دې پوهېږو چې دا سلامتيا نه خو په دې معنی ده چې په دې شپه به هيڅ آفت او مصيبت نه نازلېږي او نه په دې معنی چې هيڅ ګناه به په کې نه کېږي او نه په دې معنی چې په دې شپه کې به له هر شر او ضرر خوندي وو، دا تعبيرونه له واقعيتونو سره اړخ نه لګوي او هغه څه چې دا آيت ئې افاده کوي له دغو تعبيرونو پرته بل څه دئ. د دې لپاره چې د دې آيت صحيح او سمه معنی پيدا کړو بايد په خپله قرآن ته رجوع وکړو، قرآن په بل ځای کې د قدر د شپې په اړه فرمايي:

وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۝٣ فِيهَا يُفۡرَقُ كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ ۝٤ الدخان

قسم په دې څرګند کتاب. چې موږ په مبارکې شپې کې نازل کړی، بې شکه چې د هر حکيمانه کار پرېکړه په (دې شپه) کې کېږي.

په دې مبارکو آيتونو کې د قرآن د نزول دشپې په اړه څو خبرې شوې:

الف: مبين کتاب په کې نازل شوی.

ب: دا شپه ډېره بختوره او مبارکه شپه ده.

ج: د هر حکيمانه کار پرېکړه په دې شپه کې صادرېږي.

دغو آيتونو ته په پام سره دا خبره درك کولی شو چې سلامتيا هم د دغې شپې يو

صفت دئ، داسې لکه د الدخان د سورې په پورتنيو آيتونو کې چې ئې (مبارکةٍ) صفت دئ، يعني دا د (سلامتيا) شپه ده، ستا سلامتيا په دغې بختوري، مبارکې او له سلامتيا ډکې شپې کې مضمره ده، دا شپه د سلامتيا له پيغام سره ستا خوا ته درځي، ستا برخليك په کې ټاکل کېږي، که په دې شپه کې د الله تعالى مأمور فرشتې تا داسې وموميي لکه چې د دې مبارکې شپې تقاضى ده، ټولې به ئې پر تا سلام وايي او ستا په برخليك پاڼي کې به سلامتيا درته ليکي، خو که ته د دې شپې د سلامتيا له پيغام څه تر لاسه نه کړى شې، ستا وضعيت او ستا عزائم د دې شپې د غوښتنو او مقتضياتو مغاير وو، نو د دې شپې له فضيلت او برکاتو به محروم وې او دا سعادت به دي په برخه نه شي چې دا فرشتې ستا د برخليك په پاڼي کې د حکيمانه او غورو کارونو د سرته رسولو توفيق وليکي، د مخکې په څېر به په ناسمو کارونو کې مشغول پاته شې.

ځيني داسې ګمان کوي چې (ليلة القدر) او په دې کې (د دعاء د اجابت شپې)، لنډې څو شپې دي، چې د کومې صاعقې او برېښنا په څېر، سريع او په منډه د انسان له څنګه تېرېږي، که په دغو لنډو شپبو کې ويښ وې، دعاء دي وکړه، نو د قدر شپه دي موندلې او د زړه مراد ته رسېدلى يې، که نه نو ترې محروم شوې او دعاءګاني دي هدر شوې!! نه پوهېږو دا غلط تصور او ناسمه انګېرنه ئې له کوم ځاى تر لاسه کړې؟ په داسې حال کې چې قرآن په صراحت سره فرمايي چې دا ټوله شپه د قدر شپه ده، د شپې له پيل د سباوون تر راختو، د دې شپې په هر ساعت او هري شپې کې ستا عبادت ارزښتمن کېږي او دعاءګاني دي مستجاب.

ښايي څوک ووايي: ما د روژې د مياشتې د وروستۍ لسيزې ټولې طاقې شپې په ويښه او دعاء او عبادت کې تېرې کړې، خو نه مي د قدر شپه وموندە او نه مي دعاءګاني قبولې شوې!! دې ګران دوست ته دوه عرائض لرو:

- تا د قدر شپه موندلې، په هغې کې ويښ وې، دعاء او عبادت دي کړى، خو هغه نه پېژنې، په معنى ئې نه پوهېږې، د دې شپې غوښتنې دي نه دي پوره کړې، هغه پيغام دي نه دئ ترې اخيستى چې دا شپه ئې له ځان سره لرې او هغه څه ته دي پام نه دئ کړى چې دې مبارکې شپې ته ئې دا مقام او منزلت ورکړى!!
- ته په دې هم لا نه ئې پوه چې الله تعالى د خپل بنده هره دعاء قبلوي، د قدر په شپه کې هم، په نورو شپو او شپبو کې هم، رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي چې الله تعالى ته له دې حيا ورځي چې د هغه دعاء کوونکي بنده لاسونه تش پرېږدي، چې د ده په لورې ئې اوږده کړي، الله تعالى د بنده هره دعاء اوري او قبلوي ئې، يا خو همغه څه

ورکوي چې ده په خپلې دعاء کې غوښتي، يا ئې تر دې غوره عوض ورکوي، يا ئې د ده آخرت ته ذخيره کوي او يا د دغې دعاء له کبله هغه مصيبت له ده دفع کوي چې ورته مقدر شوی. په دې کې شك مه کوه چې الله تعالى هره دعاء قبلوي مخصوصاً د قدر د شپې دعاء.

د انس رضي الله عنه په يوه روايت کې راغلي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا كَانَ [ص:٣١٩] لَيْلَةُ الْقَدْرِ نَزَلَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي كَبْكَبَةٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ يُصَلُّونَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ قَائِمٍ أَوْ قَاعِدٍ يَذْكُرُ اللَّهَ تعالى. رواه البيهقى

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې کله د قدر شپه وي، جبرئيل د فرشتو په ټولګي کې راکوز شي او په هر هغه بنده ثنا او سلام وايي چې په ولاړه يا ناسته د الله تعالى ذکر کوي.

د رمضان د مياشتي د وروستۍ لسيزي په طاقو شپو کې څو کارونه وکړئ چې د قدر د شپې (فيض) مو په برخه شي:

١- کلك او صادقانه تصميم ونيسئ چې له دې وروسته به د ژوند په ټولو برخو کې قرآن ستاسو لارښود وي.

٢- دا شپې په عبادت او د قرآن په تلاوت کې تېرې کړئ.

٣- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مبارك ارشاد سره سم د دې شپې دعاء مو بايد دا وي:

اللهمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي. بخارى و مسند احمد

اې بارئ خدايه! بې شکه چې ته کريم عفو کوونکی يې، عفو دي خوښېږي، ما ته عفو وکړه. (زما له ګناهونو راتېر شه)

البينة

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم (البينه) دئ چې له لومړي آيت ئې اخيستل شوی، اته آيتونه لري، ټول آيتونه ئې ورته فواصل لري او د لومړي آيت د (بينة) په څېر دي، په مدينه منوره کې نازله شوې. ځيني مفسرين ګمان کوي چې دا به مکي سوره وي، په داسي حال کې

چې د سورې متن او د آيتونو ترکيب ئې په دې شهادت ورکوي چې دا دي په مدينه منوره کې نازله شوې وي، دا ځکه چې د اهل کتاب يادونه په کې شوې او مخصوصاً چې دلته د اهل کتاب نوم له مشرکينو مخکې اخيستل شوی، له اهل کتاب سره منازعه په مکې کې سابقه نه لري، په مکي سورتونو کې د دوی او له دوی سره د منازعې يادونه نه کېږي، دا منازعه په مدينه کې پيل شوه او يوازې په مدني سورتونو کې د دوی په اړه مفصل بحثونه گورو. د آيتونو اوږدوالی ئې هم مدني سورتونو ته ورته دئ.

د سورې په پيل کې د پيغمبرانو د بعثت (فلسفه) او (ضرورت) بيان شوی، بيا د اهل کتاب تر منځ د (تفرقې او اختلاف) لاملونه او د هغو خلکو د ډلې ډلې کېدو عوامل توضيح شوي چې پيغمبران له ځرگندو لارښوونو سره ورغلي او دا مور ته واضح کوي چې په (کتاب د پوهې) او د (کتاب د حمل) دروغجنو مدعيانو نه د (جهل) او د (حجت او بينې) د نشتوالي په سبب او نه هم د دې لپاره له دې او پيغمبرانو عليهم السلام سره اختلاف کړی چې په دين او هغو لارښوونو کې چې پيغمبرانو عليهم السلام دوی ته وړاندې کړې، کوم اغماض او ابهام وو او دوی ئې په حقيقت نه دي پوه شوي، د هيڅ زمانې الهي دين له مخکيني او وروستني سره هيڅ توپير نه لري، پيغام ئې، محتوی ئې، اصول ئې، لارښوونې ئې، احکام او غوښتنې ئې ورته دي، دين تل خلکو ته ويلي: يوازې د يوه الله عبادت وکړئ، خپل دين په شرك مه لړئ، ماسوی الله ته مه سر ټيټوئ او مه لاس اوږدوئ، له سمې لارې کيڼ او ښي لوري ته مه کږېږئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، د رښتينې او قيم دين مشخصات تل دغه وي. په پای کې دا توضيح کوي چې خلك د پيغمبرانو او د دوی د دعوت په وړاندې په دوو ډلو وېشل کېږي:

١- ځيني په ځرگنده د کفر، انکار او مخالفت لاره غوره کړي او ځيني ئې له دې سره سره چې په پيغمبر او کتاب ئې د ايمان دعوی کوي خو په حقيقت کې کافر وي، گمان کوي چې په الله تعالی باور لري خو مشرك وي، دوی د زمکې په سر تر ټولو بد مخلوق او پای ئې دوزخ دئ چې د تل لپاره به په کې پاته وي.

٢- ځيني د ايمان او صالح عمل لار غوره کړي، دوی تر ټولو غوره مخلوق او ځای ئې تلپاته جنت دئ، الله به له دوی راضي وي او دوی به له الله تعالی، دا هغه کسان دي چې خپل رب ئې سم پېژندلی او د هغه په وړاندې له عصيان او سرغړاوي وېره لري.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَمۡ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ

تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ۝١ رَسُولٞ مِّنَ ٱللَّهِ يَتۡلُواْ صُحُفٗا مُّطَهَّرَةٗ ۝٢ فِيهَا كُتُبٞ قَيِّمَةٞ ۝٣ وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ۝٤ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ۝٥

١- کافر شوي کتابيان او مشرکان به رابېل شوي نه وو، چې راغلې نه وی دوی ته (څرګندونکې) بينه. ٢- د خدای له لوري يو رسول، چې لولې پاکيزه صحيفې. ٣- په کې سمې سنجيده ليکنې. ٤- او بېل بېل نه شول هغه چې دا کتاب وو ورکړی شوی، مګر وروسته له هغه چې ورته راغله دا څرګنده نښه. ٥- او نه وو ګمارل شوي له دې پرته په بل څه؛ چې ولمانځي الله، خالصوونکي ورته دين، يومخيزې؛ او پر دې چې لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي او همدا دئ قيم دين.

١- د دې مبارك آيت دوه تفسيرونه شوي:

الف: دا آيت د کافرو کتابيانو او مشرکانو (حال) بيانوي، په دې معنی چې کافران، که دا (اهل کتاب) دي چې په خپل پيغمبر او خپل کتاب د ايمان دعوی کوي او که دا مشرکان دي چې نه په کوم کتاب باور لري او نه په کوم پيغمبر، هيڅ يو ئې له خپل کفر لاس اخيستو ته تيار نه دي، له خپلو غلطو انګېرنو، باورونو او تګلارو نه تېرېږي، نه په خپلو زړو باورونو کې تغيير ته تيار دي او نه د خپلې ټولنې په مخکيني وضعيت کې بدلون ته، ورسره عادت شوي، د خپلې ټولنې د ګنده محيط او د خپلو ګنده افکارو ګنده بوی نه شي احساسولی او دې ته چمتو نه دي چې ترې ووځي، مګر دا چې کوم پيغمبر ورته راشي، له څرګندو نښو سره، د دوی سترګې پرانيزي، له تيارو ئې وباسي او سمه لار وروښيي.

ب: په دوهمي توجيه کې دا آيت د کافرانو د (حال) بيانولو په معنی نه بلکې د (مقال) په معنی اخيستل شوی، يعنې دلته د کافرانو دا وينا رانقل شوې چې: که پيغمبر له څرګند کتاب سره راته راشي، مور به خامخا ايمان راوړو او له خپلو مخکينيو کړنو او تګلارو به لاس واخلو، په داسې حال کې چې د پيغمبر له بعثت وروسته ئې له ايمان راوړو ډډه کړې او د پيغمبر مخالفت ته ئې ملا تړلې.

خو دا دوهمه توجيه په څو دلائلو ضعيفه ده:

اول: د آيت له هيڅ برخې داسې نه معلوميږي چې دا دي د کافرانو قول وي.

دوهم: په څلورم آيت کې د اختلاف په ځای د (تفرق) لفظ ښيي چې د پيغمبر له

بعثت وروسته دوی په ېلو ېلو ډلو وېشل شوي، ځینو ئې ایمان راوړی او ځیني پر خپل کفر او انکار ټینګ پاته شوي.

درېیم: د پیغمبر توصیف په (البینه) سره او صحیفې ئې په (مطهره) سره او د دغو صحیفو لارښوونې او احکام په (قیمه) سره ښیي چې دا په هیڅ صورت کې د کافرانو مقال نه شي کېدی.

څلورم: مشرکان په پیغمبر او کتاب باور نه لري، دوی ته د دې وینا انتساب اشتباه ده، مشرکان هیڅکله نه وایي چې که پیغمبر راغی حتماً ایمان پرې راوړو.

۲- هغه (بینه او څرګندونکې) چې له خپل موجوده حالته د کافرانو وتل د هغې په راتلو پورې مربوط او منوط دئ؛ د الله تعالی له لورې رالېږل شوی هغه پیغمبر دئ چې (پاکیزه صحیفې) ورسره وي او پر خلکو ئې (لولي). یعني د (پیغمبر د بعثت) فلسفه دا ده چې مخکینې (اهل کتاب) کافر شي او مخکیني (اهل اعتقاد) مشرك شي او دواړه کافر شوې ډلې په خپلو غلطو او کافرانه انګېرنو، باورونو او تګلارو داسې کلك ونښلي چې ترې ېلېدل ئې یوازې له یوې لارې امکان لري او هغه دا چې نوی پیغمبر ورته راشي، نوی کتاب، له تحریف، شرك او خرافاتو پاك کتاب ورته راوړي، له دې پرته نه خپله زړه عقیده پرېږدي او نه له خپل زوړ دود او دستور لاس اخلي او نه په خپلې ټولنې کې تبدیلي ته چمتو کېږي. دا مبارك آیتونه مور ته د دې مهمې خبرې درس راکوي چې انقلابونه، فکري او اجتماعي بدلونونه له (لارښود)، (کتاب)، (پیغام)، (د پیغام حامل)، (واضح شعار)، (څرګند آرمان) او له (قائد او قدوې) پرته ممکن نه دي. (بې پیامه او بې لارښوده) انقلابیون هیڅکله نه شي کولی انقلاب راولي او د ټولنې حالت بدل کړي.

څو ظریف نقاط د دې مبارکو آیتونو په الفاظو کې توجه جلبوي:

الف: (پیام راوړونکی) د (البینه) په نامه توصیف شوی او دا ښیي چې د ده په شخصیت کې هغه څه په څرګنده توګه لیدل کېږي چې د ده د دعوت او رسالت په حقانیت شهادت ورکوي. نه ئې په شخصیت کې څه ابهام شته او نه ئې په پیغام، تګلاري او عمل کې، د خپل پیغام او دعوت عیني تجسم او په خپلې تیاره او جهل ځپلې ټولنې کې د رون او ځلانده څراغ په څېر.

ب: د ده صحیفې ئې (مطهره) ګڼلې دي چې ښیي بلنه او پیغام ئې پاکیزه او شفاف دئ، نه د کذب او درواغو شائبه په کې شته، نه د ناحقي او باطلې خبرې څه اثر، نه د خرافاتو او غلطو عقیدو کومه ېلګه او نه اخلاقي فساد او ناولو کړنو ته د بلنې او ترغیب کومه وینا، بلکې له دې ټولو (پاکیزه) دي او په ټولنې کې د طهارت او پاکیزه ګۍ باعث، د

(دين) او (ديانت) له خپرني شوې څېړې ګردونه پاکوي، د خلکو (باورونه) له شرك او خرافاتو تزکيه کوي، د جهل او شرك ځپلي انسان د ضمير صفحې ته ځلا ورکوي او ټولنه له ظلم، ګناه او فساد ژغوري.

۳- په قرآن کې د کتاب لفظ کله د کتاب د يوه ټوك په معنی راځي، کله د ليکني په معنی او کله د (حکم) په معنی. او دلته له (کتب قيمه) يا هغه ليکنه مراد ده چې په الهي صحيفو کې درج شوې، سمه، دقيقه او له هر ډول کوږوالي خوندي، يا ئې مراد په دغو صحيفو کې ذکر شوي هغه احکام دي چې مضبوط، دقيق او حکيمانه دي، يعني د دې پاکيزه صحيفو ليکني، لارښوونې او احکام د انسان ژوند، عقائدو او افکارو ته قوام او سموالی ورکوي او له کوږوالي او انحراف ئې ساتي.

٤- د تاريخ په اوږدو کې تل او په وار وار داسي شوي چې کله کوم پيغمبر مبعوث شوی، مخاطبين ئې؛ که دا (کتابيان) وو او په مخکيني پيغمبر ئې د ايمان ادعاء کوله او که هغه چې په لومړي ځل د نوي پيغمبر په کتاب ايمان راوړو ته بلل شوي او ترې غوښتل شوي چې (اهل کتاب) شي، د نوي دعوت په وړاندي په ښلو ښلو ډلو وېشل شوي، ځينو ايمان راوړی، ځينو مخالفت ته ملا تړلې، ځينو د منافقت او دوه مخي توب لار غوره کړې، ځيني ئې بې تفاوت پاته شوي او ځيني د انتظار په حالت کې، د دې لپاره چې وګوري روانه شخړه او منازعه د کوم لوري په بريا او د کوم لوري په ماته منتج کېږي، چې د فاتح په خوا کې ودرېږي او د ده تګلاره او دعوت ومني او شعارونه ئې زمزمه کړي. د دوی اختلاف غير شعوري او په ناپوهۍ کې نه وي، بلکې عمداً او له اتمام حجت او د بينې او څرګندي نښې له راتلو وروسته مخالفت ته ملا تړي.

۵- په دې آيت کې د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوت اساسي بنسټونه او مباني او د دوی د پيغام خلاصه ذکر شوې، هر پيغمبر چې د زمانې په هر پړاو کې مبعوث شوی، خلکو ته ئې ويلي: ستاسو د رب له لوري مي دا پيغام درته راوړی:

الف: د الله تعالی (عبادت) وکړئ، يعني ستا باور بايد دا وي چې ته (بنده) يې او الله تعالی ستا آقا او بادار، خپل هر څه به د ده ګڼې او ستا هر کار به د ده د حکم او امر مطابق، ته به نه ځان د خپل ځان ټولواك ګڼې او نه د خپلو مادي او معنوي شتمنيو او نه به په خپلو شتمنيو کې د خپلې خوښي مطابق تصرف کوې، دا ځکه چې تا خپل اختيار الله تعالی ته سپارلی، دوست دي هماغه دئ چې د ده دوست وي او دښمن دي هغه چې د ده دښمن وي او په خپل هر کار کې به د ده رضاء لټوې، دا ځکه چې ته مربی او (عبد) يې، د مربيتوب او (عبادت) تقاضی او غوښتنه همدا وي، هر هغه کار چې د دې مغاير وي د

بندګۍ له پولې تېرې دئ او بغاوت.

ب: خپل دين د الله لپاره (سوچه او خالص) کړئ، په شرك او له بل څه سره په ګډولو ئې مه لړئ، (دين) يعني د الله تعالى (عبادت)، عبادت مو منزه وساتئ، په عبادت کې بل څوك له الله تعالى سره مه شريکوئ، نه له الله تعالى پرته بل ته غاړه ږدئ او مه له ده پرته بل ته د احتياج او دعاء لاسونه اوږدوئ، (عبادت) او (دعاء) مو بايد يوازې او يوازې د الله تعال لپاره وي، خپل (عبادت) او (دعاء) له هر راز ککړتيا پاکيزه وساتئ.

ج: (حنيف) اوسئ، له سمې لارې کيڼ او ښې لاس ته مه منحرف کېږئ، د دين په مستقيمې لارې مخامخ د الله په لوري ولاړ شئ.

د: لمونځ وکړئ او خپلې اړيکې له خپل رب سره تل مضبوطې وساتئ.

هـ: زکات ورکړئ، له خپل هغه مال او دولت چې د خپل لاس په تېرېدو مو له حلالو لارو تر لاسه کړى يوه برخه ئې د الله تعالى په لار کې او د بې وزلو او محرومانو د لاس نيوې او مرستې لپاره انفاق کړئ.

(قيم دين) همدغه دئ او ټولو مخکينيو پيغمبرانو عليهم السلام دغه دين ته بلنه ورکړې او اوسنى پيغمبر عليه السلام هم تاسو دغه دين ته رابلي، نو اې کتابيانو! له دې نوي پيغمبر عليه السلام او د دغه قيم دين په لوري د ده له بلنې سره ستاسو د اختلاف وجه څه ده؟!!

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ٧ جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ٨

٦- بې شکه کافر شوي کتابيان او مشرکان به د دوزخ په اور کې وي، تلپاته په هغه کې، همدا دوى دي تر ټولو بد مخلوق. ٧- له شك پرته چا چې ايمان راوړ او صالح عمل ئې وکړ، دوى دي تر ټولو ښه مخلوق. ٨- بدله ئې د خداى خوا کې تلپاته جنتونه چې ترې لاندې به ويالې بهېږي، تل پاتې په هغه کې، الله له دوى راضي او دوى له ده راضي، دا د هغه چا لپاره چې له خپل رب ئې وېره وکړه.

٦- دا آيت مورِ ته لارښوونه کوي چې که څوك د حق بيانوونکي پيغمبر له راتلو وروسته او

په داسي حال کې چې ده ته ئې له ځان سره پاکیزه صحیفې راوړې او په داسي حال کې چې قیم دین ته ئې رابلي، د کفر او له بینې د انکار لار غوره کړي، دا تر ټولو بد مخلوق دئ، تر هر حیوان بد او په اسفل السافلین کې پرېوتی، لکه چې قرآن فرمایي:

... أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ ﴿١٧٩﴾ الاعراف

... دوی د څارویو په څېر دي بلکې لا زیات لار ورکې، همدا دوی غافل او بې خبره دي.

إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلْبُكْمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾ الانفال

بې شکه چې د الله په نزد کې تر ټولو بد خوځېدونکي هغه کانه او ګنګیان دي چې تعقل نه کوي. (نه حق خبره اوري، نه په حقیقت اعتراف کوي او نه خپل عقل کاروي).

۷- انسان په (ایمان) او (صالح عمل) سره هغه لوړ مقام ته رسېږي چې هیڅ بل مخلوق نه شي وررسېدی، د معنوي مقام او د شرف، عزت او افتخار هغو لوړو لوړو څوکو ته چې د الله تعالی ټول مخلوقات به تر ځان لاندي ومومي، هیڅ داسي مخلوق به په نظر ورنشي چې دغو لوړو لوړو ته د رسېدو جوګه وي.

۸- د دوی اخروي بدله او اجر به هغه تلپاته جنتونه وي چې د تل لپاره به په کې اوسېږي، د خپل رب په پېرزوینو به راضي وي او د الله تعالی رضاء به ئې تر لاسه کړې وي. له الله تعالی وېرې دې مقام ته رسولي، دغه ستر او لوړ مقام ته یوازي هغه څوك رسېدی شي چې له الله تعالی وېرېږي. دا آیت په ډېر وضاحت سره مورِ ته وایي چې له (الله تعالی وېره) دې لوړ مقام ته د رسېدو اصلي لامل دئ، هغه څوك دا مقام تر لاسه کولی شي چې د خدای ښې پېژندنې دې ځای ته رسولی چې له الله تعالی وېرېږي، دغه وېره ئې له دې منع کوي چې د خپل رب له حکم سرکښي وکړي او د ده د قهر او غضب وړ وګرځي، همدا وېره ئې دې ته اړ کوي چې له خپل رب سره په معامله کې بې باکه نه وي، په احتیاط سره ګام واخلي، عملونه ئې صالح وي، ښې او کېڼ لوري ته منحرف نه شي، یوازي داسي خلك دې مقام ته رسېدی شي او دا شرف او عزت تر لاسه کولی شي.

الزلزال

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الزلزال دئ چې له لومړي آیت ئې اخیستل شوی، ۸ آیتونه لري، د پنځو لومړنیو آیتونو فواصل ئې هموزنه او ورته صیغې دي چې په (ها) پای ته رسېدلې،

شپږم آیت ئې د (هُم) په لفظ سره د توقف او ودرېدو غږ لري اوم او اتم آیتونه ئې د (یره) په ورته صیغو ختم شوي. ځیني مفسرین ئې مکي سوره ګڼي او ځیني ئې مدني، خو د سورې مضمون، د آیتونو ترکیب او د بیان څرنګوالی ئې ښیي چې مکي ده، دا ځکه چې د بحث اصلي موضوع ئې آخرت او معاد ده، چې د مکي سورتونو د بحث محوري او اساسي موضوع وي، آیتونه ئې مکي سورتونو ته ورته لنډ لنډ، د شعارونو په څېر، چې خاص وزن او غږ لري او په هغوی کې ژور او پراخ مطالب په محدودو الفاظو کې افاده کېږي. سوره خپل بحث له هغې زلزلې پیلوي چې د قیامت په دوهم پړاو کې به رامنځ ته شي، بیا له قبرونو د انسانانو راپاڅېدل، د زمکې له لورې په ټولو هغو پېښو شهادت ورکول چې د دې پر سر تېرې شوې او انسان تر سره کړي او خلك د خپلو عملونو او باورونو له مخې په ډلو ډلو وېشل په کې انځور شوي او په پای کې وایي چې په دې ورځ به هر انسان خپل ذره ذره ښه او بد عمل په څرګنده او مجسمه توګه په خپلو سترګو مخامخ وګوري.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿٢﴾ وَقَالَ ٱلْإِنسَٰنُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ ٱلنَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا۟ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿٦﴾ فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُۥ ﴿٧﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُۥ ﴿٨﴾

١- کله چې ولړزي دا زمکه په خپلې لړزېدا. ٢- او راوباسي دا زمکه خپل درانه درانه. ٣- او ووایي انسان چې څه پرې شوي؟ ٤- په دې ورځ به خپل اخبار بیانوي. ٥- دا ځکه چې ستا رب به ورته وحي کړې وي. ٦- راوبه وځي په دې ورځ خلك ببل ببل، چې وښودی شي دوی ته خپل اعمال. ٧- نو چا چې د وړې ذرې په قدر نېکي کړې، ویني به ئې. ٨- او چا چې د وړې ذرې په قدر د شر کار کړی، ویني به ئې.

١- زمکه به ولړزېږي، نه یوه برخه ئې، بلکې ټوله زمکه او نه یو ځل بلکې پر له پسې او په هیبتناکې لړزېدا سره. که څه هم ځینو مفسرینو دا زلزله د قیامت د لومړۍ مرحلې زلزله ګڼلې، خو له وروستیو آیتونو په څرګنده معلومېږي چې دا آیت هغې زلزلې ته اشاره کوي چې د انسان تر مجدد بعثت او بیا ژوندون مخکې به راشي، د النازعات د سورې لومړي ١٣ آیتونه هم په دې مطلب تأکید کوي چې د انسانانو بیا ژوندون به هم د زمکې له یوې

زلزلې او شديد ټکان سره پيل شي او ورپسې به هر يو له خپل خپل قبر راپاڅي، د محشر په لوري به وخوځول شي او په آوار ميدان کې به د الله تعالى په وړاندي د محاسبې لپاره ودرېږي.

۲- دا چې د زمکې (اثقال) څه دي، د مفسرينو تر منځ دوه رأيې مومو:

- دا به هغه سره او سپين زر او قيمتي تيږي وي چې انسانانو ئې د لاس ته راوړو لپاره د کفر او نفاق، خيانت او ظلم لار غوره کړه، د هغوی په مينې کې ئې خداى او آخرت هېر کړ، د هغوی پر سر په خپلو کې وجنګېدل، يوه د بل وينې توی کړې، خپل عزت او شرافت ئې ورپورې ټرلی وو، د هغوی لپاره ئې هر ذلت، دنائت او سپکاوي ته غاړه ايښوده، په دې ورځ چې زمکې به دا ټول بهر راغورځولې وي، هري خوا ته به د بې ارزښته متاع په څېر خواره واره پراته وي، د مال او دولت بنده انسان به پوه شي چې د څومره بې ارزښتي متاع لپاره ئې خپله دنيا او آخرت تباه کړ او نن ئې د هغو ټولو هڅو او هلو ځلو پايله څه ده چې د دغو د لاس ته راوړو لپاره ئې کړې وې؟!!
- له (اثقال) مراد انسانان دي، دا ځکه چې قرآن انسانان په دې نامه ياد کړي او په ګڼ شمېر آيتونو کې د هغه انسان په اړه چې د دنيا او مال دولت بنده دئ، په زمکې پورې نښتی، زړه ئې د دنيا له متاع نه شلېږي، د بر تلو او لوړ الوتو لپاره پياوړي وزرونه نه لري، د داسې خلکو لپاره ئې دغه صيغه په ډېرو ځايونو کې کارولې، د دغو مفسرينو له نظره له اثقال مراد انسانان دي چې زمکه به ئې بهر راوباسي.

که لومړي دوه آيتونه د قيامت په لومړۍ مرحلې پورې مربوط وی، نو کېدی شوی چې (اثقال) د سرو او سپينو زرو او قيمتي ډبرو په معنی ونيسو، خو څلورم آيت په صراحت سره ښيي چې دا حوادث د هغې مرحلې پېښې دي چې زمکه به خپل ټول اسرار او اخبار بيانوي. له دې په وضاحت سره معلومېږي چې دوه لومړي آيتونه د قيامت د دوهمې مرحلې پېښې بيانوي.

۳-٤: بايد وګورو چې څه به په دې ورځ د انسان د حيرانتيا سبب شي؟! د زمکې کوم حرکت به دی په حيرت کې واچوي او دې ته به ئې مجبور کړي چې ووايي: په دې زمکې څه شوي؟ آيا د زمکې هيبتناکه زلزله به ئې حيران کړي؟ يا له قبرونو د انسانانو راپاڅېدا او يا د انسان په خلاف د زمکې شهادت؟

په لږ دقت سره په دې خبرې پوهېدی شو چې په دې آيت کې ښودل شوی حيرت به نه خو د زمکې د سختي زلزلې له کبله وي، ځکه چې دا زلزله به مخکې او له قبرونو د انسانانو له راپاڅېدو د مخه وي او نه به له قبرونو د انسانانو د راوتو په سبب وي، ځکه چې دوی

په خپلو سترګو له قبر خپل راوتل نه ګوري او نه پرې پوهېږي، داسې لکه چې له مور خپل راپیدا کېدا نه ګوري او نه وروسته ور په یاد وي. دا هم سمه نه ده چې ووایو ځینې به د ځینو نورو بیاراپاڅېدا ګوري، ځکه د دې خبرې لپاره هم څه دلیل نشته. د یٰس د سورې ۵۲ آیت ښیي چې د آخرت منکران به له راڅوندي کېدو وروسته یو له بله پوښتنه کوي چې مورږ چا له خپلو قبرونو راپاڅولو؟ من بعثنا من مرقدنا؟ په ځواب کې به ورته ویل کېږي: هذا ما وعدالرحمن و صدق المرسلون: دا همغه څه دي چې رحمان خدای ځې وعده کړې وه او پیغمبرانو رښتیا ویلي وو. دا آیت ښیي چې د قیامت په ورځ به انسانان په دې نه پوهېږي چې څنګه بیا راڅوندي شوي. مؤمنان به نورو ته وایي چې دا خو د الله تعالی همغه وعده وه چې د پیغمبرانو له لارې ځې له مورږ سره کړې وه او دا ده نن ثابته شوه چې پیغمبرانو علیهم السلام رښتیا ویلي وو.

له دې ټولو معلومېږي چې د انسان د حیرت سبب به د زمکې هغه شهادت وي چې د انسانانو د کړنو په اړه به ځې ورکوي. قرآن فرمایي چې په دې ورځ به د زمکې تر څنګ د انسان سترګې، غوږونه، لاس او پښې او پوستکی هم د ده په عملونو شهادت ورکوي

حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيۡهِمۡ سَمۡعُهُمۡ وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٠ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمۡ لِمَ شَهِدتُّمۡ عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيۡءٖ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢١ فصلت

تر هغه چې (اور ته نژدې) ورشي، غوږونه، سترګې او پوستکي به ځې په هغه څه شهادت ورکوي چې دوی کول. او خپلو پوستکو ته به وایي: ولې زمورږ په ضد شهادت ورکوئ؟ ورته وایي به: هغه الله په خبرو راوستي یو چې هر څه ځې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پیدا کړئ او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

دا آیت ښیي چې د زمکې هر څه به هغه ورځ شهادت ورکوي. ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې پیغمبر علیه السلام دا آیت (یومئذ تحدث أخبارها) تلاوت کړ او وئې فرمایل: آیا پوهېږئ چې زمکه به کوم اخبار بیانوي؟ صحابه وو وویل: الله او رسول ځې ښه پوهېږي، پیغمبر علیه السلام وفرمایل: د زمکې اخبار بیانول هغه شهادت دئ چې زمکه به ځې د بندګانو د هغو عملونو په اړه ورکوي چې د زمکې پر سر ځې کړي، وایي به: په فلانۍ ورځ ځې فلانی فلانی کار وکړ، دا د زمکې اخبار دي چې هغه به ځې بیانوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَرَأَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا) قَالَ

«أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا ». قَالُوا الله وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ « فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا أَنْ تَقُولَ عَمِلَ كَذَا وَكَذَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَهَذِهِ أَخْبَارُهَا ». رواه النسائى

عن ربيعة الجرشى أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال تَحَفَّظُوا مِنَ الأَرْضِ فَإِنَّهَا أُمُّكُمْ ، وَ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ عَامِلٍ عَلَيْهَا خَيْراً أَوْ شَرًّا إِلاَّ وَ هِيَ مُخْبِرَةٌ بِهِ. رواه الطبرانى

له ربيعة الجرشي روايت دئ چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: له زمكې سره په خپل چلن كې احتياط كوئ، ځكه چې زمكه ستاسو مولد او بنسټ دئ (چې تړې پيدا شوي يئ) او هيڅ داسي عمل كوونكى نشته چې د زمكې پر سر ئې ژوند كړى وي او دا دي د ده په ښه او بد عمل شهادت ورنه كړي.

د على رضي الله عنه په اړه راځي چې كله به ئې د بيت المال اموال په مستحقينو ووېشل او هغه به ئې تش كړ نو دوه ركعته لمونځ به ئې هملته اداء كړ او بيت المال ته به ئې په خپل خطاب كې وويل: ته شاهد يې چې ما په حقه ډك او په حقه تش كړې (يعني نه مي څه حرام مال دركې واچاوو او نه مي ستا كوم څه په حرامه لار مصرف كړ).

پيغمبر عليه السلام فرمايي: (چې كله د لمانځه وخت راورسېږي په لوړ غږ آذان وكړئ، د غرونو او زمكې څه ئې چې واوري د قيامت په ورځ به شهادت وركوي.

دغه زمكه چې ته ئې مړه او بې حسه ګڼې او په بې باكۍ سره ئې پر سر ګناهونه كوې، د قيامت په ورځ به ستا ټول ښه او بد عملونه بيان كړي.

ما ته وويئ: ١٤٠٠ كاله مخكې به د دې وينا په اړه د مخالفينو عكس العمل څنګه وو (چې زمكه به خپل ټول اخبار بيان كړي)؟ آيا په دې خبرې به ئې په خپلو كې ډېر ډېر نه وي خندلي او په ټوكو ټوكو به ئې يوه بل ته نه وي ويلي چې دا دئ محمد دا ادعاء هم وكړه چې دا مړه زمكه به په خبرو راشي او د انسان په ښه او بد عمل به شهادت وركوي؟!! خو راشئ د قرآن دا وينا نن يوه داسي ساينس پوه ته وكړئ چې د علمي څېړنو په نتيجه كې دا ورته معلومه شوې چې د زمكې سطح او فضاء د انسان هر هر غږ او هر هر حركت ثبتوي، هغه ساينس پوه چې نن په ډېر قاطعيت سره وايي: د انسان د غږ او خوځښت څېړې د زمكې په سطح او فضاء كې داسي ثبت كېږي چې د تل لپاره دوام كوي او زرګونو كاله وروسته هم كولى شو دا امواج او اثرات په پرمختللو وسائلو كشف او تر لاسه كړو. كه دغه ساينس پوه ته ووايئ چې قرآن څوارلس پېړۍ مخكې دا خبره كړې، عكسل العمل به ئې څه وي؟ آيا كېدى شي له دې پرته بل څه ووايي چې قرآن حتماً له داسي مرجع

راغلی چې په ټولو اسرارو پوه دئ؟

ستا ژبه او شونډی، ستا ستونی او حنجره چې ستا د تکلم وسائل دي او په دې سره د خپل زړه خبري بیانوې، ټول له دغو خاورو جوړ شوي، همدا خاوره ده چې ستا د ژبې، شونډو او حنجرې مالیکولونه ترې جوړ شوي او د ما في الضمیر په بیانولو کې ستا مرسته کوي، د قیامت په ورځ به په خپلواکه او مستقله توګه په خبرو راشي او شهادت به ورکوي.

۵- ولې به زمکه په هغه ورځ خپل اسرار راباسي، ټولې خبرې به بیانوي او هر هغه څه به په ډاګه کوي چې د دې پر سر تېر شوې؟ دا ځکه چې الله تعالی ورته وحي کړې چې نن هر څه ثبت او د قیامت په ورځ ئې بیان کړه.

د (یوحی) په ځای د (اوحی) د صیغې راوړل ښیي چې زمکي ته له مخکې (الهام) شوی چې ټول جریانات به ثبتوي او د قیامت په ورځ به ئې بیانوي، یعني زمکه دا اوس اوس د ټولو جریاناتو شاهده او ناظره ده، هر څه احساسوي، حفظ کوي ئې او د قیامت په ورځ به ئې د انسان مخي ته ږدي.

٦- د دې آیت په اړه دوه تفسیرونه مومو:

الف: هر انسان به ښل او له نورو جلا له خپل قبر او مدفن راپاڅېږي او د الله تعالی په لوري به خوځول کېږي، له دوستانو او خپلوانو، قوم او قبیلې، حزب او ډلې، پلویانو او سپاهیانو، حامیانو او ملګرو او له ټولو هغو چې په دنیا کې ئې د ده شاوخوا نیولې وه او ده پرې حساب کاوو، نن به له دوی هیڅوک په خپلې خوا کې نه مومي، ګوښی او یوازي به د الله په لوري درومي. لکه چې قرآن فرمایي:

وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾ مریم

او هر یو به ئې د قیامت په ورځ یوازي ورته راشي.

همدا راز فرمایي:

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقْنَـٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَـٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَٰٓؤُا۟ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾ الأنعام

او یقیناً چې موږ ته همغسي یوازي راغلئ چې په لومړي ځل مو (یوازي) پیدا کړئ او څه مو چې درباندي پېرزو شوي وو ټول مو ترشا پرېښودل او هغه شفاعت کوونکي مو هم درسره نه ګورو چې ګمان مو کاوو دوی به ستاسو په (پیدایښت او پالنې کې د خدای) شریکان وي، یقیناً اړیکي مو سره شلېدلې دي او هغه درنه ورک دي چې (دا) ګمان مو پرې

کاوو.

ب: د انسان له پیدایښت د قیامت تر ورځې د زمکې پر سر ټول پیدا شوي انسانان به له خپل خپل مدفن او مقبرې راپاڅېږي او د خپلو عملونو له مخې به په ښه ښه ډلو کې راغونډ او د الله تعالی په لوري درومي او د حشر په میدان کې به راغونډیږي.

په لږ دقت سره پوهېدی شو چې د لومړۍ ډلې مفسرینو رأیه دقیقه ده، د دوهمې برخې دا الفاظ (لیروا اعمالهم) ښیي چې خلك به د دې لپاره ښه‌ته راژوندي کېږي او له خپلو خپلو قبرونو به ښل ښل راوځي چې خپل تېر عملونه وګوري او سزا ئې ورکړی شي، هغه آیتونه چې د قیامت په ورځ د انسانانو د ډله ییز حرکت په اړه بحث کوي د قیامت په وروستۍ مرحلې پورې مربوط دي، دا باید په دغې مرحلې تطبیق نه کړو.

په هغه ورځ به هر چا ته خپل عمل وروښودی شي، هر څوك به هغه اعمال چې په دنیا کې ئې کړي، خپلې مخې ته مجسم ومومي، یوازې دا نه چې خپل عملونه به په خپلې عملپاڼې کې وګوري او سزا او بدله به ئې ورکړی شي، بلکې پر دې سربېره به خپل ټول ښه او بد عملونه خپلې مخې ته څرګند او مجسم ومومي، له ٤ او ٦ آیت معلومېږي چې د انسان عملونه له (غږ او ښې) سره ضبط کېږي او د قیامت په ورځ به انسان هم د خپلو عملونو (اخبار) واوري او هم به ئې (ښه) وګوري.

څوارلس پېړۍ مخکې هیچا ته په دې خبرې پوهېدا ممکنه نه وه چې کېدی شي د انسان (غږ) او د خوځښت (انځور) او فیلم ئې ثبت شي او له څه مودې وروسته بیا ولیدی او واورېدی شي، خو اوس او له هغه وروسته چې ټیپ ریکارډر او کامرې اختراع شوي، هر چا ته دا خبره جوته شوه.

۷-۸: (خیر) او (شر)، که ستر وي او که وړ، حتی که د یوې وړې ذرې په اندازه وي، ټول به په خپلې عملپاڼې کې وګورې، ټول به ستا مخې ته مجسم کړی شي، وبه ګورې چې هیڅ څه دي له پامه نه دي غورځېدلې، هر څه په ډېر دقت سره ثبت شوي او د دغو له مخې به ستا برخلیك او راتلونکی ټاکل کېږي، که ستا د (ښېګڼو) تله پر (بدو کړنو) درنه شوه، جنت ته به درومې، خو که د (بدو کړنو) تله دي درنه وه او ښېګڼې دي سپکې او بې وزنه وختې، دوزخ ته به درومې، د هرې نېکۍ په بدل کې به لس برابره بدله تر لاسه کوې او بدي به دي یا مهربان او بخښونکی رب درته وبخښي، یا د هغو مصیبتونو، بیماریو، دردونو او ستونزو په خاطر به ئې درته معاف کړي چې په دنیا کې دررسېدلې او یا به عادلانه سزا درکوي.

باید متوجه وئ چې د دې آیتونو الفاظ داسې نه دي چې وښیي انسان به د هر وړوکي

عمل سزا ګوري، داسي نه دي ويل شوي چې که د ذرې په اندازه د خير او شر عمل ئې کړی وي، سزا به ئې ګوري، نه؛ بلکې عمل به ګوري او ضروري نه ده چې سزا به ئې هم ګوري.

په دې اړه مو څو نوري خبرې هم بايد په پام کې وي:

الف: د عملونو وزن او ارزښت به د دوی د ظاهري بڼې له مخې نه ټاکل کېږي، د کافر، مشرك او منافق هغه عملونه به بې وزنه او بې ارزښته وي چې په ظاهر کې نېك او ښه ښکاري. که احياناً ئې کوم ښه کار کړی وي بدله به ئې په دنيا کې تر لاسه کړې وي. په دې ورځ به فقط (حق) عمل ته وزن او ارزښت ورکوي، نه ظاهري بڼه ئې، لکه چې قرآن فرمايي:

وَٱلۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّۚ فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٨ الاعراف

او په دې ورځ به حق دروندوالی وي (کوم عمل چې له (حق) او (حقيقت) تش وي هغه به سپك وي).

ب: د بد عمل سزا به ورسره برابره او متناسبه وي، خو د نېك عمل بدله به له لس برابره تر اُوه سوو او حتی تر دې هم زياته وي.

ج: چا چې ايمان راوړی، حساب به ئې آسان وي، د خپل غوره عمل له مخې به ثواب تر لاسه کړي، که له کبيره ګناهونو ئې ډډه کړې وي صغيره به ئې الله تعالی ورته وبخښي.

انس رضي الله عنه روايت کوي چې ابوبکر صديق رضي الله عنه له پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره يو ځای ډوډۍ خوړله چې دا آيتونه (فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ؛ وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ) نازل شول، ابوبکر رضی الله عنه له خوراك لاس راتم کړ او وئې ويل: يا رسول الله! آيا د خپلو وړو وړو ګناهونو په سبب به هم مجازات کېږم؟ پيغمبر عليه السلام وفرمايل: اې ابوبکره! هغه ستونزي چې په دنيا کې ئې ګوري دا ستا د وړو وړو ګناهونو په سبب وي، خو که د ذرې په اندازه نېك عملونه دي کړي وي نو الله تعالی ئې درته ذخيره کوي چې د قيامت په ورځ ئې بشپړ تر لاسه کړي.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ: بَيْنَا أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ يَأْكُلُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ نَزَلَتْ عَلَيْهِ: {فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ} [الزلزلة: ٨] ، فَرَفَعَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ، وَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لَرَاءٍ مَا عَمِلْتُ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ مِنْ شَرٍّ، فَقَالَ: «يَا أَبَا بَكْرٍ، أَرَأَيْتَ مَا تَرَى فِي الدُّنْيَا مِمَّا تَكْرَهُ فَبِمَثَاقِيلِ ذَرِّ الشَّرِّ، وَيُدَّخَرُ لَكَ

مَثَاقِيلُ ذَرِّ الْخَيْرِ حَتَّى تَوَفَّاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» المعجم الاوسط

عَنْ عَايِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ الله إن عبد الله بْنُ جُدْعَانَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ يَصِلُ الرَّحِمَ وَيُطْعِمُ الْمِسْكِينَ يَقْرِى الضَّيْفَ وَيَفُكُّ الْعَانِ فَهَلْ ذَاكَ نَافِعُهُ قَالَ « لاَ يَنْفَعُهُ إِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ ». رواه مسلم

عائشه رضي الله عنها وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي و پوښتل: عبدالله بن جدعان، په جاهليت کې خپلوي پالله، مسکينانو ته ئې خوراك وركاوو، مېلمه پال وو، اسيران او غلامان ئې آزادول، آيا دا نېك عملونه به څه ګټه وروركړي؟ پيغمبر عليه السلام وفرمايل: نه؛ ګټه نه وررسوي، ځكه ده يوه ورځ هم دا ونه ويل چې اې زما ربه! د قيامت په ورځ مي ګناهونه راوبخښه.

د قرآن دا آيتونه او د پيغمبر عليه السلام دا احاديث مور ته لارښوونه كوي چې نه وړ نېك عمل حقير وګڼو او نه وړه ګناه عادي او بې اهميته وبولو، دا ځكه چې دواړه زمور په دوسيه کې درج كېږي او زمور په برخليك او اخروي سعادت او شقاوت باندي اغېز لري.

عَنْ عَدِيِّ بن حَاتِمٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ". رواه البخارى

عدي بن حاتم رضي الله عنه وايي چې پيغمبر عليه السلام فرمايلي: د دوزخ له اوره ځان وساتئ كه څه هم د يوې خرما په ټوټې وي او كه ئې ونه مومئ نو په يوې ښكلې او غوره خبرې سره.

همدا راز فرمايي:

لا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا , وَلَوْ أَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِي إِنَاءِ الْمُسْتَسْقِي، وَلَوْ أَنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَوَجْهُكَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ". رواه البخارى

هيڅ نېك كار حقير مه ګڼئ كه څه هم د يوه تږي په جام کې له خپلې سلواغې اوبه توى كړې او يا له خپل ورور سره په ورين تندي خبرې وكړې.

و عن عَوْفُ بْنُ الْحَارِثِ عَنْ عَايِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم : « يَا عَايِشَةُ إِيَّاكِ وَمُحَقَّرَاتِ الأَعْمَالِ فَإِنَّ لَهَا مِنَ الله طَالِبًا ». رواه النسائى

عوف بن الحارث رضي الله عنه د عائشې رضي الله عنها دا وينا روايت كوي چې پيغمبر

علیه السلام ورته ویل: اې عائشې! له هغو وړو وړو ګناهونو ځان وساته چې حقیر ګڼل کېږي، دا ځکه چې د دې هم د الله تعالی له لوري پوښتنه کېږي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت کوي چې پیغمبر علیه السلام وفرمایل: له صغیره ګناهونو ځان وساتئ، ځکه دا په انسان راغونډي شي، احاطه ئې کړي او د هلاکت سبب ئې شي.

العادیات

د سورې معرفي

د دې سورې نوم العادیٰت (زغاستونکي) دئ چې له لومړي آیت ئې اخیستل شوی، ۱۱ آیتونه لري، لومړي پنځه آیتونه ئې د ضبحاً په هموزنو صیغو پای ته رسي، درې ورپسې آیتونه ئې د کنود، شهید او شدید په صیغو ختمېږي او درې وروستي آیتونه ئې د صدور، قبور او خبیر په صیغو، چې دوه لومړي ئې کنود ته ورته او خبیر ئې شهید او شدید ته ورته وزن لري. د دې مبارکې سورې د نزول د زمانې په اړه مختلف روایات لرو، خو د سورې له مضمون او د آیتونو د ترکیب له څرنګوالي معلومېږي چې نه یوازي د مکي دور سوره ده بلکې د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې.

د بحث اساسي موضوع ئې دا خبره ثابتول دي چې انسان د خپل منعم رب په وړاندي ډېر ناشکر او ناسپاس دئ، د دې ادعاء د اثبات لپاره هغو آسونو ته زموږ پام اړوي چې د خپل خاوند د عادي او معمولي پالنې له کبله سخت ورته مطیع او تر پښو لاندي ئې توندي زغاستي ته چمتو وي!! د دې سورې لومړي آیتونه خپل مخاطب له لاسه نیسي، د آسونو د توندي زغاستي یوې حیرانوونکې صحنې ته ئې ودروي او ورته وایي: ګورې! دا پیاوړي آسونه، څنګه د خپل سپور د لاس په یوه حرکت سره، په زغاسته شي، هر یو تر بل د مخکې کېدو هڅه کوي، له سخت شور څوږ ئې پوهېدی شې چې خپل ټول زور ځواك ئې کارولی، چې تر نورو وړاندي خپل آقا مقصد ته ورسوي، نه ګورې چې څومره تېز زغلي، هغه سپرغۍ ګورې چې له تیږو سره ئې د نعل په کلك لګېدو اوچتي شي، په تیاره سباوون کې په دښمن برید کوي، له دې بې پروا چې په یوې یا بلې ګوښې کې به دښمن ورته په کمین کې وي، ناڅاپي به ئې په کوم غشي سره په نښه کړي، لږ ئې دوړو ته پام وکړه چې له مستانه او بې باکانه منډي ئې پورته شوې، ګوره چې ناڅاپي د دښمن له مجهز صف سره مخامخ شو، له ایستلو تورو سره، خو په ټوله بې اعتنائي ئې صف مات کړ

او د دښمن په مزدحمو صفوفو کې ننووت، کله چې د آسونو دې خبل ته خپلو سپرو لا د زغاستي اشاره نه وه کړې، هغه وخت تا لیدل چې هر یو د خپل سپور تر پښو لاندې، په شور شوق خوځېدو، پښه ئې کلکه کلکه په زمکه وهله، د خپل سر غاړې په حرکاتو سره ئې دا ښودله چې خپل آقا ته مطیع دئ او یوازې یوې اشارې ته ئې منتظر!! دا له ده سره خپل خاوند څه کړي چې دومره مطیع دئ؟ له خوراك څښاك پرته ئې څه ورکړي؟ په سر غاړه ئې د لاس راکښلو پرته څه ورسره کړي؟ د دومره څه په وړاندې دا وفا او اخلاص د څه نښه ده؟ او که تا اې انسانه! له دغه (حیوان) سره مقایسه کړي، د خپل منعم په وړاندې ستا وفا او اخلاص، ستا اطاعت او مننه، د خاوند په وړاندې د ده له چلن سره مقایسه کړي، ما ته ووایه: ستا په اړه به عادلانه قضاوت څه وي؟ آیا له دې پرته بل څه کېدی شي چې ته د خپل رب په وړاندې سخت ناشکر یې، بې وفا یې، بې اخلاصه یې!! إِنَّ الانسانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ * یقیناً چې انسان خپل مولا ته ډېر ناشکر دئ. دا په داسې حال کې چې آس یوازې همدا دوه درې نعمتونه پېژني، له واښو اوبو او په سر غاړه له لاس راکښلو پرته په نور څه نه پوهېږي، خو انسان د خیر او نعمت په اړه جامع تصور لري، ټول هغه بې شمېره نعمتونه پېژني چې الله تعالی وربانديې پېرزو کړي او دی ورسره کلکه مینه لري، خو سره له دې ډېر ناشکر دئ او د دغه حیوان په اندازه هم د خپل مولا مننه او شکر نه کوي. یقیناً چې انسان د خپل رب په وړاندې سخت ناسپاس دئ، د سپرو تر پښو لاندې زغاستونکي آسونه همدا وایي.

دغه ناسپاس بنده؛ کوم څه؛ تر هغه حیوان هم زیات ناشکر کړی؟ آیا وجه ئې دا ده چې ګمان کوي نه آخرت شته، نه بیا ژوندون او نه محاسبه او مکافات او مجازات؟ آیا داسې ئې انګېرلې چې د هر چا د سینې اسرار به نه سپړل کېږي او له ده پرته به هیڅوك په دې نه پوهېږي چې په زړه کې ئې څه وو، موخې ئې کومې او عزائم ئې څنګه وو؟! ده اشتباه کړې؛ هغه ورځ به خامخا راځي چې انسانان له خپلو خپلو قبرونو راووځي، د سینو اسرار ئې بربنډ شي او د هغه خبیر خدای په وړاندې ودرېږي چې هیڅ څه ئې تر پټ نه دي او بیا د خپل کفران او ناشکرۍ سزا وګوري.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلْعَٰدِيَٰتِ ضَبْحًا ﴿١﴾ فَٱلْمُورِيَٰتِ قَدْحًا ﴿٢﴾ فَٱلْمُغِيرَٰتِ صُبْحًا ﴿٣﴾ فَأَثَرْنَ بِهِۦ نَقْعًا ﴿٤﴾ فَوَسَطْنَ بِهِۦ جَمْعًا ﴿٥﴾ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٌ ﴿٦﴾ وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ

لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾ وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِى ٱلْقُبُورِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِى ٱلصُّدُورِ ﴿١٠﴾ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌۢ ﴿١١﴾

١- په ځوږ سره زغاستونکو قسم.٢- بیا په سُم (پونده) سپرغې شیندونکو قسم.٣- او په سباوون یرغل کوونکو قسم. ٤- په کوم سره چې دوړې کړي خوري. ٥ - په کوم سره چې ننوځي په منځ د یوه ټولي کې. ٦- یقیناً چې انسان دئ خپل مولا ته ډېر ناشکر. ٧- او په خپله دی په دې باندې شاهد دئ.٨- او په مینې کې د خیر خو ډېر شدید دئ. ٩- آیا نه پوهېږي، کله چې راپاڅوی شي هغه چې قبرو کې دي. ١٠- او وسپړی شي هغه چې سینو کې دي. ١١- په دې ورځ به خامخا د دوی رب ښه په دوی خبر وي.

١- ٨: دلته تر ټولو د مخه څو ټکي په پام کې ولرئ:

دا پنځه قسمونه د تعقیب (فاء) په توري سره په خپلو کې تړل شوي او ښیي چې دلته د یوه څیز مختلفو حالتونو او صفتونو ته اشاره شوې، یعني همدا زغاستونکي دي چې د خپلې توندي او تېزې منډې له کبله ئې له ټټر شور او ځوږ اوچت دئ او همدغه زغاستونکي دي چې کله ئې سم په تیږو لګېږي نو سپرغې ترې اوچتي شي او همدا دي چې په سباوون کې د یرغل لپاره کارول شوي او همدا دي چې په خپلې چټکې زغاستي سره دوړې بادوي او همدا دي چې د مقابل لوري په لیکو کې شق اجراء کوي، صفونه ئې څیري او د دوی په منځ کې ننوځي.

د بیان له الفاظو په ډاګه معلومېږي چې له دغو زغاستونکو هدف آسونه دي نه بل څه، ډېر بې سلیقې ادیب به هم له دې پرته بل مفهوم ترې وانخلي.

اما دا چې دا قسمونه څنګه په دې خبرې شهادت ورکوي چې انسان د خپل پالونکي رب په وړاندې سخت ناشکر دئ؛ ځواب ئې دا دئ: دا پیاوړي آسونه چې تر انسان ځواکمن او پیاوړي دي، خو ګورې چې د خپل خاوند د څو محدودو نعمتونو په پاس د ده کلك اطاعت کوي، نه ګورې چې څنګه د خپل خاوند د لاس په یوه حرکت سره په زغاسته شي، د سینې او سپورمو له شور ځوږ ئې پوهېدی شې چې خپل ټول زور ځواك ئې کارولی، چې ژر او تر نورو د مخه خپل آقا مقصد ته ورسوي، ګورې چې څومره تېز زغلي، چې کله ئې نعلونه په تیږو لګي سپرغې ترې اوچتي شي، دې ته چمتو وي چې په تیاره سباوون کې په دښمن برید وکړي، له دې بې پروا چې په یوې یا بلې ګوښې کې به دښمن ورته په کمین کې وي، ناڅاپي به ئې په کوم غشي په نښه کړي، دغو دوړو ته پام نه کوې چې د ده له

مستانه او بې باکانه منډې آسمان ته پورته شوې، ګورې چې د دښمن په مجهز صف کې، که څه هم توري ئې له تېکو ایستلې وي، په بې پروایۍ ننوځي، صفونه مات کړي او د دښمن په مزدحمو لیکو کې داخل شي، کله چې لا د زغاستي امر ورته نه وي شوی، نه ګورې چې څنګه د خپل سپور تر پښو لاندې په شور او شوق سره خوځېږي، پښه کلکه کلکه پر زمکه وهي، د خپل سر غاړې په حرکاتو سره ښیي چې خپل آقا ته مطیع دئ او یوازې یوې اشارې ته ئې منتظر؟! دا له ده سره خپل خاوند څه کړي چې دومره مطیع دئ؟ له خوراك څښاك پرته ئې څه ورکړي؟ په سر غاړه ئې د لاس له راکښلو پرته څه ورسره کړي؟ د دومره څه په وړاندې دا وفا او اخلاص د څه شي نښه ده؟ او که تا اې انسانه! له دغه آس سره مقایسه کړو، د خپل منعم رب په وړاندې ستا وفا او اخلاص، ستا اطاعت او مننه، د خاوند په وړاندې د ده له چلن سره مقایسه کړو، ما ته ووایه: ستا په اړه به عادلانه قضاوت څه وي؟ آیا له دې پرته بل څه کېدی شي چې ته د خپل رب په وړاندې سخت ناشکر یې، بې وفا یې، بې اخلاصه یې؟!! إِنَّ الانسنَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ : یقیناً چې انسان خپل مولا ته ډېر ناشکر دئ. دا په داسې حال کې چې آس یوازې همدا دوه درې نعمتونه پېژني، له واښو اوبو او په سر غاړه له لاس راکښلو پرته په نور څه نه پوهېږي، خو انسان د خیر او نعمت په اړه جامع تصور لري، ټول هغه بې شمېره نعمتونه پېژني چې الله تعالی وربانديې پېرزو کړي او دی ورسره کلکه مینه لري، خو سره له دې ډېر ناشکر دئ او د دغه حیوان په اندازه هم د خپل مولا مننه او شکر نه کوي.

یوه یادونه:

نږدې دېرش کاله وړاندې په دې لټه کې وم چې د دې سورې د قسمونو او د قسمونو د ځواب تر منځ په دقیق ارتباط پوه شم، ډېر تفاسیر مې وکتل، په تفسیرونو کې مې زیات مختلف آراء تر سترګو شول، نتیجې ته ونه رسېدم، ډېره موده همداسې راباندې تېره شوه، په پېښور کې د اقامت په دوران کې یوه ورځ د جمعې د لمانځه لپاره یوه مسجد ته ولاړم، ګورم چې خطیب د دغې سورې په اړه خبرې کوي، د قسمونو په اړه د ده توجیه او تفسیر مې هومره دقیق وموند چې په هیڅ تفسیر کې مې نه وو موندلی، متأسفانه په دې ونه توانېدم چې ترې پوښتنه وکړم؛ دا رأیه ئې له کوم تفسیر اخیستې او آیا داسې کوم مشهور مفسر راښودی شي چې له دې رأیې سره موافق وي؟ په هر صورت د ده په زړه پورې وینا زما لپاره ښه لارښوونه شوه او زما د پوښتنو ښه ځواب. الله تعالی دې اجر ورکړي.

۹-۱۱: دا آیتونه مورِ ته لارښوونه کوي چې د انسان د قبیح کفران، د نعمت ناسپاسي، د منعم قدر نه کول، د احسان انکار او د محسن هېرونه په اصل کې له دې راولاړېږي چې

دی دنیا بېهوده او بې هدفه ګڼي، په بیا ژوندون باور نه لري، داسي نه انګېري چې د الله په لوري به درومي او د خپلو کړنو له مکافات او مجازات سره به مخامخ کېږي، د چا چې دا عقېده وي هغه به خامخا یو ناسپاس انسان وي، خو ده اشتباه کړې؛ قیامت او د الهي محاسبې ورځ به خامخا راځي، انسانان به له خپلو خپلو قبرونو راووځي، د سینو اسرار به ئې بربنډ شي او د هغه خبیر خدای په وړاندي به ودرېږي چې هیڅ څه ئې تر پې پټ نه دي او بیا به د خپل کفران او ناشکرۍ سزا وګوري.

القارعة

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم القارعة (ټکوونکې) ده، دا ئې هم نوم دئ او هم د مضامینو لپاره عنوان، ۱۱ آیتونه لري، د دریو لومړیو آیتونو فواصل ئې القارعة دي، ورپسې دوه آیتونه ئې د مبثوث او منفوش په هموزنو صیغو، شپږم او اتم ئې د موازینه په صیغه او اوم، نهم، لسم او یولسم ئې راضیه ته په ورته هموزنو صیغو پای ته رسېدلي. د لسم آیت د پای صیغه په اصل کې (ماهي) ده، خو د وزن لپاره ئې (ماهیه) کړې. د سورې له مضمون، د بیان له څرنګوالي او له ادبي اسلوبه ئې په واضح توګه معلومېږي چې د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې. د دې سورې په دغو محدودو آیتونو کې چې لنډ لنډ دي او د الفاظو شمېر ئې ډېر لږ، د قیامت دواړه مرحلې په داسي بڼې کې انځور شوې چې هیبتناکې صحنې ئې د انسان مخي ته مجسم کېږي او لوستونکی ئې ځان د دغو صحنو په منځ کې احساسوي. په لومړیو دریو آیتونو کې د قیامت د پېښې د انځورولو لپاره د (قارعة) لفظ درې ځلي کارول شوی، دا لفظ ځپل او له هیبتناك غږ سره توأم تصادم او ټکول افاده کوي او درې ځلي تکرار ئې د دې پېښې عظمت او هیبت بیانوي او شیې چې دا پېښه به داسي وي چې هر څه به سره وځپي، د عالم دا اوسنی نظام به درې وړي کړي، هر څه به ئې په خپلو کې سره وجنګوي، دا بې شمېره ستوري او سماوي اجرام به له خپل خپل مدار ووځي، په خپلو کې به تصادم وکړي، د دې هیبتناکو تصادمونو درانه غږونه به له هري خوا اورېدل کېږي، غرونه به له خپل خپل ځای وخوځي، په خپلو کې به ټکر شي، ذرې ذرې به شي او دوړي به ئې آسمان ته پورته شي، داسي به شي لکه حلاجي شوې وړې چې په زمکه خورې وي، ورپسې د قیامت بله مرحله انځوروي، هغه وخت چې انسانان به بېرته راژوندي شوي وي، د زمکې مخکینی جوړښت به بدل شوی وي اوس به هغه مخکینۍ لوړي ژوري

نه لري، غرونه به له منځه تللي وي او آثار به ئې د خورو وړيو په څېر تر سترګو کېږي، د انسانانو بيا راپيدا کېدا او له قبرونو راپاڅېدا به له بر نه داسي برېښي لکه خپل خپل ملخان چې پر زمکه خواره شوي وي او يو پر بل لوېږي، په پای کې انسانان د محشر په ميدان کې د محاسبې په حالت کې انځوروي او ښيي چې د هر چا برخليك به د ده د عملونو د (وزن) او (ثقل) له مخې ټاکل کېږي، که ئې عملونه د قدر وړ وو، وزن او ارزښت ئې درلود، نو جنت ته به دروميِ او که سپك او بې وزنه وختل نو ټاټوبی به ئې د دوزخ کنده وي، ځينې به داسي ګورې چې د وزن شوو تله ئې درنه ختلې، خوښ او راضي دي او ځيني داسي چې وزن شوي ئې سپك ختلي، دوزخ ورته خپله غېږ پرانيستې او داسي به ئې په خپلې غېږ کې کلك نيسي لکه مور خپل زوی.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلْقَارِعَةُ ﴿١﴾ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴿٢﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴿٣﴾ يَوْمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلْفَرَاشِ ٱلْمَبْثُوثِ ﴿٤﴾ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ ﴿٥﴾ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴿٦﴾ فَهُوَ فِى عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴿٨﴾ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٌ ﴿٩﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا هِيَهْ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌۢ ﴿١١﴾

١- آ ځپونکې. ٢- څه ده دا ځپونکې؟ ٣- او څه پوه کړې چې څه ده دا ځپونکې؟ ٤- هغه ورځ چې خلك وي د خورو ورو ملخانو په څېر. ٥- او غرونه د خورو ورو وړيو په څېر. ٦- نو د چا چې درانه شول تلل شوي. ٧- نو په راضي کوونکي ژوند کې به وي. ٨- او هغه چې ئې سپك شول تلل شوي. ٩- نو مور (مېشت ځای) به ئې وي کنده. ١٠- او څه پوه کړې چې څه ده دغه کنده ؟١١- تاوناك اور.

١-٣: قارعة د (قرع) له مادې اخيستل شوې او معنی ئې داسي کلك ځپل او سره وهل دي چې جگ غږ تړې پورته شي، قرآن دلته د (قيامت) د پېښې لپاره دا نوم کارولی، په نورو ځايونو کې ئې د الحاقة، الطامة، الصاخة، الغاشية او په ګڼ شمېر نورو نومونو ياد کړی، هر نوم د قيامت يو خاص حالت بيانوي، دلته القارعة د دې آيتونو په ترڅ کې داسي راغلی او د آيتونو د بيان لهجه داسي چې دا مطلب بيانوي: هماغه ځپونکې، چې توند او جگ غږ سره به هر څه وځپي، پوهېږې چې دا څنګه پېښه ده؟ څنګه به په دې پوه شې چې دا

هیبتناکه پېښه به څنګه وي؟ ته نه شې کولی د دې حادثې هیبت او عظمت درک کړې!!
٤: په دې ورځ به ټول انسانان له قبرونو راووځي، داسي لکه ملخان چې له خاورو راووځي او د زمکې پر سر به داسي خواره واره وي لکه خپل ملخان چې پر زمکه خواره شوي وي او یو پر بل لوټېږي، کله یوې خوا ته سپل سپل مخه کړي او کله بلې خوا ته. د آیت الفاظ او د بیان انداز ئې داسي دئ لکه څوك چې په دې ورځ له کوم لوړ ځای د زمکې نندارہ کوي او انسانان داسي په نظر ورځي لکه ملخان چې له خاورو راووځي او هري خوا ته خواره واره شي. دلته شایي انسانان د دې لپاره له ملخانو سره تشبیه شوي چې ملخان له خاورو راوځي، مور ئې خپلې هګۍ په خاورو کې اچوي او بیا ئې بچیان له خاورو راوځي، د قیامت په ورځ به له قبرونو د انسانانو راوتل دوی ته ورته وي.
٥- دا ستر ستر او دنګ دنګ غرونه چې جړې ئې د زمکې زړه کې او سر ئې ورټوټه ته رسېدلی، د (القارعة) په دې ورځ به داسي سره وټکول شي او ذرې ذرې به شي لکه وړۍ چې د حلاجي کولو په وخت کې خورې ورې شي. قرآن په بل ځای کې د غرونو د دې حالت په اړه داسي فرمایي:

وَبُسَّتِ ٱلْجِبَالُ بَسًّا ۝٥ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنۢبَثًّا ۝٦ الواقعة

او غرونه به په ځانګړې رېژولو سره ورېژول شي او خوره وره دوړه به شي.
له دې آیت او د قرآن له نورو آیتونو معلومېږي چې د انسان پیدایښت به پر داسي زمکې وي چې لوړې ژورې به نه لري او غرونه به ئې ذرې ذرې شوي وي.
٦- ١١: په دې ورځ به عملونه څېړل کېږي، په داسي تلو به تلل کېږي چې د هر عمل ارزښت دقیقاً معلومولی شي، ځینې به درانه، ګران او باارزښت وخپړي او ځینې به سپك، پوچ، بې وزنه، بې ارزښته او بې قدره، په دې تلي کې به یوازي هغه عمل دروند خپړي چې په (حق) ولاړ او د (حق) له چینې خړوبه شوی وي او هغه عمل به سپك او پوچ خپړي چې په (باطل) ولاړ او د باطل له چینې خړوبه شوی وي، په دې ورځ به د عملونو د ظاهري بڼې له مخي قضاوت نه کېږي او وزن به ئې د ظاهري بڼې له مخي نه ټاکل کېږي، بلکې د (حق) او حقیقت له مخي به ټاکل کېږي، یوازي هغه عمل به دروندالی او وزن لري چې (حق) په کې ومومدل شي، له (حق) بې برخې عمل، که هر څومره ستر وي او هر څومره ئې ظاهر ښایسته او جالب وي، د دې ورځې په تلي کې به سپك او پوچ خپړي. د قرآن په وینا په دې ورځ به (حق) وزن وي (والوزن یومئذ الحق)، په کوم عمل کې چې حق ونه مومدل شي، هغه به سپك وي.
موازین هم د میزان جمع ده او هم د موزون، دلته د موزون د جمعې لپاره راغلی،

چې معنی ئې (وزن شوي او تلل شوي) ده او مراد ترې هغه عملونه دي چې د قیامت په ورځ به په داسي څانګړې تلې تلل کېږي چې د عملونو وزن او ارزښت معلومولی شي. د (حق) په دې تلې کې چې د چا عملونه درانه وختل خوشحال او راضي کوونکی ژوند به ئې په برخه شي او د چا چې وزن شوي اعمال سپك وختل یوه کنده به ئې په خپلې غېږ کې کلك ونیسي، پوهېږې دا کنده څه ده؟ د ډېر سور او تود اور کنده!!

التكاثر

د سورې معرفي

د دې سورې نوم التکاثر (په زیات غوښتو کې سیالي) دئ، چې له لومړي آیت اخیستل شوی، ۸ آیتونه لري، د لومړي او دوهم آیتونو فواصل ئې تکاثر او مقابر دي، د درېیم او څلورم ئې تعلمون دي، د پاته څلورو ئې یقین او جحیم ته ورته هموزنه صیغې دي، اکثر مفسرین ئې مکي سوره ګڼي، ځینې ئې مدني بولي، خو د سورې له متن، د آیتونو له ترکیب او ادبي جوړښت معلومېږي چې دا سوره مکي ده. په دې سوره کې د انسان یوې داسي خطرناکې بیماری ته اشاره شوې چې د انساني ټولني د ټولو فتنو، شخړو، جګړو، وینو تویولو، د بل په حق تېریو، کبر او ذلت ته د تسلیمېدا اصلي لامل ګڼل کېږي، د حرص او زیات غوښتني بیماري، د مال او دولت تر لاسه کولو لپاره ناروا سیالي، جاه او جلال ته د رسېدو لپاره په خپلو کې مسابقه. همدا خطرناکه بیماري ده چې له انسان څېرونکی او وحشي ځناور جوړ کړي، رحم او عاطفه ئې ورووژني، بې رحم او سخت زړی قصاب ترې جوړ کړي، داسي ځای ته ئې ورسوي چې د خپل حرص د اشباع لپاره له هیڅ جنایت ډډه نه کوي، هر ذلت او دنائت ته غاړه ږدي او هر کار جائز ګڼي.

که د فساد، ظلم، شخړو، فتنو، ملي او بین المللي نښتو عوامل وڅېړو، د انسان حرص او تکاثر به د ټولو ترشا د اصلي عامل په توګه ومومو، همدغه بیماري ده چې کله له شریف او عزتمن انسان داسي ذلیله متاع جوړه کړي چې په ډېري ټیټي بیعي پېرل کېږي او پلورل کېږي او کله داسي څېرونکی او وحشي ځناور ترې جوړ کړي چې په هیڅ جنایت ئې زړه نه سړېږي، که ګورو چې انسان د ځان په څېر انسان ته د ذلت او دنائت سر ټیټوي، هغه تر ځان لوړ ګڼي، داسي ستاینه او لمانځنه ئې کوي چې په هغه کې د کبر او لویي احساس لاپیاوړی او مضبوط کړي او بل سپك او حقیر وګڼي، دا حرص او طمع ده چې په ده دا کار کوي او که هغه بل ګورو چې په خپل جائز او مشروع حق قناعت نه کوي، د نورو په

حقوقو تېرى كوي، د نورو كرامت او حيثيت تر پښو لاندي كوي، د مظلومانو آزادي سلبوي، بې وزلي حقير او ذليل ګڼي، كه ګورو چې يو ملت پر بل تېرى كوي، يو هېواد بل نيسي، د نښتو او جګړو اورونه بل شي، ملكونه وران شي، د زرهاوو انسانانو وينې توى شي،... دا د انسان حرص او تكاثر دئ چې دا ستري ستري فتنې راولاړوي.

او كه ګورو يو انسان حق پټوي، له باطل دفاع كوي، د خپل ايمان او وجدان خلاف خبره كوي، حلال ته حرام وايي او حرام ته حلال، د ظالمو او باغي حكامو په ګټه دروغجني فتواګاني وركوي، دين خرڅوي، دروغ وايي، دوكه او خدعه كوي او په هر هغه عمل لاس پوري كوي چې هر شريف انسان ترې كركه لري او هر باايمان انسان ترې ځان ساتي، په دې ټولو شنيع او كركجنو كارونو كې به حرص او تكاثر د ده محرك او هڅوونكى وومئ.

دا مباركه سوره په دې پيل كېږي چې: تكاثر او د زيات لاس ته راوړو سيالي مو د دې باعث ده چې له ډېرو شيانو غافل شئ، حقائقو ته پام ونه كړئ، خپلو انساني او ايماني مسئوليتونو ته اعتناء ونلرئ او په دې بېهوده سيالۍ كې دومره مصروف شئ چې خداى، آخرت او حتى خپل ځان او خپل خير او مصلحت هم هېر كړئ!! دغې بيمارۍ ستاسو لمن داسي كلكه نيولې چې د مرګ تر رارسېدو پوري مو نه پرېږدي، دا موقع نه دركوي چې په سد شئ، سترګي او غوږونه مو پرانيزئ، د ښه او بد، صواب او ناصواب تر منځ فرق وكړئ، مګر دا چې مرګ مو مېلمه شي، د ګور ژۍ ته ورسېږئ او خپل لحد ښكل كړئ، هلته به ستاسو سترګي خلاصي شي او په دې به پوه شئ چې د زيات غوښتو هوس مو څومره خطرناكه سيالي وه، څومره خوشې لوبه او مشغولتيا وه او له كومو پايلو سره ئې مخامخ كړئ.

ستاسو د تكاثر او زيات غوښتنو د ناروا سيالۍ اصلي لامل دا دئ چې په دوزخ باور نه لرئ او ګمان نه كوئ چې دا حرام او ناروا تكاثر به تاسو دوزخ ته رسوي، هغه پوهه او علم درسره نشته چې انسان په آخرت او مكافات او مجازات باندي باور ته اړ كوي، كه هغه علم مو په برخه شوى وى چې انسان يقين او ايمان ته رابلي، نو حتماً به مو د دې علم اليقين په سترګو (جحيم) ليدلى وو چې تاسو ته منتظر دئ، خو كه له دې علم او پوهي د محروميت له كبله په دې نه توانېږئ چې د تكاثر بد عاقبت او پايله ئې چې (جحيم) دئ درك كړئ، لږ صبر وكړئ، ډېر ژر به ئې په (عين اليقين) سره وګورئ، داسي به ئې په خپلو پرانيستو سترګو وګورئ چې (يقين) ورپسې وي او هيڅ شك او شبهې ته مجال نه پرېږدي او هغه ورځ چې په عين اليقين سره د (جحيم) لمبې په څرګنده وګورئ، د هغو ټولو نعمتونو په اړه به پوښتل كېږئ چې تاسو پرې قناعت نه كاوو او د خپل حرص په حكم مو

د لا زيات تر لاسه کولو لپاره په خپلو کې سيالي کوله.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ١ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ٢ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣ ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٤ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ٥ لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ ٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ٧ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ٨

۱- مشغول کړي يئ زيات غوښتني، ۲- تر هغه چې تاسو وکتل ګورونه.۳- داسي نه ده؛ ژر به پوه شئ. ٤- بيا هم داسي نه ده؛ ژر به پوه شئ. ٥- نه؛ نه؛ که په علم يقين پوه شئ. ٦- خامخا به په نظر درشي جحيم. ۷- خامخا به ئې بيا وګورئ په سترګه د يقين. ۸- بيا به حتماً وپوښتی شئ په دې ورځي له نعيم.

۱: تکاثر او د زيات غوښتني سيالۍ تاسو هغه څه ته له پام کولو غافل کړئ چې ستاسو د سعادت او نېک بختۍ ضامن وو، له يوه بل سره ستاسو هغه سيالۍ چې د ډېر مال او دولت په راغونډولو، خپل جاه او جلال لوړولو او د خپلو حاميانو او پلويانو په زياتولو کې کوله، هر يوه مو هڅه کوله چې تر بل مخکې شي، دغې سيالۍ داسي ستاسو پر زړه او دماغ سيوری غوړولی وو او دومره ئې تاسو مشغول کړي وئ چې نه د دغې لوبې خطرناکو پايلو ته متوجه شئ، نه هغه څه ته چې ستاسو د دنيا او عقبا فلاح او بريا ورپوري تړلې، په دغې سيالۍ کې داسي بوخت شوئ چې هم مو خداى هېر کړ او هم آخرت، هم خپل عزت او کرامت تر پښو لاندې کوئ او هم د بل، يو دنائت ته غاړه ږدي او بل مو په جنايت لاس پوری کوي، يو مو اخلاقي حدود او ضوابط ماتوي او بل مو په خپلې انساني عاطفې او ترحم پښه ږدي، د خپل فطرت ټولو غوښتنو ته شا کوئ.

۲: دا الفاظ په څو معنی وو اخيستی شو:

الف: د خپل ژوند تر پايه او قبر ته تر رسېدو، تکاثر مشغول کړئ، د ژوند په هيڅ پړاو کې مو له تکاثر لاس وانه خيست.

ب: حتی د قبرونو په ليدو سره مو هم له تکاثر ډډه ونه کړه، سره له دې چې ګورئ ستاسو سلف هر څه په ميراث پرېښودل، تش لاس له دنيا ولاړل او دا دئ اوس په قبرونو کې ستاسو مخې ته پراته دي، د مال او جاه او جلال تر لاسه کولو لپاره چې دوی کومې هڅې درلودې پايله ئې د خاورو دغه تنګ کور دئ، خپل هر څه ئې نورو ته په ميراث

پرېښودل، د ګناهونو له هغو پټو سره چې د زيات مال راغونډولو او لويي غوښتنو په ارتباط ئې کړي وو، د الله تعالى لوري ته ولاړل، د دوی د قبرونو په ليدو سره هم د غفلت له خوبه راويښ نه شوئ او له تکاثر راونه ګرځېدئ.

ج: هديرو ته د خپلو مړو د شمېر لپاره ولاړئ، د دې لپاره چې ثابت کړئ ستاسو د قوم، قبيلې او ډلې شمېر تر نورو زيات دئ، پر خپل حريف او رقيب برلاسي ياست، لرغونی تاريخ لرئ، تاريخي سابقه مو تر نورو لرغونې او اوږده ده، دلته مو ډېر مړي ښخ شوي، د خپلې قبيلې په مربوط هديرو باندي مو تر نورو زياتې جنډې ولاړې او بيرغونه رپېږي.

دا ټول تعبيرونه د منلو وړ دي خو لومړی تعبير تر ټولو دقيق دئ.

٣-٤: داسې نه ده لکه چې تاسو ګمان کوئ او خپل خير، صلاح او سعادت په تکاثر او زيات غوښتنو کې لټوئ، بلکې ډېر ژر به د دې منحوس او خبيث خصلت په بدو عواقبو او پايلو پوه شئ، هم په دنيا کې او هم په آخرت کې. لومړی (سَوْفَ تَعْلَمُونَ) د تکاثر دنيوي پايلو ته اشاره کوي او دوهم (سَوْفَ تَعْلَمُونَ) اخروي عواقبو ته. کله چې د ګور ژوبه ته ورسېږئ، چې نه هغه ډېر درنه لري دئ او نه تاسو ترې لري يئ، پوه به شئ چې د تکاثر حاصل مو څه وو؟! او هغه وخت چې د الله تعالى په وړاندي ودرېږئ پوه به شئ چې ستاسو د تکاثر سزا او پايله څه ده؟

٥-٦: د دې آيت الفاظو ته لږ ځير شئ، په دقيقه توګه او له کوم تصرف پرته د آيت تحت اللفظي ژباړه دا ده: (که په علم اليقين پوه شئ)، يعني که له علم اليقين کوم علم ستاسو په برخه شي، هغه علم ولرئ چې په يقين منتج کېږي او حتمي پايله ئې (يقين) او باور وي، نو په دې صورت کې به خامخا په دې پوه شئ چې (جحيم) شته او شته والی ئې حقيقت لري، دا علم به (جحيم) ستاسو د عقل د سترګو په وړاندي مجسم کړي او د دغه علم په رڼا کې به ستاسو عقل د جحيم په ليدو موفق شي. له وروستي آيت په څرګنده معلومېږي چې په دې آيت کې د (جحيم ليدل) په خپلو سترګو د دوزخ د ليدلو په معنی نه دئ، په سترګو د جحيم ليدل به په آخرت کې تر سره کېږي او هغه ليدل چې دا آيت ورته ګوته نيسي، د علم اليقين په رڼا کې د دوزخ ليدل دي. متأسفانه ځينو درنو مفسرينو دا آيت داسې ترجمه کړی چې ګواکې د آيت اصلي الفاظ داسې وي: لوتعلمونه بالعلم اليقين: که په علم اليقين سره پرې پوه شئ. حال دا چې د آيت الفاظ داسې نه دي او د دوی ترجمه دقيقه او محتاطانه نه ده؛ دوی په خپل دغه تعبير سره نه يوازي احتياط او دقت نه دئ مراعات کړی بلکې د آيتونو تر منځ يووالي او تنسيق ته ئې هم صدمه رسولې او دې ته اړ شوي چې د شپږم آيت په سر کې د (ل) توری چې دا دواړه آيتونه سره ترې او

وروستی د مخکيني قطعي نتيجه ګڼي په خپلې اصلي معنی ونه نيسي او وروستی آيت مستقل او د نوي بحث پيل وګڼي، نه پوهېږو د دې سبب څه دئ چې دوی د آيت دقيق مفهوم او اصلي تحت اللفظي معنی پرېږدي او د آيتونو په ترکيب کې داسي تصرف کوي چې په خپل ذهن کې انځور کړي معنی ترې راوباسي، دا ولې په دغه يوه لنډ آيت کې دوه توري (هـ د تعلمون په پای کې او ب د العلم په سر کې) علاوه کوي او آيت داسي جوړوي: لو تعلمونه بالعلم اليقين او په شپږم آيت کې دا تغيير راولي چې (ل) په اصلي معنی نه اخلي!!

د دې آيت په اړه د هغو مفسرينو رأيه هم دقيقه ده او هم محتاطانه چې وايي: "لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ" بعيون قلوبكم; فإن علم اليقين يريك الجحيم بعين فؤادك; وهو أن تتصور لك تارات القيامة، وقطع مسافاتها. "لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ": أی عند المعاينة بعين الرأس، فتراها يقينا، لا تغيب عن عينك. جحيم به د خپل زړه په سترګو وګورئ، دا ځکه چې علم اليقين تا ته دوزخ د خپل زړه په سترګو درښيي او هغه داسي چې د قيامت حالات او د واټن لنډېدل ئې درته انځوروي، بيا به ئې په عين اليقين سره وګورئ، يعني په خپلو سترګو سره، نو په يقيني توګه به ئې وګورې، له سترګو به دي نه غائب کېږي.

د ٦ آيت ارتباط له مخکينيو آيتونه سره داسي دئ:

الف: ستاسو د (تکاثر) اصلي عامل په آخرت او الهي محاسبې ايمان او باور نه لرل دئ، ګمان کوئ چې له خپلې هغې ګناه به نه پوښتل کېږئ او سزا به ئې نه ګورئ چې په تکاثر سره ئې مرتکب کېږئ، له حرامو لارو مال او دولت راغونډوئ او له ناروا لارو جاه او جلال ته د رسېدو هڅه کوئ، داسي نه ده؛ بلکې جحيم درته منتظر دئ، خامخا به ئې وګورئ.

ب: تکاثر په جحيم منتج کېږي، په دنيا کې ستا ټولنه د اور په يوې کندې بدلوي، د خونړيو نښتو باعث کېږي او په پای کې تاسو دوزخ ته رسوي.

۷- د دې آيت له (ثم) او په (عين اليقين) سره د جحيم د ليدو له الفاظو ئې معلومېږي چې دلته هغه حالت انځور شوی چې د محاسبې په ورځ به هر څوک خپل ځای وګوري، دوزخيانو ته به جحيم راڅرګند شي او په خپلو سترګو به هغه ځای وګوري چې څو شېبې وروسته به ورننوځي.

۸- تاسو ټول، مسلمان او کافر، به له ټولو نعمتونو پوښتل کېږئ، له دې چې دا نعمتونه مو څنګه تر لاسه کړي، څنګه مو مصرف کړي، څنګه تصرف مو په کې کړی؟ له نعمت سره مو چلن څنګه وو او له منعم سره مو معامله څنګه؟

په يوه مبارك حديث كې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ الله عَنْهُ، قَالَ: بَيْنَمَا أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ رَضِيَ الله عَنْهُمَا، جَالِسَانِ جَاءَهُمَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم، فَقَالَ: مَا أَجْلَسَكُمَا هَهُنَا؟، قَالا: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أَخْرَجَنَا مِنْ بُيُوتِنَا، إِلا الْجُوعُ، قَالَ: وَالَّذِي بَعَثَنِي بِالْحَقِّ مَا أَخْرَجَنِي غَيْرُهُ، فَانْطَلَقُوا حَتَّى أَتَوْا بَيْتَ رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ، فَاسْتَقْبَلَتْهُمُ الْمَرْأَةُ، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم -:أَيْنَ فُلانٌ؟، قَالَتْ: ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا مِنْ مَاءٍ، فَجَاءَ صَاحِبُهُمْ حَامِلا قِرْبَتَهُ، فَقَالَ: مَرْحَبًا ! مَا زَارَ الْعِبَادَ شَيْءٌ أَفْضَلُ مِنْ شَيْءٍ زَارَنِي الْيَوْمَ، فَعَلَّقَ قِرْبَتَهُ بِكَرَبِ نَخْلَةٍ وَانْطَلَقَ، فَجَاءَهُمْ بِعِذْقٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم :أَلا كُنْتَ اجْتَنَيْتَ؟، فَقَالَ: أَحْبَبْتُ أَنْ تَكُونُوا الَّذِينَ تَخْتَارُونَ عَلَى أَعْيُنِكُمْ، ثُمَّ أَخَذَ الشَّفْرَةَ، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ !، فَذَبَحَ لَهُمْ يَوْمَئِذٍ، فَأَكَلُوا، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ! أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمُ الْجُوعُ، فَلَمْ تَرْجِعُوا حَتَّى أَصَبْتُمْ هَذَا، فَهَذَا مِنَ النَّعِيمِ. ابو عوانه

ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چې يوه ورځ ابوبكر او عمر رضي الله عنهما سره ناست وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم راغى او وئې فرمايل: څه شي دلته ناستي ته اړ كړي ئ، وئې ويل: قسم پر هغه ذات چې ته ئې په حقه لېږلى يې له لوړې پرته بل څه له خپلو كورونو نه يو راايستلي، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په هغه ذات قسم چې زه ئې په حقه مبعوث كړى يم، زه هم له دې پرته بل څه نه يم راايستلى، نو يو ځاى سره وخوځېدل تر هغه چې د يوه انصاري كور ته راغلل، مېرمني ورته ښه راغلاست ووايو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: فلانى چېرې دئ؟ وئې ويل: تللى چې موږ ته تازه اوبه راوړي، په همدې وخت كې د دوى ملگرى راغى او د اوبو مشك ئې پر اوږو، وئې ويل: ښه راغلئ، د الله له بندگانو به هيچا تر دې غوره خلك نه وي ليدلي چې نن زما ليدو ته راغلي، خپل مشك ئې د كجوري په څټې وځړاوو او ولاړ د تازه كجورو يوه څانگه ئې ورته راوړه، پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل: ولې دي (د ټولي څانگي په ځاى) يو مقدار ترې راونه شكولې؟ هغه وويل: غوښتل مي تاسو ئې په خپله ترې خوښي كړئ، بيا ئې چاړه راواخيسته، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: پام كوه چې كومه شيدې لرونكې ذبح نه كړې، هغه يو څاروى ورته ذبح كړ او دوى ترې وخوړه، رسول

الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د قيامت په ورځ به له دې پوښتل کېږئ، لوړي له خپله کور راوايستئ او بېرته نه ورګرځئ مګر له هغه وروسته چې دا ټول څه مو په برخه شول، نو دا له هماغه نعمتونو دي چې (پوښتنه به ئې کېږي).

عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ (أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ) فَقَرَأَهَا حَتَّى بَلَغَ (لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ) قَالُوا يَا رَسُولَ الله عَنْ أَيِّ نَعِيمٍ نُسْأَلُ وَإِنَّمَا هُمَا الأَسْوَدَانِ الْمَاءُ وَالتَّمْرُ وَسُيُوفُنَا عَلَى رِقَابِنَا وَالْعَدُوُّ حَاضِرٌ فَعَنْ أَيِّ نَعِيمٍ نُسْأَلُ قَالَ « إِنَّ ذَلِكَ سَيَكُونُ ». رواه احمد و ابن ابی شیبه

له محمود بن لبيد رضي الله عنه روايت دئ چې کله د الهاکم التکاثر سوره نازله شوه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ولوسته، تر هغه چې دې ځای ته راورسېدو؛ لتسئلن يومئذ عن النعيم، حاضرينو وويل: يا رسول الله! له کومو نعمتونو به پوښتل کېږو؟ حال دا چې له دغو دوو تورکيو؛ کجورو او اوبو پرته بل څه نه لرو او توري مو په غاړو کې راځوړندي او دښمن هم راته تيار ولاړ، وئې فرمايل: دا (پوښتنه) به خامخا کېږي.

عَنْ أَبِي عَسِيبٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لَيْلاً فَمَرَّ بِي فَدَعَانِي إِلَيْهِ فَخَرَجْتُ ثُمَّ مَرَّ بِأَبِي بَكْرٍ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ ثُمَّ مَرَّ بِعُمَرَ فَدَعَاهُ فَخَرَجَ إِلَيْهِ فَانْطَلَقَ حَتَّى دَخَلَ حَائِطاً لِبَعْضِ الأَنْصَارِ فَقَالَ لِصَاحِبِ الْحَائِطِ « أَطْعِمْنَا بُسْراً ». فَجَاءَ بِعِذْقٍ فَوَضَعَهُ فَأَكَلَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأَصْحَابُهُ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ بَارِدٍ فَشَرِبَ فَقَالَ « لَتُسْأَلُنَّ عَنْ هَذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». قَالَ فَأَخَذَ عُمَرُ الْعِذْقَ فَضَرَبَ بِهِ الأَرْضَ حَتَّى تَنَاثَرَ الْبُسْرُ قِبَلَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ الله أَإِنَّا لَمَسْئُولُونَ عَنْ هَذَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ « نَعَمْ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثٍ خِرْقَةٍ كَفَّ بِهَا الرَّجُلُ عَوْرَتَهُ أَوْ كِسْرَةٍ سَدَّ بِهَا جَوْعَتَهُ أَوْ جُحْرٍ يَتَدَخَّلُ فِيهِ مِنَ الْحَرِّ وَالْقَرِّ». مسند الامام احمد

له أبو عسيب روايت دئ چې يوه شپه رسول الله صلى الله عليه وسلم راووت، زما خوا ته تېر شو، زه ئې وروبللم، زه وروتم، بيا د ابوبکر رضي الله عنه خوا ته ولاړ او هغه ئې راوبالو او راووت، بيا د عمر رضي الله عنه خوا ته تېر شو هغه ئې راوبالو چې راووت، بيا روان شو تر هغه چې د ځينو انصارو يوه بن ته داخل شو او د هغه څښتن ته ئې وويل: څو کجوري راباندي وخوره، هغه يوه څانګه راوړه او هلته ئې کښېښوده، پيغمبر عليه السلام او يارانو ئې تري وخوړلې، بيا ئې سړې اوبه وغوښتې او وئې څښلې، نو ئې

وفرمايل: د قيامت په ورځ به له دې نعمتونو پوښتل کېږئ، عمر رضي الله عنه ځانګه پورته کړه او پر زمکه ئې داسي ووهله چې کجوري ئې د پيغمبر عليه السلام مخي ته خورې شوې او بيا ئې وويل: يا رسول الله! آيا موږ به له دې هم د قيامت په ورځ پوښتل کېږو؟ وئې فرمايل: هو؛ مګر له دريو شيانو: هغه جامه چې يو څوک ځان پرې پټوي او د ډوډۍ هغه ټوټه چې خپله لوږه پرې دفع کوي او هغه سوړه (کوټه) چې له تودوخي او يخنۍ ورننوځي.

العصر

د سورې معرفي

د دې سورې نوم العصر (زمانه) دئ، چې له لومړي آيت ئې اخيستل شوی، درې آيتونه لري، درې واړه د العصر، خسر او صبر په هموزنو کلمو پای ته رسېدلي، د مفسرينو ډېرى په دې متفق دي چې دا سوره مکي ده که څه هم ځيني ئې مدني ګڼي، حال دا چې د بحث موضوع، د آيتونو د ترکيب څرنګوالى او ادبي جوړښت ئې په دې شهادت ورکوي چې دا مکي سوره ده.

دا لنډه سوره، له دغو دريو لنډو لنډو آيتونو سره دومره ښايسته غږ او ښکلى ترکيب لري او هومره جامع ده چې په هيڅ کلام کې ئې نظير نه شو موندلى، د هغو شخصيتونو دا وينا ډېره درنه او په ځاى ده چې که له ټول قرآن يوازې دا سوره نازله شوې وى کفايت ئې کاوو. د دې موجز او جامع سورې اساسي مدعى دا ده چې انسان يوازې په هغه صورت کې له زيان او تاوان ژغورل کېږي چې ايمان راوړي، عمل ئې صالح شي، حق ته ژمن وي او نور حق ته رابلي او په خپله صابر وي او نورو ته د صبر سپارښتنه وکړي. د دې ستري ادعاء د اثبات لپاره زمانه د شاهد په توګه وړاندي کوي او وايي: هره زمانه، د زمانې هر پراو او د تاريخ هره پاڼه په دې شهادت ورکوي چې انسان او د ده ټولنه يوازې هغه وخت له خسران او تباهۍ نجات مومي چې ايمان ته پناه يوسي، د ايمان په مسير کې حرکت وکړي، ايمان ئې مجرده نظريه او د څو بې اغېزه باورونو مجموعه نه وي بلکې دى صالح عمل ته وهڅوي، عمل ته ئې ښکلا ورکړي، ښه ايمان ئې د صالح عمل په بڼې کې راڅرګند شي، حق ته التزام ولري، په خپل هيڅ عمل کې د حق له پولو وانه وړي، نور حق ته راوبلي او په حق ټينګ پاته کېدو ته ئې وهڅوي، د ايمان، صالح عمل او له حق د دفاع د لاري ستونزې وزغمي، صبر وکړي، په نيمه لار کې د ستړيا او ستومانۍ احساس ونه کړي، له سمې

لاري د ستونزو له کبله ښې او کېڼ لوري ته منحرف نه شي، نور په خپل قول او عمل سره صبر ته راوبلي، د صابر حق پالونکو لپاره د صبر او ثبات بېلګه شي. مګر نه ګورئ چې د زمانې په هر پراو کې بې ایمانو انسانانو ځان او خپلې ټولنې ته څومره زیانونه رسولي؟ مګر په انساني ټولنې کې فساد او تباهي د دوی د بدې عقیدې او بدو عملونو زېږنده نه ده؟ آیا کله چې انسان له (ایمان) او (صالح عمل) لرې شوی، یا ئې دا دواړه سره بېل کړي، عمل ئې د ایمان منافي شوی، نه ئې (ایمان) د لاري مشعل او نه د عملونو لارښود؛ او د منافقت لار ئې غوره کړې، مګر له بدو پایلو سره نه دئ مخامخ شوی؟ مګر تل داسې نه وه چې انسان هغه وخت خپل ځان او خپلې ټولنې ته نه جبرانېدونکي تاوانونه رسولي چې په خپل ځان ئې بسنه او اکتفاء کړې، له ټولنې منزوي شوی، د نورو وضعي ته له اعتناء ئې لاس اخیستی او د خپلې ټولنې د جریاناتو په اړه بې تفاوته شوی؟ انسان که هر څومره ښه وي، کلك ایمان او صالح عمل ولري، نه شي کولی د هغې فاسدې ټولنې له بدو اغېزو خوندي پاته شي چې دی په کې ژوند کوي، هم به ئې ایمان له دې بد وضعیت متأثر کېږي او هم ئې کړنې او شخصیت. له حق په دفاع او د شر او فساد له ځواکونو سره په مقابلې سره انسان هم ځان او هم ټولنه له تباهۍ ژغوري او هم خپل ایمان ته ځلا ورکوي، باورونه ئې راسخ کېږي، د حق په نسبت د التزام عزم او هوډ ئې مضبوط کېږي. آیا نه ګورئ چې بې صبر انسان که هر څومره ئې خپل کار سم پیل کړی وي، د ایمان لار ئې غوره کړې، عمل ئې صالح او له حق ئې دفاع کړې، خو په نیمه لار کې ستومانه او بې صبر شوی، د مبارزې له دوام او بري ته له رسېدو ناهیلی شوی، له مبارزې ئې لاس اخیستی، په دې سره ئې ټولې مخکینۍ هلې ځلې ضائع او هدر شوې او له هغې معرکې خاسر او نامراد راوتی چې په پیل کې ئې څو پراوونه په بریا پلي کړي وو. په رښتیا چې زمانه په خپله په دې حقیقت شهادت ورکوي چې انسان له ایمان، صالح عمل، د حق سپارښتني او په صبر له توصیې پرته له تباهۍ او خسران سره مخامخ کېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡعَصۡرِ ۝١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ۝٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ۝٣

١- قسم په زمان. ٢- یقیناً چې په زیان کې دئ انسان. ٣- مګر هغه چې ایمان ئې وي راوړی او صالح اعمال ئې کړي او سپارښتنه ئې د حق یوه بل ته کړې او یوه بل ته

ئې د صبر توصيه کړې.

۱-۳: په لومړي آيت کې په (العصر) لوړه شوې: او ورپسې ويل شوي: يقيناً چې انسان په زيان کې دئ، مگر هغه چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي او يوه بل ته ئې د حق سپارښتنه کړې او يوه بل ته ئې د صبر توصيه کړې.

د قرآن د نورو قسمونو په څېر دلته هم په يوه څرگند او د هر مخاطب مخې ته پروت حقيقت باندې لوړه شوې، په (العصر) يعني زمانه، هره زمانه او د زمانې هر پراو د دغې ادعاء د اثبات لپاره د شاهد په توگه وړاندې شوی چې انسان له ايمان، صالح عمل، په حق سپارښتنه او په صبر له سپارښتنې پرته له زيان او خسران سره مخامخ کېږي. که تاريخ ته رجوع وکړئ، هره پاڼه ئې وڅېړئ او هر پراو ته ئې ځير شئ؛ په څرگنده به وگورئ چې تل د ايمان هغو خاوندانو بريا تر لاسه کړې او له تباهۍ ژغورل شوي چې عملونه ئې صالح وو، پر حق ولاړ وو او يوه بل ته ئې د حق سپارښتنه کړې، په دې لار کې ئې صبر کړی او يوه بل ته ئې د صبر توصيه کړې. راشئ وگورئ د هغو خلکو پايله څه وه چې د کفر او له حق د انکار لار ئې غوره کړې، بد اخلاق او بد عمل وو، ظلم او تېری ئې کړی، فساد ته ئې لمن وهلې، نه ئې په خپله حق او حقيقت ته سر ټيټ کړی، نه ئې بل حق ته هڅولی، نه ئې په خپل جائز حق قناعت کړی، نه ئې د بل د حق پروا کړې، نه ئې په خپله صبر درلود او نه ئې بل ته د صبر سپارښتنه کړې؟ تاريخ د دغو خلکو په اړه څه وايي؟ د دوی پايله او عاقبت ئې څنگه معرفي کړی؟ کوم ولسونه چې له تباهۍ، ذلت او سپکاوي سره مخامخ شوي، خصوصيات او ځانگړتياوي ئې څه وې؟ او هغه چې فلاح او بريا ئې په برخه شوې، د شرف او عزت لوړو مدارجو ته رسېدلې، د زمکې خلافت او د ولسونو قيادت او زعامت ئې تر لاسه کړی، څوك وو او مواصفات ئې کوم؟ آيا دغه سرلوړي او عزتمن قومونه او دا د تاريخ معروف او مشهور شخصيتونه چې هر څوك ئې په نامه افتخار کوي، هغوی ته ځان منسوبوي، د هغوی نومونه پر خپل ځان او اولاد ږدي او د هغوی په لار د تلو هڅه کوي، له دغو صفاتو پرته ئې بل څه درلودل؟ او هغه کسان چې له دغو صفاتو محروم وو او د دغو صفاتو له خاوندانو سره ئې دښمني ته ملا تړلې وه، که څه هم زور ځواك ئې درلود، وسائل او امکانات ئې په واك کې وو، لښکري او فوځونه ئې درلودل او په لويو لويو ملکونو ئې حکومت کاوو، له کوم عاقبت سره مخامخ شوي او نن خلك او تاريخ د دوی په اړه څه قضاوت کوي؟ د ابو جهل، فرعون او نمرود په اړه څه وايي؟ د عيسى عليه السلام د مخالفينو په اړه څه قضاوت کوي؟

متأسفانه ځينو دلته هم اشتباه کړې او (العصر) ئې يا د (صلوة العصر: د مازديگر

لمونځ) يا (د مازديګر وخت) او يا د پيغمبر عليه السلام د زمانې په معنى نيولى، حال دا چې (العصر) عام دئ په هره زمانه ئې اطلاق کېږي او داسي هيڅ دليل نشته چې خاص وخت او زمانه په ګوته کړي. دا ضعيفه توجيه د قسم او ځواب تر منځ هيڅ ارتباط نه شي ښودلى او په هيڅ تعبير او تأويل سره دا نه شي ثابتولى چې (العصر) د انسان په خسران او زيان شهادت ورکوي! د (العصر) صيغه عامه ده، سمه نه ده چې هغه (خاص) کړو، د قسم او ځواب تر منځ ارتباط يوازې په هغه صورت کې راڅرګندېږي چې صيغه په خپل حال (عام) پرېږدو او د زمانې هر پراو او د تاريخ هره مرحله ئې وګڼو، همدا زمانه او ټول لوړ او ژور پراوونه ئې شهادت ورکوي چې انسان تل د بې ايمانۍ، بدو کړنو، په حق نه ودرېدو او يو بل ته د هغه سپارښتنه نه کولو، بې صبرۍ او يو بل ته د صبر د سپارښتنې نه کولو سره تاوان کړى او له تباهۍ سره مخامخ شوى.

دا مبارکه سوره موږ ته لارښوونه کوي چې انسان د نجات لپاره څلورو صفتونو ته ضرورت لري: ايمان، صالح عمل، په حق او په صبر سپارښتنه، انسان هغه وخت کولى شي خپلې بريا او فلاح ته هيله من وي چې د نجات او بريا دا ټول عوامل او لاملونه په ځان کې تعبيه کړي، که له دې يو ئې هم راکم شي او بې اهميته ئې وګڼي او هر يو په خپل ځاى کې مراعات نه کړي، نو د نجات کښتۍ ئې د لارې په نيمايي کې پاته کېږي او ساحل ته له رسېدو محرومه کېږي. د دې سفر د پيل نقطه (ايمان) دئ، نور صفات، د ايمان لوازم او مقتضيات دي او له هغه راولاړ شوي صفات دي، دا ستا ايمان دئ چې د صالح عمل په بڼه کې راڅرګند شي، له حق دفاع ته دي تيار کړي، تا ته د صبر او ثبات درس درکوي او د مبارزې په لوړو ژورو کې په استواره ګامونو مخکې تلو ته دي هڅوي. که ته غواړې داسي ټولنه جوړه کړې چې فلاح او سعادت ئې په برخه شي، د شر، فساد او تباهۍ عوامل په کې وځپل شي، د انسان د ذلت او سپکاوۍ د لاملونو جړې وايستى شي او انسان په هغې کې له زيان او خسران خوندي وي، نو دې لوړ او مقدس هدف ته د رسېدو لار دا ده چې په لاندي څلورو خبرو ترکيز وشي: ايمان، د صالح افرادو روزنه، له حق دفاع او له حق د دفاع په لار کې صبر او استقامت.

هغه حزب چې ادعاء کوي د خلکو د ژغورنې او نجات لپاره ئې په مبارزې لاس پورې کړى، خو اهداف، شعارونه او تګلارې ئې د (ايمان) په رڼا کې نه وي ټاکل شوي، د غړو تر منځ ئې اړيکې د ايمان او عقيدې اړيکې نه وي، عملونه ئې د ايمان او عقيدې سېکارندويي نه کوي، د ايمان او عمل تر منځ ئې څرګند تناقض وي، نه په خپله په حق ولاړ وي او نه نورو ته د حق بلنه ورکوي، نه په خپله د مبارزې په کړلېچونو او لوړو ژورو کې صابر وي او نه

نورو ته د صبر او ثبات بلنه ورکوي، داسي يو حزب هيڅکله نه شي کولی ټولنه د سعادت او نجات په لوري بوځي او د حق د لاري فاتح مبارزينو ته په ډاډمن محور او سنګر بدل شي. تاريخ د همدې خبري په حقانيت شهادت ورکوي

له څو خاصو مواردو پرته په ټول قرآن کې ايمان او صالح عمل يو د بل تر څنګ راغلي، چې ښيي صالح عمل د ايمان برخه، نتيجه او مقتضا ده، دا دواړه سره بېلېدی نه شي، نه ايمان له صالح عمل پرته حقيقي ايمان دئ او نه په ظاهر کې صالح عمل له ايمان پرته ارزښت او قيمت لري. ايمان مجرده يوه نظريه نه ده چې محض اعتقاد او باور پرې کافي وي، ايمان په حقيقت کې يوه تګلاره ده، خاص فکري خط د انسان مخي ته راکاږي او ده ته وايي چې د تلو لار دي دا ده، خاص ضوابط د انسان مخي ته ږدي او له ده غواړي چې دا به د خپل تګ او د ژوند په ټولو برخو کې مراعاتوې، ايمان که له يوې خوا د خداى، انسان او کائنات په اړه د يوه جامع او دقيق معرفت مبناء او بنسټ دئ له بلې خوا هغه نظريه ده چې له الله تعالى او د عالم له هر جزء سره د انسان فطري اړيکي ښيي او د ده د ژوند ټول مناسبات تنظيموي، ايمان هغه لارښود دئ چې انسان به ئې د ژوند په هرګام او هر اړخ کې مراعاتوي. د قرآن له نظره په عقيدې او عمل کې، قول او فعل کې تناقض د ايمان منافي دئ او منافقت.

په رواياتو کې راځي چې د پيغمبر عليه السلام په صحابه وو کې ځيني داسي وو چې د ليدو کتو په وخت کې به هلته يو له بله بېلېدل چې يوه به ئې دا سوره قرائت کړه، له اورېدو وروسته به په سلام سره رخصت شول.

الهمزة

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الهُمَزَةِ (سترګك وهل) دئ، له لومړي آيت اخيستل شوی، ۹ آيتونه لري، لنډ لنډ او شعارونو ته ورته دي، ټول آيتونه ئې (لُمَزَة) ته ورته فواصل لري، ټول مفسرين په دې متفق دي چې دا مکي سوره ده، د دې مبارکې سورې په جامع او موجزو الفاظو کې د بډايانو او شتمنو هغه کرغېړن خصلتونه څېړل شوي چې د هري غير اسلامي او جاهلي ټولني په شتمنو او بډايانو کې په ځرګنده او وفرت سره ليدل کېږي او په حقيقت کې دا د بډايانو او شتمنو عادتونه، خصلتونه او ځانګړتياوي ګڼل کېږي: ځان لوړ، لوی او تر نورو غوره ګڼل، نورو ته په سپکه سترګه کتل، هغه څوك ذليل شمېرل او د استهزاء وړ ئې

بلل چې د دغو بډايانو ټولې شتمنۍ د دوی د خولو او تڼاکو دي، د دوی سوکالي د بډايانو د عيش او عشرت په پښو کې ذبح شوې، د دوی د خولو او تڼاکو د بډايانو په جبب کې لوبدلی، دوی له دې کبله په فقر، لوږه او محرومیت کې ژوند کوي چې د ټولنې ظالمانه اقتصادي نظام او غیر عادلانه مناسباتو ئې د محرومې طبقې ګټې د غارتګرو او مفتخورو بډايانو په پښو کې اچولې، دا ظالم او لوټمار بډايان د دې په ځای چې خپل مرفه او سوکاله ژوند د دې محرومې طبقې د زیار او زحمت نتیجه وګڼي او ځان د دوی پوروړي وګڼي، د دوی احسان ومني او په دې باور وي چې د بډايانو په شتمنیو کې د دې محرومې طبقې (معلوم حق) دئ، که د دوی ملاماتوونکی زیار نه وی نو د شتمنو دا عیش عشرت او بې حسابه شتمنۍ به هم نه وې، خو دا بې رحمه بډايان نه یوازې د دوی احسان نه مني، د انسان په سترګه ورته نه ګوري او له ځان سره ئې برابر نه ګڼي بلکې ذلیل او د تحقیر او سپکاوي وړ ئې ګڼي او د دوی د هر څه د غارت کولو په هڅه کې دي، تل ئې ځان تر دوی لوړ او دوی ئې حقیر او سپك شمېرلي، هم له دوی سره په چلن کې، هم د راکړې او ورکړې په وخت کې، هم د دوی په اړه د تبصرو په دوران کې او هم هغه وخت چې د دوی تر څنګ تېرېږي، په دوی تمسخر کوي، په (همز) او (لمز) او (د سترګو او شونډو په خوځولو سره) د دوی سپکاوی کوي، دا حریص بډايان له دې پرته په بل فکر کې نه دي چې څنګه تر زیات نه زیات مال او دولت راغونډ کړي، ټول انساني ارزښتونه ئې هېر کړي، ټول ئې د خپل حرص او دولت غونډولو په پښو کې ذبح کړي، د دوی په نظر د ټولو ارزښتونو (ملاك) او (معیار)؛ (مال او دولت) دئ، څوك چې دا په واك کې لري د دوی په اند (شریف) او (عزتمن) دئ او څوك چې ترې محروم دئ سپك او ذلیل دئ او د تحقیراو توهین وړ، شتمن دا حق لري چې دوی د خپلې رفاه او عیش عشرت لپاره قرباني کړي. دا سوره مور ته وایي چې بډايان تل د خپل مال او دولت په ګټلو مشغول وي، تل په دې فکر کې چې څنګه خپله شتمني زیاته کړي، څنګه تر زیات نه زیاته ګټه تر لاسه کړي، څنګه محتاج او بې وزلې خلك په دام کې واچوي، وئې غولوي، هر څه ترې غارت کړي، د دولت په راغونډولو کې داسې مشغول دي چې (پیسې) هر څه ګڼي، ګمان کوي چې شتمني به دوی او د دوی کورنۍ ته تلپاته عزت ورپه برخه کړي، د دوی دائمي سلطه او لویي به پر نورو تضمین کړي، داسې انګېري چې دا شتمني به د تل لپاره ورسره وي، هري اندېښنې ته به ئې ځواب وایي، له هري ستونزې به ئې ژغوري، دا ئې په خیال کې نه ګرځي چې یوه ورځ به ئې پرېږدي او تش لاس به د الله تعالی په لوري درومي، د دنیا حب او مینې هم مرګ ترې هېر کړی او هم آخرت، خو داسې نه ده لکه دوی چې ګمان کوي، دا د مال حرص او د دنیا

حب به ئې د دوزخ په سره اور کې وغورځوي، هغه اور چې الله تعالى د حريصو شتمنو او ظالمو بډايانو لپاره مختص کړى، داسې اور چې هر څه په کې ولوبږي مات مات او ټوټې ټوټې ئې کړي، دا اور ورته منتظر دئ، هيبتناك، له رعبه ډك، يوازې پوستكي نه سوزوي بلكې زړه ته ځان رسوي، د دغو بډايانو د زړه حال به ځان ته معلوموي او داسې به ئې سوزوي چې ورسره ښايي، دا اور پوهېږي چې په دغو زړونو کې څه وو، د مال په اړه څومره افراطي مينه او له بې وزلو او محرومانو څومره كركه؟ د ظلم، خيانت او دوكې څنګه خطرناك عزائم؟ داسې اور چې پر دوى به راتاو شي، د وتلو ټولې لارې به پرې بندي کړي، د اور په تشو اوږدو اوږدو ستنو کې چې پر سر به ئې برغولې پراته وي، ټولې سوړې ټړل شوې، داسې لكه دوى چې په دنيا کې د خپل حرص په حصار کې نښتي وو، په زړونو کې ئې د حرص اور بل وو، په ټولنې کې د فقر او لوړې باعث شول او ډېر بې وزلې انسانان ئې د فقر او لوړې په اور کې وسوزول، د خونړيو جګړو سبب شول او د دې جګړو په اور کې بې شمېره بې ګناه انسانان وسوزېدل، د نړۍ د اكثرو جګړو تر شا د دغو شتمنو لاس وو، دا دوى ول چې ولسونه او ملكونه ئې سره جنګول، نن بايد د خپلو ګناهونو مناسبه سزا وګوري، د زمكې پر سر چې چا اورونه بل کړي؛ سزا ئې (الهي اور) دئ، په سر پوښلو ستنو کې، په لاس پښو کې ئې زنځيرونه، په ستنو پورې تړلې، دا له دغو بډايانو سره ښايي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴿١﴾ ٱلَّذِى جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُۥ ﴿٢﴾ يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخْلَدَهُۥ ﴿٣﴾ كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِى ٱلْحُطَمَةِ ﴿٤﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحُطَمَةُ ﴿٥﴾ نَارُ ٱللَّهِ ٱلْمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ ٱلَّتِى تَطَّلِعُ عَلَى ٱلْأَفْـِٔدَةِ ﴿٧﴾ إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِى عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿٩﴾

١- واى واى په هر سترګك وهونكي؛ د عيبونو لټوونكي. ٢- همغه چې ئې مال راټول او شمار کړ.٣- ګمان كوي چې مال به ئې تلپاته کړي. ٤- نه؛ داسې نه ده؛ حتماً به واچوى شي حطمه كى. ٥- او څه شي ته خبر کړې چې څه ده حطمه. ٦- الهي بل شوى اور. ٧- هماغه چې په زړونو به راتاو شي. ٨- دا به په هغوى وي سرپوښلى. ٩- په غزول شوو ستنو كي.

١- په (همزه) سره هغه چا ته اشاره شوې چې په سترګك وهلو او د شونډو په خوځولو او

د تندي ګونځي کولو سره په نورو ملنډې وهي او سپکاوی ئې کوي او په (لمزه) سره هغه چا ته چې د نورو عیبونه بیانوي او په خپلو سپکوونکو تبصرو سره ئې اهانت کوي، د هغه چا په حال دي افسوس وي چې دا شنیع او کرکجن خصلتونه لري. د دې مبارك آیت په اړه مو څو ټکي په پام کې وي:

الف: څوك چې په خپل همز او لمز سره د نورو سپکاوی کوي، په حقیقت کې د ده خپله وضع د تأسف وړ ده، د نورو عیبونو ته د ګوتې نیولو په ځای دي هغو عیبونو ته پام وکړي چې په ده ئې خپل تور وزر غوړولی، دې افسوسناك حالت ته ئې رسولی او د نورو سپکولو او تحقیر ته ئې هڅولی، نه پوهېږي چې بده پایله ئې په انتظار کې ده، د هغه چا په حال افسوس چې له خپل بد حالت غافل دئ او له خپل بد عاقبت ناواقف، مطعم او ملبس ئې حرام، سلول سلول ئې له حرامو ډك او له هغه څه تغذیه کېږي چې د نورو د لاس د تېاکو او خولو دئ، خو دا بدمست اوس په خپل منعم ملنډې وهي، سپك ئې ګڼي او ځان تري لوړ احساسوي!!

ب: د بل د تحقیر او توهین عمل له خاصو حرکاتو او سکناتو، د سترګو او شونډو له خوځولو او د تندي له ګونځي کولو پیل کېږي، ورو ورو زیاتېږي او نوې نوې بڼه غوره کوي او تر عیب لټونو، صریح نیوکو او سپکو ښکنځلو پورې رسي.

ج: دا کرکجن خصلت په اصل کې د بد مستو بډایانو او مغرورو شتمنو عادت دئ، هغه چې شتمنیو دوکه کړي، پیسې د عزت او شرف معیار ګڼي، یوازي هغه چا ته د شریف او عزتمن انسان په سترګه ګوري چې د مال او دولت خاوند وي، که څه هم ظالم او بې رحمه وي او شتمنۍ ئې د ظلم او خیانت له لارې تر لاسه کړې وي او هغه څوك ذلیل او سپك ګڼي چې مال او دولت په واك کې نه لري که څه هم صالح، صادق او شریف انسان وي. خو باید وګورو چې ولې لومړی د شتمنو د (همز) او (لمز) بدو خصلتونو ته ګوته نیول شوې او بیا ئې د مال او دولت غونډولو حرص ته، په داسې حال کې چې لومړي خصلتونه ئې له دې وروستي نشأت کوي او د دې فرع او دي. ولې دلته لومړی د مال او دولت غونډول نه دي غندل شوي؟ د دې وجه څه ده چې د بډایانو دا ثانوي کرکجن خصلتونه په سر کې غندل شوي؟ ځواب ئې دا دئ چې د اسلام له نظره تر ټولو لویه ګناه او پر انسان تر ټولو لوی تېری د ده په عزت تېری دئ، تر ټولو لویه ګناه تکبر او ځان تر نورو لوړ ګڼل او د نورو سپکاوی او تحقیر دئ، دا صحیح ده چې له حرامو لارو مال او دولت راغونډول، د خلکو مال غصبول، د بې وزلو غولول او استثمارول جرم دئ او دا هم صحیح ده چې د دې ټولو جرمونو بنسټ او بنیاد د مال حرص او د دولت د غونډولو افراطي تلوسه ده، خو د

نورو توهين او تحقير او په عزت او حيثيت ئې تېرى تر ټولو ستر جرم او لويه گناه ده، په يوه روايت کې راغلي:

عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ، أَنَّهُ قَالَ : مِنْ أَرْبَى الرِّبَا الاسْتِطَالَةُ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ . رواه احمد

له سعيد بن زيد روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تر ټولو لوى سود په ناحقه د مسلمان په عزت تېرى دئ.

د دې ستر جرم شناعت او قباحت ته په پام سره د سورې په سر کې د بډايانو د نورو بدو خصلتونو په سر کې راغلى.

٢- (همز) او (لمز) د هغه چا خصلتونه دي چې له هري لاري او له هري وسيلې په استفادې سره ئې مال او دولت راغونډ کړى او تل ئې په شمېرلو بوخت او په دې اندېښنو کې چې څنگه ئې لا زيات کړي، څنگه نور دوکه کړي او زياته گټه ترې تر لاسه کړي!!

د سورې د دوو لومړنيو موجزو آيتونو په الفاظو کې د حريصو بډايانو او مال غونډوونکو څلور گنده خصلتونه په گوته شوي:

- د سترگو او شونډو په حرکاتو او د تندي په گونځو سره د بې وزلو او نادارو سپکاوى او توهين او له دوى سره له کبر او غروره ډك چلن.
- دوى ته سپکې سپورې ويل، له عيبونو ډك او د هر راز اهانت وړ ئې گڼل، د دوى له ټولو ښېگڼو انکار کول، په ټولنې کې د دوى اغېز او نقش منفي شمېرل او د ټولو ستونزو مسئوليت د دوى پر اوږو اچول.
- د مال او دولت په راغونډولو کلك لگيا او سخت مشغول دي.
- د خپل مال په شمارلو مصروف او تل په دې اندېښنو کې چې څنگه خپله شتمني زياته کړي او له نورو زياته گټه تر لاسه کړي.

په درېيم آيت کې د دوى بل خصلت ته داسې اشاره شوې:

٣- گمان کوي چې مال او ثروت به ئې د ده بقاء تضمين کړي، دائمي او تلپاته عزت او افتخار به ئې په برخه کړي، د دولت په راغونډولو کې داسې مشغول دئ چې ته به وايې مرگ ترې هېر دئ، تل به ژوندى وي، خپل هر څه ئې په مال او دولت پورې تړلي، د همدې لپاره د مال او دولت په راغونډولو او شمېرلو مصروف دئ او د همدې لپاره هغه خلك سپك او حقير گڼي او په همز او لمز سره د دوى سپکاوى کوي چې مال او دولت نه لري او د ده په څېر ئې د مال په راغونډولو کې شپه ورځ پر ځان يوه کړې نه ده.

٤- ٩: داسې نه ده لکه دا حريص بډايان چې گمان کوي، د فلاح او بقاء او د عزت او

سعادت د عواملو په اړه د دوی انګېرنه او محاسبه غلطه ده، نه به مال او ثروت د دوی فلاح او بقاء تضمین کړي او نه به پر نورو دوی ته لوړوالی او شرف ورپه برخه کړي، د دوی د غلطي انګېرني برعکس به حرص، له حرامو لارو مال او دولت غونډول، د بې وزلو توهین او سپکاوی، د دوی پر مال، ځان او عزت تېری او ټول هغه عملونه ئې چې له زړمانځني خړوبه کېږي، دوی په هغه اور کې پرې باسي چې الله تعالی د حریصو شتمنو او ظالمو بډایانو لپاره مختص کړی، داسي اور چې هر څه په کې ولوېږي مات مات او ټوټې ټوټې ئې کړي. د دغه اور ځانګړتیاوي دا دي:

- حطمه دئ، هر څه ټوټې ټوټې کوي، د مغرورو بډایانو هډوکي به مات مات کړي.
- داسي ستر او هیبتناك اور دئ چې الله تعالی ځان ته منسوب کړی او دا یوازینی مورد دئ چې الله تعالی اور ځان ته منسوبوي، دا د دې لپاره چې د دې اور سترواليو او هیبت ښه افاده شي. دا هغه اور دئ چې الله تعالی د دغو بې رحمو شتمنو لپاره مناسب لیدلی.
- دا اور به پر دوی راتاو وي، دوی به ئې کلك احاطه او د وتلو لاري به ئې پرې بندي کړې وي، دوی به د اور په داسي تشو اوږدو اوږدو ستنو کې لوېږي چې پر سر به ئې برغولي پراته وي، ټولي سوړي به ئې ټرل شوې وي، حرارت به ئې لحظه په لحظه زیاتېږي، نه به د حرارت د وتلو کوم منفذ وي او نه د دوی د تېښتي او وتلو کومه لار.
- او یا خو به دوی د اور په داسي کندو کې پراته وي چې سر به ئې بند وي او دوی به له اوږدو اوږدو ستنو سره په زنځیرونو ټرل شوي وي.

دا مغرور زر لمانځونکي شتمن چې په ټولني کې د فقر او لوږي باعث او د محرومانو او مستضعفانو په لوټلو بوخت ول، فتنې، شخړې او جګړې ئې راولاړولې، په خلاص لاس ئې د بې وزلو د خُوَلو او د لاس د تنګاکو لوټلو او د خپل همنوع په نسبت ئې په زړه کې کینه او کرکه وه، شعله ناك حرص ئې هري ګناه او هر جنایت ته هڅولو، نن باید په ستر او هیبتناك الهي اور کې وسوزي او د خپلو عملونو مناسبه سزا وڅکي.

کوم څه چې دلته د شتمنو په اړه ویل شوي، دا هم د کلي په کچه د حریص او ظالم بډای او شتمن په اړه صدق کوي او هم د ملك او نړۍ په کچه، نن د غرب پانګه وال ظالمانه نظام د دې سورې مصداق دئ، دوی د درېیمي نړۍ هغه ولسونه حقیر ګڼي چې دوی لوټلي، فقر او لوږه دوی پرې مسلطه کړې، که د دغو مظلومو هېوادونو غارت کول نه وی نو غرب به نن په دې عیش او عشرت کې ژوند نه شو کولی، تر نورو به ئې ځان لوړ نه ګڼلو، په نړۍ کې د فقر او لوږې اساسي او ستر عامل هغه لوټ او غارت دئ چې دا څو پېړۍ دوی روان کړی، مخکې ئې د درېیمي نړۍ په هېوادو بریدونه کول او د توپ او ټانك

په زور ئې نیول او د دوی شتمنۍ ئې تالان کولې، خو اوس ئې داسې چارواکې او فوځونه پر دوی مسلط کړي چې دوی ته همغه کار کوي چې پرون ئې د خپلو فوځونو په لاس کاوو، دا دوی دي چې د خپلو سودي بانکونو له لارې درېیمه نړۍ غارت کوي، دا دوی دي چې په آسیایي او افریقایي ملکونو کې دلته او هلته د دې لپاره د جګړو اورونه بلوي چې له یوې خوا د خپلو وسلو د خرڅلاو بازارونه پیدا کړي او له بلې خوا د دې ملکونو شتمن دې ته اړ کړي چې خپلې شتمنۍ غربي بانکونو ته انتقال کړي. دوی خو نن سپین پوستي لوړ او نجیب نسل او تر نورو غوره ګڼي او چې خپل نازولي او په نعمتونو کې ستر شوي د افریقا او آسیا له فقر ځپلو سره مقایسه کوي نو باور ئې لاپوخ شي، خو خدای خبر که په غربي هېوادونو هغه حالت د څو میاشتو لپاره راشي چې آسیایي او افریقایي ملکونه ئې له پېړیو پېړیو راایسي زغمي، د غربیانو به څه حالت وي، شکلونه به ئې د کتو وي که نه او څوك به ورسره یو ځای ډوډۍ وخوري که نه؟

الفيل

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الفيل دئ، له لومړي آیت اخیستل شوی، پنځه آیتونه لري، د څلورو آیتونو فواصل ئې د (فيل) کلمې ته ورته دي، (فيل، تضليل، ابابيل، سجيل)، خو پنځم آیت ئې د مأکول په صیغې پای ته رسېدلی، چې د مخکینیو غږونو لپاره د ودرېدو او توقف ښایسته او موزون غږ لري. د سورې له مضمون او د بیان له اسلوب ئې په وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره په مکه مکرمه کې او هغه وخت نازله شوې چې د قریشو مغرورو سردارانو پیغمبر علیه السلام او د ده یاران په خپل زور ځواك او د ملاتړو په لښکرو ګواښل او وېرول او الله تعالی د دوی د ګواښونو په مقابل کې دا سوره نازله کړه او په دې کې ئې د دغو مغرورو سردارانو په وړاندې د حبشې د مغرور واکمن د هغه لوی لښکر عبرتناکه پایله کښېښوده چې په فیلانو مجهز وو، شمېر ئې دومره چې د عربو په تېر تاریخ کې ئې چا مثال نه وو لیدلی، د کعبې د ورانولو په غرض ئې په مکې مکرمې برید وکړ، خو له ماتې سره مخامخ شو، د دې لوی لښکر ډېر د خپلو فیلانو تر پښو لاندې شول، مړي ئې په صحراء کې خواره واره او د مرغانو خوراك شول، دا سوره د قریشو مغرورو سردارانو ته وایي: په خپل زور ځواك د غرور پایله به داسې وي لکه د فیل د خاوندانو پایله.

د دې لوی برید قصه داسې وه:

د یمن یهودي واکمن یوسف بن ذونواس په (۵۳۰) میلادي کې په نجران له تسلط وروسته، د هغه ځای ډېر مسیحیان ووژل، د حبشې مسیحي پاچا نجاشي د مسیحیانو د انتقام په بهانه وغوښتل چې یمن ونیسي او د ذونواس واکمني پای ته ورسوي، د دې لپاره ئې په ۵۳۰ میلادي کال کې د روم له امپراطور وغوښتل چې د فوځونو د انتقال لپاره څو بېړۍ په واك کې ورکړي، د رومي بېړیو له رارسېدو سره سم ئې اویا زره فوځ د ارياط نومي قومندان تر مشرۍ لاندې د یمن د اشغال لپاره وخوځاوو، یمنیان ونتوانېدل چې مقاومت وکړي، یمن د حبشي مهاجمینو په لاس کې پرېوت او ذونواس په دریاب کې غرق شو. دې برید سیاسي او اقتصادي موخې درلودې، د مظلومو مسیحیانو انتقام هسې یوه بهانه وه، د روم امپراطور د شام او مصر له تصرف وروسته غوښتل چې د شرقي افریقا او د عربو هغه سیمې، بازارونه او تجارتي لاري تصرف کړي چې تر هند او اندونیزیا پورې غزېدلې وې. خو د یمن فاتحین په یمن باندې د حکومت کولو په سیالۍ کې خپلو کې ونښتل، ارياط په دغو نښتو کې ووژل شو او قدرت د ابرهه لاس ته ورغی، د حبشې پاچا دی په یمن کې خپل نائب وټاکو، کار ئې ورو ورو رونق وموند او هغه ځای ته ورسېدو چې د یمن مستقل واکمن شي او پر یمن له تسلط وروسته ئې وغوښتل چې ټول عرب د مسیحت په منلو اړ کړي او ټولې هغه تجارتي لاري تصرف کړي چې د عربو په واك کې وې، د دغو تجارتي لارو تصرف د دې لپاره هم دوی ته ضروري برېښېدو چې رومیانو له ایراني ساساني امپراطورۍ سره د نښتو په ترڅ کې هغه لاري له لاسه ورکړې وې چې دوی ئې له شرقي ملکونو سره نښلول، د نویو لارو په لټه کې ول او په جزیرة العرب باندې تسلط د دوی دا هدف تر سره کاوو.

ابرهه لومړی په صنعاء کې د القلیس په نامه یوه ستره او مجلله کلیسا جوړه کړه او د روم امپراطور ته ئې ولیکل چې ډېر ژر به د ټولو عربو مخ د کعبې له حج دې کلیسا ته راواوړي، مسیحیانو تل دا هڅه کړې چې د بیت الحرام د کعبې په ځای بله داسې کعبه رامنځ ته کړي چې د صلیب ببرغ پرې رپېږي او د کعبې د ورانولو او تصرف فرصت او توان تر لاسه کړي. ابرهه د مسیحیانو دا زړه هیله او ټمنې پټه ونه ساتله او په ډاګه ئې دا اعلان وکړ چې د کعبې د ورانولو اراده لري. د مناسب فرصت او بهانې په لټه کې وو. په همدې وخت کې یوه داسې پېښه رامنځ ته شوه چې له یوې خوا ئې د مسیحیانو احساسات راوپاروول او له بلې خوا ئې ابرهه ته د مکې د تصرف ښه بهانه او فرصت په لاس ورکړ. ځینې وایي چې د القلیس د کلیسا سپکاوی وشو، څه کثافات او ګنده شیان په عبادت

ځای کې واچول شول او ځینې نور بیا وایي چې د کلیسا یوې برخې ته اور واچول شو، ځینې دا د ابرهه د اعلان په وړاندې د قریشي ځوانانو غبرګون ګڼي او ځینې نور ئې د ابرهه توطئه شمېري چې غوښتل ئې د مسیحیانو احساسات راوپاروي.

په (۵۷۰- ۵۷۱) میلادي کال او په نوموړې پېښې پسې متصل، ابرهه له٦٠ زره مجهز فوځ سره چې ۹ یا ۱۳ فیلان هم ورسره وو، له ډېرو تجهیزاتو سره د مکې د نیولو لپاره وخوځېدو، د یمن یوه نومیالي سردار ذونفر له خپلې قبیلې سره د ده مخه ونیوله او له سختې نښتې وروسته ئې ماته وخوړه، بیا د نفیل بن خثعمي په نامه یوه عرب سردار په خپلې سیمې خثعم کې د ده مقابلې ته راوړاندې شو، خو هغه هم ماته وخوړه، دی ونیول شو او قبیله ئې خوره وره شوه، ابرهه د ده له وژلو منصرف شو او د اسیر په توګه ئې له ځان سره وساتو چې د سفر په دوران کې د لارښوونکي په توګه ترې کار واخلي. کله چې د ابرهه لښکر طائف ته نژدې شو، د بنی ثقیف قبیلې احساس کړه چې د دې لوی لښکر د مقابلې توان نه لري له دې وېرې چې داسې نه د ابرهه لښکر د دوی لات نومی ستر معبد وران نه کړي، د مسعود په نامه د خپلې یوې قبیلې سردار ئې د یوه وفد په مشرۍ د ابرهه خوا ته ولېږو چې هغه ته ئې وویل: زمونږ معبد هغه معبد نه دئ چې ته ئې د ورانولو لپاره راغلی یې، هغه په مکه کې دئ، زمونږ د بتخانې له ورانولو منصرف شه، مونږ به تر مکې پورې ستاسو لارښوونه وکړو او یوه ډله به په دې منظور درسره ولېږو، ابرهه د دوی غوښتنه ومنله، بني ثقیف د ابورغال په نامه یو ځوك له دوی سره ولېږو، خو دی مکې ته له رسېدو د مخه په هغه ځای کې مړ شو چې د مکې تر وادي درې رباطه فاصله لري، عربو به تر اوږدې مودې د دغه خیانت له کبله د ده قبر په تیږو ویشتو او د بنی ثقیف قبیلې ته به ئې له دې کبله په سپکه سترګه کتل چې د خپلې بتخانې لپاره ئې د هغه لښکر ملګرتیا وکړه چې د کعبې د ورانولو لپاره راغلی وو.

کله چې د ابرهه لښکر د المغمس سیمې ته نژدې شو، د سپرو ډله ئې د اسود بن مقصود تر مشرۍ لاندې د مکې په لوري ولېږله چې د قریشو ډېر څاروي او اوښان ئې غارت کړل، په دغو کې د مکې د ستر او نومیالي مشر عبدالمطلب دوه سوه اوښان هم وو، تر دې د وروسته پېښو په اړه له بېلابېلو روایاتو سره مخامخ کېږو، ځینې وایي چې ابرهه د مکې خلکو ته احوال ولېږو چې له تاسو سره د جګړې اراده نه لرو، د دې لپاره راغلي یو چې کعبه ورانه کړو، که غواړئ خپله جرګه د تفاهم او خبروآترو لپاره راولېږئ، د مکې خلکو خپل سردار عبدالمطلب ورولېږو، ابرهه د ده د وقار او درونده شخصیت تر اغېز لاندې راغی، له خپل تخت راکوز شو او د ده درناوی ئې وکړ او په خپلې خوا کې ئې

کښېناوو او په پوره دقت سره د ده خبرو ته غوږ شو، خو چې کله ئې عبدالمطلب داسې وموند چې یوازې د غارت شوو څارویو او اوښانو د استرداد مطالبه کوي او پر مکې د برید او د کعبې د نه ورانولو په اړه هیڅ نه وایي، هغه ته ئې مخ واړاوو او ورته وئې ویل: ستا د څېرې په لیدو سره تر اغېز لاندې راغلم او یو درومند مشر راته وځلېدې خو ستا خبرو او د څو څارویو مطالبې دي زما په نزد هغه وقار راکم کړ، عجیبه ده چې ته د خپلو اوښانو د استرداد خبره کوې، خو د خپل معبد په اړه چې ستاسو د نیکونو دیني مرجع ده څه نه وایې!! عبدالمطلب د ده په ځواب کې وویل: زه د خپلو اوښانو خاوند یم نو ځکه ئې مطالبه کوم، دا کور ځانته خپل مالك لري هغه به ئې په خپله ساتنه کوي. ابرهه ورته وویل: هیڅوك ئې نه شي ساتلی، عبدالمطلب ورته وویل: ته پوهېږې او هغه، دا ئې وویل، پورته شو، خپل اوښان ئې تر لاسه کړل او مکې ته ستون شو.

ځینې نور بیا وایي چې حرم ته نژدې، د طائف او عرفات تر منځ د الصفاح نومې سیمې ته د ابرهه له رسېدو وروسته عبدالمطلب په خپله هلته ورغی او ابرهه ته ئې وویل: له موږ څه غواړې؟ ولې دي په مکې برید ته ملا تړلې؟ که زموږ مال دولت دي مقصد وي موږ حاضر یو له جګړې پرته ئې درکړو... ابرهه ورته وویل: ما اورېدلې چې دا د امن کور دئ، راغلی یم چې امنیت ئې پای ته ورسوم، عبدالمطلب په ځواب کې ورته وویل: دا د خدای کور دئ، الله تعالی تر اوسه هیڅوك نه دئ پرېښی چې پرې مسلط شي، ابرهه وویل: تر هغه چې وران ئې نه کړم هیڅکله به بېرته ونه ګرځم. همدا ئې وویل او لښکر ته ئې د مخکې تلو امر وکړ.

عبدالمطلب مکې ته راوګرځېدو او د مکې خلکو ته ئې وویل: د دې ستر لښکر د مقابلې توان نه لرو، باید له مکې ووځو، غرونو او درو ته پناه یوسو، د مکې اوسېدونکو ښار تخلیه کړ، عبدالمطلب له ځینو مشرانو سره د کعبې حرم ته ولاړ، د کعبې زنځیر ئې ونیو او دا دعاء ئې وکړه: الهي! بنده له خپل کور دفاع کوي ته هم د خپل کور ساتنه وکړه، مه پرېږده چې د دوی صلیب برلاسی شي او د دوی تدبیر ستا پر تدبیر غالب شي، د صلیب پر آل او پالونکو ئې خپل بندګان غالب کړه، الهي! له تا پرته بل څوك نه لرو چې پناه وروړو او مرسته تړې وغواړو، ته په خپله خپل حرم د دوی له شره وژغوره.

دا روایات داسې دي چې ګواکې قریشو هیڅ مقاومت نه دئ کړی، له مکې ئې دفاع نه ده کړې، ښار ئې پرېښی او غرونو او درو ته ئې پناه وړې!! ځینې نور بیا دا روایات ضعیف او غیر قابل اعتناء ګڼي او وایي چې دا څنګه ممکنه ده چې د لارې په اوږدو کې حتی په خپله یمن کې دي نور قبائل د ابرهه مقابله وکړي او قریش؛ دا د کعبې متولیان دي

هيڅ مقاومت ونه کړي او د کعبې په ورانېدو دي راضي شي او هيڅ غېرګون دي ونښيي؟! دوی وايي: دا صحيح ده چې قريشو مکه تخليه کړې، خو نه د تېښتې په نيت، بلکې د مخامخ جګړې په ځای په وړو وړو ټولګيو سره پر دښمن د ناڅاپي حملو لپاره، هغوی خپلې کورنۍ وايستې خو ځوانانو او غشي ويشتونکو ئې په غرونو او درو کې دښمن ته کمينونه ونيول، چريکي جنګ ئې پيل کړ او وخت نا وخت ئې پر دښمن بريدونه پيل کړل.

ځيني وايي چې د منٰى او مزدلفې تر منځ وادي محسر ته د ابرهه د لښکر له رارسېدو سره سم د ابرهه د لښکر سپين فيل چې محمود يا محموت ئې ورته ويل او د لښکر په مخکې به روان وو، ځای پر ځای ودرېد، له مخکې تلو ئې ډډه وکړه، په لرګيو ئې وواهو، د اوسپني په تېزو سيخونو ئې وچخاوو خو ونه خوځېدو، چې مخ به ئې په بل لوري واړاوو نو چست او چالاك به روان شو خو چې د مکې په لوري به ئې رواناوو له تلو ئې ډډه کوله!! په همدې وخت کې د ساحلي مرغانو ډلې ډلې راغلې، هر يوه په خپلې منښوکې او منګولو کې وړې وړې تيږې نيولې وې او د ابرهه پر لښکر ئې ورولې، په چا چې به دا تيږې ولګېدې سخت به ټپي شو، له زخمونو به ئې وينې او نو بهېدو، غوښه به ئې ورسته شوه او وبه رژېده.

ځيني مؤرخان په دې عقيده دي چې د دې لښکر په ليکو کې د چيچك بيماري خوره او د ډېرو د مرګ باعث شوه، ځيني نور بيا وايي چې دا مرغان په اصل کې غوښه خواره مرغان وو چې د لښکر د تيت پرك کېدو او په دوی کې د ډېر مرګ وروسته سيمې ته راغلي او د مړو د غوښو په خوراك بوخت شوي، وايي چې دغو مرغانو د ابرهه پر لښکر تيږې نه دي ورولې، بلکې د قريشو جنګيالو په مچلوغزو سره پر دوی تيږې ورولې، د دوی پرله پسې او ناڅاپي بريدونه له يوې خوا، په لښکر کې اختلاف له بلې خوا، د بيماريو خورېدا له بلې خوا د دې باعث شوي چې دا لښکر له ماتې سره مخامخ شي، ببلې ببلې ډلې ئې په نامنظمه توګه په ببل ببل استقامت وخوځېږي او ځای ځای کې تر بريدونو لاندې راشي او له لږ شمېر پرته ټول لښکر له منځه ولاړ شي.

د محققانو دا ډله استدلال کوي چې د ابرهه لښکر په وادي محسر کې له منځه تللی او د دې وادي تيږې همغسې دي چې قرآن ئې معرفي کوي: سجيل (خټيني ډبرې)، پخې خټې ته ورته تيږې او وايي چې په دې سوره کې د (ترميهم) صيغه د سورې مخاطب قريشو ته متوجه او معنی ئې دا ده چې تا په تيږو ويشتل، پر مرغانو د دې صيغې اطلاق صحيح نه ګڼي، همدا راز په دې خبرې تأکيد کوي چې له ديني مقدساتو د دفاع په اړه د الله تعالی سنت دا نه دئ چې په خارق العاده توګه او پرته له دې دفاع وکړي چې په دې مقدساتو

باور لرونکي د دفاع لپاره راوړاندي شي. بلکي سنت ئې دا دئ چې د هغو خلکو مرسته کوي چې له دغو مقدساتو د دفاع په خاطر ملا وتړي. کعبه ډېر ځلي د سېل په شان طبيعي حوادثو کې او د جګړو په ترڅ کې ورانه شوې، حتی د مسلمانانو تر منځ د جګړو په ترڅ کې، څو ځلي ئې صدمه ليدلې او ځيني برخي ئې وراني شوې، د ابرهه د حملې په دوران کې د مکې اوسېدونکي دښمن ته تسليم شوي نه دي، غرونو ته ختلي او پر دښمن ئې بريدونه پيل کړي، الله تعالی خپل تأييد او نصرت پرې پېرزو کړی او هر غشی ئې هدف ته سم کړی، د دښمنانو په زړه کې ئې وېره او خوف اچولی او د بريا لپاره ئې ټول شرائط برابر کړي، دوی د بدر او احزاب د جګړو ېېلګې د دې خبرې په تأييد کې وړاندي کوي او د اصحاب فيل قصه دې ته ورته ګڼي. د دې عبرتناکې تاريخي قصې په ترڅ کې د قريشو مغرورو سردارانو ته ويل شوي چې له پيغمبر عليه السلام سره له دښمنۍ لاس واخلئ، له دښمنۍ ئې له دې پرته بله نتيجه نه شئ تر لاسه کولی چې مغرور ابرهه او مجهز لښکر ئې ورسره مخامخ شو.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ﴿١﴾ أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ ﴿٢﴾ وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ﴿٣﴾ تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ﴿٥﴾

١- خبر نه يې! ستا رب له فيل والو سره څه وکړل؟ ٢- آيا بې لاري ئې نه کړ د دوی چل؟ ٣- او پر دوی ئې خېلونه د مرغانو ونه لېږل؟ ٤- د سجيل په تيږو دي ويشتل. ٥- نو ده د خوړل شوو واښو په څېر کړل.

١- د دې آيت مخاطب هر اورېدونکی او هر مخاطب دئ، دا آيت د هغو مغرورو فيل دارانو عبرتناکه پايله د هر مخاطب مخي ته ږدي چې د کعبې د ورانولو لپاره ئې پر مکې برید وکړ، خو له سختي ماتي او تباهۍ سره مخامخ شول. او په دې سره له يوې خوا پيغمبر عليه السلام ته اطمئنان ورکوي چې د دښمن د زور ځواك او ګواښونو پروا مه کوه، ډاډه اوسه چې دوی به د ابرهه په برخليك اخته کېږي، له بلې خوا د ده باايمانه يارانو او ملګرو ته ډاډ ورکوي چې که صبر وکړئ، د دغو مغرورو سردارانو په مقابل کې به داسي بريالي شئ لکه د قريشو ځوان جنګيالي د ابرهه د مجهز لښکر په مقابل کې، همدا راز د

قريشو سردارانو ته اخطار ورکوي چې په خپل زور ځواك مه مغروره کېږئ، له پيغمبر عليه السلام سره ستاسو مخالفت همغسي دئ لکه د ابرهه او ستاسو؛ او ستاسو د پلويانو پايله به هم همغسي وي لکه د ابرهه او لښکر ئې.

۲- مګر د دوی کيد او تدبير ئې بې حاصله نه کړ او پايله ئې په خپله د دوی په تاوان نه وه؟ مګر ودي نه ليدل چې الله تعالی پرې نښود چې د ابرهه غشی په نښه ولګېږي؟ کومه تيره چې ده د بل لپاره پورته کړې وه ودي نه ليده چې په خپله د ده پر پښو راپرېوته؟ ده غوښتل د کعبې اعتبار ختم کړي، ورانه او له زمکې سره ئې برابره کړي، د دې لپاره ئې ستر او مجهز لښکر برابر کړ، د برید لپاره ئې ښه بهانه جوړه کړه، د خپل قوم او سرتېرو احساسات ئې راوپاروول او هغوی ئې برید ته تيار کړل، خو ومو ليدل چې خيرالماکرين خدای د ده دسيسه شنډه کړه، مجهز فوځ ئې ورتباه کړ، دی او دده رومي بادار ئې خاسر او نامراد کړل. د دې مجهز فوځ ماتې او تباهي د کعبې اعتبار لا زيات کړ او ټولو ته ئې ثابته کړه چې د دې مقدس کور او د دغه الهي معبد خاوند الله تعالی دئ، د هر تېري په وړاندي به ترې دفاع کوي.

۳- که څه هم اکثرو مفسرينو د مرغانو لېږل د ابرهه پر فوځ د تيږو د ورولو لپاره ګڼلي او د هغو مفسرينو شمېر لږ دئ چې وايي دا مرغان د لښکر له ماتې او تباهي وروسته راغلي او غوښه خوړونکي مرغان ول، خو د دې سورې په متن کې دوه مضبوط دلائل داسي دي چې د دوهمي ډلي مفسرينو رأيه تأييدوي:

- مخکينی آيت ښيي چې د ابرهه د فوځ کار تمام شوی، توطئه ئې شنډه شوې، پېښه د دوی په ضرر او تاوان پای ته رسېدلې، له ماتې سره مخامخ شوي او مرګ ژوبله وراوښتې او دا مرغان له دې وروسته راغلي. د دوهم او درېيم آيت ترتيب دغه حقيقت په ګوته کوي.
- د سورې په وروستي آيت کې ويل شوي چې د ابرهه د لښکر مړي داسي په صحراء کې خواره واره پراته وو لکه خوړل شوي واښه، له دې په وضاحت سره معلومېږي چې د دوی اجساد خوړل شوي، چا خوړلي؟ آيا له دغو مرغانو پرته د بل څه نوم اخيستی شو؟ نه خو دا سوره اجازه راکوي چې د بل څه نوم واخلو او نه په هغي وچې بيديا کې له دغو مرغانو پرته بل داسي څه پيدا کېږي چې د دومره لوی لښکر مړي دي په دې حالت اخته کړي!! په داسي حال کې چې دا سوره په خپله مور ته وايي چې خپل خپل مرغان پرې رااستول شوي، مور حق نه لرو د بل څه نوم واخلو.

له دې علاوه د عربو د هغه وخت په ادبياتو کې د ډېرو شعراءو په اشعارو کې وينو چې کله به ئې غوښتل د خپل قوم مېړانه او په جګړې کې د دوی زړه ورتيا او پياوړې متې

وستايي نو ويل به ئې: موږ هغه توريالی قوم يو چې کله د دښمن مقابلې ته درومو نو غوښه خوړونکي مرغان راسره يو ځای زموږ پر سر وزر وهي او مخکې مخکې درومي او د جګړې تر ميدان زموږ مشايعت کوي او پوهېږي چې موږ به د دښمن ډېر جنګيالي له تورو تېر او د مرغانو د خوراك به ئې کړو.

٤- په دې آيت کې د (ترميهم) د صيغې په اړه د مفسرينو تر منځ د اختلاف شاهد يو: ځيني ئې د مفرد مؤنث صيغه ګڼي او اطلاق ئې په مرغانو کوي او وايي: مرغانو په وړو وړو تيږو ويشتل. خو ځيني نور ئې د مفرد مخاطب صيغه ګڼي او اطلاق ئې د دې سورې په قريشي مخاطب کوي او ترجمه ئې داسي کوي: تا دوی په تيږو ويشتل. هغه هم نه کلکې تيږې بلکې له خټو جوړې شوې تيږې، خو ستا رب ستا په دغه ناخيزه هڅې دا ستره نتيجه مرتب کړه چې د فيلدارانو هغه ستر لښکر ئې د مرغانو د خوراك کړ.

د دوهمې ډلې مفسرينو د رأيې په ملا تړ کې څو مضبوط دلائل شته:

الف: د سورې له آيتونو معلومېږي چې دا مرغان د پېښې په پای کې او هغه وخت خپل خپل راغلي چې د ابرهه لښکر په ماته او مرګ محکوم شوی او مرغان د غوښو د خوراك لپاره راغلي. که د دغو مرغانو کار د تيږو ويشتل وی نو د مړو غوښې چا خوړلې؟

ب: که د آيتونو تسلسل او ترتيب داسي وی:

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ*	١- خبر نه يې! ستا رب له فيل والو سره څه وکړل؟
وَ أَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْراً أَبَابِيلَ *	٢- او پر دوی ئې خپلونه د مرغانو ونه لېږل؟
تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ *	٣-د سجيل په تيږو دي ويشتل.
أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ*	٤- آيا بې لاري ئې نه کړ د دوی چل؟
فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ*	٥- نو ده د خوړل شوو واښو په څېر کړل.

که څه هم دا ترتيب ډېر بې خونده دئ او د سورې له ترکيب سره اړخ نه لګوي؛ خو که فرضاً داسي وی نو بيا مو ويلی شوی چې د مرغانو راتګ او د دوی له خوا پر لښکر د تيږو وربېدل، د مرګ ژوبلې سبب وو.

خو په دې صورت کې به هم له دې اشکال او بې ځوابه پوښتنې سره مخامخ وو چې کومو غوښه خوړونکو دا مړي د خوړل شوو واښو په څېر کړي وو؟ په هغې وچې صحراء کې خو داسي ځناوران او بيا په دومره شمېر کې نه وو.

ج- د رمی (ويشتلو) فعل له انسان سره جوړېږي، مرغه ته ئې نسبت ورکول معقول نه دئ؛ دا ځکه چې مرغان ورول کولی شي خو ويشتل نه شي کولی، په آيت کې د ويشتلو صيغه راغلې او ويشتل لاس ته ضرورت لري.

د- عربان د هغو تيږو لپاره د حجارة لفظ استعمالوي چې د موټ په اندازه يا تر دې لويه وي، د وړو تيږو لپاره د حصاة نوم کاروي، په جمراتو کې چې کومي وړې تيږي ويشتل کېږي، هغوی ته حصاة وايي لکه په يوه حديث کې چې راغلي:

فرمى بسبع حصَياتٍ، يُكبِّرُ معَ كلِّ حَصَاةٍ، ..... البخارى

نو اُوه وړې تيږي ئې وويشتې او له هري تيږي سره به ئې الله اکبر وايو.

که د مرغانو له خوا د تيږو ورول مقصد وی نو د حجارة په ځای به حتماً د حصاة نوم راتو.

هـ - او تر ټولو مهمه او اساسي خبره دا ده چې قرآن له مقدساتو د دفاع په اړه د الله تعالی سنت داسي بيانوي:

.... ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠ الحج

... او که د الله دا ځيني خلك په ځينو نورو دفع کول نه وی نو خامخا به صومعې، د نصرانيانو او يهودانو معبدونه او هغه جوماتونه چې الله ډېر ډېر په کې يادېږي ټول به وران شوي وو او الله به حتماً د هغه چا ملاتړ وکړي چې د ده ملتيا کوي، بې شکه چې الله عزټمن ځواکمن دئ.

دا آيت په پرېکنده توګه اعلان کوي چې الله تعالی له ديني شعائرو او مقدسو ځايونو په دې توګه دفاع کوي چې يوه ډله په بلې ډلې دفع کوي، د خدای پالونکو په لاس هغه خلك دفع کوي چې غواړي د عبادت ځايونه وران کړي، کله چې له شعائرو د دفاع لپاره خدای پالونکي ملا وتړي؛ الله تعالی ئې مرسته کوي او په دين دښمنه ځواکونو ئې برلاسي کوي، که دا الهي سنت نه وی نو د عبادت ټول مخکيني او اوسني ځايونه به وران شوي وو!! د دې معنی دا ده چې الله تعالی په خارق العاده توګه له دغو ځايونو دفاع نه کوي، له انسانانو پرته ئې په خپلو نورو لښکرو نه ساتي، په انسانانو ئې هم يوازي هلته ساتي چې دوی ئې ساتني ته ملا وتړي. تر هغه چې د الهي نصرت لپاره شايسته او وړ خلك راپيدا نه شي الله تعالی خپل نصرت او تأييد نه نازلوي. که داسي نه وی نو کعبه به په طبيعي پېښو کې نه ورانېده او په داخلي جګړو کې به تاوان نه وررسېدو.

د مفسرينو د لومړۍ ډلې تفسير له دې آيت او الهي سنت سره اړخ نه لګوي. ډېره عجيبه ده چې څوك د دې سورې داسي تفسير مني چې د قرآن له دې محکم او څرګند

آيت سره تعارض لري، که څوك دا ادعاء کوي چې الله تعالى د مرغانو په واسطه د ابرهه په لاس د کعبې له ورانېدو مخنيوى کړى، نو هغه به دا آيت څنګه توجيه کوي؛ او دا تعارض به څنګه رفع کوي؟!! په قرآن کې خو تناقض نشته، د قرآن يو آيت خو د بل وضاحت کوي، د قرآن د يوه آيت داسې تفسير خو د منلو نه دئ چې له بل آيت سره تعارض ولري!!

و: دا خبره د منلو نه ده چې نورو قبائلو حتى په خپله يمن کې د ابرهه مقابله کړې او قريش چې د کعبې متوليان وو، هيڅ مقاومت نه دئ کړى، تسليم شوي او د کعبې په ورانېدو راضي شوي!! دا هم په داسې حال کې چې لا د مخه خبر وو چې ابرهه د کعبې د ورانولو اراده کړې، کافي وخت ئې درلود، د جنګ لپاره ئې تياری نيولى شو، تر ناڅاپي بريد لاندې نه دي راغلې، سيمه ئې غرنۍ ده، د چريکي جنګ لپاره ئې مساعد شرائط درلودل، زړه ور او توريالي جنګيالي ئې درلودل، په جګړو کې تر ټولو قبائلو تکړه او غښتلي ول، د جنګي پياوړتيا له کبله ئې تل پر نورو قبائلو حکومت کړى او همدغې وړتيا د ټولو عربو قيادت ورپه برخه کړى وو. څنګه ومنو چې دا قوم به له مقاومت پرته دښمن ته تسليم شوى وي. مخصوصاً که دا خبره هم په پام کې ولرو چې د القليس د کليسا هغه سپکاوى هم دغو قريشي زلميانو له کعبې د دفاع په جذبه کړى، که دوى په يمن کې دا کار کولى شو په مکه کې به څنګه دښمن ته تسليمېدل؟!!

په لږ دقت سره په دې خبرې پوهېدى شو چې د مفسرينو لومړۍ ډله د هغو روايانو تر اغېز لاندې راغلې چې تر اسلام مخکې د جاهليت له زمانې تر لاسه شوي او د قرآن دغه آيتونه ئې د همدغو روايانو له مخې تفسير کړي!! خو دوهمې ډلې قرآن په قرآن سره تفسير کړى او د خپل تفسير لپاره ئې پوره دلائل وړاندې کړي.

۵- دا آيت وايي چې د ابرهه لښکر داسې خور وور شو چې صحراء د دوى په مړو ډکه شوه، هري خوا ته د خوړل شوو واښو په څېر تيت پرك پراته وو. دا آيت که له يوې خوا د دوى عبرتناکه ماته او د هغه څرنګوالى په ډېر واضح توګه بيانوي له بلې خوا مورږ ته ښيي چې د دوى مړي د دغو ياد شوو خپل خپل مرغانو له خوا د خوړل شوو واښو په څېر (کعصف مأکول) شوي.

د دې تفسير له لومړي چاپ وروسته د قرآن يوه خدمتګار عالم مرحوم مولينا ګوهر رحمٰن چې الله تعالى دي ده او ټولو هغو خلکو ته ډېر ډېر اجر ورکړي چې د قرآن په درس او تدريس لګيا دي، د قرآن د پلي کولو لپاره جهاد کوي او قرآن ته خلك رابلي؛ ما ته ئې د دې سورې د شرحي او تفسير په اړه يو خط رالېږلى وو او خپل ملاحظات ئې ليکلي

وو او ما ورته په ځواب کې څه عرائض درلودل چې ځینې برخې ئې دلته رانقلول مفید ګڼم:

محترم مشر ورور مولینا صاحب ګوهر رحمن! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته و بعد:

ستا لیك راورسېد، ډېره مننه، د قرآني علومو په نشر او د قرآن لورې ته د خلکو د رابللو په کار کې تا ته له الله تعالی مزید توفیق غواړم، الله تعالی مو بریالی او موفق لره، ستا د لیك په ځواب کې په اختصار سره عرض کوم:

۱- د الفیل د سورې په اړه چې تاسو کومه رأیه لرئ زه هم نژدې څلوېښت کاله په دغه رأیه وم، دا رأیه مي د کورنۍ له غېږ، مدرسې او ځینو تفسیرونو اخیستې وه، خو څو کاله مخکې مي د دې سورې په اړه د علامه حمیدالدین فراهي تفسیر مخې ته راغی، د علامه قوي او مضبوط استدلال، په نورو آیتونو د ده دقیق استناد، ژور نحوي تحقیق، تاریخي دلائل او روایتي بحثونه مي دومره قوي او قانع کوونکي وموندل چې ناچار مي مخکینۍ رأیه پرېښوده او د ده دلائل او رأیه مي ومنله. د زړه له کومې ده ته دعاء کوم او تل به د ده ممنون یم چې د ده په واسطه په یوه حقیقت پوه شوی یم، زه په دې باور یم چې هر څوك د علامه دلائل په سړه سینه او له تعصب پرته ولولي حتماً به له ده سره توافق کوي.

ډېر کلونه د مخه د تفهیم القرآن د مطالعې په دوران کې مي د علامه فراهي په رأیې د مولینا مودودي (رحمه الله) هغه نقد هم لوستلی چې په ډېر درنښت او احترام سره ئې کړی (په داسې حال کې چې د علامه د علمي تحقیقاتو ډېره ستاینه او قدر کوي) او اوس مي ستاسو هغه نقد هم ولوست چې تاسو یوه پاکستاني ورور ته په خپل لیك کې ذکر کړی. باور وکړئ چې دا دواړه نقدونه مي نه یوازې ناوارد موندلي بلکې د علامه فراهي د تفسیر په سموالي ئې زما باور لا زیات مضبوط کړ او په دې باور یم چې هر عادل او منصف قضاوت کوونکی به د دې نقدونو په اړه همدا قضاوت کوي.

که اجازه راکړئ چې د دغو آراءو او د علامه فراهي د رأیې تر منځ قضاوت وکړو نو د علامه رأیه به په قرآن کې د ژور تدبر نتیجه او تفسیر القرآن بالقرآن ګڼو او د نورو آراء به تفسیر بالروایة، پرته له دې چې له قرآن کوم دلیل ورته وړاندې کړی شي او دا ضرورت احساس کړي چې روایتونه قرآن ته راجع کړي او روایتونه ئې هم له اسلام د مخکې زمانې چې اهمیت ئې تر تاریخي روایاتو زیات نه دئ.

تاسو د علامه فراهي د رأیې په اړه په خپل نقد کې لیکلي چې د سلف او صحابه وو په

مقابل کې داسې رأيي ته اهميت نه شو ورکولی!! په دې اړه څو ټکي له تاسو سره يادول غواړم:

دا سمه ده چې صحابه رضوان الله عليهم د قرآن لومړي حاملان دي او د قرآن په ژبه، اسرارو او رموزو تر هر چا زيات او ښه پوهېدل او تر هر چا زيات ئې د هر آيت مفهوم او هغه ظروف او شرائط درک کولی شوی چې دا آيت په کې نازل شوی، لازمه ده چې د دوی رأيي ته جدي اعتناء ولرو او په نورو آراءو ترجيح ورکړو، په دې اړه هيڅوک له تاسو سره هيڅ اختلاف نه لري، اختلاف په دې کې دئ چې آيا کولی شو ثابته کړو صحابه وو ته منسوب آراء واقعاً د دوی آراء دي که نه؟ آيا هغه روايات چې مورږ ته رارسېدلي مؤثق دي او راوي ئې ثقه دئ که نه؟ علامه فراهي د تحقيقاتو په ترڅ کې دې نتيجې ته رسېدلی چې د (الفيل) د سورې په اړه روايات ضعيف او بې بنسټه دي، وايي: (ټول دغه روايات په پای کې محمد ابن اسحاق ته ورګرځي او دی د محققينو له نظره ضعيف او غير ثقه دئ او په دې متهم دئ چې اکثراً له يهودي منابعو روايت کوي.) خو که مورږ د علامه فراهي د نظر خلاف له تاسو سره دا ادعاء ومنو چې ابن اسحاق له يهودي مراجعو روايت نه دئ کړی، آيا د ابرهه د لښکر د پايلې په اړه د ده روايات له کفارو قريشو نه دي تر لاسه شوي؟ هر څوک په دې پوهېږي چې دا پېښه د پيغمبر عليه السلام تر ميلاد مخکې شوې او چا چې د دې پېښې په اړه څه ويلي هغه قريش دي چې کافر ول او د پيغمبر عليه السلام تر ميلاد مخکې مړه شوي، آيا کولی شو په دغو رواياتو اعتماد وکړو؟ آيا کولی شو په دوی کې کوم مؤثق راوي وموموو؟ پوښتنه کوو چې ابن اسحاق دا روايات له چا نقل کړي او څنګه ئې دوی او د دوی روايات مؤثق ګڼلي؟

د علمي تحقيق تقاضی دا ده چې داسې روايات يوازې هغه وخت ومنو او د استناد وړ ئې وګڼو چې له قرآن سره تصادم ونه کړي. مخصوصاً هغه وخت چې په يوې قضيې کې مختلف روايات ترسترګو کېږي او يا ګورو چې مختلف روايات يوه راوي ته منسوب کېږي، د اصحاب الفيل په اړه روايات هم له دې لحاظه مختلف دي چې د مرغانو شکل څنګه او رنګ ئې څنګه وو او هم له دې پلوه چې دا تيږي څنګه وې او حجم ئې څومره!! او د دې تر څنګ ګورو چې يوه راوي ته متضاد روايات منسوب شوې. د دغو مختلفو او متضادو رواياتو تر منځ د قضاوت لپاره او له دې کبله چې پوه شو کوم يو ئې مؤثق دئ او د منلو وړ او کوم ئې غير مؤثق او د نه منلو، له دې پرته بله لار نه لرو چې قرآن ته ئې راجع کړو او په هغه صورت کې ئې ومنو چې له قرآن سره اړخ لګوي او يا لږ تر لږه له قرآن سره تصادم نه کوي. علامه فراهي په ګڼ شمېر آيتونو استناد کړی او دا ئې ثابته کړې چې دا

روايات ضعيف او بې بنسټه دي.

زه به ځيني هغه دلائل ستاسو مخي ته کښېږدم چې د علامه فراهي له رأيي سره موافقو کسانو وړاندي کړي، په سر کې هغه دلائل چې د سورې په متن کې زمونږ مخي ته راځي:

۱- د سورې له دوهم او درېيم آيت په وضاحت سره معلومېږي چې لومړی د ابرهه لښکر ختم شوی ښيا د مرغانو خپل خپل د دوی د مړو د غوښو خوړلو لپاره راغلي. که لومړی دا آيت (وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ) او ورپسې دا آيت (أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ) راغلی وی نو په هغه صورت کې مو ويلی شو چې د ابرهه د لښکر کيد د مرغانو په لېږلو سره شنډ شوی. خو برعکس ګورو چې لومړی د (کيد تضليل) راغلی او بيا (ارسال طير).

۲- آخري آيت (فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ) ښيي چې د ابرهه د لښکر مړي د خوړل شوو واښو په څېر خواره واره شوي، يعني کوم غوښه خوړونکي راغلي او دوی ئې په دې برخليك اخته کړي!! که وغواړو دا غوښه خوړونکي وپېژنو نو له دغو لېږل شوو مرغانو پرته بل څه نه شو په ګوته کولی. دا ځکه چې لومړی د مرغانو د لېږلو خبره شوې او بيا ورپسې د دوی د (کعصف مأکول) کېدو. په دې اړه هره بله توجيه کمزورې او تفسير بالرأی ده چې هيڅ دليل ورته نه شي وړاندي کېدی.

۳- په آخري آيت کې د (فَجَعَلَهُمْ) لفظ ښيي چې په مخکينيو آيتونو کې به حتماً هغه علت ته اشاره شوې وي چې په نتيجه کې ئې د ابرهه لښکريان (كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ) شوي، په (فَجَعَلَهُمْ) کې د (فاء) توری همدا مطلب په ګوته کوي، هغه (علت) چې د (فاء) توری ورته اشاره کوي په هيڅ صورت کې (رمي حجاره) نه شي کېدی، دا ځکه چې له يوې خوا د (فَجَعَلَهُمْ) او (تَرْمِيهِم) افعالو تر منځ د فاعل اشتراك نشته او له بلې خوا د (رمي) او (خوړل کېدو) تر منځ هيڅ تناسب نه شو ښودلی، د علت او معلول تر منځ بايد د فاعل او فعل اشتراك او تناسب وي، د دې لپاره بايد د خوړل کېدو بل سبب او علت پيدا کړو، په لږ دقت سره متوجه کېږو چې علت ئې د مرغانو راتګ دئ نه بل څه، دا ځکه چې له يوې خوا د (وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ) او (فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ) فاعل يو دئ او له بلې خوا د علت او معلول تر منځ تناسب شته، دا ځکه چې د مرغانو خپل خپل کولی شي د يوه لوی لښکر مړي د خوړل شوو واښو په څېر کړي.

همدا راز د تيږو په ويشتلو سره کولی شو لاس پښې مات کړو او حتی اجساد سوري سوري کړو خو (كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ) کولی ئې نه شو، مخصوصاً د وړو مرغانو په (رمي) سره. همدا راز د (رمي) فعل په هيڅ صورت کې مرغانو ته نه شو منسوبولی، دوی تيږي ورولی

شي خو ويشتلی ئې نه شي.

تاسو د (ترميهم) صيغې په اړه ليکلي چې دا د طيراً دوهم صفت دئ او ويلي مو دي چې که څه هم (طير) لفظاً مذکر دئ خو مراد ترې د مرغانو جماعت او ډله ده او د جماعت لفظ مؤنث دئ، نو ځکه ئې د مؤنث ضمير لپاره مرجع ګڼلی شو!! په دې اړه څو عرائض لرم:

الف- په دې آيت کې (ترميهم) په کوم دليل د مفرد مؤنث غائب صيغه نيسئ؟ ولې ئې مفرد مخاطب نه ګڼئ؟ په داسې حال کې چې د دې سورې په هيڅ آيت کې مفرد مؤنث فاعل نه دئ ذکر شوی، خو په لومړي آيت کې ئې مفرد مخاطب راغلی، په کار خو دا وه چې د الله تعالی په بليغ کلام کې له هر راز لاسوهنې پرته مو د ترميهم صيغه هغه فاعل ته راجع کولی چې په سوره کې ئې ذکر شوی او له خپله ځانه مو داسې فاعل ورته نه جوړولی چې د سورې په هيڅ آيت کې ئې نه شو موندلی، مګر دا يو بې ځايه تکلف او جسارت نه دئ چې څوک دلته له خپله ځانه د يوه مؤنث فاعل راپيدا کولو بې ځايه هڅه کوي او د جماعت لفظ پرې علاوه کوي؟ همدا راز څوک چې وايي (طير) لفظاً مفرد مذکر او معناً اسم جنس دئ چې جمع افاده کوي، نو ځکه د (ترمي) صيغه ورته راغلې، هغوی ته وايو: که هغه اسم جنس ونيسو بايد د جمع صيغه ورته کارول شوې وی لکه په دې آيت کې:

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صَٰٓفَّٰتٖ وَيَقۡبِضۡنَۚ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحۡمَٰنُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءِۭ بَصِيرٌ ١٩ الملك

مګر د خپل سر د پاسه مرغانو ته ئې نه دي کتلي چې کله خلاص وزري شي او کله ئې راغونډوي، له رحمن خدای پرته ئې هيڅوک نه ساتي، بې شکه چې هغه خو پر هر څه نظر ساتی دئ.

ګورئ چې دلته د (الطير) لپاره د صافات، يقبضن او يمسکهن د جمع صيغې کارول شوې! (طير) ته د (رمي) د انتساب په صورت کې اولی دا وه چې د جمع صيغې ورته راغلې وی. او که دا مفرد ګڼئ بيا خو بايد د (يرميهم) صيغه راغلې وی، لکه څنګه چې يو شاذ قرائت همداسې دئ، ستاسو تعبير خو د دغه شاذ قرائت مطابق دئ!! عجيبه ده؛ شاذ قرائت نه منئ او ترجمه ئې منئ!!

ب: د جماعت لفظ په دې دليل دلته مقدر نه شو ګڼلی چې له يوې خوا داسې تقدير يوازې په هغه صورت کې سم کار دئ چې له دې پرته بله چاره ونلرو او له بلې خوا د ابابيل لفظ په خپله جمع جمع ده او د محققينو په نظر مفرد نه لري، له جمع جمع سره

څنګه جماعت هم علاوه کوئ؟ د نحوي قواعدو له مخې به دې ته څه جواز مومو؟ او له بلې خوا داسې تقدیر په هغه صورت کې د منلو وړ دئ چې د جملې له جوړښت سره اړخ ولګوي، د دې آیت (وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ) په کوم ځای کې تاسو کولی شئ چې د (جماعت) لفظ داسې علاوه کړئ چې د آیت ترکیب په خپل حال پاته شي؟

د مفسرینو د لومړۍ ډلې تفسیر؛ لوستونکي ته دا انتباه ورکوي چې که احیاناً دین او دیني مقدسات له خطر او ګواښونو سره مخامخ شول نو د دفاع کار ئې الله تعالی ته پربږدئ، چې په خارق العاده توګه ئې وساتي او د دښمن خطر دفع کړي!! دا تعبیر د قرآن له روح سره سمون نه خوري او د داسې تعبیر لپاره له قرآن هیڅ دلیل نه شو وړاندي کولی!! قرآن به څنګه دا خبره کوي په داسې حال کې چې د بني اسرائیلو دا وینا غندي چې دوی موسی علیه السلام ته وویل: فَاذْهَب أنت وَ رَبُّك فَقَتِلا إِنَّا هَهُنَا قَعِدُونَ: ته او رب دي ولاړ شئ او وجنګېږئ مونږ به دلته ناست وو!!

هر قرآن پوه په دې خبرې ښه پوهېږي چې د قرآن وینا د نوموړي تعبیر خلاف او داسې ده چې کله یو مؤمن ټولګی له مقدساتو د دفاع لپاره ملا وتړي، الله تعالی ئې مرسته کوي او پر دښمن بری ورکوي که څه هم د دوی شمېر د دښمن په پرتله کم وي او تجهیزات ئې محدود. د نصرت په اړه د الله تعالی سنت داسې دئ چې یوازې هغه وخت ئې رالېږي چې د نصرت لپاره مناسب ظرف او وړ ټولګی راپیدا شي. له کعبې دفاع باید د دغه الهي سنت مطابق تر سره شوې وي. که څوک داسې رأیه وړاندي کړي چې له دې الهي سنت سره سمون نه خوري او د قرآن له نورو آیتونو سره په څرګنده توګه تصادم کوي، نو په قرآن د ایمان تقاضی دا ده چې داسې رأیه ونه منو. د مرغانو په واسطه له کعبې دفاع له دغه الهي سنت سره قطعاً نه جوړېږي!!

هـ: هغه خلك چې ګمان کوي د مرغانو په لاس د ابرهه د لښکر ختمول داسې دي لکه د فرعون او نوح علیه السلام د قوم غرقېدل او د عاد او ثمود هلاکت په زلزلې او توندي سیلۍ سره؛ دوی دوه ستر اشتباهات کوي:

لومړۍ: دا چې نوموړي قومونه د پیغمبرانو علیهم السلام له بعثت او اتمام حجت وروسته هلاك شوي؛ نه له دې د مخه. خو د ابرهه لښکر د رسول الله صلی الله علیه و سلم له بعثت مخکې تباه شوی.

دوهمه: دا چې پر دغو قومونو نازل شوي عذابونه ټول د طوفان، سیلۍ او زلزلې په څېر طبیعي عذابونه دي، خو د وړو مرغانو په لاس د تیږو ویشتل غیر طبیعي او خارق العاده کار دئ چې په قرآن کې ئې بېلګه نه ګورو. دا له هغو عذابونو سره نه شو تشبیه

کولی.

ځيني خلك داسي وي چي د کم شمېر جنګيالیو په لاس د يوه لوی لښکر ماته ئې زړه ته نه لوېږي او عقل ئې نه مني، ناچار د داسي ماتې لپاره نور اسباب لټوي، بې ايمانه خلك خو په دې کې معذور ګڼلی شو خو په قرآن باور لرونکي ولي بايد داسي وي؟ مګر دوی د قرآن دا وينا نه ده اورېدلې چې فرمايي:

.... كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴿٢٤٩﴾ البقرة

..... د الله په اذن سره څومره لږکې ټولګي په ډېرکيو ټولګيو غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دئ.

آيا دغو دوستانو ته د شوروي اتحاد پر هغو مجهزو فوځونو د افغان مجاهدينو بريا يو څرګند ثبوت نه دئ؟ آيا دا اوس په افغانستان او عراق کې د امريکايي فوځ په مقابل کې د افغانانو او عراقيانو مقاومت ورته قناعت نه ورکوي؟ دا خلك ولې لا اوس هم په دې خبره قناعت نه کوي چې په چريکي جنګونو سره د نړۍ لويو لويو ځواکونو ته ماته ورکول ممکن دي.

همدا راز له دغو دوستانو پوښتنه کوو: دا مرغان وو که فرشتې؟ که وايي چې مرغان وو نو بايد واضح کړي چې هغه مرغان کوم دي چې تيږي ويشتی شي؟ تر اوسه هيڅا داسي مرغان نه دي ليدلې چې تيږي ويشتی شي!! داسي مرغه نه شته چې نوم ئې ابابيل وي؛ د ابابيل معنی د مرغانو خپل دئ نه د کوم خاص مارغه نوم؛ او که وايي چې فرشتې ئې مرستي ته راغلې نو د فرشتو په اړه خو الله تعالی فرمايي چې دوی نه ليدل کېږي!! په دې کې شك نشته چې الله تعالی فرشتې د انسانانو مرستي ته لېږلې، د بدر او احد په جنګونو کې هم او په نورو کې هم، خو الله تعالی په خپله او په مکرره توګه فرمايي چې دوی نه ليدل کېږي،

(وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا..... فَأَنزَلَ الله سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا..... فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا).

قرآن په ډېر صراحت سره فرمايي چې د دغو فرشتو کار دا وي چې د مؤمنانو زړونه مضبوط او قدمونه ټينګ کړي او د کافرانو په زړونو کې وېره او خوف واچوي، قدمونه ئې وښويوي او پښې ئې سستي کړي، داسي نه ده چې فرشتې د مرغانو په بڼه کې او يا کومي بلي داسي بڼې کې راشي چې په سترګو وليدل شي. الله تعالی د هر کار لپاره لښکري لري، په هر يوه خپل خپل کار کوي، مرغان ئې داسي نه دي پيدا کړي چې تيږي ووروي، که څوك

ووايي چې د ابرهه پر لښکر توند باد مسلط شو، مور ئې منو، دا ځکه چې الله تعالى په توندو بادونو سره ډېر باغي قومونه هلاك کړي، د خندق په غزوې کې ئې هم د مؤمنانو مرسته په دغسې توندي سړې سيلې سره وکړه، د قريشو د لښکر خيمې ئې ړنګې؛ اوښان او آسان ئې په تښته، دېګونه ئې ورنسکور؛ او د ميدان پرېښودو ته ئې اړ کړل.

د روسانو په ضد جګړې کې هم ځينو خلکو زمور عربو وروڼو ته ويل: د روسانو بمبارۍ له دې کبله تأثير نه لري چې د جهازونو له راتلو سره سم تر لاندې ئې مرغان راځي؛ او ځمونه په خپلو وزرونو يوې خوا بلې خوا ته منحرفوي!! دوی دا خبره منله؛ او په خپلو کتابونو کې ئې ليکلي: له فلاني فلاني معروف قومندان مي دا خبره اورېدلې!! څو کاله وروسته که څوك دا کتابونه لولي نو د افغان جهاد په اړه به همدا په خپل تاريخي کتاب کې ليکي چې الله تعالى فرشتې د مرغانو په بڼه کې د افغان مجاهدينو مرستې ته لېږلې؛ او ځمونه به ئې نه پرېښودل چې په خپل هدف راپرېوځي!! او دا به د محمد بن اسحاق د روايت په څېر شي چې مرغانو د ابرهه لښکر په تيرو ويشتلى!!

دې عربو وروڼو ته دا خبره يا هغه چا کړې چې بمباري ئې په خپلو سترګو نه ده ليدلې، له بله ئې د بمباريو قصې اورېدلې او يا هغه چا چې د بمباريو په وخت کې ئې پورته آسمان ته هيڅکله نه دي کتلي! دوی په چريکي جنګونو کې د بمباريو د لږ اغېز او مجاهدينو ته د تلفاتو په اړولو کې د جهازونو د عدم مؤثريت لپاره بله توجيه نه شوی وړاندې کولى، غوښتل ئې د عربو له دې پوښتنې په آسانه ځان خلاص کړي چې ولې هره ورځ له۲۵۰ تر ٤٠٠ بمباردونه دومره بې اغېزه دي؟!! لنډ ځواب ئې ورکړی: مرغان په خپلو وزرونو ځمونه منحرفوي!! په دې سره ئې يو پېچلى سؤال په آسانۍ ځواب کړی!! دا ئې نه شو ويلى چې دا درنې درنې وسلې په چريکي جنګونو کې دښمن ته ډېره لږه ګټه رسولى شي، دا وسلې د ښارونو، کليو او لويو هدفونو په ضد اغېزمنې دي، په چريکي جنګونو کې ئې تر ګټې تاوان زيات وي، ډېر ناپوه او بې تجربې جنګي افسران به په داسې جنګونو کې له دغو وسلو کار اخيستو ته زړه ښه کوي. ما ته د عربو په هغې وچې صحراء کې د پيلانو کارول داسې برېښي لکه روسانو چې د مجاهدينو په ضد ټي ۵۵ او ټي ٦٢ ټانکونه کارول چې په هري درې کې به وران ويجاړ تړې پاته شول؛ او يا داسې لکه اوس چې امريکا وغواړي د مجاهدينو په ضد له بي ۵۲ جهازونو کارواخلي، نه ابرهه ته خپلو پيلانو ګټه رسولى شوی او نه ئې امريکائيانو ته دا جهازونه!!

قريش

د سورې معرفي

د دې سورې نوم (قريش) دئ چې له لومړي آيت اخيستل شوی، ٤ آيتونه لري، د دريو لومړنيو آيتونو فواصل ئې د قريش، صيف او بيت هموزنه صيغې دي او وروستی آيت ئې د خوف په لفظ پای ته رسېدلی چې د سورې د آهنګ د پای لپاره موزون غږ لري. اکثريت مفسرين ئې مکي سوره ګڼي خو ځينې ئې مدني بولي، حال دا چې د سورې له مضمون او د بيان له اسلوب او مخصوصاً له دې برخې (رب هذا البيت) په واضح توګه معلومېږي چې دا په مکه کې نازله شوې.

د (الفيل او قريش) سورې په خپلو کې ډېر ورته والی او شباهتونه لري او داسې معلومېږي چې دا دواړه په يوې مرحلې کې او يوه په بلې پسې نازلې شوې. په دواړو کې خطاب قريشو ته متوجه دئ، الهي نعمتونه او پېرزويني ورپه يادوي، په يوې کې پر مجهز او ځواکمن دښمن د دوی بريا او فتح او په بلې کې له خوف او لوږې د دوی ژغورنه ورپه يادوي او د دې نعمتونو شکر ته ئې رابلي. او دوی ته وايي: الله تعالی د دغه مقدس او مبارك الهي کور(کعبه) په طفيل ستاسو لوږه له منځه يووړه او په عوض کې ئې پراخ رزق درکړ، ستاسو خوف او وېره ئې ختمه کړه په بدل کې ئې داسې امن او امان درپه برخه کړ چې اوس په دوبي او ژمي کې، شپه او ورځ سفر کولی شئ، هيڅوك مو نه مزاحم کېږي، په هر ځای کې امنيت دئ، ستاسو تجارتي قافلې په ډاډه زړه او پوره امنيت له يوه ښار بل ته درومي، ټولې تجارتي لاري ستاسو له سيمې تېرېږي، مکه د سيمې تر ټولو په ستر او مهم تجارتي مرکز بدله شوې، چې ستاسو لپاره ډېرې ګټې له ځان سره لري. د اقتصادي ګټو تر څنګ ئې د ټولو عربو قيادت او زعامت هم تاسو ته سپارلی، د حجاز او شاوخوا سيمې ټول عرب قبائل، تاسې او ستاسو دا ښار خپل محور او قبله ګڼي، يو خور وور وېشل شوی قوم وئ، له فقر، لوږې او کورنيو جګړو سره مخامخ، د داسې خطرناکو او کينه کښو دښمنانو په محاصره کې چې تل ئې تاسو ګواښلئ، ستاسو رب د دښمنانو بريدونه دفع کړل، تاسو ئې له فقر او لوږې وژغورلئ، د خوف او وېرې ټغر ئې ټول کړ، د دې سترو سترو الهي نعمتونو تقاضی دا ده چې قدر ئې وکړئ او د منعم شکر په ځای کړئ او عبادت ئې وکړئ.

په دې سوره کې د انساني ټولني دوو سترو سترو آفتونو ته اشاره شوې: (لوږه او وږه) چې دواړه ئې څنګ په څنګ او يو وخت راځي. کله ئې يو مخکې راشي او لاره بل ته پرانيزي او کله ئې بل، کله يو وځي او بل له ځان سره بيايي او کله ئې بل، کله ګورو چې وږه او بې امنيتي پر ټولني خپل تور وزر وغوړوي او له دې سره سم اقتصادي فعاليتونه متوقف شي، اقتصادي تأسيسات له منځه ولاړ شي، د تجارت بازار سوړ شي، تاجر او بډای له هېواده ووځي، خپلې شتمنۍ نورو ملکونو ته انتقال کړي، بندونه وران شي، نهرونه وچ شي، زراعتي زمکې بايرِ پاته شي، فابريکې تخريب شي، بزګر خپل بېل لري واچوي او کارګر خپل څټك او ټوپك ته لاس کړي، جګړه ئې کسب او پېشه شي او په دې ترتيب فقر او لوږه ټولني ته مخه کړي او خپل سيوری پرې وغوړوي او کله بيا ګورو چې لومړی فقر او لوږه ټولني ته مخه کړي، غير عادلانه او ظالمانه اقتصادي نظام پر ټولني مسلط شي، د ټولني ثروت او شتمنۍ د محدود شمېر بډايانو په لاس کې پرېوځي، د ټولني اکثريت له فقر او محروميت سره مخامخ شي، کله چې د ټولني اکثريت دا ګوري چې پر ټولني د مسلط ظالمانه نظام تر سيوري لاندې هيڅکله آرام او سوکاله ژوند نه شي تر لاسه کولی، له اقتصادي ستونزو نه شي وتلی او که دا نظام وي نو دوی به تل په محروميت کې ژوند کوي، ناچار د نورو لارو په لټه کې کېږي، د خپلې بقاء لار، د دې نظام د ړنګولو لار، د هغو زندانونو د ړنګولو او د هغو زنځيرونو د شلولو لار چې د دې نظام بقاء تضمينوي، د جنګ او مسلحانه قيام لار. همدا راز په ټولني کې فقر هغو داخلي او خارجي ځواکونو ته په ارزانه بيع د جنګياليو د استخدام موقع په لاس ورکوي چې غواړي د جګړو له لارې خپل اهداف تر لاسه کړي او خپله لويي او برلاسي پر نورو ومني. قرآن په دې سوره کې لومړی له لوږې ژغورنه يادوي او ورپسې له وږې او خوف نجات، خو د النحل د سورې په ۱۱۲ آيت کې امن او اطمئنان د رزق او روزي تر وفرت او کثرت مخکې، لکه چې فرمايي:

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلْجُوعِ وَٱلْخَوْفِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿١١٢﴾

النحل

او الله د هغه کلي مثال بيان کړی چې خوندي او ډاډه وو او رزق ئې له هر ځايه تازه او پرېمانه ورته راتو، خو دوی د الله د نعمتونو ناشکري وکړه، نو الله د لوږې او وږې په جامو د پټېدو خوند وروخاکو، د هغه څه په سبب چې دوی کول.

ګورئ چې په دې کلي کې امنيت او اطمئنان وو او رزق ئې له هر لوري ورته راروان،

خو دوی کفران او ناسپاسي وکړه، چې د دې له کبله لومړی (فقر) پرې مسلط شو او بیا خوف او وېرې خپل تور وزر پرې وغوړاوو.

دا سوره مور ته لارښوونه کوي چې دین ته التزام، شعائر الله ته احترام او د الله تعالی بندګي د ټولني د امنیت ضامن دئ او د لوږي او فقر له آفت د نجات وسیله؛ او مور ته ښیي چې په ټولني کې د فقر او لوږي وجه هیڅکله دا نه ده چې د رزق او روزي وسائل لږ او د انسانانو د شمېر په پرتله کم دي!! بلکې عامل ئې د هغه انسان ظالمانه تصرفات دي چې بې دینه دئ او د الله تعالی له بندګۍ سر غړوي. فقر هغه آفت دئ چې انسان ئې په خپله عوامل او اسباب برابروي، په خپلو ناجائزو او ظالمانه تصرفاتو سره ورته لار آواروي، دا انسان دئ چې د تجاوز او تېري لار غوره کړي، د نورو د سر، مال او عزت امنیت په مخاطره کې واچوي، د وېرې او خوف فضاء جوړه کړي او په همدې سره د لوږي دېو ته د راتلو بلنه ورکړي. قرآن څومره ښه فرمایي:

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾ الاعراف

او که کلیوالو ایمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو خامخا به مو د آسمانونو او د زمکې د برکتونو دروازې پرې پرانیستې وې، خو دوی (دا حقیقت) تکذیب کړ نو مور هم د خپلو کړنو په سبب ونیول.

لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ﴿١﴾ إِۦلَٰفِهِمْ رِحْلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيْفِ ﴿٢﴾ فَلْيَعْبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلْبَيْتِ ﴿٣﴾ ٱلَّذِىٓ أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍۭ ﴿٤﴾

۱- د قریشو د الفت په پاس. ۲- الفت ئې د ژمي او د دوبي له سفر سره. ۳- نو د دې کور د پالونکي عبادت دي وکړي. ٤- آ چې له لوږي ئې ماړه کړل او له وېرې ئې خوندي.

۱-۲: د قریشو تاجران به په ژمي کې جنوبي سیمو ته چې نسبتاً به تودې وې تلل او په دوبي کې به د شام او فلسطین یخو سیمو ته تلل او تجارت به ئې کاوو او په زړه پورې ګټې به ئې تر لاسه کولې. د کعبې شریفې په طفیل به نه یوازې دا د ژمي او دوبي سفرونه په کامل امنیت کې تر سره کېدل او هیڅوک به ئې نه مزاحم کېدو بلکې د لارې په اوږدو کې ټولو پرتو قبائلو به د دوی ډېر درناوی کاوو. په داسې حال کې چې تر دې وړاندې دا قبیله

په حجاز کې خوره وره وه، د کوچيانو په څېر دلته هلته خواره واره اوسېدل، هيڅا ورته په درنه سترګه نه کتل. قصی بن کلاب، د پيغمبر اکرم عليه السلام جد دوی راغونډ او په مکه کې ئې مېشت کړل او په خاص تدبير او درايت سره ئې د کعبې خوا ته ښار جوړ کړ، د کعبې د حجاجو او زوارو د استقبال لپاره ئې خاص ترتيبات ونيول، چې په دې سره په ټولو عرب قبائلو کې د قريشو اعتبار لوړ شو. له قصی وروسته د مکې د اداري د ښلو ښلو چارو مسئوليت د ده په زامنو عبد مناف او عبدالدار کې ووېشل شو. عبدمناف د خپل پلار په ژوند کې له ډېر نېك شهرت برخمن وو، ټولو به په درنه سترګه ورته کتل، څلور زامن ئې ول: هاشم، عبدشمس، مطلب او نوفل. هاشم د عبدالمطلب پلار او د پيغمبرصلی الله عليه وسلم جد وغوښتل چې د قريشو قبيله په هغه بين المللي تجارت کې برخه واخلي چې قافلې ئې له شام او فلسطين د شرق او جنوب په لوري د حجاز له لاري تلې راتلې. چې په دې سره هم د هغو قبائلو اړتياوي تأمين شي چې د مکې شاوخوا اوسېدل، هم مکه په يوه مهم بازار بدله شي او هم مکې ته د نورو قبائلو تګ راتګ زيات شي او د لاري په اوږدو کې مېشت قبائلو سره تجارتي روابط ټينګ کړي. دغو تجارتي لارو له هغه وروسته خاص اهميت تر لاسه کړ چې د ايران ساساني حکومت هغه لاري په خپلې ولکه کې ونيولې چې روم ئې له شمال او شرق سره وصل کاوو. هغه ملکونه چې له ايران سره په نښتو کې ښکېل وو له دې پرته ئې بله چاره نه درلوده چې له دغو لارو استفاده وکړي، قريشو له دې تجارت يوه بله ګټه هم تر لاسه کوله، د لاري په اوږدو کې مېشت قبائلو قريش د بيت الله خادمان ګڼل، د دوی احترام به ئې کاوو او نه يوازي دا چې حق العبور به ئې نه ترې غوښت بلکې په خپلو سيمو کې به ئې د دوی د تجارتي قافلو مصونيت هم تأميناوو، نه به چا د دوی پر قافلو بريدونه کول او نه به ئې څوك مزاحم کېدو. هاشم او وروڼو ئې د شام، يمن، عراق او فارس له حکومتونو سره تجارتي روابط ټينګ کړل او تجارت ئې ډېر ژر رونق وموند، هغو بريااوو ته په پام سره چې دوی له ګاونډيو هېوادو سره د تجارتي روابطو په قائمولو کې تر لاسه کړل، خلکو به ورته اصحاب الايلاف (د جوړ جاړي او رانږدې کولو خاوندان) ويل.

په دغه وخت کې او هغه اهميت ته په پام سره چې مکې تر لاسه کړی وو او د عربو په ستر تجارتي مرکز او تر ټولو متمدن ښار بدل شوی وو؛ ابرهه قصد وکړ چې پر مکې برید وکړي، کعبه ورانه کړي، هم ئې مذهبي اعتبار له منځه يوسي او هم ئې تجارتي او اقتصادي اعتبار او هم په ټولې سيمې کې د امنيت په تأمينولو کې د کعبې ونډه او اغېز ختم کړي او ټول دغه مذهبي، سياسي، اجتماعي او اقتصادي اعتبارات خپلې پلازمېنې

صنعا ته انتقال کړي او هغو قبائلو ته چې د کعبې په تقدس باور لري او د خدای کور ئې ګڼي وښيي چې دا د خدای کور نه دئ، که داسې وی نو د ده په لاس به ئې ورانېدو ته نه پرېښود!! الله تعالی په خپل حکمت سره د ابرهه توطئه شنډه کړه، د مکې اعتبار ئې مزید اوچت کړ او دقریشو سیاسي، اجتماعي او اقتصادي ګټې ئې له خطره وژغورلې او د دوی تجارت ته ئې لا زیاته وده او رونق ورکړ.

۳- ٤: الله تعالی د قریشو پام دغو نعمتونو ته وراړوي او د دې آیت په ترڅ کې ورته فرمایي چې د دغو نعمتونو په پاس باید د دې کور د رب عبادت وکړئ چې له لوږې ئې ماړه کړئ او له وېرې ئې امان درکړ. کلونه کلونه مو په فقر او لوږې کې تېر کړل، خوف او وېرې خپل تور وزر درباندې غوړولی وو، یوه نېستمنه، وېرې، متشتته قبیله وئ، د عربو په ټولې سیمې خوف او وېرې حکومت کاوو، خو وروسته له هغه چې د دغه مقدس کور په خوا کې مېشت شوئ، امن او امان مو په برخه شو، هوسا، آرامه او ماړه شوئ، نه مو له لوږې اندېښنه شته او نه د خپلو شتمنیو، رمو، تجارتي قافلو له غارت او تالان وېره، له دې کور لږ آخوا او په هغو سیمو کې چې د دې کور تر اغېز لاندې نه دي؛ خوف او وېره خوره ده، خلك اختطاف کېږي، قافلې غارت کېږي، په کاروانونو بریدونه کېږي، قبائل یو پر بل بریدونه کوي، خونړۍ جګړې ئې تر منځ روانې دي، د شر او فساد ځواکونه هره خوا مسلط دي، په بر و بحر کې فساد خور دئ، خو قریش په امن او امان کې ژوند کوي، د تجارت بازار ئې ګرم او دسترخان ئې ډك، نو باید د هغه رب عبادت وکړي چې د ده د مقدس کور په طفیل دا ټول نعمتونه د دوی په برخه شول، باید په دین منګولې ولګوي، د الله تعالی د پیغمبر متابعت وکړي، له بغاوت لاس واخلي او د پیغمبر علیه السلام له مخالفت ډډه وکړي که نه نو له دغو ټولو نعمتونو به محروم شي.

الماعون

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الماعون دئ، د سورې له وروستي آیت اخیستل شوی، ۷ آیتونه لري، د لومړیو څلورو آیتونو فواصل ئې د (دین، یتیم، مسکین او مصلین) هموزنه صیغې دي، د وروستیو دریو آیتونو ئې د ساهون، یراءون او ماعون هموزنه صیغې دي. د سورې لنډ والي ته په پام سره آیتونه ئې نسبتاً اوږده او د مکي سورتونو په څېر نه دي، ځینې مفسرین ئې مکي ګڼي خو نور ئې مدني بولي، خو د سورې په متن کې داسې درې مضبوط

دلائل تر سترګو کېږي چې د دې سورې مدني والی ثابتوي:

الف: په مکي دور کې نه ریاءکار او ځان ښودونکي لمونځ کوونکي وو او نه په دې اړه څه ویلو ته ضرورت، ریاءکار لمونځ کوونکي په مکه کې نه بلکې په مدینه کې راپیدا شول، د مکې شرائط داسي نه وو چې منافقین، دوه مخي او ریاءکاران له نهضت سره یو ځای شوي وی، داسي کسان په مدینه منوره کې او هغه وخت راپیدا شول چې د مسلمانانو قدرت او ځواکمنۍ ته په پام سره ځې غوښتل له نهضت سره یو ځای شي او امتیازات تر لاسه کړي، په لمانځه ځې نه باور وو او نه ځې د الله لپاره کاوو، د ځان ښودنې او د مسلمانانو په لیکو کې د نفوذ لپاره به جومات ته راتلل او لمونځ به ځې کاوو، په مکه کې شرائط داسي وو چې په علني توګه او د مشرکانو په مخکې او په جماعت سره لمونځ کول ګران او له دې سره مترادف وو چې څوک قریش او سرداران ځې جګړو ته راوبلي، منافقینو د داسي کار همت او جرأت نه شو کولی.

ب: په اجتماعي امورو پوري مربوط مسائل د مدني سورتونو د بحث موضوع ده نه د مکي سورتونو. په دې سوره کې د ریاءکارو لمونځ کوونکو دغه بد خصلت ته اشاره شوې چې د ماعون له ورکولو ډډه کوي، ماعون هغه څه ته وایي چې عادتاً ځې د یوه کلي او محلې خلك یو بل ته ورکوي، په داسي مسائلو بحث کول د مکې له فضاء او شرائطو سره سمون نه خوري او د مکي سورتونو له بحثونو سره اړخ نه لګوي.

ج- د دې سورې آیتونه د اوږدوالي او ترکیب له مخي هم نسبتاً اوږده دي او د مکي سورتونو په څېر نه دي.

دا سوره د هغو کسانو په اړه بحث کوي چې د عملونو په مکافات او مجازات او په (یوم الدین) باور نه لري او هغه دروغ ګڼي، خو د دوی د تکذیب وجه دا نه ده چې عقل ځې دا خبره نه مني او یا د خپل انکار او تکذیب لپاره څه قانع کوونکي دلائل لري، وجه ځې د دوی خاص خصلتونه او کړه وړه دي، دا خصلتونه ځې د (دین) تکذیب او د عملونو د مکافات او مجازات نه منلو او انکار ته هڅوي، عقل ځې نه؛ بلکې بد اخلاق، کرکجن اعمال او هوی او هوس ځې انکار او تکذیب ته اړ کوي: یتیم رټي، د مسکین په اړه زړه سوی او ترحم نه لري، له لمانځه غافل دي، الله ځې هېر کړی، له خلکو سره ځې خپلي انساني اړیکي شلولې، که احیاناً په صف کې د لمانځه لپاره ودرېږي نو لمونځ ځې د الله لپاره نه بلکې د ځان ښودنې لپاره وي، بخیل دي، دومره چې د (ماعون) له ورکولو هم ډډه کوي!! څوک چې یوم الدین نه مني او انکار ترې کوي، داسي بد عمل او بد اخلاق خلك دي، په خپلې توري عملپاڼې کې داسي څه نه لري چې آخرت ته ځې هیله من کړي او د عملونو په بدلې

او سزا ئې باور مضبوط کړي، ناوړه او بدي کړنې ئې له آخرت د انکار اصلي وجه ده، دغو عملونو د دوی په زړه او دماغ کې په آخرت باندې د باور او ایمان امکانات ختم کړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ۝١ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ۝٢ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ۝٣ فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ ۝٤ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ۝٥ ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ۝٦ وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ ۝٧

١- آیا پېژنې همغه چې دا دین تکذیبوي؟٢- نو دا خو هغه څوک دئ چې یتیم به رټي. ٣- او څوک به مسکین کس ته د طعام په ورکړي نه هڅوي. ٤- نو افسوس افسوس په دغو لمونځ کوونکو. ٥- همغه چې غافل له خپل لمانځه دي. ٦- هماغه چې کوي به ځان ښودنه. ٧- او له ورکړي د ماعون (د مرستي عام اسباب) به مخنیوی کا.

١- آیا پوهېږې چې څوک له (دین) انکار کوي او د عملونو مکافات او مجازات دروغ ګڼي؟! آیا دا هغه څوک دئ چې نه پوهېږي او د ناپوهۍ له کبله پرې باور نه کوي او که پوهېږي خو انکار کوي؟ آیا د باور کولو لپاره دلیل نه لري یا دلائل لري، عقل ئې قانع دئ خو عمداً دروغ وایي او ترې انکار کوي؟! قرآن فرمایي چې د ده انکار په حقیقت کې د ده د ژبې کار دئ نه د زړه او دماغ کار. هغه د خپل زړه له قضاوت او د خپل عقل له پرېکړي سره عمداً مخالفت کوي، هغه څه دروغ ګڼي چې هم ئې عقل پرې قانع دئ او هم زړه، که ئې لږ د زړه اسرار وپلټې او د سینې تل ته ئې د رسېدو لار پیدا کړې، حتماً به دا حقیقت درک کړې چې هغه عمداً انکار کوي، د خپل عقل او زړه پرېکړه او وینا ردوي.

٢- که د دې (مکذب دین) په اړه لږ غور وکړئ نو هرو مرو به ئې داسې ومومئ چې دی یتیم رټي، بې رحم او قسي القلب دئ، په زړه کې ئې ترحم او عاطفه ځپل شوې، انساني مشاعر ئې له لاسه ورکړي او دی هغه انسان نه دئ چې عاطفه او ترحم ئې په فطرت کې اېښودل شوي، له ماشوم سره مینه ئې د زړه په تل کې وي، یوازي انسان نه بلکې د هر ژوی له بچي سره مینه کوي، که ئې خپل وي او که پردی، له ماشوم سره مینه د ده د بقاء او نسل د دوام لپاره ضروري ده، که دا احساس منکوب شي د انسان نسل منقرض کېږي او بقاء ئې له ګواښ سره مخامخ کېږي، تر هغه چې انسان انسان وي او فطرت ئې سالم پاته

وي حتماً به له ماشوم سره مينه کوي، مخصوصاً که دا ماشوم يو بې وزلی او محتاج ماشوم وي، پالونکی ونلري، يتيم پاته وي او خاصتاً که دا د ده خپلوان يتيم وي، څوك چې خپلوان يتيم له ځانه رټي، په حقيقت کې د ده انساني عواطف منکوب او ځپل شوي، قضاوتونه ئې له دغه ځپل شوي ضمير خړوبه کېږي.

په روایاتو کې راځي چې یوه ورځ ابو جهل ته داسي یو یتیم راغی چې دی ئې متولي وو، د یتیم د پلار مال او دولت د ده په واك کې وو، په داسي حال کې ورته راغی چې جامې ئې په تن نه وې، له ابو جهل ئې وغوښتل چې د خپل پلار له مال څه ورکړي چې جامې پرې واخلي او ځان پرې پټ کړي، ابو جهل ورته هیڅ اعتناء ونه کړه او څه ئې ورنه کړل، له ډېر انتظار وروسته تش لاس او ناهیلی روان شو، د قریشو یوه سردار په ملنډو او د کوم شر راولاړولو په نیت هغه ته وویل: محمد (علیه السلام) ته ورشه چې ابو جهل ته سپارښتنه وکړي او له ابو جهل ستا د پلار مال درته راواخلي، بې وزلی یتیم چې نه پوهېدو دا سردار وربانديي ملنډي وهي او د رسول الله صلی الله علیه و سلم او ابو جهل ته سپارښتني ئې سره څه، هغه خو ئې د سر دښمن دئ؟! د دې سردار د وینا له کبله رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغی او خپل حال ئې ورته بیان کړ، رسول الله صلی الله علیه و سلم فوراً پورته شو او له یتیم سره د هغه چا خوا ته روان شو چې تر ټولو بد او کینه کښ دښمن ئې وو او ورته وئې ویل: راغلی یم چې دغه یتیم ته د خپل حق د ورکولو توصیه درته وکړم، ابو جهل دومره د پیغمبر علیه السلام د وینا تر اغېز لاندي راغی چې سملاسي پاڅېدو او د یتیم مال ئې ورته راوړ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکې ئې ورکړ!! د قریشو ماجرا غوښتونکي سرداران چې د یوې شخړې د راولاړېدو انتظار ئې کاوو د دې صحنې په لیدو حیران شول او ځینو ئې په ټوکو ټوکو ابو جهل ته وویل: داسي معلومېږي چې تا هم خپل دین پرېښی او پر محمد (علیه السلام) دي ایمان راوړی!! وئې ویل: والله چې خپل دین مي نه دئ پرېښی، خو ونتوانېدم د ده وینا رد کړم، هغه وخت مي داسي احساس کاوو چې د ده خبره ونه منم نو کومه توره به مي پر سر راپرېوځي!! دا داستان د قریشو د سردارانو او مشرانو اخلاق او له یتیم سره د دوی ظالمانه چلن ښه انځوروي. دا سوره مور ته وایي: چېرې چې دین نه وي او د خلکو په ژوند کې په آخرت باور نه وي هلته به له مظلوم سره دې ته ورته چلن کېږي.

۳- د دې (مکذب دین) دوهم خصلت دا دئ چې د محتاج او نیازمن همنوع په نسبت به زړه سوی او ترحم نه لري، نه به خپله له محتاج انسان سره مرسته کوي او نه به بل د بې وزلو مرستي ته هڅوي.

٤-٥: د دې ډلې درېيم خصلت دا دئ چې عبادت به ئې عبادت نه بلکې عادت وي، تصنعي او عنعنوي، د عبادت لامل به ئې ايمان او عقيده نه بلکې عادت او تقليد وي، داسې لمونځ کوونکي به ئې وموميې چې د لمانځه له روح، هدف او حقيقت به غافل وي، ديانت به موروثي دود دستور او له پلار نيکه په ميراث پاته اجتماعي عنعنه ګڼي، چې بايد له خپل سلف د تقليد په حکم او د ټولنې له غوښتنو سره د ځان يورنګ ساتلو په خاطر ئې درناوی او التزام وکړي.

٦- د دوی څلورم خصلت (ځان ښودنه) ده، په هر کار کې ئې اصلي محرك او هڅوونکی همدا ځان ښودنه وي، لمونځ د خدای لپاره نه بلکې د خلکو لپاره کوي، د هيڅ (عمل) لپاره له ريا پرته بل سايق او مشوق نه لري، خپله ظاهري بڼه به داسې جوړوي چې د خلکو توجه ځان ته راوګرځوي، د لمانځه په تقدس او اهميت باور نه لري او د يوې ديني فريضې په توګه ئې نه اداء کوي، خو د خلکو لپاره په لمانځه ودرېږي، دا هغه څوك دئ چې د ظاهر او باطن تر منځ به ئې ژور تناقض وګوري، دا د دوی دائمي عادت ګرځېدلی چې خپل ظاهر به هغسې نه عياروي چې د دوی ضمير او وجدان حکم او غوښتنه کوي بلکې هغسې ئې عياروي چې د محيط تقاضی وي، طبيعي ده چې دا خلك به هرومرو (دين) نه مني او قضاوت به ئې د (دين) او مکافات او مجازات په اړه د هغه څه عکس او مغاير وي چې د دوی عقل پرې حکم کوي، که دوی خلکو ته ووايي چې په آخرت او د عملونو پر مکافات او مجازات باور لري نو خپل ګناهونه او ننګين عملونه به څنګه توجيه کوي؟ دا په ګناهونو کې تر ستونې غرق انسان له دې پرته بله لار نه ګوري چې له آخرت انکار وکړي!!

٧- د دوی پنځم خصلت (بخل) او له انفاق ډډه کول دئ، خسيس، دنيا پال او بخيل انسان به ناچار آخرت تکذيبوي، په آخرت ايمان او د عملونو په (مکافات) باور خو انسان د خپلو شتمنيو انفاق ته تياروي، (بخل) د انفاق مانع کېږي، بخل په آخرت له باور سره ټکر کوي او غوښتنو ته ئې د رد ځواب ورکوي او د (بخيل انسان) کار هغه ځای ته رسوي چې (دين) تکذيب کړي، څوك چې د ماعون له ورکړې ډډه کوي، د هغو شيانو په ورکړې کې هم بخل کوي چې عادتاً ئې د يوه کلي خلك يو بل ته په عاريت ورکوي، لکه بېل، تبر، کلنګ، د خوراك لوښي، فرش او ظرف، آيا ممکنه ده چې داسې خسيس انسان په هغه حقيقت باور کولو ته چمتو شي چې تقاضی ئې دا ده چې د خپلو ډېرو غوره شيانو قربانۍ ته چمتو شي، داسې باور چې قربانۍ ته د غوره او ګټور تجارت نوم ورکوي؟ بخيل او خسيس انسان له دې پرته بله چاره نه لري چې له دېن او آخرت به انکار کوي.

الكوثر

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الكوثر دئ چې له لومړي آيت اخيستل شوی، درې آيتونه لري، چې فواصل ئې د كوثر، انحر او ابتر هموزنه صيغې دي، په مكي دور كې نازله شوې سوره ده، كه دا سوره د الضحى او الشرح سورتونو په خوا كې كېږدو او په دې غور وكړو چې د دوی د نزول ترتيب به څنګه وي، كومه مخكې او كومه به وروسته نازله شوې وي، نو په ډېره آسانۍ سره په دې پوهېدی شو چې د الكوثر سوره له دغو دواړو سورتونو وروسته نازله شوې، په څو دلائلو:

د الضحى په سوره كې ويل شوي: (وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰٓ: او ژر به دي خپل رب؛ هومره وركړي چې راضي شې) او په دې سوره كې لولو: (إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ: بې شكه چې تا ته مو ډېر څه وركړل.

د الضحى په سوره كې ويل شوي: ته ئې يتيم وموندې او مأوى ئې وركړه، نو پر يتيم غصه مه كوه، ته ئې ضال وموندې او هدايت ئې كړې نو پوښتونكی مه رټه، ته ئې نادار وموندې او شتمن ئې كړې نو پر الهي نعمتونو اعتراف وكړه او دغه مطالب د الشرح په سوره كې په دې الفاظو راغلي: آيا ستا سينه مو نه كړه درته پراخه؟ او آيا ستا دروند پېټی مو له تا كوز نه كړ؟ هغه چې ستا ملا ئې ماتوله. او ستا ذكر مو درته لوړ نه كړ؟. نو بې شكه چې له هري ستونزي سره يوه آساني وه. نو بې شكه چې له هري ستونزي سره به وي يوه آساني. نو كله چې فارغ شې، بيا هاند پيل كړه. او په لوري د خپل رب دي رغبت وكړه. او د الكوثر په سوره كې داسي راغلي: موږ ډېر څه وركړل نو لمونځ وكړه او قرباني وكړه.

دا مقايسه څو اساسي مطالب زموږ مخي ته ږدي:

الف: د الكوثر سوره له دغو دواړو سورتونو وروسته نازله شوې. لومړی الضحى بيا الشرح او بيا الكوثر. دا ځكه چې په الضحى كې د نعمتونو د وركړې وعده شوې ده، خو په الكوثر كې ويل شوي چې نعمتونه مو وركړل.

ب: په لومړيو دوو سورتونو كې نعمتونه په څرګنده ښودل شوي، خو د دغو نعمتونو د شكر څرنګوالی نه دئ واضح شوی، په عامه صيغه ئې يادونه شوې خو د الكوثر په سوره كې

د دې برعکس الهي نعمتونه د (الکوثر) په عامه صیغه یاد شوي خو د شکر د څرنګوالي وضاحت ئې داسي شوی: (نو خپل مولا ته لمونځ او قرباني وکړه)، دا توپیر ښیي چې په دې مرحله کې په پیغمبر علیه السلام پېرزو شوي الهي نعمتونه دومره څرګند وو چې بیان ته ئې ضرورت نه وو.

ج: د (اعطینك: تا ته مو درکړل) ترکیب ښیي چې له (الکوثر) مراد هغه نعمتونه دي چې پیغمبر علیه السلام ته عملاً ورکړی شوي او هغه ئې په څرګنده او داسي احساسوي چې توضیح او تذکار ته ئې ضرورت نه لري، دلته د (الکوثر) اطلاق په داسي نعمتونو نه شي کېدی چې په راتلونکي کې به رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورکول کېږي یا به ئې په جنت کې تر لاسه کوي، داسي اطلاق د سورې له روحیې او الفاظو سره اړخ نه لګوي.

د: له الکوثر باید هغه نعمتونه مراد وي چې شبیه ئې د الضحی او الشرح په سورتونو کې راغلي. دلته صیغه عامه او جامع ده او هغه نعمتونه هم احتواء کوي چې په دغو دواړو سورتونو کې ذکر شوي.

هـ: د سورې له وروستي آیت (إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ) په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره هغه وخت نازله شوې چې دښمنانو پیغمبر علیه السلام او د ده یاران تر سختي محاصرې لاندي نیولي، د دوی په ضد ئې عمومي مقاطعه اعمال کړې، د ده روابط ئې له ټولو قبائلو سره شلولي، داسي ګمان کوي چې پیغمبر علیه السلام ئې له ولس تجرید کړی او د خلکو په منځ کې ئې د ده او د ده د دعوت د نفوذ مخه په کلکه بنده کړې. د سورې په متن او الفاظو کې څو داسي دلائل مومو چې ثابتوي د دښمن د تبلیغاتو هدف دا دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې له ولس تجرید کړی:

(إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ: یعنی ستا کینه کښ دښمن په خپله تجرید شوی) له یوې خوا ښیي چې دښمن په دې وخت کې تر مخکې زیات کینه کښ شوی، عداوت او دښمني ئې زیاته شوې او له بلې خوا ښیي چې دښمن د پیغمبر علیه السلام په خلاف په خپلو تبلیغاتو کې وایي چې ریښه ئې قطع شوې، له ولس ښه شوی، د ولس اکثریت خپلې اړیکې ورسره شلولې.

له دې الفاظو دا هم معلومېږي چې د اسلام او مسلمانانو په ضد د دښمن تشدد او قهرجن چلن د دې په ځای چې مسلمانان تضعیف او تجرید کړي، په خپله دوی ئې تجرید کړي، کرغېړنه څېره ئې بربنډه شوې او د عام ولس له لا زیاتې کرکې او نفرت سره مخامخ شوي.

د دې الفاظو معنی هیڅکله دا نه ده چې ګواکې دښمن ویلي: اوس چې د رسول الله

صلى الله عليه و سلم دوه زامن قاسم او عبدالله رضي الله عنهما يو په بل پسې وفات شول نو د محمد (عليه السلام) ريښه قطع شوه، له رحلت وروسته به ئې نوم او نښان ختم شي، داسې ضعيف تعبير يوازې هغه څوك وړاندې كولې او منلى شي چې د الفاظو معنى د دې په ځاى چې د اړوند كلام په قالب كې ولټوي؛ د لغت په كتابونو كې ئې لټوي او دې ته پام نه كوي چې يو لفظ كېدى شي د لغت په كتابونو كې ډېرې معاني ولري او د ډېرو شيانو لپاره وكارول شي، خو كله چې د يوه كلام په قالب كې لوېږي له ټولو معانيو يوازې يوه خاصه او ځانګړې معنى افاده كوي، دلته د ابتر لفظ د پيغمبر عليه السلام د ټولو دښمنانو لپاره كارول شوى، دا لفظ د لغت په كتابونو كې د مقطوع الولد، بې نوم نښان، مطرود، يوازې پاته شوى... په معنى راغلى، دلته ئې د مقطوع الولد په معنى نه شو اخيستى، دا ځكه چې د پيغمبر عليه السلام ټول دښمنان مقطوع الولد او بې اولاد نه وو، قرآن به څنګه داسې د واقع خلاف خبره كوي؟!! حتماً به له دې پرته بله معنى ترې اخلو، دلته د (ابتر) او (كوثر) الفاظ د يوه بل په مقابل كې راغلي، كوثر د ډېر زيات په معنى دئ، نو ابتر له يوازې پاته كېدو او تجريد پرته بله معنى نه شي درلودى، په سياسي او فكري مبارزاتو كې دغه اصطلاح ډېره كارول كېږي، هر يو د خپل حريف او رقيب په اړه وايي: تجريد شو، ولس وراټو، په خلكو كې نفوذ نه لري!! كه قرآن ته رجوع وكړو ګورو چې دښمنانو د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه همدا خبره كړې، لكه چې فرعون د موسى عليه السلام او د ده د يارانو په اړه وايي:

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرۡذِمَةٞ قَلِيلُونَ ٥٤ الشعراء

يقيناً چې دوى يو لږكى ټولګى دئ.

مګر نه ګورئ چې تر دې د مخه د الشرح په سوره كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اطمئنان ورکړى شوى چې تا ته مو شهرت درکړ، ستا نوم او نښان مو لوړ كړ، بايد ډاډه او مطمئن وې چې دښمن په خپلو تبليغاتو سره او د محاصرو او مقاطعو له لاري نه شي كولى ستا د دعوت د خورېدو مخنيوى وكړي او په ولس كې ستا د نفوذ مانع شي.

ډېره عجيبه ده چې ځينو درنو مفسرينو د (ابتر) لفظ د مقطوع الولد په معنى اخيستى، دا په داسې حال كې چې: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دواړه زامن په ماشومتوب كې وفات شوي او د دوو ماشومانو مړينه هيڅكله د دښمن لپاره دومره ستره او مهمه موضوع نه شي كېدى چې په دې اړه شديد تبليغات پيل كړي، دومره چې د شنډولو لپاره ئې د يوې سورې د نازلېدو ضرورت احساس شي!! پر دې برسېره دا سوره د قاسم رضي الله عنه له وفات څو كاله وروسته نازله شوې، ټول په دې پو هېږو چې رسول

الله صلى الله عليه و سلم په پنځه ويشت کلنۍ کې له خديجې رضي الله عنها سره ازدواج وکړ، په څلوېښت کلنۍ کې په پيغمبرۍ مبعوث شو، د عبدالله بن عباس رضي الله عنه د روايت له مخې د ده مشر زوی قاسم رضي الله عنه وو، له ده وروسته زينب، عبدالله، ام کلثوم، فاطمة او رقيه رضي الله عنهم يو په بل پسې زېږېدلي، لومړی قاسم رضي الله عنه او ورپسې عبدالله رضي الله عنه وفات شو، روايات وايي چې دواړه په ماشومتوب کې وفات شوي او ځيني روايات خو په دې ټينګار کوي چې دواړه د پيغمبر عليه السلام تر بعثت مخکې وفات شوي، يوازې د پيغمبر عليه السلام لوڼې د بعثت په وخت کې ژوندۍ وې او له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ئې هجرت کړی. دا روايات دې خبرې ته هيڅ مجال نه پرېږدي چې گواکې قريشو پيغمبر عليه السلام ته د دې لپاره ابتر ويلې چې زامن ئې وفات شول او د دوی په ځواب کې دا سوره نازله شوې او پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې ته ابتر نه يې ستا دښمن ابتر دئ!!

و- (الكوثر) د کثرت د مبالغې صيغه ده، چې په هر زيات شي ئې اطلاق کېدی شي، خو په دې سوره کې ئې اصلي مفهوم بايد د ټول کلام او نورو آيتونو په رڼا کې ولټوو، نه خو دا سم کار دئ چې د لغت په کتابونو کې د دې لفظ بېلابېل معاني راواخلو او گڼ شمېر احتمالات وړاندې کړو او نه دا چې هر څوک بېله بېله معنی ترې واخلي، دا لفظ دلته يوازې يوه معنی درلودی شي او دا معنی ئې بايد د دې سورې په قالب کې ولټول شي، د سورې له متن په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې (کوثر) د (ابتر) په مقابل کې راغلی، سوره وايي چې پيغمبر عليه السلام ته (کوثر) ورکړی شوی او (دښمن) ئې (ابتر) دئ او دا د ابتر لفظ د دښمن په اړه داسې کارول شوی چې معنی ئې دا ده: لکه دښمن چې وايي پيغمبر عليه السلام ابتر نه دئ، دښمن ئې په خپله ابتر دئ، له دښمن مراد کوم خاص دښمن نه بلکې ټول دښمنان مراد دي، دلته د (شانئ) لفظ د جنس په معنی راغلی او ټول دښمنان احتواء کوي او طبيعي ده چې له دې پرته بله معنی نه شي ترې اخيستل کېدی چې ته نه بلکې دښمن دي تجريد شوی.

(الكوثر) د (حوض کوثر) او (نهر کوثر) په معنی نه شو اخيستی، دا ځکه چې دا توجيه له وروستي آيت سره اړخ نه لگوي، همدا راز (الكوثر) د ډېر اولاد په معنی نه شو نيولی دا ځکه چې لومړی له دې اشکال سره مخامخ کېږو چې پيغمبر عليه السلام د دې سورې د نزول په وخت کې نه يوازې ډېر اولاد نه درلودل بلکې زامن ئې هم وفات شوي وو او ثانياً دا لفظ د ابتر په مقابل کې راغلی او د رسول الله صلى الله عليه و سلم دښمنان مقطوع النسل نه وو.

حقیقت دا دئ چې په دې مرحلې کې د ټولنې اکثرو صالح افرادو پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ایمان راوړی وو، د هري ورځې په تېرېدو، د دعوت په حقیقت د خلکو پوهېدو او د دښمن له لوري د تشدد په زیاتېدو سره د ټولنې نېك او صالح افراد له پیغمبر علیه السلام سره یو ځای کېدل او نفوذ ئې په خلکو کې زیاتېدو، څوك چې په دې سختي، ستونزمني او له راز راز ابتلاءاتو ډکې مرحلې کې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره یو ځای شوي، د نهضت اصلي تومنه او اصلي ځواك وو، هر یو ئې د یوه قوم او ملت په څېر وو، همدا دوی ول چې په هغو سختو ورځو کې ئې د ده ملګرتیا وکړه، دعوت ئې د دنیا ګوټ ګوټ ته ورساوو، د دین بیرغ د دوی په مبارکو لاسونو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ورپېدو، دښمن په دې نه پوهېدو چې له دوی د دغو خلکو په ېلېدو او له پیغمبر علیه السلام سره د دوی په یو ځای کېدو سره په حقیقت کې د دوی جړۍ قطع کېږي، له ټولنې د تجرید په لور درومي، دوی ګمان کاوو چې د پیغمبر علیه السلام د یارانو په خلاف تشدد، محاصرو، مقاطعو او ځورولو سره به دی تجرید کړي، خو نه پوهېدل چې دا سیاستونه به د دوی د رسوایي او تجرید باعث شي او ولس به د پیغمبر علیه السلام دعوت ته لا زیات متمایل کړي.

د (الکوثر) نعمت باید داسې نعمت وي چې د الشرح په سورې کې تر ذکر شوو نعمتونو ستر وي او اهمیت ئې زیات وي، هلته ویل شوي: (و رفعنالك ذکرك: ستا شهرت مو درته لوړ کړ)، د شهرت د زیاتېدو سره نتیجه دا ده چې د ټولنې سره او نېك خلك ورسره یوځای شي او په دې کې هیڅ شك نشته چې د صالح او نېکو خلکو د ملګرتیا اهمیت د شهرت تر زیاتېدو لوړ او هغه څه دئ چې د شهرت له عام کېدو وروسته تر سره کېږي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ۝٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ ۝٣

۱- تا ته مو بې شکه چې دروبخښو کوثر. ۲- نو وکوه خپل رب ته دي، لمونځ او قرباني.۳- ستا دښمن بې شکه چې په خپله دئ ابتر.

۱- د دې آیت په ارتباط څو ټکي په پام کې ولرئ:

الف: د (الکوثر) په نامه یو نعمت عملاً رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورکړی شوی، د آیت الفاظ داسې دي چې ښیي د دې سورې د نزول په وخت کې دا نعمت د پیغمبر علیه السلام په حال شامل وو، دا صحیح نه ده چې څوك له دې داسې نعمت مراد

کړي چې په راتلونکي کې به پيغمبر عليه السلام ته ورکول کېږي، که راتلونکي نعمتونه مراد وی نو دا الفاظ به راتلل: انانعطيك الكوثر: مونږ به کوثر درکړو، داسې لکه د الضحى په سوره کې چې راغلي: وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ. ستا رب به ډېر ژر دومره څه درکړي چې پرې راضي به شې.

که دا دواړه سورې يوه د بلې خوا کې کېږدو او لږ ورته ځير شو نو په دې مطلب پوهېدا به راته ګرانه نه وي چې د الضحى په سورې کې له پيغمبر عليه السلام سره شوې وعده د الكوثر د سورې له راتلو د مخه تر سره شوې، رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه نعمت تر لاسه کړی نو ځکه دلته ورته ويل شوي: إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ.

ب: په (الكوثر) سره داسې نعمت ته اشاره شوې چې د الضحى د سورې له نزول وروسته او د الكوثر د سورې تر نزول مخکې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورکړی شوی او دا داسې نعمت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته کاملاً څرګند دئ او توضيح ته ئې ضرورت نه لري، که څه هم الكوثر د کثير د مبالغې صيغه ده او په هر زيات شي ئې اطلاق کېدی شي خو دلته يوازې هغه معنى ورکوي چې د (ابتر) په مقابل کې او پر هغه نعمت ئې اطلاق کېدی شي چې د پيغمبر عليه السلام په ضد د دښمن دا تبليغ شنډوي چې وايي: پيغمبر عليه السلام او دعوت ئې ابتر شو. د همدې لپاره په ډېر قاطعيت او اطمئنان سره ويلی شو چې د (الكوثر) مراد نه حوض کوثر دئ، نه نهر کوثر او نه زيات اولاد، بلکې مراد ئې له شك پرته هماغه مخلص ياران دي چې په دغې مرحلې کې له پيغمبر عليه السلام سره يو ځای شوي وو، په ابتلاءاتو کې استوار او ثابت قدم پاته شول، له ستونزو او کړاوونو ونه وېرېدل، هرې قربانۍ ته چمتو شول، تکليفونه او زحمتونه ئې قبول کړل، هيڅ ګواښ او فشار له خپلې لارې او تصميم په شا نه کړل، هر يو ئې لکه يو مضبوط او پياوړی لښکر وو، هر يو ئې له صف سره د ځان په ځېر د زرهاوو نورو مجاهدينو د پيوستون وسيله او سبب، د الله دين ئې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوو او د دين بيرغ ئې په ټولې نړۍ کې ورپاوو. د دې رأيې د تأييد لپاره لاندې دلائل لرو:

١- د کوثر حوض به د قيامت په ورځ او د کوثر نهر به په جنت کې پيغمبر عليه السلام ته ورکول کېږي، په دې سوره کې ويل شوي چې (الكوثر) مو عملاً او د دې سورې له نزول مخکې تا ته درکړی.

٢- متأسفانه ځينې شيعه مفسرين دلته هم د نورو مواردو په څېر وايي چې (الكوثر يعني فاطمه عليها السلام!!)، دوی تل هڅه کوي چې په داسې مواردو کې په زور او تکلف سره او له کوم معقول او د منلو وړ دليل پرته د قرآن آيتونه د علي رضي الله عنه او د ده د اولاد

په لوري واړوي، دلته ئې هم دا کار کړی، وايي له کوثر مراد ډېر اولاد دئ او په اولاد کې ئې ټول نه بلکې يوازي فاطمه رضي الله عنها ده او يوازي دا نه بلکې د دې ټول اولاد مراد دي!! د الله تعالى له مقدس کتاب سره داسي بې باکانه چلن ته انسان حيران شي!! په داسي حال کې چې د دې سورې د نزول په وخت کې پيغمبر عليه السلام ځوان زامن نه درلودل چې د زيات اولاد معنى ترې واخلو. پر لمسيانو ئې په دې دليل اطلاق نه شي کېدى چې په دې وخت کې ئې هيڅ لمسى نه وو، لمسيان ئې د دې سورې له نزول نژدې شل کاله وروسته زېږېدلي.

۳- که له (الكوثر) حوض کوثر يا نهر کوثر او يا ډېر اولاد واخلو د آيتونو تر منځ تړاو، ربط او تنسيق له منځه ځي او په بې ربطو جملو بدلېږي، د دې دواړو خبرو تر منځ به څه ربط وي چې تا ته مو حوض کوثر يا نهر کوثر درکړ او دښمنان دي بې اولاد شول!! همدا راز دا خبره نه شو کولى چې تا ته مو ډېر اولاد درکړ او دښمنان دي بې اولاد شول، دا ځکه چې د پيغمبر عليه السلام دښمنان بې اولاد نه ول.

۲- په دې آيت کې پيغمبر عليه السلام ته لارښوونه شوې چې د الكوثر د نعمت په پاس بايد لمونځ وکړې او قرباني وکړې، داسي لکه د قريش په سوره کې چې قريشو ته ويل شوي: د دې نعمتونو په پاس بايد د خپل رب عبادت وکړئ چې له وېرې وروسته ئې امنيت درپه برخه کړ او له لوږې وروسته ئې په نس ماړه کړئ؛ او همدا راز چې د (الضحى) او (الشرح) په سورتونو کې د نعمتونو له ذکر وروسته چې ويل شوي: د الله په نعمتونو اعتراف وکړه او د الله په لوري رغبت وکړه. او داسي لکه د النصر په سورې کې چې گورو د الهي تأييد او نصرت او د خلکو ډله ډله اسلام ته د ننوتو په مقابل کې چې پيغمبر عليه السلام ته د تسبيح او استغفار سپارښتنه شوې.

په ډېر وضاحت سره گورو چې دا آيت پر مخکينيو يوه تفريع او د هغوى نتيجه ده او د الكوثر د اعطاء په مقابل کې د لمونځ او قربانۍ غوښتنه کوي او ښيي چې د کوثر نعمت لا د مخه پيغمبر عليه السلام ته ورکړى شوى او د همدې نعمت د شکر په ځاى کولو لپاره په لمانځه او قربانۍ مکلف شوى. په دې آيت کې رسول الله صلى الله عليه و سلم او مسلمانانو ته ويل شوي چې لمونځ او قرباني به مو د الله تعالى لپاره وي، د الله تعالى رضاء تر لاسه کول او د ده اوامر تر سره کول به مو د لمانځه او قربانۍ موخه او هدف وي. دا لارښوونه په بل ځاى کې په دې الفاظو راغلې:

قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُۥ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾ الانعام

ووايه: بې شکه چې لمونځ مي، قرباني مي، ژوند مي او مرګ مي د عالميانو رب لره دي، شريك ئې نشته، په دې مأمور شوی يم او له لومړيو مسلمانانو يم.

۳- د دې آيت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

الف- شانئ هغه دښمن ته وايي چې ډېر کينه کښ وي او عداوت ئې زيات، له دې معلومېږي چې په دغه وخت کې د دښمن عداوت او کينه کښې زياته شوې وه، دلته له دښمن مراد خاص دښمن نه دئ بلکې ټول دښمنان ترې مراد دي.

ب: د دښمن له دې وينا چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه ئې کړې او ويلي ئې دي چې دی ابتر شو، مقصد دا دئ چې هغه له ولس منزوي او تجريد شوی، ګمان ئې دا وو چې په ده او د ده پر يارانو مو داسې حالت راوستی چې نور به څوك د ده ملګرتيا ته زړه ښه نه کړي، د ده د يارانو او پلويانو په ځورولو او سخت تعذيب سره مو په مکه کې د وېرې او خوف داسې فضاء جوړه کړې چې هيڅوك به نور دا جرأت ونه کړي چې خپل پلرنی دين پرېږدي او د محمد (عليه السلام) نوی دين غوره کړي؛ او د ده په ضد مو دومره تبليغات کړي چې نور به هيڅوك د ده خبره وانه وري او ايمان به پرې رانه وړي!!

ج: د (إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ: ستا دښمن بې شکه چې په خپله ابتر دئ) په ترکيب کې دا مطلب مضمر دئ چې دښمن پيغمبر عليه السلام ته د ابتر خطاب کړی او الله تعالى د دوی په ځواب کې فرمايي: ته نه بلکې دوی پخپله ابتر شوي. کوم څه چې دلته او په دې لفظ سره دښمن ته متوجه دي عکس او نفي ئې د پيغمبر عليه السلام په اړه مراد دئ چې وضاحت ئې په لومړي آيت کې د کوثر په اعطاء سره شوی.

د: ابتر ډېرې معاني لري، لکه بې نوم نښان، مقطوع النسل او بې اولاد، بې خيره، هغه ونه چې له ريښې ايستل شوې وي. متأسفانه ځينو په دې آيت کې د مقطوع النسل او بې اولادۍ په معنى نيولی، حال دا چې دا معنى د پيغمبر عليه السلام د دښمنانو په اړه صدق نه کوي، ځکه چې دوی بې اولاد نه ول، ځنګه به قرآن داسې څه وايي چې مصداق نه لري او د واقع خلاف وي، دا تعبير غلط او بې بنسټه دئ، موږ مکلف يو د ابتر يوازې هغه معنى واخلو چې ټول کلام ئې غوښتنه کوي او له واقع سره مطابقت ولري. په ډېر کم دقت سره په دې پوهېدی شو چې د آيت مراد دا دئ: دښمن بې ځايه دا ګمان کوي چې پيغمبر عليه السلام ئې منزوي او تجريد کړی او د ده د دعوت مخه ئې د تل لپاره ډپ کړې، اشتباه کوي، په حقيقت کې دوی په خپله منزوي او تجريد شوي او د ولس له لوري منفور او مطرود شوي.

هـ: د (الكوثر) معنى هم بايد د دغه لفظ (ابتر) په رڼا کې ولټوو، ځکه د دې په مقابل کې راغلى. که تاسو د چا په اړه ووايئ چې فقير دئ او مال دولت نه لري او بل څوك درته ووايي: اشتباه کوې ډېر مو ورکړي، ما ته ووايه د ده له دې وينا به ستا انتباه څه وي او دا د ډېر لفظ به په کومه معنى اخلې، آيا له مال دولت پرته بله معنى تري اخلې؟! که يو څوك ووايي: فلانۍ جبهه کافي وسائل او مهمات نه لري، بل ورته ووايي: داسي نه ده ډېر مو ورکړي، آيا دلته له (ډېر) څه معنى اخلې، وسله او مهمات که بل څه؟

د دې آيتونو ترکيب دې ته ورته دئ: دښمن ويلي چې پيغمبر عليه السلام ابتر دئ، يعني له خلکو تجريد شوى، هيڅوك ورسره نشته او هيڅوك ئې ملګرتيا نه کوي، الله تعالى فرمايي چې نه؛ دښمن په خپله ابتر دئ، ته ډاډه اوسه چې موږ ډېر زيات درکړي، دلته له ډېر زيات يوازي يوه معنى اخيستى شو او هغه دا چې ډېر پلويان، ملګري او ياران مو درکړي. په بل څه د دې لفظ اطلاق ډېر ناسم اطلاق دئ.

دا داسي وګڼئ لکه يو څوك چې د يوه سياسي مشر يا حزب په اړه ووايي: تجريد شوى، څوك ورته نه دي پاته، ټغر ئې ټول شو، څوك ئې ملاتړ نه کوي، بل ورته ووايي: زه درسره موافق نه يم چې ټغر ئې ټول شوى، (ډېر زيات) لري اورېدونکى له کوم تأمل پرته په دې پوهېږي چې له (ډېر زيات) د دې کس مقصد ډېر پلويان او حاميان دي، که څه هم ده نه دي ويلي چې څه ئې ډېر زيات دي.

قرطبي ليکلي چې د الكوثر په اړه شپاړس قوله راغلي، د دې معنى دا ده چې مفسرينو ته له پيغمبر عليه السلام داسي موثق روايت په لاس نه دئ ورغلى چې د دې آيت لومړى او وروستى تفسير ئې وګڼي او د بلې رأيې له ورکولو ډډه وکړي، که داسي روايت ئې موندلى وى هيڅکله به ئې بېله بېله رأيه نه وړاندي کوله او شپاړس مختلف تفسيرونه به ئې نه کېدل. همدا راز له دغو شپاړسو رأيو يوه ئې صحيح کېدى شي او بس، موږ نه يوازي دا حق لرو چې د درنو مفسرينو د دغو مختلفو آراءو تر منځ قضاوت وکړو او تر ټولو غوره ئې انتخاب کړو بلکې بايد او حتماً دا کار وکړو، دا سمه نه ده چې ووايو: ښايي دا صحيح وي او ښايي دا او يا ووايو چې ښايي ټولې صحيح وي او دې ته د جوامع الكلم نوم ورکړو، دا خبره خو د يوه مبهم کلام په اړه کېدى شي نه د قرآن په څېر د مبين او بليغ کلام په اړه. جوامع الكلم دې ته نه وايي چې مخاطب په شك کې واچوي او په دې پوهېدا ورته ګرانه کړي چې د متکلم موخه او هدف څه دئ، دا، که دا او که دا؟!! جوامع الكلم هغه کلام دئ چې په لنډو الفاظو کې خپل مطلب په ښه او بشپړه توګه اداء کړى شي، نه تکلف په کې شوى وي او نه اضافي او غير ضروري الفاظ په کې راغلي وي، الكوثر هومره

جامع کلام دئ چې نظیر ئې نه شو موندلی، خو د دې معنی دا نه ده چې د کوثر ټول هغه معاني دلته مراد دي چې د لغت په کتابونو کې ئې مومو، له الکوثر باید یوازې یوه محدده او مشخصه معنی مراد وي او مخاطب ئې باید د کلام له فحوی درک کړی شي. او دې ته وایي بلیغ کلام.

که څه هم کوثر د کثرت د مبالغې صیغه ده او ډېر شیان ئې مصداق کېدی شي، خو دلته کوثر د ابتر په مقابل کې راغلی، د ابتر معنی منزوي شوی او تجرید شوی ده، نو د کوثر معنی به خامخا ناتجرید شوی او نامنزوي شوی وي، بل مصداق ئې دلته اخیستل اشتباه ده.

په دې اړه چې د الکوثر سوره په مکه کې نازله شوې که مدینه کې دوه روایتونه مخې ته راځي، یو ئې وایي چې کله د پیغمبر علیه السلام دوهم زوی هم وفات شو نو عاص بن وائل یا ابو لهب وویل بتر محمد: محمد (علیه السلام) میرات شو، یعني نارینه وارث ترې پاته نه شو او دا سوره د ده په ځواب کې نازله شوه.

په بل روایت کې راغلي:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ بَيْنَا رَسُولُ الله -صلى الله عليه وسلم- ذَاتَ يَوْمٍ بَيْنَ أَظْهُرِنَا إِذْ أَغْفَى إِغْفَاءَةً ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مُتَبَسِّمًا فَقُلْنَا مَا أَضْحَكَكَ يَا رَسُولَ الله قَالَ « أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آنِفًا سُورَةٌ ». فَقَرَأَ « بسم الله الرحمٰن الرحيم (إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ) ». ثُمَّ قَالَ « أَتَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ ». فَقُلْنَا الله وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ « فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ .... رواه مسلم

له انس رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: په داسي وخت کې موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوا کې وو چې مختصر بې حاله شو، بیا ئې په موسکا سره سر رااوچت کړ، موږ وپوښتو چې یا رسول الله! ولې په خندا شوې؟ وئې فرمایل: دا اوس یوه سوره راباندې نازله شوه، نو داسي ئې قرائت کړه: « بسم الله الرحمٰن الرحيم (إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ) ». بیا ئې وفرمایل: پوهېږئ چې کوثر څه دئ؟ موږ وویل: الله او رسول ئې ښه پوهېږي، وئې فرمایل: دا یو نهر دئ چې الله تعالی ئې له ما سره وعده کړې ده،...

ګورو چې د یوې مسئلې په اړه دوه متعارض روایات زموږ مخې ته راځي، طبیعي ده چې په دې کې به یوازې یو صحیح وي، یا به سوره مکي وي یا مدني، اکثر علماء په دې متفق دي چې دا سوره مکي ده او د انس رضي الله عنه له روایت سره اتفاق نه کوي، د

سورې هر څه په دې شهادت ورکوي چې په مکه کې نازله شوې، انس رضي الله عنه په مدينه کې پيدا شوی او هغه وخت چې پيغمبر عليه السلام مدينې ته هجرت وکړ اته- نه کلن وو، ښايي د دې سورې د نزول په وخت کې به درې څلور کلن ماشوم وو، څنګه ومنو چې دی د دغې سورې د نزول په وخت کې حاضر وو؟!

د لومړي روايت په اړه بايد ووايو چې دا سوره د پيغمبر عليه السلام د زامنو له وفات ډېر کلونه وروسته نازله شوې، د معتبرو رواياتو له مخې د ده زامن له بعثت مخکې وفات شوي، د دوی د وفات په وخت کې ابو لهب نه يوازې له پيغمبر عليه السلام سره هيڅ اختلاف نه درلود بلکې پيغمبر عليه السلام خپلې دوه لونې د ده دوو زامنو ته په نکاح ورکړې وې.

د بخاري په ٤٠ کتاب کې د مساقات (خړوبول) په نامه او تر ٦ باب لاندې د کوثر په ارتباط دا روايت مخې ته راځي چې څېړل ئې ضروري برېښي:

١٠٩٥ ـ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لأَذُودَنَّ رِجَالاً عَنْ حَوْضِى كَمَا تُذَادُ الْغَرِيبَةُ مِنَ الإِبِلِ عَنِ الْحَوْضِ». (بخارى: ٢٣٦٧)

١٠٩٥ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((قسم په هغه ذات چې زما نفس ئې په لاس کې دئ؛ ځينې خلک به داسې له خپل حوض (کوثر) شړم لکه چې پردی اوښ له حوض شړل کېږي)).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په پنځو طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن بَشَّار، غُنْدَر، شُعْبَة، مُحَمَّد بْنِ زِيَاد او أبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له بخاري، مسند اسحاق ابن راهويه او مسند احمد پرته په بل هيڅ معروف او مهم کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ اسحاق بن راهويه د امام بخاري استاد دئ. په روايت کې دا وضاحت نه ليدل کېږي چې دا کوم حوض دئ او کله به ځينې خلك ترې منع کوي؛ شارحينو ويلي چې مرادي ئې د کوثر حوض دئ.

د حوض کوثر او نهر کوثر په اړه به مو ډېر څه اوربدلي وي؛ راشئ وګورو چې په دې اړه قرآن څه ويلي که نه؛ او په رواياتو کې څه راغلي؟ اصلي موضوع ته تر ننوتلو وړاندې بايد عرض کړم: موږ هره ورځ؛ الله تعالى ته په لسګونو ځلي دا دعاء کوو: اهدنا الصراط المستقيم: موږ په دې مستقيمي لار هدايت کړه؛ صراط د زمکې پر سر سړك او لار ته وايي؛ خو زموږ مقصد ترې دا د زمکې د سر سړك نه؛ بلکې د هدايت

معنوي لار ده؛ نه مادي او د زمکې سړک او لار؛ دا لار د فاتحې په سوره کې مورِ ته ښودل شوې: د انبياءو، صديقينو، شهداءو او صالحينو لار؛ د اياك نعبد و اياك نستعين لار؛ دا چې يوازې د الله تعالى عبادت کوو او يوازې له ده استعانت غواړو؛ (وَأَنِ اعْبُدُونِي هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ: او دا چې يوازې زما عبادت وکړئ؛ همدا مستقيمه لار ده)؛ لکه چې دلته له الصراط مجازي او معنوي لار مراد ده؛ نه مادي او د زمکې سړک؛ همدا راز حوض کوثر په مجازي توګه کارول شوی؛ ټول هغه روايات چې په هغوی کې د (حوضي: زما حوض) يادونه په کې شوې؛ په بخاري کې ۱۳ ځلي په دغو شمېرو راغلي: ۱۱۹٦ - ۱۳٤٤ - ۱۸۸۸ - ۲۳٦۷ - ۳۵۹٦ - ٤۰۸۵ - ٦٤۲٦ - ٦۵۷۹ - ٦۵۸۰ - ٦۵۸۸ - ٦۵۹۰ - ۷۰٤۸ - ۷۳۳۵ – له دغو روایاتو؛ څلور ئې داسې دي چې وايي: وَمِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي: او منبر مي زما پر حوض دئ؛ د دغو روایاتو شمېرې دا دي: ۱۱۹٦ - ۱۸۸۸ - ٦۵۸۸ - ۷۳۳۵؛ او دا ښيي چې دا حوض؛ چې د کوثر حوض په نامه یاد شوی؛ مجازي حوض دئ نه عيني او مادي حوض؛ ځکه د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر منبر لاندې؛ د اوبو کوم مشهود حوض نشته؛ نو بايد وګورو چې په دې سره کوم حوض ته اشاره شوې؛ څه چې ويل کېدی شي هغه فقط دا دي چې دا د هدايت او ارشاد هغه معنوي چينه ده چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر منبر لاندې وه؛ له همدې منبر او چينې د حق او هدايت رڼا او وړانګې ټول عالم ته خورېدې؛ د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېدې او حقپال ترې خړوبېدل؛ د اهل ظاهر مسلك پلويان ښايي له دې هم د اوبو کوم حوض راوباسي!! خو د روايت الفاظ دومره واضح دي چې هيڅ د عقل خاوند کوم بل مطلب نه شي ترې اخيستلى. په همدې څلورو روایاتو کې دا هم راغلي: مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ: هغه څه چې زما د کور او منبر ترمنځ دي؛ دا د جنت يو ښکې دئ؛ يعني دا د جنت باغچې ته ورته دئ؛ دلته ته چې ځم راځم؛ داسې احساس کوم لکه چې په جنت کې ګرځم.

له دغو ۱۳روایاتو؛ په پنځو کې دغه فقرې مومو: (... وَإِنِّي وَاللَّهِ لَأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِي الآنَ، وَإِنِّي أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ: او والله چې زه همدا اوس خپل حوض ته ګورم؛ او ما ته د زمکې د خزانو کلياني راکړل شوې دي)؛ دلته حوض او د زمکې د خزانو کلياني په مجازي توګه کارول شوي؛ له حوض يا همغه تر منبر لاندې د هدايت حوض دئ او يا د قيامت په ورځ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د شفاعت حوض؛ او د زمکې د خزانو له کلیانو هم مراد؛ د مسلمانانو د فتوحاتو زېرې دي؛ نه دا چې کلياني عملاً راوړل شوې وي او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته سپارل شوې وي؛ او که

احياناً په واقعي معنى کلياني وي؛ نو دا به رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په خوب کې ښودل شوې وي؛ دا ځکه چې د خوب ژبه انځورونه وي؛ خو حقيقت دا دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ د قرآن له څرګندو بشارتونو پوه شوى چې الله تعالى به دا دين پر ټولو اديانو غالبوي؛ د دغو قرآني بشارتونو مصداق موږ په خپلو سترګو ولید؛ په لنډې مودې کې مسلمانان پر ټول حجاز مسلط شول؛ او بيا د دوى لاس ته نيمايي نړۍ ورغله؛ له فکري، سياسي، علمي او اجتماعي پلوه د نړۍ قيادت او زعامت د دوى په لاس کې پرېوت؛ د دغو رواياتو شمېرې دا دي: ۱۳٤٤- ۳۵۹٦ - ٤۰۸۵ - ٦٤۲٦ - ٦۵۹۰.

په ۷۰٤۸ روايت کې داسې راغلي: أَنَا عَلَى حَوْضِي أَنْتَظِرُ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ، فَيُؤْخَذُ بِنَاسٍ مِنْ دُونِي، فَأَقُولُ: أُمَّتِي، فَيُقَالُ: لاَ تَدْرِي، مَشَوْا عَلَى القَهْقَرَى: زه به د خپل حوض خوا ته د هغو انتظار کوم چې ما ته به راځي؛ ځيني خلك به زما خوا ته ونيول شي؛ نو زه به ووايم: دا زما امتيان دي؛ وبه ويل شي: ته نه پوهېږې؛ دوى په شا ولاړل)؛ له دې په وضاحت سره معلومېږي چې دا د شفاعت حوض دئ؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم شفاعت به د ځينو په اړه نه منل کېږي.

يوه يادونه:

کله چې ما د دې مختصرې سورې په اړه تحقيق کاوو چې درې لنډ لنډ آيتونه لري، له لسو کلمو جوړه شوې او د قرآن تر ټولو لنډه سوره ده، د ډېرو تفسيرونو له مطالعې وروسته او د الله تعالى په کرم او لطف سره مې د دې سورې په تفسير د پوهېدو توفيق په برخه شو، له ليکلو ئې فارغ شوم، قلم مې کښېښود، لاسونه مې د دعاء لپاره اوچت کړل او دا الفاظ مې په ژبه جاري شول: خدايه! ستا د دې پېرزويني ډېر ډېر شکر کوم، هومره چې که زما د تېرو ډېرشو کلونو د مبارزې عوض او بدله يوازې د دغې مبارکې سورې دا فهم وي، زه قانع او راضي يم او ستا د دې لطف او کرم مرهون.

الکافرون

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الکفرون دئ چې له لومړي آيت اخيستل شوى، شپږ آيتونه لري، د لومړيو دوو آيتونو فواصل ئې د الکافرون او تعبدون هموزنه صيغې دي، د درېيم، څلورم او پنځم آيتونو ئې اعبد، عبدتم او اعبد صيغې دي چې غږ ئې سره ورته دئ او آخري آيت

ئې د دین په لفظ ختم شوی چې د سورې د غږ او مد وجذر لپاره موزون توقف دئ. په مکي دور کې نازله شوې، د بحث اصلي مضمون ئې له کافرانو، د دوی له معبوادنو، د دوی له دین او د عبادت له اسلوب ئې د برائت او بې زارۍ اعلان دئ، یوه دائمي او تلپاته مقاطعه چې د هر راز روغې جوړې احتمال ردوي او د هر ډول پخلا کېدو امکان منتفي کوي. د سورې له آیتونو معلومېږي چې دښمن په دې مرحلې کې غواړي له پیغمبر علیه السلام سره یو ډول جوړ جاړي ته ورسېږي، دا ئې ځان ته مفید او ګټوره ګڼلې چې پیغمبر علیه السلام انعطاف او مصالحې ته چمتو کړي، د دوی د دین، مذهب، معبودانو او سیاستونو په اړه ئې نیوکې، اعتراضات او تبلیغات راکم کړي او له نه پخلا کېدونکي دریځه ئې راکوز کړي. په دعوت او مبارزه کې تر ټولو حساسه مرحله هغه ده چې دښمن خپله څېره بدله کړي او دا په خپل مصلحت وګڼي چې خپل مخکینی سیاست موقتاً پرېږدي، د تشدد په ځای د مصالحې او جوړ جاړي شعار ورکړي، دعوتګرانو او مبارزینو ته شین څراغ وښیي، د امتیازاتو وړاندیز ورته وکړي، محاسبه ئې دا وي چې په تنازل سره او مبارزینو ته په ځینو امتیازاتو ورکولو او روغې جوړې ته ئې متمایل کولو له لاري هغه څه د نهضت په ضد کولی شي چې د تشدد او د نهضت د پلویانو په شړلو، ځورولو او تعذیبولو ئې تر لاسه نه کړی شو. ستومانه، بې حوصلې او لنډ نفسه دعوتګران په دې امېد او بهانه چې کېدی شي له دغه فرصت او امتیازاتو په استفادې سره د نهضت په ګټه کار وکړي، مصالحې او جوړ جاړي ته غاړه ږدي، له دښمن سره روغه جوړه کوي او خپل همسنګران دې ته رابلي چې په مخکینیو سیاستونو، تګلارو او دریځونو کې تجدید نظر وکړي، خو دی لا د خپلو همسنګرانو او د مبارزې د ملګرو په اقناع او راضي کولو نه وي موفق شوی چې متوجه شي د دښمن د توطئې په لومو کې نښتی، د صف په لیکو کې ئې اختلاف راولاړ کړی او له صف بهر ئې خپل اعتبار او حیثیت له منځه وړی، ګوري چې د دښمن له لوري موعود امتیازات هسي یوه دوکه وه، دښمن خپل عهد او ژمنه ترپښو لاندي کړې، خپلو مخکینیو سیاستونو ته ئې مخه کړې او دی ئې له داسي حالت سره مخامخ کړی چې نه خپلې مخکینۍ وضعي ته بېرته ګرځېدی شي او نه له دښمن سره جوړ جاړي ته دوام ورکوی شي. هغه مخلص او وفادار غړي چې په دې مبارزې کې په اخلاص سره د ده په څنګ کې ودرېدلي وو، ستونزي او کړاوونه ئې ګاللي، له ده او د ده له موخو او تګلارو سره ئې ژمنه کړې وه، هري قربانۍ ته چمتو وو او له دښمن سره ئې له یو ځای کېدو کرکه درلوده، ورو ورو له ده بېل شي، د دوی خالي ځای په هغو خلکو ډک شي چې له دښمن سره د جوړ جاړي روحیه پرې غالبه او د مبارزې په مخکینۍ مرحلې کې ئې ونډه کمزورې وه، دا

وضعيت نهضت له داخلي تشنج او فکري تزلزل سره مخامخ کړي او د نوي سياست د ګټورتوب په اړه بې باوري او د تصميم نيوونکو حلقو په اړه د عامو غړو بې اعتمادي راولاړه او د تحريك بقاء او دوام له جدي ګواښ سره مخامخ کړي. ډېر تحريکونه په دې نه دي توانېدلي چې له داسي مرحلې سرلوړي او بريالي ووځي، ډېر کسان د دې خبرې له درك عاجز وي چې کله به له دښمن سره تفاهم ته کښېني او مصالحې ته به چمتو کېږي او کله به په قاطعيت او عدم مداهنت ټينګار کوي او له انعطاف او مصالحې به ځان ساتي!! په قرآن کې ځيني احکام داسي مومي چې له دښمن سره د مصالحې او روغې جوړې اجازه ورکوي او ځيني بيا داسي چې د جدي مقاطعې، عدم مداهنت او عدم انعطاف غوښتنه کوي، دوی داسي ګمان کوي چې داعي او مبارز ته دا اجازه ورکړی شوې چې له دغو متباينو لارښوونو او هدایاتو په هر يوه د خپل تشخيص له مخې او مصلحت، شرائطو او ظروفو ته په پام سره عمل وکړي، انتخاب ده ته پرېښودی شوی، ځيني داسي ګمان کوي چې د ضعف او ناتوانۍ په وخت کې کولی شو له دښمن سره روغه جوړه وکړو، د مداهنت او انعطاف لار غوره کړو، خو د قوت او ځواکمنۍ په وخت کې بايد مداهنت او انعطاف يوې خوا ته پرېږدو او د دښمن په ضد په قاطعيت سره چلن وکړو، د دوی له نظره د مداهنت او انعطاف اړوند احکام په مکي دور پورې تعلق لري او د ضعف او ناتوانۍ د وخت احکام دي او د قاطعيت او عدم انعطاف احکام په مدني دور پورې ارتباط لري او د قوت او ځواکمنۍ د مرحلې احکام دي!! په داسي حال کې چې خبره کاملاً د دې عکس او خلاف ده، ټول هغه احکام او لارښوونې چې په عدم مداهنت، له دښمن د برائت او بې زارۍ اعلان او له دښمن سره په نه جوړ جاړي تأکيد کوي په مکي سورتونو کې ترسترګو کېږي او هغه آيتونه چې د مصالحې او روغې جوړې جواز په کې مومو ټول په مدينه منوره کې نازل شوي!! د قرآن له نظره له دښمن سره مصالحه او روغه جوړه بايد د قوت او ځواکمنۍ له دريځه وي نه د ضعف او ناتوانۍ له موقفه. صلح د مدني مرحلې کار دئ نه د مکي مرحلې. د دوو ښکېلو خواوو تر منځ صلح د ځواکمن لوري د شرائطو په منلو سره تر سره کېږي، ضعيف لوری ځان دې ته اړ ګڼي چې د برلاسي حريف شرائطو ته غاړه کېږدي، تنازل وکړي او امتيازات ورکړي چې ځواکمن حريف ئې له روغې جوړې سره توافق وکړي. اسلام دا اجازه نه ورکوي چې مسلمان د ضعف او ناتوانۍاحساس وکړي، د دښمن شرائطو ته غاړه کېږدي، ذلت ته تسليم شي او هغه صلح ومني چې د دښمن برلاسي تضمينوي او د دښمن په وړاندي له تنازل او تسليمېدو سره مترادف وي.

دلته هم ګورئ چې د الکفرون په سوره کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته او د ده

له لاري ټولو مؤمنانو ته ویل شوي چې ستاسو پیغام به کافرانو ته دا وي: ستاسو معبودان نه منو، نه ئې لمانځو، نه ستاسو دین منو او نه ستاسو د عبادت طور طریقه! جدي مقاطعه، چې د هر راز انعطاف او جوړ جاړي امکان او احتمال د تل لپاره منتفي کوي. په روایاتو کې راځي چې په دې مرحلې کې قریشو د پیغمبر علیه السلام د تره ابو طالب له لاري هغه ته دا وړاندیزونه وکړل: که اقتدار غواړي موږ حاضر یو چې خپل سرور او سالار ئې وټاکو، که ئې هدف ثروت او دولت وي دومره دولت به ورکړو چې د عربو تر ټولو بډایانو زیات شتمن شي، که ښځه غواړي د عربو تر ټولو ښایسته ښځه دي غوره کړي ورته وربه ئې کړو. خو د دې حرص پارونکو وړاندیزونو په اړه د پیغمبر علیه السلام ځواب دا وو: په هغه خدای قسم چې زما ژوند ئې په واک کې دئ، که مي لمر په ښي لاس او سپوږمۍ په کیڼ لاس کې کېږدي له خپلې لاري به وانه وړم! یعني د عربو زعامت او مشرتوب خو پرېږده که لمر او سپوږمۍ هم د ده په واک کې ورکړي تنازل ته تیار نه دئ، له خپلې مبارزې لاس نه اخلي او په دې اړه به د دښمن شرائط هیڅکله ونه مني چې په خپلې تګلاري کې تجدید نظر وکړي!!

که هغو آیتونو ته چې په دې اړه په ځینو مکي سورتونو کې راغلي توجه وکړو د قضیې څرنګوالی په ښه توګه درک کولی شو. د الاسراء د سورې په ٧٤- ٧٥ آیتونو کې لولو:

وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ الاسراء

او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې، چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درځکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بیا به دي زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

په دې آیتونو کې له عتابه ډکې داسې صیغې مومو چې نظیر ئې ډېر لږ موندلی شو!! که د دښمن لوري ته ډېر لږ تمایل دومره جدي نیول کېږي او د داسې سختې مؤاخذې وړ ګڼل کېږي؛ او هغه هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر شخصیت په ارتباط؛ له دښمن سره د مصالحې او سازش پایله او عاقبت به څنګه وي؟!!

همدا راز فرمایي:

فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٨﴾ وَدُّواْ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ﴿٩﴾ القلم

نو د دغو مکذبینو اطاعت مه کوه، خوښوي چې کاش ته نرمي او مداهنت وکړې چې بیا دوی هم مداهنت وکړي.

صلح او روغي جوړي ته د دعوت په اړه فرمايي:

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ ﴿٣٥﴾ محمد

نو مه سست کېږئ؛ او روغي جوړي ته بلنه مه ورکوئ، په داسي حال کې چې تاسو لوړ يئ او الله له تاسو سره دئ او هيڅکله به ستاسو عملونه درته ضائع نه کړي.

دا آيت لاندي اساسي مطالب افاده کوي:

- د دښمن په وړاندي د ضعف او ناتوانۍ احساس مه کوئ، د دښمن په ضد د خپلې مبارزې شور او شوق له لاسه مه ورکوئ، لټې او کسالت مه کوئ.
- دښمن ته د صلحې او روغي جوړي پيغامونه مه لېږئ او تفاهم او سازش ته ئې مه رابلئ.
- تاسو لوړ ياست، لوړ تر دې چې د دښمن په وړاندي د ضعف او کمزورۍ احساس وکړئ او د سازش او روغي جوړي لاس وراوږد کړئ.
- گمان مه کوئ چې تجريد شوي يئ او دښمن توانېدلی چې تاسو محاصره کړي، له ولس مو منزوي کړي، گمان مه کوئ چې يوازي پاته شوي يئ، د يوازيتوب احساس بايد تاسو له دښمن سره جوړ جاړي ته اړ نه کړي، د زمکې او آسمانونو لوی رب له تاسو سره او ستاسو مل دئ.
- گمان مه کوئ چې له روغي جوړي پرته به ستاسو ټولې هلې ځلې هدر شي، قربانۍ به مو ضائع شي او هغه نتائج به پرې مرتب نه شي چې الله تعالی ئې له تاسو سره وعده کړې، الله تعالی به هيڅکله ستاسو قربانۍ ضائع نه کړي او ستاسو هلې ځلې به بې نتيجې پرې نږدي.

د دغو او ټولو هغو آيتونه په مقابل کې چې په مقاطعې او برائت ټينګار کوي، ځيني د انفال د سورې په ٦١ آيت استناد کوي او له دښمن سره مصالحه په هغه صورت کې جائز ګڼي چې دښمن په خپله صلحې ته تمايل څرګند کړي. آيت داسي دئ:

وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦١﴾ الانفال

او که دوی صلحې ته مايل شول؛ نو ته هم ورته تمايل وکړه او پر الله توکل وکړه، بې شکه چې هغه پوه اورېدونکی دئ.

راشئ وګورو چې دا د صلحې په اړه بېل بېل او متفاوت احکام څنګه تلفيق کولی شو؟ او په کوم يوه به کله عمل کوو؟ کله له دښمن سره صلح کول جائز ده او کله ناجائز؟ آيا

دا قضيه د نهضت مشرانو ته پرېښودل شوې چې مصلحت ته په پام سره مناسب تصميم ونيسي؟ آيا دا سمه ده چې ووايو: د دې آيتونو په حکم سره مسلمانان له دې منع شوي چې دښمن ته د روغې جوړې پيغامونه ولېږي، خو که د صلحې پيغام د دښمن له لورې وي او تفاهم او جوړ جاړې ته تيارى وښيي بيا نو مسلمانان کولى شي مثبت ځواب ورکړي؟! ښايي ځينو ته دا استدلال معقول وبرېښي او د آيت له ظاهر سره ئې سم وګڼي!! خو دا انتباه په څو دليله سمه نه ده:

١- د دې استدلال له مخې که د صلحې وړانديز د دښمن له لورې وي نو مسلمانان کولى شي روغه جوړه وکړي پرته له دې چې وګوري د دښمن وړانديز د ضعف له دريځه دئ که د قوت او برلاسي له دريځه او پرته له دې چې وګوري مسلمانان د قوت په دريځ کې دي که د ضعف او کمزورى په دريځ کې!! که دا استدلال سم او د منلو وړ وى نو پيغمبر عليه السلام به حتماً په مکې دور کې د دښمن د صلحې وړانديزونو ته مثبت ځواب ويلى وو!! مخصوصاً په هغه وخت کې چې د (الکفرون) سوره نازلېده!! حال دا چې د مکې دور په ديارلسو کلونو کې او د مدينې په شپږو کلونو کې د حديبيې تر صلحې پورې ئې نه له دښمن سره روغه جوړه وکړه، نه ئې انعطاف او نرمي وښوده او نه خبرو آترو ته کښېناست، په داسې حال کې چې د قريشو سردارانو تل د هغې غوښتنه کوله او ډول ډول وړانديزونه ئې لرل. قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې دې حقيقت ته اشاره کوي.

٢- که له دښمن سره د روغې جوړې مربوط آيتونو د نزول ترتيب ته لږ ځېر شو وبه ګورو چې د مقاطعې، عدم انعطاف، له مداهنت ډډه کول او روغې جوړې ته د نه راباللو آيتونه په هغې مرحلې کې نازل شوي چې د مکې ديارلس او د مدينې شپږ لومړني کلونه احتواء کوي. همغه مرحله چې دښمن د برلاسي احساس کاوو او نهضت ئې ضعيف او کمزورى ګاڼو. خو کله چې نهضت له تدافعي حالت ووت، د دښمن ټول بريدونه ئې په شا وټمبول؛ او په ټولو نښتو کې ئې خپله وړتيا او قوت اثبات کړ؛ اوس تر دښمن د برلاسۍ او قوت احساس کوي، دغه وخت دئ چې له دښمن سره د تفاهم او روغې جوړې اجازه ورکول کېږي. د قرآن په آيتونو کې د غور په نتيجه کې به دا وګورئ چې د (وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا) آيت د بدر په جګړې کې له بريا وروسته نازل شوى حال دا چې له تفاهم او روغې جوړې د اجتناب آيتونه ټول تر دې د مخه نازل شوي، د حديبيې صلح هغه وخت وشوه چې د دښمن وروستى لوى بريد د خندق په جګړې کې له ماتې سره مخامخ شو او له ماتې وروسته پيغمبر صلى الله عليه و سلم وفرمايل: له دې وروسته به قريش د حملې توان تر لاسه نه کړي. ګورئ چې د حديبيې صلح د نهضت د قوت او برلاسي او د دښمن

له مسلسل ماتو وروسته د حرم خوا کې د دښمن تر سلطې لاندې سيمې کې امضاء شوې.

د دې آيتونو په رڼا کې او د هر يوه د نزول د زمانې شرائطو ته په پام سره په وضاحت او آسانۍ سره دا حقيقت درک کولی شو چې صلح د نهضت د قوت او ځواکمنۍ د وخت کار دئ، د هغه وخت کار چې دښمن د عجز او ضعف احساس وکړي او نهضت عملاً خپله برلاسي او ځواکمني ثابته کړي، هغه وخت چې دښمن صلحي ته اړ شوی وي او له دې پرته بله چاره نه ګوري چې د مسلمانانو شرائطو ته تسليم شي. عجيبه ده که څوک دا ټول حقائق له پامه غورځوي او صلح د ضعف او ناتوانۍ د مرحلې کار ګڼي او ادعاء کوي چې نهضت کولی شي د ضعف په وخت کې له دښمن سره روغه جوړه وکړي!!!

څوک په دې حقيقت نه پوهېږي چې د دوو شکېلو خواوو تر منځ روغه جوړه تل د برلاسي او غالب لوري د شرائطو په اساس رامنځ ته کېږي، د غالب لوري شرائط منل کېږي او مغلوب لوری د ده د شرائطو منلو ته غاړه ږدي، يوازې په دې صورت کې ده چې د صلحي معاهده د دوو خواوو تر منځ امضاء کېږي، اسلام هيڅکله مسلمان ته د دې اجازه نه ورکوي چې ذلت ته سر ټيټ کړي، د دښمن شرائطو ته تسليم شي، د همدې لپاره د ضعف او ناتوانۍ په وخت کې عدم مداهنت او صلحي ته په عدم دعوت تأکيد کوي، خو د برلاسۍ په وخت کې اجازه ورکوي چې تفاهم وکړي او د صلحي بلنې ته مثبت ځواب ووايي. کوم کسان چې د قرآنکريم په تفسير کې د آيتونو شأن نزول او د هر آيت د نزول شرائطو ته پام نه کوي او هر آيت بېل بېل او له نورو سره ئې تړاو ته له پام پرته تر بحث لاندې نيسي، کله چې د يوې قضيې په اړه دوه متباين احکام ګوري او په توجيه کې ئې له ستونزې سره مخامخ کېږي او له تلفيق ئې عاجز کېږي نو د دې په ځای چې ووايي: د يوه حکم په يوې مرحلې پوري او بل ئې په بلې پوري مربوط دئ، برعکس د دغو پورتنيو آيتونو په څېر ئې تعبيروي!

د دوی د تعبير له مخې مسلمانان مکلف دي چې د دښمن له لوري د صلحي وړاندیز ته له ځنډ پرته مثبت ځواب ووايي، ګواکې مسلمانان له دښمن سره له روغې جوړې نه بلکې يوازې له دې منع شوي چې دښمن ته په خپله د روغې جوړې وړاندیز وکړي، خو که دا ابتکار د دښمن له لوري وو او د روغې جوړې پيغام هغه ورولېږو نو بيا کولی شي له ځنډ پرته روغه جوړه وکړي!! په داسې حال کې چې مسئله کاملاً د دې عکس ده، د قرآن آيتونه او عملي مصاديق ئې د پيغمبر عليه السلام په ژوند او له دښمن سره ئې په معامله کې په ډېر وضاحت سره ښيي چې صلح ځان ته خاص وخت او شرائط لري، له دښمن سره صلح او تفاهم د قوت او ځواکمنۍ د مرحلې کار دئ نه د ضعف د مرحلې، د مدني

مرحلې کار دئ نه د مکي مرحلې.

د الکفرون په سوره کې مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې د کفر دين په هر ځای او د تاريخ په هر پراو کې او په هر شکل او هري بڼې کې ئې ستاسو له دې سره سمون نه خوري، د دوی په وړاندې بايد ستاسو شعار دا وي: ستاسو د معبودانو عبادت نه کوو، ستاسو د عبادت طريقې نه خپلوو او ستاسو دين نه منو.

دې مبارکې سورې ته چې رسول الله صلى الله عليه و سلم کوم خاص او ځانګړی اهتمام کاوو له دې رواياتو ئې ښه معلومولی شئ:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَمَقْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- أَرْبَعاً وَعِشْرِينَ مَرَّةً أَوْ خَمْساً وَعِشْرِينَ مَرَّةً يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ) وَ (قُلْ هُوَ الله أَحَدٌ). رواه احمد

عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: پيغمبر عليه السلام مې څلرويشت يا پنځه ويشت ځلي ليدلی چې د سهار له فرضو مخکې دوو رکعتونو او د ماښام له فرضو وروسته دوو رکعتونو کې به ئې (قل يا ايها الکفرون او قل هو الله احد) تلاوت کول.

عَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ، أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَقُولُهُ إِذَا أَوَيْتُ إِلَى فِرَاشِي، قَالَ: " اقْرَأْ: قُلْ يَا أَيُّهَا الكَافِرُونَ فَإِنَّهَا بَرَاءَةٌ مِنَ الشِّرْكِ " رواه الترمذى

له ابو فروة رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: کله چې مدينې ته راغلم نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلم او ورته ومې ويل: يا رسول الله! داسې څه راوښيه چې په بستر کې د پرېوتو په وخت کې ئې ووايم، وئې فرمايل: قل يا ايهاالکفرون تلاوت کړه چې دا له شرک برائت دئ.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١﴾ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴿٣﴾ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ﴿٤﴾ وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴿٥﴾ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ﴿٦﴾

١- ووايه : آی، های، اې کافرانو! ٢- زه نه لمانځم هغه څه چې تاسو ئې لمانځئ. ٣- او

نه تاسو يئ لمانځونکي د هغه چې زه ئې لمانځم. ٤- او نه زه يم لمانځونکی د هغه چې عبادت ئې وکړ تاسو. ٥- او نه تاسو عابدان د هغه څه ياستئ چې زه ئې عبادت کړم. ٦- تاسو ته دي خپل دين وي او ما ته دي خپل دين.

١: په دې آيت کې ټول کافران په څو ندائيه تورو سره مخاطب شوي: په (يا) سره چې د لري او غائب لپاره کارول کېږي، په (أيُّ) سره چې د نژدي او حاضر لپاره او په (ها) سره چې د انذار او خبرداري ورکولو لپاره کارول کېږي.

له کافرانو ټول هغه کسان مراد دي چې د اسلام له حقانيت انکار کوي، قرآن د مکې کفارو ته د مشرك خطاب کوي، يهودانو او نصرانيانو ته د اهل کتاب خطاب کوي او د (کافر) لفظ د دواړو لپاره کاروي.

که څه هم د دې سورې لومړی مخاطب رسول الله صلى الله عليه و سلم دئ خو حکم ئې عام او ټولو مؤمنانو ته متوجه دئ. هر مسلمان مکلفوي چې د (کافرانو) په اړه همدا دريځ غوره کړي.

٢- په دې آيت کې څو خاصو ټکيو ته توجه ولرئ:

الف: له الفاظو معلومېږي چې قريش؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم يو ډول روغي جوړي ته رابلي او غواړي چې د ده د معبود او د قريشو د معبوانو او د دوی دواړو د عبادت په طريقو کې داسي يووالی او نژدې والی رامنځ ته شي چې شخړه پای ته ورسېږي او اختلاف ختم شي. په دې اړه ګڼ شمېر روايات راغلي، ځيني وايي چې قريشو پيغمبر عليه السلام ته دا وړاندیز وکړ چې مور به ستا خدای ومنو او ته زمور خدايان او بتان ومنه،کله به د دې عبادت کوو او کله د هغو. ځيني وايي: قريشو ورته وويل: زمور يو بت ښکل کړه او درناوی ئې وکړه مور به هم ستا خدای درسره ومنو. عبد الله بن عباس رضي الله عنه وايي:

قالت قريش للنبى صلى الله عليه وسلم: نحن نعطيك من المال ما تكون به أغنى رجل بمكة، ونزوجك من شئت، ونطأ عقبك؛ أى نمشى خلفك، وتكف عن شتم آلهتنا، فإن لم تفعل فنحن نعرض عليك خصلة واحدة هى لنا ولك صلاح، تعبد آلهتنا اللات والعزى سنة، ونحن نعبد إلهك سنة؛ فنزلت السورة. رواه طبرانى و ابن ابى حاتم

قريشو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: دومره مال درکوو چې د مکې تر ټولو خلکو زيات شتمن شې، څوك چې غواړې په نکاح ئې درکوو او ترشا دي روانېږو يعني مشر او لارښود دي منو او ته زمور معبودانو ته له ښکنځلو لاس واخله او که دا کار نه

کوې نو یو بل وړاندیز درته کوو چې هم ستا او هم زمونږ په خیر دئ: یو کال زمونږ د لات او عزی بتانو عبادت وکړه یو کال به مونږ ستا د اله عبادت وکړو، نو دا سوره نازله شوه.

د قرآن اشارو ته په پام سره هم دې نتیجې ته رسېږو چې د قریشو وړاندیز احتمالاً داسې وو: له ده ئې غوښتي چې د قریشو د معبودانو له هتك حرمت او سپکاوي ډډه وکړي، هغه باطل ونګڼي او بتانو ته بد رد ونه وایي، الله ته ئې د تقرب وسیله وګڼي، چې په مقابل کې به ئې قریش د ده د معبود درناوی کوي او د ده له مخالفت به لاس اخلي.

ب: پیغمبر علیه السلام او د ده له لارې هر مسلمان په دې مکلف شوی چې د دا ډول وړاندیزونو په وړاندې به ئې قاطع او پرېکنده ځواب دا وي: د هر هغه څه عبادت نه کوم چې تاسو ئې عبادت کوئ.

خو دا پوښتنه راولاړېږي چې د مکې مشرکینو خو له الله تعالی انکار نه کاوو، بتان ئې الله تعالی ته د تقرب وسیله ګڼل، ګمان ئې دا وو چې د الله تعالی او بنده تر منځ واسطې او وسیلې ته ضرورت شته، هر څوك نه شي کولی مخامخ الله تعالی ته خپل عرائض وړاندې کړي، غږ ئې ورورسېږي او دعاګانې ئې قبولې کړي، بتان انځورونه او نښې دي، د صالح، نېك او د الله تعالی دربار ته د مقربو شخصیتونو مجسمې دي، د دغو بتانو په لمانځلو سره د دغو شخصیتونو ملکوتي او مقدسي ارواح له مونږ راضي کېږي، د دوی پاملرنه زمونږ خوا ته رااوړي، زمونږ غوښتنو ته ځواب وایي، زمونږ دعاګاني قبلوي او که زمونږ د دعاګانو په اجابت نه توانېدل نو د الله تعالی دربار ته ئې وړاندې کوي، زمونږ واسطه کېږي، شفاعت او سپارښتنه کوي او زمونږ د حاجتونو د تر سره کېدو سبب ګرځي.

یهودانو او نصرانیانو هم پر الله تعالی ایمان درلود خو یهودانو عزیرعلیه السلام د خدای زوی او ځای ناستی ګانو او نصرانیانو عیسی علیه السلام، دوی ئې الله تعالی ته د تقرب وسیله ګڼل، د الله تعالی تر څنګ به ئې له دوی مرسته غوښته، د الله او ځان تر منځ به ئې واسطه او وسیله بلل، نو د دې معنی څه ده چې کافرانو ته ووایو: له هر هغه معبوده منکر یو او لمانځنه ئې نه کوو چې تاسو ئې عبادت کوئ؟ حال دا چې دوی هم الله تعالی مني او د نورو معبودانو په څنګ کې الله تعالی هم د دوی معبود او حتی ستر او اصلي معبود دئ؟ د دې پوښتني په ځواب کې باید ووایو: د الله تعالی په اړه چې دوی کوم تصور په خپل ذهن کې لري او کوم صفات چې ئې د هغه لپاره ټاکلي او په کومي معنی چې ئې پېژني دا د الله تعالی په اړه صدق نه کوي، دوی په حقیقت کې نه الله تعالی پېژني او نه ئې عبادت کوي، الله تعالی د معبودانو له جملې یو معبود نه بلکې یوازینی معبود دئ، څوك چې له الله تعالی سره بل څه یا بل څوك په الوهیت او ربوبیت کې شریکوي، په

دعاء او عبادت، لمانځني او استعانت کې له الله تعالی پرته، تر ده د مخه یا د ده تر څنګ بل چا ته سرټیټ یا لاس اوږد کړي، مشرك دئ، الله تعالی ئې نه دئ پېژندلی، هغه معبود چې دی ئې لمانځنه کوي، که څه هم د الله په نامه ئې یادوي، یو ناقص معبود دئ، شریك ته محتاج، په یوازي توګه د عالم له اداري او ساتني عاجز، د بنده دعاء یوازي د واسطې او وسیلې له لاري تر ده رسېدی شي، دا هماغه مالك الملك خدای او یوازینی پالونکی رب نه دئ چې ته ئې عبادت کوې، نو ځکه هغوی ته ووایه: زه د هغه چا عبادت نه کوم چې تاسو ئې عبادت کوئ، تاسو هسې ګمان کوئ چې زه د هغه خدای عبادت کوم چې تاسو هم پرې باور لرئ!! داسې نه ده؛ تاسو بې ځایه دا طمع کوئ چې زموږ او تاسو تر منځ د جوړ جاړي امکان شته او ښایي زه ستاسو د معبودانو له مخالفت لاس واخلم.

۳- له دې آیت څو مطلبه اخیستی شو:

- ستاسو دا تصور سم نه دئ چې تاسو هم په هغه خدای باور لرئ او عبادت ئې کوئ چې زه پرې باور لرم او عبادت ئې کوم، نه د الله تعالی په اړه زموږ او ستاسو باورونه سره ورته دي او نه د عبادت او لمانځني څرنګوالی او طور طریقې.
- ستاسو هغه وړاندیز چې ستاسو معبودان ومنم او له مخالفت ئې لاس واخلم، نه منم، له ما دا طمع مه کوئ.

په دې ترکیب کې د (من) په ځای د (ما) د لفظ له راوړلو معلومېږي چې دلته د معبود (صفات) او خصوصیات په نظر کې دي، نه ذات ئې، که یوازي د معبود ذات مطمح نظر وی نو باید د (من) کلمه راغلې وی، (ما) د څه او من د څوك په معنی ده، معمولاً (من) د ذوي العقول لپاره او (ما) د غیر ذوي العقول لپاره کارول کېږي، د ذوي العقول لپاره د (ما) استعمال داسي دئ لکه چې د یوه چا په اړه ووایو: دی څه دئ؟ د دې په ځای چې ووایو: دی څوك دئ؟ په دې ترکیب کې چې دی څه دئ؛ زموږ مقصد دا وي چې د دې کس په ځانګړتیاوو او صفاتو پوه شو، غواړو پوه شو چې دا څه کاره دئ، کسب او دنده ئې څه ده، مقام، درجه او منصب ئې څه دئ، عالم دئ، لیکوال دئ، مجاهد دئ؟ که څه؟ له ما تعبدون هم مراد همدا دئ.

٤- د څلورم او دوهم آیت په ترکیب کې توپیر له څو پلوه د توجه وړ دئ:

- دوهم آیت قریشو ته د رد ځواب او په دې ټینګار او تأکید دئ چې زه هیڅکله د هغو معبودانو عبادت نه کوم چې تاسو ئې دا اوس اوس په عبادت لګیا یئ.
- څلورم آیت دا مطلب افاده کوي چې زه د هغه معبود په عبادت لګیا نه یم چې تاسو او ستاسو پلرونو ئې عبادت کړی، دا ګمان مه کوئ چې زه د همغه خدای عبادت کوم چې

تاسو پرې باور لرئ او په خاصو صفاتو ئې متصف ګڼئ! ستاسو دا ادعاء او ګمان سم نه دئ چې ګواکې د بتانو تر څنګ په هغه خدای هم باور لرئ چې زه ئې عبادت کوم او له دې پلوه زمونږ تر منځ د اشتراك کومه نقطه شته او کېدی شي د روغې جوړې کوم صورت راوباسو!!

۵: که څه هم د الفاظو له مخې دا آیت درېیم آیت ته ورته دئ، خو د دې لپاره چې یو ئې د دوهم آیت په مقابل کې او بل ئې د څلورم آیت په ځواب کې راغلی نو ځکه هر یو ببل مطلب افاده کوي: درېیم آیت په دې معنی دئ چې نه تاسو حاضر یئ د هغه معبود عبادت وکړئ چې زه ئې عبادت کوم او همداسې لکه چې زه ستاسو د معبودانو عبادت ته چمتو نه یم. نو نه زه تاسو ته کومه طمع لرم او مه تاسو ما ته کومه طمع کوئ، خو پنځم آیت دا مطلب بیانوي چې کوم څه چې تاسو اې قریشو لمانځئ او په عبادت ئې لګیا یئ، هغه خدای نه دئ چې زه ئې عبادت کوم، هغه ذات چې زه ئې د الله تعالی په نامه پېژنم او په عبادت ئې لګیا یم غیر له هغه خدای دئ چې تاسو ئې پېژنئ او په عبادت ئې بوخت یئ، په دې ارتباط نه د تلفیق امکان شته او نه د جوړ جاړې.

٦: زما دین ستاسو له دېن سره سمون نه خوري، د دې دواړو تر منځ چې له بنسټه توپیر لري، تلفیق او روغه جوړه ممکنه نه ده؛ ګمان مه کوئ چې د دې دواړو تر منځ د جوړ جاړې امکان شته او کېدی شي په مشترکو وجوهاتو د تأکید له لارې او د تنازل او انعطاف په نتیجه کې شخړه له منځه یوسو، داسې نه ده؛ د روغې جوړې امکان نشته، که تاسو زما دین نه منئ نو په هغه صورت کې یوازې یو بدیل په مخ کې لرو او هغه دا چې: ستاسو ئې خپل دین او زما خپل دین.

متأسفانه ځینې له دې آیت (لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ) داسې معنی اخلي چې په حقیقت کې دا سوره، د دغه آیت په شمول د دې انګېرنې د رد لپاره نازله شوې. دا آیت ئې د یو ډول مسامحې او روغې جوړې وړاندیز ګڼلی، د تحمل، سازش او داسې توافق په معنی ئې اخیستی چې تاسو پر خپل دین عمل ته دوام ورکړئ او مونږ پر خپل دین عمل کولو ته پرېږدئ، د ورونو په څېر او له اختلاف پرته به یو د بل خوا ته ژوند کوو، نه به زه ستاسو مزاحم کېږم او مه تاسو زما، پرېږدئ هر څوك د خپلې خوښې دین متابعت وکړي او هیڅوك ئې مزاحم نه شي!! دا هم یو آفت دئ چې ځینې پرې مبتلی شي او له یوه کلام د اصلي مفهوم سل په سلو کې مغایر مطلب اخلي. په داسې حال کې چې دا سوره د جدي مقاطعې اعلان دئ، د هر راز جوړ جاړې د نفي اعلان، د کافرانو وړاندیزونو ته د رد ځواب او د پیغمبر علیه السلام د وینا مطابق له شرك د برائت اعلان دئ او په داسې حال

کې چې د پيغمبر عليه السلام دين له اسلام پرته د بل هر دين د نفي او له الله تعالى پرته د بل هر معبود د ترديد خبره کوي، خو دوى ئې د روغې جوړې يو وړاندیز ګڼي!! د دې سورې مطالب د قرآن په ګڼ شمېر نورو آيتونو کې هم ګورو لکه چې فرمايي:

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُواْ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ۖ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ۝٤

الممتحنه

بې شکه چې تاسو ته په ابراهيم (عليه السلام) او د ده په ملګرو کې غوره اسوه شته، کله چې ئې خپل قوم ته وويل: له تاسو او له هغو معبودانو بې زار يو چې تاسو ئې له الله پرته عبادت کوئ، له تاسو منکر يو، زمونږ او ستاسو تر منځ به عداوت او دښمني د تل لپاره او تر هغه څرګنده وي چې تاسو يوازي پر يوه الله ايمان راوړئ...

النصر

د سورې معرفي

د دې سورې نوم النصر دئ، چې له لومړي آيت اخيستل شوى، ۳ آيتونه لري، لومړى آيت ئې د فتح په صيغې او دوهم او دريم ئې د افواجاً او تواباً په هموزنو الفاظو پاى ته رسېدلي. مدني سوره ده، عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چې دا د قرآن وروستۍ سوره ده چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم نازله شوې. عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې د النصر سوره په حجة الوداع او په ايام تشريق کې نازله شوې.

عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ: «يَا ابْنَ عُتْبَةَ، تَعْلَمُ آخِرَ سُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ نَزَلَتْ جَمِيعًا؟» قُلْتُ: نَعَمْ، إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ قَالَ: «صَدَقْتَ» رواه النسائى

له عبيدالله بن عبدالله بن عتبة رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: ابن عباس رضي الله عنه راته وويل: آيا د قرآن وروستۍ نازله شوې سوره پېژنې؟ ورته ومې ويل: هو؛ "إذا جاء

نصر الله والفتح" ده، وئې ويل: رښتيا دي وويل.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ الله عَنْهُمَا قَالَ : أُنْزِلَتْ هَذِهِ السُّورَةُ (إِذَا جَاءَ نَصْرُ الله وَالْفَتْحُ) عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم فِي وَسَطِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ وَعَرَفَ أَنَّهُ الْوَدَاعُ فَأَمَرَ بِرَاحِلَتِهِ الْقَصْوَاءِ فَرُحِلَتْ لَهُ فَرَكِبَ فَوَقَفَ بِالْعَقَبَةِ وَاجْتَمَعَ النَّاسُ فَقَالَ :« يَا أَيُّهَا النَّاسُ ». فَذَكَرَ الْحَدِيثَ فِي خُطْبَتِهِ. رواه البيهقي و غيره

له ابن عمر رضي الله عنه روايت دئ چې وئې ويل: دا سوره "إذا جاء نصر الله والفتح" د ايام تشريق په منځ کې پر رسول الله صلى الله عليه وسلم نازله شوه، نو پوه شو چې د وداع وخت دئ، نو امر ئې وکړ چې قصوى نومې اوښه ئې راولي، ورته راوستل شوه، پرې ودرېدو او خلکو ته ئې وينا وکړه او بيا ئې د ده هغه مشهوره خطبه يادە کړه.

له رواياتو داسې معلومېږي چې دا مباركه سوره د پيغمبر عليه السلام له رحلت نژدې درې مياشتې مخکې نازله شوې.

دا سوره د الهي نصرت، وروستۍ بريا او په دين کې د خلکو ډله ډله او پراخ ننوتلو زېرى ورکوي، د دې مرحلې خاص مسئوليتونه او وظائف په ګوته کوي او پيغمبر عليه السلام ته لارښوونه کوي چې په دې مرحله کې او د دغو بشارتونو د تحقق په وخت کې به څه کوي.

فتح او بريا ځيني داسې آفتونه لري چې که پرې مبتلى شوو او ځان مو ترې ونه ساتو، نو د بريا عواقب به د ماتو تر پايلو ډېر خطرناك ومومو، د برياوو ستر ستر آفتونه دا دي:

١- فاتحان اکثراً د غرور او تکبر په بيمارۍ اخته کېږي، بريا او فتح د خپلو وړتياوو، ځانګړتياوو او برياليو هڅو نتيجه ګڼي، د نورو په نسبت د لويي احساس په کې راولاړ شي، ځان د امتيازاتو مستحق ګڼي، د غرور، لويي او تر نورو ځان لوړ ګڼلو احساس ئې له نورو سره په چلن کې راڅرګند شي، هغه رب چې ايمان ئې پرې درلود، د مبارزې او له دښمن سره د نښتو په وخت کې ئې د ده تأييد او ملاتړ ته سترګه په لار ول اوس ئې هېر کړى، د الله تعالى د پېرزوينو په وړاندې ئې د امتنان او شکر احساس ورو ورو کمزورى او بالآخره له منځه ولاړ شي او که په خلکو ئې باور وو او په دې عقيده وو چې د خلکو له ملاتړ پرته مبارزې ته دوام نه شي ورکولى او په خپلې مبارزې کې ئې د خلکو وندې ډېره مهمه او ضروري ګڼله او په دې باور وو چې د ولس د قربانيو، حمايت او ملاتړ په نتيجه کې مبارزه تر وروستۍ بريا پورې دوام کولى شي، خو اوس دا ټولې خبرې ترې هېرې شي، خلك هېر کړي، په کمه سترګه ورته ګوري اوس له خلکو دا طمع کوي چې د ده درناوى به کوي، د

ده مرهون او ممنون به وي او په خپلې مبارزې کې بریا به د ده د فوق العاده او ستري وندې نتیجه ګڼي. غرور او تکبر، فاتحان هم له الهي تأیید محروم کړي او هم د ولس له حمایت او په مستبد او مطلق العنان واکمن ئې تبدیل کړي.

۲- بریا او فتح اکثراً د دې باعث شي چې دعوتګران او مبارزان هغه اعتناء او اهتمام له لاسه ورکړي چې مخکې به ئې د ځان اصلاح او د ملګرو روزنې، دعوت او تربیې ته کاوو، له یوې خوا بریا دا احساس په دوی کې راولاړ کړي چې ځان کامل وګڼي او ګمان وکړي چې کمال ته رسېدلي او دا بریا د دوی د کمال نتیجه ده، له بلې خوا ځان جوړونه او د افرادو تربیت او روزنه چې د مبارزې یوه لازمي او ضروري برخه وه اوس هغه له پامه وغورځوي او ضرورت ئې منتفي وګڼي او له بلې خوا ئې سیاسي او اداري مصروفیتونه داسې احاطه کړي چې نه ځان ته د اعتناء او اهتمام کولو فرصت ولري او نه د نهضت فکري او دعوتي چارو ته. بالآخره کار هغه ځای ته ورسېږي چې ټولو هغو عواملو ته پاملرنه او اعتناء له منځه ولاړه شي چې نهضت ته ئې پر دښمنانو بریا او برلاسي ورپه برخه کړه، خلك ئې د هغه په خوا کې راغونډ کړل، له الهي تأیید او ملاتړه ئې برخمن کړ، فتح او بریا ئې ورپه برخه کړه. دا ټول هېر او له پامه وغورځول شي.

۳- بریا په خپله معیار او ملاك شي او فاتحان د خپلو مبارزاتو د دوران هر کار په دې دلیل (ښه) او (سم) ګڼي چې دوی ئې بریا ته ورسول او فتح ئې ورپه برخه کړه او د دوی په کامیابۍ کې ئې وندې درلوده!! د مبارزې د دوران ډېر بد، ناروا او حرام کارونه هم ورته ښه ښکاره شي.

٤- له نهضت سره د خلکو پیوستون هم خپل مخکینی طبیعي بهیر له لاسه ورکړي او د هغې فضاء او شرائطو تر اغېز لاندې راشي چې بریا رامنځ ته کړي، مخکې به افراد یوازي یوازي، تدریجي، له غور او دقت وروسته او له نورو سره د نهضت له مقایسې او په ښه والي او غوره والي ئې له پوهېدو وروسته له نهضت سره یوځای کېدل، له پوهې وروسته او مصممانه به راتلل، راتګ به ئې یو سنجول شوی انتخاب وو، د قربانۍ له عزم او ارادې سره به ئې د کاروان ملګرتیا کوله، په دې به پوهېدل چې له نهضت سره ئې پیوستون خطرونه لري، له ګواښونو سره ئې مخامخ کوي، د دې غوښتنه ترې کوي چې د شر او فساد له مسلطو ځواکونو سره به تصادم او ټکر ته تیار وي، د راتلو په وخت کې به ئې د زندان توري خونې، زنځیرونه، زندۍ، زولنې، هجرتونه، پرهارونه، شهادتونه، ګواښونه او د کړاوونو خطرناك مناظر سترګو ته ودرېدل، خو دا ټول به ئې ومنل، تعهد به ئې وکړ او د نورو مبارزینو په څنګ کې به ودرېدو، خو اوس او د بریا او فتحې له تحقق وروسته او د

خطرونو او ګواښونو له پای ته رسېدو وروسته، خلك ډله ډله راځي، فوځ فوځ له کاروان سره یو ځای کېږي، د دې لپاره نه چې په حقیقت پوه شوي او د نوي دین حقانیت ورته ثابت شوی، بلکې د امتیازاتو د لاس ته راوړو په طمع راځي، داسې نه ده چې د راتلو په وخت کې ئې له ځان سره پتېیلې وي چې د دین لپاره به قرباني ورکوي او کړاوونه به ګالي، بلکې په دې هیله راځي چې نهضت به تل بریالی او برلاسی وي او دی به ئې په خوا کې خپلو موخو او غرضونو ته رسېږي!! څوك چې د بري په وخت کې ډله ډله راغلي که دښمن غالب شي نو ډله ډله به له نهضت وځي او له دښمن سره به یوځای کېږي. که د دغو خلکو روزنې او تربیې ته جدي پاملرنه ونه شي؛ نهضت ته به سخت تاوان رسوي او له نه حل کېدونکو ستونزو سره به ئې مخامخ کوي.

تاریخ په دې شهادت ورکوي چې اکثر نهضتونه له بریا وروسته له تباهۍ سره مخامخ شوي، د مبارزې په جریان کې بریالي او موفق وو، د مبارزې ستونزې ئې ګاللې، په ابتلاءاتو کې صابر او ثابت قدم وو، له ګواښونو نه وېرېدل او فشارونو ته نه تسلیمېدل، ګواښونو، محاصرو او کړاوونو نه شو کولی چې له خپلې لارې ئې منحرف او د دښمن په وړاندې له خپلو اصولو او تګلارو تنازل او انحراف ته اړ کړي، خو د بریا او فتحې د خطرناکو آفتونو په وړاندې په ثبات او مقاومت نه دي موفق شوي، د بریا په آزموینې او ابتلاء کې پاته راغلي او ماته ئې خوړلې. لکه چې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه فرمایي: ابتلینا بالضراء فصبرنا و ابتلینا بالسراء فلم نصبر: په کړاوونو وآزمویل شوو نو صبر مو وکړ او په سوکالي وآزمویل شوو خو صبر مو ونشو کړی.

د دې مبارکې سورې په مختصر، موجز او جامع الفاظو کې دغو ټولو آفتونو ته اشاره شوې او له دې د ځان ساتلو لارښوونې په کې راغلې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣

۱- هغه وخت چې راشي الهي بریا او فتح. ۲- او خلك وګورې چې ننوځي به د خدای په دین کې ډلې ډلې. ۳- نو لګیا شه د خپل رب په ثناء؛ او ترې وغواړه بخښنه، بې شکه چې هغه دئ د توبې ښه قبلوونکی.

دا آیتونه څو اساسي مطالب افاده کوي:

١- ډاډه اوسه چې الهي نصرت راروان دئ، پر دښمن به ستا بريا تحقق مومي، خلك به ستاسو بريا او فتحي ته په پام سره ډله ډله د الله په دين کې ننوځي، تر اوسه عام ولس د نهضت له ليکو سره په پيوستون کې محتاط وو، له دې وېرې چې داسې نه نهضت له ماتې سره مخامخ شي، دښمن پرې غالب شي، زړه نا زړه او متردد ول او له پايلې ئې وېره درلوده، د دوی له منځه يوازې محدود شمېر با همته، زړه ورو او مصممو خلکو ايمان راوړ، له گواښونو ونه وېرېدل او له کاروان سره يوځای شول، خو اوس او د برياوو له ليدو او د خطر له منتفي کېدو وروسته به په پراخه پيمانه او فوځ فوځ له نهضت سره يو ځای کېږي او تعهد به کوي.

٢- د فتحي او بري په رارسېدو سره د خپل رب ستاينه وکړه، دا د الله تعالی پېرزوينه وگڼه، د دې پېرزويني په پاس بايد د ده په ستايني لگيا شې، ستا په څېړې، خبرو، حرکاتو او سکناتو کې بايد دا احساس څرگند وي چې ته دا بريا د الله تعالی پېرزوينه گڼې نه د خپل درايت، تدبر او هلو ځلو نتيجه، ځان د ستايني او توصيف وړ او مستحق نه شمېرې، له نورو دا تقاضی نه لرې چې تا وستايي او ستا وډه د دې بريا په تر لاسه کولو کې اساسي او سترە وگڼي او په دې توگه ستا د احسان مرهون او پوروړي وي!! او ستا پر لويي او عظمت اعتراف وکړي!! بلکې بايد د الهي احسان مرهون وې او يوازې الله تعالی د ستايني وړ وشمېرې. دا لارښوونه فاتحان له غرور، تکبر، ځان ښودني او تر نورو ځان لوړ گڼلو ژغوري، چې دا ټول د بري د مرحلې آفتونه دي، دغه آفتونه دي چې په استبداد او مطلق العنانې منتج کېږي، له زعيم او قائد يو مغرور واکمن جوړوي او له متابعينو ئې متملق او چاپلوس غلامان. نه گورئ د داسې فاتح زعماوو او مشرانو په ستاينو څومره مصارف کېږي؟! پر مجسمو، تصويرونو، مرقدونو ئې، پر هغو فيلمونو او کتابونو چې د دوی د ستايني په غرض بازار ته راوځي او منتشر کېږي، هومره مصارف کېږي چې انسان په حيرت کې اچوي!! او دا په داسې حال کې چې اصلي فاتحان (خلك) نه يوازې د انقلاب له ثمراتو بې برخې دي، د هغې وڼې مېوې ئې لا نه دي څکلې چې په خپلو وينو ئې خړوبه کړې!! بلکې کړاوونه گالې، تحقيرونه او اهانتونه زغمي، د واکمنانو په وړاندې سر ټيټولو ته اړ کېږي او له خپلو قربانيو سره سره بيا هم د واکمنانو د اقتدار د دوام لپاره مزيد قربانيو ته بلل کېږي. د واکمنانو او د دوی ژوند سره مقايسه کېدی نه شي!!

٣- له بري وروسته په دې مکلف يې چې د مبارزې د وخت ضعفونه، کمزورې، قصور، کمی او اشتباهات راپه ياد کړې؛ او له الله تعالی ئې بخښنه وغواړې او د هغو کسانو په څېر نه شې چې د قدرت نېشه ئې مست کړي، خدای هېر کړي، خپل سوابق د اشتباهاتو

په شمول ملمع او ښايسته کړي، تل ئې د خلکو په مخ کې ږدي او له دوی د ستاينې، تحسين او تمجيد غوښتنه کوي او حتی کار ئې هغه ځای ته ورسېږي چې خپل صريح او څرګند قصور او اشتباهات هم توجيه کوي، ترې دفاع کوي، له خپلې خطأ صواب جوړوي. او پام چې د هغو فاتحانو په څېر هم نه شې چې له بري وروسته خپل ټول سوابق، شعارونه، ژمنې، له الله تعالی او له خپلو ملګرو او خپل ولس سره تعهدات هېر کړي، سراسر بدل شي، په خپل مسير او تګلارې کې تغيير راولي، ګمان کوي چې کمال مقصود ته رسېدلی، ټولې پوړې ئې پلي کړې، وروستۍ لوړې پوړي ته رسېدلی، له دې آخوا داسې پراو نه دئ پاته چې ځان ورورسوي، نه د مزيد ځان جوړولو کوم پراو پاته دئ، نه داسې کومه اشتباه لري چې تصحيح ئې کړي او نه داسې ګناه چې بخښنه ئې وغواړي!! آيا پوهېږې چې د الله تعالی رسول صلی الله عليه وسلم، دا تر ټولو کامل او غوره انسان، دا د هدايت ځلانده مشعل، دا تر ټولو ستر مصلح، مجاهد او مبارز، دا تر ټولو محتاط او پرهېزګار عابد، هغه شخصيت چې تاريخ ئې بل نظير نه شي ليدلی، همدا شخصيت د خپل ژوند په پای کې او هغه وخت چې له ده او د ده د دعوت د بريا په اړه د الله تعالی وعدې تر سره شوې، الله تعالی خپل نصرت او تأييد د ده په حال شامل کړ، ستره او تاريخي بريا ئې په برخه شوه، تر ټولو لوی امت، تر ټولو ستر او پراخ ملك، تر ټولو پياوړی او ځواکمن فوځ ئې جوړ کړ، داسې چې د هغه وخت دوه سترې سترې امپراطورۍ د دې فوځ په لاس فتح شوې، دا شخصيت په دغه وخت کې د الله تعالی په ستاينې او مغفرت غوښتلو داسې مصروف وو چې ټولو به په حيرت سره پوښتنه کوله: يا رسول الله!! دا ولې په دغو ورځو کې تر مخکې زيات، په ناسته ولاړه، تګ راتګ او په هر حالت کې تا په تسبيح، تحميد او استغفار کې مشغول ګورو؟ مګر الله تعالی تا ته ټول مخکينې او وروستنې ګناهونه نه دي بخښلي؟ په ځواب کې به ئې فرمايل: مأمور شوی يم چې له بريا وروسته الله تعالی ته تسبيح او تحميد ووايم او مغفرت وغواړم!

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت کوي چې د دغې سورې له نزول وروسته رسول الله صلی الله عليه و سلم به تل دا تسبيحات زمزمه کول:

سُبْحَانَكَ اللهمَّ وبِحَمْدِكَ اللهمَّ اغْفِرْ لِي، سُبْحَانَكَ اللهمَّ ربنا وبِحَمْدِكَ، اللهمَّ اغْفِرْ لِي، إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ. رواه احمد

پاکې ده تا ته بارئ خدايه! او له ستاينو سره دي، اې ربه! ما ته ئې وبخښه، پاکې ده تا ته بارئ خدايه، زمونږ ربه! او له ستاينو سره دي، ما ته ئې وبخښه، بې شکه چې ته بخښونکی توبه قبلوونکی يې.

دا ولې له ګناه معصوم پیغمبر دومره او داسې پرله پسې مغفرت غواړي او تر هر وخت زیات د خپل ژوند په پای کې؟! د دې دلیل دا دئ: انسان چې هر څومره خپل ځان او خپل ضعف او قصور ته متوجه کېږي، الله تعالی ښه پېژني او د ده د کمال د صفتونو په اړه ئې معرفت ارتقاء مومي او هغه اوږد واټن ته متوجه کېږي چې د ده او کمال مطلق تر منځ پروت دئ، د قصور او کموالي احساس په کې وده کوي، داسي انګېري چې په پښو کې ئې د دې اوږدې فاصلې د پلي کولو توان نشته، وزرونه ئې تر دې ډېر کمزوري دي چې هغو لوړو لوړو څوکو ته ئې ورسوي، هره شېبه چې پرې تېرېږي او څو ګامه مخکې درومي ګمان کوي چې کولی ئې شو په دې موده کې تر دې زیاته فاصله ووهي او تر دې لا زیات مخکې تللی وی، ولې شا ته پاته شوی؟ ولې نورهم لوړ نه دئ تللی؟ ولې ژر ونه رسېدو؟ دا ورته قصور او کمی معلومېږي، غواړي په استغفار سره ئې جبران کړي.

٤- باید تل، مخصوصاً د مأموریت په پای کې او د بریا او فتحې له تحقق وروسته، له خپل بخښونکي رب بخښنه وغواړې، چې ستا کمی، قصور، اشتباهات او حطأګاني دروبخښي، هیڅکله دي دا په خیال کې ونه ګرځي چې خپل مأموریت دي سم تر سره کړی او خپل مسئولیتونه او وظائف دي په مکمله توګه اداء کړي، که دي هر څومره ستر ستر او ارزښتمن خدمات تر سره کړي وي، زیاتې قربانۍ دي ورکړې وي، د خپلو ایماني دندو په تر سره کولو کې دي ډېري ستونزې او کړاوونه ګالليي وي، په اخلاص او صداقت سره او په مسلسل او ستړیا نه منونکې توګه دي د خپل رب عبادت کړی وي، هر ګام دي په ډېر دقت پورته کړی وي او تل دي دې ته پام وو چې لمن دي په ګناه ونه لړل شي او یو انچ ښې او کېڼ لوري ته منحرف نه شې، له دې ټولو سره سره باید داسي احساس کړې چې شا ته پاته یې، خپل مأموریت دي هغسي نه دئ تر سره کړی چې درسره وړ وو او خپل مسئولیتونه دي په سمه توګه نه دي اداء کړي. که رسول الله صلی الله علیه و سلم له هغه لوړ مقام سره په دې مکلف کېږي چې بخښنه وغواړي نو ته څه کاره یې او د هغه په پرتله دي څه کړي؟!!

توبه قبلوونکي رب تل د توبې دروازه پرانیستې پرېښې، هر څوك چې د ده لوري ته رجوع وکړي، وبه ګوري چې الله تعالی هم د ده لوري ته ورنږدې شوی، ستا د هر وار توجه په مقابل کې څو څو ځله تا ته توجه کوي، ته یو ګام د ده لوري ته ورنږدې کېږې او هغه دوه ګامه درته رانږدې شوی، ته په ورو ورو ګامونو د ده خوا ته وردرومي خو هغه په هروله او سریع ګامونو ستا خوا ته رانږدې کېږي.

اللهب

د سورې معرفي

د دې سورې نوم اللهب (د اور لمبه) دئ، ۵ آيتونه لري، د څلورو لومړيو آيتونو فواصل ئې د تب، کسب، لهب او حطب هموزنه صيغې دي او پنځم ئې د مسد په صيغې پای ته رسېدلی، چې که څه هم توري ئې له مخکينيو توپير لري خو غږ ئې ورسره يو شانته دئ او د سورې د غږ لپاره موزون او مناسب توقف دئ. دا هم مکي سوره ده، د سورې له متن معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې د قريشو سردارانو، په ځانګړې توګه ابو لهب او ښځې ئې د شرارت او فتنو راولاړولو لپاره ملا تړلې وه، په زړونو کې ئې د حقد او کينې اورونه بل وو، د پيغمبر عليه السلام په خلاف ئې خلك راپاروول، ورځ په ورځ د دعوت د لمنې پراخېدا او د ولس پراخ پيوستون د دوی عداوت او دښمني لا زياتوله، يوه به ئې د فتنو اورونه بلول او بل به ئې لمن ورته وهله او په دې اور به ئې تېل شيندل، يوه به د خلکو کرکه او کينه راپاروله او بل به ئې مسلمان شوي ځوروول.

ابو لهب د عبدالمطلب زوی او د رسول الله صلی الله عليه و سلم سکه تره، چې د پيغمبر عليه السلام له بعثت مخکې د ده دوه ګراني لونې د ابو لهب د دوو زامنو عتبه او عتيبه په نکاح شوې وې، له بعثت وروسته د شرير او ظالم ابو لهب دښمني له پيغمبر عليه السلام سره هغه ځای ته ورسېده چې خپلو زامنو ته ئې وويل: تر هغه ستاسو د مخ ليدنه پر ما حرامه چې د محمد (عليه السلام) لونې ته مو طلاق نه وي ورکړی. دواړو جاهلو انسانانو د خپل حسود او متعصب پلار په وينا بې مروتي وکړه او د پيغمبر عليه السلام لونې ته ئې طلاق ورکړ. د پيغمبر عليه السلام له قبيلې، بني هاشم يوازي ابو لهب هغه څوك وو چې د ده له دښمنانو سره يو ځای شو او د خپلوی په حکم ئې هم د دښمنانو په وړاندي د ده حمايت او مرسته ونه کړه، برعکس د ده تر ټولو بد او کينه کښ دښمن شو او نور ئې دښمنۍ ته راپاروول، د قبيلې نورو خلکو که پر پيغمبر عليه السلام ايمان نه وو راوړی خو له دښمن سره د ده په خلاف يو ځای کېدا ئې د مروت او مېرانې خلاف او د قومي غيرت او عصبيت مغاير کار ګانې. خو ابو لهب دغه قومي عنعنه هم تر پښو لاندي کړه، مروت او مېرانې ته ئې شا کړه، له دښمنانو سره ملګری شو او د فتنو راولاړولو او د ولس د کرکې او غصې راپارولو لپاره ئې ملا وتړله!!

عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت کوي: کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې مأمور شو چې خپل دعوت څرګند کړي او تر ټولو د مخه خپل نژدې اقارب او خپلوان د کفر او شرك له پايلو ووېروي، نو سبا ئې د صفا غونډې ته وخوت، پرې ودرېدو او په جګ غږ ئې وويل: يا صباحاه!! د سحر پر مهال دا چيغه په عربو کې د هغه چا چيغه ګڼل کېده چې د شپې په تياره کې ئې دښمن ليدلی چې پر قبيلې د بريد لپاره راروان دئ، قوم ته به ئې د کوم خطر خبرداری ورکاوو، د دې غږ په اورېدو سره ټولو له يوه بله پوښتنه کوله چې دا د چا غږ دئ، وئې ويل: دا د محمد (عليه السلام) غږ، ټول د صفا غونډې په لمنه کې د ده خوا ته راغونډ شول او د پيغمبر عليه السلام د وينا اورېدو ته غوږ شول، پيغمبر عليه السلام هره قبيله په خپل خپل نامه يادە کړه او وئې فرمايل: اې هاشم زيو! اې عبدالمطلب زيو! اې فهر زيو! اې د فلان، فلان او فلان زامنو ... که تاسو ته ووايم چې د دې غره ترشا دښمن درته راغونډ شوی او پر تاسو د بريد اراده لري، آيا زما په خبرې باور کوئ؟ وئې ويل: هو؛ ځکه له تا مو هيڅکله درواغ نه دي اورېدلي! پيغمبر عليه السلام وفرمايل: نو زه تاسو ته له نژدې راتلونکي عذاب خبرداری درکوم. تر دې وړاندې چې پيغمبر عليه السلام خپلې خبرې پای ته ورسوي، ابو لهب پورته شو او د خلکو له منځه ئې پرې نارې کړې او وئې ويل: تباً لك الهذا جمعتنا؟! تباه شې، آيا د دغې خبرې لپاره دي راغونډ کړو؟ په يوه روايت کې دا هم راځي چې يوې تيږې ته ئې لاس کړ چې خپله کرکه او غصه ښه څرګنده کړي.

ابن زيد رضي الله عنه روايت کوي چې يوه ورځ ابو لهب له رسول الله صلى الله عليه و سلم وپوښتل: که ستا دين قبول کړم څه امتياز به تر لاسه کوم؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: همغه چې نور مؤمنان ئې تر لاسه کوي! ابو لهب وويل: يعني له نورو به هيڅ امتياز نه لرم؟! رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: څه تر دې زيات غواړې؟! ابو لهب غصه شو او وئې ويل: تباً لهذا الدين تباً ان اكون وهؤلاء سواء: خاوري د دې دين پر سر، تباه دي شي، چې ما او دا خلك برابر ګڼي!! ابو لهب د پيغمبر عليه السلام په ګاونډ کې اوسېدو، تل به ئې هغه اذيت کاوو، د حج په موسم کې به چې کله پيغمبر عليه السلام د کوم کاروان خوا ته ورغی او هغوی به ئې د الله دين ته رابلل نو ابو لهب به تر شا پسې ورغی او د کاروان خلکو ته به ئې وويل: د دې په خبرو باور مه کوئ، ده له پلرني دين بغاوت کړی، دروغ وايي، غواړي تاسو بې لاري کړي او له خپلو اصلي معبودانو لات او عزی مو منع کړي.

کله چې قريشو د بني هاشم او بني مطلب قبيلو په ضد د دې لپاره د مقاطعې او له

دوی سره د پېر پلور او راکړې ورکړې نه کولو اعلان وکړ چې دوی د رسول الله صلی الله علیه و سلم له حمایې لاس وانخیست؛ او دواړه قبیلې ئې په شعب ابي طالب کې په محاصرې کې ونیول، ابو لهب له خپلې قبیلې او خپلوانو سره اړیکې وشلولې، د قریشو له کفارو سره ملګری شو او په دې محاصرې کې ئې د قوم په ضد د دوی مرسته وکړه. دا محاصره د بعثت په اوم کال پیل شوه او درې کاله ئې دوام وکړ او بني هاشم او بني مطلب ئې له داسې سخت حالت، لوږې او فقر سره مخامخ کړل چې زغمل ئې ورته ډېر ګران وو، د دغې شدیدې محاصرې په دوران کې د ابو لهب کار دا وو چې کله به کومه قافله د خوراکې توکیو د پلورلو لپاره مکې ته راغله، نو ابو لهب به ورغی او ورته وبه ئې ویل: که د شعب ابي طالب له محاصره شوې وادي څوک د څه اخیستلو لپاره درته راغی معامله ورسره مه کوئ، د خپل جنس بیع لوړه وښیئ، څه چې مو خرڅ نه کړی شو ټول د بازار په نرخ زه درنه اخلم.

د ابو لهب شرارتونو، عداوتونو او د پیغمبر علیه السلام په ضد د ولس راپارولو ته په پام سره دا سوره د ده او د ده د مېرمني په اړه نازله شوې، د دوی دواړو د شنیع عملونو د غندنې لپاره د یوې مستقلې سورې نازلېدل ښیي چې دوی د پیغمبر علیه السلام په ضد مخالفت او دښمنۍ کې تر ټولو زیاته وندې درلوده.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ۝١ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ۝٣ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ۝٤ فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ۝٥

١- مات شه دواړه لاسونه د ابو لهب او تباه دي شي.٢- نه دي د ده مال تري دفاع وکړي او نې لاسته راوړي.٣- ژر به ننوځي لمبه ناك خاص اور کې. ٤- او هم ښځه ئې، دا د خاشاك وړونکې. ٥- په غاړه کې مضبوطه رسۍ.

١- دا ښېرا یا د ابو لهب د هغې خبرې ځواب دئ چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د بلنې په وړاندې ئې کړې وه او یا د فتنو او شرارتونو په راولاړولو کې د ده اوږد لاس ته په پام سره د دې پایلې مستحق ګڼل شوی. دا لاسونه چې د فتنو اورونه بلوي او د حقپالو په ضد د جاهل او ناپوه قوم عصبیتونه، کرکه او دښمني راپاروي؛ د ماتېدو وړ دي، دا اور بلوونکي لاسونه دي مات وي، د هغه ابو لهب لاسونه دي فلج شي چې د حق په ضد د عداوتونو او مخالفتونو په راپارولو کې شپه ورځ مصروف دئ، د ابو لهب اصلي نوم

عبدالعزی دئ، خو له دې کبله د ابو لهب (د لمبو پلار) په نامه یاد او مشهور شو چې د فتنو اورونه ئې بلول، همدا راز لکه ابو جهل چې د خپل جهل او جاهلانه عصبیت له کبله په دې نامه یاد او مشهور شو. د مفتن او شریر ابو لهب ټولې هغه هڅې به هدر او شنډې شي او ده ته به تباهي او هلاکت له ځان سره راوړي چې د حق په ضد ئې روانې کړې.

۲- د ابو لهب د مخالفت او عداوت اصلي وجه د ده مال، دولت او وجاهت وو، بډایان او مترفین تل او د زمانې په هر پراو کې د پیغمبرانو علیهم السلام له دعوت سره مخالفت ته ملا تړي، مستکبرین تل د مصلحینو جنګ ته راوځي، دوی د پیغمبرانو علیهم السلام دعوت د خپل مال او اقتدار لپاره جدي ګواښ ګڼي، ابو جهل د پیغمبر علیه السلام د امت فرعون وو او ابو لهب ئې قارون، یو ئې د مکې واکمن وو او بل ئې شتمن، د ابو لهب معامله له پیغمبر علیه السلام سره داسې وه لکه د آذر معامله له ابراهیم علیه السلام سره.

کوم ترکیب چې په دې آیت کې کارول شوی څو مطالب ترې اخیستل کېدی شي:

الف: مال او لاسته راوړنې به ئې څه ترې دفع کړي؟

ب: مال او لاسته راوړنې به ئې د ده هیڅ درد دوا نه کړي او هیڅ څه به ترې دفع نه کړی شي.

ج: مال او لاسته راوړنې دې ده ته هیڅ ګټه ونه رسوي او هیڅ شر او ضرر دي ترې دفع نه کړي.

۳- حتماً او ژر به په داسې اور کې ولوېږي چې لمبې به ترې پورته کېږي، د هغه اور مناسبه او ورته سزا چې ده په خپلو ناولو لاسونو بل کړی وو، د ده د زړه د کینې، حسادت او دښمنۍ اور ته ورته، په هغه اور کې به په خپله ستي شي چې دی ورته لمن وهي.

٤- او مېرمن ئې هم، هغه ښځه چې د فتنو په راولاړولو کې ئې د ده مرسته او ملګرتیا کوله، په هغه اور به ئې خاشاك اچول چې ابو لهب بل کړی وو، د ده په تنور کې به ئې خس او خاشاك اچول چې لمبې ئې لاتېزې شي، دا د فتنې آله، د ولس د احساساتو، غصې او دښمنۍ په پارولو کې د ابو لهب ملاتړې، دواړه به یوځای او په ورته اور کې لوېږي.

۵- دا مفتنه ښځه، د شرارت وسیله، د فتنو اور ته خس راوړونکې او دا د فتنو په راولاړولو کې د خپل شریر مېړه ملګرې به په داسې حال کې د دوزخ په اور کې لوېږي چې په غاړې کې به ئې مضبوطه رسۍ راتاو وي، دې خپل ښځینه خصلت له لاسه ورکړی وو، هغه عاطفه او ترحم ئې ځپل شوي وو چې د ښځو ګانه شمېرل کېږي، دا د ښځو ذاتي خصوصیت او د مورولۍ صفت په دې بې رحمي ښځې کې ځپل شوی وو او په ځای ئې داسې رسۍ ځان ته ګانه کړې او په خپلې غاړې کې ګرځوي چې د فتنو اور ته خاشاك پرې راوړي، په دې فخر

کوي، نو خود به په داسي حالت کې دوزخ ته ننوځي چې مضبوطه رسۍ به ئې په غاړې کې راتاو وي.

دې ویلي وو: په لات او عزی قسم چې زه به د خپلې غاړې ټوله ګانه پلورم او پیسې به ئې د محمد (علیه السلام) په مخالفت کې مصرفوم. د دغه قسم په ځواب کې ویل شوي: د جهنم په لمبه ناك اور کې به په داسي حال کې پرېښوځي چې ټینګه رسۍ به ئې په غاړه کې وي.

ځیني وایي چې د ابو لهب ښځي به له صحراء اغزي راوړل او په شپه کې به ئې د پیغمبر علیه السلام د کور مخي ته شیندل او په دې سره به ئې د خپل زړه کینه سړوله. خو کېدی شي دا د هغو خلکو تعبیر وي چې د داسي الفاظو د مجازي معنی په ځای حتماً د هغو حقیقي معنی رااخلي او خاص ذهن ئې دا نه شي منلی چې په ځینو مواردو کې کېدی شي د الفاظو مجازي معنی مراد وي نه اصلي. چې په قرآن کې د دې ډېر زیات مثالونه شته.

الاخلاص

د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الاخلاص: سوچه والی دئ، چې نه یوازې د سورې نوم دئ بلکې د محتوی لپاره ئې عنوان هم دئ- ٤ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د احد، صمد، یولد او احد هموزنه صیغې دي، په مکه کې نازله شوې که څه هم ځیني ئې مدني ګڼي، د دې تر څنګ چې ډېر روایات ئې مکي ګڼي د سورې متن، د بحث موضوع ئې او د بیان اسلوب ئې ښیي چې دا هم مکي سوره ده.

د دې موجزې، ښایسته او لنډې سورې په څلورو لنډو لنډو او جامع آیتونو کې د توحید اساسي مباني او بنسټیز اصول په داسي بڼې کې بیان شوي چې د توحید ټول پراخ او ژور ابعاد احتواء کوي. په توحید کې اخلاص او له هر ډول شرك ئې منزه او سوچه ساتل توضیح کوي. که څوك وغواړي چې پر یوازیني معبود الله تعالی ایمان تر ټولو په لنډ او ښایسته کلام کې بیان کړي او د توحید ټول پراخ ابعاد، په ډېره دقیقه توګه او په څو لنډو جملو کې توضیح کړي نو باید دغه سوره تلاوت کړي. د قرآن درېیمه برخه د توحید په اړه بحثونو احتواء کړې او ټول هغه مطالب چې د توحید په اړه په قرآن کې راغلي د دغې مبارکې سورې په دغو موجز او لنډو آیتونو کې ځای شوي. څوك چې دا سوره تلاوت کړي؛

داسې ده لکه چې د قرآن درېیمه برخه ئې تلاوت کړې وي. که وغواړو چې د توحید مبحث تر څلورو عنوانونو لاندې وڅېړو او د قرآن ټول هغه آیتونه چې د توحید په اړه بحث کوي تر دغو څلورو عنوانونو لاندې تنظیم کړو؛ نو باید د دې سورې دغه څلور آیتونه څلور عنوانونه کړو. او د توحید مربوط آیتونه ئې په شرح او تفصیل کې راوړو.

د دې سورې آیتونه او د الفاظو ترکیب ئې انسان ته دا انتباه ورکوي چې په حقیقت کې دا سوره د الله تعالی په اړه پوښتنو ته د ځواب په بڼې کې نازله شوې، په دې اړه متعدد روایات لرو چې د مکې مشرکینو او د مدینې اهل کتاب له پیغمبر علیه السلام پوښتلي چې هغه خدای څوک دئ چې مور ورته رابولې؟ څه صفات لري؟ ته وایې چې فرشتې له نور، انسان له خټې او پېریان د اور له بې دوده لمبې او آسمان له دوده ... پیدا شوي،... مور ته ووایه چې ستا خدای له څه پیدا شوی؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم تر هغه ځواب نه دئ ورکړی چې دا سوره نازله شوه.

په دې سوره کې د الله تعالی پنځه صفات ښودل شوي: الله یو دئ، صمد دئ، نه ئې زېږولې او نه زېږېدلی، نه ئې کوم سیال او کفو شته. یعنی الله تعالی له ډېرو معبودانو یو نه بلکې یوازینی معبود دئ، د ده تر څنګ بل معبود نشته، هیڅ شریك نه لري، هیڅوك په الوهیت او ربوبیت کې له ده سره مه شریکوئ، الله تعالی صمد، بې نیاز، بشپړ او کامل دئ، په هیڅ څه کې بل ته اړ او محتاج نه دئ، هره هغه انګېرنه او تصور چې الله تعالی ته د نقص، عیب، احتیاج، ضعف او کمي نسبت وکړي، یو ناسم او غلط تصور دئ، الله تعالی کمال مطلق دئ، له هره پلوه کامل دئ، الله تعالی خالق دئ، له مخلوق سره ئې مه تشبیه کوئ، مخلوق د خپلې بقاء لپاره زېږولو ته اړ دئ، که دا نه وي نسل ئې له منځه ځي، مخلوق له بله زېږي، بل ئې پیدا کوي، په خپل پیدایښت کې پیدا کوونکي او خالق ته اړ او محتاج وي، د الله تعالی په اړه به د هغو معیارونو له مخې قضاوت نه کوئ چې د مخلوق په اړه صدق کوي، زېږول او زېږېدل د مخلوق خصوصیت دئ، چې د بقاء لپاره دې ته محتاج دئ، نیازمن خدای؛ الله نه بلکې د الله تعالی په اړه یو ناقص تصور دئ.

د خدای پالنې یو خطرناك آفت دا دئ چې ځینې خپل ځان او ځینې خپل مذهبي مشران، خدای ته داسې منسوبوي چې ګواکې د ده د خاصې کورنۍ غړي وي، د ځان او الله تعالی تر منځ د خاصې او ځانګړې رابطې ادعاء کوي، ځان تر نورو انسانانو لوړ او خدای ته نژدې ګڼي، نه د خپل عمل او عقیدې پر بنسټ؛ بلکې په قومي او نسبي لحاظ، ځان د الله تعالی نژدې دوستان او حتی خپلوان او د کورنۍ غړي شمېري، الله یوازې د ځان او په خپلې کورنۍ پورې مربوط ګڼي، له خپلو مذهبي مشرانو د خدای ځای ناستي جوړ کړي، حتی

هغه خدای ترې جوړ کړي چې له آسمان راکوز شوی، یا یو له هغو خدایانو چې زمکې ته راغلی، ګمان کوي چې دی د خدای شریك دئ، په ځینو خدایي چارو کې د تصرف واك او صلاحیت ورکړی شوی، کولی شي د الله تعالی په څېر زموږ حاجتونو او اړتیاوو ته ځواب ووایي، زموږ دعاءګاني اجابت کړي، مشکلات مو رفع کړي، بیماری مو علاج کړي، هغه زموږ او الله تعالی تر منځ واسطه دئ، زموږ په قوم کې د ده بعثت په دې معنی دئ چې الله تعالی له موږ سره خاصه رابطه لري. دا آفت باعث شي چې تل د (دینداارانو) او (خدای پالونکو) په لیکو کې داسي ټګماران راپیدا شي چې له دین ځان ته دکان جوړ کړي، دین د یوه داسي غولوونکي دام په توګه کاروي چې ساده زړي او بې عقله خلك په کې ښکار کوي، دین ئې حرفه شي، ځان د خدای او خلکو تر منځ واسطه ګڼي، د خدای په نامه له خلکو شکرانې او نذرانې تر لاسه کوي او په خپل جیب کې ئې اچوي، د خلکو له خولو او تڼاکو تغذیه کېږي، خو له دې سره سره ځان تر خلکو اوچت ګڼي، خلك باید د خدای لپاره د دوی په پښو کې ولوېږي او د دوی لاس پښې ښکل کړي!! د دې لپاره چې د دې خبیث بوټي جړې وایستی شي او دا د ګنده اوبو ډنډ وچ شي، دا بیمار ذهنیت ختم شي او هغه حرفوي دینداران او ټګمار او غولوونکي مذهبي مشران خلع سلاح شي، توطئې ئې شنډې او نور ونتوانېدی شي چې ساده خلك دوکه کړي، دا سوره خلکو ته وایي: الله تعالی د ټولو پیدا کوونکی او پالونکی دئ، نه ئې زوی شته او نه نسب، ټول انسانان د الله تعالی عیال دي، له هیڅا سره ځانګړې او خاصه نسبي اړیکه نه لري. که تاسو د بایبل کتاب ولولئ، وبه ګورئ چې هلته خدای د یهودانو د پلار په توګه معرفي شوی او یهودان د خدای د خاصې کورنۍ غړي، یهودي حق نه لري له یهودي پرته له بل سره نکاح وکړي، خدای په دې کار سخت غصه کېږي، دا ځکه چې نور انسانان د خدای د کورنۍ له غړو سره کفو او سیال نه دي او نکاح ئې ورسره جائزه نه ده؛ خدای تل د یهودانو په منځ کې اوسي، یهودانو ته خدای امر کوي چې نور قومونه یوازي په هغه صورت کې د ژوند حق لري چې د یهودانو غلامۍ ته سر ټیټ کړي، په کومي سیمي چې یهودان برید وکړي، نو ټول به وژل کېږي، مګر هغه چې له یهودانو سره ئې مرسته کړې وي، د یوه داسي ښار نوم اخلي چې له یوې فاحشې او د دې له مور پلار پرته نور ټول اوسېدونکي ئې له نیولو وروسته له تېغه تېر شول او دا درې کسان له دې کبله وبخښل شول چې د یهودانو دوو جاسوسانو ته ئې پناه ورکړې وه!! او که د دوی سالار دا کار نه وی کړی او ټول اسیران ئې له تېغه نه وی تېر کړي نو د یهودانو خدای به سخت ناراضه کېدو او دوی ته به ئې سخته سزا ورکوله!! دا سوره د دغه کافرانه، غیر انساني او غلط ذهنیت د تردید لپاره نازله شوې.

الله تعالی یوازینی معبود او بې مثله بې سیاله دئ، د دې عالم هیڅ څه نه په خپل ذات او نه هم په خپلو صفاتو کې الله تعالی ته ورته او شبیه دئ، هر څوك چې د الله تعالی په اړه داسې تصور او انګېرنه ولري چې له کوم مخلوق سره د الله تعالی له تشبیه سره مترادف وي، الله تعالی ئې نه دئ پېژندلی او د ده په اړه ئې تصور ناقص دئ، چا چې کوم مخلوق د الله تعالی سیال وګرځاوو، له هغو صفاتو ئې کوم یو ورته منسوب کړ چې الله تعالی ته مختص دي، الله تعالی ئې نه دئ پېژندلی او له دې عاجز شوی چې د الله تعالی او مخلوق تر منځ په ژور توپیر پوه شي، چا چې کوم مخلوق عالم الغیب وګانړو، د دعا ګانو منونکی ئې وشمارو، د عالم د چارو متصرف ئې وبالو، په حقیقت کې ئې هغه د الله تعالی سیال او کفو نیولی په داسې حال کې چې الله تعالی سیال نه لري.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ۝٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ۝٤

۱- ووایه: هغه دئ یوازینی الله. ۲- بشپړ بې نیاز الله. ۳- نه ئې زېږولي؛ او نه دی دئ زېږېدلی. ٤- او نشته دئ کوم سیال ورته.

۱- په دې آیت کې څو اساسي ټکیو ته توجه ولرئ:

الف: که څه هم د دې آیت لومړنی مخاطب رسول الله صلی الله علیه و سلم دئ، ده ته ویل شوي چې د الله تعالی په اړه پوښتنو ته په ځواب کې دا خبره وکړه، خو هر مسلمان د دې آیت مخاطب دئ، هر مسلمان باید د الله تعالی په اړه دغه باورونه ولري او الله تعالی په دې توګه معرفي کړي.

ب: دلته داسې نه دي ویل شوي چې الله واحد (یو) دئ بلکې ویل شوي احد (یوازینی) دئ، یعني هغه خدای چې زه پرې باور لرم او تاسو ورته رابولم، له ډېرو معبودانو یو معبود نه؛ بلکې یوازینی مبعود دئ، څوك چې الله تعالی یوازینی معبود مني نو هر بل معبود نفي کوي، څوك چې د الله تعالی تر څنګ د بل معبود لمانځنه کوي او مرسته ترې غواړي په حقیقت کې ئې الله تعالی د یوازیني معبود په توګه نه دئ منلی، څوك چې له الله تعالی پرته بل ته طمع لري، د بل ور ټکوي، بل د مرګ ژوند، رزق روزي مالك ګڼي، په حقیقت کې ئې دا کس د الله تعالی شریك ګرځولی او په دې باور نه دئ چې الله تعالی یوازینی معبود دئ.

ج: الله تعالى په خپل ذات کې هم او په خپلو صفاتو کې هم يوازينى دئ، نه (ند) او سيال لري او نه شبيه او مثيل، نه کوم څه په خپل ذات کې الله تعالى ته ورته شته او نه په خپلو صفاتو او افعالو کې. چا چې الله تعالى په ذات او صفاتو کې له مخلوق سره تشبيه کړى، الله تعالى ئې نه دئ پېژندلى او عقيده ئې ناقص او غلطه ده.

۲- د صمد لغوي معنى کامل، ډك، مضبوط او بې خلله ده او پر هغه چا ئې اطلاق کېږي چې نه يوازي بل ته اړ او محتاج نه وي بلکې نور د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره ده ته رجوع کوي. دا لفظ په دې آيت کې دا مطالب افاده کوي:

الف: الله تعالى له هر عيب او نقص منزه دئ، کمال مطلق او بې نياز دئ، ټول په خپل پيدايښت او بقاء کې ده ته محتاج او نيازمن دي او د خپلو حاجتونو او اړتياوو د رفع کولو لپاره مجبور دي ده ته رجوع وکړي.

ب: هره هغه عقيده او باور چې د الله تعالى په کمال او بشپړتيا له باور سره تصادم وکړي او کوم عيب او نقص ورته منسوب کړي او الله تعالى د کوم کار په تر سره کولو کې د بل مرستي ته اړ او محتاج وګڼي؛ د صمد او يوازيني الله په اړه بې بنسټه او واهي باور دئ.

۳- له دې مبارك آيت دوه مطالب اخيستى شو:

- الله تعالى له مخلوق سره مه تشبيه کوئ، مخلوق له نشت شته شي، د بقاء لپاره (زېرېدو) ته ضرورت لري، په خپل شته والي کې د هغه چا مرهون وي چې دئ ئې پيدا کړى، له خپل مخکيني زېرېدلى او وروستنى زېروي، داسي نه چې د الله تعالى په اړه د هغې انګېرنې له مخې قضاوت وکړئ چې د مخلوق حالت تاسو ته القاء کړي، مخلوق مو تل داسي ليدلى چې زېرې او زېروي، دا اصل د مخلوق له ځانګړي حالت منشأ اخلي او د مخلوق په اړه صدق کوي، داسي نه چې دا انګېرنه د الله تعالى په اړه وکاروئ.
- قرآن فرمايي چې ځينو حرفوي ديندارانو ځانونه د خداى زامن ګڼلي او ځينو نورو لار ورکو ديندارانو خپل پيغمبر او مذهبي مشران د خداى زامن شمېرلي، لکه چې فرمايي:

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٣٠ التوبه

او يهودانو وويل: عزير د خداى زوى دئ او مسيحيانو وويل: مسيح د خداى زوى دئ، دا هسې د دوى د خولو خبرې دي، له هغو کافرانو سره خپله خبره ورته کوي چې (تر دوى) مخکې ول، الله دي دوى هلاك کړي، څنګه دوکه کېږي؟!!

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥۚ قُلۡ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُمۖ بَلۡ أَنتُم بَشَرٞ مِّمَّنۡ خَلَقَۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٨ المائده

يهودانو او نصرانيانو وويل: مونږ د الله زامن او د ده محبوبان يو، ورته ووايه: نو ولې مو په خپلو ګناهونو تعذيبوي؟ داسې نده بلکې تاسو همغه عادي انسانان يئ چې الله پيدا کړي. چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او څوك چې وغواړي تعذيبوی ئې او د آسمانونو، زمکې او څه چې په دوی کې دي، د ټولو واك له الله سره دئ او بېرته ورتګ د ده په لوري دئ.

بايد وګورو چې د يهودانو او نصرانيانو د دې خبرې معنی څه او د دوی موخه څه ده؟ مګر يهودان او نصاری هغه خلك نه وو چې خپل پيغمبران ئې تکذيب کړل؟ ځيني ئې په زندانونو کې واچول، ځيني ئې له يوه ښار بل ته پرله پسې تبعيد کړل، ځيني ئې ووژل، ياران ئې ورته په وحشيانه او بې رحمانه توګه تعذيب کړل، زندې ئې کړل، په دار ئې وځړول او په اور کې ئې واچول؟! عيسی عليه السلام ئې سره له دې تکذيب کړ چې د ده ټولې سترې سترې معجزې ئې په خپلو سترګو وليدې!! عفيفه او پاك لمنه مور ئې په بد کارۍ متهمه کړه، د عيسی عليه السلام د وژلو لپاره متحد شول، په زندان کې ئې واچاوو، حواريون ئې ورته ووژل، دا څه وشول چې کله دغه ګران او مظلوم پيغمبران له دوی ښل شوي، يا په شهادت رسېدلي او يا ئې په خپل مرګ رحلت کړی، نو همدغو خلکو د خدايي تر مقامه لوړ کړي؟! د خدای زامن او په خدايي کې ئې د ده شريك ګڼلي!! دا ولې له ډېرو دعوتګرانو او زړه سواندو مصلحينو سره داسې معامله شوې، په ژوند کې له مخالفتونو سره مخامخ شوي، خو له مرګ وروسته ځينو د الوهيت تر مقام لوړ کړي او د دوی له قبرونو ئې زيارتونه او عبادت ځايونه جوړ کړي؟!! هغه چې د دغو نومياليو صالح شخصيتونو د ژوند په وخت کې ئې يا د دوی مخالفت کړی او يا ئې د دوی له ملګرتيا ډډه کړې، د دوی له رحلت وروسته ئې ځان د دوی او د دوی د مقام وارث ښوولی، د دوی دين ئې د ځان ميراث ګڼلی، له هغه ئې ځان ته حرفه جوړه کړې، له هغه ئې داسې دکان جوړ کړی چې هم ئې وړيا د دوی نوم لوړ کړی او هم ئې د دوی دسترخان ډك کړی. د دوی مثال د قبر هغه مجاور او متولي ته ورته دئ چې د قبر خاوند ته رنګ رنګ کرامتونه ثابتوي، وايي: آبله شپه د نور وړانګې ترې پورته کېدې، هر بيمار چې ورته راغلی روغ رمټ بېرته ګرځېدلی، د ده په درشل کې دعاء نه ردېږي، دلته حاجتونه تر سره کېږي، څوك چې د دې

مرقد درشل ته رارسېدلی تش لاس نه دئ ګرځېدلی او ... دا ولې دومره ستاینې؟ ولې د کرامتونو د ثابتولو دا حیرانونکې هڅې؟ آیا دا خبرې د خدای لپاره کوې؟ او له حق او حقیقت د دفاع لپاره او د خپل مسئولیت اداء کولو په غرض؟!! یا د دې لپاره چې د دې قبر تر څنګ تغذیه کېږي؟! او د دې لپاره چې د دې قبر د کرامتونو اثبات د ده جیب ډکوي؟ د ټولو هغو کسانو پټ ماهیت همداسې دئ چې د دغو شخصیتونو له تلو او مړینې وروسته ځان هغوی ته منسوبوي او دا هڅه کوي چې د دوی نسبي ارتباط له خدای سره ثابت کړي او د کرامتونو خاوند ئې وښیي!! قرآن عظیم الشأن د دې لپاره چې د دغو ټګمارانو لار ئې د تل لپاره بنده کړې وي فرمایي: الله نه زېږوي او نه زېږېدلی، نه د کومې خاصې کورنۍ پلار د ئ او نه ئې زوی، له ټولو بندګانو سره ئې ارتباط یو شانته دئ، د ټولو رب او پالونکی دئ، ټول انسانان د هغې لویې کورنۍ عیال دي چې الله تعالی ئې رب او پالونکی دئ.

٤- الله تعالی هیڅ کفو او سیال نه لري، هیڅوک د ده (ند) او سیال مه منه، هر چا چې ماسوی الله ته داسې کوم صفت منسوب کړ چې یوازې له الله تعالی سره ښایي؛ هغه په حقیقت کې دا کس د الله تعالی ند او سیال ګڼلی، په داسې حال کې چې الله تعالی ند او سیال نه لري! چا چې کوم داسې فعل کوم مخلوق ته منسوب کړ چې الله تعالی ته مختص دئ؛ دا مخلوق ئې د الله تعالی شریك او سیال ګرځولی، په داسې حال کې چې الله تعالی شریك نه لري. قرآن د دې خبرې په کولو سره چې (الله تعالی کفو او سیال نه لري) د شرك جړه ایستلې او کلك ګوزار ئې د دغه بت په سر حواله کړی. شرك له دغه غلط او بې بنسټه تصور او انګېرنې خړوبه کېږي چې څوك د ماسوی الله په ستاینې کې دومره غلو وکړي چې د خدایۍ تر مقامه ئې لوړ کړي او داسې صفات ورته منسوب کړي چې له الله تعالی پرته له هیڅا سره نه ښایي او له ده پرته په هیڅا کې نه موندل کېږي. په ستاینې کې غلو په شرك منتج کېږي، لکه چې قرآن فرمایي:

وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٥﴾ العنكبوت

او (ابراهیم علیه السلام) وویل: له دې پرته بل څه نه ده چې تاسو له الله پرته بتان (خپل معبودان) نیولي، په دنیوي ژوند کې په خپلو کې د محبت او مودت له کبله، بیا به د قیامت په ورځ ستاسو ځینې له ځینو نورو منکر کېږئ او یو به مو پر بل لعنت وایي، ټاټوبی به

مو اور وي او هيڅ ملاتړی به مو نه وي.

يعني په خپلو کي مينه مو په شرك منتج شوه، د خپل قوم د صالح او نېکو شخصيتونو په ستايني کي مو غلو وکړه، هغوی مو د الله تعالی سيال او ند وګڼل، لومړی مو د دوی له قبر او مرقد ځان ته قبله او مطاف جوړ کړ، بيا مو د دوی مجسمې جوړې او هغه مو ځان ته (اوثان) وګرځول، د دغو اوثانو په پښو کي اعتکاف مو الله تعالی ته د تقرب وسيله وګڼله او په پای کي مو هغوی په الوهيت او ربوبيت کي شريك او د خدای ند ومنل، د عالم د چارو اداره، د بندګانو اړتياوو ته ځواب، د دعاءګانو اجابت او د استغاثو اورېدل مو د الله تعالی او اوثانو تر منځ ووېشل، ورو ورو مو هغه خدای هېر کړ چې له سترګو پټ دئ او د ده په ځای مو هغه خدای کښېناوو چې ستاسو د ذهن زېرنده او ستاسو د لاس مصنوع او مولود دئ، حال دا چې قرآن فرمايي: الله کفو او سيال نه لري.

چا چې وويل: په الله او د ده په اولياءو مي سپارلی يې، الله او د ده اولياء دي زمور چاره وکړي، دوی دي مور وساتي، زمور مشکلات دي حل کړي، زمور غمونه دي راکم کړي، د الله او د ده د اولياءو د حمايت او رعايت په سيوري کي دي وو او دې ته ورته الفاظ، هغه په حقيقت کي اولياء د الله تعالی کفو او ند نيولي، چا چې له الله تعالی پرته بل ته د استعانت لاس اوږد کړ، په حقيقت کي ئې له الله تعالی سره سيال نيولی.

الفلق

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الفلق (چاودېدا) دئ، چې له لومړي آيت اخيستل شوی، ۵ آيتونه لري، د لومړيو دوو آيتونو فواصل ئې د فلق او خلق هموزنه صيغې، د درېيم ئې وقب چې که څه هم توري ئې له مخکينيو توپير لري خو غږ ئې هغوی ته ورته دئ، د څلورم او پنځم فواصل ئې د عقد او حسد هموزنه صيغې دي. ځيني مفسرين ئې مکي ګڼي او ځيني ئې مدني، خو د سورې متن نه يوازي په دې شهادت ورکوي چې دا مدني سوره ده بلکې ښيي چې د مدني دور په وروستيو کلونو کي نازله شوې. د دې رأيې د اثبات لپاره لاندې مضبوط دلائل وړاندي کېږي:

الف: دا سوره د (حسد) بيماري ته اشاره کوي، دا بيماري د قوت او ځواکمنې د مرحلې آفت دئ، نه د ضعف او ناتوانۍ د مرحلې، دا آفت هغه وخت سرراوچت کړي او ډېر پرې اخته شي چې نهضت بریاوي تر لاسه کړي، د امتيازاتو د وېش مرحله راورسېږي،

دا د هغه وخت آفت نه دئ چې خلك له نهضت سره د ملګرتيا لپاره له امتيازاتو لاس اخلي او قربانۍ ته چمتو کېږي. په مکي دور کې نه رسول الله صلى الله عليه و سلم او نه هم اسلامي نهضت په داسي شرائطو کې وو چې د چا حسادت راوپاروي، د مدينې په دور کې او هغه وخت چې مسلمانانو ته ستري ستري بریاوي ورپه برخه شوې؛ د مکي دور خلاف چې د اسلام په جرم به خلك له ځورونو او تعذيبونو سره مخامخېدل او له مسلمانانو سره ارتباط به لوی جرم ګڼل کېدو؛ اوس اسلام ته انتساب د فخر خبره ګڼل کېده او د مسلمانانو په څنګ کې خلکو د امتيازاتو او افتخاراتو د لاس ته راوړو امکان تر لاسه کاوو، داسي امتيازات او افتخارات چې د ډېرو سيالانو حسادت به ئې راپاراوو، د دښمن سترګې به پرې خړې کېدې او د دوی دښمني او کينه به ئې تحريکوله. اما د بریاوو په وخت کې د يوه مخکې تګ؛ د حسودو سيالانو حسادت راپاروي، خرګنده بېلګه ئې د منافقينو سالار ابی ابن سلول دئ چې حسادتونو ئې هغه مقام ته ورساوو چې د اسلام او مسلمانانو تر ټولو خطرناك دښمن ترې جوړ شو.

ب: د عقده منو افرادو تحريکول، د دوی عقدې پرسول او مخالفت ته هڅول؛ هغه آفت وو چې په مدينه کې او له بریاوو وروسته راخرګند شو، نه په مکه کې.

ج: د بحث موضوع او خرنګوالی ئې د مکي سورتونو په څېر نه دئ او د سورې په متن کې هيڅ داسي نښه نه ګورو چې وښيي په مکه کې نازله شوې. د قرآن د هري سورې متن او د بحث موضوعات خپل مخاطب ته دا جوتوي چې کله او په کومو ظروفو او شرائطو کې نازله شوې؛ نفاق، جهاد، د امتيازاتو د وېش په اړه خپلمنځي اختلافات، د حريصانو او حسودانو رامنځته کېدو فتنه؛ او دې ته ورته قضايا فقط په مدني سورتونو کې ليدل کېږي.

دا سوره په پنځو موجزو آيتونو کې دا اساسي مطالب بيانوي:

١- يوازي الله تعالى خپله ملجأ او پناه ځی ونيسئ او د هر مخلوق له شره هغه ته پناه يوسئ، د هغو په څېر مه کېږئ چې د بل تر وزر لاندې پناه لټوي او له خطر سره د مخامخېدو په وخت کې د دې او هغه مرستې او حمايې ته هيله من وي، له الله تعالى پرته د بل د ملاتړ او حمايې په سيوري کې د ډاډ او اطمئنان احساس کوي، تاسو به يوازي د الله تعالى ډاډمني ملجأ ته پناه وړئ، هغه به ځان ته کافي ګڼئ، د هغه د حمايت تر سيوري لاندې به د ډاډ او اطمئنان احساس کوئ.

٢- هر انفلاق او چاودنه چې د يوې نوې پېښې او حادثې پيغام له ځان سره راوړي او د يوه نوي توکي د پيدا کېدا سبب کېږي، د رب العالمين په اراده تر سره کېږي، که يوه دانه چوي، د زمکې زړه سپړي او د بوټي په څېر سرراباسي، که د يوه زړي سينه چوي او نيالګی

راټوکوي، که کومه هګۍ ماټېږي او بچونې تړې راوځي، که د مور رحم پرانیستل کېږي او یو ماشوم دنیا ته راځي، که د تیاره شپې زړه د رونړ سباوون په توره څیرې کېږي او که د شپې توري ورېځې د آسمان له شرقي کنارو راپورته کېږي او پر موږ خپل تور وزر خوروي، هر (فلق) او چاودنه د عالمونو رب او د فلق رب ته راجع کېږي، نو د فلق رب، دا د ټولو پېښو اصلي مرجع او دا د ټولو مخلوقاتو رب ته له هر شر او له هر هغه څه چې د شر باعث کېږي پناه یوسئ.

۳- د هر مخلوق له شره الله تعالی ته پناه یوسئ، که څه هم الله تعالی هر څه ښه پیدا کړي، د هر څه په پیدایښت کې حکمت او مصلحت مضمر دئ، په دې سره ئې یو ضرورت رفع کړی او یوه تشه ئې پرې ډکه کړې، هیڅ څه په خپل ذات کې مضر او تاوانې نه دئ، خو که ته ئې سم ونه پېژنې، سم ئې ونه کاروې، همغه کار ترې وانه خلې چې ورته پیدا شوی، په غلطه توګه، د خپل فطرت د غوښتنو خلاف ئې استخدام کړې او له هغه سره دي چلن د هغو فطري سننو او ضوابطو مطابق نه وي چې الله تعالی وضع کړي؛ نو طبیعي ده چې تا ته به تاوان رسوي، یو شر او ضرر به پرې مرتب کېږي، له داسې شر او ضرر الله تعالی ته پناه یوسه.

٤- د تیارې له شر؛ هغه مهال چې خپل تور وزر خور کړي، د لیدا او پېژندا مانع شي، سترګې له کاره ولوېږي، عقل د حقائقو او واقعتونو له پېژندا عاجز شي، له داسې تیارو الله تعالی ته پناه یوسئ.

۵- د الله تعالی لوري ته د بلنې او دعوت په ترڅ کې او د باطل خلاف د مبارزې په دوران کې هغه وخت چې دعوتګران او مبارزان بریاوي تر لاسه کړي، دا بریاوي کله ناکله دوی ته مزید ستونزې راولاړې کړي، دا بریاوي له یوې خوا د ځینو خلکو کینه او حسادت راپاروي او دښمني ته ئې هڅوي او له بلې خوا مترصد دښمن ته دا مجال په لاس ورکړي چې عقده من کسان تحریك کړي، د دوی په عقدو کې پو کړي او ښه ئې وپرسوي او له دې لارې په صف کې فتنې راولاړې کړي، د هغو پو کوونکو له شره الله تعالی ته پناه یوسئ چې عقدې پرسوي.

٦- ستاسو بریاوي به د صف په لیکو کې هم او له صف بهر هم د ډېرو حسادتونه راوپاروي، د صف دننه حاسد تر بهرني حاسد دښمن ډېر خطرناك وي، د هر حسد کوونکي له شر؛ الله تعالی ته پناه یوسئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ۝١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۝٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ۝٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ۝٥

١- ووايه: پناه وړم د ټولو چاودېدونکو رب ته. ٢- له شر د هغه څه چې ده پيدا کړل. ٣- او له شره د تيارې چې راخوره شي. ٤- او له شر د پو کوونکو په عقدو کې. ٥- او له شره د حاسد چې حسد وکړي.

١- په دې پراخ او بې انتهاء عالم کې چې د توکيو شمېر ئې بې حسابه او د هغو پېښو شمېر ئې له حد او حصر وتلی چې هره شېبه دلته رامنځ ته کېږي او له دغو پېښو د انسان د متضرر کېدو احتمال ډېر زيات او قوي، انسان ځان له دې عاجز ګڼي چې له دغو پېښو سره مقابله وکړي او له خطرونو او ضررونو ئې ځان خوندي وساتي، ناچار د داسې ډاډمني منجأ او ملجأ په لټه کې لوېږي چې ده ته پناه ورکړي، د حمايت وزر پرې وغوړوي او له خطرونو او ضررونو ئې خوندي او په امان کې وساتي، د انسان دغه اړتيا ته په پام سره قرآن هغه ته لارښوونه کوي چې له الله تعالى پرته د بلې ملجأ او پناه ځې موندلو لټه او هڅه مه کوه، يوازې هغه ذات ته پناه يوسئ چې د ټولو پېښو مهار ئې په لاس کې دئ او د (فلق) رب دئ، هر څه چې چوې او د يوې پېښې منشأ ګرځي؛ د ده په اراده چوي، هر څه چې په دې پراخ عالم کې ګورئ، هره چاودنه، سپېدنه، د نوي توکي راڅرګندېدا، د نوې پېښې رامنځته کېدا، د زاړه توکي له زړه د نوي توکي پيدايښت، ټول او ټول د ده له لوري دي، نو له هر هغه څه چې وېره ترې لرئ او له هري هغې پېښې چې تاسو وېروي؛ رب ته ئې پناه يوسئ.

٢- په دې آيت کې د (ماخلق) له الفاظو په واضح توګه معلومېږي چې په مخکيني آيت کې له (الفلق) مراد د ټولو مخلوقاتو د پيدايښت منشأ ده، هر مخلوق د بل مخلوق له منځه د يوې چاودنې په ترڅ کې راپيدا کېږي او بهر راوځي، دانه او ميندکه په خپل پوټکي کې وده وکړي، خپل غلاف وچوي د ښايسته بوټي په بڼه کې بهر راووځي، حيوانات او حشرات يا د خپلې مور له رَحِم بهر راوځي يا د خپلې هګۍ پوټکی مات کړي او راووځي، طبيعي حوادث هم يوه د بل له زړه راوځي، شپه او ورځ، يوه له بلې راوځي، هغه ذات چې د (فلق) رب دئ، هر څه ئې پيدا کړي او په پيدايښت کې ئې هيڅ شريك نه لري، د دې وړ دئ چې د هر مخلوق له شر پناه وروړو.

د (مخلوق شر) نسبي قضيه ده، که په کوم (مخلوق) کې څه شر شته او د کوم شر باعث کېږي، له انسان سره په معامله کې د شر سبب شي، که نه نو الله تعالی ټول مخلوقات ښه او ګټور پیدا کړي، په پیدایښت او شتون کې ئې خیر مضمر کړی، د هغه په پیدایښت سره ئې یوه تشه ډکه کړې او یو ضرورت ئې مرفوع کړی، هیڅ څه ذاتاً شریر او مضر نه دئ، که ته ئې سم وپېژنې، سم ئې وکاروې، همغه کار ترې واخلې چې ورته پیدا شوی، په غلطه توګه، د خپل فطرت د غوښتنو خلاف ئې استخدام نه کړې او له هغه سره دي چلن د هغو فطري سننو او ضوابطو مطابق وي چې الله تعالی وضع کړي؛ نو نه یوازي تاوان نه رسوي، بلکې تل به د خیر او ګټې پیغام درته لري، ضرر به هلته دررسوي چې ته ئې له سم پېژندو او سم کارولو عاجز شې، له داسې شر او ضرر د خوندي پاته کېدو لپاره باید الله تعالی ته پناه یوسې.

۳- دلته د (غاسق) لفظ راغلی، چې هم ئې په شپې اطلاق کېدی شي او هم پر هري بلې تیارې، خو د دې لپاره چې دلته دا صیغه د نکره په بڼه کې راغلې، ښیي چې مراد ترې هره پراخه او خوره تیاره ده، شپه د غاسق یوه بېلګه ده.

د دې آیت دوه تفسیرونه زمونږ مخې ته راځي:

الف: ځینو ویلي چې له دې مراد د شپې له شره پناه غوښتل دي، کله چې شپه خپل تور وزر وغوړوي، نو د شرارتونو او فتنو راولاړولو لپاره شرائط برابر شي، غله او لاري وهونکي فعال شي، ځیرونکي ځناوران او چیچونکي ماران او لړمان، له خپلو ځالو او سوړو راووځي، دښمن له تیارې په ګټې اخیستو سره بریدونه کوي او په کمین کې کښېني، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لا تُرْسِلُوا فَوَاشِيَكُمْ وَصِبْيَانَكُمْ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ، حَتى تَذْهَبَ فَحْمَةُ العِشَاءِ، فَانَّ الشَّيْطَانَ يَبْعَثُ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ العِشَاءِ». رواه احمد

له جابر رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: کله چې لمر پرېوځي خپل څاروي او ماشومان بهر مه لېږئ، تر هغه چې د شپې تیاره ختمه شي، یقیناً چې شیطان خپلې لښکري منتشر کړي تر هغه چې د شپې تیاره ختمه شي ،

یعني د شپې له لورې خپل ماشومان (په کور کې) راغونډ کړئ او خپل څاروي وتړئ، دا ځکه چې د شپې په تیاره کې شیاطین خواره شي او په هر ګام کې کمین نیسي.

ب: ځیني نور مفسرین (غاسق) عام نیسي او په هري پراخي تیارې ئې اطلاق کوي او

وايي چې په قرآن کې ايمان له نور سره او کفر له ظلمت او تيارې سره تشبيه شوی او په همدې نامه ياد شوي، رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه فتنه له ظلمت او تيارې سره تشبيه کړې چې انسان ئې په تياره کې د حق له پېژندو عاجز او سترګي ئې د ړندو په څېر شي او فرمايي: کله چې فتنې د شپې د تيارو په څېر درباندي راشي د ژغورنې لپاره قرآن ته رجوع وکړئ.

ځيني فتنې د تيارو شپو په څېر وي چې سترګي ړندوي او د حق او باطل تر منځ له فرق کولو انسان عاجز کوي او پوه او باتجربه، (حليم) انسان هم په کې (حيران) شي او د نجات د لاري له موندو عاجز شي.

په لږ دقت سره په دې پوهېدی شو چې دوهمه رأيه دقيقه ده، هم په دې دليل چې په کار ده د (غاسق) لفظ د (ماخلق) او (الفلق) په څېر عام ونيسو او يوازې ئې په شپې اطلاق نه کړو او هم په دې دليل چې وروستي آيتونه دا رأيه تأييدوي. د هر فکري نهضت لپاره يوه خطرناکه مرحله هغه وي چې ولس له مغشوش حالت سره مخامخ شي، ښه او بد سره خلط شي او توپير ئې ګران، خلك د صالح او طالح، مستحق او غير مستحق، ګنهګار او بې ګناه له پېژندو عاجز شي، باطل ته د حق جامه وړواغوندی شي، منافق د ايمان بيرغ اوچت کړي او د اخلاص مدعي شي او ولس د دوی په حقيقت له پوهېدو عاجز شي، فتنه پر معيارونو خپل تور وزر خور کړي، داسې لکه د احد د جګړې په وخت کې چې يوې خوا ته محمد عليه السلام او مخلص او وفادار ملګري ئې او بلې خوا ته عبدالله بن ابی ابن سلول، دا توانېږي چې د مسلمانانو درېيمه برخه وغولوي او له ځان سره ئې ملګري کړي او رسول الله صلی الله عليه و سلم او ياران ئې په هغو خطرناکو شرائطو کې يوازې پرېږدي. له دې سره سره دی ځان مسلمان ګڼي او د دغه منافقانه خطرناك اقدام لپاره توجيه لري او ډېر ئې توجيه مني او ملګرتيا ئې کوي!!

٤- (نفاثات) له نفث د پو کولو په معنی او د نفاثه جمع ده، چې يا د (علامه) په څېر د زيات پو کوونکو نارينه وو په معنی ده، يا جمع مؤنث يعنی پو کوونکې ښځې او يا د پو کوونکو ډلو په معنی ده. او (عُقَد) د عقدې جمع او معنی ئې غوټه ده. دې معانيو ته په پام سره د مفسرينو تر منځ درې رأيي زمور مخي ته راځي:

الف: مراد ئې هغه جادوګرې ښځې دي چې د جادو او کوډو لپاره تار غوټه غوټه کړي او په هري غوټې کې پو کړي، د دې رأيې له مخې ګواکې دا آيت هغې پېښې ته اشاره کوي چې د لبيد بن عاصم په نامه د مدينې يوه يهودي پر رسول الله صلی الله عليه و سلم جادو وکړ، د دې جادو اثرات پرې څرګند شول او يو ډول ناروغۍ ونيو، تر هغه چې رسول

الله صلی الله علیه و سلم په خوب کې دوه فرشتې ولیدې چې د دې پېښې په اړه خبرې کوي، د جادوګر نوم اخلي، هغه څاه په ګوته کوي چې د کوډو توکي په کې ښخ کړی شوي، چې کله له خوبه راویښ شو نو ځینې کسان ئې هغه ځای ته ولېږل، تعویذونه ئې راوایستل، غوټې ئې پرانیستلې، د کوډو اغېز ختم شو او رسول الله صلی الله علیه و سلم روغ شو.

ب: د زَمَخْشَرِی او ابو مسلم اصفهانی له نظره په (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلْعُقَدِ) سره هغو ښځو ته اشاره شوې چې په خپلو کرشمو، عشوه او ناز نخرو سره نارینه داسې تر اغېز لاندې نیسي او په خپل دام کې ئې اچوي لکه چې جادو پرې شوی وي.

ج: درېیمه رأیه دا ده چې له (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلْعُقَدِ) هغه ډلې مراد دي چې عقده من افراد پاروي، د دوی په عقدو کې پو کوي، د ناراضیانو په لټه کې وي چې تحریك ئې کړي، احساسات ئې راوپاروي، عقدې ئې وروپرسوي، په هغو غرضي وګړو پسې ګرځي چې خپلو ناروا غرضونو ته نه دي رسېدلې، په زړه کې عقدې لري، دوی په شا وټپوي او د نهضت په لیکو کې د فتنو راولاړولو لپاره ترې استفاده وکړي. د دې رأیې په تأیید کې څو مضبوط دلائل وړاندې کېږي:

لومړی: له دې وروسته آیت کې د حاسد او حسد یادونه شوې او دا ښیي چې له (نفاثات فی العقد) باید حسد ته ورته شی مراد وي، چې د آیتونو تر منځ همغږي او یووالی تأمین شي او له دوو پرله پسې آیتونو ډېر متفاوت او له یوه بله ډېر لرې مطالب وانه خلو.

دوهم: د الناس د سورې په څلورم آیت کې هم دې ته ورته مطلب راغلی (مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ) چې دا په پنځم آیت کې داسې توضیح شوی: ٱلَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ: هغه چې د خلکو په سینو کې وسوسې اچوي) او دا دقیقاً د (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلْعُقَدِ) معنی او شرح ده. دې ته مو هم باید پام وي چې دا دواړه سورتونه ډېر سره ورته دي. د قرآن په ډېرو نورو آیتونو کې هم ګورو چې د (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلْعُقَدِ) او (ٱلَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ) مفهوم افاده کوي، ټول هغې ډلې ته اشاره کوي چې د صف د ننه د فتنو راولاړولو لپاره هڅې کوي، کومه ډله چې د الفلق په سوره کې د ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلْعُقَدِ په نامه یاده شوې د الناس په سوره کې الوسواس الخناس نوم ورکړی شوی او ټوله سوره د همدې ډلې معرفي ته مختص شوې. د توبې په سوره کې په دې اړه داسې راغلي:

لَوْ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُواْ خِلَٰلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ ٱلْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّٰعُونَ لَهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾ التوبة

که ستاسو په لیکو کې وتلې وی نو له تاوانه پرته به ئې بل څه نه وو درزیات کړي، خامخا به ئې د فتنو په لټه کې په تاسو کې ځغلول کول او په تاسو کې د دوی لپاره اورېدونکي شته، الله د ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

دا آیت د دې ډلې او د دوی د فتنو راولاړولو د هڅو او تحرکاتو په اړه څو اساسي مطالب بیانوي: الف: د دوی شته والی ستاسو قوت او ځواکمني نه زیاتوي، بلکې د فساد او بدنظمۍ باعث کېږي. ب: د دوی هڅه دا وي چې په تاسو کې فتنې راولاړي کړي، د شرارت آسونه به هر لوري ته ځغلوي. ج: په خپله د دښمن لپاره جاسوسي کوي او اطلاعات راغونډوي. د: ستاسو په لیکو کې داسې کسان شته چې د دوی د تبلیغاتو تر اغېز لاندې راځي، ځینې د سفاهت او سادګۍ له کبله، ځینې د خپلو عقدو او حسادتونو له کبله او ځینې له دې کبله چې په یوه او بل څه ناراض دي، دوی ئې تحریك کړي او د اختلافاتو د راولاړولو په لار کې ترې کار واخلي. هـ: الله تعالی چې د دې ظالمې ډلې په اړه څه ویلي دي دا په الهي علم ولاړ وضاحت دئ، دا د هغه علیم خدای وینا ده چې هم دا خلك ښه پېژني او هم ئې په کړنو ښه پوه دئ.

خو که مور وغواړو د لومړیو دوو تعبیرونو لپاره له قرآن کوم مؤید آیت وړاندې کړو، نو داسې هیڅ آیت نه شو موندلی.

درېیم: څوك چې (النفاثات فی العقد) د جادوګرو ښځو په معنی اخلي او د جادو په اړه هغه روایت باندې استناد کوي، دا خبره په داسې حال کې کوي چې له یوې خوا وایي: دا سوره په مکه کې نازله شوې، خو جادو په مدینه کې شوی!! نه پوهېږو دا دوه رأیي څنګه سره تلفیق کوي او د جادو دا پېښه څنګه د دې سورې شأن نزول ګڼي؟!! له بلې خوا وایي چې جادو کوونکی یو نارینه وو نه ښځه!! نو دا روایت څنګه د دې آیت په تأیید کې ګڼي؟!

څلورم: که د آیتونو تسلسل ته پام وکړو نو له ورایه برېښي چې دا (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ) له هغه وروسته خپل فعالیت پیلوي چې تیاره خوره شي او هغه وخت عقدې پرسوي چې ځینې په ړندوونکې فتنې اخته شي، کله چې مغشوش شرائط راشي او ځینو خلکو ته د حق او باطل تر منځ تفکیك ګران شي نو دغو پو کوونکو ته مناسب شرائط برابر شي، متې رابر وهي او د عقده منو خلکو په راپارولو بوخت شي. دغو ټولو دلائلو ته په پام سره د (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ) اطلاق نه په عشوه ګرو ښځو صحیح دئ او نه په هغو کودګرو ښځو چې په تعویذ او د تار په غوټو کې پو کوي.

دا باید واضح کړو چې سحر شته، انکار ترې داسې دئ لکه د قرآن له یوه آیت انکار،

اغېز او تأثیر ئې هم ثابت دئ، د قرآن له مخې ئې دومره اغېز ثابت دئ چې یو شی په بدله او بېله بڼه کې وبرېښي، پېرۍ او رسۍ د مار په بڼه کې او ساکن د متحرك په بڼه کې، په قرآن کې دا هم ویل شوي چې بني اسرائیلو به د سحر او مېرې تر منځ د بېلتون په غرض کوډي کولې، خو دا نه دي ویل شوي چې دوی به په دې توانېدل که نه؛ هلته ویل شوي چې د الله تعالی له اذن پرته ئې چا ته تاوان نه شو رسولی، دلته د الفلق په سوره کې په دې بحث نه دئ شوی چې په پیغمبر علیه السلام جادو او کوډي شوې که نه؛ نه دا آیت او نه د قرآن کوم بل آیت صریحاً یا تلویحاً دا خبره کوي چې په پیغمبر علیه السلام جادو شوی او په ده ئې اغېز کړی. دا موضوع باید په خپل ځای کې او د مربوطه روایاتو په ترڅ کې وڅېړل شي، دا ئې ځای نه دئ. دلته د (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ: په غوټو کې پو کوونکې یا پو کوونکي راغلي) چې صیغې ئې عامي دي، خو دا همغه مطلب افاده کوي چې د الناس د سورې دا آیت (ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ؛ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ) ئې افاده کوي. څوك چې النفٰثت فی العقد په بله معنی اخلي باید ووایي چې دا خبره او دا تعبیر د قرآن د کوم آیت په استناد کوي؟ قرآن خو داسي دئ چې هر مجمل آیت ئې د بل مفصل آیت په ترڅ کې توضیح کېږي، آیا دوی په ټول قرآن کې بل داسي آیت موندلی شي چې د دوی تعبیر تأیید کړي؟ حقیقت دا دئ چې د دې تعبیر د تأیید لپاره د قرآن هیڅ آیت نه شي وړاندي کولی!! په هیڅ ځای کې نه دي ویل شوي چې کوډي په غوټو کې کېږي، کوډ ګري سحر د تارونو په غوټو کې پو کوي!! ولې د دې آیت همغه تفسیر نه مني چې قرآن ئې په خپله وړاندي کوي؟ او همغه هم داسي چې په ورپسې سوره کې ئې وضاحت کوي او په داسي آیت سره چې په اړوند سوره کې ئې موقعیت همغه ځای دئ چې د نومورې آیت موقعیت د الفلق په سوره کې دئ او په داسي حال کې چې دا دواړه سورتونه له هره لحاظه سره ورته او د بحث موضوع ئې یوه ده!! او دواړه د معوذتین په نامه یاد شوي، دلته په څلورم آیت کې ویل شوي چې دا نفاث دئ او عقدې پرسوي او هلته ورپسې په همدې څلورم آیت کې ویل شوي چې دا وسواس الخناس دئ او په سینو کې وسوسې اچوي، هلته هم له دوی د پناه غوښتلو توصیه شوې او دلته هم. ډېره عجیبه ده چې څوك له دې ټولو حقائقو سترګې پټې کړي او (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ) له (ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ؛ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ) پرته په بله معنی ونیسي!!

په پیغمبر علیه السلام د جادو روایت باید د روایاتو په ترڅ کې وڅېړل شي، که دا جادو شوی وي او اغېز ئې هم کړی وي، څوك د دې حق نه لري چې په دې پېښې په استناد سره کوډي کول ځان ته جائز کړي، کوډي کول حرام دي، د کوډو ماتولو په نامه خلك

غولول او پيسې تړې شکول حرام دي، هغه کسان چې کوډي کوي، د کوډو ماتولو په نامه خلك غولوي، پيسې تړې شکوي، هر چا ته وايي په تا جادو شوی، راشه چې مات ئې کړم، جادو حق دئ، په پيغمبر عليه السلام هم شوی وو!! چا چې په تا جادو کړی د کوډو توکي ئې په پټ ځای کې اېښي، ځوك ئې موندلی نه شي، زه ئې د پېريانو په واسطه راکاږم، په چل ول سره به په ټوټې کې داسي نغښتی کاغذ وروښيي چې ستني به په کې ټومبل شوې وي، څو تاره وېښتان او د ږمنځي څو شاخونه به په کې پراته وي، دا ټگماران د دين دښمنان دي، د دين په نامه خلك شکوي، د دوی يوازينی مقصد د خلکو غولول وي، دا خلك له دې رواياتو سره ځانګړې علاقه لري، که څوك وايي چې کوډي کول حرام دي، د کوډو ماتولو په نامه خلك غولول او پيسې تړې اخيستل ناروا دي، دا خبرې په دوی ډېرې بدي لګېږي، د هغه په ضد تبليغات کوي چې دا له حديثه منکر دئ.

په دې اړه چې معوذتين په مکه کې نازل شوي که مدينه کې روايات متعدد او په خپلو کې متعارض دي: ځيني وايي چې دا دواړه سورتونه په مکه کې نازل شوي او ځيني وايي په مدينه کې، هغه چې وايي په مدينه کې نازل شوي ځيني ئې له جادو سره مربوط ګڼي او ځيني ئې مستقل، کوم چې ئې په جادو پوري تړي هم ئې په اسنادو کې توپيرونه شته او هم په الفاظو کې، له دې ټولو رواياتو يوازي يو ئې غوره کولی شو، نه دوه او نه ټول، ابن کثير په بخاري او مسند احمد کې راغلي هغه روايات تأييدوي چې په پيغمبر عليه السلام د جادو ذکر په کې راغلی خو د هغه روايت په اړه چې ثعلبي په خپل تفسير کې رانقل کړی؛ داسي ليکي: هكذا أورده بلا إسناد وفيه غرابة وفي بعضه نكارة شديدة ولبعضه شواهد مما تقدم والله أعلم: داسي ئې له کوم اسناد پرته ذکر کړي چې غرابت او ضعف په کې دئ؛ او په ځينو کې ئې شديد نکارت شته او ځيني ئې شواهد لري لکه څنګه چې مخکې وويل شول او الله تعالى تر ټولو ښه پوهېږي.

د دې په مقابل کې د عقبة بن عامر روايت دئ چې که څه هم دا دواړه سورتونه مدني ګڼي خو له جادو سره ئې مربوط نه بولي:

حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ الْجُهَنِيُّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَمْ تَرَ آيَاتٍ أُنْزِلْنَ اللَّيْلَةَ لَمْ يُرَ - أَوْ لَا يُرَى - مِثْلَهُنَّ: الْمُعَوِّذَتَيْنِ " مسند امام احمد

له عقبة بن عامر روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا خبر نه يې چې نن شپه داسي آيتونه نازل شوي چې د هغوی په څېر نه دي ليدل شوي يا وېه نه ليدی شي؛ المعوذّتين.

د دې دواړو روايتونو په مقابل کې نور روايات دا دواړه سورتونه مکي ګڼي، اکثر

مفسرين هغو رواياتو ته اعتبار ورکوي چې د دې دواړو سورتونو په مکي والي تأکيد کوي. د ټولو مروجو مصاحفو د سورتونو په فهرست کې دا دواړه سورتونه مکي ښودل شوي.

ځينو د دې تعارض رفع کولو لپاره ويلي چې دا سورتونه دوه ځله نازل شوي، يو ځل مکه کې او بل ځل مدينه کې، خو د دې خبرې ثابتول ډېر ګران کار دئ، دا ځکه چې د عقبة بن عامر رضي الله عنه له روايت دوه خبرې معلومېږي لومړی دا چې دا سورې په مدينه کې نازلې شوې، ځکه عقبة بن عامر رضي الله عنه په مدينه کې مسلمان شوی او دوهمه دا چې دا ئې لومړی نزول دئ.

خو د سورې متن نه يوازې په دې شهادت ورکوي چې دا مدني سوره ده بلکې ښيي چې د مدني دور په وروستيو کلونو کې نازله شوې.

دا هم بايد واضح کړو چې دا دواړه سورتونه د قرآن جزء دي او هغه روايت صحيح نه دئ چې عبدالله بن مسعود ته منسوب دئ او وايي چې دا صرف دعاءګاني دي او د قرآن سورتونه نه دي.

۵- حاسد هغه چا ته ويل کېږي چې له بل سره د نعمت په ليدو داسې تحريك شي چې غواړي دا نعمت ئې زوال ومومي، تر هغه چې حسد ئې په زړه کې ساتلی، بهر ئې نه دئ راايستلی او د حسد په حکم ئې کوم عمل نه دئ کړی، يوازې زړه ئې ځوروي او اعصاب ئې ناآرامه کوي، نو په ده پوري مربوطه يوه بيماري ده، خوند به ئې په خپله څکي، خو کله چې ئې دا حسد کوم ناروا عمل ته هڅوي او د نعمت له خاوند سره ئې دښمنۍ ته اړ باسي او په خصمانه عمل لاس پوري کوي، په ډېري خطرناکې بيماری واوړي چې د ډېرو فتنو راولاړولو باعث شي.

عن زُبَيْرَ بنَ الْعَوَامِ أَنَّ النبيَ قالَ: «دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الأُمَمِ قَبْلَكُمْ: الْحَسَدُ وَالبَغْضَاءُ هِيَ الْحَالِقَةُ، لا أَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعْرَ وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ، وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، ولا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَفَلاَ أُنْبِّئُكُمْ بِمَا يُثَبِّتُ ذَلِكَ لَكُمْ: أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ». رواه احمد، الترمذی و غيره

له زبير بن عوام روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: د مخکينيو امتونو بيماري تاسو ته مخه کړه: حسد او کينه چې پرې کوونکې ده، نه وايم چې وښتان پرې کوي، بلکې د دين جړې پرې کوي او په هغه ذات قسم چې زما ژوند ئې په واك کې دئ تر هغه به جنت ته داخل نه شئ چې ايمان راوړئ او ايمان به مو ايمان نه وي چې يو له بل سره محبت ونه کړئ، نو آيا هغه څه درونه ښيم چې دا محبت په تاسو کې تلپاته

کوي: سلام اچول په خپلو کې زيات کړئ.

همدا راز راځي:

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه وسلم قَالَ: «الْحَسَدُ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ، كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ....». رواه أبو داؤد و ابن ماجه و غيره

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: لکه څنګه چې د اور لمبې لرګي سوزوي حسد ښېګڼې سوزوي....

قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې منافقين په دې بيمارۍ اخته ګڼي او زړونه ئې د حسادت او حقد په مرض مبتلا بولي. لکه چې په (محمد: ٢٩- ٣٠) کې فرمايي:

أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخْرِجَ ٱللَّهُ أَضْغَٰنَهُمْ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنَٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَٰهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِى لَحْنِ ٱلْقَوْلِ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٠﴾

آيا هغه چې په زړونو کې ئې بيماري ده دا ګمان ئې کړی چې الله به ئې کينې او حسادتونه رابرسېره نه کړي؟ او که مو غوښتي وی نو داسي به مو درښودلي وو چې له څېرو به دي پېژندل او د خبرو له څرنګوالي خو ئې خامخا پېژنې او الله خو ستاسو په کړنو علم لري.

الله تعالى د دغه علم له مخي د هري ډلې د اعمالو څرنګوالی په قرآن کې بيان کړی، يعني منافقين هم د وينا او خبرو له سبك او لحن پېژندی شي او هم ئې د قرآن د هغو څرګندونو په رڼا کې چې د هري ډلې د کړنو په اړه ئې کړې دي.

لکه څنګه چې نفاق په مدينه کې راڅرګند شو او په دې اړه بحثونه يوازې په مدني سورتونو کې موندلی شو، حسد هم د مدني دور له قضاياوو دئ او ذکر او بحث ئې يوازې په مدني سورتونو کې راغلی.

يوه له هغو خطرناکو بيماريو چې کورنۍ، ټولنې او يوه نهضت ته سخته صدمه رسوي دغه د حسد بيماري ده، په دې بيمارۍ غرضي او مرضي وګړي اخته کېږي، هغه کم ظرفه خلك پرې مبتلا کېږي چې د نورو د فضيلت او وړتياوو ليدل نه شي زغملی، د نورو وړتياوي د دوی په بيمارو زړونو کې کينه او حسادت راپاروي. څوك چې د مبارزې سابقه لري او څه موده ئې د نورو دعوتګرانو او مبارزانو په څنګ کې تېره کړې وي او د يوه جماعت او حزب د غړي په توګه ئې کار کړی وي، ښه پوهېږي چې د حسد بيماري څومره ستر ستر مصيبتونه راولاړوي، د څومره لويو لويو فتنو باعث کېږي او نهضت ته څومره غټ غټ تاوانونه رسوي.

شه به وي چې دلته پر رسول الله صلى الله عليه و سلم د سحر اړوند روايات وڅېړو:

د سحر حقيقت او پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اغېز

دا هم د مسلمانانو تر منځ يوه اختلافي مسئله ده چې آيا پر رسول الله صلى الله عليه و سلم باندې سحر او کوډې شوې وې که نه؟ آيا دې کوډو پر هغه اغېز کړی وو که نه؟ اغېز ئې څومره وو؟ آيا صحيح ده چې کوډګر کولی شي يو څوک په کوډو سره بيمار کړي يا بل ته تاوان ورسوي؟ پر رسول الله صلى الله عليه و سلم باندې کله او چېرې دا کوډې شوې وې؟ آيا يو کوډګر کولی شي چې په خپلو کوډو سره د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څېر شخصيت ته تاوان ورسوي، بيمار ئې کړي او حافظه ئې مختل کړي؟ که دښمن ته دا کار ممکن وو نو ولې ئې په وار وار دا کار نه دئ کړی؟

په دې اړه په ټول قرآن کې نه صراحتاً او نه اشارتاً داسې څه مومو چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم يا بل پيغمبر يا بل انسان کوډې شوې او د کوډو د اغېز له کبله بيمار شوی، خو د رواياتو په ټولو کتابونو کې يوازې يو روايت داسې مومو چې وايي پر رسول الله صلى الله عليه و سلم باندې په مدينه کې د يوه يهودي له لورې کوډې شوې وې، دومره اغېز ئې پرې کړی وو چې دروندوالی او کسالت به ئې احساساوو او کله کله به ئې ګمان کولو چې فلان کار مي کړی خو حقيقتاً به ئې هغه کار نه وو کړی!! روايت دا دئ:

حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم سُحِرَ حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ . بخاري ۳۱۷۵

دا روايت چې په بخاري کې شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۲۶۸، ۵۷۶۳، ۵۷۶۵، ۵۷۶۶، ۶۰۶۳، ۶۳۹۱، د سند له مخې داسې دئ چې په صحابه وو او تابعينو کې يوازې يو يو راوي لري؛ عروه رضى الله عنه او عائشه رضى الله عنها، دوی ته چې کومو راويانو دا روايت منسوب کړی د هغوی په رواياتو کې دا جدي توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کې راغلي: حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ او په بل کې يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ، په بل کې حَتَّى كَانَ يَرَى أَنَّهُ يَأْتِي النِّسَاءَ وَلاَ يَأْتِيهِنَّ په بل کې حَتَّى إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ په بل کې يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَأْتِي أَهْلَهُ وَلاَ يَأْتِي په بل کې حَتَّى إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ قَدْ صَنَعَ الشَّيْءَ وَمَا صَنَعَهُ په يوه کې حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ ذَاتَ لَيْلَةٍ (دلته د شك څرګندونه شوې او ويل شوي کومه ورځ يا کومه شپه!!) وَهْوَ عِنْدِي لَكِنَّهُ دَعَا وَدَعَا په بل کې حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهْوَ عِنْدِي دَعَا الله وَدَعَاهُ په بل کې فَقَالَ لِي

ذَاتَ يَوْمٍ په بل کي وَإِنَّهُ دَعَا رَبَّهُ ثُمَّ قَالَ په يوه کي « يَا عَائِشَةُ، أَشَعَرْتِ أَنَّ الله أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي يَا عَائِشَةُ أَعَلِمْتِ أَنَّ الله قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ الله قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي يَا عَائِشَةُ إِنَّ الله أَفْتَانِي فِي أَمْرٍ اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ، په بل کي « أَشَعَرْتِ أَنَّ الله قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په يوه کي أَتَانِي رَجُلاَنِ فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي، وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ په بل کي جَاءَنِي رَجُلاَنِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ په بل کي أَتَانِي رَجُلاَنِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رِجْلَيَّ وَالآخَرُ عِنْدَ رَأْسِي په يوه کي فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ فَقَالَ مَطْبُوبٌ . قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ په بل کي فَقَالَ الَّذِي عِنْدَ رَأْسِي لِلآخَرِ مَا بَالُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ . قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ، رَجُلٌ مِنْ بَنِى زُرَيْقٍ حَلِيفٌ لِيَهُودَ، كَانَ مُنَافِقًا . په بل کي ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ . قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ، الْيَهُودِيُّ مِنْ بَنِى زُرَيْقٍ په بل کي فَقَالَ الَّذِي عِنْدَ رِجْلَيَّ لِلَّذِي عِنْدَ رَأْسِي مَا بَالُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ . په يوه کي يَعْنِى مَسْحُورًا . قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ په يوه کي قَالَ فِي أَيِّ شَىْءٍ قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعِ نَخْلَةٍ ذَكَرٍ . قَالَ وَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ په بل کي قَالَ وَفِيمَ قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ . قَالَ وَأَيْنَ قَالَ فِي جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ، تَحْتَ رَعُوفَةٍ، فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ » په بل کي قَالَ فِيمَا ذَا قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ . قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِي بِئْرِ ذِى أَرْوَانَ » په بل کي قَالَ وَفِيمَ قَالَ فِي جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ فِي مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ، تَحْتَ رَعُوفَةٍ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ » په بل کي قَالَ فِيمَا ذَا قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعَةٍ . قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِي ذَرْوَانَ، وَذَرْوَانُ بِئْرٌ فِي بَنِى زُرَيْقٍ » په يوه کي فَأَتَاهَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَجَاءَ فَقَالَ « يَا عَائِشَةُ كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ؛ او كَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » په بل کي فَأَتَى النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم الْبِئْرَ حَتَّى اسْتَخْرَجَهُ فَقَالَ « هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِى أُرِيتُهَا، وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » . په بل کي قَالَ فَذَهَبَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ إِلَى الْبِئْرِ، فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَعَلَيْهَا نَخْلٌ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ « وَالله لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » په بل کي فَجَاءَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ «هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِى أُرِيتُهَا كَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ، وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ(له دې داسي معلومېږي لکه چې دا ځا ئې په خوب او رؤيا کي ليدلى وي) په بل کي قَالَتْ فَأَتَاهَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ « وَالله لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » . په يوه کي قُلْتُ يَا رَسُولَ الله أَفَلاَ أَسْتَخْرِجُهُ قَالَ « قَدْ عَافَانِي الله، فَكَرِهْتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ فِيهِ شَرًّا» . فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ . په بل کي قَالَ فَاسْتُخْرِجَ، قَالَتْ فَقُلْتُ أَفَلاَ أَىْ تَنَشَّرْتَ . فَقَالَ « أَمَا وَالله

فَقَدْ شَفَانِي، وَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ شَرًّا » په بل کې قُلْتُ يَا رَسُولَ الله أَفَأَخْرَجْتَهُ قَالَ « لاَ، أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِي الله وَشَفَانِي، وَخَشِيتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا » . وَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ په بل کې فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَأُخْرِجَ . قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله فَهَلاَّ - تَعْنِى - تَنَشَّرْتَ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم« أَمَّا الله فَقَدْ شَفَانِي، وَأَمَّا أَنَا فَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا په بل کې فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله فَهَلاَّ أَخْرَجْتَهُ قَالَ « أَمَّا أَنَا فَقَدْ شَفَانِي الله، وَكَرِهْتُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا »

لکه چې ګورئ په دې روایاتو کې ژور توپیرونه تر سترګو کېږي، ځینې ئې وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دا د کوډو توکې په خپل لاس راوایستل، ځینې وایي نورو ته ئې امر وکړ چې راوئې باسي؛ او دفن ئې کړي، ځینې وایي همداسې ئې پرېښودل او وئې ویل چې الله تعالی ما ته له دې پرته شفا راکړه، ځینې ئې وایي چې عائشې رضی الله عنها ورته وویل آیا زه ئې راونه باسم، همدا راز ګورئ چې په دې راویاتو کې د شك موارد هم تر سترګو کېږي، راوي یو ځای وایي: کومه ورځ یا کومه شپه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم زما خوا ته وو، په روایت کې د شك وینا د روایت اعتبار کموي، د ځینو له الفاظو داسې معلومېږي چې هغه څا، د هغه اوبه او پر سر ئې د کجوري ونه په خوب کې لیدلې وو، حال دا چې نور ئې وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خوب کې یوازې دوه سړي لیدلې وو، همدا راز دلته ویل شوي چې د دې څاه پر سر د ولاړې وني څانګې داسې وې لکه د شیطانانو سرونه!! دا وینا له حقیقت سره اړخ نه لګوي، د هغه څاه د کجوري ونه به یقیناً د مدینې د نورو ونو په څېر وه، که نه نو په ډېرو روایاتو کې به دا راغلې وه چې که څوك غواړي د شیطان د سر څرنګوالی ورته معلوم شي نو د ذَرْوَانَ د کوهي پر سر د ولاړې وني څانګې دي وګوري!!

دلته څو پوښتني راولاړېږي:

- که واقعاً پر رسول الله صلی الله علیه و سلم کوډې شوې وي نو دا خو ډېره لویه حادثه وه، ولې په ټولو صحابه وو کې یوازې یوه کس دا خبره کړې ده، دا خبره خو باید ګڼ شمېر صحابه وو روایت کړې وی!! لږ تر لږه د رسول الله صلی الله علیه و سلم نورو بیبیانو به هم دا خبره کړې وه، له صحابه وو باید ډېرو تابعینو ته هم رسېدلې وی، ولې په تابعینو کې هم له هشام او د ده له پلار پرته بل راوي نه لري؟!!
- قرآن خو وایي چې سحر د اشیاءو ماهیت نشي بدلولی، هسې د خلکو د غولولو یوه نندارې وي چې یو شی په بلې بڼې کې ګوري، آرام پراته شیان د خوځېدونکو په څېر ورته برېښي!! په ټول قرآن کې داسې آیت نه مومو چې د سحر داسې اغېز ترې ثابت شي چې یو

انسان بیمار کړي، د هاروت او ماروت په قصې کې د سحر داسي اغېز په بشپړه توګه ردوي او وایي: دوی په کوډو سره چا ته ضرر نه شو رسولی، ضرر یوازې د الله تعالی په إذن سره انسان ته رسېدی شي نه د جادوګر په کوډو سره.

- که د موسی علیه السلام عصا د فرعون د ډېرو ماهرو کوډګرو ټول سحر شنډولی شو او دوی ټولو په ګډه موسی علیه السلام ته هیڅ ضرر نه شو رسولی نو یو یهودي کوډګر به څنګه توانېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ضرر ورسوي؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم خو مورِ ته داسي دعاءګاني راښودلې چې په ویلو سره ئې هم د شیطان له شره خوندي پاته کېږو او هم د کوډګرو او د هر مضر شي له شره؛ او څرګنده ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً دا دعاءګاني ویلې نو له دې سره سره څنګه ومنو چې دغو کوډو پر هغه اغېز کړی وو؟!!
- یهودو او مشرکینو ولي یوازې دا یو ځل پر ده باندې کوډې وکړې؟!! ولې ئې تر دې وړاندې او ورسته دا کار نه دئ کړی؟!!
- دا خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم عصمت او د قرآن دا آیت تر پوښتنې لاندې راولي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فرمایي: (والله یعصمك من الناس) او ډېرو ته دا شك راپیدا کوي چې ښایي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم به ډېر ځلي نور هم کوډې شوې وي او د کوډو تر اغېز لاندې به ئې داسي خبرې کړې وي چې د ده اصلي خبرې نه دي!! آیا په داسي مهمي اعتقادي مسئلې کې داسي غریب روایت منلی شو چې په صحابه وو او تابعینو کې یو یو راوي لري، په ټول قرآن کې نه یوازې کوم شاهد ورته نه مومو بلکې له قرآن سره په څرګنده توګه تعارض لري، په متن کې ئې هم کافي ستونزې شته، ځینې ئې یو څه وایي او ځینې بل څه؟!!

څوك چې وایي سحر حق دئ، معنی ئې دا ده چې په قرآن کې د سحر او ساحرانو (جادو او جادوګرانو) یادونه شوې، د فرعون کوډګرو د موسی علیه السلام مقابله کړې، خپل پړې او عصاګاني ئې اچولي ول او خلکو ته داسي برېښېدلي وو چې خوځېږي، همدا او بس، نه دا چې جادو کول یا سم او جائز کار دئ او یا په جادو سره څوك کولی شي بل ته ګټه یا ضرر ورسوي، قرآن دا دواړه خبرې ردوي، وایي: نه جادو جادوګر ته ګټه رسولی شي او نه جادوګر په خپل جادو سره بل ته تاوان رسولی شي، جادوګر به هیڅکله او په هیڅ ځای کې بریالی نشي، قرآن په دې اړه فرمایي:

فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِۦ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓاْ ۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيْدُ سَٰحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ طه

نو موسی په خپل زړه کې وېره احساس کړه، ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چې همدا ته برلاسی یې؛ او هغه شی وغورځوه چې ستا په لاس کې دئ، چې هغه څه ښوی تېر کړي چې دوی جوړ کړي، یقیناً هغه څه چې دوی جوړ کړي د کوډګر مکر دئ؛ او جادوګر چې هر چېرې ورشي بریا نشي موندلی.

له دې مبارکو آیتونو څو خبرې معلومېږي:

- د کوډګرو له لوري ښودل شوې نندارې دومره هیبتناکه وه چې موسی علیه السلام په خپل زړه کې وېره احساس کړه، دلته دا نه دي ویل شوي چې آیا پر ځان وېرېدلی، که له دې چې په مسابقې کې به برلاسی نشي او که په دې چې خلك به دوکه شي او د جادوګرانو تر اغېز لاندې به راشي؟! خو له وروستۍ فقرې معلومېږي چې وېره ئې په مسابقې کې د خپلې بریا په اړه وه، ځکه الله تعالی فرمایي: ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چې همدا ته برلاسی یې.
- د الله تعالی له لوري موسی علیه السلام ته ویل شوي چې د خپل لاس عصا وغورځوي، چې دا به ټول هغه پېړي او عصاګاني ښوی تېرې کړي چې دوی د خوځنده مارانو په څېر ښودلي.
- دلته ویل شوي چې جادو هسې یوه دوکه او غولونه وه، د فرعون د ماهرو جادوګرانو دا لوبه د لاس هنر وو نه د جادو اغېز، دا په حقیقت کې یو مکر وو نه بل څه، د پېړو او عصاګانو حقیقت نه دئ بدل شوی بلکې خلك غولول شوي او د خوځنده مارانو ګمان ئې پرې کړی!! د آیت دا برخه چې وایي: جادوګر چې هر چېرې ورشي بریا نشي موندلی، دا حقیقت مزید واضح کوي او ښیي چې د جادوګر مکر او کید د څو شېبو داسي غولونکې نندارې ده چې نه ده ته کومه ګټه رسوي او نه بل ته. د ګټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي.

همدا راز قرآن د هاروت او ماروت د قصې په ترڅ کې فرمایي چې بني اسرائیلو به له دوی د داسي څه زده کولو هڅه کوله چې په هغه سره سړی او د هغه مېرمن سره بېل کړي خو دوی په خپل سحر سره نه ځان ته کومه ګټه رسولی شوه او نه بل ته کوم تاوان:

... وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ ... ﴿١٠٢﴾ البقرة

.... (دې ملائکو) به هیڅا ته څه تعلیم نه ورکاوو مګر دا چې ورته ویل به ئې: موږ (خو د

یوه) امتحان (لپاره راغلې) یو، نو ته مه کافرکېږه، خو دوی له دې دواړو هغه څه زده کول چې په هغه سره نارینه او مېرمنه ئې سره بېل کړي، دا په داسې حال کې چې په دې سره دوی د الله له اذن پرته هیڅا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسې حال کې چې هغه څه ئې زده کول چې تاوان ئې ورسوو او ګټه ئې نه وررسوله.

دا آیتونه په واضح الفاظو د سحر دا ډول اغېز ردوي او وایي چې د ګټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي نه د جادوګرانو په جادو سره!!! دې ته مو پام وي چې دغو دوو فرشتو خلکو ته داسې جادو نه ورښودو چې په هغه سره مېړه او مېرمن ئې سره بېل کړی شي، حاشا و کلا چې الله تعالی به فرشتې په دې ګمارلې وي چې خلکو ته داسې کوډې ورزده کړي، دا هم د الله تعالی په اړه تور دئ او هم د فرشتو په اړه، دا خو ستره ګناه ده، فرشتې په خپله دوی ته وایي چې مه کافران کېږئ، نو څنګه به هغوی ته داسې کوډې ورښیي؟!! د آیت معنی دا ده چې دغو مفسدینو به حتی له فرشتو هم د داسې څه زده کولو هڅه کوله چې سړی او د ده مېرمن سره بېل کړی شي، یوه به غوښتل چې د بل مېرمن تړې بېله کړي او پر خپل ځان ئې مینه کړي، نو د همدې لپاره به ئې کوډو ته پناه وړه حتی غوښتل ئې چې له فرشتو هم دغسې څه زده کړي، په همدې موخه فرشتو ته ورتګ د دوی لپاره اتمام حجت وو او په همدې سره په الهي عذاب اخته شوي. د جادو د دا ډول اغېز خبرې هغه ټګماران تکراروي چې خلك غولوي او ورته وایي: جنابه! جادو حق دئ، انکار تړې کفر، پر رسول الله صلی الله علیه و سلم جادو شوی وو، ما ته راشه چې په یوه جادو سره ستا مرادونه تر سره کړم، سرکښ محبوب درته تسلیم کړم، که د بل د کوډو له کبله بیمار شوی یې کوډې راوباسم او د جادو اغېز شنډ کړم، خو دا ډېر ګران کار دئ؛ او شکرانه ئې لویه ده، له ما ډېر وخت، ډېر زحمت او ډېر مصرف غواړي، د سور سېرلي او سپین چرګ ویني، د زعفرانو زېر رنګ، د ورښمو ټوټه او دا او دا غواړي!!! زعفران به زه راپیدا کړم، د سېرلي او سپین چرګ بندوبست به ته وکړې، د محبوبې د وښتانو څو تارونه، د زړې ږمنځې څو ښاخونه او .... به هم ته راپیدا کړې، نور هر څه پر ما!!!

دغو دلائلو ته په پام سره په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چې نه پر رسول الله صلی الله علیه و سلم جادو شوی او نه د جادو له کبله بیمار شوی؛ او نه جادوګر کولی شي په خپل جادو سره چا ته ګټه یا تاوان ورسوي. جادو یوه دوکه ده او جادوګر یو ټګمار او دوکه مار انسان. او دا همغه څه دي چې قرآن ئې مور ته لارښوونه کوي. د دې بحث تفصیل د (سلفي شم که مذهبي پاته شم) کتاب دوهم جلد کې؛ تر دې عنوان لاندې (د سحر حقیقت او پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې اغېز)؛ وګورئ.

الناس

د سورې معرفي

د دې سورې نوم الناس (خلك) دئ، ٦ آيتونه لري، چې پنځه ئې د الناس او يو ئې د خناس په لفظ پای ته رسېدلي. د الفلق له سورې سره په يوه وخت کې نازله شوې، د بحث موضوع ئې هغه الله تعالى ته د وسوسه ګرانو له شره پناه وړل ده چې هم د خلکو پالونکی دئ، هم ئې ټولواك دئ او هم معبود.

د (الفلق) او (الناس) سورتونه په روایاتو کې د (معوذتين) په ګډ نوم یاد شوي، هم ئې د آيتونو سجع او غږ سره ورته دئ او هم ئې د بحث موضوع، په دواړو کې الله تعالى ته پناه وړل بيان شوي، که دواړو سورتونو ته لږ ځیر شو متوجه کېږو چې د الناس سوره د الفلق د سورې شرح ده، په الفلق کې (په غوټو کې د پو کوونکو) په اړه بحث شوی او په الناس کې له هغو چې (په سينو کې وسوسې اچوي)، د دعوت په ضد د دښمن يوه ډېره خطرناکه حربه او وسله د وسوسو خورول دي، ځوك چې د مبارزې تجربه لري او څه وخت ئې د مبارزې په لوړو ژورو کې تېر کړی، په دې پوهېږي چې د وسوسو د خورولو لړۍ هغه وخت پيل کېږي او نهضت ته ستونزي راولاړوي چې د نهضت لمنه خوره شي او له نهضت سره د ولس د يو ځای کېدو لړۍ تېزه شي، زيات شمېر نوي کسان ملګرتيا ته راوړاندي شي، مخکې به خلك يوازي يوازي راتلل خو اوس ډله ډله راځي، دا حالت نهضت ته دوه مشکلات راولاړ کړي:

الف: دښمنان د خطر احساس وکړي او دې ته اړ شي چې د نهضت په ضد خپل ټول تبليغاتي وسائل فعال او ماهر وسوسه ګران استخدام کړي او د پراخو تبليغاتو لړۍ پيل کړي.

ب: کوم خلك چې په ډله ییزه توګه او د نهضت قوت او ځواکمنۍ ته په پام سره له صف سره يو ځای شوي، لا ئې سمه او کافي روزنه نه ده شوې، لا د کړاوونو او ستونزو په لوړو ژورو کې نه دي روزل شوي، لا خام دي او له ديني لارښوونو پوره واقف نه دي، د دغو تبليغاتو تر اغېز لاندي راځي، وسوسه کېږي، دښمن کولی شي شکوك او شبهات ورته راپيدا کړي، د دښمن په لومو کې لوېږي او د نهضت په ضد ئې هڅوي.

د نهضت په ابتدائي مراحلو کې نه خو دښمن د دې ضرورت احساساوو چې په پراخو

تبليغاتو لاس پوري کړي او وسوسې خورې کړي او نه خو په دې مرحلې کې له نهضت سره يو ځای شوي کسان داسې وو چې د دښمن د وسوسو او تبليغاتو تر اغېز لاندې راشي، دوی خو شعوري او له غور او دقت وروسته يو ځای شوي، د نهضت د شعارونو، آرمانونو او تګلارو په حقانيت له پوهېدو وروسته ئې تعهد کړی، د ښکېلو خواوو تر منځ له ژور قضاوت وروسته ئې يوه خوا غوره کړې، وسوسې نه شي کولی دوی تر اغېز لاندې راولي او د دښمن تبليغات ئې مشوش او له خپل انتخاب ئې پښېمانه کړي.

د (الناس) سوره د قرآن تتمه ده او د فاتحې له سورې سره چې د قرآن مقدمه ده ډېر ژور ارتباط او تړاو لري، څو څرګند او ښکاره ارتباطاتو ته ئې ستاسو پام رااړوم:

الف: د الناس په سوره کې د (رب)، (ملك) او (اله) نومونه راغلي، د فاتحې په سوره کې دغه نومونه له دريو بسيطو تويېرونو سره ګورو: يو دا چې (اله) د (الله) په بڼه کې راغلی او ملك د مالك په بڼه کې او بل دا چې (الله) د (رب) او (ملك) تر نومونو مخکې راغلی.

ب: د فاتحې په سوره کې لولو: ستاينې ټولې هغه الله ته دي چې د عالميانو رب دئ، هماغه ډېر مهربان رحم کوونکی رب او د جزاء د ورځې ټولواك او د الناس په سوره کې لولو: ووايه: د خلکو پالونکي، د خلکو ټولواك او د خلکو معبود ته پناه وړم.

ج: د فاتحې په سوره کې له هغه رب العالمين استعانت او مرسته غواړو چې ډېر مهربان رحم کوونکی رب او د جزاء د ورځې ټولواك دئ او په دې سوره کې له خناسو وسوسه ګرانو رب الناس، ملك الناس او اله الناس ته پناه وړو.

د: د فاتحې په سورې کې زمور دعاء دا ده: مور سمي لاري ته هدايت کړه، د هغو کسانو په لار چې تا پرې پېرزويني کړې، نه غضب کړی شوي او نه بې لاري دي او د الناس په سوره کې په دې مکلف شوي يو چې د هغو خلکو له شره خدای ته پناه يوسو چې په خپله بې لاري دي او نور بې لاري کوي.

حتماً په دې پوهېږئ چې انسان په ماشومتوب کې له هر خطر مور ته پناه وړي، خپل لومړني مربي ته، خو چې بلوغ ته ورسېږي او له موره بې نياز شي نو بيا خپل شکايتونه واکمنانو ته وړاندې کوي او د خپلو مشکلاتو د حل لپاره چارواکو ته رجوع کوي، خو کله چې پوخوالي ته ورسېږي او په دې پوه شي چې واکداران د ده په ځېر انسانان دي او کله چې د ده غوښتني د ماشومتوب او ځوانۍ له مرحلې لوړي شي او په اوچتو اوچتو آرمانونو بدلې شي، نو بيا تر دغو لوړه ملجأ او مرجع لټوي او د معبود په لټه کې شي. د الناس په سوره کې دغه تدريجي ارتقاء مراعات شوې: د خلکو رب، د خلکو ټولواك او د خلکو اله او معبود ته پناه يوسئ.

دا سوره مور ته ښيي چې کله جني شيطان د انسان په زړه کې وسوسې اچوي او کله خناس وسوسه ګر انسانان، قرآن شيطان په دوو څېرو کې معرفي کوي: شيطان د جن په څېره کې او شيطان د انسان په څېره کې؛ لکه چې فرمايي:

وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمۡ قَالُوٓاْ إِنَّا مَعَكُمۡ إِنَّمَا نَحۡنُ مُسۡتَهۡزِءُونَ ١٤ البقرة

او کله چې له مؤمنانو سره مخامخ شي وايي: ايمان موراوړی، خو کله چې د خپلو شيطانانو په لور ګوښه شي؛ وايي: مور يقيناً له تاسو سره يو، مور خو هسې (په دوی) ملنډې وهونکي يو.

دلته له شيطانانو مراد د منافقينو شيطان صفته مشران دي.

همدا راز فرمايي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧٥ آل عمران

دا خو فقط شيطان وو چې خپل دوستان ئې وېرول، نو له هغوی مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ که مؤمنان ياست.

دلته هم له شيطان مراد د دښمن مبلغ دئ.

څوك چې د مبارزې تجربه لري او مخصوصاً چا چې د نهضت د برياوو مرحله په خپلو سترګو ليدلې، په دې ښه پوهېږي چې د دې مرحلې له سترو سترو آفتونو يو ئې دا دئ چې دعوتګران داسې شعارونو ته مخه کړي چې عام ولس ئې ډېر خوښوي، ټول اهتمام او التفات ئې دې خبرې ته شي چې د ولس تأييد او ملاتړ تر لاسه کړي او په خپلو خبرو سره ئې خوښ کړي، مخکينيو آرمانونو او شعارونو ته ژمنه، اصولو او مبادیو ته التزام خپل ځای داسې سياستونو ته پرېږدي چې عام ولس ئې خوښوي، دعوتګران د ولس د لارښوونې په ځای د دوی راضي کولو ته مخه کړي، يوازې هغه مسائل عنوانوي چې عوام ئې غواړي او د دوی د ارضاء سبب کېږي او د هغو خبرو له کولو ډډه کوي چې عوام ئې نه خوښوي، که خلك په خرافاتو باور لري او په اوهامو کې ژوند کوي، نه ښايي چې د خرافاتو او اوهامو په اړه بحث وشي او د ولس د عقائدو د تصحيح هڅه وشي، ځکه چې په دې سره د عوامو تأييد او ملاتړ له لاسه ورکوو!! که خلك ستومانه او راحت طلب شوي، نو نه ښايي چې د جهاد، مبارزې، انقلاب او د الله په لار کې د قربانۍ په څېر خبرې وکړو، دا ځکه چې د داسې خبرو بازار سور دئ او عوام ئې نه خوښوي!! څه چې عام شوي او په پراخه پيمانه په

ولس کې مروج شوي، که څه هم په قطعي توګه حرام وي او دين د دې لپاره راغلی چې د دې عام شوي دود دستور جړې وباسي خو د دې لپاره نه ښايي په دې اړه څه ووايو او خلك ترې راوګرځوو چې له ولس منزوي کړو، خلك راته بنسټپال، افراطي او متشدد وايي، په دې ترتيب ګورئ چې په دې مرحله کې (خلك) د دعوتګرانو په زړونو کې د وسوسې لامل او تومنه شي، خو دا د قرآن وروستۍ سوره موږ ته لارښوونه کوي چې له دې وسوسې د خلکو رب، د خلکو ټولواك او د خلکو اله ته پناه يوسئ.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ۝٤ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ۝٥ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ۝٦

١- ووايه: پناه وړم رب د ټولو خلکو ته.٢- ټولواك د ټولو خلکو ته. ٣- معبود د ټولو خلکو ته. ٤- د بيا بيا راتلونکي وسواس له شره. ٥- هغه چې وسوسې اچوي په سينو کې د خلکو. ٦- که له پېريانو وي که له خلکو.

١-٣: هغه څه چې په دې آيتونو کې ئې د الله تعالى او ده ته د پناه وړلو په اړه مشاهده کوو لاندې مهم ټکي دي:

الف: الله تعالى د خلکو رب او پالونکی دئ، دوی ئې پيدا کړي او پالنه ئې کوي.

ب: د خلکو څښتن او ټولواك دئ، ټول د ده مملوك او د ده د ارادې په وړاندې محکوم دي. ګمان مه کوئ چې الله تعالى له هغه وروسته چې د انسان په شمول ئې د عالم هر څه پيدا کړل، سنن او ضوابط ئې وټاکل، نو د عالم د چارو او امورو بهير ئې خپلې مخې ته پرېښود؛ اوس ئې د پېښو او حوادثو له څرنګوالي سره هيڅ کار نه لري او مداخله په کې نه کوي!! برعکس الله تعالى د دې تر څنګ چې پيداکوونکی او پالونکی دئ، هر څه ئې پيدا کړي او پالنه ئې کوي، مَلِك او ټولواك هم دئ، حکم ئې په هر ځای کې حاکم او اراده ئې په هر کار کې نافذه ده، د ده له إذن او اجازې پرته هيڅ کار نه شي تر سره کېدی، د ده له توفيق پرته هيڅ څه له خپله ځايه نه شي خوځېدی، ټول طوعاً او کرهاً د ده حکم ته منقاد او د ده د ارادې په وړاندې خاضع دي. الله تعالى مِلك او پاچا دئ او ټول د ده مملوك او محکوم.

ج: الله تعالى د خلکو پالونکی، ملك، اله او معبود دئ، له ده پرته هيڅوك او هيڅ څه د لمانځني وړ نه دي، د عبادت او دعاء او د لمانځني او مرستې غوښتنې مرجع او ملجأ الله

تعالی دئ، باید یوازې د ده عبادت وکړې او یوازې له ده استعانت او مرسته وغواړې، هغه ذات ته باید پناه یوسې چې ستا او د ټولو خلکو رب او پالونکی دئ، د ده د پناه په غېږ کې باید د ډاډ او اطمئنان احساس وکړې.

٤-٦: باید متوجه وې چې د جنت په لوري خپل سفر کې او د الله تعالی په لوري خپل الوت کې، داسې دښمنان لرې چې په هر ګام کې ئې کمین درته نیولی، هر یو په ځانګړې وسلې سمبال، هر یو ئې په دې تکل کې چې ستا لاره خنډ کړي، له ښې او کېڼ لوري درباندې برید وکړي، تلوسه ئې دا چې تا بې لارې کړي، د لارې زاد او توښه دې لوټ کړي، عزم دې سست او همت دې کمزورې کړي، افکار دې مغشوش او موخې دې ناولې کړي، د سفر پای درته مجهول او سر منزل ته رسېدا مستحیل وبرېښوي، په هر ګام کې خپله جلوه او عشوه تر مخکې لا زیاته جالب او زړه راښکونکې کړي، شنه څراغونه درته ځلوي، ستا په یو وار (نه) ویلو له خپلو هڅو لاس نه اخلي، درنه نه ځي او خپلې مخې ته دي نه پرېږدي، که ئې د خطرناکو لومو په یوې کړۍ کې ونه نښتې خپل دام نه ټولوي او په دام کې ستا له اچولو لاس نه اخلي، د بلې کړۍ په خوا کې درته کښېنې، په دې هیله چې دا ځل به حتماً د ده په لومې کې ونښلې، د هرې لومې خوا ته ځانګړې غولوونکې طعمه ږدي، له دې خطرناك وسوسه ګر خپل رب ته پناه یوسه.

د دې وسوسه ګر ځانګړتیاوې دا دي:

- (وسواس) دئ، رنګ رنګ وسوسې کاروي.
- (خناس) دئ، پرله پسې وسوسې اچوي، کله له یوې ګوښې پټ او ناڅاپي راشي او زړه وګروي او سیوری پرې وغوړوي او کله له بلې ګوښې راشي او پر زړه چوندۍ ولګوي.
- په (سینه) کې (وسوسه) اچوي، د دوی وسوسه دومره پیاوړې نه وي چې د زړه تر تل ورسېږي، د زړه ور نه ورته پرانیستل کېږي، هسې واهمه، خیال او تصور وي چې په زړه کې نه کښېنې، بلکې پر زړه کښېنې، د حق خبرې په څېر نه وي چې زړه ته ننوځي او په تل کې ئې کښېنې، بلکې له بهر پر زړه سیوری غوړوي، سینه تیاره کړي او زړه ته ئې تنګه.
- د دغه خناس وسوسې پر (الناس) او عوامو اغېز کولی شي نه پر (خواص)، چا چې له ده سره خپلې اړیکې غوڅې کړې، د ده د وسوسو تر اغېز لاندې نه راځي، په دې نه شي توانېدی چې خواص دوکه او بې لارې کړي.
- د دغو خناسانو ځینې د (جن) له جنسه دي، نه لیدل کېږي او پېژندا ئې ګرانه او ځینې ئې (خناس) وسوسه ګران دي، د (الناس) په څېره کې.

سُبْحَانَكَ اللهمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ


د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷